وقاتلوهم حتیٰ لاتکون فتنةٌ ویکون الدین کلهٗ للّٰه (الآیة)

گریز از طرز جمهوری غلام پخته کارشو ::: که از مغز دوصد خر فکریك انسان نمے آید (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ډیموکراسی

اضافه ترتیب وکتابت

حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

پدے کتاب کی دیونان دزمانے نه ترعصرحاضره دموجوده جمهوری نظام مکمل تاریخ اوپوراحقیقت په لسوحصوکی باالتفصیل مدلّلانه اندازکی بیان شوئد ئے !

دټولوحصوتفصیلی فهرست

حرف گفتی ۱٤

جمهوریت حصه اول ۳۱

دجمهوریت لفظ په مختلفوزبانوکی..... ۳۲

دجمهوریت لغوی تعریفات..... //

دجمهوریت اصطلاحی تعریفات..... ۳۴

پراسلام اوجمهوریت یوتقابلی نظر..... ۳۷

اصطلاحات جمهوریت ۳۹

آئین په معنیٰ دشریعت سره ۴۰

نظریه په معنیٰ دعقیدے سره ..... //

قانونی په معنیٰ دحلال سره ..... //

غیرقانونی په معنیٰ دحرام سره ..... //

ډیوټی په معنیٰ دفرض سره ۴۱

دجمهوری اصطلاحاتوده نه پیژندلو خطرناك نتائج ..... //

خلاصه بحث ۴۴

اقسام جمهوریت ۴۵

درجات جمهوریت ۴٦

جمهوریت حصه دوم ٤۷

دجمهوریت ابتدائی نقوش ۴۸

دجمهوریت خپله ذاتی معنیٰ اوذاتی شکل ندئے معلوم ۵۰

دجمهوریت ده بانیانوذکراودهغوئ نظریے..... ۵۱

(۱) وولټائر ۵۲

(۲) مونټیسکو ۵۳

(۳) روسو ۵۵

(۴) افلاطون ۵٦

(۵) ارسطوطالیس ۵۷
جمهوریت حصه سوم ۵۹
دمختلفو نظامونو بیان ٦۰
(۱) بادشاهت ..... //
مطلق العنان بادشاهت ..... //
شورائی بادشاهت ٦۱
مذهبی بادشاهت ٦۲
دستوری بادشاهت ٦۳
(۲) اشرافیه نظام ٦۴
مذهبی اشرافیه یاتهیوکریسی ٦٦
یهودی اوهندوتهیوکریسی ٦۸
عیسائی تهیوکریسی ٦۹
داسلامی نظام اوعیسائی تهیوکریسی په مینځ کی تمیز ۷٦
عقیده کفاره ۷۷
عمومی نظام ۸۱
جمهوریت حصه چهام ۸۲
په جمهوریت کی دمذهب اوسیکولرزم دواړوتصورولی پروت دئے ۸۳
مغربی اویورپی ملکونه دظلمت په دورکی ۸۵
دجمهوریت تاریخی کارنامے ۹۴
اوله کارنامه دامریکے آزادی ..... //
دویمه کارنامه دفرانس انقلاب ۹٦
دریمه کارنامه دفن تحریراوزراعت ایجاد ۹۹
جمهوریت حصه پنجم ۱۰۱
(۱)سیاسی جماعتونه ۱۰۲
(۲)انتخابات ۱۰۴

(۳)مقننه ۱۰۷
(۴)دستور ۱۱۲
دجمهوریت عملی نظام اونفاذ ۱۱٦
(۱) دبرطانیه پارلیمانی نظام ۱۱۷
(۲) دامریکے صدارتی نظام ۱۲۵
(۳) دفرانس پارلیمانی نظام ۱۳۰
(۴)دسوئټ زرلینډنظام حکومت ۱۳۲
جمهوریت حصه ششم ۱۳۵
دجمهوریت اصول اوقوانین ۱۳٦
دسیادت اوحاکمیت اصل ۱۳۷
الف : اول دتقنین یاتشریع شق ..... //
ب : دوم دتنفیذاوحکومت ته درسیدوشق ۱۳۸
دمساواتواصل ۱۳۹
دحریت اوآزادئے اصل ۱۹۰
(۱) دحریت شخصی بیان ..... //
حریت مادی ..... //
حریت معنوی ۱۴۱
حریت اجتماعی ۱۴۲
(۲) دحریت ا قتصادی بیان ..... //
(۳) دحریت سیاسی بیان ۱۴۳
جمهوریت حصه هفتم ۱٤۵
دجمهوریت کفردشریعت محمدیه ﷺ په رڼاکی ۱۴٦
جمهوریت ځانله یو مستقل دین دئے ..... //
دحاکمیت اصل دشریعت په رڼاکی ۱۵۰
الف : دتقنین اوتشریع شق دشریعت په رڼاکی ..... //

جمهوری قانون سازی اواسلام ۱۵۴
ب : دتنفیذاوحکومت ته درسیدوشق دشریعت په رڼاکی ۱٦۴
په اسلام کی دحاکم اوامیردانتخاب څلورطریقے ..... //
په اسلام کی دحاکم یاحکمران جوړیدلوشرائط ۱٦۵
دموجوده جمهوریت دقدیم شرك سره دمماثلت یو مثال ۱٦۸
دمساواتو اصل دشریعت په رڼاکی ۱٦۹
په اسلام کی دښځی حاکمیت اوسربراهی ۱۷۱
دآزادئے اصل دشریعت په رڼاکی ۱۸۱
(۱)حریت شخصی دشریعت په رڼاکی ..... //
حریت مادی دشریعت مطهره په رڼاکی ..... //
دجزیرة العرب حدوداربعه ۱۸٦
حریت معنوی دشریعت مطهره په رڼاکی ۱۸۷
حریت الرأیه دشریعت مطهره په رڼاکی ۱۹۲
حریت البیان دشریعت مطهره په رڼاکی ۱۹۴
حریت الاجتماعی دشریعت مطهره په رڼاکی ۱۹۸
شخصی آزادی دشریعت په رڼاکی ۲۰۲
داسلامی جمهوریت حقیقت ۲۰۳
په جمهوریت کی دلمانځه آزادی هم نشته ۲۰۴
پراسلامی جمهوریت د شیخ خالدشهیدؒ منطقی رد ۲۰۵
داسلامی جمهوریت متعلق دمولاناحافظ احمدشاکرصاحب عجیب تحقیق ۲۱۱
داسلامی جمهوریت په هکله دمولانایوسف لدهیانوی شهیدؒمؤقف..... ۲۱۲
اسلامی جمهوریت او مولانامحمدعاصم عمرصاحب مدظله العالیه ۲۱۳
اسلامی جمهوریت اومناظراسلام شیخ رحیم اللّٰه الحقانی الافغانی صاحب ۲۱۴
(۲)حریت اقتصادی دشریعت په رڼاکی ۲۱۵
سودی لین دین باندی مصرطائفے ممتنعے په خلاف ده قرآنی جنگ حکم ..... //
دموجوده وخت پرمعاشی اواقتصادی نظام باندی یوعملی اوتحقیقی نظر ۲۱۹

دمروجه کاغذی نوټ په خلاف دحسین احمدمدنیؒ تاریخی فتویٰ ۲۲۱
دمروجه کاغذی نوټونو متعلق داشرف علی تهانویؒ دشاګردانو مؤقف ۲۲۲
دمروجه " اسلامی بینکاری " په خلاف داکابرعلماء وخت فتویٰ ۲۲۵
د " اسلامی بیمه کمپنیانو" په خلاف دجامعه بنوری ټاؤن فتویٰ ۲۲۷
(۳)حریت سیاسی دشریعت په رڼاکی .....//
الحکم بغیرماانزل الله ۲۳۰
یعنی دالله دقانون نه علاوه په قانون سره فیصلے کول داډیرا هم اوخه مفصل بحث دئے !
ددے آیت دشان نزول نه څه دغورورڅبری معلومی شوے ۲۳۴
ومن لم یحکم بماأنزل الله اومفسرین کرام ۲۳۵
یوه شبهه اودهغے وضاحت..... ۲۳۶
آګاهی ۲۴۱
دامام رازیؒ پرعبارت یوتفصیلی نظر ۲۴۲
دآیت تفسیراوتاریخی پس منظر ۲۴۴
دلته دکافرکیدلونه څه مراددی ۲۴۷
حکم بغیرماأنزل الله یوځل کول اویاددے عادت جوړه ول ۲۵۷
دومن لم حکم بغیرماأنزل الله متعلق دفقهاء امت اقوال .....//
خلاصه بحث ۲۵۹
موجوده جمهوری عدالتونه اوججان ۲۶۱
دعلماء حقه ؤنه څه ګزارشات.....//
له اسلام سره بل دین هرګزقابل قبول نشی کیدئے ۲۶۳
موجوده عدالتی نظام ۲۷۰
دمفکراسلام مولانامفتی محمودؒ قول ۲۷۱
مولاناصوفی محمداودهغه دملګروموقف .....//
دمولاناامین الله پشاوری صاحب قول ۲۷۲
دموجوده عدالتی نظام په هکله دمولوناولی الله کابل ګرامی شهیدؒ تحقیق ۲۷۳

دپاکستان مطلب څه دئے ،،،،،،" لااله الاالله " دانعره اوس هم صحی ده ۲۸۷

جمهوریت حصه هشتم ۲۸۲

دیوخوشکوکوشبهاتواواعتراضاتوجوابونه !

شبهه (۱) : دیوسفؑ دمصرله بادشاه سردوزیرپه حیث کارکول ۲۸۳

شبهه (۲) : د نجاشی بادشاه په عمل سره دلیل نیول ۲۹۰

شبهه (۳) : دعمرفاروقؓ په عمل سره استدلال نیول ۲۹۳

شبهه (٤) : په " لایقطع الأیدی فی الغزوی " **حدیث سره دلیل نیول** ۲۹۴

شبهه (٥) : دحجاج بن یوسف په عمل سره استدلال نیول ۲۹۵

شبهه (٦) : دشوریٰ په آیت سره پدے نظام کی دمداخلت دلیل نیول ..... //

شبهه (۷) : دجمهوریت په بعض اشیاؤکی له اسلام سره موافقت اومشابهت ۲۹۹

موجوده سیاسی علماء دجمهوریت دبقاء اوتقویت ذریعه ۳۰۰

مولانافضل الرحمٰن اودجمهوریت وفاداری ..... //

شبهه (۸) : د نبی ﷺ درحلت په وخت کی دخلیفه په عدم انتخاب سره دلیل نیول ۳۰۷

شبهه (۹) : داستیمان اوجوارپه عمل سره دلیل نیول ۳۱۰

شبهه (۱۰) : دحلف الفضول په واقعے سره دلیل نیول ۳۱۲

شبهه (۱۱) : انتخابات اوجمهوریت خویوه اجتهادی مسئله ده ۳۱۳

شبهه (۱۲) : په مصلحت مرسله سره دلیل نیول ۳۱۵

شبهه (۱۳) : انتخابات خوزموژمقصودی ځیزندئے بلکه داخومحض یوه شکیله ده ۲۱٦

شبهه (۱٤) : په " أنـمـاالاعمال بالنیات " **حـدیث سره دلیل نیول چی موژخودنفاذاسلام په نیت سره پدے نظام کی حصه اخستے ده** ۳۱۷

شبهه (۱٥) : دخلافت نصوص پرموجوده سیاست منطبق کول ۳۲۲

پرمروجه سیاست باندی زموژداکابرینوتعریفات لاګوکول ۳۲۳

په مروجه سیاست سره اسلام نشی راتلئے پردے دعوے باندی دوؤلس (۱۲) دلائل ۳۲۵

شبهه (۱٦) : دمکے مکرمے په دورسره دلیل نیول ۳۳۴

شبهه (۱۷) : موژچاته داسیاسی اودحکمرانئ میدان نشوپریخودلئے ۳۳۸

شبهه (۱۸) : پدے نظام کی شرکت زموژمجبوری ده ۳۴۹
شبهه (۱۹) : چی کوم اکابرین علماء اوس پدے نظام کی شریک دی دهغوئ په عمل سره دلیل نیول ۳۴۰
دجمهوریت په رداوکفرکی داکابرعلماء دیوبنداقوال اوعبارات ۳۴۱
مروجه سیاست دعلماء دیوبندپه نظرکی ۳۵۵
حضرت مولاناشیخ نصیب اللّٰه صاحب کوئټه ..... //
حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی صاحبؒ ..... //
حضرت مولانامفتی محمودالحسن گنگوهی صاحبؒ ۳۵٦
حضرت مولانااشرف علی تهانوی صاحبؒ ۳۵۷
حضرت مولانامفتی تقی عثمانی صاحب ۳۵۹
حضرت مولانامفتی محمدشفیع صاحبؒ ..... //
حضرت مولانامحمدموسیٰ روحانی بازی صاحبؒ ۳٦۰
حضرت مولاناسلیم اللّٰه خان صاحبؒ ۳٦۱
حضرت مولانامحمدعاشق الٰهی صاحبؒ ..... //
حضرت شیخ الحدیث محمدزکریاکاندهلوی صاحبؒ ۳٦۲
شبهه (۲۰) : جمهوریت خوداسلام په مقابله کی ندئے بلکه دوئ خواصل ایمان پرقرآن لری ۳٦٦
شبهه (۲۱) : کوم خلک چی پدے نظام کی برخمن دی هغوئ خوقرآن حق گنړی ... ۳٦۹
شبهه (۲۲) : پرموجوده مقتدرقوتونوکتاسوزیاته حکم اولګوئے نومنافقین به شی اونبی ﷺ خوله منافقینوسره دکفاروپه شانتے معامله نده کړے ۳۷۰
شبهه (۲۳) : دقادیانیانوپه تکفیر "یوم الفتح" **سره دلیل نیول** ..... //
شبهه (۲٤) : دآئین په بعض اسلامی دفعاتواوشقونوسره دلیل نیول ۳۷٦
اهل تشیع دشریعت په عدالت کی ۳۸۵
دشیعه گانوکلمه ، آذان اوپه قرآن کی تحریفات ..... //
شبهه (۲۵) : دتیرواکابرینومثلاً مفتی محمودؒپه عمل سره دلیل نیول ۳۸٦
شبهه (۲٦) : نن صباداسلحی سیاست ندئے پکاربلکه په مثبت ذریعه سره دنفاذشریعت دپاره

جدجهدکول پکاردی ۳۹۴
جهادفی سبیل اللّٰه اومولانافضل الرحمٰن ۳۹۵
په تورات کی دحضورﷺاودهغه دامت پیشنګوئی ۴۱۲
مسلح جهاد اوامام اعظم ابو حنیفهؒ ۴۱۳
مسلح جهاد اومفتی اعظم پاکستان مفتی محمدشفیع صاحبؒ ۴۱۵
مسلح جهاد اومفتی نظام الدین شامزئی صاحبؒ ..... //
مسلح جهاد او شیخ الحدیث مولانانورالهدیٰ صاحبؒ ۴۱۶
شبهه (۲۷): جمهوریت خویوانتظامی امردئے اوهغه خومفوض الی الامت وی ..... //
شبهه (۲۸): په آئین پاکستان کی خوحاکمیت اعلیٰ اللّٰه تعالیٰ ته حاصل دئے ۴۲۶
د " وماارسلنا من رسول الالیطاع بأذن اللّٰه " آیت نحوی حیثیت ۴۴۶
حاکم اعلیٰ اوشرك ۴۴۷
موجوده پارلیمانی قانون سازی اودکفرمجموعه ۴۵۱
شبهه (۲۹): پاکستانی شیوخ اودین جمهوریت ۴۵۶
شبهه (۳۰): دمروجه اوټونواوانتخاباتوشرعی حیثیت ۴۶۷
داوټ دلفظ تحقیق ..... //
آیاواقعتاًووټ شهادت دئے ..... //
دجمهوری انتخاباتوتباهی اووبال ته عدم توجه ۴۷۶
ازله شبهات ۴۷۸
تنبیهات ۴۸۱
دمروجه اوټونو دحرمت وجوهات ۴۸۲
مولانا فضل الرحمان اودآئین پاکستان وفاداری ۴۸۷
دشریعت بل پس منظراوخاکه ۴۹۶
شبهه (۳۱): دبعض فرضی مصالحوپربناء پدے نظام کی مشارکت کول ۴۹۹
جمهوریت حصه نهم **۵۰۵**
داسلامی اومغربی جمهوریت په مینځ کی فرق ۵۰۷

داهغه اسلامی جمهوریت دئے ۵۱۰
جمهوریت اوشاعرمشرق علامه اقبال ۵۱۱
جمهوریت اواکبرالٰه آبادی ۵۱۴
جمهوریت اوشاه نعمت اللّٰه ولی اللّٰه ۵۱۵
دجمهوریت په ردکی دعقابی شاعرزړه راښکونکی خوندوراشعار ۵۱۶
جمهوریت حصه دهم ۵۲۰
ددے جمهوری نظام یو څو نقصانات اومفاسد !
نقصان (۱) : شریعت محمدی ﷺ باندی دنقص دفعه لګول ۵۲۱
دبعض خلګوداعتراض چی له موژسرداوتونواودانتخاباتونه ماسوابله لاره نشته ۵۲۳
نقصان (۲) : دعظیمی مسئلے ولاء اوبراء ضیاع ۵۲۷
نقصان (۳) : جوازدحملے دکفاروپرمسلمانانوباندی ۵۲۹
نقصان (٤) : یوسیکولراولادینیت دین قبلول ۵۳۰
نقصان (۵) : داسلام دنفاذپه خاطرعوامو ته دوکه ورکول ۵۳۱
داوتونوپه ذریعه سره اسلام راوستل ..... //
پرجمهوریت دشریعت رنګ منطبق کول ۵۳۳
نقصان (٦) : مروجه سیاست اوددین جمهوریت مکمله اتباع ۵۳۴
په جمهوریت سره کفرکول داخوقطعی اومنصوصی حکم دئے ۵۳۵
" لاالٰه الااللّٰه " او دین جمهوریت ۵۳٦
داسلام اوجمهوریت یوتقابلی خکلئ منظر ۵۳۸
نقصان (۷) : دکافرانوسره دمحمدی منهج په خلاف سلوک کول ۵۳۹
نقصان (۸) : دمقصد دحصول دپاره حرامی وسیلے جائزکول ۵۴۳
نقصان (۹) : دمسلمانانووحدت ټکړے ټکړے کول ۵۴۵
نقصان (۱۰) : داسلامی غیرت پرځائے جاهلی غیرت پکارراوستل ۵۴۹
نقصان (۱۱) : وناهلوته عهده اومنصب حواله کول ۵۵۱
نقصان (۱۲) : دمالی لالچ پربناء دامیدوارانوبے ځایه پاکی بیانول ۵۵۳

نقصان (۱۳) : داللّٰه درضاپرځائے دمخلوق درضا کوشش کول ۵۵٦
نقصان (۱٤) : داوتِونودحصول دپاره دوکے کول اودروغ ویل ۵۵۷
نقصان (۱۵) : دوخت ضیاع ۵٦۰
نقصان (۱٦) : بے ځایه خرچے لگول ۵٦۳
نقصان (۱۷) : دخلگودعقیدے داصلاح نه بغیرخپل منصب ته ځان رسول ۵٦۷
نقصان (۱۸) : مرزا غلااحمدقادیانی اودجهادمخالفت ۵۷۲
نقصان (۱۹) : په حاکم وخت کی داسلامی شرائطوفقد ان ۵۷۷
نقصان (۲۰) : دعهدے اومنصب طلب کول ۵۷۸
نقصان (۲۱) : په لایعنی مجالسو کی شرکت ۵۸۰
نقصان (۲۲) : دتصویرونوپه شانتے حرام فعل مباح گرځول ۵۸۱
دتصویراوعکس متعلق دحسین احمدمدنیؒ مؤقف ۵۸۷
دتصویراوعکس متعلق دفتاویٰ حقانیے عبارت ..... //
نقصان (۲۳) : تعاؤن علی الاثم والعدوان ..... //
نقصان (۲٤) : محدودوالئ دمد ت حکومت په پنځه کاله کی ۵۸۹
نقصان (۲۵) : دانتخاباتوپه دوران کی په مقابل کس پسی لعن طعن اوکنځلی کول ۵۹۰
نقصان (۲٦) : بے ځایه القابات اوتعریفات کول دخپلی پارتِئ یاامیدوار ۵۹۲
نقصان (۲۷) : اسراف اوبذر ۵۹۳
نقصان (۲۸) : ددروغووعدے اوقولونه ۵۹۵
نقصان (۲۹) : منافرت اوعداوت ۵۹۷
نقصان (۳۰) : اکثریت یااقلیت ٦۹۸
نقصان (۳۱) : دقدردانوناقدری ٦۰۰
نقصان (۳۲) : ضعف مملکت ٦۰۲
نقصان (۳۳) : جمهوریت اومنافقت ٦۰۴
نقصان (۳٤) : جمهوریت اوحزب اختلاف ٦۰۵
نقصان (۳۵) : جمهوریت اوشریعت ٦۰٦

حرف گفتی

الحمدللّٰه وحده الذی له الخلق و الأمر، وهویخلق کمایشاء ویأمر کمایشاء، و الصلاة و السلام علیٰ رسوله الذی بعث بأربعة سیوف لیظهر الدین علیٰ الأدیان کلها، رضینابالله رباوبالاسلام دیناوبمحمد ﷺ نبیاً ـ

امابعد!

په دنیاکی دوه قسمه نظامونه رائج کیدئے شی یو خوداللّٰه ﷻ نازل کرده دین قویم اسلامی نظام دئے، چی پرهغه باندی ایمان راوړل اوددے نظام مطابق فیصلے کولو حکم اللّٰه ﷻ خپلوبندے گانوته کړ ئیدئے، دویم پرجاهلیت باندی مبنی هغه کافرانه نظام دئے چی هیڅ اصل هم نه لری، اوله دین اسلام نه علاوه نورټول ادیان اوټول نظامونه کده جمهوریت په نامه سره وی کده سیکولرزم په نامه سره وی کده کمیونزم اوسوشلزم وغیروغیره ددے ټولوادیانواونظامونومأخذنفسانی خواهشات دی اوله دین اسلام نه علاوه بل چی هردین اوهرنظام منی نودهغوئ اللّٰه ﷻ نه فرض قبله وی اونه نفل،د اللّٰه ﷻ درانازل کرده شریعت نه ماسوابل هرحکم هردین هرنظام اوهرازم دجهالت پلنده ده بیابرابره خبرده کیه دوئ په هرشانتے مزین اوخائسته اندازکی پیش کړی خوداخبره یادساتئ چی اسلام محض دعقائدواو عباداتونوم نه دئے بلکه ددے په وسعتونوکی ده پورااانسانی حیات بلکه ټول کائنات راجمع شوئد ئے ـ

اسلام یوجامع دستوراومکمل ضابطه حیات ده، چی دانسانی جوندپرټولواطرافو،عقا ئد و نظریاتو، رسوم عباداتو، تمدنی اومعاشرتی معاملاتو، غرض پر ټولوانفرادی اواجتماعی مسائلوباندی محیط د ئے ؟ چی خپل ورسره نظام تمدن اونظام حکومت دئے، اسلام په هم دے وجه دنیاته راغلیئدئے چی دحیات انسانی ټوله نقشه ده دے پراصولواوخاکے باندی مرتب شی، اونبه د خلگوصرف داکاروی چی محض بده اسلام ده راښودونکی طریقے مطابق دخدائے عبادت کوی بلکه د اسلام دراکړلئے شوی دستورموافق به خپله مکمله زندگی تیره ؤ ـ

خپل کورنی معاملات به هم داسلامی نهج مطابق سرته رسه ؤ، چی اسلام کوم حدودقائم کړ یدی نو اخستل خرڅه ول اولین دین بده هغوحدودوپه چوکټ کی دننه کؤ، دعلاقواوملکونونظام سیا ست به هم هغه وی چی کوم ده اسلام په آئین کی موجوددئے، حکومت بده اسلامی هداياتومطابق چلیژی، دمعاملاتوفیصلے بده قرآنی قوانینوموافق کیژی، دکوم کاردکولوحکم چی اسلام کوی نو هغه کاربه کؤاودکوم کارنه موچی منع کوی نو هغه کاربه نه کؤ، زموژلکه څنگه چی داسلام پر حقانیت باندی یقین دئے هم دغه شانتے موداسلام دجامعیت اذعان اواقرارهم دئے، اوموژدایقین لر و

چی هر مسلمان به له موژسره پدے اقرارکی برابرشریك وی ، پدے وجه صرف دانظریه نه بلکه پر عقیدے باندی دیو ثبوت پیشه ولونه بغیربه موژمخته قدم آخلو، زکه چی زموژپه خیال کم ازکم دهر مسلما ن په نزد دایو مسلّم حقیقت دئے ، پردے باندی ثبوت مهیاکول داآفتاب ته چراغ خکاره کول دی ، نو چی اسلام دجوندتوٹلی شعبے رنگه ول غواړی ، نوبیاپه یوه شعبه کی داسلام سکه نه چلیدل دد ے خبری ثبوت دئے چی هغه شعبه ده کفراوجاهلیت محروسه (حفاظت کونکے) ده اوداسی کارد اسلام دپاره په فطری ډول سره ناقابل برداشت دئے ،نو دین اسلام ده زندگئ پرغونډوشعبوباندی حاوی دئے زکه قرآن کریم موژته باربارده نفاذشریعت اودشریعت محمدی ﷺنه علاوه ده بل هردین او هر نظام دخاتمے او استیصال درس راکوی اللّٰهﷻ فرمایی : ﴿ أفحکم الجاهلیة یبغون و من احسن من اللّٰه حکماًلّقوم یوقنون ﴾ (المائده : ۵۰)

" که چیرته دوئ داللّٰهﷻ درانازل کرده حکم (اسلامی آئین) نه مخ اړه وی نو آیابیادجاهلیت فیصله (جمهوری آئین اوقانون) خوښه وی ،اوده یقین لرونکوده پاره ده اللّٰه نه بهترفیصله کو لووالابل څوك دئے "

﴿ فاستقم کماامرتَ و من تاب معك و لاتطغوا انه بماتعملون بصیر ﴾ (هود : ۱۱۲)

(اے نبی) تاسو" پردین اسلام باندی) ثابت قدمه شئے چی څنگه حکم درته شوئدئے اوهغه خلگ هم چی دکفرنیه توبه ویستے ده اوستاملگریدی ، د(دین اسلام ترکرخی) لژشانتے هم بهر مه اوزه بے شك چی تاسوکوم عمل کوئ هغه اللّٰهﷻ وینی "

﴿ فاستمسك بالذی اوحی الیك انك علیٰ صراط مستقیم ﴾ (الزخرف : ۴۳)

" ته داڅیزپه مضبوطئ سره اونیسه چی کوم تاسوته وحی شوے ده یقیناًتاسوپرنیغه لاره یئ "

﴿ ثم جعلنٰك علیٰ شریعة من الامرفاتبعهاو لاتتبع اهوآء الذین لایعلمون انهم لن یغنواعنك من اللّٰه شیئا..﴾ (الجاثیة : ۱۸)

" بیاموژتاسوددین پرواضحه لاره باندی اولگولئے ، لهٰذاددے لاری پیروی اوکړه اودبے علمه خلگودخواهشاتوپیروی مه کوه "

﴿ فذالکم اللّٰه ربکم الحق فماذابعدالحق الاالضلال فأنیٰ تصرفون ﴾ (یونس : ۳۳)

" هم دااللّٰه ستاسو حقیقی رب دئے ، بیادحق نه پس ده گمراهئ نه سوانورڅه دی ؟نوبیاتا سو چیرته ځئ "

دنفاذشریعت ده پاره جدجهد . . . . . یوفرض عبادت دئے

لهٰذاده نفاذشریعت مسئله دومره معمولی شانتے خبره هم نده ځومره چی خلګوګنړلے ده ، دا څه نفلی یامستحب قسم عبادت ندئے چی موژته دی پدے کی اختیاروی . . . . داهغه اهم ترینه فریضه دچی د اسلام ده بقاء انحصاردئے پرے ! لکه چی موژته معلومه ده چی دعبادت اطلاق پخپله عمومی معنیٰ کی پرداسی ټولوظاهری اوباطنی اقوالواوافعالوباندی کیږی کوم چی اللّٰه ﷻ ته محبوب وی ؟ اللّٰه ﷻ ټول مخلوقات دهم دے دپاره پیداکړیدی چی ده اللّٰه وحده لاشریك ذات عبادت او کړی اوله هغه سره څوك شریك نه اونیسی ، اللّٰه ﷻ فرمایی : ﴿ وماخلقت الجن والانس الالیعبدون ﴾ (الذاریات : ٥٦) " اوما جنات اوانسانان صرف ده عبادت ده پاره پیداکړیدی " ﴿ قل انی اُمرت اعبداللّٰه مخلصاله الدین ﴾ (الزمر : ١١)

لهٰذاثابته شوه چی پردین اسلام باندی عمل کول ددے دین اقامت، ددے نشرواشاعت اودد ے نفاذ عین عبادت دئے اوهم داهغه مقصددئے چی ددے دپاره اللّٰه ﷻ موژپیداکړی یو، لهٰذا پرمو ژباندی لازمه ده چی ددے دین دمنلوسره په مکمل ډول سره پدے کی داخل شواوداخبره هم یاد ساتئ چی موژته داسی اختیارقطعاًندئے حاصل چی پدے دین کی چنړاوکړودخپل طبعت اوخپلی خوښئ څیزونه منتخب کړواونوراحکام مستردکړو، اللّٰه ﷻ خوله موژنه ددے دین دمکمل نفاذاوپر دے باندی پورا عملدرآمدغواړی : ﴿ یٰأیهاالذین آمنوا ادخلوافی السلم کافة و لاتتبعواخطوات الشیطان انه لکم عدو مین ﴾ (البقره : ٢٠٨)

" اے ایمان والاؤ!تاسوپه اسلام کی پوراپه پوراداخل شئ اودشیطان پرنقش قدم یعنی د شیطان پرپله مه ځئ ، بے شك هغه خوستاسوښکاره دشمن دئے " علامه سعدیؒ ددے آیت په تفسیرکی لیکی : " هذاأمرمن اللّٰه تعالیٰ للمؤمنین أن یدخلوافی السلم کافة ، أی: فی جمیع شرائع الدین ، ولا یترکوا منها شیئاً، وأن لایکونوا ممن اتخذألٰهه هواه ، أن وافق الأمرالمشروع هواه فعله، وأن خالفه ترکه ، بل الوا جب أن یکون الهوی تبعاًللدین ، وأن یفعل کل مایقدرعلیه من أفعال الخیر ، ومایعجزعنه یلتزمه وینویه فیدرکه بنیَّته " (تفسیر السعدیؒ)

" پدے آیت کریمه کی اللّٰه ایمان والاؤته ددے خبری حکم کړیدئے چی په اسلام کی په پورا طریقے سره داخل شئ، یعنی پرټولواسلامی تعلیماتوباندی عمل اوکړئ، اویوحکم هم مه پریږئ، او دهغوخلګو په شانتے مه کیږئ چاچی خپل خواهشات معبودګرځولی دی ، چی کوم حکم یده

طبعیت موا فق وی پرهغه باندی عمل کوی اوچی مخالف وی پرهغه بیاعمل نه کوی .... حالانکه پر دوئ خو لاز مه داوه چی خپل خواهشات یده دین تابع کړی وئ، اودخپل طاقت مطابق یه پرټولوشرعی احکاما تو عمل کړئو ئ، اوچی کوم اعمال یده وس نه بهروئ نودهغوئ ده تعمیل اراده اوعزم یه کړئو ئ، اودغه شانتے بے د خپل صحی نیت پربناء دهغوثواب هم موندلو"

لهٰذا هرهغه مسلمان چی ده خپل رب درضاء متلا شی وی اودخپل دین په معامله کی لا پروا نه وی ، نوپرهغه باندی لازم دی چی نفاذشریعت دخپلی توجه مرکزاوګرځه وی اوخپل ټول صلا حیتو نه ددے دپاره وقف کړی ، حاکمیت شریعت اودنفاذدین معرکه ده عصرحاضراصل معرکه ده، دالله ﷻ در ضااونا راضګئ ټولی لاری لدے سره شاوخواتاویژی راتاویژی۔

حضرت سیدناابن عمرؓ فرمایی چی رسول الله ﷺ ارشاداوفرمایل ؛

" کیف أنتم اذاوقعت فیکم خمس وأعوذباللّٰه أن تکون فیکم أوتدرکوهن ، ماظهرت فاحشة فی قوم قط یعمل بها فیهم علانیة ألاظهرفیهم الطاعون والأوجاع التی لم تکن فی أسلافهم ، ومامنع قوم الزکاة ألامنعواالقطرمن السمآء، ولولاالبهائم لم یمطروا، ومابخس قوم المکیال والمیزان ألاأخذوابالسنین، وشدة المؤنة، وجورالسلطان ، وماحکم أمرائهم بغیرماأنزل اللّٰه ألاسلط علیهم عدوهم فاستنقذوابعض مافی أیدیهم ، وماعطلواکتاب اللّٰه وسنة نبیه ألاجعل اللّٰه بأسهم بینهم " (ذکره امام بیهقی فی شعب الایمان ، وابن ماجه، وحاکم، وذهبی وبزارؒ)

" هغه وخت به ستاسوڅه حال وی چی کله پنځه څیزونه پتاسوکی موجودشی اوزه لدے خبر ی نه په الله سره پنانیسم چی پتاسوکی راشی اولیایه تاسواووینئ، چی په کوم قوم اولیاملك کی فحا شی عریا نی بے حیایی خوریژی اوعلیٰ الاعلان یه کوی نوپدے قوم کی به طاعون اونور داسی مر ضو نه پیداکیژ ی چی پخوانوخلګوبے نوم لیانه وی اورے دلئے هغه بے پیژنی لیانه ، اوچی کوم قوم زکو ـة نه ورکوی نوله آسمان نبه باران اورے دل بندشی اوکه چیرته ځناوران مه وئ نوبالکل به الله ﷻ منقطع کړئے ؤ،

اوچی کوم قوم په ناپ تول کی کمی کوی نوپرهغوئ قحط راشی افلاس اولوګه به زیاته شی اوهغه قو م بده حکمرانانودظلم سره مخامخ شی ، اوچی کله هم ده دوئ حکمرانان ده الله ﷻ د رانازل شوی شر یعت نه اعراض اوکړی په نوروقوانینوسره فیصلے کوی نوددوئ دشمنان به الله ﷻ پردوئ مسلط کړ ی اوهغه دشمن به بیاددوئ دملك څیزونه په زبردستئ سره آخلی اوپخپل استعمال کی بے راولی ، اوچی کوم قوم دالله ﷻ کتاب اودنبی ﷺ سنت معطل کړی نوالله ﷻ به ددوئ په مینځ کی تفریق او بے اتفاقی راولی ۔

په دنیاکی دوه قسمه خلګ آباددی یو هغه چی دالله ﷻ دطرف نه درانازل شوی حق دین (اسلا مـی آئیـن) تـابـعـداری کـوی چی ده دے په نتیجه کی به الله پردوئ باندی رحمتواوبرکتونه راووروی ، داسـی خـلګ بـده سلامتئ حقداره وی اوخکلئ پاکیزه جوندبے نصیب وی ، دویم هغه خلګ دی چی دیـن اسـلام پـریژدی دخپلوخواهشاتو(جمهوری آئین) پیروی شروع کړی اوده شیطان مزین کرده ا فکار په کار را ولی پردے خلګوبدالله ﷻ عذاب راځی تباهی اوبربادی بے په نصیب کی لیکل کیژی ـ

الله ﷻ فـرمایی : ﴿ ولـواتبـع الـحـق اهـوآئهم لفسدت السمٰوٰت و الارض ومن فیهن بل اتینٰهم بذکرهم فهم عن ذکرهم معرضون ﴾ (المؤمنون : ۷۱)

" کـه بـالـفـرض مـحـال دیـن حـق ددوئ دخواهشاتوتابعداری اوکړی نوخامخابه آسمان اوزمکه اوچـی څـه هـم دی پدے کی داټول به تباه شی بلکه موژدوئ لره ددوئ نصیحت راوړئدئـے اودوئ دخپل نفع مند نصیحت نه مخ اړه وی "ـ

اوس الله ﷻ موژته ددین اسلام په رنګه خائسته دین اوخائسته نظام راکړئدئـے لدے نه باوجو دموژ اویاکاله اوشوچی دے جمهوری نظام ته سرپرسجده پراته یوجلسے دی جلوسونه دی تصویرونه فضول خرچیانی بذراواسراف دالله ﷻ نافرمانیانی پکی کیژی دنامحرمه خزوسره ناسته ولاړه کیژی آ خرت موهم تباه شواودنیاموهم نکړه سره سمه دااوس دعمران خان په دورکی دومره شوراوچیغی دی فلا نی ځائے کی دومره لویه جلسه اوشوه فلانی ځائے کی دومره غټ پروګرام اوشونوزه دے سیاسی ملګر وته وایم چی داخوتاسودیوشخص معین خلاف رااوچت شوی یئ داکس چی هرڅومره حاکم شی نوشل کاله به نورتیرکړی آخرکه تاسونکړوراخکته پخپله خوبه مردارشی ـ

بیابه هم لیانوازشریف اومریم نواز ه راځی اولیابه بلاول راځی نوپه هغوئ به خوشاله یئ دهغو ئ اودعمران خان څه فرق دئے دوئ وایی چی دادیهودوایجنټ دئے دقادیانیانوایجنټ دئے مدرسے او علماء ختمه وی نومدرسے علماء او طالبان اوطالبات په اوسنی دورکی ډیری ختمی شوے اوکده مشر ف په دورکی که لتاسوسره یقیناًدمدا رسوغم دئے نوبیاولی هلته پرمدرسوباندی آپریشن شروع ؤاوتا سوپه لندن کی ګرځیدئے عمران خان دیومنټ ده پاره پریژدئ غازی علم الدین اوممتازقادری دچاپه دور حکومت کی شهیدان شوهغه خوبه نه ؤدیهودوایجنټان دوؤلس زره [۱۲۰۰۰] نازنین ملګری صرف دختم نبوت زنده بادپه نامه سره ده چاپه حکومت کی شهیدان شو، درے ځله شریعت بل پیش شود چا په حکومت کی نامنظو راوفیل شو، " نعوذبالله " داسی نورکارونه هم شته خوزه ددے فن سړئے نه یم کنے په سلګونوواقعات به می نوردرته پیش کړی ؤ ، لهذا چی پاکستان آزادشوئدئے اویاکاله اوشوچی

موژدزنده باد مرده باد، منظورنامنظور، منونه منو چیغی وهوخوخه ترینه جوریژی نه ، نوز که موژوایو چی تاسوله موژ سره ددے رائج نظام په خلاف راپورته شئ چی داجمهوری نظام ختم شی نودانوری تو لی قصے به خود بخو دورسره ختم شی داټول حرامتوبونه ددے نظام اثردئے ۔

مولاناعاصم عمرصاحب یوډیرخکلئ سوال کړئدئے هغه داچی په موجوده دورکی دمدار سو حساب نه کیژی ، مساجداوخانقاګانی هم په کثرت سره وجودلری ، تبلیغی مرکزونه هم آباددی ، سیا سی شعبه هم ښه ګرمه روانده الغرض ددین دیوے شعبے کمی هم نشته بیاهم فحاشی ، عریانی ، بے حیایی ، بربنډتوب ، بدحواسی ، خوف اویره ، قتل وغارتګری ، خونریزی ، زناکاری شراب خوری دا څیز ونه هم په اعلیٰ معیاروجودلری ؟

بیایه جواب هم پخپله کړئدئے هغه دااګرچی دینی شعبے ودا نی دی خوبیاهم داخیزونه د دے جمهوری نظام اثردئے زکه فحاشی آزادی اواظهاررایه داخوددے جمهوری نظام له اصولونه دی نوپدے وجه که هرڅومره دینداری ورسره زیاته شی بیاهم دنظام اثر خا مخاوی هغه نه ختمیژی ، لکه او س تا سودافغانستان موجوده حالات راواخلئ ده طالبانوپه ایریه کی مدرسے هم دومره نشته دختم نبوت تنظیمونه هم نشته پدے باره کی رسالے اوکتابونه هم نشته خوبیاهم په ټول افغانستان کی دقادیانی نوم لیانشته ، بربنډه خزه به تاسوته په نظرنشی را، فیلمونه او ګانی به په بازار نوکی نه اووینئ دغلاکولوتصورڅوك پټ په کمبله کی هم نشی کولئے حالانکه مکمل اسلامی نظام لیاهم ندئے حا کم بیاهم دومره امن وامان دئے داوجه داده چی هلته کی نوم دا سلا می نظام دئے اثرده اسلامی نظام د ئے ۔

د " لااله الاالله " قرآنی تفیسر

تردے ځایه خودنفاذشریعت اوده دین اسلام ده منلوبحث اوشوخولیکن زموژاسلام ترهغه و ختـه قابل قبول نشی کیدئے چی ترڅومولہ جاهلیت اونوروټولونظامونه (بیاکه هغه نظام جمهوریت په نامه سره اوکه په هرنامه سروی) ده برائت اوبے زارئے اعلان نه وی کړئے زکه چی داسلام بنیا دپر توحیدباندی ولاړدئے اودتوحیددعقیدے اظهاراوده دین اسلام بنیادی کلمه " لااله الاالله " داوس تاسوددے الفاظوجائزه واخلئ اوده دے پرمعنیٰ باندی غوراوکړئ چی داشانتے یه ندی ویلی چی " الا الله " الله یودئے الله احددئے ، بلکه داسی یه اوویل چی نشته بل معبودسواده الله نه نومعلومه شوه چی قرآن حکیم داسلام دبنیادده کیخودونه مخکی اول دجاهلیت استیصال ضروری ګنړی دالله ﷻ د

معبودیت پراثبات باندی ، ده غیراللّٰه نفی مقدم ګنړی ـ

مفسرین حضرات فرمایی چی دلطف او تعجب خبره خوداده چی ددنیاپه ټولولغاتوکی هره جمله داثبات نه شروع کیږی دنفی نه یوه جمله هم نه شروع کیږی لیکن صرف کلمه توحیدده چی ابتداء یه په نفی سره شوے دیعنی اللّٰه ﷻ اول د" لا " په توره سره دټولوشرکاؤصفائی کوی ددے نه پس بیادخپل الوهیت اقرارکوی نوپدے کلمه کی موژته هم دادرس راکوی چی موژمسلمانان به اول ددین اسلام نه علاوه دنوروټولوادیانواوده اسلا می نظام نه ماسوادنوروټولونظامونبه انکاراوبغاوت کؤاول بده نورونظاموخاتمه راولولدے نه پس به بیازموژا سلام اوایمان قابل قبول وی دکلمه طیبے معنیٰ اومفهوم اللّٰهﷻ پخپله پدے آیت کی موژته راخائی :

﴿ فمن یکفربالطاغوت ویؤمن باللّٰه ﴾ (البقره : ٢٥٦)

" څوك چی په طاغوت سره کفرکوی اوپراللّٰه باندی ایمان لری "

دتوحیددحقیقت اندازه لدے قرآنی تعبیراتونه لګی چی دایمان اواسلام په مسئله کی په طاغوت سره کفرکول دجاهلیت نه دکناره کشئ څومره اهمیت دئے لدینه معلومیږی چی اسلام په اولنی فرصت کی له خپلومنونکونه داغواړی چی هغوئ په جهل اوطاغوت سره کفراوکړی ، زکه چی قرآن کریم دایمان باللّٰه ذکرده کفربالطاغوت نه وروسته کوی ، اوداخبره ددے کلی ضابطے مطابق دچی دیو څیزدوجوددپاره دهغه دضدمعدومیت ضروری دئے ، پدے وجه دایمان باللّٰه وجوددے امرلره مستلزم دئے چی دمسلمانانو ذهن بده ایمان بالطاغوت دنجاستونونه صفااوپاك وی ، نوداسلام او جاهلیت په مینځ کی فطری تضاددئے اوداخکاره خبرده چی په کومودوؤ څیزونوکی بنیادی اختلاف او فطری تضاد وی نوبیادهغوئ په لوازماتوتفصیلاتواوجزئیاتوکی هم اختلاط اویووالئ نشی راتلئے چی دبنیاد اختلاف څومره ګهره اوسنګین وی نودفروعویووالئ به لدے نه زیات ناممکن وی ـ

اوس لدے نه معلومه شوه چی داسلام په نظرکی صرف ده اللّٰه ﷻ په معبودمنلوسره سړئے مؤمن نشی کیدئے چی ترڅویه له باطلومعبودانونه انکارنه وی کړئے ، زکه چی صرف اللّٰهﷻ خودمکے مشرکانو هم منلوخولدے سره سره یده نوروشریکانوعبادت هم کولولکه چی دمسلم روایت دئے چی دوئ بده حج په دوران کی تلبیه داسی ویله :

" لبیك اللّٰهم لبیك ، ان الحمدوالنعمة لك والملك ، لاشریك لك الاشریکاهولك تملکه وماملك "

" زه حاضریم اے اللّٰه زه حاضریم !حمدستاده پاره دئے اونعمت ستادطرف نه دئے ، لتاسره څوك شریك نشته مګرهغه شریك چی ستادپاره دئے ته دهغه هم مالك یے اوچی دهغه څوك مالك

دئے د هغه هم ته مالك یے "

لهٰذا صرف اسلام منل اوداسلام دعوه کول دانعره ترهغه وخته موژلره ده نجات ذریعه نشی جوړے د ئے چی ترڅوددے کافرانه کفری جاهلی اوطاغوتی جمهوری نظام په خلاف نه یوراوچت شوی چی ترڅومودا جمهوری نظام ده مینځه وړئے نه وی زکه نن چی داسلام نفاذته رکاوټ اوخنډ جوړ شوئیدئے نوداجمهوری نظام دئے اوموژته خوپه ابتداء کی د " لااله الاالله " په کلمه کی اسلام دادرس راکوی چی د " لا " په لفظ سربه تاسوده ټولوباطل معبودانو، دهغوئ ده عبادت ، اودعبادت دطریقے نه ، اودهغوئ دعابدینونه براء ت ، انکار، عداوت، اوده بغض اعلان کوئ تاسوګورئ نه چی ابراهیمؑ فرما یی :

﴿ أنابرءٓؤا منکم و مماتعبدون من دون الله کفرنابکم وبدابیننا وبینکم العداوة و البغضاءُ ابداًحتیٰ تؤ منوا بالله وحده ﴾ (ممتحنه : ۴)

" موژله تاسوسره اوله هغوبتانوسره چی تاسویه عبادت کوئ بے تعلقه یو، اوتاسوده (معبو دا نو هم) کله هم قائله نشوکیدئ، چی ترڅوتاسوپرالله واحدذات باندی ایمان نه راوړئ ترهغوبه زمو ژاو ستاسوپه مینځ کی ښکاره علیٰ الاعلان عداوت اودشمنی وی "

اوله مقتضیٰ ' لا ' دبراء ت اعلان کوی ، بیادبرائت په اعلان کی اول دعابدینونه دبراء ت اعلا ن کو ی ،بیادمعبودانونه ، دازکه چی دچاداخیال ذهن ته نشی راچی زه خوددوئ ده معبود انواو عبادت با طل نظام نه بری یم ، مګرچی کوم اهلکاراوعابدین دی له هغوئ سرخوبه تعلق لرم ، پدے و جه ابوا لا نبیاءؑ اول له دوئ نه شروع اوکړه بیایده معبودانوذکراوکړوبیایده عبادت ده طریقے ذکراوکړو، بیایه ددوئ ددین نظام اوعقیدے نه انکاراوکړو اویه فرمایل چی " کفرنابکم "

بیایه فقط ددوئ د عقیدے پر انکار اوبراء ت باندی اکتفاء هم اونه کړله ، بلکه دبغض او عدا وت اعلان یه ورسره اوکړ وبیا یه په عداوت او دشمنی کی بغض مقدم کړودازکه چی څوك داونه وایی چی زماخوبغض ورسره شته نوده دشمنئ څه ضرورت دئے بیایه پدے کی د " ابدا " لفظ راو ړو محض بغض اوعداوت هم نه ؤ کا فی بلکه هغه بغض اوعداوت یه ظاهر کړو، دازکه چی څوداونه وایی چی زه خوپټ په زړه کی بغض ور سره لرم !

لهٰذازمامحترموورونړوچی تاسوده دے نظام نه براء ت کوئ نوبیابه ددے نظام ده ټولوطور طریقواوددوئ دټولوا هلکارانونه برائت کوئ ، لهٰذاموژله هم پرابراهیمی نهج باندی تګ پکاردئے چی اول ددے جمهوری نظام نه اوددے دعابدینو(شرکاؤ)نه ده برائت اعلان اوکړودویم داچی لدے جمهوری

عقیدے نه انکاراوکړودریم داچی لدے جمهوری نظام اوده دے له شرکاؤسره ددشمنئ اعلان اوکړو، پنځم دبغض اعلان ، شپږم ددے بغض اوعداوت دوام به ترهغه وخته پوری وی چی تر څودوئ په مکمل ډول سره لدے جمهوری نظام نه راجداشوی نه وی اولدے نظام سریه مقابله اود شمنی نه وی شروع کړے ، اوترڅولدے فساقوفجاروده محافلونه راځان له شوی نه وی اودمجا هد ینو صحبت یه اختیار کړئے نه وی داداوتونوطریقه یه پرے یخے نه وی زکه چی نبی السیف ﷺ خوله هر باطل سره د مشابهت نه منع فرمایلے ده چی ، " من تشبه بقوم فهومنهم " (ابودؤد)

چاچی دکوم قوم مشابهت اختیا رکړو هغه به ده هم هغونه شمارل کیږی ، اووتې خوصرف مشابهت هم نه دئے بلکه ددے کفری جا هلی جمهوری نظام ده اقامت طریقه ده ، ددے دبقاء اوتقو یت ذریعه ده ، اومحض دوستی هم نده بلکه معاونت دئے لهٰذاتاسوبه ددے جمهوری نظام نه دووتې اچولونه ، داوتې اخستلونه او ددے دپاره ددعوت چلولونه ددے تولونبه توبه اوباسئ اولدے نبه دبرائت اعلان کوئ لکه څنګه چی معروف عا لم الدین مفتی حمیداللّٰه جان صاحب چی دبراء ت او بے زارئ اعلان ترے نه کړ ئے ؤپه آخروخت کی۔

دنفاذشریعت واحده لار ..... جهادفی سبیل اللّٰه

تردے ځایه دنفاذشریعت ده اهمیت بیان اوشواودشریعت محمدی ﷺ په مقابله کی چی بل هرنظام په هرنامه سره مسمیٰ وی دهغه نده براء ت اوبیزارئ بیان اوشواوس مخته آخرمبحث دادئے چی داسلا می نظام ده قیام اونفاذلاره کومه ده پرکومه لاره به اسلامی نظام راځی ددے بیان کوؤنوددے متعلق اللّٰه ﷻ پخپل عظیم کلام کی فرمایی :

﴿ وقاتلوهم حتیٰ لاتکون فتنةٌ ویکون الدین کله للّٰه ﴾ (الا نفال: ۳۹)

پدے آیت کریمه کی اللّٰه ﷻ درو نقطوته اشاره کړے ده اول داچی دتول اسلامی نظام د نفاذ کو شش به کوئ صرف په بعض کارونوباندی کارنه کیږی لکه نن صباچی سیاسی خلګ وایی چی یاره دد ے پارلیمنټ دلاری نه که نورڅه اونه شول نوده مدارسوتحفظ خوبه اوشی نوصرف دمدرسوپه تحفظ باندی کارنه کیږی بلکه دجمهوریت ده خاتمے اودمکمل اسلامی نظام دنفاذخبره به کوئ " ویکون الدین کله للّٰه " اوکل من حیث الکل دیته وایی چی تول اجزاء پکی موجودوی نوزکه په عدالتونوکی د انګریزپه قانون اوآئین سره فیصلے کیږی دابه ختمه وئ فیصلے به په قرآن اوفقهی سره کیږی ، دسودی نظام خاتمه به راولئ ، شراب خانے به بنده وئ دفحاشئ اوعریانئ ځایونبه ورانه وئ سنیماګا نی

بـه بـنـده وئ حـدود اوقصاص به جاری کوئ دیته " الـدیـن کله لله " وایـی اوداخیـزونـه ستا سو سل کاله شوے دی پدے سیاست کی چی لس زره کاله مولیانوراوشی هم قسم بالله که موقائم کړو۔

دویمه نقطه داده چی : داسلامی نظام ترنفاذنه مخکی به اولاًفتنه ختمه وئ داسلامی نظام د نفاذپـه مـقـابـلـه کی چی کوم بل نظام رائج اوداسلامی نظام نفاذته خنډاورکاوټ دئـے دهغه خاتمه به کو ئ زکه چی دا مسلمه قاعده ده چی " تخلی مقدمه ده پرتحلی " باندی اوپه دورحاضرکی داسلامی نظام په مـقـابـلـه کـی رائج جمهوری نظام دئـے نوموژبه اول ده دے جمهوری نظام استیصال اوبیخ کنی کؤ چی تـخلی را شی بیابه اسلامی نظام خودبخودنافذشی ، دفتنـے یوتعریف علماؤداکړئیدئـے چی دکفا روشان اوشـو کـت دومـره زیـات وی چـی یوکس ده دوئ ده قوت په وجه سره اسلام نشی راؤړئـے اوددوئ په وجه سـره خپل عبادات نشی ترسره کوئ نودحدودوترقیام اوده شریعت ترنفاذبل لوئ عبادت کوم د ئـے ، اود د ـے عبادت نه موژددے جمهوری نظام اوددے جمهوریت پسندو په وجه سره محرومه یو۔

دریمه نقطه داده چی : دنفاذشریعت لاره قتال فی سبیل الله دئـے دحضوراقدس ﷺدزمانـے نه راوا لـه تـرنـن تـاریـخه که اسلامی نظام راغلئیدئـے نوپه توره توپك اوپه مسلح جدجهدسره راغلئیدئـے د مـروجـه دعـوت تبـلیـغ اوسیاست سل کاله پوره شوخودنفاذشریعت خوب لیدل دالیاپرموژحرام دی اوپه افـغـانستاکی دادویم ځل دئـے چی دشریعت اسلامی رنړاګانی رااوچته تیژی په اتلس کاله کی بیاد اسلا می نظام دنفاذخوشبوراخوره شوه په " وقاتلوهم " کی دے طرف ته اشاره ده ؟

دموجوده زمانـے داولیائـے رحمان او اولیائـے شیطان په مینځ کی پرهم دے مسئله باندی جنګ او جهادشروع دئـے ،که یوطرف ته درحمان لشکر دئـے (مجاهدین طالبان) نودویم طرف ته د شیطان لشکردئـے (امریکه اودهغـے اتحادیان) چی هغوئ جاهلی نظامونه په خائسته اندازکی امت مسلمه ته وړاندی کوی اودکفریه قوانینووه طرف ته خلګ راغواړی۔

د هم دے مقصددپاره هغوئ دجناتو او انسانانولوئ لوئ لشکرونه تیارکړیدی ، چی پخپلو و ضعی اواختراعی خبروسره خلګ ګمراه کوی ، ده امت مسلمه ده تباهئ دپاره هرممکن کوشش کوی سحراوماخام دجهنم پردروازوباندی ولاړدی او خلګ جهنم ته راغواړی : اے خلګوزموژطرف ته راشئ زموژطرف ته راشئ . . .! داشیطانان دخلګو په لاره کی دشبهاتواوشهواتوخطرناکه جال اچوی او خلګ پکی پساوه وی دهغوئ دآخرت ده بربادولودپاره لګیادی ، انسانیت نن په ښکاره ډول سره په دوؤډلوکی سره تقسیم شوئیدئ : یوه " طائفه حق " ده چی دحق لاری ته داصلاح طرف ته خلګ را بلی اودحق په خاطرجنګیژی۔

سرفراز خان صفدرؒ هم دطائفے ناجیے یو مصداق مجاهدین لیکلی دی پخپل " طائفة منصو ره " کتاب کی ، اوبل طرف ته بیا" طائفه ضال اووبال " ده چی دهلاکت دعوت چلوی دفسادطرف ته خلک راغواړی اوخپلی ټولی هلی زلی دهم دے مکراومقصددپاره مصرفه وی ، پردے دوو ډلوباندی دالله رب العزت دافرمان مبارك صادق راځی چی :

﴿ الـذیـن آمنوا یقاتلون فی سبیل الله و الذین کفروا یقاتلون فی سبیل الطاغوت فقاتلوآ اولیاء الشیطٰن و أن کید الشیطان کان ضعیفاً ﴾ (النساء : ٧٦)

" چی چاایمان راوړئدئے هغه ده الله ﷻ په لاره کی جنگیژی اوچی چاکفرکړئدئے هغه دطا غـوت پـه لاره کی جـنـگیـژی ، بـس تاسوده شیطان له ملګروسره اوجنگیژئ بے شك دشیطان جال ډ یر کمزورئ دئے "

یـعـنـی ایمان والادنفاذشریعت (خلافت) ده پاره جنگیژی ، اوچی څوك دشریعت دنفاذنه منکریامخا لف دی هغوئ دشیطان په لاره کی جنگیژی ـ

پـدے آیـت کریمه کی الله ﷻ دجـنـگیـالیـانواوضح من الشمس تفریق کړئدئے چاچی الله ﷻ یواوګنړو، دهغه رانازل کرده قوانین اودستوریه په رشتیاسره تسلیم کړو، بیاچی پرکومه عظیمه هستی بـانـدی دارانـا زل شـویـدی پـرهـغـه یـه ایـمان راوړو، نواوس داڅنګه کیدئ شی چی دامسلمان دی دد ے ټولودپاره قتال اونه کړی ،ده دے په مقابله کی چی کوم نظامونواوادیان دی دهغوده خاتمے دپاره جنگ اونه کړی ، دچاپه زړه کی چی هم ایمان وی هغه به خامخاالله ﷻ په لاره کی قتال اوجهادکوی ـ

دغـه شـانتے چی څوك دالله ﷻ پـه مـقـابـله کی بل اله اوبل معبودمنی دالله ﷻ درانازل کرده نـظـام (شریعت محمدی ﷺ)نه علاوه دبل (جمهوری) نظام پیروی تابعداری اووفاداری کوی هغه به هم ددے طـاغـوتـی نـظام دپاره ضرورجنگیژی اوکے مصداق ګورئ نوبیادیودینی مذهبی جماعت دقیادت الفاظ واورئ چی :

" چونکہ مسئلہ اس ملک میں جمہوریت کا ہے ، ہم جمہورت کی بقاء چاہتے ہیں ، جمہوریت کیلئے ہماری قربانیاں ہیں ، ہم اس جمہوریت کو کسی اسٹبلشمنٹ کی یرغمال نہیں ہونے دیں گے ، ہم نے آج آزادی کی جنگ لڑنی ہے ہم نے جمہوریت کی آزادی کی جنگ لڑنی ہیں "

نـوپـه دنیـاکـی ده دهشتـگـردئے په روان جنگ کی چالره څه قسم شك اوشبهه ندی کول پکار چـی څـوك هـم کوم نظام (دین) منی هغه بده هغه نظام دپاره جنگیژی ، چی څوك پرشریعت محمدی ﷺ اودهـغـه پـرراوړی نـظـام بـاندی ایمان راوړی اولدے نه علاوه بل هرشریعت اوهرنظام باطل ګنړی نو هغه بده نفاذشریعت ده پاره قتال کوی ، اوچی څوك محمدی شریعت نه غواړی داسلامی نظام دنفا ذپه

صورت کی دلره خپل مرگ په نظرراځی نو هغه دخپل وضعی نظام دبچاؤده پاره قتال کوی۔

کـه چیرته ددواړوډلو (ده نفاذشریعت ده پاره جنگیدونکی اودغیرنفاذشریعت دپاره جنگیا لیانو) بیـانونه ښه په غورسره واورے دلئـے شی نوددے جنگ مقصدبه نورپه آسانی سره موژته معلوم شی ، کـه کـافـرملکونه دی اوکه مسلم ملکونه دی ددواړوډلوگفتاراوکردار، نعرے اودعوے ،اند ازاوطرززند گی ،چی داټول اوگورئ نو هردیانتداره انسان ښه په آرامه سره دافیصله کولئـے شی چی کو مه ډله د کو م نظام دپاره جنگیژی ؟

بـنگله دیش دئـے که پاکستان ، افغانستان دئـے که عراق ، شام دئـے که یمن ، مصردئـے اوکه بلا دمغرب اسلامی " یقاتلون فی سبیل اللّٰه " ده دے ټولونعره، دعویٰ او طرزز ند گی یوشا نتـے ده ، ددے په مقابل کی " یقاتلون فی سبیل الطاغوت " نـعره ،دعویٰ اولائف استمائل ټول یو شانتـے دی ، نودابه ډیر بـے ځایـه بحث وی چی پدے روان جنگ کی څوك پرحق اوڅوك پرباطله دی ، او س خودټو لی دنیاد طاغو ت مـحافظینو هم پدے خبره کی څه شك نشوپاتـے چی ددوئ په مقابله کی جنگید و نکی (مجا هدین) څـه غـواړی اوڅـه مـقـصـدیـه دئـے ؟اوڅـه عـزم لری ؟ آیاددوئ هدف صر ف ترا فغا نستا نـه پو ر ی مـحـدوددئـے اوکیه داصداگانی راپورته کیژی چی ترستورومختـه نورجهان هم شته ؟ چی څوك هم په کو مه جامه کی امت مسلمه لدے روان جنگ نه کینه ول غواړی نو هغوئ لره هم مایو سه کیدل پکا رد ی !

بـل طـرف تـه په عامو مسلمانانو کی چی ده اسلامی نظام دنفاذکو مه جذبه د هغوئ دخلافت نه مـاسـوا پـربـل یـوه نـظـام بـاندی هم نشی یخ پاتـے کیدئ، اوس امت مسلمه ده ابلیسی نظامونو، دجالی نـعـرو، اوددروغـو پـه وعـدوسره نشی تیرے دئـے ، اوس به ددوئ منزل ان شاء اللّٰه صرف اوصرف نفا ز شر یعت وی ... شریعت یاشهادت به وی .... احیائـے خلافت به وی۔

لهٰذادحقانی علماؤنه دادرخواست دئـے چی دجهاددرهنمایئ دپاره جهادفی سبیل اللّٰه پر شرعی خـطوطوباندی داودره ولودپاره ، اوپه صحی معنیٰ دخلافت دقیام دپاره ، دوئ به جهادی میدانوته را ځی ، دمـجـا هدینوسرپرستی به کوی ، دحالاتونه معلو میژی چی عالمی کفری طاقتونه د اللّٰه ﷻ په اذن سره نـورپـرمیـدان ده مجا هدینو مقابلـے ته نشی ټینگـے دئ، اللّٰه ﷻ بـه پـردے امت رحم کوی اوپه ټوله نړئ کی به کفرذلیله اورسوا کیژی۔

دغه شانتـے عوامووورونړوته خواس دئـے چی دوئ دی هم له مجا هدینوسره اودریگی ، دشیطا ن دآواز نـه اودمیـدیـادبـے ځایه تورونواوپروپیگنډونه دی له اللّٰه ﷻ نـه پـناء اوغواړی ، دقیام خلافت دپاره

خپل ځان مال اوزبان وقف کول پکاردی۔

دخلافت قیام لکه څنګه چی پرمجاهدینوفرض دئے د غه رنګه دنورومسلمانانوفریضه هم د، دقیامت په ورځ به له هرمسلمان نه ددے باره کی سوال او تپو س کیږی ، بلکه علماء حق ترټولو نه زیات ددے خبری حقداره دی چی پدے باره کی دعوا موذهن سا زی اوکړی چی کوم قوتونه دخلافت په لاره کی خنډجوړشویدی دهغوئ شرعی حکم علیٰ الا علان بیان کړی ؟ په مروجه عالمی نظا م کی مسلمانان دسوددلعنت نه نشی بچ کیدئ، پدے نظام کی نه مسلمان تاجرخپل تجارت بچاوه و لئ شی ، نده زمکووالادخپلوزمکونه څه ګټه حاصله ولئ شی ، دمزدورانواستحصال به کیږی ، خلګ به بے روزګاره وی ، دانصاف امیدونه عبث دی ، کفری نظام قطعاً امن نشی راکولئے۔

پدے کفری نظام کی که ملاویږی نودابه ملاویږی ، خودکشیانی ، اجتماعی قبرو نه ، دکلواو علاقوده خاوروسره خاوری کول، ددے امت بچیانی ګرفتاره ول شپږاتیاکاله قیدورکول ، دشپږ واو وو کلونودمعصوموجینکوسره بدفعلی کول بیایه وژل دیوارب څلویښت کروړه مسلمانانوپه موجود ګی کی ، پدے نظام کی بے حیایی عریانی اوفحاشی عامه ده ، دحسن لیلام او دبیغیرتی راج دئے ، دا جمهوری نظام ظلم فن جوړه وی ، بے ایمانی ته تکنیکی اندازورکوی ، دایمان فروشی په بدله کی اقتدارته رسی ، دغیرت اوحیاء تاجرانوته عالمی ایوارډورکول کیږی۔

نوزکه داخبره یادساتئ چی روان جنګ دنظام جنګ دئے ، موژهم پردے خبره ایمان لروچی مو ژاوپه ټو له دنیاکی زموژهمسفرملګری هیڅ قسم ذاتی دشمنی ، ده سیاسی اومالی مفاداتودپاره نه جنګیږی بلکه صرف اوصرف ددے دپاره جنګیږی چی دخلاّق عالم پرزمکه دهم دے رب قانون آئین اودستورنافذشی ، دالله ﷻ پرزمکه دالله قرآن عملاًنافذشی۔

اوموژددے خبری هم اعترا ف کؤ چی زموژدشمن (عالمی استعماراودهغواتحادیان) هم پخپل مقصدکی بالکل واضحه دئے ، هغوئ صرف ددے دپاره جنګیږی چی په دنیاکی دابلیس جو ړکول شوئ جمهوری نظام ، عالمی اقتصادی نظام اوابلیسی طرززندګی ته دوام اوبقاء پاتے شی ، خلګ دالله ﷻ دعبادت پرځائے دابلیس عبادت اوکړی ، ددنیاپه یوه خطه کی هم حتیٰ چی په غرو نواوغارونوکی هم محمدی شریعت نا فذاورائج نشی زکه چی پدے کی خودابلیس مرګ دئے۔

زماځوانانو مسلمانانوورونړو ! دادکفراوده اسلام جنګ دئے ،،، دادمحمدی مشن او ابلیسی نظام جنګ دئے ،،،، دادلائف استیائل جنګ دئے ،،،، هوجی ! راته اووایئ چی پدے دنیاکی بده جو ند دتیر ے دوڅه طریقه وی . . . عدالتی نظام به څه وی . . . اقتصادی نظام به څنګه وی چی صرف

مسلمانانو ته نه بلکه غریب کافرته هم خپل حق اوره سی . . . ده دے ثیزونو حل چاته ښه ورځی ؟ هغه چی دخپلو مفاداتو دپاره خپلی میندی (مورانی) خرڅه وی ، ده خپل ابلیسی مشن ده بقاء دپاره خپلی لونړه لیلامه وی . . . یا هغه ذات چی هغه دامت دخوشاله ولوده پاره امت ته دسکون او آرام رسولود پاره هرغم خپل کړئ او هرزخم یه پرزړه برداشت کړئدئے دامت په خاطر، اوس تاسو فیصله اوکړئ چی ددے ابلیسی شیطانی نظام په پیروی سره به انسان کامیابه شی یاداللّٰه ﷻ درانازل کرده شریعت په نفاذ کی به دامت کامیابی وی ؟

لهٰذادوکه کیژئ مه ! دمیډیا آوازمه اورئ، تاسو مسلمانان یئ، نوولی ستاسوزبان دکفرپه حق اودکفرپه دفاع کی استعمالیژی ، تاسو څنګه لدے ابلیسی اودجالی قوتونوسره همدردی کوئ ، دقیا مت په ورځ به څه جواب ورکوئ، محمدرسول اللّٰه ﷺ تبه په کوم مخ وړاندی کیژئ، دوکه ده . فریب د ئے . لفاظی ده . داللّٰه دپاره پرلفاظی باندی مه ځئ. د اللّٰه ﷻ ریشتونی پیغمبر ﷺ فرمایلی دی : " په آخری دورکی به شیطانان دانسانانو په شکل کی راځی اوخلګوتبه وعظ اونصحیتونه کوی نو لهٰذا تا سودواعظانو حسب اونسب پیژنئ " پرتی وی باندی لفاظی کونکی څوك دی ، څوك شیعه دئے ، څو ك قادیانی دئے ، څوك پرویز څوك اباحی دئے ، څوك جدیدمرتد (یعنی سیکولر) څوك زندیق دئے ـ

چاپه ایران کی تعلیم حاصل کړئوی ، څوك داسرائیلونه فارغ التحصیل وی ، څوك دډنمارك دسفارتخانے نه فنډآخلی ، څوك امریکے ته لاړشی یهودوته سجدے لګوی ، دچابچئ دګرین کارډد پاره په امریکه کی دهغوئ سپی لمبه وی اوصفاکه وی یه ، څوك ده برطانیے اودامریکے دویزے دپاره دمصلحت په چادرکی حق اوباطل پخپل قلم اوزبان سره خلط ملط کول غواړی ، دچاا ستا ذو حید الد ین زمان خان وی ، څوك دغامدی خلیفه وی ، داللّٰه دپاره په دوکوکی مه پریوځئ، دسمجاوه ولودپاره هم داکا فی دی ، تاسو خپله خپل ایمانی بصیرت جوندئے کړئ، داده ایمان مسئله ددآخرت مسئله دپه هغه ورځ قسم باللّٰه که جمهوریت نجات درکړی اونبه داجمهوری لیډران ، ګمراه شوی به ګمراه کؤنکی ډیر ملامته کړی خوڅه به ترے نه جوړیژی نه ،واعظین ، مبلغین اوقائدین به علیٰ الا علان براء ت درنه اوکړی چی موژخوپړی اورسئ نه وے درکی اچه ولے زموژتابعداری مومه کولئ، دشیطان په رنګه جواب به درله درکړی ـ

زمامسلمانانوورونړو ! دزړه دزنګ نه په اللّٰه ﷻ سره پنااونیسئ ، دزړه ددے زنګ دپاره دصفا یئ طریقه اوریګمال یوشئ دئے چی هغه جهادفی سبیل اللّٰه دئے ، ډیره سستی مواختیارکړه نوربس کئ، دنفس پدے دوکه کی مه پرے وځئ چی امام مهدی به راځی بیابه موژدهغه په معیت کی جهاد

کوؤ، اوقرآن کریم دابهانه هم دزړه زنګ ګرځه ولے داوفرمایی :

﴿ ولو ارادالخروج لأعدوا له عُدةً ﴾ (التوبه : ٤٦)

" که دوئ واقعی دجهادکولو اراده لرئ نوبیاخوبے څه ناڅه تیارئ کړئے ؤ "

؛؛؛؛؛؛ لهٰذادجهادتیاری خواوکړئ ؛ په عصرحاضری کی چی په کوموذرائعوسره جهادکیژی دهغوئ اعداداوتیارئ پرهرمسلمان فرض دئے ، دامام مهدیؑ په دورکی به اسلحه وی اوکنه که وی بیا به کومه اسلحه وی ددے موژذمه داره نه یواونبه له موژددے خبری تپوس کیژی ، له موژنبه دا تپوس کیژی چی څه دی کړیدی اوڅه دی راوړیدی ، چلوموژبه ستاسو خبره اومنو چی دامام مهدی په دور کی به کلاشنکوف نه وی نوددے دایزده کولوبیاڅه فائده ده ؟ نوبیاداجواب راکئ چی دتوری چله و ل موایزده کړیدی ؟ دڅلوروپنځوکلوتوره تاسو څومره وخت تاوه وئ راتاوه وئے شئ، په یوه لاس کی تو ره اوپه بل لاس کی داس لګام اومهارنیولوسره تاسو څومره وخت جنګیدئے شئ ؟ په سخته ګرمی کی په ایشید ونکوصحراګانوکی څوورځی پیدل (خپے یبله خپے) سفرکولئے شئ؟ په سخته واوره کی موده غروپرڅوکو له دشمن سره دجنګیدوتجربه کړے ده ؟ اوکله مو هم په وینورنګین میدان جنګ د تی وی داسکرین نه علاوه لیدلئے دئ ؟

اے اللّٰه وحده لاشریك ذات منونکو ! داټولی داسی خبریدی څوك چی هم جهادکوی نو هغه بیادیته نه ګوری چی صباله به کلاشنکوف وی اوکنه ، مجاهدصرف دخپل رب حکم ته لاس په نامه ولاړوی چی ځمارب پرماباندی څه فرض کړیدی ؟ هغه خپل ځانونه په میدان جهادکی دجنت په بدله کی پر اللّٰه ﷻ باندی خرڅه وی ؛ دجنت دمنظرواودمحبوب حقیقی ده دیدارپه شوق اومینه کی له خپل مالك سره یوه سوداکوی داسی دنفعی والاسوداچی هیڅ نقصان اوتاوان پکی نشته ، ډیره دکا میا بئ والاسودا ، داللّٰه ﷻ ددین دغلبے دپاره ، داللّٰه ﷻ ددشمنانودنظامودخاتمے دپاره و خت نه لګوی لیټ کیژی نه ، اوپدے وجه چی ددواړوجهانوبادشاه ناراضه نشی اوداعلان اونه کړی چی :

﴿ أنكم رضيتم بالقعود أول مرة فاقعدوا مع الخالفين ﴾ (التوبه : ٤٦)

" تاسومخکی هم ده جهادپرنه کولوباندی راضی وئ اواوس هم ده ناستو(معذورانو، ښځو او جینکو) سره کینئ " .... دیو چاکیناستل یعنی جهادنه کول پدے سرداللّٰه ﷻ جهادته څه نقصان نه رسی ، اللّٰه ﷻ دچامحتاجه نه دئے ، نه دین اسلام دچامحتاجه دئے ، لهٰذادخپلی فائدے دپاره دامت ځوانانوپاسئ چاچی هم دنبی ﷺ سره دمحبت دعویٰ کړے دنواوس دهغه دنظام دپاره میدان ته اوو ځئ، ددے په مقابله کی دباطل نظامو محافظین دخپل باطل اوفاسدنظام دپاره هروخت جنګیژی ټول

سره یوشویدی ، یهود، عیسائی ، هندو اوهغه هم ورسره شویدی ده چاپرزبانو چی دنبی السیف ﷺ کلمه جاری دلیکن زړونه یده نبی ﷺ ددشمنانو سره دی ، دوئ هم دشیطانی نظام دبچا ؤدپاره د جوندترآخری سهی دجنگیدوقسمونه خوری ، نوتاسو هم دخپل محبوب ﷺ دنظام دنفا ذ دپاره قسمونه اوخورئ اومیدان ته رااووځئ په څلورکونجه نړئ کی یوه نعره اولگوئ چی .....

شریعت یاشهادت ؛؛؛؛؛ شریعت یاشهادت ، " ذلك هو الفوز العظیم "

څه دکتاب متعلق !

دهم دے مقصددپاره زه احقردے کارته مجبوره شوم اوپردے کاربانده چی کوم آلام او مصائب مرتب کیژی دهغوئ ماته مشاهده شوے دخوبیامی هم زکه پدے کاربانده شروع اوکړو چی دالله دین پخپل اصلی شکل کی امت مسلمه ته اورسی اوامت مسلمه نورددے کفرنه ځان اوبا سی چی پرکوم د ین یه ایمان راوړئدئے دهم هغه دین دنفاذدپاره راپاسی ترڅوبه ددے کفری نظام په غیژکی شپے صباکوی ،ډیرملگری ماملامته کوی چی چیرته به دی ده درس نظامی دیوکتاب شرح لیکلے وه یابه دی دفضائلویوکتاب لیکلئے ؤداتاپه څه کی ځان مشغوله کړئدئے نولدے معتر ضینو نه څه داتپوس کول غواړم چی نن صباچی کوم علماؤپه استحبابی اموروکی بحث اومباحثے کوی جنگونه کوی یو په بل پسی ردبدوایی یوده بل غیبتونه کوی لاس پورته که لاس خکته کړه ، خپی ارتی کړه خپی تنگی کړه ، آمین په زوره اووایه اوآمین په قلاره اووایه پردے مسئلوباندی یودبل قتل ته تیارشوخو بیاهم ددین خدمت ورته وایی داسلام ددفاع نوم ورکوی دمذهب ددفاع نوم ور کو ی۔

پدے خبره سره زه پرخپلواستاذانورداوتنقیدنه کوم دازماساتذه دی ددوئ په رهنمائی کی زه لگیایم خوچونکی که اغیار وڅه راته ویلی وئ خوزغملی به می ؤخودخپلوگیله زغمل ډیرزورغواړی ، نو ماچی ددے دومره خطرناك ابلیسی نظام کفراوضح من الشمس ثابت کړوداسلام دفاع نده د اسلا م خدمت ندئے ،په در س نظامی کی تفسیرقرآن کریم احادیث اوڅلورهدایے داصرف د مدرسے تر څلو رودیولوپوری خاص د ی دامحض ترویلوپوری خاص دی اوکه دعمل ضرورت هم ورته شته !

بهرکیف داکتاب په اصل کی د" فخرعزیمت امین علوم شرعیه الشیخ محمدخالدحقانی شهیدؒ تلمیذ خا ص شیخ نصیب خان شهیدؒ " شرعی دوره ده دهغه ټوله دوره مااولیکله بیامی په هغو اسباقو کی د ادجمهوریت موضوع منتخبه کړه اوپردے می مزیددومره اضافه اوکړه چی د "حضرت شیخؒ " درس پکی ورك شوپه کوم ځائے کی چی بین القوسین (حضرت مفتی صاحب) لیکلئے شوئدئے لدے نه شیخ خالدصاحب مراددئے ، اوپکارداوه چی د " ازافادات " په عنوان سرموده شیخ

صاحب نوم ده کتاب پرمخ لیکلئے وئ خوده یو مصحلت پربناء موداسی اونه کړل بهرحال دشیخ صاحب دوره چی ما واورے دله نواګرچی مسلمان وم اوبیاطالب علم وم خوددے دورے نه پس زه داسلام پـه حقیقت خبر شوم چی اسلام څه ته وایی اوله خپلو منونکونه دڅه مطالبه کوی خولدے دورے سره سره می له نور وډیروکتابونه هم اخذکړئدئے نورمی هم ډیرکتابونه زیرمطالعه راغلی دی مثلًا :

۱ـ فکری پوهنه ازمولوی عبدالهادی مجاهد صاحب ۲ ـ ادیان کی جنگ ازمولاناعاصم عمرصاحب ، ۳ ـ دین جمهوریت ترجمه ابودجانه المهاجرصاحب ۴ ـ شمشیربےنیام ترجمه مولاناعبدالصمدصاحب ، ۴ ـ جمہوریت عقل ونقل کی عدالت میں ازشیخ خالدصاحب ۵ ـ نظام طاغوت سے برأت ازمولا ناصدرالدین اصلاحی صاحب ٦ ـ کیاووٹ مقدس امانت ہے ازشیخ حامدمحمودصاحب ۷ ـ سپیده سحراورٹمٹماتاچراغ ترجمه مولاناعبد الصمدصاحب ۸ ـ فضل الرحمان شریعت کی عدالت میں ۹ـ فتنہ ارتداداور جہادفی سبیل اللہ از شیخ الحدیث فضل محمد یوسفزئی صاحب ، ۱۰ ـ فتاویٰ حقانیہ ،۱۱ ـ انتخابات سے دوررہیں ۱۲ ـ اسلامی سیاست از شیخ الحدیث مولانا ذکریاکاندهلویؒ ، خوپدے کی می ډیراخذده عاصم عمرصاحب ده کتابونه کړئدئے ـ

وصلی اللّٰه علیٰ نبینامحمدوعلیٰ آلہٖ وصحبہٖ وسلم ، وماتوفیقی الاباللّٰه وماعلینالاالبلاغ المبین

کتبه حبیب الرحمان جلالی

۲۰ جمادی الاولی ۱۴۴۲ھ بمطابق

٦ جنوری ۲۰۲۱ء

فذالکم اللّٰہ ربکم الحق فماذابعدالحق الاالضلٰل فأنّٰی تُصرفون (الآیة)

بے تاج پادشاہان شاہی کنند نادان ::: اجراء کنند فرمان فی الجملہ مہملانہ (شاہ نعمت اللہ)

درس
جمهوریت
او
دیموکراسی
حصه اول

اضافه ترتیب وکتابت

حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه اول

پدے اولنئ حصه کی به موژان شاء اللّٰه تعالیٰ په یو څوزبانو کی دجمهوریت دلفظ وضاحت کؤبیابده جمهوریت لغوی او اصطلاحی تعریفات کؤبیابده جمهوریت ده یو څواصطلاحاتووضاحت کؤبیابده جمهوریت داقساموبیان کؤاوپه آخرکی به ده دے جمهوری نظام درجات ذکرکؤان شاء اللّٰه العزیز۔

دجمهوریت لفظ په مختلفوزبانو کی

الف :په عربی زبان کی وجمهوریت ته " الدِّیمقراطیه " وایی..

ب : په (انگلش)انگریزی کی ورته [ډیموکریسی]وایی ..

ج : په اردوکی ورته [جمهوریت] وایی (بفتحه جیم)

د : اوپه پښتوکی ورته [ډیموکراسی] وایی (په الف سره)دادریم داردولفظ مأخوذدئے دعربی نه صرف په ضمه اوفتحه کی یه فرق دئے ..

دجمهوریت لغوی تعریفات

(اول) ۔

جمهوریت اوډیموکراسی دایوه اصطلاح دچی په یوخاص معنیٰ کی استعمالیژی اود اصطلاح داا صول دی چی دهر څیزپه باره کی به هم هغه تعریف معتبروی چی کوم تعریف ددے وضع کؤنکوکړئے وی نواوس .. په ډیموکراسی کی دوه لفظه استعمال شوی دی یوډیموس [demos] بل کریتوس [kratos] ډیموس په معنیٰ ده پیپل ،خلگو،عوامو،اواولس سره راځی چی په عربی کی ورته شِعب وایی... اوکریتوس بیاپه معنیٰ ده رول ،گورنمنټ ،حکومت اوحاکمیت سره راځی نودجمهوریت او ډیموکراسی مکمله معنیٰ شوه [rule of the people] یعنی ده عوامو حاکمیت لکه چی دسکول او کالج هلکان دډیموکراسی اوجمهوریت داتعریف ډیرپه شوق اوفخرسره خپلو کتابو نوکی لکی وایی چی [government of the people by the people for the people]

" گورنمنټ آف دپیپل بائی دپیپل فوردپیپل "چی معنیٰ یه داشوه چی دخلگوحکومت پرخلگو باند

ی حکومت دخلکودپاره حکومت ـ

اوډیموکراسی په اصل کی دیونانئ یالا طینئ زبان لفظ د ئے دازکه چی دانظام راشروع شو ئے دیونان نه دئے اوده دے تفصیل مخکی دجمهوریت اوډ یمو کرا سی په تاریخ کی راځی اوهم داو جه دچی ددے نظام اکثره اصطلاحات دیونا نی اولاطینی زبان دی داپه شپاړه سمه [١٦] صدئے کی په انگریزی اونوروزبانوکی استعمال شومقبو لیت یه پیدا کړواو منظر عام کی شائع شوکنے تردے نه وړاندی داپه دنیاکی یوډیرمبغوض ترین نظام ؤ ، لدے تعریف نه معلومه شوه چی دوئ حاکمیت اوسیا دت عوامواوخلگولره سپاری نوده دے جمهو ری نظام لیاپدے لغوی تعریف کی له اسلامه سره تضاد راغلوزکه چی اسلام وایی ﴿أن الحکم ألاللّٰه﴾ حاکمیت اوفیصله به نه وی مگرثابته به وی اللّٰه ﷻ لره اودوئ وایی چی نه حاکمیت به ثابت وی عوامو او اولس لره ـ

(دوم) " أَلْجُمهورُمُعزَّم کُلُّ شَئٍ" (القاموس)

دیو څیزاکثری اوغټی حصے ته جمهوروایی لدے وجه نیه داتعریف هم شوئدئے چی ـ

(سوم) " الجمهورمن الناس جُلُّهٗ "

جمهوروایی ده خلگوډیری اوغټی حصے ته زکه داجمله ده فقهی په کتابونوکی په مختلفو اندازو سره راځی کله داسی چی ـ

(چهارم) " وبه قال جمهورالعلماء " اوکله راځی چی " وبه قال الجماهیر " اوکله دارنگه چی " وقا ل جَمْهَرةُ الْعُلماء " اوپه کتابونوکی دجمهوریت ده لفظ هم دغه معنیٰ ده چده اکثروعلماؤدارایه ده بهر حال په لغت کی جمهورده ډیروالی په معنیٰ سره راځی ـ

(پنجم) " جماهیرالقوم أشرافُهم " (لسان العرب)

دقوم وه مالداروا وغټوخلگوته جماهیرقوم وایی ...

(ششم) " وقیل له الجمهوریُّ لأَنَّ جمهورالناس یستعملونه "

کله چی یو څیزپه خلگویاعرف کی ډیرمشهوراومعروف وی نووه هغه ته هم جمهوری وایی چی داخیزجمهوری دئ اوداز که چی هغه څیزخلگ ډیراستعمالوی ، حاصل کلام داشو چی په لغت کی جمهوریت دعموم ،اکثریت،گنړوالی اوډیروالی په معنیٰ سره راځی ـ

دجمهوریت اصطلاحی تعریفات

یو مشهورسیاست دان چی په (ارسطو طالیس) سره مسمیٰ دئے دا سړئے ترحضرت عیسیٰ ؑ در ے څلور سو ه کاله وړاندی تیر شو ئیدئے نودے کافرسیاست دان د [پالتیکس] په نامه سره یوکتاب لکلئے ؤ ، بیایوبل سیاست دان راغلود (ابونصر الفارابی) په نامه سره داکس مسلمان ؤنودے ابو نصر دارسطود کتاب ترجمه اوکړه اوپه هغه کتاب کی ابونصردجمهوریت تعریف په داډول کړئیدئے چی ۔

دجمهوریت اول تعریف

" ألْمدینةُ الْجَماعیَّةُ هِی الَّتی قَصَدأهْلُهاأنْ یَّکونوا أحْرارًاویَعْمل کل واحدٍ مِّنهم ماشاء "

جمهوریت وهغه خار(شهر)ته وایی چی په هغه خارکی وه جمعیت اواکثریت ته کتل کیژی د دینه پس دجمهوریت تعریف کوی چی داکوم نظام دئے نودئے وایی چی ،جمهوریت هغه خاردئے چی دهغه أهل اوسیدونکواووګړوداقصدکړئے وی چی دوئ به په مکمل طورسره آزادوی دالله ﷻ د غلامئ نه هم اوده بندګانوده غلامئ نه هم بس ځناوران وی چی څه یه هم زړه غو اړی هم هغه به کوی ۔

دفارابی لدے تعریف نه موژداخبره معلومه کړه چی په جمهوریت اوډیموکراسی کی حریت اوآزادی شرط دبیابرابره خبرده کدا آزادی دبیان وی اوکه دقلم وی نو هم داوجه ده چی نن صباکه یو صحافی یایوبل کس داسلام یاقرآن خلاف هرڅومره ګنده خبره اوکړی اویاغلط مضمون اولیکی یاد پیغمبردوجهان ﷺ ګستاخی اوکړی یاده هغه په توهین کی کارتون جوړکړی نودادوئ څه خبره نه ګنړ ی (أعاذنااللّٰه من ذالك) بلکه پرهغے برسره لیادا هم وایی چی داخودهغه جمهوری حق اوآزادی وه نودا کا رونه پدے وجه کیژی چی په جمهوریت کی خودوئ دالله ﷻ دبنده ګئ نه خپل ځانونه آزادګنړی ۔

دجمهوریت دووم تعریف

" جمهوریت الدیمقراطیَّة وهی ماتکونوابیدأکثرالأهالی "(دائرة المعارف)

دے کس یوه خبره داکړے ده چی جمهوریت اوډیموکراسی دواړه مترادف الفاظ دی یعنی یوه معنیٰ لری دوم یه دجمهوریت تعریف کړئیدئے چی داهغه نظام دئے چی داکثروخلګوپه خوښه اورایه سره چلیژی ،اوس په اولنی تعریف کی موژته دآزاد ئے شرط معلوم شواوپدے دویم تعریف کی راته د اکثریت شرط معلوم شو۔

دجمهوریت دریم تعریف

''وأذاكان الْحُكم لأكثريَّة الشِّعَبِ كَان الْمُنتظِم جَمُهورياًأو ديمُقراطيّاً''(علم السياسی)

کله چی حکم اوفیصله داکثریت په لاس کی وی نودداسی نظام منتظمینوته ډیموکراسی وایی ! اوس ګورئ په سابقه تعریف کی موژته صرف داخبره معلومه شوه چی دانظام بده اکثریت په لا س کی وی اوپدے تعریف کی یه حکم اوفیصله دواړه اکثریت لره ثابت کړه نو حکم یه غیراللّٰه ته ورکړو۔

دجمهوریت څلورم تعریف

'' جمہوریت عربی زبان کالفظ ہے جمہور کے معنٰی ''عوام یالوگ '' کے ہیں۔لہٰذا جمہوریت سے مراد عام لوگوں کی حکومت ہے۔ جمہوریت کے لئے انگریزی کالفظ { democracy } استعمال کیا جاتا ہے یہ دو یونانی الفاظ [demos] اور [kratos] سے اخذ کیا گیا ہے،جن کے بالترتیب معنٰی لوگ اورحکومت کے ہے۔اس طرح جمہوریت کا مطلب ہوا''عوام کی حکومت'' گویا یہ ایک ایسا طرز حکومت ہے کہ جس میں عوام خود یا اپنے منتخب نمائندوں کے ذریعے حکومت کرتے ہیں۔جمہوریت کی مختلف تعریفات کی رو سے واضح ہوتا ہے کہ یہ ایسی طرز حکومت ہے جس میں عوام کی اکثریت کی رائے کو غلبہ حاصل ہوتا ہے۔یہ حکومت تمام افراد کے وسیع تر مفاد کی خاطر قائم کی جاتی ہ۔اس میں عوام بلاواسطہ یابالواسطہ اپنے مسائل خود سلجھاتے ہیں اور ہرایک کو قانونی مساوات حاصل ہوتی ہے ''(اسرارمدنی کی کتاب اسلام جمہوریت اورآئین پاکستان ص:۱۹)

دجمهوریت پنځم تعریف

'' جمہوریت انگریزی زبان کالفظ ہے۔یہ دراصل لاطینی گریک زبان سے منتقل ہوا ہے۔ہم اگراس کے لغوی معنی پرغور کرے تو'' ڈیموس[demos]''کواور''کریسی[cracy] '' سسٹم آف گورنمنٹ کوکہا جاتا ہے۔یعنی ''عوام کی حکومت''۔

یونانی مفکر ہیروڈونس نے جمہوریت کی تعریف یوں کی ہے کہ جمہوریت ایک ایسی حکومت ہوتی ہے جس میں ریاست کے حاکمانہ اختیارات پورے معاشرے کوحاصل ہوتے ہیں۔ سابق امریکی صدرابراہیم لنکن کا قول ہے:

[government of the people by the people for the people]

یعنی عوام کی حاکمیت،عوام کے ذریعے عوام پر۔ (اسرارمدنی کی کتاب جمہوریت ایک مکالمہ ص:۱۷)

دجمهوریت شپږم تعریف

پدے شپږم تعریف کی بده انګریزی یو مکمل عبارت رانقل کړو چی دجمهوریت حقیقت دنمر په شان هرسړی ته معلوم شی :

democracy: free and egual representation of people .

a government in which the supreme power is vested

in the people and exercised by them directly or,

indirectly through a system of representation usu .
involving periodically held free
elections. elections . **democratic system of government** :a system of
qovernment based on the principle of majorty decision, makinq
[encarta 2009 ; encyclopaedia britannica 2012]

ترجمه :

جمهوریت اوډیموکراسی: دخلکو آزاده اومساوی نمائنده گی ـ

یوداسی نظام حکومت چی په هغه کی حاکمیت اعلیٰ دعواموپه اختیارکی وی اوعوام او او لس پخپله په بالواسطه یاپه بلاوا سطه طریقے سره حکومت چلوی .. اوپدے نظام کی دعوامونما ئنده گی او شمولیت وی چی هغوئ په عمومی حیثیت سره له هری څه ټاکل شوی مودے نه پس دآ زادو انتخاباتوپه ذریعه سره خپل نمائنده گان ټاکی ـ

جمهوری نظام حکومت : یوداسی نظام حکومت چی ده اکثریت پربنیاددفیصلوکولوپرا صو لوقائم د ئے ..جمهوریت اوډیموکراسی یوداسی نظام حکومت دئے چی پدے کی حاکمیت اعلیٰ دالله ﷻ پرځا ئے دعواموملکیت دئے (نعوذ بالله) اوحکومت دعواموپه ذریعه سره منتخب کیژ ی، دعلم او دتقویٰ دفرق باوجودهم ده ټولو(یعنی دیوعالم اویوجا هل ،دیوفاسق اودیوپا بندشر ع کس) رایه سر ه مساوی اوبرابره ده ،ډیموکراسی یوداسی نظام حکومت دئے چی پدے کی عقل دانسا نانود زند گئ د تیرولونظام جوړوی اوعقل دانسانانودپاره ضابطه حیات مرتب کوی ـ

پدے نظا م کی دوحی هیڅ قسم دخل نشته ،بلکه چی کوم څیزانسانی عقل اوخوا هش نفع منداوگنړی هغه به نفع مند کوم څیزتاوانی اوگنړی هغه به نقصانده اوضررناك وی ، چی کوم څیزته د انسان عقل او خو اهش حرام (او غیرقانونی)اووه یل هم هغه به حرام و ی اوچی کوم څیزته انسانی عقل اوخوا هش حلال (قانونی) اووه یل هغه به حلال وی ،داکیدائے شی چی کله وحی (قرآن اوحد یث) دد ے عقل یاخوا هش سره موافق شی لیکن پدے نظام کی قرآن اوحدیث (نعوذبالله) پدے وجه سره قا بل عمل ندئے چی هغه خودالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ فرمان اوحکمونه دی ،بلکه که چیرته انسان قر آن اوحدیث ددے قا بل اوگنړی چی عمل پرکیدائے شی نوبیاخوداقرآن اوحدیث قانون جوړے دلئ شی ودیته قانونی حیثیت ورکول کیدلئ شی !

نـودجـمهـوریت اوډیموکراسی ددے تعریف نه معلومه شوه چی دوئ پدے جمهوری نظام کی

انسانی عقل اوخواهش ته پرقرآن اوسنت (یعنی وحی) باندی فوقیت اوبالادستی ثابته وی ـ

دجمهوریت اووم تعریف

" ألأمَّةُ أو الدَّولةُ يُعينُ زعيمهالوقت محدودٍ لابالتَّورُثِ بلْ بأنتخاب الجمهور الأمةِ "

جمهوریت وهغوخلگویاحکومت ته وایی چی دوئ خپل مشراونمائنده دیومعین وخت دپاره مقرره وی نده میراث په ډول سره یعنی خپل نمائنده داسی نه ټاکی چی دپلاردوفات نیه وروسته ځوئ پر منصب اوکرسئ کینی بلکه دانمائنده به کرسئ او عهدے ته داکثروخلگوپه انتخاب اواوټو نوسره رسی خپل منزل ته !

لدے تعریف نه موژداخبره معلومه کړه چی پدے جمهوری نظام کی سړئے دخپل مقرره وخت نه ؤروسته معزوله کیژی اوددے کس حکومت ختم شی بیابه بل کس راځی ـ

پراسلام اوجمهوریت یوتقابلی نظر

اوس داتیرتمام اصطلاحی تعریفات موژلژداسلام په رڼاکی گوروچی موژته خه په واضحه توگه دا معلومه شی چی داجمهوری او ډیموکراسی نظام په لغوی اواصطلاحی تعریفاتوکی لیاله دین اسلام او شریعت مطهره سره یومقابل نظام دئے اوپدے کی به موژته داخبره هم معلومه شی چی جمهوریت په مکمله توگه سره له دین اسلام سره دمخالفت مظاهره کوی ـ

نوددے نظام په اولنی تعریف کی موژاووه یل چی پدے نظام کی اوددے نظام وه وگړواو خلگو ته په مکمله طریقه سره آزدی حاصله ده اوددے په مقابله کی نبی السیف ﷺفرمایی چی:

" ألدُّنياسِجْنُ الْمؤمنِ وجنةُ الكافرِ "(مسلم رقم حديث :۷۴۱۷)

دادنیادمسلمان دپاره جیل اوقیدخانه ده ..اوداهرچاته پته ده چی په جیل اوزندان کی قیدی نه وی آزا د بلکه په زندان کی ددخواهشات،ارمانونه،رایه،اوامیدونه ټول مسلوب وی نولکه څرنگه چی انسان په جیل کی آزادانه اوخودمختاره زندگی نشی تیرولئ هم دغه شان دنبی السیف ﷺ دد ے دنیا تشبیه دزندان سره دورکولو مقصدهم دادئے چی انسان په دنیاکی ندئے آزا دبلکه انسان به په دنیا کی دشریعت مطهره اوداللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺ تراحکاماتولاندی پابنده زندگی تیروی او داسلا م په مقابله کی جمهوریت اوډیموکراسی وایی چی نه انسان په هرصورت کی آزاددئے ..؟

دغه رنگه اکثریت اسلام منی خودشریعت ترحدودولاندی اوباکماله اکثریت منی دمطلق اکثریت نه اسلام بلکل مخالف دئے دجمهوریت په دریم تعریف کی موژدااووه یلو چی حکم او فیصله به ثا

بت وی عوامولره داتعریف دقرآن مجیدده درجنو آیتو نوسره تضادلری لکه مثلاً اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿أن الحکم ألّالِلّٰه ﴾(الانعام :۵۷)ایضاً سورت یوسف آیت (۴۰او۶۷)

اویوبل ځائے کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ألاله الحکم ﴾(الانعام :٦٢) ﴿وله الحکم وألیه ترجعون ﴾ (ا لقصص : ۷۰،او ۸۸) ﴿ فا الحکم للّٰه العلیِّ الکبیر ﴾(غافر :۱۲) نو اللّٰه ﷻ فرمایی چی حکم قانون او فیصله به ځما چلیژی ،جمهوریت اوډیموکراسی وایی چی " أن الحکم ألاللشعَب یاألاللعوام یا ألالِلنَّاس " حکم قانون او فیصله بده اولس خلګواوعوامو چلیژی ـ

اوبل اسلام خووایی چی که چاداللّٰه ﷻ دقانونه سواپه بل قانون سره فیصله اوکړه نوبیابرابر ه خبردکه هغه قانون ده اکثریت وی او کده جمهوریت اوډیموکراسی وی نوداخلګ کافران دی ظالمان دی اوفا سقان دی قوله تعالی ﴿ومن لم یحکم بماأنزل اللّٰه فأُلٰئك هم الکافرون ،فألٰئك هم الظّٰلمون ،فألٰئك هم الفٰسقون ﴾(المائده :۴۴،۴۵،۴۷)

اوجمهوریت وایی چی نه داللّٰه ﷻ دقانون نه بغاوت اومخالفت کول داڅه خبرهم نده بلکه که چاداللّٰه ﷻ ده نظام نه بغاوت اوکړ ونو هغه کس خوبیاهم پرزمکه ښه په عزت سره خپله زندګی تیرولئ شی لیکن که چادجمهوریت اواقوام متحدے دقانون نه مخالفت اوبغاوت اوکړلونو هغه تبه دد هشتګر د ، ترهګر،اوبنیادپرست نوم ورکول کیژی اوپرداسی تنظیم اوډله بده کالعدم حکم لګول کیژی دداسی خلګو حشراوانجام بده سوات اووزیرستان په رنګه وی ، اودشرعی اسلامی نظام دغو ښتو نکووژنه به د ثوا ب کارګنړل کیژی ،اودداسی خلګوقاتلان بده نوبل انعام مستحقین ګرځی ، نو دد ے جمهور یانولا ره لیاپه اصطلاحی تعریف کی له اسلامه سره مخالفه شوه زکه دوئ وایی چی په حاکمیت کی به رجو ع خلګوته کؤاواسلام وایی چی نه حا کمیت اعلیٰ په علمی او عملی دواړو حالتو نوکی اللّٰه ﷻ لره ثا بت دئ ـ

بل چی کوم دوئ دیومعین مدت خبره کړے وه نودډیموکراسی داتعریف هم دشریعت مطهره سره تضاداو ټکرلری زکه چی اسلام تاحیات وامیرته دامارت اوخلافت اجازه ورکوی حتیٰ چی په حدیث شریف کی راځی چی دکفرنه سواکه یوامیردفسق فجوراوګناه کبیره ترحده اورسید و نوبیابه هم دا امیر نه معزوله کیژی دهغه حدیث الفاظ داشان دی چی :

" ألجهادُواجبٌ علیکم مع کُلِّ أمیرٍبَرًّاکان أوفاجرًاوَاِن عَمِلَ الکبائر "

نو چی امیرترڅوپوری ژوندئے وی هم ترهغه وخته بده امارت اوخلافت پرمنصب قائم اودائم و ی هاپه حدیث مبارکه کی راځی چی " ألاأَنْ تَرَوْ کفراًبوَّاحاً"(متفق علیه)که ښکاره اوصراحتاً کفرترینه

صادر شو نوبیاداامیراوخلیفه قابل اتباع نه پاتے کیڑی کنے نوربه امیرترمرگه پوری پرخپل منصب بر قراره ناست وی لکه چی پیغمبرﷺاودهغه صحابه خصوصاًخلفائے راشدین تاحیات دخلافت پر منصب قائم ؤ مثلاًلکه :

(۱) ــ خلیفه اول بلافصل رفیق پیغمبرﷺ حضرت ابوبکرصدیقؓ دوه [۲]کاله درے [۳] میا شتی اونهه [۹] ورځی خلافت اوکړو د ۱۳ھ جمادی الاولیٰ په نیټه دماخام اوماسختن په مینځ کی لدے دارفنانه رخصت شولو ـ

(۲) ــ خلیفه ثانی حضرت عمرفاروقؓ هم لس [۱۰] کاله شپڑ[٦] میاشتی اوپنځه [۵] ورځی خلافت او کړوآخرپه یکم محرم ۲۴ھ کی وفات شو ـ

(۳) ـ خلیفه ثالث حضرت عثمان ذوالنورین بن عفانؓ هم دوؤلس [۱۲]ورځی کم دوؤلس کاله د خلافت پرمنصب باندی متمکن ؤ آخرپه ۳۵ھ کی یه جام شهادت نوش کړو ـ

(۴) ـ اوخلیفه رابع حضرت علیؓ هم درے [۳]ورځی کم پنځه [۵] کاله پرمسندخلافت باندی رونق افروزؤ آخرپه اتلس رمضان ۴۰ھ کی شهیدشو ـ

دغه رنګه غزنوی خاندان هم پربرصغیرباندی دوه سوه [۲۰۰] کاله حکومت کړیدئے ، اوپه مو جوده دورکی په عملی ډول سره امارت اسلامی افغانستان دشریعت مطهره پردے اصولوبرا بر چلیژی مجا هداعظم بت شکن امیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهدؒ اودهغه نه پس دویم امیرا لمؤ منین ملا اختر محمدمنصورشهیدؒ هم تاحیات پرخپل منصب باندی ناست ولواوهم دغه شانتے به شیخ الحد یث شیخ هبة اللّٰه اخندزاده حفظه اللّٰه دژوندترآخری سهی پوری دخلافت اوامارت پر منصب باندی جلوه افروزه وی ان شاء اللّٰه العزیز ـ

اصطلاحات جمهوریت

ددے جمهوری اوډیموکراسی نظام جوړؤنکوڅه داسی اصطلاحات وضع کړی دی چی د هغوئ په ذریعه سره یه عوام څه کوی ډیرخواص یه هم دوکه کړی دی اوداصطلاحات دوئ ډیرپه مکار ئ اوچلبازئ سره استعمالوی ،چی کوم مسلمان هم ددے اصطلاحاتو معنیٰ اومفهوم اوپیژنی نو هغه تبه ددے جمهوریت حقیقت دنورپه شان معلوم شی أن شاء اللّٰه العزیز ـ

آئین په معنیٰ دشریعت سره

په اسلام کی چی د (شریعت) لفظ دکومی معنیٰ دپاره استعمالیژی هم دهغے معنیٰ دپا ره په جمهوریت کی د (آئین) لفظ استعمالیژی،مثلاًلکه چی موژوایو چی دافلانئ کاردشریعت مطا بق دئے اودافلانئ کاربیا دشریعت خلاف دئے ،نودوئ دشریعت پرځائے دآئین لفظ استعمالوی چی داآئینی دئے اوداغیرآئینی دئے،اولکه څنګه چی شریعت محمدی ﷺ منکرکافراوخارج من الأسلام ګرځی اوکیه چیرته توبه نه اوویستله نوده هغه کس سزابه مرګ اوقتل وی لکه چی دشریعت په اصطلاح کی چی وداسی خلګوته مرتدیازندیق وایی ، نو هم دغه شان دجمهوریت دشریعت او (آئین) منکرته هم دوئ باغی وایی اوکیه توبه نه اوویستله نوپه بهارت کی ده داسی کس هغه سزادکومه سزاچی دوئ اوس وه کشمیریانومظلومانوته ورکوی ، اوپه پاکستان کی یه هغه سزاده کومه سزا چی یه أهل سوات یعنی وزیریستان اودجامعے حفصے طالباتوته ورکړه،اوددوئ دشریعت (آئین) دمنکرمال اوجائیدادبه ددوئ دپاره غنیمت وی ، دشریعت محمدیﷺ غوختونکئ اوده شریعت جمهوری منکربه دوئ دباغی په فتویٰ سره قتله وی ـ

نظریه په معنیٰ دعقیدے سره

په جمهوریت اوډیموکراسی کی د (نظریی) لفظ دهغی معنیٰ دپاره ستعمالیژی ده کومی معنیٰ دپاره چی په شریعت کی د (عقیدے) لفظ استعمالیژی ، یعنی دجمهوری خلګونه که څوك دا اووا یی چی زموژدانظریه ده نوددے به دامعنیٰ وی چی زموژداعقیده ده ـ

قانونی په معنیٰ دحلال سره

لکه څنګه چی په شریعت محمدی ﷺ کی دحلال لفظ ویل کیژی هم ددے په مقابله کی په شریعت جمهوری اوډیموکراسی کی د (قانونی) لفظ ویل کیژی ..نوپه جمهوریت کی که چیرته داسی جمله استعمال شی چی د (شرابوکاروبارکول یاشراب څکل داقانونی دی یا سوداخستل یاورکول قانو نی دی) نودداقسم جملوبه دامعنی وی چی شراب څکل یاده شرابوکاروبارکول حلال دی سودورکول یا پخپله اخستل حلال دئ ـ

غیرقانونی په معنیٰ دحرام سره

دوئ وایی چی شرابی ته دګواه باوجوداتیا[۸۰] کوړی وهل دا(غیرقانونی) دی نوددے کلمے معنیٰ به داوی چی شرابی ته دګواه باوجوداتیاکوړے وهل (حرام) دی ،شادی شده زانی اوزانیه ته د مطلوبه څلوروګواهانوده وجودباوجودسنګساره ول رجم کول (غیرقانونی) دی، نوددے دامعنیٰ شوه چی قصاص اخستل (حرام) کاردئے په دین جمهوریت کی ، دغه رنګه دوئ وایی چی دالله ﷻ دکلمے

دسرلوړئے دپاره جهادکول غیرقانونی دئے یعنی حرام دئے ۔

ډیوټی(duty) په معنیٰ دفرض سره

په شریعت جمهوری کی چی کله د (ډیوټی) لفظ اوویل شی نولدینه به مراداوی چی دافلا نئ کار کول اوترمنطقی انجامه رسو ل " فرض " دی ،بلکه د دے فرض (ډیوټی) واداکولوته دوئ عبا د ت وا یی،اوکه چیرته دهغه فرض اوډیوټئ په اداکولوکی څه قسمه کوتاهی اوکړی یایه دسره ادانه کړی بلکه پرے یه ګدی نوداسی فوجی یاپولیس بده سزامستحق وی دهغے رو انی میاشتی تنخوا به له دا سی فوجی اوپولیسه لیامکمله ختم کیژی یابه ترینه کمیژی ،اوددا سی مفهوم دپاره په شریعت محمد ی ﷺ کی د (فرض) لفظ استعمالیژی یعنی یوه خبره پرخپل ځان باندی په داسی ډول لاز مه ول چی د هغه کارپه کولوسره داجرثواب اونفع یقین لرل اودهغه کارپه نه کولوسره دنقصان ګنا ه یاسز ا عقیده لرل ۔

دجمهوری اصطلاحاتوده نه پیژندلو خطرناك نتائج

ددے جمهوری نظام چی موژبالاکوم اصطلاحات ذکرکړلوپه هغواصطلاحاتوکی دغورنه کولوسره اودهغونه ده ناخبر تیاپه صورت کی ډیرنقصانونه کیژی یونقصان پکی دادئے چی کله د مفتی نه دیوے مسئلے متعلق دیوے فتویٰ طلب او شی نو هغه مفتی پدے نظام کی خپل رائج اصطلاحات مخی ته کے نه ګدی بلکه دهغے استفتاء جواب په شرعی اصطلاحا توکی ورکړی، نود شرعی اوجمهوری اصطلاحاتوکی دمهارت نه لرلوپه وجه سره په فتویٰ کی ډیره بددیانتی راځی د مز یدسمجاوه ولودپاره موژیوڅومثالونه ذکرکؤ چی پکی ددے خبری وضاحت اوشی چی نن صبا علماء یامفتیان حضرات کومی فتویٰ ورکوی په هغوئ کی دوئ بددیانتی نه کوی خوالبته داصطلا حاتوپه بدلیدلوسره دوئ ته دوکه ورکول کیژی ۔

سوال : ..

اوس که چیرته له علماؤیامفتیانوحضراتونه ددے سوال جواب اوغوختلئ شی چی په لاندی کارونوکی دیوچاسره مدداوکومك کول څنګه دی ...

الف : دپولیس اوفوجیانوده کفری نظام اودسوددکاروباردفاع کول ؟

ب : دپولیس اوفوجیانودنائټ کلبونو،شراب خانو،دجسم فروشه فاحشه خځو، دګډا ناچ اوګانو دمحفلونودفاع کول ؟

ج: دمجاهدینو خلاف جنګیدل ؟ (بینواتوجروا)

اوس به ظاهراً دامفتی صاحب ددے ټولو خبروجواب داسی کوی چی دامذکوره بالاټول کارونه حرام دی اوپه حراموکی دیو چاسره تعاؤن اومددکول حرام دئے اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿... ولاتعاونواعلی الأثم والعدوان..﴾(المائده :٢)

دګناه اوزیادتئ پربنیادیودبل سره مدداوتعاؤن مه کوئ ....، لهذاده یو چاسره دګناه په کارو نوکی مددکول هم ګناه کبیره ده،، په فتویٰ کی عموماً دسوال متعلق جواب ورکول کیژی اودلتیه په سوال کی صرف ددے عمل متعلق تپوس کړئدئے اودا ټول کارونه ګناه کبیره ده اوداً هل سنت والجماعت داعقیده ده چی: " لایکفر مسلمٌ بذنب مالم یستحله "

ویو مسلمان ته دګناه کبیره په وجه سره کافرنشی ویل کیدئے چی ترڅه وخته یه هغه ګناه کبیره حلا له نه وی ګنړلے۔

اوس چونکه دلته سوال هم نیمګړئے ؤنوجواب یه هم نیمګړئے اوشوداز که چی که چیرته موژموجوده نظام اودهغه خپل اصطلاحات مخی ته کیګدونو بیاسوال اوتپوس داډول راځی چی: مفتیان کرام څه فرمایی دداسی کلمه ګوسړی په باره کی چی دهغه داعقیده ده چی په یوه مخصوصه طبقه کی دداخلیدلو اوده یوے مخصوصے نوکرئے نه پس دالاندنی کارونه دده ده پاره حلال هم نه بلکه دیو مقدس فرض او(ډیوټئ) حیثیت لری ، اوده دے " ډیوټئ " دپوره کولودپاره دیو مسلمان قتل دئے دځان دپاره حلال ګنړی ،اوخپل ځان قربانول فرض بلکه عین سعادت او شهادت ګنړی ؟ هغه کارونودادی:

دسودی کاروباراوسودی مراکزو (لکه دبینکونو) دفاع کول، اودادفاع (ډیوټی) فرض ګنړل ،؟ دے دحفاظت دپاره دیو مسلمان وژل (مړکول) اوخپل ځان باندی وژل هم خپله فریضه اوډیوټی ګنړی ؟ دنائټ کلبونو،مساج سینټرونو، شراب خانو،دجسم فروشه فاحشه خځو،دګډاناچ اوګا نودمحفلونوپهره داری چو کیدا ری دخپل ځان دپاره (قانونی) حلال ګنړل ، اووه دے ته خپله " ډیوټی " یعنی فرض ویل ؟ دداسی جلوسونوپهره داری دخپل ځان دپاره قانونی (حلال) ګنړل چی په هغوکی وه هغه مقدسو هستیانو(صحابه کرامورضوان اللّٰه علیهم اجمعین) ته کنځلی کیژی چی دهغوئ سره محبت دهر مسلمان دعقیدے حصه ده ؟

دخپلوافسرانواوجرنیلانوپه اډراوحکم باندی دنفاذشریعت دمطالبے کؤنکو،اودقرآن کریم ویو نکومعصوموبچیانوقتلول او پرمسجدونوباندی حملے دخپل ځان دپاره حلال اوقانونی ګنړل ، دختم

نبوت دعقیدے دحفا ظت اودصحابه کرامؓ دناموس دحفاظت دپاره راو تونکوباند ی ډا نګی اولرګی او رول اوآنسو ګیس پرے خوشئے کول (پرے خودل) دځان دپاره قانونی اوحلال ګنړل ؟ اوداویل چی موژ خودخپلوافسرانودحکم اواډرپابندیو؟

الجواب :

نویقناً که چیرته سوال پداسی اندازسره پیښ شی لکه چی موژپیښ کړواودامرواقع بیان هم په صحی اندازه سره اوشی نوبیابه په جواب کی هم ډیرلوئ فرق راشی ۔

هغه داسی چی دمذکوره بالاتماموکارونوپه ګناه کبیره کیدلوکی خودهغوسرکاری علماؤاو مفتیانو هم هیڅ قسم شك نشته چی هغوئ روزانه داسی فتوے جاری کوی چی دهغوفتووتپوله فا ئد ه امر یکه،بهارت ،اودهغو ئ اتحادیانوته رسی ،نو چی کله هم دامذکوره بالاافعال په متفقه ډول سر ه ګنا ه کبیره شولونوپردے با ندی هم بیاده تپولوعلماء کراموا تفاق دئے چی ګناه کبیره کاردځان دپاره چی په هر قسم تاویل سره حلال اوګنړے داکفردئے اوداسی کفردئے چی داسلام نه سړئے پے اوځی ۔

پدے جمهوری او ډیموکراسی نظام کی ده مسئلے صورت هم دغه دئے چی که پولیس وی اوکه فو جی ،هغه هرقسمه ډیوټی کوی ،خصوصاًداسی ډیوټی چی هغه جمهوری شریعت جائزه حلا له او (قا نونی) ګرځولے وی، نوفوج وغیره هم هغه ډیوټی دځان ده پاره قانونی اوحلاله ګنړی ، دامارت اسلا می خلاف ده امریکے ملګیری اودیو مسلمان په قتل کی دکافرانو مدداوتعاو ن دافوج دخپل ځان د پاره قانونی اوحلال ګنړی بلکه داخپله (ډیوټی) اوفریضه شانتے بولی ،په لکاؤتعدادسره یه مجا هد ین او نورے ګناه مسلمانان دے خلګودامریکے په اشاره سره بندیان نه کړلواوبے شماره یه شهیدان نه کړ لو۔

دغه رنګه دجامعے حفصے اوپه سوات کی دنفاذشریعت دمطالبے کؤنکوشهیدانه ول ،او د هغو ئ مالونه لوټل ،اودهغوئ خځی اغواکول اوچته ول ، داټول کارونه دا فوج دخپل ځان دپاره په حلا ل اوقانونی حیثیت سره کوی ، نواوس که یوفوجی ددهشتګردپه (تاویل) اونامه سره دیو مسلمان قتل حلال اوګنړی نودغه تاویل دافوجی دکفرنه نشی بچ کو لئ ۔

هاالبته که چیرته یوفوجی یاپولیس داسی قسم غیرشرعی اقدامات دخپل ځان دپاره حرام ګنړ ی، پدے سره خپل ځان ورته ګناه ګاره ځکاری ، او حرا م کاردخپل ځان دپاره حلاله وی نه ، نودا سی کس ته بیاکافرنشی ویل کیدئ البته فاسق به وی ، هادو مره سوچ ورله کول پکاردئے چی په څومر ه عظیمه شدیده ګناه کبیره کی مبتلاء دئے چی داللّٰه ﷻ دناراضګئ لوئ سبب دئے ، !!! اوبله خبره داده چی دا

سی خلګولره ددے خبری سوچ هم پکاردئے چی دداسی جرائموبعضے صورتونه دومره خطرناك دی چی کیه دحراموعقیده هم لری نو هم محض په کولوسره سړئے کافرکیژی ،مثلًا دکافرا نودرضا کولوپه وجه سره مسلمانان وژل قتلول ـ

خلاصه بحث

پدے ابلیسی اوجمهوری نظام کی دمسلمانانوده پساوه ولو(کے ایستونکو)والاؤ څه عام ذهنو نه ندی بلکه هغوئ دومره مکاره اوچالاکه دی چی په دماغونوکی یه شیطانیت دوینی په شا نتے ګرد ش کو ی ، دوئ داسلامی اصطل احاتواسلامی عقائد واو دمسلمانانودمزاجونوخه جوره مطالعه کړے ده ، دښه تفتیش لټنی اوپلټنی نیه وروسته دجمهوریت اوډیموکر اسی دپاره داسی قسم اصطلاحا ت و ضع کړی دی چی ظاهراًداسلام سره تضاداوټکرنه لری ، اودوئ پدے کارکی ترډیره حده پوری کا میا بی حاصله کړے دعوام خوپریده ډیروعلماؤته یه هم په دوکه ورکولوکی خپله کامیا بی موندلے ده ،چی په کوموځایو نو کی په اسلام اوجمهوریت کی لفظی اوظاهری مماثلت موجودوی هلته یه اسلام برقراره پرے یخئیدئے اوپه کوموځایونوکی چی داسلام اوجمهوریت برابری اویو وا لئ نه راځی نو هلته یه بیا ټوله نقشه بدله کړے داوداسی اصطلاحات یه جوړکړی دی چی ظاهراً او خکاره یه له اسلا م سره هیڅ قسم تضاداولیری والئ نه ښکاری ـ

اوهم دغه وجه دچی یوفوجی ،پولیس،جج،وکیل،اودپارلیمنټ ممبریوخواداقرارکوی چی مذکوره بالاټولی خبری اوکارونه حرا م دی ،خولیکن بل طرفته چی بیاکله دهم دے حرامودتسلیمو لو(منلو) اودهغه حرام ده احترام کولواودهغه دمټوپه زورسره نافذه ولووارئ او(نمبر)راشی نوفوراً اصطلاح بدله کړی چی ددے احترام اونفاذخو(آئینی اوقانونی) دی حالانکه مفهوم خویه هغه دئے چی په اسلامی اصطلاح کی ورته حلال وایی ـ

نوګویاکه په ډیروساده الفاظوسره دوئ داللّٰه ﷻحرام کرده څیز حلاله وی . اوپرهغه حرام کرده څیزباندی بیاپخپله عمل کول اودمسلمان پرے مجبوره کول هم فرض اوخپله ډیوټی ګنړی ، دهغه خلاف شرع اوحرام کارددفاع دپاره چی کومی ریاستی مشین ریانی استعمالیژی اوچی کوم مسلح جنګ کیژی وه هغه ته بیاجهادوایی ، اودهغه حرام کاردپاره بیادیوکلمه ګوکس قتلول ، مسجدونه اومدارس ورانول ، پرمدرسوباندی چاپے وهل ، داللّٰه ﷻدکلام ویونکودامت دبے ګناهه خویندی په سرو وینوکی رنګینه ول، داټول کارونه دوئ ده خپل ځان دپاره حلال اوقانونی هم نه بلکه فرض او عبادت

یه ګنړی ،داکارونه صرف ترعمله پوری هم ندی محدوده بلکه دابلیسی اوجمهوری آئین دوفا دارئ اود د ے آئین ده تقدس اواحترام عقیده اونظریه لری ، اوددے تحفظ پردے جمهوری نظام باندی دایمان حصه ګنړی ۔

اوس تاسو خپله سوچ اوکړئے چی محضے داصطلاحاتو په بدلولو سره دے جمهوریت اوډ یموکواسی ثومره لوئ کفرپه خپله سینه کی پټ کړئدئے ، اودمحمدﷺ غلامان یه په ثنګه طریقے سره په خپله غلامئ کی راایساره کړی دی ، یودوه کفرونه ندی بلکه پرکفریه بالادکفرسلسله راره وانه کړے ده ، ددے کفرحقیقت واضحه اوښکاره دئے خوالبته دوئ یه محض نوم وربدل کړئے دئے ۔

اقسام جمهوریت

اوس دجمهوریت درے قسمونه دی دهغوئ بیان کوؤ ۔

الف: " مباشرجمهوریَّت " ب : " مَجلس النُّوَّاب " ج : " مباشرشبه النِّیابة "

الف : دااول قسم مباشرجمهوریت دیته وایی چی عوام اولس پخپله روزانه راجمع کیژی اود با قی ور ځی دپاره پخپله قانون جوړ و ی اوده ورځی ده تیرولو طرزاوطریقه برابروی ، ددے قسم وجود مخکی په یونان کی ؤدوئ به ورته " مجلس پنج وصد" ویلودابه په هر ه علاقه کی ترنورراختونه وړاند ی پنځه سوه [۵۰۰] کسان راجمع کیدل اودحکومت دپاره بے قوانین اونوے نوے مشورے وضع کولے ، اوهغه قوانین بے بیاهم په هغه ورځ کی نافذه ولو، اووه داقسم نظام ته په عربی کی مباشرنظام هم وایی ،اوپه اردو کی ورته عمومی نظام یاعمومیت وایی ۔

ب : دویم قسم مجلس النواب چی په انګریزی کی ورته (پارلیمنټ رِیَن) وایی ددے مطلب دادئے چی عوام خوپخپله ده قوانینوپه جوړولوکی شرکت نه کوی خوالبته دخپل ځان دطرفه نما ئنده ګان جوړکړی اوبیاهغه اسمبلئ ته لاړشی نوبیاهغه نمائنده ګان ددوئ دپاره قوانین جوړوی اونا فذه وی یه اوپه موجوده وخت کی هم داطریقه رائجه ده چی څوك د (اے مے نے) اوڅوك بیاد (ان پے اے) په در جه کی وی ۔

ج : دریم قسم وه دیته وایی چی نه عوام ټول کارونه پخپله کوی اونه بیاده ټولوکارونو اختیا ر خپلو نمائنده ګانوته ورپریژدی ، بلکه دبعضو غټو مسئلواوکارودحل اوتنفیذ متعلق له عوامونه تپو س کو ی اووارهٔ وارهٔ کارونه خپلو نمائنده ګانوته پریژدی ، نوداصنف من وجه دویم قسم دئے اومن و جه نه د ئے نوزکه ورته " شبه النیابة " وایی ..اونه دادریم نظام په دنیاکی چیرته په خاص ډول سره مو جو دد ئے ،

نودادرے نظامونه که چرته هم ؤ هغه به کفری اوشیطانی نظامونه وی اګرکه مسمّیٰ په ښه خکو لی اسلامی نومونو سره وی ـ

درجات جمهویت

پدے آخری مبحث کی به ده جمهوریت یودرے درجے دی د هغوئ بیان به اوکړوان شاء اللّٰه العزیز ـ

الف : قانون سازی ، ب : تنفیذعملی ، ج : تنفیذبزورشمشیر ..

(۱) پدے جمهوری نظام کی یو خوداسی کسان اوځایونه دی چی دوئ ددے جمهوری نظام د پاره قوانین جوړوی نوده دے کفری آئین په جوړیدوکی صدر، اسلامی نظریاتی کونسل ،پارلیمنټ ، اوسینټ برخمن دی مطلق قانون سازی ددے خلګوکار دئے ...

(۲) ددے کفری آئین اوقانون دنافذولوکاربیاججان اوعدالت کوی یعنی هغوئ داقوانین نا فذه وی اورائج کوی یه !

اوّل (سیول کورټ) دئے خوودے کورټ ته دوئ دومره اعتبارنه ورکوی . بلکه اول فیصله له (سیشن کورټه) شروع کیژی بیاتر (هائی کورټه) ده دے مطلب دادئے چی داترسیشن کورټ نه غټ کورټ دئے پدیکی درخواستونه داخلیژی اوفیصلے چیلنج کیژی ، اولدے نه هم بره اوبالابیایوبل کور ټ دئے دوئ ورته (سپریم کورټ) وایی دیته خودوئ بلکل (نعوذباللّٰه) ده خدائی درجه ورکړے ده اودا کورټ هرڅه کولئ شی ددے کورټ فیصله بیاناقابل تردیدده یعنی ددے کوټ فیصله بیا څوك نشی ماتولئ،

(۳) دے دریم قسم ته دوئ وایی " قانون نافذکرنے والے ادارے " قانون نافذؤنکے ادارے، دا ادار ے بیادتوری اوده بازو(مټی) په زور سره داکفری قانون اوآئین نافذه وی پدے اداره کی بیا پولیس، لیو یز، فوج ،ملیشاء،آئی ایس آئی ، اوده انټیلیجنس ټولی ادار ے داخلی دی ـ

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه

۸، ربیع الثانی ۱۴۴۱ھ بمطابق ۵،دسمبر ۲۰۱۹ء

فی یوم الخمیس

ثم جعلناکم علٰی شریعة من الامر فاتبعها و لاتتبع اهوآء الذین لایعلمون (الآیة)

تو نے دیکھا نہیں مغرب کا جمہوری نظام ::: چہرہ روشن، اندرون چنگیز سے تاریک تر (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ډیموکراسی
حصه دوم

اضافه ترتیب وکتابت
حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه دوم

دجمهویت اوډیموکراسی پدے دویمه حصه کی به یودجمهوریت دابتدائی نقو شو ذکر کؤ چی ددے نظام ابتداء لـه کـومه ځا یه شوے ده دادکوم ځائے نه راروان نظام دئے اودویم به دابیان کړو چی د جمهوریت خپله ذاتی معنیٰ اوخپل ذاتی شکل ندئے معلوم ،اوپه آخرکی به ددے جمهوری نظام ده یو ځوبانیانو ذکراوکړواوده هغوئ نظریے به بیان کړو أن شاء اللّٰهُ العزیز ـ

دجمهوریت ابتدائی نقوش

اول بـده ډیـمـوکـراسـی ده لفظ وضاحت کؤ چی دالفظ کله استعمال شوئے دئے نوددیارلسمی صدئے ١٣ ء پـه مینځ کی یـوسیاست دان تیـرشـوئے دئے د (ویلیم) پـه نامـه سره دے کس دار سطـوطالیس د " پالټیکس " [politics] کتـاب پـه لاطـنـئ ژبه کی ترجمه اوکړه چی هغه کتاب ته ار سطود " سیاست " نوم ورکړئے ؤپدے کتاب کی ارسطووه جمهوریت ته د (ډیموکریټیا) نوم ورکړ ئے ؤ اودے " ویلیم " بیاپه انګریزی کی ددے لفظ ترجمه په " ډیموکرسی " سره اوکړه نودالفظ په عمومی سیاست کی اوو ه [٧] سوه کالـه دمـخـه یـویهـودی استـعـمـال کړئے دئے لدے نه معلومه شوه چی جمهوری نظام دیهودیانواوکفاروپه وجه سره منظرعام ته راغلئ دئے ددے مبداء له کفره ځخه ده اوبانیان یه کافران دی ـ

داخـوددے لـفـظ اونـوم پـه بـاره کـی تحقیق ؤ اوس به دابیانؤ چی دافلسفه دکوم ځائے نه اوکله راشروع شـوے دنـوداډیـره زړه فـلسـفـه دوئ جـوړه کړے ده اوده هم یونانی فلسفه اسلامی نده اوددے فـلسفے په وجودکی دراتلودوه نشئته دی په نشئت اولیٰ کی ترحضرت عیسیٰ ؑ نه څلورپنځه سوه کا له مـخکی په وجودکی راغلے ده اوپه نشئة ثانیه کی بیاپه ١٦ ء صدئے کی پرمنظرعام باندی راغلے ده کنے تردے نه مخکی دایوډیرناکام نظام ؤ ـ

داجـمـهـوری اوډیـمـوکراسی نظام صرف ددے زمانے پیداوارندئے بلکه دادیونان نه راروان کفر دئے اوافـلاطون ده سیاست پرموضوع اوّلنئ کتاب د " جمهوریه " په نامه سره لیکلئ ؤ،لیکن هلته د جـمـهـوریـت تصورڅه ساده اومحدوده ؤ. ساده پدے معنیٰ سره چی په یونان کی کوم ریاستونه ؤ هغوئ تـه بے شهری (خاری) ریاستونه ملکونه ویل داواړه واړه ملکونه ؤاوپه وړووړوخارونویعنی (ښهرونو) با نـدی مشتـمـل ؤاودهریوخاربه ځانله مستقل حکومت ؤ اوپه هغه وخت کی ده یونان لوئ نه لوئ ښهر ایتنز " ایتھنز" ؤ چی په اوسنی دورکی په دے نامه سره مشهوره دئے اوددے خارآبادی په هغه دورکی پر

لس لکه [۱۰۰۰۰۰۰] افرادومشتمله وه اوددے نه علاوه نورښهرونه مثلاً دسپارټا [sparta] په نامه سره یوخارمشهورؤ هغه لدینه هم وړوکئ ؤ۔

لهذاورکوټئ حکومت دئے اوورکوټئ ملك دئے او لګ آبادی ده پکی ، کده لس زره کسا نو تصوراو شی اوپه یوه میدان کی راجمع کول شی نوپه یوه میدا ن کی به هم راشی اوپه هغه وخت کی د جمهوریت طرزاوطریقه هم داوه چی بادشاه بده لویولو یو فیصلوپه باره کی دعوامودہ رائی دمعلو مه ولودپاره به یه ټوله غونډه آبادی راجمع کوله چی به کله ټول راجمع شونوبیابیه خپله خبره ورته پیش کړه چی موژفلانئ کارکول غواړویافلانئ پالیسی جوړول غواړوپدے باره کی ستا سوڅه رایه ده ؟

نوڅه خلګ به پاسیدل دهغے خبری تائیدبیه اوکړواوچابیه تردیداوکړوڅه بحث اومباحثه به پرے اوشوه اوپه آخرکی بے په خلګوباندی لاسونه اوچت کړل اودهغے خبری منظوری بیه اوکړله ، د یونان په هغه اولنی دورکی داجمهوری نظام دومره ساده ؤنورداسی څه خاص دستوراوقانون نه ؤ چی په فلانئ معامله کی به منظوری اخلواوپه فلانی کارکی به منظوری نه آخلو،اوپه فلانئ معامله کی به با دشاه ته بغیرده منظوری نه ده کارکولو حق حاصل وی اوپه بعضوکی به نه وی ورته حاصل ۔

بادشاه به ده خپل صوابدیدمطابق داکتل چی کومه مسئله ددے وړده چی دهغے په هکله د ی داو لس رایه معلومه شی که بے ضرورت ؤبیابه یه دعوامونه هم رایه واخستله ، بیاسوکه سوکه پد ے مشوره کی څه انضباط پیداشو،اوددے دپاره یه څه لژ قوانین هم جوړکړل ، لیکن هغو قوا نینو څه اهمیت نه لرلو ، لهذادادمشورے پروګرام هلته کامیابه ؤ چی کله آبادی او خلګ کم ؤ لیکن چی کله خلګ زیات شولکه چی دروم دسلطنت حدودډیروسیع ؤ اوآبادی یه هم زیاته وه ۔

هلته دادیو نان واله صورت نه ؤ ممکن زکه هلته داتصورتردے حده محدوده شوچی باد شاه بده خپلی مشور ے دپاره یوکونسل یابیه مجلس شورئ جوړولواودهاشورئ دمجلس نه بیه کله کله مشورے طلب کولے ، نوددے نتیجه داراووه تله چی په جمهوریت کی داعوامو کومه مرتبه ده چی پدے نظام کی به عوام مکمل برخمن وی دانظریه بلکل مفقوده شوه ، اوددے پرځائ مطلق العنان با دشاهت راغلو، نوعملاً دیونان ده ریاستونه وروسته دجمهوریت تصوربلکل ختم شو، بیاددے تصورا حیاء داتلسمی ۱۸ صدئے په شروع کی اوشوه یعنی داتلسمی صدئے په ابتداء کی دا جمهوری نظریه بیاراژوندئے شوه ، نوپه هغ وخت کی دے جمهوریت بیایومنضبط شکل اختیا رکړو چی اوس ورته جمهوریت وایی چی ده دے نوم لیبرل ډیموکراسی د [liberal democracy] اوپه اور دوزبان کی ورته آزادخیاله جمهوریت وایی اواوس په دنیاکی دهم دے لیبرل جمهوریت تسلط اوچلن دئے ۔

لهـذادادیـونـان نه راشروع نظام دئـے اوبعضـے خلگ بیاده دے نظام ابتدائی نقوش دډیره لیری ځـائ نـه رانیسـی چـی دانـظام تر حضرت نوحؑ نه هم مخکی جوړشوئـے دئـے اووایی چی دیونان مثالی ریـاسـتـونـه مـلـکـونـه لـکه " بحیره روم " اوچی کوم ریاستونه له بحیره روم سره خواکی نزدیدی لکه " شـمالی مقد ونیا،بل غاریا، المانیـه ، او ایټالیـه " دادجمهوریت ابتدائی خاکه ده اودوئ وایی چی کده روح جـمهـوریـت (دجمهوریت چی کوم روح دئـے) اودجمهوریت اصلی معنیٰ داواخلـے چی لدینه مرا دد عوا مـودمـر ضـئ حـکـومت دئـے نوبیاترطوفان نوح نه وړاندی (مخکی) دانظام راروان دئـے ، نوکه ددوئ دا خبـره ور سـره اومنونو بیامعلو مه شوه چی ددے نظام ابتداء لیاله کفره شوے ده اودازکه چی ترحضرت نـوحؑ نـه وړانـدی خودوئ دبت پرستئ پروگرام جوړ کړ ئـے ؤ چی کله دنوحؑ بعثت اوشونویه ورته اووه یل چی ﴿ أن عبدوا اللّٰه و اتقوهٗ وأطیعون ﴾ (نوح :۳)

اے دالـلّٰـه بـنـدے ګـانـو دالـلّٰـه نـه اویـه ریـګئ اودهغه عبادت اوکړئـے زماتابعداری اوکړئ دادوُد اوسُواع عبادت مه کوئ ـ

﴿ وقالوا لاتذرنّ ء آلهتکم و لاتذرن وُدّاً و لاسواعاً و لایعوث ویعوق ونسراً ﴾ (نوح :۲۳)

دالـلّٰه ﷻ عبـادت شروع کړئ داخپل اختراعی نظام اوحاکمیت پریژدئـے بلکه دالـلّٰه ﷻ حا کمیت تـه رجـوع اوکـړئ نـونـوحؑ داقسـمـه دعوت ورله ورکړلواودوئ نه دبتانوعبادت پریخودلواونه یه دالـلّٰه ﷻ حـاکمیت اومنلونوددے په نتیجه کی الـلّٰه ﷻ پـه طوفان کی غرق کړل نوکه دوئ وایی چی دا تر نوحؑ نه مـخـکی راروان نظام دئـے نوموژبه ورته اووایو چی صحی ده ترنوحؑ نه مخکینی جمهوریان الـلّٰه ﷻ دطو فـان پـه ذریعه سره غرق اوهلاکه کړل لژ صبراوکړئ اوس ستاسودغرقیدوانتظاردئـے خو هغه دطوفا ن او بـواوهـواګانوسنت اوس ندئـے پاته بلکه اوس بده هم دے مجاهدینوپه لاسونوسره ستا سو هلاکت کیژ ی لکه چی الـلّٰه ﷻ فرمایی ﴿ قاتلوهم یعذبهم اللّٰه بأیدیکم ﴾ (التوبه :۱۴)

اے مسلمانانواوجنګیژئ لدے کفاروسره الـلّٰه ﷻ به ستاسوپه ذریعه سره دوئ ته عذاب ورکوی ـ

دجمهوریت خپله ذاتی معنیٰ اوذاتی شکل ندئـے معلوم

دجـمهـوریـت خپـلـه ذاتـی مـعـنـیٰ اوذاتی شکل نشته دازکه چی جمهوریت اوډیموکراسی پر مـختـلـفـولاروراتیـرشوئدئـے کله په یونانی دورکی پاتـے شوئدئـے نوله یونانی فلسفـے نه متأثره دئـے (لـکـه چـی تیـرشـو) اوکـلـه په روم کی پاتـے شوئدئـے نوله رومی تهذیب نه هم متأثره دئـے اوکله بیادبل ځـائـے نـه متـأثـره وی ،چـونـکه له انسانی دماغونه جوړشوئـے قانون دئـے لدے وجه نه هررنګ اوهره

پیلتی پرے پرته ده اودهری ګندګۍ انطباق باندی کیژی ، ددے مختلفوعکسونواوشکلونوپه وجه سره دوئ وایی چی دجمهوریت خپله ذاتی معنیٰ پرموژمشتبه دحتیٰ چی د (ساتوی) په نامه سره یوسیاست دان وایی چی په واضح طورسره موژ دغیرواضح جمهوریت په دورکی اوسیژویعنی وا ضحه خبرداده چی موژا و س په کوم دورکی یوپدیکی دجمهوریت تصورندئے واضح چی ثته وایی اودئے وایی چی که چیرته دجمهوریت یودرے ثلوریاپنځه شپژمعانی وایه نوبیاهم ګذاره کیدله خو چونکه اوس دجمهوریت دومره ډیری معناګانی دی موژحیران یوورته چی اوس یه کومه معنیٰ واخلو۔

(ډال) نومی یوسیاست دان دئے هغه وایی چی ده کومی اصطلاح معناګانی چی ډیری شی نودهغے به دامطلب وی چی ددے اصطلاح دسره څه معنیٰ نشته لدے نه معلومه شوه چی جمهوریت ډیر یوبے معنیٰ ثیزدئے ۔

اوبعضے بیاوایی چی داډیری معناګانی ډیرښه کاردئے زکه چی دمختلفو تصور اتواو معا نیوؤپه وجه سره دهریومذهب اوهری نظریی والاکس پکی خپله لاره جوړولۍ شی ، اوددوئ حرا میتو ب هم پدے نقطه کی دئے چی داسلام تصورهم پکی شته دسیکولرزم اوقوم پرستۍ تصو رهم پکی شته ، نوموژورته وایو چی نه داسلام تصورخوبلکل پکی نشی کیدئ هغه زکه چی اسلام حاکمیت اعلیٰ اللّٰه ﷻ ته سپاری اوجمهوریت حاکمیت عواموته ورکوی ۔

اود "کارل مارکس"[karl marx] په نامه سره یوکس وایی چی کله دجمهوریت په نتظیم او تر تیب کی لژغوندی تبدیلی اوشی نوټول سماجی حقائق بیاپکی راتلۍ شی، لکه نن صباچی بعض جمهوری علماء په جمهوریت کی داسلامی په لفظ سره اظهرمن الشمس کفراسلام بلکه کامل اسلام ثا بته وی اووایی چی یاره داخوصرف جمهوریت ندئے بلکه اسلامی جمهوریت دئے ۔

دجمهوریت دبانیانوذکراونظریے

یعنی دهغوکسانومتعلق به بحث کؤچی چاددے جمهوری اوابلیسی نظام په جوړیدوکی حصه اخستے ده ،ددے طاغوتی نظام دجوړؤنکوتعدادخوډیردئے دټولوتذکره ناممکنه ده خوالبته بیا هم د یوپنځوشپژوهغوکسانواوبانیانوتذکره به اوکړو چی کومومفکرینوپه مغربی دنیاکی دجمهو ریت تصورپیداکړئے ؤ،اوچی څوك ددے نوی آزادخیاله جمهوریت بانیان ګنړ ل کیژی دایو ثلورپنځه کسان دی چی ددے لیبرل جمهوریت تخم یه په دنیاکی شائع کړئے دئ یو" وولټائر، دویم مونټیسکو، دریم رو سو، ثلورم افلاطون ، اوپنځم ده ارسطوپه نامه سره دایو ثوفلسفیان دی چی دوئ ده خپلو نظریواو

فلسفوپه وجه سره په دنیاکی داسی فکرونه خورکړی دی چی دهغوئ په وجه سره جمهوریت په و جود کی راغلوداده فرانس کسان دی ـ

(۱) " **وولتاٸر** "[voltaire] دااول کس چی دئے وولتاٸرداده اووه لسمی [۱۷] صدئے په آخر کی پیدا شوئے ؤ، اوپه اتلسمه [۱۸] صدئے کی یه انتقال اوشو، ده دفلسفے ، سائنس، اوآرټ په هره شعبه کی کتابونه لیکلی دی اود تحریرونو مجموعه یه تقریباً نوی[۹۰] جلدونوکی شائع شوے ده ، دوو لتا ئر خصو صی امتیازدادئے چی هغه دمذهب ده بنیادده ویستلوبنه کوشش کړئدئے اودادعویٰ یه کړ ے ده چی ځومره آسمانی مذهبونه دی دے ټولوکی تحریف شوئدئے اوپه اصل کی دانسان دپاره یو مذهب پکاردئے او هغه فطری مذهب دئے ، اودیته په انگریزی کی[natural raligion] وایی ، او بعضے خلگ وایی چی دے وولتاٸرداللهﷻ په وجودکی دتشکیك تخم کرلئے دئے ، خومگردایه ضرو رویلی دی چی دانسان دپاره یوفطری مذهب پکار دئے ، اوترهغه تحت دانسان دپیدائش نه وروسته که یوکس داللهﷻ وجودتسلیم کړی نوپروانه لری، ددے نه بعدپه عاموماهبوکی چی کو م اخلاقی یاقانو نی هدایات ورکول کیژی دهغوئ اودمذهبی نظامونو څه دائمی حیثیت نشته ... ـ

هم دانظریه چی کله مخته لاړه نوبیایه داشکل اختیارکړوچی نن په مغربی دنیاکی چی دمذ هب متعلق کوم تصوردئے هغه داچی په مذهب کی دحق اوباطل سوال هم نه پیداکیژی چی کوم مذهب حق دئے اوکوم مذهب باطل دئے ؟ بکله مذهب دانسان دخپل ذاتی تسکین ذریعه ده یعنی مذهب یوداسی څیزدئے چی دهغے په ذریعه سره انسان خپل نفس اوروح ته تسکین ورکوی ، که چیر ته دته دنمانځه په کولوسره سکون ملاویدونودده دپاره به دانمونځ برحق وی ، اوکه چاته دبت په وړا ند ی دلاسونواوچته ولوکی سکون ملاویدونودهغه دپاره به دابت پرستی برحقه وی ، اوکه چاته به مراقبه کولوکی سکون حاصلیدوهغه لره مراقبه کول پکارده ـ

لهذا چی دکوم انسان وجودته کوم یو ه مذهب هم سکون ورکولودهغه دپاره به هم هغه مذ هب پرحقه وی ، اونن هم دانقطه نظرپه مغرب کی خوره شویده، هغوئ وایی چی مذهب خویوه ذاتی معامله ده ،هرچالره اختیاردئے چی دخپل سکون دپا ره کوم مذهب غوره گنړی هم هغه دی اختیا ره کړی ، په هم دے وجه سره هرسړی لره دبل سړی دمذ هب احترام کول پکاردی اوله روادارئے نه کاراخستل پکاردئے ، اودوئ وایی چی دمذهب متعلق بحث اومباحثے کول یوبل قائله کول منا ظر ے کول دادضیا ع وخت نه علاوه بله هیڅ فا ئده هم نه لری ، اودبل مذهب احترام به هم پدے وجه سره نه کوے چی مذهب فی نفسه خه څیز د ئے بلکه پدے وجه سربے احترام کوے چی دے سړی د

خپل سکون دپاره هغه ذریعه اختیارکړے ده ، نوزکه تا سو دهغه احترام اوکړئے ، لکه یوکس چی د خپل سکون دپاره کورجوړ(ساز)کړی نو ستا پرذمه دهغه احترام کول فرض دی ، اودهغه دے کورتبه بغیرداجازت نه نه داخلیژے نوزکه که یو کس یومذهب غوره کړی نوداد هغه خپله ذاتی معامله ده تا لره ندی پکارچی دهغه تردیداوکړے ۔

چی کله داخبره اوشوه چی مذهب ذاتی معامله ده اوذاتی سکون ذریعه ده ،دهم دے وجهی نه دمذهب له ریاست اوحکومت سره څه قسمه تعلق نشته ، او دهم دے سوچ پربنیاددسیکولرزم نظریه پیدا شوه دسیکولرزم لفظی معنیٰ ده " دنیاوی " اوسیکولرهرهغه څیزته وایی چی هغه ددنیاوی مصالحواومنافعودپاره جوړشوئے وی یاپه یوڅیزکی یودنیاوی مصلحت پروت وی ، یعنی داسیکولرزم یو داسی نظام دئے چی ددے وضع محض ده دنیاوی فائدودپاره شوے ده ، په هم دے وجه سره ددے لاز می نتیجه " لادینیت اولامذهبیت " راځی ، اوله ریاست سره به دسیکولرزم مطلب داویی چی دریا ست به له مذهب سره هیڅ قسمه تعلق نه وی ، بلکه ریاست محض ددنیاوی مصالحواو منافعودپاره استعما لول پکاردئے دازکه چی مذهب خودانسان خپله ذاتی معامله ده نودمذهب له ریاست سره څه کاردئے ، داټوله فلسفه ده وولټائړپه نظریاتوباندی مبنی ده نولهذاداده سیکولرزم نظریه هم ده دے و ولټا ئرده نظریے نه راپیداشوے ده اوده دے متعلق مخته مفصل بحث راروان دئے ۔

(۲) " مونټیسکو "[montesguiue] دادویم کس دئے چی ده جمهوریت په صورت ګری کی ډ یر لو ئ کردارلری ددے کس صرف یوکتاب مشهوردئے د (روح قانون)[the spirit of laws] په نامه سره داکتاب تقریباً پرڅلورسوه [۴۰۰] صفحوباندی مشتمل دئے اودئے وایی چی زه ددے کتاب په لیکلو سره دومره ستړئے شوم چی اوس به ټول عمرآرام کوم ، دده داکتاب په اصل کی د قانون اودده پر فلسفه باندی مشتمل دئے ، دجمهوریت په سلسله کی دده هغه نظریه ده کومی ته چی دتفریق اختیارات نظریه ویل کیژی ،په انګریزی کی ورته[saparation of power] وایی دده ویناداده چی څومره مطلق العنان حکومتونه تیرشوی دی اودهغوئ په مطلق العنانی سره چی خلګوته کوم نقصا ن اوزیان رسیدلئ دئے ، ددے بنیادی وجه داوه چی دریا ست تمام اختیارات به یوه کس ته حاصل ؤ یابه په یو ه اداره کی مرتکزؤ چی دهغے په ذریعه سربه پرخلګوباندی ظلم کیدلواودریاست په کارو نوکی به کمی اونقصان هم پیداکیدلو، نودئے وایی چی ترهغه وخته پوری دانتائج نشی بهترکیدلئ چی تر څو پوری دااختیارات پرمختلفوجهتونوباندی نه وی ویشل شوی ، نوداول داخبره اوکړه چی د ریاست اختیارات په حقیقت کی درے مختلف قسم اختیارات دی ۔

(۱) دقانون سازئ اختیارات ..(۲) دملك انتظام دهغه قانون مطابق دچلولو اختیار.. (۳) که چیرته یو کس دقانون خلاف یو کاراوکړی ، یاپه هغه معامله کی څه قسمه جګړه راشی چی دافلا نئ کاردقا نون په دائره کی دئے اوکه نه دئے ، نودهغے تناز عے اوجګړے دفیصلے اختیار۔

اوده مونټیسکوده تفریق اختیاراتوده نظریے مطلب دادئے چی دابالادرے واړه اختیارات په یو کس یاپه یوه اداره کی ندی بندول پکار، بلکه دادرے واړه ادارے یوده بل نه آزاده اوخودمختاره پکاردی ،اویوے ادارے لره ده بلی ادارے په کارکی دخل اندازی ندی کول پکار۔

دقانون جوړولو اختیارچی کومی ادارے ته حاصل دئے وه هغے ته " مقنّنه یالیجسریچر " [legislature] وایی ، اوپه جمهوریت کی دااختیارات پارلیمنټ یااسمبلئ ته حاصل دی ، اودقانون مطا بق دملك انتظام دچلولو اختیارچی کومی ادارے ته ورکول شوئدئے هغے ته " انتظامیه یاا یګز یکټو "[executive] وایی ، چی ده دے سربراه په صدارتی نظام کی صدراو په پارلیمانی نظام کی بیاوزیراعظم وی ، دریم اختیاریعنی دقانون تشریح اودتنازعاتوده تصفیے چی کومه اداره ده وهغے ته بیا " عدلیه یاجوډیشری "[judiciary] وایی ، اودملك دعدالتونوپه شکل کی چی کوم په وجودکی راځی ، دمونټیسکوویناداوه چی په ماضی کی درے واړه اختیارات په یوه سړی یاپه یوه جهت کی مرکوزه ول یعنی منحصرول ، هغه سړی یاادارے به قانون هم جوړولو، اودملك انتظام بیه هم چلولو، اودجګړوتصفیه بیه هم کوله ، اونتیجه دهغے داوه چی انتظامیے به چی کله څه قسمه ګړبړاوکړلو نو دهغے مسئلے په خلاف فریادبیه هم دوئ لره وړلویوشاعرده دے قسم نظام په باره کی ویلی دی چی :

وہی قاتل وہی شاہد وہی منصف ٹھہرے ::: اقرباء میرے کریں خون کادعویٰ کس پر

اګرچی دبادشاهت په نظام کی به عدالتونه ؤ لیکن اول خوبه آخری فیصله بادشاه کوله ، دویم داچی په عدالت کی بده فیصلوکولووالاجج هم بادشاه پخپله ټاکلو،اودهغه جج دمعزوله ولو اختیا ربه هم بادشاه ته حاصل ؤ ،دهم دے وجهی نبه جج همیشه دبادشاه سترګوته کتل چی بادشاه سلا مت په څه حالت کی دئے ،کبه یه چیرته یوه فیصله ده بادشاه دمرضئے خلاف اوکړله نو هغه جج بیه معتوبه اومعزوله کولو،دغه رنګه ټول اختیارات په یوه جهت کی مرتکزشوی ؤ ، کبه چیرته حاکم یو ظلم او کړ لونودادعویٰ بیه چاته وروړله ؟ هم دے حاکم ته بے وروړله زکه چی هغه حاکم پخپله قاضی هم دئے او فیصله کؤنکئے هم دئے ، کبه چیرته حاکم یوقانون جوړکړلواوهغه به صحی نه ؤ نودهغه قانون خلا ف بیه چاته فریادرسولو؟ هم دے حاکم ته بے هغه فریادکولو..نوپدے سره مطلق العنانی زیاتیژی۔

دتفریق اختیاراتوده نظریے ویناداده چی دادرے واړه عملونه دحکومت له جلاجلا(ځانله ځا نله

) ادا ر وسره پکاردی ، اوددوئ نه هره یوه اداره په مکمل ډول سره خودمختاره پریخودل پکارده ، یوه اداره به هم دبلی ادارے په دباؤ اویره کی نه وی ، مقننه دی قانون جوړکړی ، اوانتظامیه دی بیا هغه قا نون عملاً نافذکړی ،اوعدلیه هم خودمختاره پکارده ، اودازکه چی که چیرته چاته ده مقننے نه یاده انتظا میے نه څه قسم شکایت وی هغه به عدلیے ته لاړشی په عدلیه سره به خپل شکایت ختم کړی ، لهٰذا ریاست په دے مذکوره درے حصوکی تقسیمه ولوته تفریق اختیارات وایی ـ

دمونټیسکوداده تفریق اختیارات نظریه په آخرکی ټولوجمهوریانواومنله ، اوس چی په کوم ریاست کی څومره دستورونه اوقوا نین جوړیژی هغه پرهم دے بنیادباندی جوړیژی چی دمقننے به ځانله اختیارات وی ،اودانتظامیے اوعدلیے به ځانله اختیارا ت وی، اودے اختیارا توتیه دومره حیثیت ور کړلو چی اوس که مقننه یوقانون جوړکړواونافذیه کړونوددے قانون اونظریے نه پس او س وه دے مقننے ته هم دومره اختیارنشته چی ددے خپل جوړکړلئے شوی قانون تشریح اوکړی ،دقانون د جوړیدلوپه و خت کی چی مقننے کوم الفاظ استعمال کړل داالفاظ داسی شول لکه چی تیردکمان نه اووځی ، اوس بده هغوالفاظوتشریح عد لیه کوی چی ددے الفاظومطلب څه دئے ، بلکه چی کوم سړ ی پخپل قلم سره یوقانون جوړکړئے وی ، نو هغه قانون دمقننے په ذریعے سره دپاس کیدلو نه پس که هغه مقنن اووایی چی ځمادفلانی لفظ نه دامرادؤنود هغه داخبربه هم قابل قبول نه وی ، نودمقننے نه پس بده عدلیے کاروی هغه ګوری چی ددے لفظ څه معنیٰ ده ؟پارلیمنټ داکولئ شی چی هغه قانون منسوخ کړی ،یانوئے قانون دهغه پرځائے جوړکړی ،یاپه هغه قانون کی ترمیم او کړی ، خولیکن چی کله هغه قانون په هم هغه شکل کی نافذوی ،ترهغه وخته به دهغه قانون ده تشریح اختیارصرف عد لیے ته وی ـ

دلته به ددے خبری ذکرهم دفائدے نه خالی نه وی هغه دا چی داختیاراتودوه قسمونه دی یوته تفریق اختیارات وایی دادمونټیسکونظریه ده کومه چی تفصیلاً ذکرشوه ، یوه بله نظریه دهغے ته تقسیم اختیارات[divison of power] وایی ، ددے مفهوم دادئے چی په مرکزاوصوبوکی به اختیا را ت څه رنګه تقسیمیژی ؟ څومره اختیاربه مرکزته وی ؟ اوڅومره اختیار به صوبوته حاصل وی ؟

(۳) " **روسو** "[rousseau] دادریم فلسفی دئے چی دجمهوریت په صورت ګری کی یه حصه اخستے ده ، ده دعمرانی معاهدے دنظریے تجدیدکړیدئے ، دایوڅونظریے دی لکه " نظریه معاهده عمرا نی ، نظریه قوت ، نظریه پدرسری یامادرسری، نظریه اصل خداوندی " چی ددے ټولو تفصیل حضرت تقی عثمانی صاحب پخپل کتاب (*اسلام اورسیاسی نظریات*) کی کړ ئے دئے ،" ولیس هٰذا

موقع التفصیل " اوده روسوده کتاب نوم هم د " معاهده عمرانی " په نوم سره مشهوردئے ، دانظریه خو خاصاً زړه ده خولیکن ددے نتائج په دوؤمختلفواړخونوکی وتلی دی ـ

یواړخ یه دادئے چی دمعاهدے عمرانی په نتیجه کی مطلق العنان حکومت قائمول پکار دی ، بل اړخ یه دادئے چی ددے معاهدے په نتیجه کی به داسی حکومت قائم وی چی په هغه حکومت کی به افرادوته آزادی وی ، او حکومت بده افرادونمائنده وی ، نو " روسو " اوّلنئ کس دئے چی هغه دادویم اړخ اودویمه نظریه پیش کړله ، دے دویمی نظریی چی دحکومت په حق کی دخپلوذاتی حقوقونه کومه دستبرداری اختیار کړے ده هغه پدے وجه سره چی داحکومت به زموژده مفادا تواوز موژدآزادیوتحفظ کوی ،نوده معاهدے عمرانی تقاضه داده چی عوام به خپل نمائنده حکومتونه قائم کړی ، اوده فردده مفاداتوتحفظ دی اوشی ،نوپدے طریقه سره د " روسو " په نظریه کی دوه څیزونه دی :

یودفردپرآزادی باندی زورلګول ، بل دافرادونمائنده حکومت ،یعنی افرادوته داحق ورکول پکار دئے چی هغوئ کله هم اوغواړی نوخپل حکومت جوړکړی ،اوچی کله اوغواړی نوختم یه کړی ،نو دا درے بنیادی نظریات دی چی هغوئ دآزادخیال اوسیکولرجمهوریت صورت اختیارکړیدئے (۱) ریاست دمذهب نه جداکول . (۲) تفریق اختیارات ، (۳) اودفردده آزادئے په نتیجه کی نمائنده حکومت ـ

(۴) " **افلاطون** " دجمهوریت په بانیانوکی داخلورم کس دئے اودسیاست پرموضوع باندی تر ټولونه وړاندی دے کس کتاب لیکئے دئے د " جمهوریه " په نامه سره ،داده سقراط شاګرد تیر شوئدئے ، اودسیاست په باره کی یه له هغه نه ډیری خبری ایزده کړے وے ، اوډیرتعلیمات یه ترینه حاصل کړی ؤ او بیایه هغه تعلیمات پخپل کتاب کی مرتب کړلواودده ددے جمهوریه کتاب په انګریزی زبان کی ترجمه د'رے پبلك' [republic] په نامه سره شائع شوے ده، اودافلاطون ترحضرت عیسیٰ ؑ نه څلور سوه [۴۰۰] کاله مخکی تیرشوئدئے ، اوده دسقراط دتعلیماتواوده خپلی اضافے سره داکتاب لیکلئ دئے ،داډیرضخیم کتاب دئے خولیکن دیومسلسل کتاب یاتدوین شده کتاب په حیثیت سره ندئے لیکل شوئے بلکه داپه حقیقت کی دمکالماتوپه شکل کی دئے ، ددے کس یوه نظریه داوه چی دئے دتزویج (دواده ،نکاح کولو) نه ؤقائله اوویل بیه چی ټول بده یوه ملك اوریاست ښځی او بچی یود داسی پلیت ذهن خاونددے جمهوری نظام بانی تیرشوئدئے ـ

دے افلاطون به مختلفی طریقے جوړولے اوویل بیه چی په خلګودی تعلیم شروع شی اودد

ے تعلیم مدت اووخت یه شل [۲۰] کا له مقررکړوچی شل کاله به خلګ تعلیم حاصله وی اود شلو کلو نـه پس به بیاامتحان تر ے نه اخستل کیژی اوپدے اوّلنی امتحان کی چی به کوم خلګ فیل شو(ناکام به شو) نو هغه بیه په فو ج کی برتی کول نوګویاکی فوج وه دته ترټولونه کم عقله طبقه خکارے دله، او شل کاله وروسته چی بیه دویم امتحان واخستلوپه هغه امتحان کی چی به کوم خلګ فیل شو نو هغه بیـه ده زراعـت پـه پیشـه کـی اولـګـول ،اودنـوروشـلـوکـلونه پس په دریم امتحان کی چی به ځوك فیل شـونـو هـغـه بیه دتنفیذ په دائره کی اولګول ججی وغیره شوه ،اودځلوینبتو[۴۰] کلوپه عمرکی بیه بیا امتـحان وا خستـلـو هـغه فیل کړل شوی بیه په حکومت کی واخستل دهغوئ تجربه زیاته وی نوزکه هغه حکو مت خه چلو لئ شی اودشپیتوکلودعمرکسان بیه هم دحکومت دچلولوپه دائره کی اخستل زکه چی دهغوئ تجربه هم زیاته وی ـ

دمـجـلس پنج وصدنظریه هم دے کس راوړاندی کړے ده چی په اوله حصه کی داقسام جمهور یت پـه عـنـوان سره مـوژپـردے څه بحث کړئدئـے ، نوددے نظریے مفهوم داؤ چی هغه دکال دور ځوپه حساب سر ه ددرے سوه پنځه شپیتو[۳٦۵] کسانویوه شورئ جوړکړے وه اووه دیته بیه غټه اوعالی شـورئ ویـلـه چـی روزانه بے سوچ اوفکرکولودباقی عوامودپاره بے قانون سازی کوله ، دئـے وایی چی دخـلـګوسوچ دی خپلوذاتی مفادوته نه وی بلکه دخلګوسوچ دی دریاست وه مفا دواومنا فعو ته وی نود اقسـمـه طـریقه اواشتراك پکاردئـے ،خوبیادده پردے اشتراکی نظریے با ندی ارسطوردکوی او وایی چی اشتـراکـی ذمه واری په اصل کی دغیرذمه وارئ علامه ده زکه چی په اشتراکیت کی خودخلګونه دذمه وارئ سـوچ ختـم کیژی ، اودلیل بیه داپیښه ولو چی په ډیروقصابانوکی همیشه غوا مردا ره اوخرابه وی ـ

(۵) " ارسطوطالیس " دجـمـهـوریـت پـه بانیانوکی داپنځم کس دئـے اوځماپه خیال پرهم دے پـنـځوکسا نو به اکتفئ اوکړو، داکس بیادافلاطون شاګردتیرشوئدئـے، اوپه فلسفه کی یه دهغه شاګردی کـړے وه ،دافلاطون په شاګردانوکی ترټولونه لویه مرتبه ده ته حاصله وه ، اوهم داوجه ده چی نن صبا ترا فـلا طـون دارسطوشهرت زیات دئـے، دافلاطون دفلسفـے مختلفـے حصـے مدون کړے دی اوپه کتا بی شـکـل کی یه تیاری کړے دی ،اوپه نن صباکی دفلسفـے اودسائنس دټولوشعبو بنیا دپه حقیقت کی هم دے ارسـطـوایښئ دئـے ، دسینس (سائنس) چی څومره شعبے دی لکه علم طب ، علم حیوانا ت ، علم طبـقـات الارض ،عـلم فلکیات ، علم البصریات ، نوپدے کی یو څیز هم داسی نشـته چی دهغـے بنیاددی ارسطونه وی ایښئـے ـ

هغه دسیاست پرموضوع باندی هم د " سیاست " په نامه سره یوکتاب لیکلئ دئے چی په انگریزی کی د " پالتیکس " [politics] په نامه سره چاپ شوئدئے ، دارسطوداکتاب په حقیقت کی دافلاطون د " ډیموکراسی " دکتاب یوترقی یافته شکل دئے، چی داردوترجمه یه هم شوے ده ، اودارسطو هم ترحضرت عیسیٰ ؑ نه درے یاڅلورسوه کاله وړاندی دسیکندراعظم په زمانه کی په ۳۳۳ سنه کی تیرشوئدئے .. نوداجمهوری نظام دے سیکولراوکافرسیاست دان اختیارکړئے دئے چی دمذهب سره یه هیڅ قسم تعلق نه ؤ . د ده نظریه دا وه چی دبه ویل چی ماته درے نظامونه پسنداوخوښ دی ـ

(۱) اول بادشاهت، (۲) دویم اشرافیه نظام ، (۳) دریم عمومی نظام !

خودامذکوره درے واړه نظامونه ارسطووایی چی خرابیدئ شی اودخلگوپه مخکی ساقط النظر گرځیدئ شی هغه پدے طریقه سره چی دبادشاهت نبه جبریّت جوړشی که عوام راضی وی او که ناراضه وی خودئے به خپله بادشاهی پرے کوی ، اوداشرافیه نبه مطلق العنانیت جوړشی یعنی دحکومت ټولی واگی اوولونه به دوئ په لاس کی واخلی هره اداره به ده دوئ په لاس سره مقرریژی ، اوهر قانون به ددوئ په خوښه سره جوړیژی ، پدیکی به نه دچالحاظ ساتی اونبه چاته ده دے وله دنیولواختیا رورکوی ، اوله عمومیت نبه کله عوامیت جوړشی اوبالآخربه جمهوریت شی ـ

اوس دارسطوده دے خبری نه دامعلومه شوه چی جمهوریت اوډیموکراسی دحکومت خراب شده شکل دئے، چی کله هم حکومت وران یاخراب شی نوبیاعوام دحکومت ټولی چاری پخپل لاس کی واخلی ، اود دے دخرا بیدوبله وجه داده چی بادشاه کله هم دمطلق العنانیت حیثیت اختیاره کړی اودحکومت ټولی چاری په لاس کی واخلی اوپرعوامو ده ظلم اوجبرکړئے راتنگه کړی نودد ے په مقابله کی بیاپه عوامو کی دردعمل جزبه راپیداشی بادشاه اوحکمران ختم کړی اونظام پخپله دجرگوپه شکل کی واخلی چی بیا جمهوریت ترینه جوړشی ـ

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه

۱۹ ، ربیع الثانی ۱۴۴۱ سنه بمطابق ۱۶ ،دسمبر ۲۰۱۹ سنه فی یوم الأثنین

ومن یبتغ غیرالاسلام دینافلن یُقبلَ منه (الآیة)

تو نے دیکھا نہیں مغرب کا جمہوری نظام ::: چہرہ روشن، اندرون چنگیز سے تاریک تر (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ڈیموکراسی
حصه سوم

اضافه ترتیب وکتابت
حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه سوم

په دنیاکی ترنن تاریخه پوری چی څومره نظامونه معروف اومشهوردی هغه ټول نظامونه په درے څلورولویو خانوکی تقسیمیدئ شی (اول) بادشاهت ، (دویم) اشرافیه نظام ، (دریم) عمومی نظام ، (څلورم) جمهوریت ،نو چونکه نن صباپه څلور کونجه نړئ کی جمهوری اوډیموکراسی نظام رائج اونا فذدئے پدے وجه زموژاصل بحث دجمهوریت متعلق دئے زکه بدانظام موژدالف نه واخله تریاپوری پیژنو چی ددے نظام تعریف څه دئے راروان دکوم ځائے نه دئے ، جوړؤنکی یه څوك دی ، اوبیابه خه په مدلّلانه اندازکی حکم هم پرے لګؤ چی ددے نظام په اوسنی دورکی څه حکم دئے اوپه آخر کی به د دے نظام مفاسداو نقصانات هم ذکرکؤ،خوپدے دریمه حصه کی ځه دامناسب ګنړم چی دد ے مذ کوره بالانظامو هم څه مختصرتعارف اوشی داچونکه ارسطو هم خوښ کړی ؤزکه او س دد ے متعلق څه بحث کؤپردے نظاموباندی شیخ الاسلام حضرت تقی عثما نی صاحب په (اسلام اورسیاسی نظریات) کتاب کی خه مفصل بیان کړئدئے نو ځه دلته دهغه دکتاب اردو پخپله مورنئ پښتوژبه کی رانقل کوم ۔

(۱) بادشاهت

په تاریخ عالم کی ترټولونه زیات جاری اونافذے دونکئے سیاسی نظام بادشاهت دئے ، داپه مختلفوصورتونوکی له ابتداء نه واخله تراوسه پوری راروان دئے اودتاریخ په اکثروحصوکی ددے عملی دخل زیات دئے ، بادشاهت یولفظ دئے چی دهغه معنی داده چی سربراه حکومت تبه بادشاه ویل کیژی، دهغه حکومت به شخصی وی اوپه شخصی ډول سره به حکومت کوی ! لیکن ددے بادشاهت بیاپه مختلفوادواروا ومختلفوممالکوکی مختلف شکلونه پاتے شوے دی بالفاظ دیګردبادشاهت ډیرقسمونه دی چی اوس به دهریوه ذکرپه تفصیل سره اوکړوان شاء اللّٰه ۔

(۱) اول قسم ته مطلق العنان بادشاهت وایی :

ددے قسم بنیادی خصوصیت دادئے چی پدے کی بادشاه دیودستوراوقانون پابنده نه وی ، بلکه دهغه خپل زبان قانون وی ، پخپله قوانین جوړوی اونشرکوی یه دبل چاکارورسره نه وی او دابیا په توارث سره وی یعنی چی کله پلارمړشی بیایه ځوئ پر منصب کینی اوچی ځوئ یه مړشی بیایه نو سئ کینی دغه رنګه ترآخره پوری لکه نن صباچی په سعودی عرب کی دی اودوئ ورته صدارتی نظام وایی ، لهذابادشاه پخپلو حکمونوجاری کولوکی دچا دمشورے پابنده نه وی، که دیو چاسره مشوره او

کړی دابده هغه ښیګړه وی اوکیه نه اوکړی نو څوك تپوس ترینه نشی کولئ ، هغه پخپله قانون هم جوړوی دحکومت نظام هم چلوی ، اودجګړوتصفیه هم پخپله کوی ،یعنی دقضیٰ کارهم آخرپر بادشاه منتهی کیژی ، اودده فیصله به هم دقضاپه معامله کی آخری اوحتمی فیصله وی ،بیا که هغه دیوانی مقدمات وی اوکه فوجداری لکه چی نن صبادفوجداری په قوانینوکی دافیصله کیژ ی چی دفلانی جرم به څه سزاوی اوترکومه حده به وی ؟

لیکن مطلق العنان بادشاه دڅه قانون پابنده نه وی ،کده چانه ناراضه شواوحکم یه اوکړوچی دا کس رازوړندکړئے یامیخونه پرے تړك وهئ ، یایه ده خره په چمړه کی اوګنډئ بس هغه قانون به فوراً عملی کیژی ، نودیته مطلق العنان بادشاهت وایی ،اوهم دے نظام حکومت دفرعون اونمرودپه شان حکمرانان پیدا کړل ، چی هغوئ بیاترخدائی توبه پوری دعویٰ اوکړه ...۔

(۲) دوم قسم ته شورائی بادشاهت وایی :

دبادشاهت وه دے دویم قسم ته شورائی بادشاهت[counciling monarchy] وایی ، دد ے حاصل دادئے چی بادشاه اګرچی قانون هم جوړوی ،اوانتظامی فیصلے هم کوی ،لیکن هغه له خپل ځان سره یوه شورئ لری ، چی دقوانینواوداحکاموپه اجرا کی اوپه انتظامی معاملاتوکی له هغوئ سره مشوره کوی ، اوس ددے شوراګانو هم مختلف نوعیتونه دی دچانوم یه [council] ایخئ دئے ، د چا نو م یه بیاسینیټ ایخئ دئے اودچاڅه دچاڅه ،دغه رنګه ده مشورونوعیتونه هم مختلف دی۔

په بعضے ځایونوکی به داسی کیدل چی بادشاه خوبه مشورے اخستلے لیکن پرهغو مشو روباندی بده عمل کولوپابنده نه ؤ، کبے دهغے مشورے خلاف عمل کول اوغوختل نوهم چابه نه شوبنده ولئ ، اوکله به بیابادشاه ددوئ دمشورے پابنده ولو یعنی چی هغوئ به څه مشوره ورکړله یا به یه کوم یو قرا دادپیش کړونوبادشاه به دهغه مطابق عمل کولوباندی مجبوره وو، په پخوانی تاریخ کی د یونان ریا ستونه ترټولو مهذب ریاستونه ګنړل کیدل ، اوپه هغه زمانه کی هلته خاری (شهری) ریا ستو نه ؤ یعنی دهریوخاربه ځانله مستقل حکومت وو، دیومستقل ملك حیثیت بیه لرلو، په هغه زمانه کی به خارګیر چا پیره په یوه قلعه کی محصوراوبندولونوپه هغه قلعوکی به چی څومره او سیدونکی ؤ هغه به ټول دیوه ریاست (ملك) خلګ ګنړل کیدل ، دهرخار(ښهر) سربراه به هم ځانله ؤ اونظام حکو مت بیه هم جداؤ ، ددے خاری ریاستووالانظام په یونان کی ترډیرومدتوپوری ؤ مکمل یو نان یو حکو مت نه ؤ۔

بلکه هریوخاربه مستقل حکومت وو، اوپه هغوئ کی به بادشاه وو، دابادشاهان په ابتد اء کی

مطلق العنان ؤاووروسته یه بیاده شورائی بادشاهت نظام اختیارکړو، اوبعضوبه بیادځان سره دا سی د شورئ مجالس جوړکړی ؤ چی هغوئ به په مختلفو معاملاتوکی بادشاه ته مشورے ورکولے ، اودا سی هم ډیرشوی دی چی بادشاه بده هغوئ دمشورے پابنده ولوپه بعضور یاستونوکی به بیادا پابندی نه وه ، اوپه بعضوریاستوکی به بیاداحدودمعلوم ؤ چی په کومو معاملاتوکی به باد شاه خود مختاره وی اوپه کومو معاملاتوکی به بیادشورئ پابنده وی ، داترحضرت عیسیٰ ؑ نه تقریباً درے څلور سوه کاله مخکی خبرده ـ

(۳) دریم قسم ته مذهبی بادشاهت وایی :

دبادشاهت وه دے دریم قسم ته مذهبی بادشاهت[religious monarchy] وایی ، یعنی دا سی با د شاهت چی په هغه کی بده بادشاه داقتداراواختیارسرچینه مذهب ؤ، یعنی په مذهبی ډول سر ه بیه با دشاه اوحکمران ټاکلو، مذهبی پیشوابده بادشاه دټاکلوتوثیق کولو چی موژدئے بادشاه منو، او دا با دشاه به بیاپخپل نظام حکومت کی ددے مذهبی پیشوایانوفی الجمله تابع فرمانه وو، یعنی دمذ هبی پیشوادبیان شوے تشریح مطابق به بادشاه چلیدلو ـ

ددے مذهبی بادشاهت ډیراوګد طو یل رواج په عیسایانوکی تیرشوئدئے ،اوددے شروع د حضرت عیسیٰ ؑ وه آسمانوته ده ختلونه تقریباً درے سوه کاله وروسته شوے ده ، دحضرت عیسیٰ ؑ پر متبعینوباندی درے سوه [۳۰۰] کاله دمخالفینو د ه لاسه په ظلم اوستم کی تیرشوی دی ، درے سوه کاله داسلسله جاری وه چی زیرزمین تبلیغ بیه کولو، اودهم دے درے سوه کاله په دوران کی دحضر ت عیسیٰ ؑ خپل اصل مذهب محرّف شواوموجوده شکل یه اختیارکړو، کنے په اصل کی دحضرت عیسیٰ ؑ پیروکاران موحدین وو، او عیسیٰ یه محض دخدائے پیغمبرمنلو، په دے دوران کی یهودی عنا صرویعنی یهودیانو مداخلت پکی اوکړو، اودپو لوس [saint paul] په نامه سره یوکس پکی حصه وا خستله چی اصل نوم یه ساؤ ل ؤاوسینټ پال یه هم ورته ویلو ـ

دے کس په عیسوی مذهب کی تحریفات اوکړل ، دتثلیث اوکفارے په رنګه عقید ے یه پکی شاملی کړلے ،تردے حده چی داصل مذهب والایاخوفزده شول ، یاختم شول اویاډیرکم پاتے شول ، نودے پولوس چی کوم نوئے (جدید) مذهب ایجادکړلودهغه نوم عیسائیت وه ګر ځید لو، دحضرت عیسیٰ ؑ درفع آسمانی نه درے سوه کاله وروسته دروم بادشاه قسطنطین (چی قسطنطین اعظم هم ور ته وایی) عیسائی شو، تردے نه وړاندی درومیانو مذهب پر بت پرستئ باندی مبنی ؤ ، لیکن ددرے یمی صدئے په شروع کی دا قسطنطین اعظم دپولوس دمذ هب عیسائی شو، اودا هغه سړئدئے چی

دده پرنامه باندی " قسطنطنیه " جوړشوے ده چی اوس ور ته " استنبول " وا یی، اوبیا داقسطنطنیه د عیسائی مذهب پایه تخت جوړه شوه ، نوددہ په عیسائی کیدلوسره په روم کی دعیسائی مذهب د حکومت آغازاوشو، اوپه هغه دورکی دپولوس دعیسائیت دمذهب د پیشوا نوم " اتاناسیوس " [athanasius] ؤ ..۔

دقسطنطین اول په مذهبی ډول سره دبادشاهت پرمسند باندی کینه ولو، اودهغے نه په روم کی دمذهبی بادشاهت وجودشروع شو، اود هغه مذهبی باد شا هت خصوصیت داؤ چی د کلیساسربراه چی موژورته پوپ وایونوپه مذهبی معا ملاتوکی به دده حکم آخری فیصله وه ، اوبادشاه به صرف په سیاسی معاملاتوکی فیصلے کولے ، او دااختیاربه هم پوپ ته ولو هغه به دافیصله کوله چی کومه معامله مذهبی ده، پدے وجه به بادشاه پخپلوفیصلوکی دچرچ دسربراه دفیصلوترډیره حده پوری پابندولو، کبه چرچ والاپه یووخت کی د اورته اووه یل چی ته به دا کو ے نودئے به دهغه دحکم پرمنلو باندی مجبورؤ ، چونکه دوے ۲ توری په یوپوښ کی نه شوے راتلئ پدے وجه دپوپ اود باد شاه دحدودوداختیارمسئله په روم کی هیمشه یومصیبت ولو، او پد ے کی ډیری جګړے اوشوے ، تر سیکولرنظامه پوری دایوه ډیره لاینحل مسئله وه ۔

(۴) څلورم قسم ته دستوری بادشاهت وایی :

ددے دستوری بادشاهت[constitonal monarchy] مطلب دادئے چی داسی بادشاهت چی په هغه کی به بادشاه دیودستوراوقانون پابنده وی ، دابه نه وی چی څه یه ترخولے اووتل بس هغه به قا نون جوړیژی اویا چی څه اوغوختل بس هغه حکم به جا ری کیژی ، بلکه دده اقدامات اوحکم به قابل عمل وی خوتریوقانون اودستورتحت، نوبادشاه به ددے دستورپه دائره کی دننه کار کوی دهغے نه یوبل خواته نشی تلئ ، اودادستوری بادشاهت هم په مختلفوادواروکی پاتے شوئدئے ، په یو نا ن کی دا طریقه پاتے شوے ده ، ده روم په تاریخ کی پاتے شوے ده اوبالخصوص ده قرون وسطیٰ نه په ورو ستو اد واروکی خودابادشاهت ډیرکله دستوری پاتے شوئدئے ، ددے دستوری بادشاهت یوقسم هغه دئے چی دنن صبادپارلیمانی نظام یوه حصه ده ، لکه چی په برطانیه کی بادشاه ملکه داوهلته ددستوری بادشاهت نظام دئے لیکن هغه بادشاهت صرف ده نامه ترحده دئے اختیارات یه هیڅ هم نشته ، اصل انتظامی اختیارات ټول یادکابینے سره دی اویادپارلیمنټ سردی ، بادشاه یه محض دنامه دپاره کینولئدئے ۔

تاسواوکتل چی بادشاهت یوداسی کلی مشککه ده چی دهغے اقسام دمطلق العنان بادشاهت

نـه واخله تربرائـے نام بادشاهته پو ری دی، یعنی بادشاه داسی هم تیرشوئدئـے چی دهغه زبان به قا نون ؤ اودا سی هم تیرشوئدئـے چی هیڅ یه هم نه چلیدل ، بهرحال دبادشاهت له دے اقسامونه داخبره واضحه شـوه چـی کله هم دجمهوریت اوډیموکراسی آوازه په دنیاکی ګډه شوے ده ، له هم هغه و خت نه دباد شا هـت لـفظ یابادشاهت اوملوکیت بدنامه شوئدئـے ، دډیری بدنامئ نه دااوس خلګ شر مطلق ګنړی، چی بـادشاهت اوملوکیت چی مولیدونودابه غلط اوخراب وی ، هم پدے وجه بعض خلګ کله وایی چی په اسلام کی خوملوکیت وغیره نشته ،نوداپه حقیقت کی ددے پروپیګنډے اثردئـے چی کومه پرو پیګنډ ه دے جـمهـوری آوازے پیـداکړے ده ، کـنـے مـلـوکیـت اوبا دشاهت خویوعنوا ن دئـے اوتر دے لاندی مـعـنـو ن خـه هـم راتلئ شی اوبد هم راتلئ شی، تردے عنوان تحت بادشاهت مفیداومناسب هم کیدئـے شی او غلط هم کیدئـے شی ـ

که چیرته تاسوقرآن کریم اوګورئ نواللّٰه ﷻ طالوط بطور" ملك " یعنی بادشاه یه رالیګلئـے ؤ ،اودایـه داحسـان پـه ډول فـرمـایلی دی چی موژپرتاسودااحسان اوکړوچی هغه موبادشاه رااولیګلو، هم د غـه شـان بـنـی اسـرائلو ته ده احساناتوپه ذکرکی فرمایی چی ﴿ و جعلکم ملوکاً ﴾ (الـمائده : ۲۰) (یعنی اللّٰهﷻ تاسوبادشاهان جوړکړلئ)

اوهـم پـدے طـریـقـے سـره یـه حضرت سیلمان ئ اوحضرت داؤدؑ ملوك ګرځه ولی دی ، اوس د جـمهـوریت پرستو خلګومخی ته چی کله داآیاتونه راځی نودوئ بیاقسم قسم حیلے بهانے تأویلات او تـوجیهـات کـوی ، چـی دلتـه خـولـه مـلـوك نـه فلان مراددئـے اوپه اسلام کی خوملوکیت نشته، لیکن حـقیـقت دادئـے چی بادشاهت ملوکیت سلطنت چی هرنوم وی ، اصل خبرداده چی ددوئ اختیارڅومره دئـے ؟ او تـر کمواصولولاندی به دوئ حکومت کوی ؟ نو چی دااصل شئ پکی وی بیانه شی خرابیدلئ که باد شا هت ورته وایی که سلطنت ورته وایی اوکه خلافت ورته وایی چی هرنوم ورکوے ـ

(۲)اشرافیه نظام

دویم سیاسی نظام چی په دنیاکی رائج ؤ هغه اشرافیه نظام دئـے چی په انګریزی کی ورته [aristocracy] وایی !

دایـو اختـراعـی لـفـظ دئـے چی ده اشرافونه راوتلئ دئـے ، اواشراف شریفه خلګوته وایی یعنی دا سـی خـلګ چـی پـه مـعـاشـره کـی دعـظمت یو مقام لری خودوئ اشراف ومالداره اوده دولت والاته وایی

،یعنی چی په ملك کی کومه کورنۍ دجائیداخاونده وی بس حکمرانی به هم هغه کورنۍ کوی ـ

ددے نظام شاته نظریه داده چی حکومت کول داده هرکس وناکس کارندئے اونه داحق و هر چا ته رسیژ ی ، بلکه ده حکومت کو لو حق به څه داسی منتخبو خلگوته حاصل وی چی هغه دیو خاص حسب او نسب مالکان وی ،یادڅه مخصوصواوصافو حاملین وی چی په وعرف کی ورته طبقه اشرافیه وایی، نو داحق دهغوئ دئے دهرچاکارندئے اونه هرڅوك دحاکم جوړیدلو مطالبه کولۍ شی ـ

اوس هغه طبقه کومه یوه ده چی هغے ته ده حکومت کولوحق حاصل دئے ؟ددے تعین هم مختلفو خلگوپه مختلفو طریقوسره کړیدئے .. بعضے وایی چی کوم خلگ په حسبی اونسبی اعتبا رسره د ممتازیت حیثیت لری هغه طبقه اشراف ده ، اوبعضے وایی چی څوك په مذهبی ډول سره ممتا زوی هغه اشراف دی ، اوبعضے وایی چی کوم خلگ دیوخاصوصلاحیتونواواوصافو حامل وی لکه زیاته بهادروالۍ، عقلمندوالۍ، نوداشراف دی اودوئ لره حکومت کول پکاردی ،لهٰذاددے مختلف تعبر ا ت شوی دی ، خودټولوتعبیراتو مجموعی تصوردادئے چی حکومت ده هرتارنگی اومارنگی کا رند ئے ، بلکه یوه مخصوصه طبقه ده چی حکمرانی به هغه کوی اونوروټولو خلگولره به ددوئ اطا عت کول پکاروی ـ

ددے تصوراونظریے آغازپه حقیقت کی له ارسطواوافلاطون نه شوئیدئے ، دااصطلاح هم هغوئ جو ړه کړیده، هغوئ دانظریه پیش کړے وه چی دحکمرانۍ حق بداسی خلگولره وی چی هغه دعلمی صلاحیت په اعتبارسه ترټولونه زیات ممتازوی ،دادوئ چی کوم علمی تصورپیش کړئے ؤدد ے عملی وجود چیرته په دنیاکی رانه غلوبلکه داصرف ددوئ یودماغی تخیل ؤ صرف ددوئ آرزواو تمنا وه لیکن عملاًداسی نظام ندئے رائج شوئے چی هغه دی خالصتاً پرعلمی بنیادباندی دحکومت انتخاب اوکړی ـ

دلته ددے خبری وضاحت هم مناسب دی چی داشرافیه مطلب خوداؤ چی حکمرانی به دیو خاصوصفاتو حامل طبقه کوی ، لیکن دااصطلاح په هغ صورت کی هم استعمالیژی چی داطبقه خو براه را سته حکمرانی نه کوی لیکن پرحکومت باندی څه داسی أثراورسوخ لری چی معناً حکمران ګنړل کیژ ی، یعنی دشاله خواحکمرانان چلوی ، اوتردے مفهوم لاندی نن صباد " بیروکریسی " لفظ ډیر استعمالیژی ، ددے مطلب دادئے ظاهراً په نامه حکمران چی هرڅوك وی خولیکن سرکاری ملا ز مینو دومره اثراورسوخ حاصل کړی وی چی په اهمو معاملاتو اوپالیسیو کی فیصلے ده دوئ ده مر ضی مطابق کیژی ،هغه چی څه رنگه هم غواړی نو حکمرانان پخپله قبضه کی راولی اوبیاپه هغوئ با

نـدی دخپـلی مرضئ فیصلـے کوی ، نود " بیرو " معنیٰ ده سرکاری ملازمین اود " کریسی " معنیٰ ده حا کـمیـت د " بیـروکـریسی " معنیٰ شوه چی سرکاری ملازمینوته اصل حاکمیت حاصل شو ئد ئـے ، اوددے تـرجـمـه " افسـرشاهی یانوکرشاهی " هم کیژی ، نواشرافی نظام دیته ویل کیدوچی دحکمرانئ حق وه یـوه خـاصـه طبقه ته ورکول ، بیاددے اشرافی نظام ثوقسمونه دی یوخوعلمی اشرا فیه ؤ چی دا تصورارسطواوافلاطون پیش کرئؤخوداعلمی تصورکله هم په وجودکی ندئـے راغلئـے لکه چی تیر شو اوس ددے نورقسمونه دی هغه بیانه ؤ ـ

(١) نسلی اشرافیه :

دویـم قسـم ته نسبی یانسلی اشرافیه[racial aristocracy] وایـی ، ددے مطلب دادئـے چی دیـوه نسـل یـاقبیـلـے تـعین دی او شی چی محض دفلانی نسل یافلانئ قبیلـے والاخلگ به حکمرانی کـوی ، بیـا چـی هرحکمران راځی نو هغه به ددے متعین نسل نه وی ، اوپردے باندی دډیروقوموپه کثر ت سره عـمـل راروان دئـے ،په هندوتهذیبونوکی ددے خاص تصورؤ، چی حکو مت کول بده برهمن ، یارا جپو ت اویاکشتری نسلووالاحق ګنړل کیدلو ـ

(٢) مذهبی اشرافیه یاتهیوکریسی:

دریـم قسـم مـذهبی اشرافیه دئـے چی ورته " تهیوکریسی "[theocracy] هـم وایی ، دا هم په اصل کی یونانی لفظ دئـے، په یونانی زبان کی " تهیو" خدائـے ته وایی او "کریسی " حاکمیت ته وا یی نـود " تهیوکریسی " معنیٰ شوه دخدائـے حاکمیت ، (اوتهیولوجی هم لدے نه جوړشوے د " تهیو" معنی خدائـے او" لوجی " معنیٰ علم نودتهیولوجی معنیٰ شوه " علم الٰهیات) ـ

ددے نـظـام خپـل اصلی تصورډیرمبارك تصوردئـے اوهغه داچی درحقیقت په دے کائنات کی اصـل حا کمیت دالله ﷻ دئـے ،اودلتـه پـرزمـکه چی هرحکومت وی نو هغه لره د الله ﷻ داحـکاماتو پا بـنـدی کـو ل پـکاردی ، لیکن سوال داپیداشو چی اوس بد الله ﷻ ده احـکـامـاتوتعین څوك کوی؟ نوپه عیسـائـی د نیـاکـی ددے عـمـلی جواب داؤ چی دچرچ سربراه چی پوپ ورته وایی، وه هغه تبه دا اختیار حـاصل وی چی د الله ﷻ داحـکـامـاتـوتعین به کوی اوبیابـے بادشاه ته خائی (وایی)، نو چی پوپ کومه خبرد الله ﷻ حـکـم اوګـنـړی بـس دحـکومت سربراه به هم پرهغه حکم عمل کوی ، نوددے نتیجه دارا اووه تـلـه چـی عملاً دمذهبی تهیوکریسی مطلب دمذهبی پیشوایانو حاکمیت شو، نو نن صبادمذهبی تهیوکریسی ترجمه د " خدائـے دحاکمیت " پرځائـے د " مذهبی پیشوایانوپه حا کمیت " سره کوی ـ

لـکه چی موژمخکی اشاره ورته اوکړله چی دروم په حکومتونوکی دایوه لاینحل مسئله پا تـے

شوے ده چی حکمران خوبه بادشاه ولو،لیکن هغه بده پوپ ده مذهبی احکاماتوپابندولو، ددے په نتیجه کی به یوطرفته دبادشاه اوپوپ په مینځ کی ډیراختلا فات پیداکیدو، اوبل طرفته وپوپ ته بغیردمذهب نه داحکاماتودمتعین والی مکمل اختیارحاصل ؤ اوپردے باندی هیچاهم نشو نیو لئ ، نو پدے وجه به پوپ خپل اختیارپه ډیروځایونوکی ناجائزه استعمالولو، اوخاص کرچی به کله دا سی خلک پوپان جوړشو چی دخپلوذاتی مفاداتوغلامان به ؤ نو هغوئ به ډیری بے رحمانه پالیسیانی جوړولے چی دهغے په وجه به ټول قوم دظلم جبراوتشددپه فضاکی صدیانی اوپیړئے تیره ولے ، دد ے صورت حال په نتیجه کی دعواموپه مینځ اوزړونوکی دمذهب خلاف بغاوت پیداشو، اوآخرکار بیادوئ مذهب دحکومت نه جداکړواوسیکولرنظام یه قائم کړو،(چی ددے مفصل بحث به موژا ن شا ء اللّٰه په آئنده حصوکی اوکړو)نودتیوکریسی لفظ دهغه وخت نه یوه کنځله جوړشوله ،زکه چی دد ے لفظ په اوریدلوسره ددوئ ذهنوته هغه ټولی خرابیانی راشی چی کومی دپوپ ادارے پیدا کړ ے وے ۔

ددے لفظ دبدنامئ په وجه سره اوس په مسلمان معاشره کی هم داآوازه خوره ده چی اسلام خودتیوکریسی حامی ندئے اوتهیوکریسی خوده اسلام خلاف ده ، لیکن پدے ویناسره خلک د تیو کر یسی داصل تصوراوپه عیسائی دنیاکی ددے دعملی اطلاق په مینځ کی فرق نه کوی ، نونن صباهم چی کله داسلامی حکومت دقیام خبره کیژی یادعلماؤله طرف نه دامطالبه اوشی چی اسلامی حکو مت دی نافذشی ،نودتجددپسندحلقودطرف نه ډیرپه تیزی سره دااعتراض اوشی چی داخلک خوپه ملك کی " تهیوکریسی " نافذه ول غواړی ، اونورددے په مطلب باندی څوك ځان نه پوهه وی که اعتراض کولووالاوی اوکه جواب ورکولووالاوی ، ددے نتیجه داده چی ددے دمحاسنوامعائبونه د خبریدلونه بغیرصرف ده یوے نعرے په ډول سره داوایی چی په اسلام کی خو تهیو کریسی نشته ، حا لانکه د " تهیوکریسی " اصل معنی موژبیان کړله چی د " خدائے حاکمیت " ته وایی ، اودا هغه حقیقت دئے کوم چی اللّٰه ﷻ دقرآن کریم په ﴿أن الحکم ألااللّٰه﴾ مختصرجمله کی فرا ما یلئے دئے ۔

اوس تاسوپخپله اندازه ولګوئ چی څوك وایی چی په اسلام کی تهیوکریسی نشته نودد ے دا مطلب شو چی په اسلام کی دخدائے حاکمیت نشته (أعاذناالله من ذالك)نوکوم خلک چی بے سوچه اوبے سمجه داخبرکوی نو هغوئ څومره خطرناکه خبرکوی ، نوحقیقت دادئے چی " تهیو کر یسی " دخپلی لغوی معنیٰ اودخپل اصلی تصورپه لحاظ سره بلکل صحی ده چی پدے کائنات کی دحا کمیت حق درحقیقت اللّٰه ﷻ لره حاصل دئے، اوانسان چی هرحکومت نافذکړی نو هغه بده اللّٰه ﷻ داحکا ماتوپه رنړاکی چلوی ، لیکن دا"تهیوکریسی"چی کله عملاً په وجودکی راغله نوده مختلفو

مذا هبودطرف نه پدیکی خربیا نی پیداشوے چی دهغے په نتیجه کی دالفظ بدنامه شو۔

(۳) یهودی اوهندو تهیوکریسی:

ترټولونه مخکی یهودی تهیوکریسی په وجودکی راغلے ده ، ددے اصل داؤ چی ترحضرت عیسیٰ ؑ نه وړاندی ټول بنی اسرائیل دحضرت موسیٰ ؑ دشریعت دهغو احکاماتوپابندؤ چی کوم په تورات کی ؤ ، اودتورات حکمونوتیه په یهودی اصطلاح کی " قانون " ویلو، لیکن په تورات کی چی کوم احکام ؤ هغه خودعباداتواوطهاراتومتعلق ډیرؤ، لیکن ده تمدنئ زندگی متعلق احکامات ډیرکم ؤ،په هم دے وجه دیهودی مذهب پربنیادچی کوم ریاستونه قائم شوپه هغوکی ددوئ ویناداوه چی موژ به ریاست دتورات دقانون مطابق چلؤ، مگرده تورات په قانون کی خوټولی خبری نه وے ، نوزکه چی به کله داسی صورت پیخ شوچی په تورات کی به صریح حکم نه ؤ نوپه داسی صورت کی به بیاددوئ و مذهبی پیشواته داحق حاصل ؤ چی هغه بده اللّٰه ﷻ مرضی اورضامعلومه کړه نودهغے مطابق بیه بیاقانون سازی کوله۔

اوداللّٰه ﷻ درضامعلومه ولوطریقه داوه چی یوه خیمه (کژدئے)به وه چی هغے تبے " خیمه عبادت " ویله ، پدے خیمه کی به یوتابوت پروت ؤ چی ده سروزروغلاف بے پرے اچو لئے ؤ، نودامذهبی پیشوابه لاړواوله هغه تابوت سربه کیناستواواکثره به په داسی حالت کی تلو چی په آسمان کی به وریځ وه اوبرښنابه وه، نو هلته به کیناستو مراقبه بے شروع کړه اودعاگانی بے کو لے ، چی کله به په آسمان کی برښنااورنړاشوه نوده به او ویل چی ماته " یهوواه " داسی حکم اوکړو (یهودیان خدائے تعالیٰ ته یهوواه وایی)، ددوئ ویناداوه چی " یهووا " له مذهبی پیشواسره براه را ست همکلامی کوی اوهغه ته دنوی صورت حال په باره کی قانون ورکوی ، نوچی کله به هم یونوئے صو رت حال پیخ شو بس داپیشوابه هغے خیمے ته لاړو، چی به کله په آسمان کی رنړاپیداشوه نوده به ویل چی ماته ده " یهووا " دطرف نه حکم اوشو، اوچی به برښنانه وه نو هم بے هلته خپله مراقبه کوله ، او دادعویٰ بے کوله چی ماته الهام اوشویاپرماباندی فلا نئ خبره منکشفه شوه چی ددے صورت حال داحکم دئے ، نوداوه یهودی تهیوکریسی !

داخوښکاره خبرده چی یومذهبی پیشواته داللّٰه ﷻ ده طرف نه الهام کیدل یایوخبره پرے منکشف کیدل، داټولی توهُماتی خبری دی اوخپل اختراعی تخیلات دی، دخپلی سرداری ملکی اومرتبے دبقادپاره یه داخبری جوړی کړے وے چی یوحقیقت یه هم نه لرلو، نوچی کوم قانون به د جاری کولو هغه به په حقیقت کی ده اللّٰه ﷻ قانون نه ؤبلکه خپل خواهشات اوخپله رایه بے ده اللّٰه ﷻ

وه طرفته منسوبه وله اوپرخلګوبے نافذه وله ـ

داسی قسم " تهیوکریسی " په هندوانوکی وه اوهلته وه " برهمن پروهت " ته دااختیارؤ چی هغه براه راست دالله ﷻ سره رابطه جوړه کړی اویوقانون نافذکړی ، ددے دواړوقسم مذهبی پیشوایانوکه یهو دی ؤ اوکه هندوؤفیصلے هیچاهم نه شوے چیلنج کولئ چی تاسوکوم حکم دالله ﷻ وه طرف ته منسو به کړئدئے داحکم خوپه حقیقت کی دالله ﷻ نه دئے ، ددے پشوایانومخی ته هیڅوك هم نشواودریدلئ ، دادیهودیانو هندوانواوپه بعضو ځایوکی دبت پرستودالله ﷻ سره پر رابطے سره دقا نون دتعین په رنګه طریقه اوسلسله حضرت تقی صاحب وایی چی اوس هم په تبت اوچاپان کی په " لا مه " نومی فرقوکی وجودلری ـ

بهرکیف ! چی به کله یومذهبی بادشاه پخپل اختراعی الهام سره یوه خبره دالله ﷻ حکم ګنړ لونو باد شاه به دهغه حکم دمنلوپا بندوو، رفته رفته بادشاهانوداسوچ اوکړوچی داخوډیرلوئ مصیبت دئے چی مذهبی پیشوایان دځانه جوړکړل شوے خبره دالله ﷻ وطرفته منسوبه کړی او بیایه پرموژ مسلطه کړی ، نوتاسوراشئ چی داکارموژپخپل اختیارکی واخلو چی بادشاه اوپوپ مراقبه کولئے شی اوده خدائے مرضی معلومه ولئ شی نوداخوموژهم کولئ شو، نوپه قلاره قلاره یه څه پیشوایان او پو پان خپل درباریان جوړکړل اوداختیاریه خپل طرف ته منتقل کړو، یعنی دادعوایه اوکړه چی یومذهبی پیشواته داالهام شوئدئے چی دااختیاراوس بادشاه ته حواله شو۔

لهذادااختیاریه با د شاه ته ورکړواودد ے په نتیجه کی دافیصله اوشوه چی اوس بادشاه څه او وایی نو هغه به خدائی قانون وی اودافلسفه یه هم ورسره زیاته کړه چی بادشاه درحقیقت په جنت کی جوړیژی یعنی دهغه تقررپه جنت کی کیژی اودا یو جنتی مخلوق دئ، اوس چی هغه څه هم قانون یاحکم جاری کړی نو هغه حکم به پرټولوخلګوباندی وا جب الاطاعت وی .. اوکه بادشاه څه ظلم یاجبرکوی نودابه هم دالله ﷻ ده منشا مطابق وی نوزکه ده ټولوخاریانودافریضه جوړیژ ی چی هغه ظلم اوجبربرداشت کړی اودهغه ظلم ده ختمولوکوشش هم او نه کړی ، نوپدے طریقه سره " تهیوکریسی " ده مذ هبی پیشوایانودلاسه اووه ته اوبادشاهت ته منتقله شوه ـ

(۴) عیسائی تهیوکریسی:

دیهویت ، هندومت، اوبت مذهب نه وروسته بیاعیسائیت راغلو، دعیسائیت متعلق اول دا ایز ده کول ضروری ګنړم چی ده حضرت عیسیٰ ؑ بعثت صرف تربنی اسرائلوپوری شوئے ؤ،اودده اصل مقصددشرك اوده نوروبدکاریانو ختمول ؤ،پدے وجه سره دده شریعت دیو څومخصوصواحکاماتونه

سوانوردتورات دشریعت مطابق ؤ، اوتقی صاحب فرمائی چی دیوڅواحکاماتواستثنا هم څه دخپل اسلا می تصورپه لحاظ سره کوم، کنے دبائبل دتصورمطابق حضرت عیسیٰؑ صرف دتورات دنا فذه ولود پاره راغلئے ؤ، اوپه تورات کی دڅه تبدیلی پیداکولودپاره نه ؤراغلئے ، دبائبل تصورهم دا د ئے چی حضرت عیسیٰؑ پخپل نوی شریعت سره ندئے راغلئے ، اوپه بائبل کی دحضرت عیسیٰ بے شمار ه اقوال پدے باره کی موجوددی چی څه ده تورات ده منسوخه ولودپاره نه یم راغلئے بلکه دتورا ت د نا فذه ولودپاره راغلئے یم۔

چی کوم اناجیل اربعه نن صباعیسایان منی په هغوکی دده دااقوال مو جوددی ، دعیسائیت په اصل مذهب کی دحضرت عیسیٰؑ شریعت دحضرت موسیٰؑ دشریعت نه مختلف نه ؤ ، لیکن پولوس ساؤل یاسینټ پال (ددے ذکرمخکی شوئدئے) لکه څنګه چی عیسا ئیت خراب کړ ئے ؤ اومحرف کړئے یه ؤنوپه هغوخرابیانوکی یوه داهم ده چی دویلی دی چی دحضرت عیسیٰؑ په راتلوسره دتورات ټول حکمونه منسوخ شو، دادحضرت عیسیٰؑ په زمانه کی ؤاو یهودی ؤ، دحضرت عیسیٰؑ د عروج اسمانی نه وروسته چی کله دهغه حواریانوتبلیغ شروع کړ ونو داکس وه حواریانوته په تکلیف رسولوکی اوپرهغوئ باندی په ظلم اوجبرکولوکی پیش پیش ؤ۔

دد ے ظلم په دوران کی یه یوه ورځ اچانك دادعویٰ اوکړه چی زه یوه ورځ له " دمشق " نه رار وان ؤم نوپه لاره کی دبره نه دنورپه رنګه رنړاراباندی اوشوه اودهغه نورنه داآوازراغلو چی : " اے سا ؤله ! ته ماولی تنګه وے څله می چیرے ؟ نوده به ویل چی داآو ازدحضرت مسیحؑ ؤ اومطلب یه دا ؤ چی ته زماحواریان څله نه پریګدے ؟ اوویل بے چی ددے واقعے نه بعدماپرخپله تیره زندګی باند ی توبه اوو یستله ، یهودی مذهب می پریخودواوپرعیسیٰؑ می ایمان راوړواوس عیسائی شوم ، خو لیکن د عیسائی کیدونه پس یه عیسائی مذهب دومره خراب کړوچی نوئ مذهب یه ترینه جوړ کړو چی دهغه داناجیلودمذهب سره هیڅ قسم تعلق نه ؤ ، ده تثلیث اودکفارے په شانتے عقیدے هم دے کس ایجادکړے دی چی په اناجیلوکی ددے څیزونو ذکرهم نشته ،نن هم په اناجیلوکی دتثلیث لفظ او عقیده نشته ، په یوه انجیل کی هم دافقره نشته چی خدایان درے دی، یاخدائے ددرو اقا نینونه عبارت دئے (۱) پلار (۲) څوئ (۳) اوروح القدس ..داخبره په ټولواناجیلوکی چیرته نشته ، حضرت تقی صا حب وا یی چی پدے تحریف شده اناجیلوکی هم ده تثلیث اودکفارے عقیده نشته ، چی پرکو موخبرو باندی دموجوده عیسائی مذهب بنیاددئے پدیکی یوه عقیده هم په انا جیلو کی نشته داټولی دپولوس ده خیټی خبری دی۔

پولوس چی په عیسائی مذهب کی کوم ترمیمات کړی ؤ په هغوئ کی یولوئ ترمیم دادئے چی ده دتورات قانون ته لعنتی قانون ویلئدئے (نعوذباللّٰه) اوویل بے چی څه لدے لعنتی قانون نه د خلګودراویستودپاره راغلئے یم ، حضرت تقی صاحب فرمایی چی دایوډیرلوئ داستان دئے چی ده د حوار یانواثراورسوخ څنګه ختم کړل اوخپل اثراورسوخ یه څنګه جوړکړل چی ددے تفصیل دپه (عیسائیت کیاہے) کتاب کی کړئدئے ، بهرحال ده دتورات وحکمونوته منسوخ ویل ، اواوس به صرف په عیسائی مذهب کی هغه خبری قابل عمل وی چی کومی په اناجیل اربعه ؤکی دی .. اوپه اناجیلوکی دتمدنی اوسیاسی زندګی متعلق حکم نشته ، سواددینه چی که یو چاتاته یوه څپیړه (چپلاخه) درکړه نوتبه په بدله کی ورته " جزاك الله " اووایی اوکه یو چالتانه ستاچغه معمولی شانتے راکاګله (راکش یه کړله) نوته به ټوله چغه ورکړی چی وایه خله ـ

مطلب داچی درواداری ، تحمل اوبردباری اخلاقی اسباب خوول لیکن داحکاموا وقوانینو په باره کی څه نه ؤ ، نواوس چی په تورات کی احکام او قوانین نه ؤ اودوئ دموجوده عیسائی مذهب پر بنیادخپل حکومت جوړولونونیه شوجوړولئ زکه چی په انا جیلو کی خوده حکومت چلولو متعلق څه ؤنه، نو چی کله په څلورمه صدئے کی قسطنطین عیسائیت قبول کړواوسرکاری مذهب یه د عیسائی مذهب مطابق چلول اوغوختل نوداسوال را پورته شوچی ته دمذهب پربنیادڅنګه قانون جوړوے په اناجیل اربعه ؤ کی خودقانودومره لژذکرهم نشته څومره چی په تورات کی ؤ ، په تورات کیخوڅه تعزیراتی اودیوانی قوانین ؤ اګرچی په حکومت چلولوکی بیا هم ده مذهبی پیشوایانووه مرا قبوته ضرورت ؤ ، اوپه اناجیلوکی خودومره قوانین هم نشته ، نوپدے و جه باندی دوئ یوه بله فلسفه جوړ کړه هغه داچی دقوانینوجوړولومکمل اختیاربه کلیساته حاصل و ی ـ

دلته داخبره پیژندل هم ضروری ده چی کلیساچی هغے ته " چرچ " وایی ، نوداپه کیتولك عیسائی مذهب کی صرف یوه عبادت ګاه نده بلکه یوه مستقله اداره ده ، په اسلام کی خوجمات (مسجد) صرف یو ه عبادت ګاه ده ! لیکن په عیسائی مذهب کی کلیساډیره پیچیده اداره ده ، اوهغه د کلیساپه باره کی یه دافلسفه اختیارکړے ده چی دادحضرت عیسیٰؑ ترټولونه مقدس حو اری " پُطرس " نائب ده ، دحضرت عیسیٰؑ ټول دوؤلس [۱۲]حواریان ؤدعیسائی مذهب دروایت مطابق تر ټولونه افضل اوبلند پایه حواری دا" پطرس " ؤ چی په انګریزی کی ورته[peter] وایی ـ

دوئ وایی چی دے کس ته دحضرت عیسیٰؑ علوم منتقل شویدی ، اودعیسائی مذهب داد عویٰ ده چی کلیساد یوے ادارے په حیثیت سره د " پطرس " نائبه ده ، یعنی داسی اوګنړئ چی په

اسلام کی دحضرت ابو بکرصدیقؓ کوم مقام دئے نوپه عیسائیت کی جناب پطرس هم دغه رنګه دئے ، بلکه دهغه مقام ترزیا ت لیاهم دئے ز که چی دوئ خوټول حواریان پیغمبران هم ګنړی ، اوددوئ داو یناده چی پطرس دخپل ځان نه وروسته وه مذهبی پیشوایانوته ده کارکولووصیت کړئے ؤ، او داکلیساد هغوئ مذهبی پیشوایانوپه ذریعه سره قائمه شوه نوزکه دادپطرس نائبه ګنړل کیږی، ودے ادارے ته د احکاموا و قوا نینوده وضع کولو حق هم حاصل دئے ، دکلیساچی کوم سربراه وی دهغه نوم پوپ یا پاپادئے اوتر د ے پوپ نه لاندی بیاده مذ هبی پیشوایانوداسی لګاتاراومنضبط نظام دئے چی دمذهبی پیشوائیت مختلفی درجے دی اودهر ی درجے خپل منصبی فرائض اواختیارات متعین دی ـ

ترټولونه چی په لاندی درجه کی دئے هغه ته " ډیکن "[deacon] وایی ، بیا " آرچ ډیکن " [arch deacon] دئے ، بیا " پشت " [bishop] بیا " آرچ بشپ "[arch bishop] بیا " کارډینل " [cardinal] وی، اوبیااویا[۷۰] کارډینله سره ملاؤشی دپوپ انتخاب اوکړی.. او"پادری" یوداسی لفظ دئے لکه عبادت کولووالا، یاعلم ورکولووالایعنی مدرس ، ددے هم هغه مختلف درجات دی چی د هغوئ څه نومونه موژذکرکړل، اوداهم کیدئے شی چی پادری وی، لیکن په مذکوره بالادرجوکی به یوه درجه هم دته نه وی حاصله ، نودکلیساپه اداروکی چی درجه پردرجه کوم منصبونه دی دهغوئ نظام ته په عربی کی " نظام الکهنوت "اوپه انګریزی کی ورته " هائرارکی "[hierarchy] وایی ، او پر مختلفو منصبوباندی دناستوافرادومجموعے ته " کلرجی "[clergy] ویل کیږی ـ

دکلیساپدے نظا م کی داخلیدل داصرف پرعلمی یاعملی اوقابلیت باندی ندی موقوف بلکه پدیکی نسلی اووطنی تصو رات هم شامل دی، اوانتخاب هم پکی شته یعنی یوکونسل وی چی هغه خلګ پرمختلفومنصبوبا ندی دکینولود پاره انتخاب کوی ، اوپه هغه انتخاب کی بیا هغه ټولی خرابیانی شته کومی چی په سیا سی انتخاباتوکی وی، اوډیر کله بیاپکی نسلی پابندیانی هم راځی ، مثلاًیوه آبادی ده چی پکی دتورومخونووالاهم شته اودسپینو مخونووالاهم شته اودی ټول عیسائیان ، اوس داکیدئیشی چی " بشپ " به هیمشه ده سپینونه وی دتورانونبه نه وی، اګرکه دعلم اوقابلیت په لحاظ سره تورپکی زیا ت وی، بیاداهم تسلیم شده خبرده چی پوپ خودکلیسانمائنده وی اوکلیساد پطرس خلیفه ګنړل کیدو نوپدے وجه دوئ پوپ هم معصوم عن الخطاء ګنړی ـ

د " رومن کیتولك " مذهب داعقیده ده چی پوپ معصوم اوپه مذهبی معاملاتوکی ده غلطیا نونه پاك دئے ، ددے دپاره انګریزی اصطلاح[Infallible] استعمالیږی یعنی هغه کس چی کله هم نه خوه ییږی (نه ښکیږی)..اوده هغه معصو میت ده امورتشریعیه پوری محدوده دئے ، یعنی چی کوم

وخت هغه یوشرعی حکم جاری کړی، یا یو قانون نافذکړی نوپه هغه وخت کی به دئے معصوم وی اوخطانشی کولئے ، دلته دا هم یادساتئ چی پو پ صرف شارح قانون نه وی بلکه هغه شارع یعنی دقا نون جوړؤنکئے هم وی ،اودقانون وضع کو لو اختیار هم وی ورته ،پدے معامله کی هغه معصومه ګنړل کیږی، البته دوئ وایی چی په نورو معاملا توکی خطاترینه کیدئے شی، چی ترڅوپوری څوك پو پ نه وی جوړ شوئے نوترهغوپوری هغه معصو م نشی کیدئے لیکن چی کله هم پوپ جوړشوبس د ستی معصوم هم شو ـ

اوس یوطرفته په اناجیلوکی دحکومت اوسیاست په معاملاتوکی واضح قوانین نه ؤبل طر فته پوپان ده دومره زبردست اقتدا رمالکان ؤ چی معصوم عن الخطایه ګنړل ، اوس ټول دارمدارپرپو پ باندی شو چی څه اوغواړی هغه حکم دی جاری کړی اوچی څه هم اوغواړی هغه قانون دی نافذ کړی څوك یه مخی ته نشی اودریدلئ ـ

نویو طرفته دومره غیرمحدوده اختیاراوبل طرفته دپوپ دتقرراوانتخاب په سلسله کی دنسلی او قومی تعصباتوپه وجه سره داخبره ضروری نه شوه پاتے چی پوپ دی هغه کس جوړکی چی کوم کس پرنوروباندی په علمی اورعملی اعتبارسره فوقیت لری ، نتیجه داشوه چی ددے زبردسته اقتدار والاپرمنصب باندی ډیرناا هله اونالائقه خلګ کیناستو، په یوه وخت کی ډیره لویه جګړه اواختلاف پیدا شو چی کوم یوبه پوپ جوړه ؤ ، پردے یه قرعه اندازی اوکړه چی آخری هغه قرعه د یو" بحری قزاق " پرنامه باندی اوختله هغه یوبحری ډاکوؤ،، چی دهغه نوم " جون " [john] ؤ، او هغه ته درویشتم [۲۳] جون ویل کیږی ، اوپوپ خوپه تشریعی معاملاتوکی معصوم عن الخطاء وی پدے وجه به داټول اختیارات ودته هم حاصل وی ـ

دغه رنګه پدے پاپا ئیت کی ټول خونه ؤلیکن بعضوکسانوپه بد کر دا رئ کی هیڅ قسم کسر ندئے پرے یخئ ، تردے ځایه چی پوپ یوه ورځ داحکم جاری کړئے چی څوك هم جنت ته تلل غواړی نو هغه دی په موژباندی مغفرت نامه اولیکی ، اوددے مغفرت نامے ډیردرو ندقیمت ؤ هغه به کلیسا اخستلو، په زرهاؤ پیسوبه دادمغفرت پروانے خر ځید لے ، تردے ځایه چی کو م خلګ به مړه شوی ؤ اوهډوکی بے لیاوراسته شوی ؤ نودهغوئ وارثانوته هم داخیال پیداشو چی دامړی خو هم جنت ته رسول پکاردی ، پوپ تبه لاړو چی جی زموژخوفلانئ کس مړشوئدئے تاسودهغه دمغفرت نامے څه انتظام اوکړئے ، په جواب کی به کلیساترینه خے ډ یر ی پیسے واخستلے او مغفرت نامه بے ورته جاری کړله ـ

په بل طرف یه بیاپه بادشاهانوکی زړونه چوولی (خوړن کړی) ؤزکه چی بادشاه خوبه د " معصوم " ده تشریحی احکاماتوپابندؤ ، یوکاربے هم ددوئ دمنشاء نه بغیرنه شوکولئے ، نوپدے وجه به کله با دشاه عاجزه شواوتنگ به شونوبے اوویل چی نے منم بس پوپ پرهغه دبدعتیت مذهبی فتویٰ جاری کړه اوهغه بادشاه بے معزوله کړو۔

دریم به دے ظالمانودخپلومخالفینوده دباوه ولودپاره یوه ډیره سنگدله محکمه تیاره کړے وه چی هغے ته بے دتحقیق او تفتیش محکمه[inguisition] ویله ، دے محکمے ته به دهرسړی دحا لا تودغیرمعمولی تفتیش ډیرلوئ اختیارات حاصل ؤ ، چی ددے فلانی کس څه عقائددی ؟ په تنها ئی کی څه کوی ؟ دکوموکتابومطالعه کوی ؟دکوموخلگوسریه تعلقات دی ؟ اوچی نو رو ملکونوته لاړشی نو هلته دکوموکوموخلگوسره ملاویژی ؟ اودایوداسی جال ؤ چی به څوك هم پکی اونختوبس بیا یه دراوتو څه امکانه ؤ ، په هره کوڅه کی به ده خفیه جاسوسی دپاره ددوئ خپل نما ئنده گان مو جودؤ ، هغوئ به دوئ لره شکایتونه راوړل ، چی به څوك هم ددے محکمے په ظلم او ستم کی را گیرشونوده هغه نبے چمړه اوویستله ، نوکان بے ترینه اوویستل، جوندی بیه اوسیزل ،دظلم ستم او بر بریت یوه داسی شعبه هم نه وه چی دوئ ده نه وه جاری کړے۔

تاسوته معلومه ده چی پراندلس باندی اووه اته سوه کاله [۸۰۰] دمسلمانانو حکومت ؤ ، بیاد غرناطے آخری تاجدار " ابوعبدا للّٰه " عیسائی فوج ته بزدله شوشکست خورده شو چی دهغے په نتیجه کی داندلس نه دمسلمانانو حکومت ختم شو، اوپه هغه وخت کی د " ابوعبداللّٰه " اوعیسائی بادشاه " فرډینینډ " په مینځ کی پریوه معاهده باندی دسخط اوشو ، په هغه معاهده کی داخبره تسلیم شوه چی مسلمانان بده خپل عبادت دپاره آزادوی ، اودمسلمانانودعبادت مرکزونه به برقراره پا تے وی، له مسلمانانوسربه په عبادتونوکی اوپه تعلیم حاصلولوکی هیڅ قسم تعرض نه کیژی، لیکن چی کله د " فرډینینډ " فوجونه غرناطه ته راداخل شو، نو هغه معاهده یه په عملی ډول سره دومره بے حقیقته کړ له چی دهغے پریوه دفعه باندی هم عمل اونه شو۔

ټول مسجدونه یه په کلیساگانوباندی بدل کړل ، ده ټولوکتب خانوکتابونه یه دغرناطے اوقر طبے پربیابانوباندی په داسی شکل کی اوسوه زول چی په میاشتومیاشتویه اورونه نه مړکیدل، د هغے نه پس یه بیاده مسلمانانوپه خلاف ده[Inguisition] کاروایانی شروع کړلے ، چی کوم مسلمان دئے چی دعیسائی مذهب په باره کی یولفظ رااوباسی ؟ اوددے په نتیجه کی یه بے حده تکلیفونه مسلما نا نوته ورکړل ، اوآخری مسلمانان په هجرت کولوباندی مجبوره شول " الجزائر اومراکش " ته لا

رواوهلته یه پناواخستله ـ

دهم دے محکمے یودادستورهم ؤ چی که چیرته پوپ یوحکم جاری کړو، اودهغه حکم سره چااختلاف اوکړوچی مثلاًداحکم دبائبل ده تقاضوخلاف دئے ، یادعیسائی مذهب دروح مطابق ندئے ، نوداسی کس بده کلیساپه حکم سره بدعتی [heretic] ګنړل کیدو، اوددوئ په نزددبدعتی مطلب داؤ چی داکس اوس په معاشره کی ده جوندی پاتے کیدولائق ندئے داده سزائے موت مستحق دئے ، تر دے ځایه تاسوبه ده دے خبری په اوریدوسره ډیرحیرانه شئ چی تر څوارلسمی اوپنځلسمی عیسوی صدئے پوری دبائبل اردوترجمه چانه شوئے کولئے دالوئ جرم ؤ،چی به چاهم داکوشش کولونوهغه بے لدے نه منع کولوبلکه مجرم بے ګنړلو، نوداصل بائبل ترخپلی حلقے پوری محدو ده ؤ، چاخارجی کس دانشوویلئے چی دافلانئ حکم چی تاسوجاری کړئدئے دادبائبل دحکم خلا ف دئے ، په هم دے دورکی یوکس پیداشوچی ده هغه نوم " جان هس "[john huss] ؤدے کس په پټه پټه ده بائبل ترجمه اوکړه چی دے په نتیجه کی یه بیاجوندئے اوسوزولو، نودادپاپائیت اوعیسائیت تیوکریسی وه چی ده هغے طوراوطریقے موژستاسوپه وړاندی عرض کړلے ددینه تاسواندازه کولئ شی چی نوم خویه ده " خدائے ده حاکمیت " ؤلیکن په حقیقت کی دیوڅو کسانواوپوپانوآمریت اوحا کمیت ؤچی دخدائے اومذهب پرنوم یه دحرامیتوب بازارګرم کړئے ؤ۔

حضرت تقی صاحب فرامایی داکوم تصویرچی موژستاسوپه مخکی عرض کړوپدیکی اګر چی د " پروټستنټ " فرقے خلګوډیردمبالغے نه کاراخستئ دئے ، اوپدیکی یه قسم قسم تردے نه هم ډیری خامیانی پیش کړے دی ، خوپه حقیقت کی داسی نه ؤچی دانظام سراسرپر خرا بیانواوکو تا هیا نوباندی مبنی ؤ ، پدیکی ښه دورهم راغلئدئے اوداسی خبری هم پکی ولے چی چااعترا ض نه شو پرے کولئے ، خوکه ددے مبالغے اړخ اوښاخ ځانله کوبیا هم داکوم حقائق چی موژذکرکړولکه پوپ معصوم عن الخطاګنړل، دمغفرت دپروانوبه تجارت کیدو، ده پوپ تشریعی حکم بده قانون درجه لر له ، اوهغه بده قانون شارع ګنړل کیدو، دتفتیش په محکموکی به ظلمونه کیدل ، اوبادشاه به ددے بے مهاره ا ختیارنه پریشانه ؤ داداسی خبری دی چی دهیچااختلا ف پکی نشته اوده عیسائی تهیو کر یسی بنیا دهم پردے خبرو ؤ ـ

داسلامی نظام اوعیسائی تهیوکریسی په مینځ کی تمیز

دامذکوره بالاتصورچی کله تاسومخی ته کیګدئے نوددے خبری وضاحت پخپله کیژی چی نن صبا کوم خلګ دتهیوکریسی په نامه سره ده اسلامی حکومت دردکولوکوشش کوی ، نوداسلا می نظا م ددے تهیوکریسی سره هیڅ قسم تعلق نشته چی کومه تهیوکریسی په رومی حکومتونوکی پاتے شوے ده، بلکه داسلامی حکومت دتصوراودعیسائی تهیوکریسی په مینځ کی دبُعد المشرقین حیثیت دئے ، که په غورسره اوکتلئ شی نوده اسلامی حکومت ده قیام اودعیسائی تهیوکریسی په مینځ کی دالاندینی واضح فرقونه موجوددی ۔

(۱) فرق اوّل :=

اول فرق داسلامی حکومت اوعیسائی مذهب په مینځ کی دادئے چی په اناجیل اربعه ؤ کی دسیاست اوحکومت متعلق احکا مات خودنشته سره برابردی ، پدے وجه سره ددے احکاماتودو ضع کو لوتمام اختیارات مذهبی پیشوایانوته حاصل دی ، ددے پرعکس داسلامی احکا ماتو بنیادد قرآن کریم اونبی السیف ﷺپرسنتو مبارکه ؤباندی دئے ، اوپدے دواړوکی په مجموعی ډول سره دصریحه حکمونویولوئ مقدارموجوددئے ، اوچی کوم ځائے کی واضحه نصوص وی نو هلته ده یو سړی و انفر ادی رایه ته هیڅ اعتبارهم نشته ۔

(۲) فرق دوم :=

دویم فرق دادئے چی دعیسائیانوپه نزدکلیسایوه مستقله اداره ده چی دهغے افرادانسانان پخپله منتخب کوی اوچی دااداره بیاکوم قانون جوړکړی نودهغه قانون سره بیاڅوك اختلام نشی کو لئے ، ددے په مقابله کی په اسلام کی داسی قسم اداره نشته ، البته دقرآن اوسنت دتشریح او تعبیر دپاره په منطقی ډول سره داهلیت څه شرائط ضرورشته دی ، اوچی څوك پرهغوشرا ئطو برا بروی نو هغه دقرآن اوسنتوتعبیراوتشریح کولئے شی ، ددے نه علاوه بله څه مستقله اومنضبطه اداره نشته بلکه دامت اجتماعی ضمیردهغوئ دقبلولویاردکولوفیصله کوی ۔

بلکه که چیرته ددوؤ مستندومجتهدینوپه مینځ کی اختلاوی نوشرعی حاکم وقت په دوئ دواړوکی دیوه رایه اختیاره و لئے اونافذه ولئے یه هم شی ، بیا هغه رایه دقانون په ډول سره ټولولره منل لازمیژی اګرچی دچا خپله ذاتی رایه دهغے نه خلاف وی .. تردے ځایه چی تاسوبه هامشهوره واقعه اوریدلے وی چی کو مه په " طبقات ابن سعد " کی منقوله ده چی ابوجعفرمنصور" امام مالکؒ " ته

دادرخواست اوکړوچی څه ستا" مؤطاامام مالك " کتاب اوستاده مذهب احکام په ملك کی دقانون په حیثیت سره نافذه ول غواړم ، نوامام مالكؒ دئے منع کړوچی زه دانه غواړم چی خپل اجتهادات دی په ملك کی نافذه کړم ، زکه چی هرهغه کس ته داجتهادکولوحق حاصل دئے چی څوك په قرآ ن اوسنت کی بصیرت لری ، او ددے اجتهادی حق په نیتجه کی داکیدئے شی چی هغه زمادرائے سره اختلاف اوکړی ، نوزکه زه ټول خلگ تریوه اجتهادتحت نه شم پابنده کولئے ۔

(۳) فرق سوم :=

دریم فرق دادئے چی په عیسائیت کی پوپ په تشریعی معاملاتوکی معصوم عن الخطا گنړل کیدو ، اوددے پرعکس داسلامی عقیدے دلاری نه عصمت صرف ترانبیاء کرامو علیهم الصلوٰة والسلام پوری خاص دئے ، اودنبوت دسلسلے ده ختم کیدونه پس اوس نه څوك دعصمت دعویٰ کولئ شی اونه ترنن تاریخه یوغټ نه غټ عالم څوك ثابته ولئ شی چی دادعوه یه کړے وی ۔

تهیوکریسی اود کفارے عقیده :

دتهیوکریسی په سلسله کی یوه ډیره اهمه خبرذکرکؤده تهیوکریسی چی څومره حامیان او منونکی تیرشوی دی ، په هغوئ کی بعضے خلگ دتهیوکریسی دجوازدپاره دعیسائیانودکفارے والا عقیده بطوردلیل پیشه وی ،اووایی چی ددے عقیدے مطابق خوهرانسان په اصلی گناه کی مبتلاء دئے ، پدے وجه ددے گناه په سزاکی پرده پابندی دحکومت تابعداری من وعن کول ضروری ده ، هم پدے وجه موژلره دعیسائیانودکفارے عقیده رامعلومیدل ډیرضروری دی ۔

عقیده کفاره

دادعیسائیانوترټولونه بنیادی عقیده ده اودعیسائیت نه دلته هغه عیسائیت مراددئے کوم چی " پولوس " وضع کړئے ؤ، کنے دعیسیٰؑ پخپل اصل مذهب کی اوپه اناجیل اربعه ؤکی په درے انجیلونوکی ددے ذکرهډوشته نه ، البته په څلورم انجیل کی یوه مجمله غوندی جمله راغلے ده چی په هغے سره دوئ دکفارے بنیاد ایخئے دئ، نوبهرحال داعقیده په وروسته عیسائی مذهب کی دروح حیثیت لری ددے نه بغیردعیسائیت تصورناممکن گنړی، اوداده هغوعقائدونه ده چی دعیسا ئیت ټولی فرقے تقریباً پرے متفقی دی ، لکه " رومن کیتولك " شو" آرډوکس شو " او " پرټسټنټ " شوخلاصه داچی داکومه عقیده پولوس وضع کړے ده داعقیده هرقسم فرقے منی ۔

اوله مفروضه :

داډیره جوره عقیده ده ، اوپدے کی دوئ یو څو مفروضے یعنی دځانه څه خبری جوړیکړے د ی چی په هغوئ کی دیوے مفرو ضے حاصل دادئے چی په دے کائنات کی ترټولونه اوله ګناه دحضرت آدمؑ نه شوے ده ، یعنی چی کله حضرت آدمؑ اللّٰه ﷻ پیداکړونوبیایه په جنت کی پریخودواود هرکار کو لو دپاره آزادؤ،دنیکئے اوګناه دواړوکولو صلاحیت اللّٰه ﷻورکړئے ؤ، دآزا دقوت ارادی ما لك ؤ اودا قو ت ارادی یه په نیکی کی هم استعمالولئے شواوپه بدی کی یه هم استعمالولئے شو، لیکن صرف په یوه خبره کی پابندؤ چی دغنم ده درختی (ونی) نبه خوراك نه کوے ، اوحضرت آدمؑ هغه پابندی د شیطان په اثرسره ماته کړه اودغنم دانه یه اوخوړله ،آدمؑ چی ددے غنموددانے دخوړ لوکومه ګناه او کړه (نقل کفر کفر نباشد)نوداورکوتے شانتے ګناه ده ټولوګناهونو مجموعه وه ـ

یعنی پدے وړے شانتے ګنا ه کی ددنیاټول ګناهونه راجمع ؤ ، پدے کی کفر،تکبر، حرص ، غلا،اوز ناوغیره دا ټو ل ګنا هونه پدے شان پکی راغلو چی دوئ وایی چی کله ده هغه دانه اوخوړله نودایه ګویاکه داللّٰه ﷻ دحکم نه انکار او کړونوپدے وجه سره کفرشو، پدے بناء بیاتکبرشو چی ده داللّٰه ﷻ ترحکم خپل ځان بالا تراوګنړلو، حر ص پدے وجه شو چی دغنمولالچ یه په زړه کی پیداشو، اوپدے وجه بیاغلاشوه چی کله دئے دخو ړلونه منع شونوداوس دده په ملك اوتصرف کی نشوپاتے نوده دبل چاخیزخپل ملکیت ته راو ستو اواوبه خوړلو، اوروحانی زناپدے طریقه سره شوه چی شیطان خو" حوأ" چی دده بی بی وه هغه یه دوکه کړه اوآدمؑ خود هغے په ویناسره داکاراوکړو نودوئ وایی چی داآدمؑ ده خزی دچپړاسئ په وجه خپل خوا هش پکاروا چولونوروحانی زناهم پدے عمل کی موجوده وه ـ

" سینټ آګستائن "چی ده درے یمی صدئے عیسائی عالم دئے ، هغه وایی چی پرروئے زمین باندی څومره ګناهونه راتلئ شی ددے ټولویونه یوعکس پدے ګناه کی موجوددئے ، پدے و جه دادآدمؑ ګنا ه ده ټولوګناهونومجموعه وه ، هم پدے وجه دعیسائی فلسفے په اصطلاح کی دیته اصلی ګناه[original sin] وایی، داپدے وجه چی یوخوترټولونه اوله ګناه په کائناتو کی هم دااوشوه ، دویم پدے و جه چی دادټولوګنا هونوبنیادؤ ، دریم دا چی تردینه وړاندی په کائنات کی دګناه کو لو هډوتصو رهم نه ؤ ، پدے لحاظ سره دوئ وه دیته اصلی ګناه وایی ـ

دویمه مفروضه :

دویمه مفروضه یه داجوړه کړے وه چی کله اللّٰه ﷻ حضرت آدمؑ دغنم ده دانے دخوړلونه منع کړونو هغه وخت کی یه دا هم ور ته ویلی ؤ چی ددے دخوړلوسزابه مرګ وی ، زکه چی دتورات په کتاب

" پیدائش " کی پدے واقعه کی داالفاظ دی هغه داسی " چی په کومه ورځ تاددے نه خو را ك او کړونو بس مړشوے " ددے تشریح دوئ داکوی چی دغنموده خوړلودممانعت سره سره اللّٰه ﷻ داا علان هم ورته کړئے ؤ چی که چیرته تاغنم اوخوړونوده دے په بدله کی به ستاسزامرګ وی ـ

دریمه مفروضه :

دریمه مفروضه داده چی ددے اصلی ګناه په نتیجه کی دآدمؑ قوت ارادی سلب شو، یعنی چی دته اول کوم آزاداختیارور کول شوئے ؤ هغه ترینه واخستلئے شواومسلوب الاختیارپاتے شو، چی د هغے په نیتجه کی دئے دګناه په کولوکی آزادؤ او دنیکی په کولوکی نه ؤ آزاد، اوس د لته داسوال پیداکیژی چی داده اطاعت اختیاریه ولی ترے نه سلب کړو؟ ددے جواب دوئ داورکوی چی دګناه کولولازمی نتیجه د اللّٰه ﷻ د رحمت نه ده لیری والی ده ، ګناه انسان داللّٰه ﷻ درحمت نه بند ه وی، نو چی کله داللّٰه ﷻ درحمت نه لیری شواوس داانسان بلکل مجبورشانتے شونونتیجه یه داشوه چی دے انسان دخپلوکړوګناهونوپیټئے پر ځان باندی رابارکړ و ـ

څلورمه مفروضه :

څلورمه اوآخری اختراعی خبره داده چی کله له حضرت آدمؑ نه انسانان پیداشونو هغه خودآدمؑ بچیان ؤ دآدمؑ ویښی پدوئ کی ګرد ش کولواوآدمؑ خواصلی ګناه کړے وله ، زکه دااصلی ګناه دده په تو لوبچیا نو(یعنی په ټول انسانیت) کی راروانه وه ، اواوس چی دموردہ خیټی نه کوم بچئے پیداکیژی نو هغه به ګنهګارپیداکیژی زکه چی هغه اصلی ګناه دده په ماده کی داخله ده اودګنهګاردپید اکید لود معنیٰ یوه حصه داهم ده چی کله انسان ده موردخیټی نه پیداکیژی نو هغه مسلوب الاختیارګناه کو لئ شی خونیکی نشی کولئ ، نویوه اصلی ګناه یه دموردخیټی نه دپیدائش په وخت کی پخپله ماده کی راوړه ،دویم یه داختیار دسلب والی په نتیجه کی پخپله ډیرګناهونه کړی دی ، نوداوس داسی صورتحال پیښ شو چی یو طرفته هرانسان ګنهګارپیداکیژی اوپرګناه کولوباندی مجبوره دئے ـ

بل طر ف ته بیادګناه سزامرګ دئے (لکه چی تیرشو) نواوس به ددے مخمصے څه علاج کیژ ی ؟ نوددے او س دوه ۲ طریقے دی اوهغه هم ناممکینی دی یوداچی ټولوخلګولره دی سزائے موت ورکول شی نود دے اصلی ګناه ده وبال نبه خپل ځانونه اوباسی اوچی دغه رنګه ټول انسانان مړه شی بیابه دنیاختم شی ، دویم صورت یه بیاداد ئے چی ددے ګناه په سزاکی دټول خلګ مړه شی بیاده دو باره بیرته را جوندی (ژوندی) شی داصورت هم د فطرت د قانون نه خلاف دئے ، یوشکل ممکن دئے هغه داچی اللّٰه ﷻټول خلګ پخپل رحمت سره معاف کړی خوداصورت بیاده دوئ دعقیدے خلاف د

ئے ده دوئ عقیده داده وایی چی الله ﷻ لکه څنګه چی رحیم دئے هم دغه شان منصف هم دئے، اود انصاف تقا ضاداده چی کومه ګناه شوے وی ده هغے ګناه کولووالاته دی څه نه څه بدله او سزا ضرورو رکول شی ـ

پدے وجه ده دے لانجی نه ده وتودپاره الله ﷻ پخپله داطریقه رااوویستله چی خپل د " کلا م " صفت یه په انسانی شکل کی مجسم کړواود عیسیٰؑ په شکل کی یه دنیاته رااولیګلو، دنیاته درا تلونه پس یه څه وخت په دنیاکی تیرکړوآخرپانړسئ ورکولئ شوه (یعنی پانسئ تیه اوخیژولو) اود اصلی ګناه چی کومه دمرګ سزاوه هغه یه پرخپل ځان باندی جاری کړه چی دهغے په بد له کی دا الله ﷻ داقول پوراشو چی " په کومه ورځ تاده دے ونی (درختی)نه خوراك اوکړونوبس مړشوے "

نودوئ وایی چی دحضرت آدمؑ اودهغه دټولی اولادے دګناه سزا حضرت عیسیٰؑ پرخپل ځان با ندی جاری کړله ، اودده مرګ یه ده ټولی انسانی نوعی دپاره کفاره اوګرځولو، چی دکومی ګناه په نتیجه کی انسان دا طاعت د قو ت نه محرومه ؤ هغه اصلی ګناه دحضرت عیسیٰؑ په ذریعه سره معاف شوه ، اوس انسان ته دو اړه ده نیکی اوبدی کولو اختیارورکولئ شو، خودوئ وایی چی داکفاره هغه وخت دانسان دپار ه کفا ره کید ئے شی چی هغه پریسو ع مسیحؑ باندی ایمان راوړی ، اوورسره به پرکفاره با ندی هم ایمان راوړی اود عیسیٰؑ دځوئ والی اقراربه هم کوی، اوددے ایمان علامه اونشانه داده چی اصطباغ به کوی یعنی په هغه خاص طریقه سربه غسل کوی چی کومه طریقه په عیسائیت کی دا خلے دلولازمی تقاضاده ، داهغه څیزدئے چی قرآن کریم هم اشاره ورته کړے ده چی :

﴿ومن أحسن من الله صبغة﴾ (البقره :۱۳۸)

یعنی داخلګ خوده ظاهری رنګ اصطباغ کوی ، لیکن حقیقی صبغه دالله ﷻ ده اود الله ﷻ درنګ نه بهتررنګ بل دچاغه کیدئے شی ـ

داد کفارے د عقیدے خلاصه وه ! دتهیوکریسی بعضو حامیانو(متبعینو)پرهم دے عقید ے باندی د خپلی نظریے بنیادایخئے دئے چی په حقیقت کی حکومت دهغی اصلی ګناه عذاب دئے چی کوم پر انسانانوباندی مسلط شوئدئے ، یعنی چی کومه اصلی ګناه دانسان په وجودکی داخله وه د هغے په و جه سره ددے خبری ضرورت ؤ چی یوداسی هیئت حاکمه پکاردئے چی ددے ګناه بدله ور کړی یایه ده بیادپاره دګناه کولونه منع کړی ، پدے وجه دالله ﷻ تخلیق کرده یوه اداره ده چی هغے ته حکومت وا یی اوچونکه دادالله ﷻ تخلیق کرده اداره ده نوزکه هرحاکم هربادشاه اوهرسربراه حکومت دتقدس وړ د ئے اوهم پدے وجه سره واجب الاطاعت هم دئے ، که ظلم کوی اوکه انصاف بیا هم دده

دمعزوله کو لو یادده دحکم ده خلاف ورزی کولو هیڅ جوازوه هیڅ انسان ته هم نشته ، ده تهیوکریسی د یوے فریق دا نقطه نظرده . لدینه تاسولڅ اندازه اولګوئے چی انسان چیرته اوڅنګه بے لاری شی ، ؟ او الله ﷻ موڅا و تاسوته دنبی کریم ﷺ په ذریعه سره ده څومره ګمراهیونه اوده بے لاری توب نه نجات را کړئدئے !

واقعی چی درنړاقدردظلمت اوتیارے نه پس معلومیڅی اودهدایت قدرده ګمراهئ نه ورو سته معلو میڅی چی کله ده داسی بے لاریتوب اوضلالت مطالعه انسان اوکړی اواویه ګوری نو هله بیا داسلام قدرورته معلومیڅی ، قربان شم ترخوڅنبی ﷺ چی موڅ یه په څنګه طریقه سره دداسی ګمر اهیو نه راویستلی یو ـ

(۳)عمومی نظام

دارسطوطالیس په پسندفرموده نظامونوکی دریم قسم عمومی نظام ؤ داقسم نظام تریوخا صی طبقے یاقوم پوری نه وی خا ص بلکه چی چاهم حکومت کولئ شوبس هغه ته ورکول پکاردی ـ

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه
یکم جمادی الأولی ۱۴۴۱ھ بمطابق ۲۸ ،دسمبر ۲۰۱۹ء
فی یوم الجمعة

یعلمون ظاهراًمن الحیاة الدنیاو هم عن الآخرة هم غافلون (الآیة)

مجبور ہو، مجبور تر ہو، مقروض ہو مقروض تر ہو ::: اپنی جیبوں کو بھریں مجبور کا خون چوس کر
ہے یہی سرمایہ بڑھانے کا موجودہ نظام ::: اُٹھ ''قل العفو'' لے کر یہ جبر پابوس کر (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ډیموکراسی
حصه چهارم

اضافه ترتیب وکتابت
حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه چهام

دجمهوریت پدے ځلورمه حصه کی به ددے خبری بیان کؤ چی پدے جمهوری اوډ یموکرا سی نظام کی دمذهب تصورهم شته اودسیکولرزم تصورهم شته یعنی داسلام تصورهم شته پکی او دلا د ینیت تصورهم شته پکی نوددے وجه څه ده پدے باره کی به ددے جمهوری نظام دغټو غټونقباؤ اومشرانو مختلفی نظریے ذکرکړو، ددے خبری په ضمن کی چی پرمغربی ملکونوکوم ظلمت تیرشو ئیدئے هغه بحث به هم اوکړو، اودویم به ددے جمهوری نظام یو څوتاریخی عوامل اوکار نامے هم بیان کړوچی دے نظام کومی کارنامے سرانجام کړے دی۔

په جمهوریت کی دمذهب اوسیکولرزم دواړوتصورولی پروت دئے

اوس به ددے خبری وضاحت کؤ چی په جمهورت اوډیموکراسی کی کله دمذهب اوکله د سیکولرشکل پروت وی نوددے بیان کؤ چی داشکلونه دکوم ځائے نه پکی راغلو اوولی پکی را پیدا شواوپردے به د دوئ دخپلونقیبانواومشرانونظریے پیش ؤددے خبری اجمالی ذکرپه (مذهبی اشرافیه ،یهودی یا هندوتهیوکریسی ، اوپه عیسائی تهیوکریسی)کی اوشو، خودلتیه تفصیلاً بیان ؤ ، نودا نظر یه پدے نظام کی د مغرب اویونان نه راغلے ده دازکه چی په مغرب اویونان کی دوه قسمه ذهنونه ؤ ۔

(۱)یوقسم صحی عیسائیان اوپوپان ؤ هغوئ به انسان داللهﷻ بنده ګنړلواوویل بیه دحکومت چی کوم نظا م دئے داقدرتی نظام دئے نوزکه به حاکمیت اعلی هم اللهﷻ لره حاصل وی . (۲) دویم قسم ذهنوبه ویل چی نه دانظام حکومت یوتخلیقی نظام دئے انسانانوپخپله جوړکړئیدئے نوزکه به حاکمیت اعلیٰ هم عوامولره ثابت وی یعنی قانون به عوام چلوی ،،

ددے دؤنظریوپه وجه په جمهوریت اوډیموکراسی کی دواړه شکلونه پراته دی زکه په بعضو وختو نوکی علماء کرام ،دین پرسته اومذهب پرستولره زړه ورخه کی چی راشه ته پکی اسلام راوله ته اسلام پکی نافذه ولئے شے زکه چی زه خواسلامی جمهوریت یم ، اوبل طرفته دګنده او سیکو لر نظر یے والا هم زړه ورخوشاله کوی چی ته خپل سیکولریت ته پکی دوام ورکړه زکه چی زه خو یم سیکو لر جمهوریت دمذهب راسره څه کاردئے نوجمهوریت " ذووجهین " نظام دئے ، اوس پردے دواړوذهنو با ندی ددوئ د مشرانونظریے ذکرکؤ۔

الف : = ۱

اول د ((اے کے پیوری)) په نامه سره یوکس دئے دادینی اومذهبی نظریه هغه پیش کړے ده ده ویلی دی چی حقیقی مسرت دآخرت دئے اوس دی په دنیاکی انسان دشریعت ترا حکا ما تولا ند ی پا بنده ز ندگی تیره کړی نوپه آخرت کی به بیاحقیقی مسرت ورته حاصل شی ، اوبعضے خلگو دده نظر یه ددے پرعکس پیش کړے ده چی دده نظریه داوه چی (افرادی خواہشات کی تکمیل کی خاطر زندگی گزارنے کوحقیقی مسر ت سمجھنا) یعنی دافرادی اوانفرادی خوا هشاتودمکمله ولوپه وجه سره زندگی تیرولوته حقیقی مسرت او خوشالی گنړل ، یعنی په دنیاکی دهوااوخوا هشاتو مطابق زندگی تیرول بس چی څه دی اوکړل نوخه دی اوکړل پابندی مابندی نه منل اودادجمهوریت دآزادئ والاماده ده کوم چی په تعریف کی موژاوویل خو صحی خبره داده چی ددے نظریے نسبت (اے کیپیوری)ته په دروغوشوئدئے بلکه هااوّلنئ نظر ا سلامی نظریه دده وه دادویمه نظریه بیاترده لاندینیوخلگوپیش کړے ده ۔

یوه نظریه ده رواقیه ؤده داپه مغرب کی یوه نظریه تیره شوے ده دوئ وایی چی ټول انسانان سر ه برابردی بیاکه سړی دی که خزی دی ، که بالغه اوکه نابالغه دی ، که آزاداوکه غلامان دی ،ددے په مقا بل کی اسلام وایی چی ﴿ أ لرِّجال قوّامون علیٰ النساء ﴾ (النساء :۳۴)نه سړوته به پرښځوفوقیت اوبا لا ئی حاصله ده ، دمذهب متعلق دوئ وایی چی (سب ایک قانون قدرت کے تحت ہیں) ټول به تریوه قانون قدرت لا ندی زندگی تیرؤ ، اوپردریم ځائے وایی چی (سب کے حقوق یکساں ہیں)دټولو حقوق به یوشا نتے وی ، نو او س که په میراث کی سړی ته څومره حصه ملاویده نوښځی ته به هم هغومره حصه ورکول کیژی حا لا نکه ددے په مقابل کی اسلام وایی چی سړی تبه دخزی په مقابله کی دوه حصے ورکول کیژی ۔

بله بیارومی نظریه ده هغوئ وایی چی دقوت سرچنه عوام دی زکه دی حکومت هم هغوئ ته وه سپارلئے شی ؟

اوس پردے ټولو نظریو کلیسائی اثرات پراته دی ، اوټول دالله ﷻ ترقدرت لاندی راوستل دیته دوئ کلیسائی افکاروایی چی خدائے هم منی اودهغه عبادت هم کوی حاکمیت هم الله ﷻ ته ثابته وی ، خودادحاکمیت اختیارات هم بیادوئ په مکمله توگه الله ﷻ ته نه ورکوی بلکه دادوئ خپل پو پ ته حواله کوی چی هغه څنگه قانون جوړکړوڅنگه یه وران کړو،څنگه یه راجح کړواو څنگه یه مر جوح کړونوپه جمهوریت کی چی نن صباکومی دمساواتویادحقوق نسوان خبری کیژی چی (عورت اورمرد شانہ بشانہ کام کریں) داقسم نظریے دوئ ته درواقیه ؤنه راغلے دی، نوپه یورپی اومغربی ملکونوکی دوه قسمه نظریے وے یوه داچی حا کمیت اعلیٰ دالله ﷻ حق دئے نوعملی احکامات به هم دالله ﷻ غه چلیژی بله داچی نه دحاکمیت اوحکمرانی کولواختیا ر به عوامولره وی زکه چی هغوئ دقانون سرچنه گنړل

کیـژی ، بـلـه خبـرداده چی یورپی اومغربی ملکونوته عسائیت ډیرپه قلاره رسیدلئ دئـے او ؤ هم محرّف نـولـه دوئ سـره دزنـدگـئ تیـرولـو مکمل نظام نه ؤنوزکه دوئ دحاکمیت اعلیٰ اختیارات خپل پوپ لره ورکړو اوداقانون سازی به بیاپوپ په څه طریقه سره کوله ددے خبری تفصیل موژ و ړا ندی اوکړو۔

مغربی اویورپی ملکونه دظلمت په دورکی

مغربی اویورپی ممالك ترصلیبی جنگونه وړاندی ډیرپه ظلمت مایوسی اوتنگ دستئ کی پرا تـه ؤ پـه یـوه کـال کـی به تقریباً یومیلین (لس لکه) کسان دلوگی نه مړه کیدل ، اودډیری قحط سالئ په وجـه یـه زراعـت (کـرونـده) نه شو کولئی ، بیاد (آرین) پوپ په نامه سره یوکس پیداشو هغه په ۱۹۵ء کی ددوئ ذهنوته دانظریه واچوله چی بیت المقدس به موژله مسلمانانونه نیسونوددے پرېناه دوئ له (ترك ، انطاکیه ، اوله عُکا)ملکونوسره جنگونه اوکړل اوداجنگونه یه ډیردمفلسئ اولوگی په حالت کی کړی دی .. گـوره دقـومـونوترقی دانحطاط نه پس راځی دانن صباچی کوم سوچ ده خلگوپه ذهنوکی د ئـے چی اول بـه غټی غټی اسلحے جوړوے بیابه ترقی کوے داغلط سوچ دئـے زکه چی داخوبه ته د (سپرطاقت) امریکے په خوښه سره جوړه وے کنے بیاپابندی درباندی لگوی۔

ددوئ دجـنگ کیـفیـت مؤرخین لیکی چی دډیری لوگی نه ډیرکسان مړه شوی دی ، حتی چی سپـی یـه لیـا حلال اوگنړل بیابه یه حلاله ول (ذبح کول) حالانکه داده دوئ په عیسائیت کی نه ؤ حلال ، اودسپـوبیـه لیـاده سـوارلئ (گاډی) کاراخستلواسلحه وغیره بیه باندی وړله دازکه چی آسونه او اوخان خـودوئ دډیـری لـوگـی نـه حـلال کړی ؤ نودسپونه علاوه نورڅه ؤنه ، خوبیا هم پرمیسیحیت با ندی په دے وجـه ډیرپه جرأت سره جنگیدل چی مسیحؑ به راکوزیژی بیابه ده مسلمانانو خلاف زموژپه حما یت کـی جنگ کوی اوموژتبه فتح حاصله شی ، پدے سوچ سره یه دومره ظلمونه اوکړل چی په بیت المقد س کـی یـه اویـازره [۷۰۰۰۰]مسـلـمانان شهیدان کړل دومره وینی یه اوبهولے چی په بیت المقدس کی چی کومه گټه اوصخره (ډبره) پرته وه ددے پرځائے دوئ خپله گټه کیخودله چی (هیکلے سلیمانی) یـه ورتـه ویـلـونوپردے ډبره به یوه سواره کس اس راتاوه ولو(راجارایستلو)نودهغه سړی تر گونډو (ستر گیو) به وینی رارسیدلے د (ویلیم) په شانتے سیاستدانان پردے خپل ظلم اوکردار فخرکوی۔

اوپـه ابتـداء کـی ځـومـره مفلسه ؤ دسپوترخوراکه رااورسیدل نو چی کله له دے ظلمته مغرب اویـورپ او وه تلوبیاپه دوئ کی هغه سابقه دوے نظریے اودوه اختلافه راپیداشو چی یوه رومی نظریه وه اوبله کلیسائی نظریه وه۔

ب :=۲

دویم په نهمه ۹ ـــــ ئـه صدئے کی د (شارلیمان) په نامه سره یوکس تیرشوئدئے دده په حکو مت کی سرمایه دارانه اوجاگیردارانه نظام جوړشوداهم دجمهوریت یوبناخ دئے چی اوس په (کیپیټیلزم) سره مشهوره دئے ددے سرمایه دارانه نظام دمقاصدو نه یو مقصددادئے چی پرانسان د ی هیڅ قسم پا بندی نه وی خصوصاً اقتصادی پابندی لکه دسود ،شرابواودخنزیرکاروبارشو، خوددہ په حکومت کی یوه دغلامئ زندگی زیاته وه هرڅوك به غلا م اونوکرؤ اوبل طبقاتی تقسیم پکی زیا ت ؤ جگړی او (بد یانی) پکی ډیری وے ددے وجهی نه دده حکومت سره بے خونده ؤ ـ

ج :=۳

دریم یوبل کس تیرشوئدئے د " آگستائن " [agstain] په نامه سره هغه د ریاست لفظ په سیاست کی پدے اندازکی استعما ل کړوچی ریاست اوحکومت امن ته وایی "(خولدینه اسلامی امن ندئے مرادبلکه هاده دوئ امن مراددئے چی پرمذهب به دچاسره جنگ اوقتال نه کوے ، قومی تعصب دی نه وی ، انصاف دی قائم شی که صحافی وی اوکه کالم نگاروی نو هرچاله دی خپله آزادی ورکول شی ، د لته داخبره هم قابل ذکرده چی " أمن " داقوام متحدے یونوم هم اوده فوج دیوے دستے نوم هم د ئے چی دوئ ورته " أمن فورس " وایی نن صباهم داغټ غټ سیاست دانان دالفظ ډیراستعمالوی مثلاً (ہم پرامن مظاہرہ کریں گے) ددے مطلب دادئے چی داجلسه یاجلوس موژداقوام متحدے ترقانون لا ندی اختتام ته رسؤ)" دے کس خودامن اوانصاف نظریه پیش کړه خوغلامی یه نکړه ختمه اود کلیسائی افکارات اواختیارات پربادشاه بالاترگنړل ـ

د :=۴

خوددے " آگستائن " نه پس بیادوه نورکسان راغلوچی دیوه نوم " أمبروس " ؤ اودبل نوم " ایساټ " ؤ هغوئ غلامی دگناهونوکفاره گنړله دانظریه ده هم لرله خوبل طرفته بیاترینه مخالف هم ؤ ، اوس پدے سره موژدومره پوئ شوچی په جمهوریت کی دا مختلف تصورات اوشکلونه دهم دے نظریوپه وجه پراته دی اول ده مساواتوخبره وه بیادغلامئ بیادامن اوانصاف اواوس ددے " آگستا ئن " نظریه په آخرکی داشوه چی حکومت به مفوض وی کلیساته ، اودازکه چی ده دحکمرانئ اختیارد اللّٰه ﷻ دطرف نه عطاء کرده گنړلواوکلیساپرزمکه داللّٰه ﷻ نائب شمارل کیژی نوزکه ده ویلی دی چی نظام به کلیسااوپوپ چلوی ـ

ه :=۵

ددنه پس یوبل کس راغلو چی ده هغه نوم "گلیسیس" [glaiseis] ؤده بیا(دوشمشیری) نظریه پیش کړله ددے مطلب دادئے چی دالله ﷻ دی ځانته علیحده اطاعت اوشی اودکلیسادی ځانته جدااومنل شی دامقصددسیکولزم (لادینیت) هم دئے چی " ماکان لله کان لِلّه وماکان للقیصر کان للقیصر " دبادشاه کارپه مسجد اوکلیساکی نشته اوده پوپ بیاده حکومت په کارونوکی مداخلت نشی کولئ د ه خولاره صفاکړه خونورسیاستدانان شته چی هغوئ داخبره نه ورسره منی ـ

و :=٦

لکه د "گریکوریا "[grakoria] په نامه سره یوکس دئے دابیامکمل اختیارات کلیساته ور کوی دغه رنگه یوبل سیاستدان هم شته لده سره اودوئ دواړه دگلیسیس پرنظریه تنقیدات کوی ـ

ز :=٧

اووم نمبرد " اکیوناس " [acunas] په نامه سره یوکس تیرشوئدئے داوایی چی دامعاشره یو قدرتی سکیم دئے لدے وجهی نه دده یوخومختلفو حکومتونونظریے پیش کړے دی ـ

اول : .. یوابدی اودائمی حکومت دئے چی هغه الله لره ثابت دئے ،

دویم : .. قدرتی اوفطری حکومت دئے چی الله دکلیساوالاته ورکړئے دئے ،

دریم : .. الهی حکومت دئے داهم دکلیساپه اختیارکی وی اچلوی یه هم هغوئ ،

څلورم : .. انسانی حکومت دادے ته وایی چی عوام یه جوړکړی اوبیایه نافذکړی پرخلگوبا ندی ، دغه رنگه دئے په شاهی حکومت کی هم یوخوصورتونه اوشکلونه جوړوی ،

الف ! متبرك شاهی نظام :هغه داچی دکلیساپوپ حکمران جوړشی یابل څوك حکمران شی خوده کلیساپه خوښه جوړشی او هغه بده کلیساپرهدایاتومطابق قانون سازی کوی دیته زکه متبرك وایی چی دکلیسابرکت ورته حاصل دئے ،

ب ! صرف شاهی نظام : دادبادشاهت اوتورث په اندازکی راروان وی ،

ج !سیاسی نظام :پدیکی بیاهغه سړئے حکمران وی چی څوك دقوم په سیاست خه پو هیژ ی،

د ! اقتصادی نظام : دابیاچی دکوم کس دقوم اوملت پراقتصادی فائدونظروی اود عواموا قتصا دته خه متوجه وی اولدے نه خه باخبرهم وی نوداسی کس تبه حکمرانی حواله کیژی ـ

پدے ټولوقسمونوکی دده خپله نظریه دمتبرك شاهی نظام وه اوددے اکثرونظاموتفصیل موژپه در ے یمه حصه کی خه په تفصیل سره اوکړو، اودده په مقابل کی بیایوبل سیاستدان دئے هغه دگلیسیس والانظریه پیش کړے ده ـ

بهرحال ددے مختلفو نظریو اوتنقیداتو پربناء دحکمران اوکلیساپه مینځ کی جنګ اوجګړه شروع شوه زکه چی یووخت داسی ؤ چی دکلیساپوپ به راتلواوبادشاه ته بے دحکمرانئ تاج ور پسر و لو خو بیابادشاهانواوعواموخپل خپل حقوق غوختل اوکلیسابه ظلم اوجبرپرے کولو(کمامر) نود د ے اختلافاتوپه وجه په فرانس کی ډیری جګړی جوړی شوے بیاپه ۱۳ ء دیار لسمه صدئے کی ده د ے جګړوفیصله اوخاتمه په یوے محاکمے اوصلحی سره اوشوه اوپه هغے فیصله کی دګلیسیس وه خبره ته ترجیح ورکول شوه چی (مالله لله ومالقیصر للقیصر) حکمران بده حکومت تر چارو پابندوی او پوپ بده کلیساترکاروپوری یوبده هابل په کارکی مداخلت نه کوی۔

دحقوقوودے تقسیم ته دوئ دسیکولزم نوم ورکړوپدے طریقه سره یه دکلیسا اوحکمران په مینځ کی جګړی اوا ختلافات ختم کړل ، نواوس چی پدے جمهوریت کی کله دآزادئے بوئ پروت وی کله دمسا وا توبوئ پروت وی کله ده مذهبیت کله ده لامذهبیت اولادینیت بوئ پروت وی نوداده د ے مختلفونظریوپه و جه سره اوددے مختلفونظریودافائده شوه پکی چی اوس دهرسوچ اوهری نظریے کس پکی چلید ئے شی۔

نوبهرحال دجمهوریت بنیاداوخلاصه داشوه چی نظام بده عواموپه لاس کی وی دالله ﷻ د حا کمیت د الله ﷻ دقانون به پدے کی څه قسم دخل نه وی ، نوجمهوریت په حقیقت کی حاکمیت عوامو لره سپاری اوپردے خبره موژمخکی هم ډیری نظر یے پیش کړلے چی قانون سازی بده عواموحق وی دقانون سرچشمه به عوام وی نوزکه پدیکی دلادینیت اوسیکولرزم تصور زیات دئے ۔

ح :=۸

اتم نمبرلکه " میخائیل ستوریټ " وایی " جب کسی ملک کے لوگ جمہوری ریاست ہونے کا دعویٰ کرتے ہیں اس سے مراد یہ ہوتا ہے اس میں جہاں تک انسانی سطح پر ممکن ہے تمام بالغ شہریوں کو یکساں موقع میسر ہیں کہ وہ اپنے حاکمیت کا حق استعمال کریں"

چی کله ده یوملك خلګ ده جمهوری ریاست دعویٰ کوی نولدے جمهوری ریاست نبه دامرا دوی چی پدیکی پرانسانی سطح چی څومره ممکن وی نوټولوبالغوخلګوته دااختیارحاصل دئے چی هغوئ دخپل حاکمیت حق استعمال کړی نواوس دده له نظریے نه معلومه شوه چی پدے نظام کی د عالم با لایاعالم خارجی څه کارنشته بلکه ددے نظام حاکمیت اونورهرڅه بده عواموپه لاس کی وی دانظریے مو ژزکه بیانه ؤ (چی دوئ دحاکمیت حق عواموانسانانوته ورکوی) چی داساده لوحه ناخبره ناپو یه مجاهدین چیرته دوکه نه کړی چی په جمهوریت اوډیموکراسی کی دمذهب اواسلامی قانون د تنفیذ امکان هم شته اوپدے نظام کی خو حاکمیت اعلیٰ الله ﷻ لره ثابت دئے نوبیاتاسوولی کفری نظام

ورته وایی ۔

نو چی ددے خبروپه جواب کی له دے مجاهدسره ددوئ دخپلونقباؤاو مشرانواولویو لویو سیا ستد انا نو نظریے وی اوبیاددوئ په خپلونظریوسره داورثابته کړی چی اسلام اوجمهوریت دوه متضاد نظامونه دی اوپه جمهوریت کی نه په عملی ډول سره حاکمیت اعلیٰ اللّٰهﷻ لره ثابت دئے اونه ترقیامته پکی را تلئے شی ،

ط :=۹

دغه رنگه یوبل سیاستدان دئے د " سالتاؤ " [saltow] په نامه سره هغه وایی (ریاست دراصل افرادمعاشرہ کوایک اچھی زندگی کے مکمل مواقع فراہم کرنے کیلئے ہوتی ہےاور یہ کہ اپنے لئے اچھائی کا فیصلہ کرنے کا اختیار ریاست کونہیں بلکہ خود افرادکوحاصل ہوتا ہے کہ اختیار حاکمیت کا بنیادی سرچشمہ لوگ خود ہوتے ہیں یہ کہیں عالم بالا یا عالم خارجی سے وارد نہیں ہوسکتا)

په اصل کی ریاست (ملك) ددے دپاره وی چی خلگوته ده خپلو خواهشاتو مطابق زندگی تیرو لوموقع ورکول شی اوده خپلی خے زندگی اختیاربه ریاست ته نه وی بلکه افرادولره به وی هغوئ به دخپلی زندگئ دپاره پخپله قانون جوړوی دحاکمیت بنیادی سرچنه به عوام اواولس پخپله وی دافیصله بده انسان په باره کی له اسمان یالوح محفوظ نه نه راځی بلکه انسانان بده ځان دپاره پخپله فیصلے جوړ وی او هغوفیصلوتبه اعتبارهم وی نو هله به دابیاحقیقی ریاست اوحقیقی جمهوریت وی نودے کس په واضحه توگه اووه یل چی په جمهوریت کی فیصلے دخارج اوعالم بالانه نشی کیدئے بلکه انسان به په خپلودماغوسره سوچ کوی اوفیصلے به جوړوی ۔

ی :=۱۰

لسم نمبر" ډیوډهیل " دئے ددے کس نظریه موژ ده جمهوریت په تعریف کی بیان کړه چی د جمهوریت لفظ په شپاړسمه صدئے کی په انگریزی کی استعمال شوئدئے یونانی لفظ دئے د " ډیمو س" او"کریتوس" نه جوړدئے په معنی ده اولس اوحکو مت سره نودئے وایی چی (کریٹوس حاکمیت سے مأخوذ ہے، گویا کہ جمہوریت سے مراد ایسا طرز حکومت ہے جسمیں بادشاہت اوراشرافیہ کے بالعکس لوگ خود حاکم ہو)

له جمهوریت نه مراداسی طرز حکومت دئے چی پدے کی دبادشاهی اواشرافیه نظام پرعکس خلگ پخپله حاکمان وی دخپل ځان ده پاره پخپله قوانین جوړوی ، (ماډل آف ډیموکریسی ص:۱،۲)

ك :=۱۱

نوپردے نظام دسیکولریت اثرزکه پروت دئے چی دادئے په حقیقت کی سیکولرنظام" یؤلسم نمبر" ددوئ په نقباؤکی یوډیرلوئ مشهوره نقیب اومشردئے د " لاردمیکالی " په نامه سره دئے وایی

چی جمهوریت به سیکولروی مذهب به پکی هډودسره وی نه بلکه ډیموکراسی خودمذهب بنیا دلیا نه منی دا هغه خبیث دئے چی یو ځوتصورات ترټولونه مخکی دپیش کړیدی (۱) غیرمذهبیت (۲) خود مختاری (۳)ده علاقائی حکومت تصور، دادډیری ګنده اوپلیتی نظریے خاوندؤپه سیاست کی هره اخلا قی بدی دئے جائزګنړی اودئے وایی چی دخپل حکومت دبرقراره ساتلودپاره چی څومره بد اوخلاف شرع کاروی نودهغه کول جائزدی اګرکه دهرڅومره قتل عام اوبدعملئ ارتکاب ولی نه کید لو اودئے وایی (سیاست میں اخلاقی پیمانوں پرکوئی چیز غلط اوصحیح نہیں ہوتی)

په سیاست کی په اخلاقی ډول سره یوشئ صحی اوغلط نشی کیدئ بلکه غلط هغه ځیز د ئے چی حکو مت پرے خراب شی اووران شی دانه شے ویلئے چی زنا،غلا، کرپشن ،کمیشن اودشرا بو کاروبارپه اخلاقی ډول سره غلط کارونه دی بلکه ده دے تو لوکارونوجوازشته خوچی حکومت (حکمرانی بادشاهی)برقراره پاتے شی نوچی ده حکومت بقاپکی وه اواقتصادخه کیدوپر ے بیاکه هر ځومره خلا ف شرع کارؤ هغه صحی دئے اودوئ وایی چی دے لاردمیکولی خپل ټول رازپرهم دے خبره منحصر کړ ئے ؤ چی حکومت به څنګه برقراره پاتے شی ۔

" لیؤپچتاوی "[live pitchive] یو سیاستدان د ئے دد" لاردمیکولی " یو ځونظریے ذکر کړے دی الف : اول داخلاقی اصولونفی یعنی په سیاست کی داخلاقوڅه کارنشته ، ب : دویم داچی په خلګوکی دی نیشنلیزیشن رائج شی یعنی دقوم پرستی ماده دی په خلګوکی پیداشی اودئے پخپله هم لوئ قوم پرست ؤ ، ج : دریم سیکولرزم لادینیت دی په خلګوکی پروت وی دخلګودی له دین سره څه قسم تعلق نه وی ، نوده حکومت داسا سی خبرونه ده دادرے خبری راایستلے دی چی په حکومت کی ددے خبرووجودډیرضروری اولازمی د ئے ۔

ل := ۱۲

دجمهوریت په نقباؤکی د " تامس هابس " [tams habs] په نامه سره هم ډیرلوئ مشرتیر شوئدئے هغه بیابادشاه مطلق العنان ګنړلو حتی ویل بیه چی مذهب اواخلاق به هم دبادشاه په رضاسره وی قانون اوحکومت به ټول دهغه تراختیارلاندی چلیژی اونن صباهم دغه نظام عام دئے چی مذهب او اسلام تر خپل وضعی آئین لاندی ګنړی خپل اختراعی آئین ته پر قرآنی آئین فوقیت ورکوی اودانن صباسیاسی علماء هم ترجمهوری آئین اوقانون لاندی قدم اخلی لکه "قائدملت صاحب "چی په یوه بیان کی ویلی دی (آئین کے تحت زندگی گزارنے کی ترغیب جمعیت علماءاسلام نے دی ہے " ایضاً "، ہم آئین کے حدود میں رہ کرشریعت کے نفاذ کی جد جہد جاری رکھیں گے)

ددے سیاسیانو څه نوری خبری هم شته اوداټولی خبری موژمختته باحواله ذکرکړے دی ، نود د ے آئین دنظریے تحت جمهو ریت اسلام چیلنج کوی ده مذهب خلاف جنگ اوده مذهب بنیادختمول دوئ جائزگنړی ،،

تنبیه : لـدے نـظریونه موژته دجمهوریت مبداهم معلومه شوه چی دانظام ده چاپرلاره راغلئی دئے خو دامو چیرته اونه لیدوچی یوپیغمبردی دانظام اختیارکړئے وی اودوئ خوددے نظام سلسله د نو ځ نـه راشـروع کـړے وه اومـوژهم دهغه ځائے نه ورسره اومنل چی هوکه داډیرزوړکفردئے داجمهوریان مـوژ تـه بـنیـادپـرسـتـه وایـی نـواوس دوئ بـنیادپرسته اوقدامت پسنده دی اوکه موژ ولی چی دوئ خپله سلسله دنوځ نه راشروع کړے ده اوموژله محمدرسول الله ﷺ نه ، دنوح ؑ نه بیاتراوسه خوپه لکو نوانبیا ء کرام راغلی دی یوه دانظام چلولئے ؤخوقبل الطوفان یه لیاددے نظام پیروکاران هلاکه کړل ـ

م := ۱۳

دیـارلسـم کـس د " سـقـراط " پـه نـامـه سـره تیـرشوئیدئے دے کس پدوئ کی اسلامی نظریه او عـقیده لرله او دبه ویل چی مذهب اوسیا ست یوشئی دئے مذهب ده سیاست نه جداکول داغلطه خبرده اوده بـه ویـل چی په حقیقت کی مالك الله ﷻ دئے او واحدلاشریك ذات دئے اوچی الله ﷻ انبیاء کرام رضوان الله علیهم اجمعین پـرکومه طریقه رالیژلی دی هم پرهغه نهج قانون چلول پکاردئے ،اوچونکه دهغه وخت بـاد شاه دغیرالله عبادت کولواونظام یه هم دکائنانواوساحرانوپه نظریه چلولونوزکه یه پدے سقرا ط باند ی دز هروپیاله اوڅکله اومړیه کړو ـ

مـؤرخیـنـودده تاریخ رانقل کړئیدئے چی دنزعی په حالت کی خپل شا گردان گیرچاپیره پرے را جـمـع ؤ اوده تـقریرورته کولو چونکه دئے فلسفی ؤنوزکه یه په عجیب اند از کی ورته بیان کړئیدئے اوور تـه وایـی چی ځماحقیقی زند گی اوس شروع کیژی زکه چی دئے وایی چی دزندگئی اصل مقصدالله ﷻ مـولاقـات کـول دی اوددے مـلاقات دبندش او محرو می ذریعه ځمابدن ؤنو چی کله دابدن ختم شی بیابه حقیقی زندگی شروع شی بیاده یومثال پیش کړئید ئے چی په هغه کی یده بدن تشبیه ورکړے ده لـه خرگاډی (ټانگے)سره اوروح یه دسوارلئ مثال گر ځولئیدئے نوز که وه روح ته چی معنوی ځیزدئے (لـکـه دنبـوت رنـړاگـانـی شـوے) نـودیته پرباقی نور بدن ترجیح ورکول پکاردی اودئے وایی چی دروح غذادالله ﷻ مولاقات دئے اوبدن خومحض لکه ریړئ یادټانگے په رنگه ده ضرورت پربناء استعمالیژی دادهغه وخت نظریه وه نوربه الله ﷻ په خبر وی چی څه حقیقیت به هم لری اوکنه "افلاطون" هم دده په شاگـردانـوکـی ؤلکه چی موژمخکی هم دا خبره کړے وه ، خوافلاطون پدے آخری حالت کی نه ؤورته

راغلئ نوزکه یه دسقراط نه نظریه مخالفه وه اونورپه سلګونوټول شاګردان ورته راغلی ؤ نولدے سقراط نه علاوه نورټول سیاست دانان دکفر او فسادپه حالت کی تیرشوی دی دغه یومسلمان ؤ هغه یه هم مړکړو۔

بل دجمهوریت اصل منبع او سرچنه مغرب دئے دازکه چی دجمهوریت کانفرنس اوجلسه په پاکستان اومکه کی نه کیژی بلکه په لندن او نیو یارك کی منعقدکیژی اوچونکه جمهوریت دمغرب پرلاره راغلئ دئے مغربی اویورپی ملکونوته داخپل مسیحیت هم پروخت ندئے وررسیدلئے بلکه د " پاول " د تحریف نه بعددوئ ته محرف شده انجیل رسیدلئ دئے اوپه هغه کی هم د عبادت او روحانیت سره متعلق خبری خووے دغه رنګه دالله ﷻ سره د رابطوجوړلومتعلق خبری خوپکی وے ، لیکن دانسانانوداجتماعی زندګئ لپاره چی کوم قانون وی چی خلګ به پخپل مینځ کی څنګه زندګی تیروی دادوئ له انجیله ایستلے وے او پو پا نوپه خپل اختیارکی بیاواخستلے (لکه چی تفصیل یه موژاوکړو) نومغربی ملکونوته داجتماعی زندګئ دتیرولوضرورت پیښ شوبیاموژاووه یلوچی جګړی اولانجے پکی را مینځ ته شوے آخردا فیصله اوشوه چی عوام دقانون سرچنه ده خوپه دوئ کی بیایوے ډلی داقانون اومنلوخوورسره یه ده الله ﷻ ده وجود، عبادت اودین نه هم انکاراوکړواوداقانون د " کمیونزم " په نامه سره جوړشوچی دهریت هم ورته ویل کیژی ده دے نظریے دترویج اواشاعت ذمه واری بیاپه روس کی دوؤکسانوواخستله چی دیوه نوم " لینن " ؤاودبل نوم " استالن " ؤ چی موژورته ستیلن وا یوددوئ پیدا ئش هم په روس کی شوئدئے ۔

دوئ ددے نظام ترویج کولوچی په عربی کی ورته " شِیوعیَّة " وایی ددے نظام اساس او بنیاد داؤ چی دالله ﷻ ده وحدانیت خوبلکل نه ؤقائله بلکه دوئ ده اشتراکیت قائله ؤ دانظریے په اصل کی د " کارل مارکس " ولے اودده په زندګئ کی دااشتراکی نظام نه شونافذبیادده دمرګ نه پس دے بالا دو ؤ کسانواول اشتراکی ریاست قائم کړوچی هغه تیه د " پرولتاری حکومت " نوم ورکړو، ددے نظام خلاصه داده چی درے لفظونه داسی دی چی دهغوئ په ابتداء کی لفظ " زا، راځی لکه زن ،زمین ، زر، نودوئ ددے الفاظوده اشتراکیت قائله ؤ چی ښځی زمکی اوزربه دټولوسره په شریکه وی چی کومی خزی یاجینئ ته دی زړه کیدوبس استعمالوه یه ، اوددے نظام عملی طریقه داوه چی ښځو اوسړوټولوبه حکومت دپاره کارکولوماخام (ماښام) چی به کله کورته تلونویوه حکومتی منډئ به وه دهغے نبے مفته فری سبزی واخستله اوکورکی بیه پخه کړله داطریقه دوئ ته ډیره خائسته شوے وه خو بالآخر دا نظام دناکامئ اودخلګودتنګیدوسبب جوړشواددے نه دمتنفرکیدلوډیروجوهات وو (۱) یوداچی

داخودانسانی دماغونه جوړشوئے قانون ؤ د اللہ ﷻ اوده بنده په مینځ کی خو ډیرلوئ فرق دئے ،(۲) دویم داچی دښځی اوخاوندپه مینځ کی دشریعت اوانسانیت په دائره کی خپل ازدواجی تعلقات دی چی محض انسان وی اګرچی مسلمان نه وی نوبیا هم دئے دخپل ځان دپاره مستقله جوړه اوآزاده زندګی تیرول غواړی دانه خوښه وی چی ځمادی هیڅ قسم نسل اوحیثیت نه وی خو دے کمیونزم اواشترا کیت داټولی آرزوګانی دخاوروسره خاوری کړلے ۔

(۳) دریم داچی مثلاً ته به منډئ ته لاړے نو هلته کی به لوبیاوه اوستابه بینډیوته زړه کید ویا به هلته کی الوګان (پټاټے وے)ؤ اوستابه غوښی ته زړه کیدواوهلته کی به ستادطبیعیت ځیزنه ؤز که چی په ټوله منډئ کی به صرف یوقسم ځیزخرڅیدلواولتاسربه پیسے وے نه چی ځان له د ی دخپل طبعیت شئی اخستئے وئے او حکومت درله پیسے نه درکولے بلکه ویل بے درته چی ستاپر موژ علاج دئے هغه هسپتال ته ورشه نو مفت علاج به دی اوشی ، اوسفرچی څومره کوے نودهغه ذمه واره دی هم حکومت دئے ، دخوراك بندوبس دی هم حکومت کوی ، نوبهرحال تاله چی به دوئ څه هم درکول بیاکه ستاده طبعیت مطابق ؤاوکه مخالف هغه به دی اخستل خپل واکی اوخپله خوښی دی مسلوب وه نوپدے وجه دایوجابرانه نظام خلګواوګنړلو۔

بل طرفته بیادانظام رااووه تلوچی عوام ده قانون سرچنه ده خوپه معاملاتوکی اودانسانانوپه اجتما عی زندګی کی اوچی دانسان داللہ ﷻ سره کومی رابطے دی نوپه هغوکی به بیاڅه دخل انداز ی نه کوی ،یعنی دین دی دعبادت ترحده محدودشی په قانون کی دی دخل اندازی نه کوی ، اوقانون د ی بیا ترخپل قانونیته پوری محدودشی په عباداتوکی دی ګوتی نه وهی دادسیکولرجمهوریت نظریه شو ه چی اکثریت صرف په قانون ، سیادت حاکمیت ، حکومت اوسلطنت کی منی ، اوپه عباداتوکی بیادو ئ عوام ده قانون سرچنه نه منی نوپدے ځائے کی دوئ لاری جداکړے پدے وجه جمهوریت په اول مهلت کی چاته کفرنه خکاری حالانکه چی کله جمهوریت دااوویل چی موژته قانون ضرورت د ئے اودهغه قانون سازئ اختیاربه عواموته حاصل وی لدے نه دامعلومه شوه چی جمهوریت دوحی د بنیاداوداللہ ﷻ دوجودنه انکارکوی خولیکن په اول فرصت کی دوئ ددے خبری اقرارنه کو ی !

اوس لد ے بحثه اولدے نظریونه موژته کم ازکم دومره پته اولګیده چی جمهوریت په کمه لار ه راغلئ دئے دچاپه لاسونوکی پاتے شوئدئے بنیادیه چاایښئ دئے !نوکفریه بنیادایخئ دئے دکفر پرلاره راغلئ دئے دغټوغټوکافرانوپه لاسونوکی پاتے شوئدئے اودومره اندازه هم راته اوشوه چی لا ره یه دکفرده او خپله هم کفری نظام دئے زکه چی باطل لره مستلزم شئی پخپله باطل وی۔

دجمهوریت تاریخی کارنامے

زموژدویمه موضوع داوه چی پدے جمهوری نظام کی کومی تاریخی عوامل اوتاریخی کارنامے شوے دی نوپدے سلسله کی دیودرواقعاتوذکرکؤ ۔

اوله کارنامه دامریکے آزادی

تاسوته به معلوم وی چی دیورپ چی کوم خلگ ؤنو هغوئ په اصل کی دجنوبی ایشیا (هند وستا ن) وغیره پرلاروباندی خپل تجارت مخته بوول غوختل لیکن ترهغه ځایه درسیدولاره دو ئ ته نه وه معلومه چی پرکومه لاره یه ځان وررسولئ وئ ؟ اوترهغه وخته دانهرسویزنه ؤجوړشوئے ، پدے و جه دسمندرپرلاره باندی دوئ ته هندوستان ته درسیدلولاره نه وه معلومه ، اوداوچی پرلاره خوډ یر مشکلات ؤ ، ددے سمندری لاری دمعلومه ولودپاره دوئ ډیری منصوبے جوړی کړلے او په ډیرو کو ششونوکی ناکامه هم شو، لیکن صرف دوه کسان ؤچی پدے مهماتوکی فی الجمله کا میا ب شو، یو" واس کوډیګاما " ؤچی هغه دجنوبی افریقے دلاری نه هندوستان ته ده تلولاره تلاش کړه اودئے د جنو بی سرے (ساؤت کیپ) سره هندوستان ته اورسیدو ۔

دویم کس " کولمبس " ؤ دا هم پد ے وجه تلئے ؤچی ده هندوستان لاره پیداکړی ، لیکن واس کوډیګاما هغ طرف ته اووتلواودابل بیا پرا لتهه طرف روان شو، اواوس نوی تحقیقات داراغلی دی چی د دوئ دواړورهنمائی عرب ملاحانوکوله ، ابن مجاهدیوعرب ملاح ؤچی دده رهنمائی یه کړے ده اودده کتاب هم چاپ شوئدئے ، بهرحال ! واس کو ډیګاما هندوستان ته اورسیدواوکولمبس په مغرب کی ګرځیدلو، تردے ځایه چی امریکے ته درسید لونه وړاندی اول هغوجزیروته اورسیدوچی نن صباورته " ویسټ انډ یز"وایی چی کله کولمبس داجز یرے اولیدلے نوداخیال یه اوکړوچی زه هندوستان ته رسیدلئے یمه ، اوپه حقیقت کی هغه هند وستا نه ؤبلکه هغه د " کریبین " جزیرے وے اوچی دئے کله پردے جزیروباندی خکته شونوداخیال یه اوکړوچی داخوانډیاده ، هم پدے وجه دهغوجزیرونوم " ویسټ انډیا" ده چی په اردوکی ورته " جزا ئرغرب الهند" وایی ، بیالژ نورمخته لاړونواویه لیدو چی امریکه خوډیرلوئ براعظم دئے نوپدے طریقے سرهغه امریکه پیداکړله ۔

دامریکے دبراعظم په معلومولوسره انګریزانواویورپی قومونوداخیال اوکړوچی داخودآبا دکارئ او تجارت ډیرلوئ میدان ملاؤشو، نوزکه هغو هم هلته ده خپلو آبادکاریومهمات هلته لیژل شروع کړل ، اګرچی پدے منصوبه کی د " ډچ " قومونواو" فران سیسیانو" دخپلو آبادکاریومهمات

اولیـژل او ''پـرتگیزیانو'' هم اولیژل او هلته یه خپلی کالونیانی سازی کړلے ، لیکن پدے عمل کی ډیره زیـاتـه حـصـه انگریزانوواخستله چی ددے په نتیجه کی دامریکے پرزیاتره حصوباندی برطانیے خپل حـکـومت قائم کړو او هلته یه خپلی کالونیانی جوړی کړلے ، نن یه هم تاسو په نقشه کی اوگورئ نو امر یکه ډیرلوئ براعظم دئے اواوس یه هم دوه پنځوس [۵۲]ریاستونه دی ، ده امریکے پردے لو یو لویور یا ستوباندی برطانیه قابضه شوه ، اوله ډیری مدے نه بیه له لندن نه پرهغوئ حکومت کو لو ، چونکه بر طانیے په امریکه کی تجارت هم غوختلواودهغوئ نیه ټیکس اخستل هم غوختلو ـ

بـل طـرفته دجمهوریت فکرونه هم امریکه ته ورشروع شوی ؤپدے وجه یوه مرحله پردوئ کی داسی راغله چی برطا نیے له دوئ نه دزیات ټیکس اخستلو مطالبه اوکړله ، نودامریکے اوسیدونکی یه مـخـی تـه اودریـدل چـی مـوژخـوټیـکـس نه درکؤ، اوددے په نتیجه کی دوئ آخری دافیصله اوکړه چی مـوژده بـر طا نیے نه جداکیژی اوځان له خپل خودمختاره ریاستونه جوړؤنوترقیامته دبرطانیے ترحکم لانـدی زنـد گـی نـه تیـرؤ ، نـوددے غـرض دپاره دوئ له برطانیے سره جنگونه اوکړل اودهغوجنگونوپه نتیـجه کی '' جارج واشنگټن '' کامیابه شودامریکے په باره کی یه ده علیٰحده حیثیت اعلان اوکړو، اود دے سره سره یـه دااعلان هم اوکړوچی دامریکے چی کوم مختلف ریاستونه دی دابه ټول موژځانته را یـو کـؤ او یـو نـوئ جـمـهـوری نـظـام بـه جـوړؤ ، ودے اعـلان تـه اعـلان آزادی [declaration of Independence] وایی ، پـدے کـی ده د ټولـوانسـانانودجمهوری حقوقواعلان اوکړو، اوددے اعلان آغـازددے جـمـلـونـه کیـژ ی چـی انسان دموردخیټی نه آزادپیداشوئدئے نوزکه چاته داحق نشته چی یـوانسـان دی دځـان غـلا م جـوړکـړی ، اودا هـغه جمله ده کومه چی حضرت عمرفاروقؓ حضرت عمروبن العاصؓ ته ویلے وه چی :

'' متیٰ استعبدتم الناس وقدولدتهم أمهاتهم احراراً '' (کنزالعمال ۱۲:٦٦ حدیث رقم ۳٦۰۱)

یـعـنـی تاسودکوم وخت نه داخلگ غلامان جوړکړل حالانکه ده دوئ مندوخودوئ آزاد پیدا کړ ی ؤ ؟ ویـل کیـژی چـی دااولنئ باقاعده لبرل سیکولرډیموکراسی ده چی په دنیاکی قائمه شوه ، چونکه یـورپ دامریکے نه کافی لیری ؤپدے وجه هلته دامریکی جمهوریت څه خاص اثرات اونه شو، اود لته چـی پـر خـلـگوکوم شئی اثرواچولو هغه دفرانس انقلاب دئے ، چی کله امریکے دخپلی آزادئے اعلان اوکـړ لونودهغے نه دوؤلس [۱۲]کاله وروسته دفرانس انقلاب راپیداشو، ددے ډیراوگدتاریخ دئے لیکن موژاوس ددے انقلاب مختصرخلاصه ذکرکؤ ـ

دویمه کارنامه دفرانس انقلاب

داداتلسمی صدئے ده اختتام زمانه ده تراوولس سوه نهه اتیاپوری ۱۷۸۹ء په فرانس کی اوپه ټول یورپ کی بادشاهی نظام ؤ، په هغه وخت کی دفرانس دبادشاه نوم" لوئی " ؤ پدے نامه سره ډیر بادشاهان اوحکمرانان ؤلیکن ددوئ نوبت بدلیدورابدلیدوداشپاړسم [۱٦]لوئی ؤ چی دچاپه هغه وخت کی حکومت ؤ ، اودے بادشاهانودخپلی مرضی مطابق شورئ جوړی کړے وے چی بے خوښه وه نور ااوبے غوختل اوچی بے نه وه خوخه نوبے مشوره نه ورسره کوله ، ددے لوئی مجلس شورئ هم پد ے طریقه سره وو چی دهغے نوم[senate general] وو ، اوداپردرے قسم طبقاتو مشتمله وه ، (۱) دکلیساارکان ، (۲) جاګیردار (۳) عوام اولس ، پدے درے حصوکی منقسمه وه اوددرے واړوا جلاس به ځان ځان له کیدواوپه درے واړوکی به دافرادوتعدا دسره برابرؤ ، اوس چی بے کله په مجلس شورئ کی یوقرارداد پاس ولونو هغه خبربه دکلیساافرادواوجاګیرداروپخپل مینځ کی ختم کړه اوعوام به سپینی سترګی پاتے شو،اوعوام به هم په باقاعده ډول سره دانتخاب په ذریعه سره مجلس شورئ ته نه راتلو بلکه دمختلفو حلقونه بے څه خلګ اوټاکل اوورشامله بیه کړو، نوپدے طریقه سره دعوا مو آواز څه اهمیت نه لرلو ـ

یوطرفته خوداصورتحال ؤ دویم دمجلس شورئ راغوختل دبادشاه خوښه وه چی بے خوښه وه را غو ختل بے اوچی بے نه وه خوښه نوبے بیانه راغوختل ، حتی چی تر ۱۷۸۹ء پوری دسینیټ دا جلاس یوسل شپاړس [۱۱٦] کاله شویؤ چی نه یه ؤراغوختئ ، خو چی کله دجمهوریت دفلسفے افکارپه خلګوکی خواره شونو هله بیادوئ دامطالبه اوکړله چی دسینیټ جزل اجلاس دی راا وغو ښتلئ شی ، بل خوابیادهغه وخت لوئی بادشاه په ډیره عیاشی اوفضول خرچی کی مشهوره ؤ دته دخپلوعیا شیودپاره دمزیدټیکسونوضرورت ؤ،نو چی کله خلګوده اجلاس دراغوښتو مطالبه اوکړله نوبس با دشاه پدے امیدسره داجلا س راغوختل مناسب اوګڼړل چی ددے په ذریعه سره به څه خپل ټیکس پر زیات کړم ـ

چونکه دمخکینیوتجرباتوپه رڼراکی دکلیساپه خلګواودجاګیردارانوپه حمایت سره داڅه ګران کارنه ؤ نوپدے خوشالئ کی بادشاه دسینیټ اجلاس طلب کړو، بس پدے اجلاس کی عوا مو شورجوړکړوچی دعواموتعدادخوډیردئ نوبیاخوداډیره لویه ناانصافی دچی زمو ژتعداد هم ددوئ نه کم دئے اواجلاسوته موهم نه راغواړی ؟ لهذازموژتعداددی ده کلیسااوجاګیردارانوسره برابرشی ،نو عواموددے مطالبے دپاره جلسے اوجلوسونه شروع کړل آخریه په بادشاه داخبره اومنله چی زه تعد اد درزیاته وم ، ددے نه وروسته عواموبله مطالبه شروع کړه هغه داچی داځان ځانله اجلا سونه دی ختم

شی بلکه ددرے واړواجلاس به پریو ځائے کیژی اوفیصله به داکثریت په خوښه سره و ی ، بس بادشاه دے خبری ته نشوتیارزکه چی هغه پو هیدلو چی ددے کارپه نتیجه کی عوام پرماغلبه مو می ، چی کله با دشاه ددے خبری منلوته نشوتیاربس عوامودافیصله اوکړله چی موژخپله قومی اسمبلی جوړه ؤ، دادقومی اسمبلئ لفظ ترټو لونه مخکی دهغ ځائے نه په وجودکی راغلو، نو عوا مودقومی اسمبلئ په نامه سره ځانله ایوان جوړکړوهغه اجلاس یه رااوغوختلو، اومطلب یه داؤ چی اوس زموژد کلیسااوجاګیردارانوسره څه کارنشته بلکه خپل اجلاس به په خپله کؤاوپه هغے کی چی موبیاڅه او غوختل هم هغه رنګه فیصله به کؤ ـ

بادشاه چی کله اوکتل چی اوبه خوترسررابره کیژی نوبس په داسی صورت کی خوبیابادشاهان اوحکمرانان دادسختئ طرف اختیاره وی ، نو چی کوم عمارت کی عوامواجلاس کولودهغه ګیر چا پیره یه فوج اودروه لو هغه ځائے تیه نه پریخودل ، بس عوامو هم خپله لاره بدله کړه او" ټینس کورټ" ته لاړ و چیرته چی دټینس ګین لوبه کیژی ، هلته کی دوئ خپله اجتماع رااوغوختله خپل اجلاس یه منعقدکړو، اوپه هغه اجلاس کی یه دملك دپاره یونوئ دستورپاس کړواودایه د " مو نټیسکو" د تفریق اختیارات دنظریے مطابق جوړکړلو چی هغه (۱)مقننه (۲)انتظامیه او(۳)عدلیه وه ، دادرے واړ ه یه جداکړل اوددرے واړ ه اختیارات یه په ځانله ځانله شعبوکی تقسیم کړل ، اووه هر فر دته یه دآزادی ورکولودپاره چی دبنیادی حقوقوکوم باب ؤ هغه یه تیارکړو، البته بادشاه یه نکړوختم په هغه دستورکی یه دافیصله اوکړه چی بادشاه به وی لیکن اختیاربیه صرف ترانتظامیے پور ی محدوده وی مقننه اوعد لیه به آزده و ی دبادشاه تراثرلاندی به نه وی ـ

دادفرانس اولنئ دستوردئے اودیته اوّلنئ جمهوریت وایی چی دے قومی اسمبلئ منظور کړ و ، اوچی کله ددے قومی اسمبلئ اجلاس کیدلو، پدے وخت کی ډیرلوئ هجوم دبادشاه پرمحمل با ند ی حلمه آورشولو، اوبادشاه تیه اوویلو چی قومی اسمبلئ ته لاړشه ، اوپدے طریقه سره یه بادشاه دخپل محل نه اوچت کړلوقومی اسمبلئ تیه اور سو لواودبادشاه په مو جودګی کی یه داټول دستور پا س کړواوبیایه ورته اوویل چی اوس پردے خپل دسخط اوکړه نودغه رنګه یه دبادشاه په دسخط سره دا دستورمنظورکړو، بادشاه چی کله دااوکتل نواویه ویل چی ځه صحی ده کم ازکم دانتظامیه اختیارات خوراته حاصل دی اګرکه دمقننے اوعدلیے اختیا ررا سره نشته ، پدے و جه یه داخبره غنیمت اوګنړه له اودسخط یه پرے اوکړو، وروسته دااوشو چی بادشاه ته ویره پیداشوه چی داخواولنئ قدم ؤ چی ځه یه دمقننه اوعد لیه داختیاراتونه محروم کړلم ، لیکن چی په کوم رفتارکی داسیلا ب روان دئے نو آخربده

انتظامیه اختیار هم رانه سلب کړی اودبادشاهئ نبه می هم محرومه کړی ، نوزکه دئے راپا سیدو او دا کا ریه اوکړوچی درپرده په پټه یه دجرمنی دبادشاه سره رابطه اوکړ له اوددے خبری انتظام یه اوکړلو چی د ضرورت پر وخت به هغه بادشاه خپل فوج را کړی اوځه به داخپل عوام په اوځپمه (یعنی دخپل ملك پرعواموبه حمله اوکړمه اوختم بیه کړم) ـ

دجرمنی بادشاه هم سوچ اوکړ و چی هوکه دابلاخوځماپرسرهم راروانده نوزکه دفرانس با دشاه دکو مك دپاره تیارشو، بس پدے منیځ کی انقلابی اوجمهوری خلگوته یعنی عواموته داراز خکاره شوده انقلابی خلگو هم داویناوه چی ده ځموژخلاف دجرمنی دبادشاه سره په پټه منصوبه جوړکړے وه ، اگر چی بادشاه دگرفتارئ نه و روسته ددے خبری نه منکرؤلیکن انقلابی خلگوبه ویل چی نه داحقیقت ؤ اوخپل دفرانس بادشاه یه گرفتاره کړوبندی یه کړو، دبادشاه په نیولوسره هغه مخکینئ دستورناکاره شوکوم کی چی دوئ دباد شاه وجودبرقراره پرے یخئ ؤ ، پدے وجه دوئ بیادقومی اسمبلئ اجلاس را اوغوختلو چی په هغه کی یه بیادویم دستورجوړکړو، اوپدے فیصله کی یه دانتظامیه ذمه داری دباد شاه پرځائے یوه کمیټئ ته او سپارله چی هغے تیه د " کنونشن "[convention] نوم ورکړو، د یته دویم جمهوریت وایی ـ

ددے کنونشن حکومت پرلوئی بادشاه دبغاوت مقدمه جاری کړله اوهغه جرم یه باندی ثابت کړوچی ددفرانس دعواموپه خلا ف دجرمنی دبادشاه سره پټه منصوبه جوړه کړے وه ، نوددے په نتیجه کی یه بادشاه ته سزائے موت ورکړله اوسریه ترے نه قلم (غوځ) کړونوپدے طریقه سره د شهنشاهیت خا تمه اوشوه .. ؟ اوس پدے پاته انقلابی خلگوکی خوجوش ؤلیکن هوش پکی بیخی نه ؤ نده حکومت چلولوتجربه ورتله اونه ددوئ پخپل مینځ کی دنظم اوضبط څه اصول ؤ اوپدیکی څه جذباتی قسم خلگو هم حصه واخسته ـ

زکه ددوئ پخپل مینځ کی اختلافات شروع شو چی دهغے په نتیجه کی ترډیری مودی پور ی ددوئ په مینځ کی خانه جنگی شروع وه دخونریزئ بازار یه گرم کړئے ؤ ، دلا قانونیت ژونداوزندگی وه ، تردے ځایه چی عواموا وویل چی هم هغه بادشاه راله خه ؤ ، آخرمجبوره شول اوانتظامی کارونه یه فوج ته اوسپارل ، په هغه وخت کی دفوج مشر " نپولین بو ناپارټ " ؤ چی مشهورفاتح دئے ،هغه دحکومت واگی په لاس کی واخستلے اوعوامودااولیدل نودکنونشن حکو مت ناکامه شواوایه ویل چی تردے خوبادشاه ښه ؤنوزکه یه دافوجی کس خپل بادشاه جوړکړوبس پد ے سره دوباره بیابادشاهت په وجود کی راغلو، عواموده پرسرباندی تاج کیخو دلواو خپل ټول اختیارات یه ورله ورکړل ددے نه

باوجود " نپولین " اوویل چی په ماضی کی څه اوشول دا ټول دانقلابیانودفکراوسوچ نتیجه وه نوزکه به څه دے خپل جمهوری فکرته دوام ورکوم ، بیا هغه یوکاردااوکړوچی خپل مینځی اختلافات اوجګړی یه ختمی کړلے اودبیرونی حمله آورانوسره یه جنګ اوکړو، " آ ستریا " چی ددوئ ډیرلوئ مقابل ؤ هغه تیه شکست ورکړواوترمصره یه ځان اور سولو۔

بل طرفته یه بیادجمهوری فکرده فروغ دپاره دخپلوملګرویوجماعت تیارکړو، ده ډیرملکونه فتح کړل لیکن چی کله یه دبرطانیه سره ټکرراغلونود " واټرلو " پرمقام باندی ډیره سخته مقابله او شوه خوپه آخرکی دا نپولین شکست خورده شو، اوددے شکست نه وروسته دده انتقال اوشو، بیادده نه پس دده ټول ملګری دانقلابی فکرخاوندان ؤ نوزکه دهغه په رحلت سره دوئ دوباره دجمهوریت بنیاد کیخودلو، اودیته دریم جمهوریت وایی ، نوپردے بنیادباندی مکمل جمهوری نظام قائم شو او بیاددے تراثرلاندی یعنی دفرانس تر اثرلاندی دیورپ په ټولوملکونوکی انقلاب راروان ؤ ، دفرانس دے انقلاب چی په یورپ کی کمواقداروته فروغ ورکړوهغه درے بنیاده ؤ !

(۱) دافرادوآزادی (۲) تفریق اختیارات ، (۳) د مذهب اوریاست تفریق ، ددے په نتیجه کی هم دا تصورات دیورپ په نورملکونوکی رائج شواولبرل ، سیکولرجمهوریت په ټوله دنیاکی متعارف شو، دادفرانس دانقلاب اودامریکے دانقلاب مختصرتعارف ؤ چی په دنیاکی دمروجه جمهوریت د قا ئمیدلوسبب جورشو ۔

دریمه کارنامه د فن تحریر اوزراعت ایجاد

ددے جمهوری اوډیموکراسی نظام دوئ یوه بله کارنامه هم بیانه وی هغه داچی دوئ وایی د حروف تهجی ا ، ب ، ت، ث ، او a , b , c ددے حروفو ایجادجمهوریت کړئدئے چی لیکل به څنګه کوے ،بل دوئ وایی چی دنهرونوایجادهم جمهوریت کړئدئے اوددے نهرونوپه ذریعه سره ده دجله فر ات پرکناروچی کومی علاقے وے داآبادی ولے ، اوبل یه زرعی خوشالیانی په خلګوکی راوستلے دی ، داټول کارونه دوئ دجمهوریت کمال اوکارنامے ګنړی خولیکن داټولی خبری غلطی اوبے بنیاده دی ،،

" أوّلاً " پدے وجه چی دزراعت ټولی ضابطے خوحضرت آدمؑ دځان سره دآسمان نه راوړے ولے زکه چی دهغه دمعاش ذریعه زراعت ؤ ، " ثانیاً " داچی دحروف تهجی اولیکلوترتیب خوحضرت ادریسؑ ایجادکړئدئے نوفن تحریرخودادریسؑ دوخت نه راروان دئے زکه چی هغه به دحروف تهجی در س ورکولو، " ثالثاً " بله کارنامه دوئ دنهرونوکړے وه نوداخوچی کله آدمؑ زراعت کولو نونهرونه به هم خا مخاورسره ؤ زکه چی دنهرواواوبونه خوعلاوه زراعت کیژی نه ، بلکه دټولو څیزونوتعلیم حضرت

آدمؑ دځان سره راوړئے ؤ زکه چی دده په هکله راځی چی ﴿وعلَّم آدم الأسماءَ کلها﴾ (البقره :۳۱)

اول حضرت آدمؑ ته اللّٰه ﷻ دهر څیز نمونه وراوخودل بیاده یادکړل اودنیاته یه راو ړلو نو دا کار نامے په اصل کی اللّٰه ﷻ دانبیاء کرامو په واسطه سره دنیاته رالیژلے دی اوس یه دوئ دے جمهوری نظام ته منسوبه وی ، اوبل که موژداکارنامے ورسره اومنو هم چی قبل الطون دنوحؑ قوم ایجادکړے و ے نو بیا هم اللّٰه ﷻ پرداسی کارونوباندی ردکوی اووایی چی ﴿یعلمون ظاهراًمن الحیٰوة الدنیاوهم عن الآخرة هم غافلون ﴾ (الروم :۷) ددنیوی فاتدے دپاره خوبیه څه کارونه کړی وی لیکن جمهوریت داخروی فائدوا وکار نامونه بلکل غافله دئے ،،

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه

۳جمادی الأولی ۱۴۴۱ھ بمطابق ۳۰، دسمبر ۲۰۱۹ء فی یوم الثلثاء

أفحكم الجاهليت يبغون ومن احسن من الله حكماًلقوم يوقنون (الآية)

طرز جمہوری نہ تاج وکج کلاہی چاہیے ::: ارے جسکے بندے ہیں اسی کی بادشاہی چاہیے (اقبال)

درس
جمهوريت
او
ڈیموکراسی
حصه پنجم

اضافه ترتیب وکتابت

حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه پنجم

پدے پنځمه حصه کی به دهغوادارو په باره کی بحث کؤ چی هغه ددے جمهوری نظام تراثر تحت قائمی دی نو چی کو موادارو ته په جمهوریت کی خصوصی اهمیت حاصل دئے هغه څلورادارے دی ۱:سیاسی جماعتونه ، ۲:انتخابات،۳:مقننه ،۴:دستور،، اوپه آخرکی بده جمهوریت دتعارف په سلسله کی خبره کؤ چی داجمهوری نظام فی الحال په کمو ملکونو کی ډیرزیات رائج اومستحکم دئے اودانظام دے ملکونوته په څه طریقه سره راغلودابحث بده " جمهوریت دعملی نظام " په عنوان سره کؤ ۔

(۱) سیاسی جماعتونه

دجمهوریت په بنیادی افکارواونظریاتو کی داخبره داخله ده چی مملکت وټولواوسیدونکوته دیوجماعت اوپارټئ جوړولو حق حاصل دئے ، اوپرهیڅ قسم جماعت باندی پابندی لګول ندی پکار، نو پدے وجه چی په کوم ملك کی هم کوم جماعتونه موجو ددی دهغوئ درے قسمونه دی ۔

۱ := دمشترکه مفادو,دحصول والاجماعت[Interest group]

یعنی هغه ګروپ چی دمشترکه مفادویامقصدحاصلولودپاره په وجودکی راغلئ وی ، لکه چی دیوخاصی پیشی والاخلګ دخپلو حقوقودتحفظ دپاره یادباهمی امداددپاره یوجماعت جوړکړی ، ددے ګروپ مقصددانه وی چی اقتداریاحکومت ته ځان او رسوی ، بلکه داقسم جماعتونه د غیر سیاسی مقاصدود پاره جوړیژی ، دعلم سیاست په اصطلاح کی داسی جماعتونوته " انټرسټ ګروپ " یاد " مشترکه مفادوګروپ " وایی ،

۲ := پریشرګروپ[presure group]

ددے جماعت مقصد هم اقتدارنه وی لیکن دادبهرنه پرحکومت باندی خپل دباؤ(پاور)اورعب اوچوی چی زموژفلانئ مطالبه منظوره کړئے یازموژفلانئ پالیسی دخپلی پالیسئ حصه اوګرځه وئ

۳ := سیاسی جماعت[political group/party]

سیاسی جماعت دهغوافرادوده مجموعے یادګروپ نوم دئے چی هغوئ دیوے خپلی خاصی پالیسئ دنافذه ولودپاره اقتداریاحکومت اوبادشاهی حاصلول غواړی ، اوپه جمهوریت کی دسیاسی پارټئ دجوړولو طریقه داوی چی څه خلګ اول داسوچ کوی چی دملك دپاره به کوم قسم معاشی یا معاشرتی پالیسی مفیده اوفائده منه وی ، بیاهغے پالیسئ ته دعملی جامے ورکولودپاره دوئ خپل یو

منشورتیا ره وی ، چی که موژحکومت ته اورسیدونوبیابه ملك دفلانی منشورمطابق چلؤمنشوردهغ دستاویز نوم دئے چی یوسیاسی جماعت یه دخپلو مقاصدودبیانولودپاره تیاره وی چی کله حکومت ورته ملا ؤشی نوبیابه په څه طریقه سره ملك چلوی ،بیاهغوئ نورخلگ دے خپل منشورته رامائله کوی اوپه خپله پارتیٔ کی دشامليدودعوت ورکوی بیاټول سره یوځا ئے شی چوکئ ته درسیدوکوشش کوی ، نو چی کله هغه جماعت خپل هدف ته اورسیژی بیادهغه دافریضه جوړیژی چی په کو م نامه سر ه یه ده خلگونه ووټ اخستئ ؤاوپه کوم نامه سرحکومت ته رسیدلی ؤ هم هغه منشوربه اوس په ملك کی نا فذه وی ـ

ددوؤسیاسی جماعتوپه مینځ کی عمومی فرق پدے منشورکی وی چی دیوه جماعت یو شا نتے منشوروی اودبل گروپ بیابل رنگه منشوروی ، کیه چیرته منشورسره یوؤبیادبل جماعت دجو ړ و لوجوازنشته په جمهوریت کی دسیاسی پارتیانواصل تصورهم دادئے ،لکه چی په پا کستان کی ده" پیپل " پارتیٔ منشورؤروټی ، کپړه ، مکان ، اواوس دعمران خان دپارتیٔ منشورؤاحتسا ب اخستل ، کرپشن اوکمیشن ختمول ، اودمذهبی پارتیانومنشوردئے اسلام نافذه ول ـ

دسیاسی جماعتونوپه مختلفوملکونوکی مختلف نظامونه رائج دی ، په بعضے ملکونوکی صرف یو سیاسی جماعت وی اود ے ته دوئ " یك جماعتی نظام " [one parry system] وایی ، دا اکثرپه کمیونسټ ملکونوکی رائج دئے اوهلته کی نوری پارتیانی په وجودکی نشی راتلئ اودبلی پار تیٔ جو ړول قانوناًمنع دی .. اوپه بعضے ملکونوکی بیاده دوؤ۲ جماعتووالانظام دئے ، پداسی ملکو نو کی دز یاتوپارتیانوپرجوړولوخوقانوناخه پابندی نه وی لیکن دمتعددوانتخاباتوپه نتیجه کی وړوکی وړوکی پا رتیانی یابلکل ختم شی یادومره غیرمأثرپاتے شی چی عملاًدامعلومیژی چی په ملك کی په حقیقت کی دی دادوه جماعتونه ، پدوئ کی بیاکله یوجماعت اقتدارته رسیژی اوکله بیابل په امریکه کی دا طریقه ده یودتورانوجماعت دئے اوبل بیادسروجماعت د ئے اوپه برطانیه کی هم داصورتحال د ئے ـ

اوپه بعضے ملکونوکی بیا " کثیرالجماعتی " نظام رائج دئے ، اوهلته بیاوړے اوغتی ټولی پارتیانی وی اوهره یوه پارتیٔ داقتدار ده حاصلولوکوشش کوی ، په جمهوری نظام کی خودډ یرو نظامو نوو جو دضروری ندئے لیکن عملاً داسی دی چی چیرته هم داجمهوری نظام وی نو هلته به داسیا سی پارتیانی ضرورپه کثرت سره موجودی وی، لکه په پاکستان کی یه تاسووینئ چی صرف دمذهبی جما عتونوتعداداتونهوته رسی ، دعلم سیاست دډیروما هرینوداوینادچی دسیاسی پارتیانووجودپه جمهو ر

یت کی مفید ندی بلکه مضردی لیکن نن په دنیاکی یوداسی جمهوری ملك نشته چی سیا سی پار ټیا نی پکی نه وی ـ

(۲) انتخابات

په جمهوری نظام کی داضروری دی چی حکومت بده انتخاباتوپه نتیجه کی اقتدارته ځان رسوی ، دد ے غرض دپاره دوئ اول دپارلیمنټ درکنیت دپاره انتخابات کوی ، بیاپه پارلیمانی نظام حکومت کی چی دپارلیمنټ داکثروارکانو حمایت کوم جماعت ته حاصل شی ،بس هغوئ به بیا حکو مت جوړوی عا م طورسره په جمهوریت کی دانتخاباتودوے ۲ طریقے دی ، (۱) بلاواسطه یابراه راست انتخاب ، (۲) با لواسطه انتخاب ـ

(۱) دبراه راست انتخاب مطلب دادئے چی هربالغ اوسیدونکی ته دی دووټ اچولو حق ور کو ل شی ، بیاکه هغه سړئے وی که ښځه ، که ځوان وی که بوډاوی ، که تعلیم قاری اوعالم وی اوکه جا هل وی ، او چی کوم امیدوار (کاندید)ده خپلی حلقے داوسیدو نکونه زیات اوټونه واخلی نو هغه به منتخب کیژی ـ

(۲) دبالواسطه انتخاب مطلب دادئے چی عوام دخپلواوټونوپه ذریعه سره دانتخاب کولوو الا انتخاب او کړی، یعنی عوام اول دداسی خلکوانتخاب اوکړی چی هغوئ دپارلیمنټ دغړی ودجوړی دو صلاحیت لری ، بیابه هغه منتخب شده افراددمقننے دپاره دممبرانوانتخاب اوکړی لکه څنګه چی دایو ب خان په دورکی دبنیادی جمهوریت نظام ؤ، چی په هغے کی به اول عوامودبنیادی جمهوریتودپاره د ممبر انتخاب کولو، بیابه هغو ممبرانودپارلیمنټ دافرادوانتخاب کولو، لیکن په موجوده وخت کی په دنیاکی دبلا واسطے انتخاباتو طریقه رائجه ده ـ

داوټ اچوونکی صفات اهلیت

بیاپه بلاواسطه انتخاباتوکی داوټ اچونکی دپاره داسی صفات ؤ چی دهغوصفاتوپه وجه سره به او ټر ته داوټ اچولو حق حا صل ؤ، پدے باره کی هم په مختلفوملکونوکی مختلف نظامونه را ئج ؤلکه په " سوئیټ زرلینډ " کی ترڅلوروپنځوکلونوپوری ښځوته داوټ اچولو حق نه ؤورکول شو ئے صرف سړ وبه اوټ اچولو، چی کله دښځوداوټ اچولوبحث اوشونوبیاښځوپخپله ددے نه انکارا وکړلو چی موژپه اوټونوکی حصه نه اخلو، اودازکه چی ددے په وجه به په کورونوکی جګړی او مخا لفتونه راپیدا شی او سیاست به کورونوته رادنه شی ، دازکه چی خاوندبه یوه سړی ته اوټ ورکوی دیوه

سړی سپوټ بـه کـوی اوخـزه به دبل کس حمایت کوی نوپدے سربه جګړی رامینځ ته شی ،لیکن ورو ستـه یـه بیـابنـځـوته هم هلته داوټ اچولو حق ورکړلو، اواوس په ټوله د نیاکی دبالغیت درائی پر بنیا ددا نتخاباتو نظام رائج دئے ، لهذا هربالغ کس داوټ اچولو حق لری ـ

دانتخاب عامه طریقه

بیـابه په عام طریقه انتخاب کی چی چاهم ډیراوټونه واخستل بس هغه به کامیاب ګنړل کیدو، اوچی بـه کـلـه امیـدواران ډیرؤنود هغـے نتیجه به په بعضـے وختونوکی داراوته چی هغه کس به هم کا میـاب ګنړل کیدوچی چابده خپلی حلقی داوټرانونه صرف دپنځلس فی صده اوټونه اخستی ؤ، اونو رد باقی پنځه اویاکسانواوټونبه ضائع شو اوهغه پدے وجه چی دوئ به مختلفوامیدوارو (کاندیدونوته)او ټونه ورکړی ؤ چی په هغـے کی به یوه هم پنځلس فیصده اوټ نه ؤ حاصل کړئـے ، اوصرف یوه امید وار تبه ډ یر یعنی پنځلس فی صده اوټونه حاصل شوے ؤ، نوصرف دپنځلس فیصده کسانوپه اوټو نو سره بـه یـوکـس دټـولـی علاقـے نمائند ه جوړشولو، اوددے په مقابل کی به پنځه اویاکسانوبه ددے کس نما ئـنـده ګی تسـلیـمـول نه غوختل لیکن بیابه هم داامیدوار پدے وجه کامیاب ګنړل کیدوچی دبه دهانو روپـه مقابله کی ډیراوټونه اخستی ؤ، نوعام طریقه انتخاب بده عوامودحقیقی نمائند ګی عکا سه نه وه ، اوډیرکله داقلیت والاپارټیانی پراکثریت باندی حکمرانی کوی ـ

دوه ځله انتخابات

ددے خرابئ دلیری کولودپاره ډیروملکونو مختلفی طریقـے اختیارکړلـے ، نوفرانس ددوه ځله انتـخا ب[second ballot] والانـظام رائـج کـړو، ددے مـطـلـب دادئـے چی که چیرته یوکس دخپلی حـلـقـے نـه یـوپـنـځـوس اوټـونـه اخستـی وی نـو هـغـه به هم کا میابه وی ، اوهغه زکه چی پردے امید واردهـغـے علا قـے داکثریت اعـتمـاددئـے ، خوکه به بالفرض یوه امیدوار" کاندید" هم یو پنځواوټونه نه واخستـل نـو بیـابـه دویـم ځـل بیـاانتخاب کیدو،اوپدے دویم ځل کی به صرف هغه کسان اودریدل چی کـوم چابه په اولنی انتخاباتوکی تردوولس نیم فیصدنه زیات اوټونه اخستی ول ،چی چابه تردے نه کم اوټـونـه اخستـی ؤنو هغه بیاپه دویم ځل کی نشواودریدئـے ، نوپدے دویم ځل کی چی به کوم چا ډیر او ټونه واخستـل بس هغه به اووه تلو ـ

دمتناسب نمائندګئ نظام

دانتـخاباتودرے یمه طریقه د " متناسب نمائنده ګئ "[proportionate representation] ده ، اودد ے هـم یـو ځوصورتونه دی ، یوصورت خویه دادئـے چی کوم " بیلټ پیپر" شائع کیژی نوپه هغه

کی دامیدوارانو نومونه نه وی بلکه دپارټیانو نومونه وی اوتصویرونه (عکسونه)یه وی، او خلکوته وایی چی تاسوکومه پارټۍ خوښه وئے نودهغے مخی ته نشان اولګوئ ، بیادانتخابا تونه پس دادوئ ګو ری چی کومی پارټۍ په ټول ملك کی څومره فیصداوټونه اخستی دی ؟ اوبیا چی کومه پارټۍ هم څومره فیصداوټونه واخلی نوداوټوپه مقدارسره بیاپه اسمبلۍ کی هم هغومره فیصد سیټو نه ورکوی ، مثلًا که یوے پارټۍ دیرش [۳۰] فیصده اوټونه واخستل نودوئ تبه په اسمبلۍ کی هم دیر ش فیصده سیټو نه ورکوی ، بیادانتخاباتونه وروسته دے پارټۍ ته وایی چی په اسمبلۍ کی دیرش فیصده ستاسو حق شواوس خپل نمائنده ګان مقررکړئے اوموژتیه رااوخاییی چی داسمبلۍ ممبران یه جوړکړو،،

البته په بعضے ملکونوکی بیاداکیژی چی یوه پارټۍ دانتخاباتوپه وخت کی دخپلو ممبرا نو نومونه پیش کړ ی چی موژدادامبران جوړه ؤنوپدے طریقه سره دامیدوارانویولسټ تیارکړی چی دو ئ په ترجیحی بنیا د سره پرهغه باندی عمل کوی ، مثلًاپدے لسټ کی یوے پارټۍ پنځوس نمونه او لیکل اوس که هم دے پارټۍ اوټ هم پنځوس فیصده واخستونواوس بدا پنځوس سره کسان داسمبلۍ ممبران ټاکل کیژی ، او کیه چیرته تردے نه کم اوټونه اخستی ؤنوبیابه په هم دے تناسب سره دبره والا نوم اخلی اودالاندی نی به پاتے وی ، لیکن پردے طریقے به هله عمل کیژی چی کله انتخابات دسیا سی جماعتونوپربنیاداو شی ـ

اوپه بعضے وختونوکی بیاوه پارټیانوته دترجیحی حق ورکولونه پس عواموته داحق ورکوی چی هغو ئ خپله متبادله را یه استعمال کړی ، مثلًاپه یوه حلقه کی ډیرامیدواران کاندیدونو ولاړدی نواوس به عواموته اووایی چی پدے ټولوامیدوارانوکی صرف پردروکسانوباندی ترجیحی نشان او لګوئ بیاپه د ے درے واړوکی تاسواوله ترجیح کوم یوه ته ورکوئ دویمه ترجیح اودغه شان دریمه تر جیح نوپدے اعتبارسربه ده یوه یادوه یادرے نشان لګوی ، دهغے نه پس به دااعلان اوکړی چی که په فلانۍ حلقه کی تردیرش زره اوټونونه چاکم اخستی ؤنو هغه به ناکام ګنړل کیژی ، بیاده شمارلوپه وخت کی داګوری چی کوم کاندیدپه اوله ترجیح کی دیرش زره اوټونه اخستی دی نوبس هغه به کامیابه هم و ی ، اوکدے امیدوارتردیرش زره نه زیات اوټونه اخستی ؤنو هغه زیاتی اوټونه به خودبخود هغه بل امیدوارته منتقل شی ودے نظام ته دوئ د " واحدقابل منتقلی اوټ "[single transferable vote] والاطریقه وایی ـ

یعنی اوټ خویودئے لیکن هغه په متبادل طریقه سره دیوه کس نه بل کس ته منتقل کیژ ی ، نودسا ده اکثریت په انتخابی نظام کی چی کومه خرابی ده چی داقلیت په اوټ سره سړئے منتخب

نـمـائـنـده جـوړشـی او حـکـمـرانـی کـوی ، نـوددے خـرابـی دلـیـری کـولـودپـاره دوئ داطـریـقـه پـه مـختـلـفـو مـلـکـونـوکـی اختـیـارکـړے ده ،لیکن ددے مشکل دحل کولودپاره پدوئ کی یونظام هم په مـکـمـلـه ټـولـه کامیابی نده ترلاسه کړے بلکه داقلیت په اوټ سره کامیابیدونکی هم پد ے نظا مونو کـی مـوجـوددی ، اوپـدے نظامونوکی پیچیدگی هم زیاته ده اوچی څومره کړکیچ زیات وی نو هغومره بـده دانـدلـیـانـواو زیـاتوب امکانات هم زیات وی ، اوپدے طریقوکی مصارف اخراجات اوخرچے هم ډیر لـگـی اوتـرډیـره وختـه دا غیر یقینی کیفیت جاری وی دهغـے نه پس هم دانه وایی چی پدے طریقه سره سوفیصدنمائنده گی حاصله شو ه ـ

(۳) مقنّنه

دجمهوریت قائم کرده دریمه اداره ته مقننه[legislature] ویل کیده ، دااداره په دے جمهو ری نـظام کـی تـرټـولـونه زیاته اهمیت لری دمقننـے لفظی معنی ده د " قانون جوړولووالامجلس " ودے ادا رے تـه " پـارلـیـمنټ " یا " اسمبلی " هم وایی ، ده پارلیمنټ معنیٰ ده هغه ځائـے چی په هغه کی خلگ کیـنـی او مباحثه کوی اوداسمبلئ معنیٰ ده " اجتماع گاه " ددے ادارے بنیادی کار قانوسازی ده چی په مـلك کـی بـه کـوم قـانـون نـافـذیـژی ؟ نـوپـردے خبره دااداره بحث کوی ، بیاچی کوم قانون ته داکثریت حـمـایـت حـا صـل شی نو هغه قانون بیامنظوره وی اونافذه وی یه ، اوددے نه علاوه دااداره دحکومت پر پالیسیا نو هم بحث کوی اوپه جمهو ری نظام کی داترټولونه بالاتره اداره گنړل کیژی ، بیاپدے جمهوری نـظام کـی د مقننـے دوه قسمه نظامونه مشهوردی ، یوته یك ایوانی مقننه وایی اوبل ته دوایوانی مقننه وا یی ـ

(۱) دیوه ایوانی مقننـے نظام

دے نـظام ته په انگریزی کی [unicameral] وایـی ، دابـلـکـل ظا هراوواضح نظام دئـے چی په مـلك کی به دحکومت ده چلولودپاره یوه مقنّنه موجوده وی هغه به قانون سازی کوی اوچی کوم قانون هـم هـغـه مـنـظـورکړی نو هغه قانون به بیاپه ملك کی نافذیژی هم .. ددوؤ[۲] ایوانی مقننـے نظام ته په انگریزی کی [bicameral] وایـی ، پـدے نظام کی بیادوه نورایوانونه دی چی یوه ته ایو ان زیرین وایی اوبل ته ایوان بالاوایی ـ

ایوان زیرین :

دالکه چی په پاکستان کی ورته " قومی اسمبلی " وایی په برطانیه کی ورته " دارالعوام " وایی ، په انډیا کی ورته " لوك سبا " وایی اوپه امریکه کی بیاورته " کانګریس " وایی ،،

ایوان بالا:

دابیالکه چی په پاکستان کی ورته " سینیټ " وایی ، په برطانیه کی ورته " دارالامراء " وایی ، په انډیاکی ورته " راجیه سبا " وایی، اوپه امریکه کی ورته هم " سینیټ " وایی،،،

اوس سوال داپیداکیږی چی ددوؤایوانوڅه ضرورت دئے ؟ نوددے وجه بیادوئ دابیانوی چی په ایوان زیرین کی نمائنده ګان دبالغی رائے پربنیادباندی اوعموماً په جماعتی نظام کی دننه منتخب شی او بیا راځی دصلاحیت پربنیادباندی نه منتخب کیږی بلکه دجماعت اوپارټئ پربنیادباندی منتخب کیږی ، نوهادخپلی پارټئ په وجه سره په دوئ کی جذباتیت څه زیات وی ، اودخپل سیاسی جماعت دزورپه وجه سره څه مغلوبه وی ، نوزکه ددوئ متعلق داخبره څه لیری نده چی دجذباتوپربناء به داسی قا نون جوړکړی چی هغه قانون بده ملك دپاره مفیدنه وی ـ

زکه دوئ ته دیوے بلی هم داسی ادارے ضرورت شته چی دهغے تشکیل دایوان زیرین نه څه پرمختلف طریقه سره وی ، اوچی ایوان زیرین کوم قا نو ن پاس کړی نوپرهغه قانون به بیاایوان بالانظر ثانی کوی ، اوبیابه دډیرغوراوفکرنه وروسته هغه قانون نافذه وی ، اودازکه چی یوقانون د جلدبازئ اوجذباتیت تحت جوړنه شی، نواصل تصورخوداؤ چی پر کومه موضوع باندی قانون سازی کیږی دهغے موضوع یوماهرهم په بعضے وختونوکی په ایوان ز یرین کی مه وئے ، اوپه ایوان بالاکی بیادزندګئ دهری شعبے سره تعلق لرونکی ماهرین واخلی نوچی کله ایوان زیرین یو قانون جوړکړی اوپاس یه کړی بیابه دادایوان بالاماهرین پرهغه قانون باندی نظر ثا نی اوکړی اوپه فنی نقطه نظرسربده هغه قانو ن څیړنه اوکړی اوکه پهغه کی ترمیم ضروری اوګنړی نو بیابه ایوان زیرین ته دترمیم مشوره ورکړی نوکه په ایوان بالاکی علمی او فنی صلاحیت واقعةً معیارجوړکول شی نوبیادایوان بالا ضرورت هم قابل فهم دئے لیکن عموماًداسی کیږی نه ، بلکه ډیرملکونه داسی دی چی په هغوئ کی دایوان با لارکان ده دے نه علاوه پربل معیارمنتخب کوی چی دهغے دپاره بیاجداجداطریقه کارمقرری دی نوز که دایوان بالادامذکوره فائده ظاهراً نه خکاری ،،

دایوان بالادجوازدویمه وجه دوئ دابیانوی چی کوم ملك تریوه نه پرزیاتوصوبوباندی مشتمل وی اوپه هغو صوبو(ولایتونو) کی علاقائی ثقافتی یالسانی اختلافات موجودوی ، نوداخوښکاره خبردچی په هغوئ کی به بعضے صوبے وړوکی وی اوبعضے به بیاغټی وی ، لکه چی په پاکستان

کی پنجاب لو یه صوبه ده اوسنده اوبلوچستان وړے صوبے دی ، اوپه ایوان زیرین کی خودآبادئ په لحاظ سره نما ئنده ګان منتخب شی اوبیا هلته ځی ، ددے نتیجه داراوځی چی دوړوصوبو نمائنده ګان کم وی اودلویوصوبو(ولایتو)افرادبیا ډیروی ، نوپدے صورت کی داکیدئشی چی دغتی صوبے نمائنده افراد یو داسی قانون پا س کړی چی هغه قانون بده وړوصوبودمفادوخلاف وی ، اودوړوصوبو نمائنده ګان خوبه لژوی نوزکه بده هغوئ رایه قابل تسلیم نه وی بلکه مسترده کیژی به ،نوزکه داایون بالاداسی کیدل پکا ردی چی پکی دټولوصوبونمائنده ګی برابره کیژی ، ده آبا دئ پربنیادبه نه وی اودازکه چی هلته بیا دلو یوصوبونمائنده ګان دخپلی خوښئ کارونه نه کوی ، اوپه موجوده وخت کی چی په څومره ملکو نو کی دادوه مقننه نظام دئے نودهغے مطلب هم دادئے چی دوړوصوبودمفادوتحفظ اوشی ،،

خودادایوان بالادتحفظ خبری ده خولے زبان ترحده پوری دی په حقیقت کی دخپلو اختیاراتو په اعتبار سره داایوان بالاډیرکمزورئ دئے نوم خویه دایوان بالادئے لیکن په حقیقت کی ترایوان زیرین ډ یرکم تردئے ،په اکثروملکوکی داکیژی چی ایوان زیرین کوم قانون پاس کړی نو هغه قانون بیادوئ ایوان بالاته وړی نوسوچ اوفکرنه پس که هغوئ داقانون صحی اونه ګنړی نوبیادایوان بالازیات نه زیات اختیارات تردے حده دی چی داقانون به دوباره ایوان زیرین ته لیژی اوردکولئ یه نشی ، اوس که ایوان زیرین دغوراو سوچ نه پس دویم ځل بیاداقانون پاس کړونوبس بیابه منظوریژی ایوان بالاتیه دوباره نه لیژی ـ

لیکن په پاکستان کی ده نوروملکونوپه نسبت دایوان بالااختیارات څه زیات دی ، داتم تر میم په ذریعه سره چی دایوان بالاکوم تشکیل شوئدئے په هغه کی یه دایوان بالااختیارات زیات کړیدی ، مثلًا لکه چی په سینیټ کی یه دوه مصلحتونه سریوځائے کړیدی ، یوطرف تیه ده صوبودنمائندګئ د مصلحت لحاظ ساتلئ دئے ، اوبل طرف تیه دسینیټ دبعضوکسانوانتخاب پرعلمی بنیاداودما هرفن کیدلوپربنیادایخئ دئے اودهغوئ دپاره یه څه سیټونه مخصوص کړیدی ، دویم داچی په پاکستان کی دیوقانون د جوړیدوابتداء هم دسینټ نه کیژی ـ

حالانکه په عمومی ډول سره خودقانون ابتداء دایوان زیرین نه کیژی ، اوچی کله یوقانو ن پاس شی نو هغه بیاسینټ ته لیژی ، په پاکستان کی چی لکه څنګه دیوقانون بل قومی اسمبلئ ته وړی هم دغه شان یه سینټ ته هم وړه لئ شی ، اودغه نګه که دلته کی ایوان بالادایوان زیرین یوقانون پاس کړی نو هغه به نافذیژی ، اوکه په هغه قانون کی څه قسم ترمیم او کړی نو هغه قانون به بیادوباره ایوان زیرین ته وړی که هغه داترمیم منظورکړلوخوصحی ده هغه قانون به نافذ شی اوکه هغه ترمیم نشی

منظورنوبیابه ددواړوایوانونویومشترکه اجلاس کیژی نوپدے اجلا س کی که هغه قانون په اکثریت سره منظورشونوبیابه نافذکیژی نوپه پاکستان کی وه ایوان بالاته دنو روملکونودایوان بالاپه مقابله کی ډیراختیارات حاصل دی ،

ددنیاپه ډیروملکونوکی ددوؤایوانووالانظام شته دے چونکه دانظام اکثریت خپل کړئدئے هم داوجه ده چی دعلم سیاست ډیر مصنفین تنقیدپرے کوی خولیکن ددے نظام خلاف جرأت پکی نشته چی څه اووایی ، نوزکه داده دوؤایوانی نظام جاری سا تل پکاردی ، لکه چی موژاول اووه یلو چی په جمهوری نظام کی "مقننه" ترټولونه اعلیٰ ترینه اداره ګنړل کیژی اوپه جمهوری نظام کی مقننه معصوم عن الخطاء متصورکیژی ، ګویاکه ددوئ په نزدله مقننے نه څه غلطی نه کیژی ـ

البته پدے هکله په بر طانوی اوامریکی نظام کی څه فرق شته ، په برطانیه کی چی پار لیمنټ کله یوقانون جوړ کړونو هغه قانوبیایوه اداره هم نشی چیلنج کولئ اودازکه چی ددوئ په نزد خودپارلیمنټ اومقننے نه څه غلطی اوخطاء نه کیژی .. اوپه امریکه کی اګرچی پارلیمنټ بااختیاره ادا ره ګنړل کیژی خوبیا هم که یوکس هغه قانون دد ستورخلاف ثابت کړی یایه ده بنیادی حقوقوخلاف او ګنړی نو هغه قانون به بیاپه عدالت کی چیلنج کیدلئ شی ، اوکه چیرته عدالت هغه قانون دملکی آئین یابنیادی حقوقوخلاف اوګنړی نودپارلیمنټ هغه قانون بیاکالعدم کیدئ شی ، ودیته دعدالتی نظرثانی[judicial review] نظام ویل کیژی ـ

په پاکستان کی هم چی کوم د" ډیشل ریویو " نظام نافذدئے ، نولهذاکه چیرته یوقانون پار لیمنټ پاس کی اوهغه ددستوردیو ے دفعے خلاف وی یادبنیادی حقوقوخلاف وی نوداسی قانون بیا عدالت عظمیٰ چیلنج کولئ شی اودافیصله کولئ شی چی دا قانون غلط دئے دهغے نه پس بده پار لیمنټ جو ړکو ل شوئ قانون کالعدم ګرځی ـ

انتظامیه

چونکه مونټیسکودتفریق اختیارات په نظریه کی درے قسم اختیارات ذکرکړی ؤ په هغوئ کی د مقننے بیان اوشوپاتے شوانتظامیه اوعدلیه نوزکه څه مناسب ګنړم چی دهغودوؤ هم څه مختصرقسم بیان اوشی ، نودویم قسم انتظامیه وه ددے بیا دوه قسمونه دی (۱)سیاسی انتظامیه (۲) غیرسیاسی انتظامیه ـ

۱ : دسیاسی انتظامیه نه مراددحکومت هغه افراددی چی هغوئ دانتخاباتوپه ذریعه سره کر سئ او چو کئ ته ځان رسوی نودوئ باقاعده ملازمان نه وی بلکه دانتخاباتوپه ذریعه سره بر سرا قتدار

راځی ، او دا نتخاباتوتروخته بیاخپلی ذمه واریانی پوره کوی ، لکه وزیراعظم اودوزراؤکابینه شوه ودیته سیاسی انتظامیه وایی ،،

۲ : اوغیرسیاسی انتظامیه بیا هغه ده چی پرسرکاری ملازمانو مشتمله وی لکه چی دوزارتو نوسیکټریان دی ،دمحکموسربراهانو دی ، نوداټول تنخاداره دی تنخاګانی اخلی نوددے خلګو تعلق دا نتخا با توسره نه وی بلکه ددوئ ذمه واریانی په هرحکومت کی جاری وی،ددے هری انتظامیے دپاره په دستورکی خپل اصول اوضوابط موجوددی ، چی حکومت به څنګه جوړیژی اختیارات بیه څنګه وی ؟ دسرکاری ملازمینوتقرربه پرکوم بنیادباندی کیژی ؟دملازمت دشرائطوبه څه اصول وی ؟

داټولی خبری په دستورکی شته ، په عمومی ډول سره سرکاری ملازمانوته آئینی تحفظ ورکو ل شوئدئے چی دیومعقولی وجهی نه بغیربیه ملازمت نه ختم کیژی ، نوهم پدے وجه سیاسی حکو متونه بدلیژی را بد لیژی اوملازمان پرخپل ځائے برقراره اوسی ، اوپه بعضووختونوکی پرحکومت با ندی ددوئ ګرفت دو مره سخت شی چی دحکومت پرفیصلواثراندازه اوګرځی ، نوزکه په دا سی صور ت کی بیاده دوئ ده دے اثرتعبیرپه افسرشاهی یانوکرشاهی باندی کیژی چی په انګریزی کی ورته " بیوروکریسی " وایی اوده دے اجمالی تفصیل مخکی تیرشوئدئے ـ

عدلیه

دتفریق اختیاراتوپه اقساموکی دریم قسم عدلیه وه دعدلیے آزادی هم دجمهوریت دبنیادی اصولونه دنوزکه په دستورکی ده دے تفصیل شته چی دعدلیے افرادبه څنګه ټاکل کیژی ؟څوك به ددوئ تقررکوی ؟ ددوئ دملازمت به څه شرطونه وی ؟ اودسرکاری دباؤنبه ددوئ دآزادئ څه صورت وی ؟په جمهوری نظام کی ددے خبری کوشش دوئ کوی چی دجج تقرراوخاص کرداعلیٰ عدا لتونو د ججانوتقرردی دانتظامیے ددباؤنه بهرپه آزادانه توګه اوشی ، اوپه امریکه کی ددے دپاره د سینټ منظوری لازمی ده ، دسینټ دمنظوری نه علاوه د ججانوتقررنشی کیدئ ـ

لیکن په ډیرو ملکو نوکی بیا داسی نه وی بلکه وزیراعظم اوصدرخپله دججانوتقررکوی ، البته داخبره پکی وی چی دکوم جج تقرر چی باقاعده کیژی نودهغه معزوله کیدوحق به انتظامیه ته نه وی دازکه چی که چیرته دئے ده انتظامیه خلاف یوه فیصله اوکړی نو هغه بے معزوله کړی نوجج تبه داخوف اوویره نه وی چی انتظا میه به مامعزوله کړی ، نوپه دستورونوکی ددوئ دمعزوله کیدوجداجداطریقے دی ، په امریکه کی ججان د سینیټ په ذریعه سره معزوله کیژی ، په پاکستان کی یو" سپریم جوډیشل کونسل " جو ړ شوئدئے دهغه مقصددادئے چی که د یوجج خلاف یوالزام وی

نـودهغـه بـه دوئ تـحـقـیـق کـوی کـه چیـرتـه هـغـه الـزام دده په حق کی صحی ؤنوبیادوئ دهغه جج ده معزولئ اختیارلری البته ده دے خبری کوشش کوی چی تحفظ ورکول شی ـ

اودغـه رنـګـه پـه دسـتـورکـی پـه عام ډول سره دفوجونو متعلق هم قواعداوضوابط شته اوداهم پکی شته چی دحکومت اخراجات به پرڅه بنیادباندی وی ؟بجټ به څنګه جوړیژی اودهغه به څه اصول وی ؟

(۴) دستور

دجمهـوریـت پـه اداروکـی څلورمه اداره دستورؤنواوس ددے آخری قسم متعلق هم څه محث کـؤ، د جمهوری حکومت اومطلق العنان حکومت په مینځ کی بنیادی فرق هم دادستوردئے چی مطلق الـعـنـا ن حـکـومـت دڅه دستوراوقانون پابنده نه وی ، اوجمهوری حکومت ددے خبری پابنده دئے چی خپـل نـظام حکومت ددستوراوقانون مطابق اوچلوی ، په عام ډول سره خلګ د " دستور " او"قانون" په مینځ کی فرق نه کوی ـ

حـالانـکـه ددسـتـوراوقـانون په مینځ کی فرق شته اوهغه په دے طریقه سره چی " دستور " هغ دستـاویـزتـه وایـی چـی پـه هـغـه کی دحکومت دچلولوقواعداوضوابط لیکلی وی ، نو ګویاکه دستورد حکومت قانون شو، اوحکومت بده هغه قانون تحت چلوی ، مثلاً پدے کی دالیکلی وی چی دمقننے څـه اختیـارات دی ؟ دانتـظـامیـے څه اختیارات دی ؟ دصدراووزیراعظم څه اختیارات دی ؟ ا نتخابات به څـنـګـه کیـژی ؟ مـقننه به یوایوانی وی کبه دوه ایوانی ؟ داخراجاتو کولوبه څه طریقه کار وی ؟عدلیه به څـنـګـه پـه وجـودکـی راځـی اودعـدلیـے بـه څه اختیارات وی ؟ نوداټولی خبری په دستورکی شته دی ، اوقـانـون خـودعـوامـودپاره وی چـی عـوام بـه خپـل مـعـامـلات دکـموقوانینولاندی سرته رسوی ، بیا د ستورهم پردوه قسمه دئے یوته " وحدانی دستور " وایی اوبل ته " وفاقی دستور " وایی ، ـ

(۱) وحدانی دستور[unitary]

ددے مـطـلـب دادئـے چـی دټـول مـلـك دپـاره بـه یوه "مقننه"وی اودهغـے چی کومی علاقائی وحـدتونه د ی بیاکه هغه دصوبو(ولا یتو)په شکل کی وی اوکده ضلعو(اولس والیو)په شکل کی وی او یـاده مـلـکو نو په شکل کی وی ،ددے وحدتونو څه ځانته حکو مت اومقننه نه وی ، بلکه دټول ملك یو حکومت یوه مقننه یوه انتظامیه اوهم یوه عدلیه وی ، دټول ملك نظام دمرکزنه چلیژی اوټولی علا قے هم ده د ے حکومت لاندی وی ـ

اوانتظامی وحدتونه لکه صوبے ،ضلعے اوملکونه ریاستونه وغیره ددے تو لودنظام د چلو لودپاره یه سرکاری ملازمین مقررکړیوی ، لکه چی دخارشهرده انتظام دپاره چی "کمشنریاډپټی کمشنر"وی ، هغه دښارحاکم ګنړل کیژی ،هغه سیاسی حکمران نه وی بلکه سرکاری ملازم وی ، دغه ر نګه که چیرته ډیری صوبے وی نودهری صو بے سرکاری ملازمان دهغه ځا ئے نظام چلو ی ، لیکن د هغوئ نه ځانله خپله اسمبلی وی ،نه کابینه وی، اونه یه ځانله یوسیاسی وجودوی ، داده وحدانی دستو رطریقه ده ، په عمومی لحاظ سره دانظام په هغوملکونوکی وی چی په کوموملکونو کی صوبے کمی وی ، یادیوملك ټول خلګ (وګړی)دیوے نظریے خاوندان وی ، چو نکه ددوئ دمفا داتوپه مینځ کی څه قسم حائل نه واقع کیژی نوزکه هلته وحدانی دستوراختیاره وی .. په برطانیه کی هم دا"وحدانی نظام حکومت"دئے حالانکه مختلف علاقائی وحدتونه شته دی، اودمختلفوعلاقوپه ثقا فت کی ، دزبانوپه لهجوکی ، اودزندګئ په تیرولوکی یه هم فرق شته ، لیکن هغه ټول خلګ دیوه نظام فکرپابندخپل ځانونه ګنړی نوپدے وجه هغوئ پخپل ملك کی دوحدانی دستو رطریقه اختیاره کړے ده ـ

(۲) وفاقی دستور

داوفاقی دستوربیا هلته وی چی کوم ځائے کی په یوه ملك کی متعددعلاقائی وحدتونه وی ، ددے وفاقی حکومت اصل تصو رپدے ډول پیداشوئے ؤ چی په ابتداء کی بده هرعلاقائی وحدت ځا نله خپل حکومت ؤ، بالفاظ دیګرهری صوبے به ځانله دمستقل ملك حیثیت لرلو، لیکن وروسته بیا داحکومتونه ټول سره یو ځائے شواویواتحادیه اوکړوچی وه هغه تیه دوفاق نوم ورکړو، پدے طریقه سره یومرکزی حکومت جوړشوچی هغه تیه دوفاقی حکومت نوم ورکړو،اودهری صوبے یه ځا نله یوذ یلی حکومت قائم کړواوهغوئ پخپل مینځ کی اختیارات تقسیم کړل ، لیکن چی به په کمو ځا یو کی دابتداء نه غټ غټ حکو متونه راروان ؤاوپه هغوئ کی به دصوبوپه شکل کی واړه واړه علاقا ئی وحدتونه ؤنو هلته یه هم داوفاقی دستوریاوفاقی نظام جا ری کړو ـ

نودوحدانی طرزحکومت پر ځا ئے یه ددوئ دمطمئن کیدودپاره وفاقی طرزحکومت اختیاره کړو، اودازکه چی هره صو به داخبر محسوسه کړ ی چی زموژځانله یوخپل آوازدئے اوځانله خپل تشخص لرو، نوپدے طرزحکومت کی یووفاقی حکو مت وی چی هغه ته مرکزی حکومت وایی اوبل دهری صوبے خپل حکومت وی چی ورته صوبائی حکومت وایی ، لکه په پاکستا ن کی دپنجاب حکومت ځانله دئے دسنده غه ځانله دبلو چستان غه ځا نله اودسرحد(خیبرپختونخوا)غه ځانله دئے دے ته صوبا ئی حکومتونه وایی، ده دوئ اسمبلیانی ځا نله وی کابینے یه ځانله وی اوانتظامیے یه هم

ځان له وی ـ

په دستورکی داخبره لیکلے شوے ده چی په کومو معاملاتوکی بده قانوسازئ حق وفاق ته و ی اوپه کومو معاملاتوکی به بیا صو بوته وی ، ددے غرض دپاره په بعضووختونوکی په دستورکی د قانون سازئ اختیارپه وفاق او صوبو دواړوکی د تقسیمولودپاره دقانون سازئ دمعامعاملاتوجدا جدا فهرستونه جوړول کیژی چی پدے معاملاتوکی به قانون سازی وفاق کوی اوپدے کی بیه صوبے کو ی ، اودا داسی معاملات دی چی دوا ړه قانون سازی پکی کولئ شی ، په پاکستان کی ددستوردوه فهر سته دی یووفاقی فهرست اوبل مشترکه فهرست ، په وفاقی فهرست کی هغه اموردرج دی په کوموکی چی صرف وفاق قانون سازی کولئ شی ، اوپه مشترکه فهرست کی بیاهغه اموردی چی وفاق اوصوبه دواړه پکی قانون سازی کولئ شی ، ده دینه علاوه چی نورڅومره اموردی نوپه هغوټولوکی دقانون سا زئ اختیارات زیاتره ده صو بو سره دی ، اوس چی ده کومو صوبودطرف نه دصوبائی خودمختارئ مطالبه کیژی نودهغوئ مطالبه هم داده چی مشترك فهرست دی ختم شی اوپدے معاملاتوکی دی هم دقانون سازئ مکمل اختیار صوبوته ور کو ل شی ، اوپه هغومعاملاتوکی دی دوفاق هیڅ قسم اختیارنه وی لیکن اوس په اتلسم ترمیم کی یه دا مشترك فهر ست ختم کړئدئے ،، موژمخکی اوویل چی ددستوردوه قسمونوه دی " وحدانی دستور" "وفاقی دستور" هرملك ده خپلو حالا توپه لحاظ سره ددستورترتیب اوتدوین په مختلفوطریقوسره کوی اوددے یو څو حصے دی ـ

ددستوردیباچه

دټولونه وړاندی په مختصرډول سره ددستوریوه دیباچه وی وه دے دیباچے ته په اردوزبان کی " تمهید " اوپه انگریزی کی ورته [preamble]وایی ، اوداده قانون یوه خاصه اصطلاح ده یعنی که یو کس دیوکتاب دیباچه اولیکله نو هغے ته [preamble] نه وا یی اوکه چادقانون دیباچه اولیکله نو هغے ته بیا[preamble] ویل کیژی ،اودستورخودحکومت قانون وی نوزکه په هغه کی هم دیبا چه و ی ، که تاسو چیر ته دیوقانون دستورمطالعه کړئوی نودهغه په شروع کی دالیکلی وی هرکله دا خبره د قانون سا زئ قابله ده یادحکومت خواهش دئے چی داسی اوشی ، نوزکه به دالاندینئ قانون نافذیژی نو دیته[preamble] وایی ،

ددے تمهیدمتعلق دااصول دی چی داده صلبِ قانون حصه نده یعنی دقانون دمتن حصه نده بلکه پدے کی صرف هغه اسبا ب دی چی ترهغواسبابولاندی ده قانون دنافذولوضرورت پیښیژی ، اود دے قانونی حیثیت داسی دئے لکه چی زموژپه اصول فقه کی چی دحکمت یامصلحت کوم حیثیت

دئے یعنی داحکامو دارومدارنه وی پرے موقوف ، نواوس یوکس دحکومت یو قانون عدالت ته نشی ورلئ چی دا فلانئ قانون ده دیباچے خلاف دئے ، التبه دا[preamble] دمتن قانون دتشریح دپاره استعمالیدئے شی ، که چیرته په یوقانون کی څه اجمال یاابهام وی نودهغے رفعه بیاپدے دیباچه ددرج شده خبروپربنیادباندی کیدئشی ، زکه چی دیباچه دادربنایی چی داقانون دفلانی مقصددپاره نا فذ شوئے ؤ نوکه چیرته ده یوقانون دیوے مجملی دفعے دوه مختلف تشریحات ؤنو چی کومی تشریح دقانون دمقصدسره زیات مطابقت لرلوبس هم هغے تشرح تبه ترجیح حا صله وی ، (حضرت تقی عثما نی صاحب) ددے خبری د مزیدوضاحت دپاره یومثال ذکرکړئدئے ،،

هغه داچی کله په پاکستان کی دحدودو" آرډیننس " نافذشونوپه هغے کی یه دزناتعریف دا سی کړئے ؤچی که چیرته دوه سړی یاښځی په خپل مینځ کی دجائزنکاح نه بغیرجنسی تعلقات قائم کړی نودیته زناوایی ، نوتقی صاحب وایی چی سپریم کورټ ته ځماپه موجودګی کی دامسئله راغله چی دحدو دو په آرډیننس کی خود " جائز " نکاح څه تشریح نشته چی څه ته وایی ؟نوپردا سی موقعه باندی په عام ډول سره دوئ اول داګوری چی په نوروقوانینوکی کوم نکاح ته جائزاوناجائزویلی شوی دی . اوددے خبری تقاضاخوداوه چی په ملك کی نورکوم قوانین نافذدی دهغوئ په لحاظ سره چی کوم نکاح جا ئز ؤنو هغه به جائزګنړلئے کیژی اوچی کومه ناجائزوه هغه به ناجائزه وی اوس په ملك کی عائیلی قانون نافذدئے ، اودهغه تقاضاخودشریعت خلاف په دا سی ډول سره ده چی که چیرته یوکس خپلی منکو حے ته طلاق ورکړی نوداطلاق به قانوناً ترهغه وخته مأثرنه ګنړلئے کیژی چی ترڅویه دیونین کو نسل وه چیرمین ته نوټس (طلاق پرچه)نه وی ورکړئے دنوټس نه بغیرطلاق دجمهوریت په قا نو ن کی ندئے معتبر نودعائلی اوجمهوری قانون مطابق ددے مطلقے نکاح داولنی خاوندسره بر قرا ره دئے ، نوچی نکاح یه ندئے ختم نوبیابه دبل کس سره څنګه دوباره بل نکاح کوی ، اوکه وه چیر مین ته دطلاق پرچے ورکولونه بغیربل نکاح اوکړی نود دے خودامطلب شوچی دے خزی هغه نکاح جائزنه ؤبلکه ناجائزؤزکه ده دے موجوده عائلی اوجمهوری قانون مطابق که دابښځه بل نکاح کوی نودادویم نکاح به قانوناًجائزنه وی ، اوبل طرفته بیاپه " آرډیننس " کی داخبره لیکلئے شوے دچی د جائز نکاح نه بغیرده چاسره جنسی تعلقات قائمول دازناده ـ

لهٰذاداقسم مقدمے عدالتونوته ډیری را غلے دی چی یوه خاوندخپلی ښځی ته دتحریرپه ذریعه سره طلاق ورکړئوی خو چیرمین صاحب تیه طلاق نامه نه وی ورکړے اوښځی دتحریری طلاق نا مے پربنادبل خاوندسره نکاح کړئے وی اودانکاح خودشریعت په رڼاکی جائز هم دئے لیکن په عائلی

قانون کی هغه نکاح قانوناً نه دئے جائزنوزکه په جمهوری نظام کی ددے خبرتقاضاداده چی دے ښځی تـه دی دزنـاکـولوسزاورکولئ شی اوبعضے عدا لتونود اسزاورکړے هم د ،((اوس پدے جمهو ریت کی چی کـلـه داسلام اودخزی مقابله سره راسی په اسلام کی هغه ناجائزاوحرام کاروی بیادوئ هغه کارکوی خـواسـلام تـه نـه ګـوری لـکه چی نن صبا مختلفی فحاشی عریانی اوبے حیایی روانه ده اوپردے باندی لیـادا هـم اووایـی چی داخوحقوق نسوان دی دوئ ته آزادی پکارده خولیکن چی کله بیاخبره دجمهوریت اوعـائـلـی قـانـون راشـی بیـاحـقـوق نسـوان او آ زا دی نشتـه بیـاپه شریعت کی جائزکاردئے خوددوئ په وضعی قانون کی دناجائزوالی په وجه بیاهم دے ښځوته سزاور کوی،راقم))

نوتقی صاحب فرمایی چی کله په اپیل کی دامقدمه ماله رااوره سیده نو مافیصله اولیکله چی دزنـاآرډیننس [preamble] خـووایـی چـی دزنـامتـعـلق قوانین بده شریعت په رنړاکی (یعنی دشریعت مـطابق)نافذکیژی ،اوده دیباچے په شروع کی داعبارت شته چی (ہرگاہ کہ یہ بات قرین مصلحت ہے کہ زنا سے متعلق قوانین کوشریعت کے مطابق لایا جائے لہٰذا یہ قانون وضع کیا جاتا ہے)نـوپـدے کـی یـه ویـلـی دی چی ددے قـانـون اصـل مـقـصـددادئے چی دشریعت مطابق بے راوړو، اوورسره داهم شته چی دے قانون ته به پردانوروتړولورائج الـوخت قوانینوباندی بالادستی حاصله وی ، نوزکه پدے قانون کی ده " جائز نکاح " کوم لفظ دئے د د ے تشـریـح بـده نـورو قـوانیـنو مطابق نه کیژی بلکه دشریعت مطابق به کیژی اوپه شریعت کی دانکاح جـائـز دئـے ، نـو مقصددکلام دادئے چی دادیباچه اوتمهیددیوبل قانون دتشریح دپا ره لیاده یوابهام دختم ولـودپـاره استـعـمـالیـژی چـی ده دے پـه ذریعه اوګوری چی ددے قانون بنیادی مقا صدخه ؤاودادیباچه بـذات خـودده قـانـون حصه نده ، ددستورپه دیباچه کی په عمومی ډول سره دا بیا نیژ ی چی ددے ملك بـنیـادی اغـراض اومـقـاصـدخـه دی ؟ اودکـمـواغـراضـواومـقاصدودپاره دادستورجوړیژی دپاکستان پـه دستـورکـی بـه تـاسودقرارداد مقاصدوډیرشهرت اوریدلئ وی نو هاپه حقیقت کی ددستور [preamble] یعنی دیباچه وی ـ

دجمهوریت عملی نظام اونفاذ

پـدے پـنځمه حصه کی زموژدویم بحث دجمهوریت دتعارف په سلسله کی ؤ چی په موجوده و خت کـی داجـمـهـوری اوډیـموکراسی نظام په کومو ملکونوکی رائج دئـے اوددے نظام تخم پدے ملکو نـوکـی پـه څه طریقه سره پیداشوپدے سلسله کی موژدیو څومالکودنظامونوتعارف کول غو اړو چی پـه هـغـوئ کـی څـلورملکونه سرفهرست دی (۱)برطانیـه (۲)امریکه (۳)فرانس (۴)سو ئټزرلینډ، پد ے

څلو روملکونوکی ددے جمهوری نظام طریقه کارزیاته مشهوره ده اوپه هم دے ملکونوکی جمهوریت زیا ته مستحکم اومضبوط ګڼړلئے کیژی۔

(۱) دبرطانیه پارلیمانی نظام

ترټولونه مخکی به برطانیه راواخلو چونکه موږډیروختونه ده باطانیے غلامان ګرځیدلی یو نوزکه ز موږپه هرځیزکی دبرطانیے ده نقالئ کوشش کیژی اوهم پدے وجه زموږسیاسی نظام پرپا رلیمانی بنیا دباندی ولاړدئے دبرطانیے جمهوری نظام ته پارلیما نی نظام یعنی parliamentary system] وا یی ، اوپه پاکستان کی چی کوم دستورجوړشوئیدئے هغه دهم دے په متابعت کی پار لیمانی دستورد ئے ، دپارلیمانی نظام مطلب دادئے چی دے کی اصل قوت حاکمه پارلیمنټ وی او دا هم عجیبه خبرده چی دجمهوریت بنیادده تفریق اختیارات پرنظریه باندی ایښول شوئیدئے ، اودتفریق اختیارات ده نظریے روح داؤ چی مقننه ، انتظامیه اوعدلیه دابه هره یوه ځان ځان له وی ، خودبرطانیے دپارلیمنټ په طریقه کی مقننه اوانتظامیه یوپه بل کی سره ضم دی ، زکه چی پارلیمنټ مقننه هم ده اوهم لدے نه انتظامیه په وجودکی راځی اوهغه حکمرانی کوی ، عدلیه بیشکه چی ځانله ده لیکن مقننه اوا نتظا میه پدے لحاظ سره یوروح شمارل کیژی چی مصدراومنبع یه پارلیمنټ دئے ، قانون سازی پارلیمنټ پخپله کوی اوهم لدے پارلیمنټ نه حکومت جوړوی ، کابینه جوړوی ، وزیراعظم سربراه کیژی ، اوکا بینه له هم دے پارلیمنټ نه منتخب کیژی ، پارلیمنټ ته دااختیارشته چی کله هم اوغواړی وزیراعظم اوکابینه به معزوله کړی اوبله کابینه به جوړه کړی۔

ددے نظام بنیادپردے خبره دئے چی دریاست اوا نتظامیه دواړوسربراهان به ځان ځان له وی ، په برطانیه کی دریاست سربراه ته بادشا ه وایی اولکه صدر هم ورته وایی ، اوس خوملکه (خزه) ده، اودا نتظامیے سربراه ته وزیراعظم وایی ، ده ریاست اوانتظامیے دسر براهانوپه مینځ کی داتفریق دوئ وایی پدے وجه دئے چی دانتظامیے سربراه دیوے پارټئ نما ئنده وی نودئے دخپلی پارټئ مفادات او نقطه نظرنافذه وی اودریاست سربراه بیا دجماعتی سیاست نه دبا لاترئے په حیثیت سره پردوئ نګرانی کوی هغه دجما عت سره څه قسم تعلق نه لری اوده ضرورت په وخت کی حکومت ته دمشورے په ډول نصیحت هم کوی ، هم داوجه ده چی یو ه کابینه یاحکومت ختم شی نوبیا چی په پارلیمنټ کی کوم جماعت ته اکثریت حاصل وی نودئے وه هغه جماعت ته دعو ت ورکو ی چی راسئ تاسوخپل حکو مت جوړکړئے نودریاست ده سربراه دومره کا ر وی۔

په برطانیه کی دریاست ده سربراه بیاکه بادشاه وی اوکه ملکه وی نوعملی اختیاریه هیڅ هم نشته صرف دومره کولئ شی چی انتظامیے تبه مشوره ورکړی چی تاسو چی کومه پالیسی اختیارول غواړئے دازه مناسبه نه گنړم ، پدے باره کی دملکے وکتپوریے جمله ډیره مشهوره ده چی هغے وزیراعظم ته ویلی ؤ چی ته څه کول غواړی نو څه دهغے په باره کی پردسخط ورکولوباندی مجبوره یم دسخط به در کومه لیکن زه تاسوته خبرداری درکوم چی داخبره صحی نده .. اوبادشاهت بیاموروثی وی په هغه کی دانتخاب څه دخل نه وی پردے باندی اوس تنقیدکیژی چی دبادشاه اوس څه ضرورت دئے ؟

لیکن له دے سره دانگریزقوم یوبل روایت هم شته چی هغوئ دخپلوقدیموادارو ترهغه و خته دباقی او سید لوکوشش کوی چی ترخودوئ ته خنډ،اورکاوټ نه وی جوړی شوے ، هم داوجه ده چی په یورپ کی په عام ډول سره دامریکے پرطرزباندی ده غټودنگودنگوعمارتودجوړولورواج نشته ، لکه څنگه چی دبگ بین گنهنټ برقراره ده هم دغه رنگه ملکه اوبادشاهت هم برقراره دئے ، دوئ وایی چی ددے دلیری کولوموژته څه ضرورت دئے اوداخوزموژمخی ته څه مشکل هم ندئے جوړ شوئے ، ترننه پوری که چیرته ملکه ده پار لیمنټ پریوجوړشوی قانون باندی ددسخط کولونه انکا راوکړی نوبیاداسی یو تحریری قانون نشته چی هغه پردسخط کولوباند ی مجبوره کړی ، لیکن ددر ے سوه [۳۰۰] کلونه دا معامله راروانده چی داددسخط کولوپابنده ده اوترننه پوری کله هم داسی ندی شوی چی دے ده دد سخط کولونه انکارکړئے وی ، چونکه ملکه ده پارلیمنټ مخی ته بلکل بے اثره اوبے حیثیته ده نوز که دوئ پوهیژی چی داز موژمخی ته څه مسئله نشی جوړوئے ، اوددے پراو سیدو با ند ی اگرچه پیسه لگی لیکن دوئ وایی چی پدیکی زموژدبجټ صرف یوفیصدحصه خرچ لگی ، نوزکه چی کوم روا یت دپخوانه راروان دئے هم هغه شان دی راروان وی زموژپے څه ، اوپردے بنیادباندی بادشاهت صرف برقراره هم ندئے بلکه ده یوبزرگ په حیثیت سره دهغه تعظیم هم کوی چی داخوزموژپرسرباندی یوبزگ ناست دئے ، نودئے ډیرگرم اوسوړچشیده دئے وزارت ځی اوراځی لیکن دئے به پرخپل ځائے خه په آرامه ناست وی زکه دده تجربات هم زیات دی ـ

اودبادشاه دتجربا توپه رنړاکی کله دهغه ده مشورونه ډیره فائده هم واخلی نوزکه بادشاه نه لیر ی کوی ، اودخوندخبره خو داده چی دااگرچه صرف په نامه اوبے اثره بادشاه دئے لیکن ټول کارونه دده پر نامه باندی کیژی ، یعنی چی هرقانون جوړیژی نو هغه بده تاج برطانیه په نامه سره وی ، اوداتاج بر طا نیه هم ددے بادشاهت ده ادارے نوم دئے ، دهم د ے طرف نه هرقانون جوړیژی، مخکی خوبه د ملکی

دومره اختیارؤ چی د سخط بیه ورکولوخوپه او سنی دورکی هغه ددسخط سلسله هم ختمه شو ے ده ، اوس یه یوبل نما ینده تاکلیئدئے چی دتاج بر طانیے ده طرف نه دسخطونه کو ی ، اودالیکی چی داجلانئ حکم یاقانون دتاج برطانیے دطرف نه جا ری شوئدئے ، دے ادارے ته دومره تقدس اوا حترام ورکو ل شوئدئے چی دامثال مشهوردئے چی دبر طانیے بادشاه مړه کیژی نه ، (برطانیہ کا بادشاہ مرتا نہیں ہے) اوله دینه مراددبادشاه اداره ده ، زکه چی کله هم د ه یوه بادشاه انتقال اوشی نوفوراًبل بادشاه کینی اودامقوله مشهوره ده چی " بادشاه مړشوبادشاه زنده باد " پدے مقوله کی داول بادشاه نه هغه مړبادشاه مراددئے اوده دویم نه مراد دهغه جائے نشین دئے ، اودیته بیامختلف قسم حق حاصل د ئے لکه د تقر ییاتوصدارت ، دیو جلسے صدارت، یادخپلو ملکونودسربراهانوسره خط اوکتابت لکه چی څه رسمی قسم کارونه وی عملی اختیارات څه نشته ـ

برطانوی پارلیمنټ :

داپارلیمنټ بیاپردوؤایوانونومشتمل دئے ددے تفصیل مخکی هم اوشو چی یوته دارالعوام وایی او په انگریزی کی ورته " هاؤس آف کامنز " [house of commons] وایی ، اوبل ته بیاد ارا لأ مراء وایی چی په انگریزکی ورته " آف لارډز "[house of lords] وایی ، دارالعوام داسی حیثیت لری لکه چی په پاکستان کی قومی اسمبلئ ده ،یعنی ددے ارکان ده بالغیت پررایه منتخب کیژی ، اوهم دا دارالعوام بیا ده خپلوارکانونه ده انتظامیه سربراه یعنی دوزیراعظم انتخاب هم کوی ، دبراطانیه په پار لیمنټ کی په عام ډول سره داکیژی چی دکوم جماعت په ایوان کی نمائنده گان زیات وی دهغه جماعت وه سربراه ته ملکه دعوت ورکوی چی دوئ دی حکومت جوړکړی که چیرته هغوئ دایوان داکثرو خلگواعتماد حا صل کړواودحکومت په جوړو لوکی کامیابه شونوبیاوروسته دوزیراعظم انتخاب کوی ، اوبیا هغه دخپلووزیرانوانتخاب کوی ، اودوزیرانوبیادوه قسمونه د ی ، یو هغه چی صرف منسټر اووز یران وی ،ا ودویم هغه وزیران چی ده کابینے رکن هم وی ، اووزیراعظم چی بیادکوموزیرانوا نتخاب کړئوی په هغوئ کی تقریباً اویاوزیران جوړوی اوپدے کی بیاده شلویاپنځه ویشت وزیرا نو کا بینه جوړه کړی ـ

اودحکو مت په چلولوکی ده هم دے کابینے بیاډیربنیادی کرداروی ، اونوروزیرنده کا بینے حصه وی اونه په اجلاس کی ده کیناستوحق ورته حاصل وی ، هاکه یوکس په خصوصی ډول سره رااوغواړی نو هغه بیاځانله خبرده ، دکابینے چی کوم ارکان وی هغه ده محکمے وزیران هم وی لیکن په مجموعی حیثیت سره دملك دنظام په چلولوکی لاس اومتی هم وی ، دازکه چی اهمی او ضروری

فیصلے دکابینے په مشوره سره کیژی ، نوپدے وجه سره دکابینے یورکن چی بیادهری محکمے وزیروی نو هغه چی کابینه ته کومی مسئلے پیش کیژی په هغوئ کی درایے ورکولو حق لری ، بیابرابره خبرده که هغے مسئلے دده له وزارت سره څه قسم تعلق لرلواوکیه نه لرلو ، دحکومت د مجمو عی کاروبار سردهغه څه تعلق نشته اوپه پاکستان کی داسی وزیرانو ته وزیرمملکت وایی ، دکابینے په فیصلو کی دهغه څه قسم دخل نه وی ـ

دبرطانیے په پارلیمنټ کی ده اسپیکرده انتخاب نه پس داجلاسونوسربراهی هغه پخپله کوی ، ښی اړخ تیه حکومتی ارکا ن ناست وی اوګس طرف تیه بیاده اپوزیشن ارکان ناست وی ، دانن صبا چی کو مه خبرمشهوره ده چی فلانئ جماعت ده خی لاس جماعت دئے اوفلانئ بیادګس لاس جماعت دئے ددے اصل هم داخبره ده ، په ابتداء کی چی به کوم جماعتونه ده سرمایه دارا نه نظام حا میین ؤ هغه به په حکومت کی ؤنوزکه به هغه خی اړخ ته کیناستل اودسوشلزم حامی جماعتونه به بیا ګس لاس ته کیناستلو ، نوپدے وجه هغ ته دخی لاس اودے بل ته بیاده ګس لاس جماعتونه وایی ، که حکومت د دوئ شی نوبیا هم ورته ده خی لاس جماعت وایی ، اوس دابله اصطلاح هم راوتے ده چی کوم جماعتونه دپخوانی طرزحکومت منونکی دی هغوئ ته خئ لاس اوچی کوم په موجوده نظام کی ده یوانقلابی تبدیلی حامیین دی نو هغوئ ته بیادګس لاس والاوایی ـ

قانون سازی :

دقانون سازئ دپاره بیادارالعوام یوبنیادی حیثیت لری ده سرکارحکومت دطرف نه قانون پیش کیژی اوپه دارالعوام کی بیادهغه قانون درے خوانده ګیانی وی ،

(۱) الف : په اوله خواندګی کی صرف دقانون متن ویل کیژی داپدے وجه چی خلګ دهغه قانون نه خبرشی اوبل داچی په د ے خواندګی کی دهغه قانون په باره کی ارکان خپله عمومی تبصره په ایوا ن کی پیشه وی ،

(۲) ب : په دویمه خواندګی کی بیاهغه قانون کمیټیانوته حواله کوی اوهغوئ بیاپردے با ند ی ماهرانه تبصره کوی چی کوم قا نون صحی دئے اوپه کوم قانون کی بیادترمیم کولوضرورت دئے ، اوپدیکی استیینډنګ کمپنئ اوسلیکټ کمپنئ کارکوی ، په اسمبلئ کی مختلفی کمیټیانی وی دا کمیټیانی دغورکولونه پس خپل رپورټونه په ایوان کی پیشه وی اوده هغے په رنړاکی خلګ دقانو نی ترمیما تو تجویزکوی پدیکی فلانئ ترمیم کول پکاردی ، دویمه خواندګی دے ته وایی چی کوم یو ترمیم کوم رکن پیش کړئے وی نوپرهغه باندی رایه شماری کوی اوداکثریت ده رائے مطاب دیوه ترمیم

سره یا بغیرده یوترمیم نه ده قانون متن منظوره وی ـ

(۳) ج : په دریمه خوانده ګی کی بیاصرف ده یولفظی غلطی صحی والئ کوی پدے کی بل ترمیم نه پیش کیژی ، ددے دریمی خواندګئ نه پس هغه بل منظورګنړل کیژی ، داخبریادلرئ چی کله یومسوده قانون په اسمبلئ کی زیربحث وی نوتر هغه وخته دوئ وه هغه ته بل وایی اوچی کله منظور شی نوبیاایکټ جوړشی یعنی بیادوئ ایکټ ورته وایی اوددے ایکټ معنیٰ ده نافذشده قانون ، نوپه دارلعوام کی ددے مذکوره درو۳ خواندګیانونه پس ده دارالعوام یعنی ده قومی اسمبلئ نه هغه منظورشده ګنړل کیژی اوهغه بل ددے نه پس بیادارالأمراء ته وړی ،،

دارالامراء

دے دارالامراء ته دوئ[house of lords] وایی ، دایوعجیب قسم موروثی ایوان دئے چی په برطانیه کی دپیړیانو(صدیو) نه راروان دئے ، ددے دممبرانوانتخاب نه کیژی بلکه یو ځوصدئے مخکی چی څوك ممبرؤده هغه دانتقال نه پس دهغه ځوی رکن جوړشوبیاددے ځوی ځوی ؤ الغرض ده بادشاهت پرطرزداسلسله راره وانده ، اوپه عیسائی مذهب کی خوخزه وارثه نه شوه جوړیدئے نوزکه خزه ددے ایوان رکن اوممبره هم نه شوه جوړیدلئے ـ

ددے ایوان یوه حصه داسی ده چی ارکان یده ملکی ده طرف نه ټاکل کیژی هغے ته داحق شته چی څوك هم اوغواړی نوددار الامراء رکن یه جوړکړی اودے ته دوئ "پیر" [peer] وایی ، اوده دے د تعدادخه حدهم ندئے معلوم ، اوپه عام ډول سره پدے حصه کی هغه خلګ ټاکی چی په یو خاص فن کی ماهره وی اوددوئ په اصطلاح کی دے ته " ټیکنوکریټ" وایی ، اوخصوصاً دقانون ماهرینوته پدیکی خاص اهمیت ورکوی ، زکه چی داایوان آخری کوټ آف اپیل هم ګنړل کیژی ، بیادواړه قسمه ترمرګه ارکان ګنړل کیژی زکه دوئ وایی چی دے ایوان ته دورتله لودروازه شته خوده وتلودروازه نشته ، اصل قاعده داوه چی په دارالعوام کی چی به کوم قانون منظورشونو هغه قانون بے دارالامراء ته سپارلواوده هغه ځائے منظوری ضروری وه ددارالامراء ده منظوری نه بغیرهغه قانون نه نافذیدوبلکه دنظرثانی دپاره به دوباره دارالعوام ته تلوکله کله بده دارالامراء والاپریوقانون سخت شو چی موژا دا قانون نه منو او ملکے به بیاداغوختل چی داقانون زرپاس شی ـ

بس کومه ملکه چی به وه هغے به ده دارالامراء ولاؤ ته دهمکئ ورکړله چی که داقانون مو پاس نه کړونوځه به دومره ممبران نورجوړکړم چی څومره تا سو یی ، اوپه هغوئ سربه منظوری اوکړمه ، دازکه چی ده دے ایوان دارکانوده دتعدا دپرز یاته ولوڅه پا بندی نه وه ، پدے وجه دایوه عجیب قسم ادا

ره ده په دنیاکی ددے نظیرموندل مشکل دی ، اووایی چی پدے ایوان کی داسی پیران هم شته چی ترننه پوری ده دارالامراء په اجلاس کی ندی شریك شوی ، په ابتداء کی ده دے ایوان اختیارات ډیرؤبیایه کمه ول کمه ول ډیریه لاندی راو ستواوس څه خاص اختیا ر نه لری ، مخکی یه یوبل مؤخرکولئ شولیکن اوس نوئ قانون راغلو هغه دا چی که دارالامراء تر یوه کاله پوری یوبل منظورنه کړو، نوده یوه کال په تیریدوسربه هغه بل خودبخودمنظورګنړل کیژی دتاخیره ولو چی کومه حربه له دوئ سره وه هغه هم ترے نه ختمه شوه ـ

پردے دارالامراء باندی داتنقیدکیژی چی داخوبے فائدے اداره ده ددے دختمیدلو ډیرتجو یز ونه ورکول شویدی خولیکن دبرطا نیے خلګ وایی چی موژته ددوئ بحثونه مزه راکوی زکه چی دا خلګ زاړه اوروایتی دی دمطالعے نه علاوه یه بل کارشته نه بس خپله مطالعه کوی خو چی کله دا ر الا مراء ته را شی نوډیرمزے داره بحث کوی معلوما ت پکی وی تجربات په کی وی ، نوددے بحثو نو په وجه سریه داخلګ پرے یخی دی اوپدے کی څه شك شته هم نه چی ده دارالامرا ء بیانونه دعلمی ادبی قدراو قیمت حامل دی ،،

دبرطانیے په سیاسی نظام کی یوه بله عجیبه خبرداده چی ددوئ څه تحریری دستورنشته مثلًادارواپت دئے چی ملکه بده دارالعوام اودارالامراء پرمنظورشده قانون دسخط کوی ، لیکن یوقانون هم داسی نشته چی ملکه پردسخط کولوباندی مجبوره کړی یاملکه ددسخط کولونه انکارنشی کولئ ، اودغه شانتے داخبره چی اکثریتی پارتئ تبه دحکومت جوړولودعوت ور کو ل کیژی ددے ټولو خبروڅه تحریری دفعه نشته صرف روایت اورواج[convention] دئے ، اوهم دے رواج ته آئینی حیثیت حاصل دئے ، غرض چی څومره خبری له آئین سره تعلق لری هغه ټولی له روا یا تو او رو اج سره برابری راروانیدی ، دارواجونه دومره مستحکم دی چی ده دے وقعت اوحیثیت تر مدو ن دستورڅه کم ندئے ، عدالتونه هم ددے رواجونوپربنیا دفیصلے کوی ، ددستورمتعلق په شمار سره څه قو انین دی چی پارلیمنټ منظورکړیدی مثلًا[bill of rights] یعنی بنیادی حقوق ،لیکن په مجموعی حیثیت سره لکه چی په نوروملکونوکی کوم دستوروی په برطانیه کی داسی تحریری اومد ون دستو رنشته ، اوپه هم دے وجه سره دپارلیمنټ برترئ تصورپرخپل عروج باندی دئے اوپه هم دے وجه ده پار لیمنټ جوړشوئے قانون یایواقدام په عدالت کی نشی چیلنج کیدئے ـ

که چیرته پارلیمنټ داقانون منظورکړی چی وزیراعظم ته داحق حاصل دئے چی چاته یه هم ز ړه اوشی نوبغیردیوڅه دلیل نه یه ګرفتاره کولئ شی نوداسی قانون هم په عدالت کی څوك نشی

چیلنج کولئ چی داقانون خود[bill of rights] خلاف دئے اوجج پردے قانون دفیصلے کولو مجبوره دئے ، پخلاف دامریکے هلته ده بنیا دی حقوقو خلاف قوانین عدالت چیلنج کولئ شی، اودوئ وایی چی دبرطانیے په ټول تاریخ کی یو قا نون هم داسی ندئے راغلئے چی دهغے متعلق داشکایت شوئے وی چی دادقانون دبنیادی حقو قو خلاف دئے ، اوموژدانشو چیلنج کولئ لیکن دازړه خبره وه دیؤلسم ۱۱ ستمبردوا قعے نه پس او س داسی قوانین راغلی دی چی حکومت ته ده دهشتگردئے پرشك د یو چا دگر فتارو لو حق حاصل د ئے ، اوپه امریکه کی داسی ډیرقوانین راغلی دی چی چیلنج کړی یه دی اوختم کړی یه دی ،پدے ملك کی داپوزیشن اوسرکاری حکومت په مینځ کی همیشه مخالفتونه وی ، که چیرته ده لبرل پارټئ حکو مت راشی نو"کنزروټیو" پارټئ یه مخالفت کوی اوکه دابرسراقتداراراشی نوبیایه لبرل پارټئ مخالفت کوی ، مگرددے مخالفتونوپه دوران کی چی کوم روایات دی هره پارټئ ده هغوپه پور اتوگه تحفظ کو ی ، دیوبل دحقوقو احترام اوده یوبل سره یه د رواداریٔ روایات مستحکم دی ، اوهم پدے وجه بر طا نیه دپارلیمنټ ده سستم امامه گنړل کیژی ، داد برطانیے ده نظام حکومت مختصر تعارف ؤ ،،

داقسم پارلیمانی نظام ده دنیاډیروملکونوخپل کړیٔدئے اوپه پاکستان کی هم سیاسی جما عتو نه دا بهتر ه گنړی ، حالانکه پدے نظام کی ډیرتضادونه هم شته دی ، پدے نظام کی حکومت هغه پار ټئ جوړوی چی کومی پارټئ ته په پارلیمنټ کی ده اکثریت اعتماد حاصل وی ، اوس ددے اعتماد ده حاصله ولو بیادوه صورتونه دی ـ

الف :ـ یوداچی په ایوان کی یوے پارټئ ته قطعی اکثریت حاصل شی یعنی په ایوان کی کم ازکم یو پنځوس ارکان ده هم دے پار ټئ وی نوپداسی صورت کی دهم دے پارټئ حکومت جوړول لاز می دی ، اواوس هغه پارلیمنټ مقننه هم ده ، اوانتظامیه هم ده دے پارټئ پرافرادومشتمله وی ، اومقننه او انتظا میه عملاً یوه کیژی ، چونکه دهغے پارټئ اکثریت دئے داکثریت والاحکو مت چلوی ،اوچی کوم ایو ان ددوئ دپالیسیانوجائزه اخلی په هغه کی هم اکثریت ده حکومت دوالاپارټئ وی اوعملاً د دو ئ د کارونوتصدیق پارلیمنټ کوی ، اواکثریتی حکومت چی کومه پالیسی اختیارکړے وی دپار لمینټ په ذریعه سره دهغے پالیسئ دبدلولویوه لاره هم نشته اودازکه چی هلته هم ددوئ اکثریت د ئے ـ

ب :ـ دویم صورت دادئے چی په ایوان کی یوے پارټئ ته هم قطعی اکثریت نشی حاصل یعنی یوه پا ر ټئ هم داسی نه وی چی دارکانوتعداد یه په ایوان کی یوپنځوس ۵۱ فیصدوی ، نوپدا سی

صورت کی بیادوئ مخلوط حکومت جوړه وی یعنی ډیری پارتیا نی سره یوځائے شی اوحکومت جوړکړی چی په اصطلاح کی ورته "کولیشن حکومت" [coalition government] وایی ، په دا سی صورت کی بیاداسی کیژی چی په پارلیمنټ کی ده کومی پارتیئ دارکانوتعداد چی دنوروپه نسبت زیات وی اگرچی یوپنځوس اکثریت یه نوی اخستئ هغه نوروپارتیانویاده آزادوارکانودحمایت پرحا صلو لوباندی مجبوره کول کیژی ، ددے مخلوط حکومت دقیام دپاره کله کله عجیب صورت حال پید اکیژی مثلًا دوه متقابل جماعتونه وی چی په نظریاتوکی یه فاصله دبُعدالمشرقین حیثیت لری سره اوراواوبه وی لیکن دواړودومره اوتونه نه وی اخستی چی یوه جماعت ته قطعی اکثریت حاصل شی نو زکه بیادحکومت دجوړولوددے نه سوابله لاره نشته چی دادواړه متضاداو متحارب جماعتونه او حکو متونه خپل مینځی تعاؤن سره اوکړی اوحکومت جوړکړی ـ

اوس یوجماعت ده مغرب خواته روان دئے اوبل جماعت بیادمشرق طرف ته روان دئے په ظا هری اوښکاره ډول سره خو یه تعاؤن اواتحاد سره کړئے وی خوپه حقیقت کی داجتماع ضدین حیثیت لری دازکه چی ددواړو نظریے اوپالیسیانی مختلفی دی ، اوس به دوئ دوه کارونه کوی یابده هابل جما عت دخاطره خپله نظریه اوپالیسی پریژدی یابه داسی تصفیه کوی چی فلانئ خبره به موژ پریژدواو فلانئ به بیاتاسوپریژدئے غرض داچی داصو لودقربانئ دورکولونه بغیرکولیشن حکومت جوړول ډیرگران کاردئے اوهم داوجه ده چی دکولیشن حکومت په جوړید وکی ډیروخت لگیژی ، یووارخوجوړیژی نه بیاچی جوړشی نو بیایه هروختے دماتے دلوخطره وی ـ

ددے دپاره دمحلاتی سازشونویوه سلسله شروع کیژی ، لکه په " اټلی " کی دنولس سوه پنځه څلویښت ۱۹۴۵ء نه واخله ترننه پوری درے سوه [۳۰۰] حکومتونه بدل شویدی ،او دازکه چی دهروڅوورځونه وروسته په ایوان کی دحمایت صورتحال بد لیدواویوه جماعت به هم قطعی اکثریت نه حاصله ولواوبیاچی به کله حکومت جوړشونوموژمخکی اووه یل چی ده وزیراعظم دمعزولئ دپاره د عدم اعتمادتحریك کافی دئے چی هغه لره دیوے بدئے بیانول یاالزام لگول ضروری ندی چی وزیراعظم فلانئ کارغلط کړئے دئے نوزکه دی ختم شی ، بلکه ددے تحریك حاصل دا دئے چی بس اوس زموژمرضی اوخوخه نه ده نوزکه اوس موژتاختمه ؤ، په برطانیه کی دانظام ډیرپه استحکا م سره اوچلیدواوددے وجه داوه چی دخلگوسیاسی شعورډیرزیات پوخ ؤاوده دے انداز ه له دے خبری نه کیژی چی له دوئ سره څه مدون دستورنشته صرف دروا یا تو اورواجونوپربنیادباندی هغوئ کارکوی اوددوئ په نزدده هغورواياتودماتولوهیڅ قسم تصورهم نشته ـ

(۲) دامریکے صدارتی نظام

دبرطانیے نظام حکومت تہ پارلیمانی نظام وایی اوده دے په مقابله کی بل ډیرلوئ نظام حکومت د ئے چی هغے ته صدارتی نظام وایی دادویم نظام بیاپه امریکه کی نافذدئے اوددے خصو صیات تر د ے مخکینی پارلیمانی نظام ډیرمختلف دی اوّلنئ فرق خودادئے چی دامریکے آئین اوقانو ن وفاقی د ئے اودبرطانیے نظام حکومت وحدانی دئے دویم غټ فرق دادئے دتفریق اختیارات چی کومه نظریه وه چی دجمهوریت بنیادګنړل کیدوپرهغے باندی په برطانیه کی په پوراډول باندی عمل نشته لکه چی موژمخکی تفصیل اوکړو، هلته مقننه اوانتظامیه په یوبل کی تریوه حده پوری ملا ؤ شوے وه لیکن دامریکے په نظام حکومت کی مقننه انتظامیه اوعدلیه دادرے واړه ادارے جدا جداد ی ، اودرے واړ ه خودمختاره هم دی ، دانتظامیے سربراهی صدرکوی، اومقننه بیاپردوؤایوانوباندی مشتمله ده چی دوئ کانګریس ورته وایی ـ

(۱) دنمائنده ګانوایوان[house of representatives] (۲)سینیټ[senate] دریمه ادا ره عد لیه ده چی ځانله مستقل حیثیت لری ، ده انتظامیے سربراهی صدرکوی ، اودصدرتعین مقننه یا اسمبلئ یاپارلیمنټ اوکانګریس نه کوی بلکه د صدرانتخاب براه راست کیژی اودانتخاب نظام یه هم ډ یرسره کړکیجن دئے دصدردویم ځل انتخاب کیژی ، یعنی یوده عامواو ټونوانتخاب دئے چی دبراه راست انتخاب یوشکل دئے ، اودویم انتخاب بیاداسی کیژی چی دمختلفوملکو نوپرافرادو مشتمله یوه انتخابی اداره[electoral college] جوړه وی هغه اداره بیادصدرانتخاب کوی ، چی په دے دواړو انتخاباتوکی نه وی کامیابه شوئے هغه کس صدرنشی جوړے دئے ، ددے وجه داده چی امریکه یو و فاقی ریاست دئے چی پردوه پنځوس [۵۲]ملکونوبا ندی مشتمل دئے هم پدے وجه امریکه ته ریا ست هائے متحده وایی ، نوپه هرملك کی دانتخاب په اداره کی دومره کسان شامله و ی چی څو مره کسان دکانګریس ارکان وی ، بیادصدرانتخاب کوی دصدردمنتخبه ولوددے اهتمام وجه دا بیانه وی چی دا مریکے صدرخوډیرلوئ بااختیاره اودحکومت سربراه وی ، پدے وجه دده په انتخاب کی د هر للو پنجوخبره نه چلیژی بلکه پدا سی خلګوسره انتخاب کوی چی دزیاته صلا حیتومالکان وی اودټولو ملکونونمائنده ګی کوی پدے وجه یه ددے دویم ځلی نظام انتخاب مقرر کړئے دئے ـ

دصدر د پاره بیادوئ یو څوشرطونه مقررکړیدی (۱)یودا چی دامریکے اوسیدونکئ به و ی ،(۲) دپنځه دریش کلونوپه عمرکی به وی ،(۳) اوکم ازکم څوارلس کاله به په امریکه کی مقیم پاتے شوئے

وی ،دادرے بنیادی شرطونه دی ، اوچی کله داصدرمنتخب شی بیاده انتظامیے ټولی ذمه داری دته حو اله کوی او دانتظامیے سربراه دئے وی ډیرآزاداختیارات لری اوهم داصدردخپلی کابینے انتخاب پخپله کو ی ، اودبرطانیے په نظام کی تاسواولیدل چی دهغی پارټئ حکومت به جوړیدو چی په ایوان کی بدا کثریت حمایت ورته حاصل ؤاودکابینے انتخاب بیه هم ده هغے نه کولواووزیرا عظم دهغوارکا نونه کابینه جوړ وله ، خولیکن دامریکے پدے صدارتی نظام کی دکابینے دپاره دکا نګریس قومی اسمبلئ دممبرضرورت نشته بلکه صدرپخپله دکابینے دارکانوانتخاب کوی او هغو ئ دخپلو خپلو محکموسربراهان وی ، هغه ته دو ئ وزیرنه وایی بلکه سیکریټری ورته وایی لکه مثلاً سیکریټری ا مو رداخله ، سیکریټری امورخارجه ، سیکریټری خزانه ، او سیکریټری مواصلات !

پدے صدارتی نظام کی ده سیکریټری هغه مرتبه وی کومه چی په نورو ملکونوکی دوزیرا نو وی ، او نوم یه سیکر یټر ی دئے اوددے ټولو مجموعے ته کابینه وایی، لیکن دلته دکابینے هغه حیثیت نشته کوم چی په پا رلیمانی نظام کی ؤ، په پارلیمانی نظام کی کابینه یو هیئت حاکمه وی اوپه ټولو مسائلوکی دمشورے په ذریعه سره فیصلے کوی ، مګر دلته دصدرد مجلس شورئ حیثیت لر ی چی پکی صدرته دیو طر فه فیصلے کولوپوراختیار[veto power] حاصل دئے، یعنی که چیر ته ټوله کابینه یوه فیصله اوکړ ی اودصدررایه بل طرفته وی نوپه انتظامی اموروکی به هغه نوری ټو لی رائی رد کیژی اوصدرخپله فیصله نافذه ولئ شی دسول اوفوجی افسرانوتعین هم هغه پخپله کو ی، البته قانون سازی اوبنیادی پالیسیانی په کانګریس قومی اسمبلئ کی پیش کیژی اودقومی اسمبلئ نه دهغومنظوری ضروری ګنړل کیژی ـ

دامریکے صدرده پارلیمانی نظام پرعکس دریاست هم سربراه وی اودانتظامیے هم سربراه وی پخلاف دپارلیمانی نظام چی په هغه کی ده ریاست سربراه جداوی چی دوئ کله ورته صدروایی اودانتظا میے سربراه بیاجداوی چی په عمومی ډول سره ورته وزیراعظم وایی ، په صدارتی نظام کی دصد راوپه پا رلیمانی نظام کی دوزیراعظم دمعزوله کولو هم مختلفی طریقے دی په پارلیمانی نظام کی دوزیر اعظم خلاف دوئ دعدم اعتمادیوتحریك پیش کړی اوچی کله هغه په ایوان کی منظورشی نو بس وز یراعظم به خودبخودمعزوله شی ،اوپه برطانیه کی بیادانظام دئے چی که چیرته وزیراعظم یوبل پیش کړواوهغه بل کامیابه نه شویعنی دایوان اکثریت مستردکړوبس پردے خبره به وزیراعظم خود بخود معزوله ګنړلئ کیژی بلکه وزیراعظم اودهغه کابینه به هم معزوله ګنړلئ کیژی ، اګرکه دعدم اعتما د تحریك باقاعده نشوپیښ اوده یوقانودمنظورئ دپاره پیش کړلواوایوان هغه مستردکړلو نواو س دهغه

دار وایتی فریضه‌جوړیږی چی مستعفی کیږی به اوکیه استعفیٰ ورنکړه بیا هم ده قانون مستر دوا لئ دده دمعزولئ حکم ورکوی ـ

نو هلته ده وزیراعظم ده معزوله کولودپاره دیو څه جرم یا غلطئ وجودڅه ضروری ندئے چی د خوفلانئ غلطی کړے ده بلکه دده دمعزولئ دپاره صرف داخبره کافی دچی دایوان اعتمادورسره رانشی ، بیابرابره خبردکدا عدم تحریك صراحتاً وی یاحکماً وی یا ضمناًو ی نوپه دو اړوصورتونوکی دا بالا نقص اجمالی دئے کوم چی موږبره ذکر کړئے چی جی ته موږته پسند نه یی لهذا مهربانی اوکړه او معزوله شه ؟ اوده دے په مقابله کی په صدارتی نظام کی دانتظامیے سربرا ه محض په عدم اعتمادسره نه معزوله کوی دانشی کیدئے چی په قومی اسمبلئ کی دصدرپه خلاف دعدم اعتمادیوتحریك پیښ شی اودهغه په منظورئ سره به بیاصدرمعزوله کیږی ، اودازکه چی صد رخو کانګریس یعنی قومی اسمبلئ نه راغلئ ندئے بلکه صدرخوبراه راست ده عواموپه اوټونوسره منتخب شوئدئے نوز که په صدارتی نظام کی دصدرپه خلاف صرف یوه لاره داوهغه ته وایی تحریك مواخذه ددے مطلب دادئے چی دصدرخلاف به جرم ثابته وی لکه چی او وایی چی صدرخیانت کړئدئے یایه د ملکی مفاداتو خلا ف باغیانه عمل کړئدئے یایه دآئین خلاف ورز ی کړے ده ـ

نوپداسی وخت کی بیا د ده په خلاف دتحریك دمواخذے صورت رامخکی کیدئے شی ، اود هغے طریقه داده چی ایوان ذیلی هغه تحر یك راپورته (اوچته وی) که وی اوده سینټ والابیادعدا لت په حیثیت سره دهغے فیصله کوی ، دصدرخلاف الزامات ورخائی اوهغه موقف ظاهره وی دد ے ټولو څیزونونه پس دافیصله کوی چی واقعی صدرددے جرمونومرتکب دئے اوکه نه ، که هغه جرمونه یه واقعی کړی ؤنودصدارت نیه ختمه وی اوکه هغه جرمونه پرے ثابت نه شوبیااعلان کوی چی د ده په خلاف الزامات څه حیثیت نه لری دامریکے په ټول تاریخ کی صرف یو ځل دادموا خذ ے تحریك په و جودکی راغلئ دئے اوهغه هم هغه وخت چی کله سینټ ته اورسیدواوهغوئ ددے وا قعاتوتحقیق او کړونودتحقیق نه پس یه صدرغیرمجرم ثابت کړو، دنائب صدراو ججانوخلاف تحر یکونه اوچلیدومګر ترنن تاریخه یوصدرهم پردے بنیادندئے معزوله شوئے صرف یو" نکسن " معزو له کیدو ته قریب ؤ خو هغه بیاپخپله استعفیٰ ورکړله ـ

خلاصه داشوه چی ټول حکومت چلول بیرو نی پالیسیانی اعلان جنګ اوچی نورڅومره امو ردی داټول دصدرذمه واری ده اوده امریکے صدر ډیر لوئ طاقت ورګنړل کیږی البته پخپلو ټولوپالیسیا نواوقانون سازی کی هغه قومی اسمبلئ ته جواب ور کولئ شی ، پدے معنی چی دهری پالیسئ

منظوری دهغه ځائے نه کول ضروری اولاز می ده ، مقننه چی کانګریس هم ورته وایی داپردؤ۲ ایو انو مشتمله ده . یوایوان ذیلی دئے چی هغه ته ایوان نمائندګان house of representatives] وایی ، داپرڅلورسوه شپږدیرش [۴۳٦] ارکانو مشتمله ده ، دآبادئ پربنیادده مختلفوریاستونونه ددے ممبران منتخب کیږی ، اوددوئ انتخاب صرف تردوؤ کلونوپوری وی ، چی ایوان ذیلی ته کوم اختیارات حاصل دی هغه ټول اختیارات دوئ ته هم حاصل دی لکه قانون سازی شوه بجټ منظوره ول شو و غیره ـ

بل ایوان سینټ دئے چی ایوان بالاهم ورته وایی، ددے طریقه بیاداسی ده چی دهرریاست نه دوه کسان منتخب کوی دسینټ انتخاب دبالغی رائی پربنیادشپږکا له وی ، پدے معامله کی دامریکے نظام دبرطانیے سره ډیراختلاف لری اوداز که چی دبرطانیے حال خوتاسواولیدو چی یوه ډیره بے مصرفه اداره وه چی دهغے متعلق چاویلی دی چی دادبحث اومباحثے کلب دئے بل خاص مقصدنه لری ـ

اودامریکے سینټ ایوان بالاخوډیره باا ختیاره اداره ده نوردټولی دنیاایوانونه دومره باا ختیاره او بااقتداره ندی لکه چی څومره دامریکے سینټ دئے ، اوددے په انتخاب کی دوئ ددے خبری ډیرخیال کوی چی پدے کی صرف قابل خلګ منتخب کی ، په ایوان ذیلی کی دقابلیت دومره لحاظ نه کوی څومره چی په سینټ کی دممبرانوغه کوی ، اوپه قانون سازی کی ددے اختیارده ایوا ن ذیلی یعنی ایوا ن نمائندګان سره برابردئے ، صرف دبجټ جوړولواودټیکس وغیره نافذه ولواختیا رورسره نشته، دااختیارایوان ذیلی ته دئے اوپه ټوله دنیا کی دااختیارصرف ایوان ذیلی ته حاصل دئے ایو ان بالاته دااختیا رنشته دئے بلکه په ډیر وملکونوکی ایوان بالاته ده سره بجټ وړی نه ، اوددے نه علا وه په قانون سازی کی ده سینټ مرتبه تقریباً دایوان ذیلی سره برابره ده ، اوهم دغه شانتے صدرچی دسول افسرانویافوجی افسرانویادججانو چی کوم تقررکوی ددے ټولو منظوری به هم سینټ کوی دسینټ دمنظوری نه بغیر هغه تقررنافذالعمل هم نشی کیدئ، اوصدرچی دنورو ملکونوسره څومره معاهدے کوی دهغوئ ټولو منظوری به هم سینټ کو ی ـ

دامریکی اوصدارتی نظام یوبل اهم اړخ داهم دئے چی برطانیه کی پارلیمان ته ترټولونه زیاته بالادستی حاصله ده ، ددے معنیٰ داده چی د پارلیمان یوجوړکرده قانون هم یوه عدلیه هم نشی چیلنج کو لئ بیاکه هغه هررنګه قانون ؤ، لیکن دامریکے په نظام کی خومقننه اوعدلیه جداجدا حیثیت لری پدے وجه که مقننه ده دستورپه خلاف یوقانون منظورکړی نوداقانون په عدلیه کی چیلنج کیدئ شی ، دعدلیے وه دے اختیارته judicial review] اویا" عدالتی نظرثانی " وایی ، نو دایواضافی حق دئے چی وه هروګړی اواوسیدونکی ته ورکول شوئدئے چی هغوئ دمقننے یو نافذ کر ده قانون په

عدالت کی چیلنج کولئ شی ـ

یوبل امتیاز چی دبرطانیے په مقابله کی امریکی نظام ته حاصل دئے هغه دسیاسی جما عتونوپه با ره کی دئے ، لکه چی تاسو اولیدلو چی دبرطانیے په پارلیمانی نظام کی دسیاسی جما عتونو ډیرلوئ کردارؤپه پارلیمنټ کی چی دکوم سیاسی جماعت اکثریت وی هم هغه حکومت جوړوی ،اودلته خودانتظامیے سربراه براه راست منتخب کیژی نوزکه په صدارتی نظام کی ده سیاسی جما عتو نو هغه اهیمت نشته ، پدے نظام کی خو هم پارټیانی شته لیکن دهغوئ صرف دومره کا روی چی امیدواران (کاندیدان)رجسټرډکی اوپه انتخاباتو کی یواجتماعی مهم اوچلوی لیکن په حکومت جو ړولوکی هیڅ قسم دخل اندازی نشی کوئ، لهٰذاقومی اسمبلئ ته چی کوم جماعتونه راځی په هغوئ کی چی کوم جماعت ته اکثریت ورکول شی بیاداضروری نده چی حکومت به پخپل واك کی راولی دا ممکن دی او داسی شوی هم دی چی صدردیوه جماعت وی اوپه کانګریس قومی اسمبلئ کی اکثریت دبل جماعت وی ، اوهم دغه رنګه صدرده کانګریس رکن هم نه وی اونده کانګریس په اجلاسونوکی د شرکت ضرورت ورته وی ده صدراوکانګریس په مینځ کی معاملات دپیغام رسانئ په ذریعه سره سر ته رسوی ، نو داعین ممکن دی چی په کانګریس کی دی اکثریت دیوے پارټئ وی اوحکومت دی دبلی پا رټئ سر براه چلوی ، ددینه باوجوددتصادم داسی فضا نه پیداکیژی چی دحکومت په چلولوکی خنډ او مشکل جوړشی ...ـ

ددے وجه داده چی هلته دپارلیمان کوم ارکان دی دهغو ئ مزاجونه د پارلیمانی نظام دطریقے نه بلکل مختلف وی ،په پارلیمانی طریقه کی چی کوم کس دجماعت رکن وی هغه چی کله اسمبلئ ته لاړشی یاحکومت جوړکړی نودهغی پارټئ دجوړکرده پروګرام تحت به را یه ور کو ی چی کوم ددوئ په منشورکی دخل لری دخپل منشورنه علاوه بله رایه نشی ورکولئ، او ددے په خلاف په صدارتی نظام کی اګرکه سړئے دیوه جماعت سره تعلق لری نو هم چی کله قومی اسمبلی کا نګریس ته اورسیژی نود خپلی پارټئ دمنشورنه علاوه دخپل ضمیرمطا بق رایه ورکولئ شی ، بلکه نمائندګان ترخپل ځان د خپلی حلقے دانتخاب سره زیاته وابسته لری اوده خپل انتخاب دحلقے مطا بق رایه ورکوی ، اوپه مجموعی حیثیت سره چی دملك په مفادو(منافعو)کی کومه خبر بهتره اوګنړی دهغے مطابق رایه ورکوی ، نوداضروری نده چی په کانګریس کی به اکثریت د یوے پارټئ وی او صدربده بلی پارټئ سره تعلق لری کنے بیابه صدر همیشه ده مشکلاتوسره مخامخ وی ، نو په صدارتی نظام کی ده داسی اپوز یشن تصورنشته کوم چی په پارلیمانی نظام کی ؤداؤ دامریکے دصدارتی نظا م څه مختصرتعارف ـ

(۳) دفرانس پارلیمانی نظام

دریم نظام حکومت چی دهغه مختصرتعارف کول غواړم هغه دئے دفرانس حکومت : ستا سوترنظرمخکی داخبره تیره شوه چی په یورپ کی ده جمهوریت په قیام کی ترټولونه لویه حصه دفرا نس انقلاب اخستے ده ، لیکن دایوه عجیبه معامله ده چی دا انقلاب راغلئ دفرانس نه دئے چی دد ے پربنیاددجمهوریت تحریك دنیاته متعارف شوئدئے اودهم دے په وجه سره دانظام په نورو ملکو نو کی مستحکم شوئدئے خولیکن فرانس بیاپخپله تریوے ډیری اوژدے مدے پوری په زبردسته دستو ری کشمکش کی پاتے شوئدئے اوله لژلژوقفونه پس به دستوربدلے دو۔

ددے وجه داوه چی په ابتداء کی ده خلکوپه مینځ کی دیو څوتصوراتواختلاف ؤ چی څه ر نګه دستورجوړو ل پکاردئے خو آخریه بیادپارلیمانی نظام پربنیادیودستورجوړکړولکه څنګه چی په برطا نیه کی ؤترنولس سوه اته پنځوس ۱۹۵۸ء نه لژمخکی هلته هم داطریقه وه چی وزیراعظم به با اختیار ه ؤاوصدرته به څه خاص اختیارنه ؤده برطانیے صدربادشاه وی لیکن دتاش دلوبی په شان محض دنامه بادشاه وی ، هم دغه رنګه دفرا نس صدرهم صرف په نامه دملك مشرګنړل کیدوتردے ځایه چی دخپل صوابدیدی اقدامات هم دوزیراعظم یاد منستړددسخط نه بغیرنشواستعمالولئ، دومره بے حیثیته ؤ چی خلکودامقوله مشهوره کړه چی ده صدرپرهرکاغذدوزیراعظم تصدیقی دسخط ضروری دئے سوا دده داستعفیٰ نه ؟ ددے نه علاوه یه یوکاغذهم ده تصدیقی دسخط نه بغیرنه شوجاری کولئ په پا کستان کی بټهو صا حب هم دانظام دنولس سوه دری اویا ۱۹۷۳ء په دستورکی ایخئ ؤ چی کله یه چو هدری فضل الٰهی صدر جوړکړئے ؤ چی دوزیراعظم ده تصدیقی دسخط نه بغیرهغه هیڅ هم نشی کو لئ، په هم دے سلسله کی یوه بله مقوله هم مشهوره ده چی په برطانیه کی بادشاه یاملکه صرف بادا شاهت کوی حکو مت نه کوی اودامریکے صدرحکومت کوی بادشاهت نه کوی دفرانس صدرنه بادشا هت کوی او نه حکومت ، یعنی دبرطانیے دبادشاه که نورڅه اختیارات نشته ده باچهئ مز ے خویه وا خستلے اودا غریب خودبادشاهئ دخونده هم ندئے خبر۔

بهرحال ! داپارلیمانی طریقه په فرانس کی ترډیری مود ی اوچلیده ، خوداپارلیمانی طریقه هغه وخت کامیابه کیژی چی کله دصدراووزیراعظم یادبادشاه اوو زیراعظم خپل منځی تعلقات خه مضبو ط وی ددوئ پخپل مینځ کی څه جنګړه اواختلاف نه وی ، او دابله چی کومه طریقه ده چی یوه ته سر براه ریا ست وایی اوبل ته سربراه حکومت وایی اودواړه سربرا هان وی اوله دینه باوجوددیوه سربراه ختیا رات

ډیروی اودبل غه بلکل دسره وی نه داشئ جګړی پیداکوی اوددے نتیجه داده چی خپل مینځی اختلا فات بیه ورځ په ورځ ډیریژی یه لیکن کمیژی به نه ، په نو لس سوه اته پنځوس ۱۹۵۸ء کی چی کله " جنرل ډیګال " صدرجوړشونو هغه چی کله په فرانس کی عدم استحکام اولیدو، اود صدربے حیثیتی یه اولیده چی وزیراعظم به هرڅه کول نوصدربه په زیړو سترګوورته کتل اوڅه بے ویلئ نشو نوبیادے ډیګال یونوئ دستورجوړکړواوپه هغه دستوکی یه صد راووزیراعظم دخپل مینځی اختیا را توکی دتوا زن مساواتواوبرابرئ قائمه ولو کوشش اوکړ واو داد ستوریه بیاپه اسمبلئ کی نه کړپیش بلکه دهغه پرځائے یده احتجاج (ریفرنډم) دپاره دعواموپه مخکی پیښ کړوچی ددے په نتیجه کی په ډیردروند کثرت سره هغه دستورکامیابه شونود ۱۹۵۸ء نه پس اوس هم دادستورنافذ دئے چی پدے کی دپار لیمانی اوصدارتی دواړه قسمه خصوصیاتوده جمع کیدلوکوشش شوئدئے و دے ته دوئ د " چیك اینډبیلنس " دستوروایی ،یعنی دمسا واتو دقائمه ولووالادستورچی ده صدراووزیر ا عظم په اختیارا تو کی توازن قائم کړی ـ

دخپل روح په اعتبار سره خودانظام اصلًا پارلیمانی دئے چی په پارلیمنټ کی کومه پارټئ اکثریت واخلی هم هغه به حکو مت جوړه وی ، البته دصدراختیارات دومره محدوده ندی هغه ته څه اختیارات ورکول شویدی ، دصد رپه باره کی دااوویل شو چی دادستیټ هم سربراه دئے اودملحق ریا ستونو هم سربراه دئے یعنی فرا نس خودافریقے پرډیروریاستونوقبضه کړے وه مخکی خوداسی ریا ستونه ډیرؤاوس کم شولیکن بیا هم موجودخودی نوداسربراه بده ریاست هم وی اوده ملحقه ریاستونو هم ،ددے انتخاب پارلیمنټ کو ی اوداا ختیارهم ورکول شوئدئے چی کو مه کابینه جوړه شی نود هغو اجلاسونوصدارت به هم دئے کوی نو مطلب داشو چی په انتظامیه کی یه فی الجمله دخل اوشو ـ

دویم داچی دته په قانون سازئ کی دومره حق شته چی دیوقانون متعلق دامحسوسه کړی چی مقننے کوم قانون جوړکړ ئدئے دامناسب ندئے اودیو څه ترمیم ضرورت پکی شته نوداقا نو ن به صرف واپس کیژی نه بلکه ویوه بل قانون تبه حواله کیژی چی هغه ته دستوری کونسل وایی نو هغه به داګوری چی دادقانون دروح سره مطابق دئے اوکنه ، اوصدرته دااختیار هم شته چی دافوا جود سر برا هانوتعین به کوی اوپدے کی دوزیراعظم نه د مشورے اخستلو ضرورت نشته ،اودانتظا میے دبعضو عهدوتقرر هم دته حواله شوئدئے ـ

اوکه چیرته اسمبلیانی دقانون مطابق نه چلیدے نو بیادااختیارورته شته چی دوزیراعظم د مشورے نه پس اسمبلیانی ماتی کړی پدے معامله کی خوبه دوزیراعظم سرمشوره کوی لیکن د دے

مشورے پا بندہ ندئے ، ددے ټولونه علاوه یوبل وسیع اختیارداورته حاصل دئے چی که چیرته په ملك کی دایمرجنسی صورت یایو هنگامی حالت پیښ شی چی ده هغے په وجه سره دملك سلامتی اواستحکام په خطره کی پرے وځی نوپداسی صور تحا ل کی بیا هرهغه څه کولئ شی چی مناسب وی ، دفرانس اودبرطانیے دبادشاه یادنوروصدراتی نظامونوپه مینځ کی دابنیادی فرق دئے ، پدے کی یده انتظامی امورویوه ډیره لویه حصه صدرته حواله کړے داونوری خبری بیاسره برابریدی یعنی هلته هم دوه ایوانونه دی ، اوده دے دوؤایوانوپه مینځ کی هم هغه جوړاوتعلق دئے کوم چی په عامو ملکونوکی دئے ـ

(۴) دسوئټ زرلینډنظام حکومت

څلورم آخری ملك اوریاست چی دهغه تعارف موژکول غواړوهغه دئے سوئټزرلینډ:ددے نظام حکومت ترنوروټولونظامونو نه مختلف دئے ، پرعلم سیاست باندی لیکونکی مصنفین اومفکر ین وایی چی په صحی معنیٰ سره جمهوریت په دے سوئټ زرلینډکی دئے ، داملك بده رقبے په لحاظ سره تقریباًپه پاکستان کی ترسنده صوبے (ولایت) هم کم وی ،اوټوله آبادی یده پنځوسولکونه واخله بیاترشپیتولکو [٦٠٠٠٠٠٠] پوری ده ، په دومره وړوکی ملك کی تقریباً دوه ویشت [۲۲] صوبے دی چی هغوئ ته[canton] وایی ، هره صوبه (ولایت)په انتظامی اموروکی خودمختاره دحکومت یه هم خپل وی اسمبلی یه هم خپله وی اوکابینه یه هم خپله وی اوبله ده تعجب خبربیادادچی په دومره وړوکی ملك کی درے مختلف قومونه آباددی ، (۱)جر منیان (۲)فرانسیسیان (۳)اطالویان ، یوا یو یا [۷۱] فیصدخلګ دجرمن والادئے اویویشت [۲۱]فیصدفرانسیسی خلګ دی شپږ[٦] فیصده بیا د اطالوی نسل والادی ، اوپه مذهبی لحاظ سره هم ډیرلوئ فرق شته پکی اووه پنځوس [۵۷] فیصده " پر ټستنټ " دی یو څلویښت [۴۱] فیصده " کیتهولك "دی اواعشاریه پنځه [0.5%] فیصده یهودئ دی ، په ظاهره خوداخلګ دمذهب په اعتبارسره دنسلی اولسانی په لحاظ سره مختلف دی ، خو مګردوئ دادوه ویشت صوبے دژبی پربنیادندی تقسیم کړے بلکه دایه په انتظامی لحاظ سره جوړی کړے دی اوددے ټولوصوبویه یو۱ وفاق قائم کړیدئے ـ

اوهم دغه رنګه وفاقی حکو مت ، انتظامیه ،عدلیه ، اومقننه داټول هلته کی جداجدادی ، وفا قی اسمبلئ پخپله داوؤ۷ کسا نو انتخاب کوی چی دوئ ورته " فیډرل کونسل " وایی اوداکسان تر څلوروکلونوپوری برقراره وی دانتظامیے سربراهی هم دوئ ته حواله شده ددوئ بیاپه خپل مینځ کی

یوکس خپل " چیرمئین " او تا کی چی دهغه انتخاب تریوه کاله پوری وی اودده صرف داکاروی چی د فیډرل کونسل داجلا سونوصدارت کوی او په نوروټولو اختیاراتو کی دخپلو ملګروسره برابروی ، نوپدے ملك کی دانتظا میے سربراه یوکس نه وی بلکه اووه مختلف کسان وی ، اوددے خلګوپه انتخاب کی ترخپله وسه او طوانه پوری داکوشش کیژی چی دمختلفو صوبو،زبانواومختلفو مذاهبو خلګ پکی شامل کړی ـ

داا ووه کسان دټول ملك ده وفاق نظام چلوی وه دے دوه ویشت صوبوته ښه پراخه اووسیعه اختیارات حا صل دی نوپدے وجه وفاقی معاملات لژدی ، اګرچی داده مقننے رکن هم وی لیکن چی کله هم دفیډ رل کونسل رکن منتخب شوبس اوس په مقننه کی دده ناسته منسوخه شوه ، یعنی اوس دئے داسمبلئ رکن پاتے نه شوبلکه اوس دانتظامیے ارکان ګنړل کیژی ، خومګردخپلو ټولوپالیسیا نو منظوری داسمبلئ نه حاصله وی نوز که داسمبلیانوپه اجلاسونوکی شرکت کوی خومګرداوټ حق ورته نه وی ، ترنن نه یوڅوکاله وړاندی پدے ملك کی وه ښځو ته داوټ اچولو حق نه ؤورکول شو ئے لیکن اوس داڅوکاله کیژی چی هغوئ ته هم داوټ اچولو حق ورکولئ شو ـ

یوبل خصوصیت پدے نظام کی دادئے چی دډیروقوانینودمنظورئ دپاره یادډیروحکومتی پا لسیانودمنظورئ دپاره ریفرنډم کول ضروری دی اوپه بعض اموروکی خوبیالازمی ګنړلئے کیژی لکه چی کله په دستورکی تبدیلی راولی ، نودریفرنډم اواحتجاج نه علاوه په دستورکی تبدیلی نه راولی او په بعضے اموروکی بیااختیاروی ، خولیکن که چیرته یولکه کسان پریوه خبره داحتجاج کو لو تجو یز پیښ کړی نوپرحکومت دالازمی ده چی داحتجاج کولواجازت به ورکوی .. داخو آئینی صورت حال دئے عملی اوروایتی صورت حال دادئے چی دفیډرل کونسل چیئرمین دیوه کال دپاره منتخب کیژ ی اوهرکال داتبدیلی کیژی هم داو جه ده چی ډیرکله عواموته داپته هم نه وی چی نن صبا زموژ چیئر مین څوك دئے ؟ اوددویم ځل ده راتله لواحتمال بیازکه نشته پکی چی دچیئرمین ذمه داریانی ډ یریدی مالی اومادی فوائدیه بیالژدی ، په عام ډول سره چی دحکومت افرادکومی نخرے اوحرامتوبونه کوی هغه مزے دوئ ته نه حاصلیژی تردے چی ددوئ یووزیرپرخپل کوریاګاډی سوارلئ باندی بیرغ (جنډه) هم نه شی لګولئ داستقبال دپاره یه هم یوه خاصه علامه وغیره نه وی ـ

حضرت تقی صاحب لیکلی دی چی ځه په یوه وخت کی هلته تللئے وم نویوکس راته اوویل چی زموژپه ملك کی خو دا تصورهم لیانشته چی ده ملك سربراه یاوزیریایوامیربه روان وی اوباډی ګاډبه هم ورسره وی یابه پائیلټ ورسره روان وی یابه شااومخی ته خلګ ورسره روان وی ددے

خبروتصورهم لیانشته لکه غټ حکو متی سړئے به وی اودئے به دعاموخلګوپه رنګه ګرځی ، تقی صاحب وایی چی کله یاسرعرفات موژ ته راغلونوله هغه سره دسپاهیانواوکارکونانوسمه دسته روانه وه خلګ ډیرپه تعجب کی شو چی داڅه دی، نوداپه حقیقت کی اسلامی تعلیم اوتصوردئے چی حکمرانا ن اوحکومتی خلګ بده عواموسره شانه بشانه غاړه په غاړه ګرځی پخپلوتوپکیانواوکش قتارسربه خلګ نه پریشانه کوی مګر دا تعلیم نن صباهغوخلګواختیارکړئدئے اودافسوس مقام دئے چی زموژمسلمان ملکونوداتصورپرے یخئ دئے بلکه عام سیکولرخلګ به پریژدوعلماء حضرات په څه نخروکی روان وی شااومخی ته ترے نه فوجونه او لښکرونه روان وی۔

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه
۱۹ جمادی الأولیٰ ۱۴۴۱ھ بمطابق ۱۵ ،جنوری ۲۰۲۰ء
فی یوم الأربعاء

أفحكم الجاهليت يبغون ومن احسن من اللّٰه حُكماًلقوم يوقنون (الآية)

گوفکرخداداد سے روشن ہے زمانہ ::: آزادیٔ افکار ہے ابلیس کی ایجاد (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ڈیموکراسی
حصه ششم

اضافه ترتیب وکتابت

حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه ششم

دجمهوریت اوډیموکراسی متعلق بحث شروع ؤپدے کی تردے شپڑ می حصے پوری موڑ دا او پیڑندل چی دجمهوریت تعریف څه دئے ، پرکومه لاره راغلئ دئے ، اوس چی کله هم ته ددے نظام نه انکارکوے یادکفرفتویٰ پرے لگوے، نوترهغے نه وړاندی ددے نظام په هرډول سره پیڑ ندل پکارد ی نوزکه موڑدتعریفی ، تاریخی اوپه ایجادی لحاظ سره دابحثونه اوکړل چی دجمهوریت ایجادکله او شواوچاایجادکړئدئے ، کومی ادارے تردے نظام لاندی کارکوی ، په موجوده وخت کی په کومو ملکو نو کی دانظام ډیردکمال اوپسندیدگئ په اعتبارسره رائج دئے نوداټولی خبری موڑښه په تفصیل سره بیان کړلے ددے نه پس چی اوس دارار وانی کومی حصے دی داډیری دا همیت وړدی زموڑاصل او مقصوداومطلوب به مضامین په هم دے آخرنیو حصو کی دی ، داتیری پنځه واړه حصے گویاکه دد ے راروانوبقایه حصودپاره یوقسم تمهیدگنړلئ کیڑی ـ

اوس پدے شپڑمه حصه کی به موڑدجمهوریت بنیادی اواساسی قوانین پیڑنو چی کله دد ے نظام اصول موڑته معلوم شی نو هله به بیاموڑته دجمهوریت دکفراواسلام پته لگی چی داپه مکمل ډول سره کفری جمهوریت دئے اوکه اسلامی جمهو ریت دئے نوپه قانونی لحاظ سره ددے غر بی جمهو ریت اوډیموکراسی درے اصوله دی پدے اصولوکی که چیرته یوا صل هم نیستی شو نو پداسی صورت کی یونظام اویوه جماعت ته هم جمهوری نشی ویل کیدئ هغه اصلونه دادی :

الف = ★ اول دسیادت اوحاکمیت اصل

ب = ★ دویم دمساواتواصل

ج = ★ دریم دحریّت یعنی دحقوقواوآزادیواصل

دادرے څیزونه دجمهوریت داصولونه دی اوددے درے ؤنه کله هم پریوه پابندی اولگی یا یوپامال شی نوبیادوئ وایی چی داخودجمهوریت طریقه نده ، اوس ان شاء اللّٰه العزیزدلُف ونشرمرتب په حیثیت سره دهریوه اصل اوقانون ښه مفصل بیان کؤپد ے حصه کی به صرف دجمهوریت اوډ یموکراسئ اصول ذکرکؤ په راروانه اووه مه حصه کی به بیاداټول اصول دشریعت په رنړاکی گورونود دے نظام حکم به په آئنده حصه کی ښه په مدلّلانه اندازکی ظاهره ؤ چی ددے نظام څه حکم دئے :

دسیادت اوحاکمیت اصل

اول بده حاکمیت دوه تعریفونه کؤ چی حاکمیت وایی څه ته او هغه تعریفونه په لاندی ډول سره دی :

الف = ÷ اول داچی حاکمیت هغه عالی محکمه دچی دهغے د پاسه بله هیڅ یوه محکمه هم وجو دنه لری اودقانون جوړو لو حق هم ورته حاصل وی ـ

ب = ÷ دویم حاکمیت دأمراونهی هغه عالی محکمه ده چی ددے دپاسه بله محکمه نشته چی دد ے فیصلے ردکړی اویاا عتراض ورباندی اوکړی ،اوس دادسیادت اوحاکمیت اصل په جمهوریت کی په لاندینیودوؤ شقونوولاړدئے :

الف = ÷ اول دتقنین یاتشریع شق:

ددے شق مطلب دادئے چی په کوم قانون یاشریعت به دخلګوترمینځ فیصلے کیڑی اویا دا چی قانون به څوك جوړوی ، (حضرت مفتی صاحب) وایی ماچی پدے باره کی څومره دعربیٔ کتا بونه کتلی دی نوپه هغوئ ټولوکی ورته تشریع وایی یعنی شریعت جوړول په عرب ملکونوکی هم جمهوریت شته مثلاًلکه اردن ، کویت ، اومصروغیره شودے تولوملکونوکی جمهوری او ډیموکراسی نظام دئے او هغوئ صفاعلی الأعلان دخپل کفراظهارکوی چی شریعت جوړول ، ججانوته بیافقهاء وا یی چی داخبره په فلانی کتاب کی فلانی فقیه کړے ده ، دازموژده جمهوریت اصطلاحات خوبدل دی نوزکه موژ ور سره نابلده یو هغوئ قانون سازاسمبلیٔ ته مجلس التشریع وایی ، یعنی دشریعت جوړو لواسمبلیٔ او کمیټیٔ ، بهرحال ؟ اوله خبرداده چی قانون به څوك جوړوی پدے هکله دوئ یو څلور پنځه خبری کوی ـ

=★ اول داچی عوام اولس دقانون سرچنه دنومطلب ددے خبری دادئے چی اکثریت دخلګوبه قانون جوړوی اولدے نه علاوه " أعاذنااللّٰه " نده اللّٰهﷻ قانون صادرے دئے شی اونه دبل چا ـ

=★ دویم داچی دعوامودرائے تقدس به کیڑی یعنی هغه به مقدسه ګنړل کیڑی لکه چی دوئ وا یی (عوام کی بالادستی)ده عوامو بالادستی یودئے ده قانون بالادستی هغه جداخیزدئے ، ددے خبری هم هغه مطلب دئے چی عوام که هرڅنګه داسلام یاشریعت محمدیهﷺ په خلاف قانون جوړکړی نودابه مقدس ګنړلیٔ کیڑی اوڅوك لیااعتراض قدرے هم نشی پرے کولیٔ ـ

=★ دریم داچی دحق معیاربه ده اکثریت رایه وی دازکه چی ټول خلګ خوپریوه خبره نه متفق کیڑی نوپدے وجه چی دخلګواکثریت پرکوم طرف ؤ نوترجیح بده اکثریت وه رائی ته وی ـ

=★ څلورم داچی مرجع دقانون به عقل وی یعنی انسان بده خپل نفس ، خواهشاتو، عقل ، سوچ او فکرمطابق قانون جوړوی اوددے خبری په تائیدکی موژده جمهوریت په تعریفاتوکی د " فارابی " تعریف ولئ ؤ " هی الّتی قصدأهلهاأن یکون أحراراًوَّ یعملُ کُلُّ واحدٍ منهُنَّ ماشاء " چی جمهوریت دیته وایی چی خلکو دآزادئے اراده کړے وی اوهرسړئے دی دخپلی خوښئ مطابق کارکوی ، لدینه معلومه شوه چی په جمهوریت کی چی عقل څه فیصله هم اوکړه اګرکه ده شرعی قطعی نصوصوخلاف ولی نه وه نوبیا به هم راجحه اوقابل عمل ګنړلئ کیژی لکه چی په پاکستان کی ثاقب نثاردآسیے ملعونے دخو شی کولوفیصله اوکړله اوعملی هم شوه حالانکه دشریعت خلاف هم وه نوچی عدالت یوځل فیصله اوکړله بیاشریعت دضلالت په مقابله کی " نعوذ باللّٰه " څه حیثیت لری ـ

=★ پنځم داچی جمهوریت خودحاکمیت حق عواموته ورکوی لکه چی په تعریفاتوکی تیرشو، نو پردے خبره بیادااعتراض و اردیژی چی که ټول عوام حاکمان شی نوبیابه محکومان څوك وی ؟زمکه ، ملك ،عمارتونه ،جمادات اونباتات خومحکوم نشی جوړیدئے !نوچی داڅیزونه محکوم نشی جوړیدئے اودحاکمیت اختیارعواموله دئے نواوس به عوام داخپل حاکمیت پرچا چلوی نوددے خبری په جواب کی بیادوئ وایی چی ده عوامودحاکمیت مطلب دادئے چی دوئ به پخپله رضاسره دحاکمیت اوقانون جوړولولپاره دانتخاباتوده لاری نه خپل نمائنده ګان اوټاکی بیابه دانمائنده ګان ده اوټونودلاری نه پارلیمان ته اورسوی نوبیابه هغه نمائنده ګان حاکمان جوړشی دعواموپه وکالت سره به قوانین جوړوی اوپرعواموبیه نافذه وی اوباقی عوام به محکومان جوړشی ، نوپدے طریقه سره عمو می انتخابات دحکومت دچلؤنکواودقانون دجوړؤنکودټاکنی لپاره بیادحاکمیت ددویم شق یعنی تنفیذ تشکیل کوی چی ددے بحث اوس راروان دئے ـ

ب =÷ دویم دتنفیذاوحکومت ته درسیدو شق:

پدے دویم شق کی حکومت ته درسیدوطریقه راخائی چی حکومت تبه سړئے په څه ذریعه سره ځان رسوی نوددے هم یوڅو صورتونه په لاندینی ډول سره اوګورئ ـ

=÷ اول داچی حکومت تبه سړئے دانتخاباتوده لاری نه ځان رسوی ـ

=÷ دویم داچی پدے انتخاباتوکی به بیاهیڅ قسم دینی معیارنه وی ـ

=÷ دریم داچی خلک به یوشان په انتخاباتوکی برخه آخلی یعنی ده مذهب اودین به پکی هیڅ قسم لحاظ نه ساتل کیژی چی داکافردئے دامسلمان دئے اودابیافاسق فاجردئے دانن صبااول نمبر غله او خنزیران دهم دے آرټیکل په وجه سره پرموژباندی مسلط دی اوبل دوئ وایی چی دنراوښځی

معیار به هم پکی نه وی یعنی دانشته چی نراوتونوته اودریدئے شی اوخزه نشی اودر ے دئے ۔

= ÷ ځلورم داچی څوك هم انتخاباتوته ولاړوی نوپه هغوئ کی به معیاردعقل تقویٰ ، علم او صلا حیت نه وی دغټ عالم متقی پرهیزگاره ولی اوفاسق فاجراوټ به سره برابروی ۔

= ÷ پنځم داچی دکوم چاچی حکومت راشی نودانوربے منی اگرکه هغه حکمران نالائقه وی یاده بل مذهب سره تعلق لری نودهغه دحاکمیت او حکمرانئ نه څوك روګردانی نه شی کولئ البته د حزب اختلاف په صورت کی اعتراض قدرے پرے کو لئ شی بیاکدده اعتراض ته څه ترجیح ورکول شوه خوصحی دکنے سپیره خوله به پاتے وی خولیکن دااعتراض هم هرللو پنجونشی کولئ چی زه دا حکمران نه منم بلکه هغه کس بے کوی چی اسمبلئ ته تللئے وی اوپه حزب اختلاف کی پاتے شو ئیوی ، هم داوجه ده چی اوس دعمران خان په حکومت کی ټول ملك یوطرف ته ؤ علما ؤاو عوامو ټولو دده په خلاف جلسے اوجلوسو نه اوویستل چی موژداحکمران نه منوخولیکن ټول ناامیده پاتے شودا زکه چی هغه که هرڅومره غلط کارونه کړی ؤ هغه داسلام خلاف ؤاوجمهوری نظام خوجوړشوئے د اسلام خلاف دئے داکدئے دیوداسی عمل ارتکاب اوکړی چی هغه جمهوری نظام ته نقصان رسؤنکئ وی نوبیابه تاسولیدلئے ؤ چی دده حکومت ختم کیدواوکنه نو حکومت ته درسیدداصول دی ۔

د مساواتو اصل

دجمهوریت په اصولواوا هموقوانینوکی دویم اصل دمساواتوؤددے قسم هم مختلف صورتونه دی په یوڅوخیزونوکی دوئ برابری ثابته وی :

الف := اول " قانون کے سامنے مساوات " یعنی په قانون کی بده خزی اونرتمیزنه وی بلکه ددوا ړوبه یو شانتے احکامات وی اوده دے قسم شق خوشریعت هم قائله دئے ۔

ب := دویم " مساوات قضا کے سامنے " یعنی دفیصلے مخی ته به هم برابری وی ۔

ج := دریم "عہدوںمیں مساوات " یعنی په وظائفو، نوکریانواوعهدوکی به هم برابری وی ، یعنی دابه نه وی چی داخوکافردئے یاقادیانئ دئے دیته داعهده مه ورکوئے یاداخزه ده دیته به په پولیس یافوج کی برتی کول نه وی جائزنوداقسم قیود به پکی نه وی ۔

د := ځلورم " ٹکسوں کے سامنے مساوات " یعنی پرفقیراوامیرکس به یوشانتے ټیکس وی ،خو دا هسی دخولے خبره ده ټیکسونه دوئ صرف ده غریبانونه اخلی دسرمایه دارانو هرڅه مفت اوفری وی ، دانن صبابعض مستشرقین علماء زکوٰة ته هم ټیکس وایی حالانکه ټیکس په اسلام کی جوازنه لری

حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوئ پردے خبره ده کفرفتوئ ورکړے ده چی څوك زکوٰة ته دټیکس په نظرګوری۔

ه := پنځم " عورت اومرد کے درمیان مساوات " ده خزواوسړوپه مینځ کی مساوات یعنی ښځه او نر یوپربل څه قسمه پابندی نه شی لګولئ ۔

د حریت اوآزادئے اصل

دجمهوریت اوډیموکراسی داصولونه دریم اوآخری اصل دحقوقودآزادیوؤددے اصل درے قسمونه دی بیاترهرتقسیم لاندی خپل خپل قسمونه دی (۱) حریت شخصی ، (۲) حریت اقتصادی ، (۳) حریت سیاسی ،

(۱) دحریت شخصی بیان

ددے اصل مطلب دادئے چی سړئے دخپل ذات په اعتبارسره آزاددئے چی څه ته یه هم زړه اوشی نو کولئ یه شی لکه چی فارا بی ویلی ؤ داحریت شخصی بیاپخپل کورکی درے قسمونه نورلر ی (۱) حریت مادی، (۲) حریت معنوی، (۳) حریت اجتماعی۔

دحریت مادی بیان

اوس ده دے حریت مادی یعنی ده دے مادی آزادئے یو څوقسمونه اوشکلونه دی ده هغوئ بیان کؤ :

(۱) " حق الحیاة " دوئ وایی چی دزندګئ دتیرولوپه هکله سړئے آزاددئے داشرطونه پکی نشته چی اسلام قبول کړه یاجزیه ورکولوته تیارشه اولیابیاقتال جنګ ته ټنګ شه اسلام خووایی چی که چیرته دااولنی دوه څیزو نه څوك نه منی نوپردریم نمبربیاد " فتعیَّن الکوتك للباز گل " والاقصه ده لیکن جمهوری نظام وایی چی نه انسان چی څه هم کوی هغه خه کوی حتیٰ چی کله کله دوئ پردے آرټیکل دومره ګرم شی چی وایی څناورته هم حق الحیات ثابت دئے نیه شے ذبح کولئ نوځناوره بیابه ته څه خورے ، ددے ټولو خبروموازنه موژپه راروانه حصه کی داسلامی تعلیماتوسره کؤ۔

(۲) " حق التنقل " په نقل المکان کی هم دوئ آزادی ورکوی ده مسکن په بدلولوکی هیڅ قسم پابندی نه منی که چیرته دی هم زړه کیدونوتلئے شے بیابرابره خبرده کده سیاحت اوچکرلپاره ځے اوکده ضرورت لپاره ، که هرڅومره غټ مجرم کافروی نو هم دارالاسلام ته ښه په آزاده توګه تلئے شی بیاکیه په اسلامی ملك کی لس کاله تیره ول اوکیه شل کاله تیرول هغه دده خوښه ده ۔

(۳) " حق الأمن " دوئ وایی چی هرسړی ته دی په هرځائے کی امن ورکولئ شی که دئے په

هره طریقه سره خپل تبلیغات کوی بیابرابره خبرده که اسلامی تبلیغات وی اوکه غیراسلامی نوپه هرصورت کی به دئے آزادوی هیڅ قسم پابندی به نه وی باندی۔

(۴) "حق عدم الأسترقاق" بل دوئ وایی چی غلامان به نه وی دانسان نبه غلام نه جوړوے اګرکه کا فرولی نه وی اوددے خبری په دلیل کی دوئ هاده حضرت عمرفاروقؓ قول هم کله کله ذکرکوی کوم چی موژمخکی ذکرکړو چی " متیٰ أستعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحراراً " (کنزالعمال ۱۲:٦٦ حدیث نمبر۳٦۰۱)دایه عمربن العاصؓ ته ویلی ؤ چی تاسوده څه وخت نه خلګ غلا مان جوړکړل حالانکه ده دوئ مندوخودوئ آزادپیداکړیدی۔

(۵) "حق حرمة المسکن" اوبل دوئ وایی چی که هرڅوك هرچیری اوسیژی اویاکورجوړول اوغواړی نو جوړولئ یه شی حتیٰ که یوکافرمشرك یایویهودی اونصرانی دبیت اللّٰه شریفی په خواکی (یعنی په ګواندیاوڅنګ کی) کورجوړول اوغواړی یاهلته اوسیدل اوغواړی نوهم په جمهوریت کی داڅه باك نه لری۔

دحریت معنوی بیان

داخوپه حریت شخصی کی ده اول قسم یعنی حریت مادی قسمونه اوشکلونه ؤ اودے آزادی خودبدن له ظاهری حصے سره تعلق لرلواوس بده حریت شخصی ددویم قسم حریت معنوی (یعنی هغه څیز و نه چی پټ دی په نظرنه ښکاری لکه ده انسان صفات، اخلاق، علم، سوچ اوفکراوعقیده شوه) بیان کؤ ان شاء اللّٰه العزیزددے قسم هم یوڅوشکلونه اوصورتونه دی:

(۱) "حریة العلم" دوئ وایی چی په علم حاصله ولوکی انسان آزاددئے بیاکه هغه دهرقسم علم ؤ لکه علم سحر، علم موسیقی، علم النجوم، علم کتب سابقه (توریٰت، انجیل، زبور) نوپدے تو لو علوموحاصله ولوکی دوئ وایی چی انسان آزاددئے،

(۲) "حریة الأعتقاد" دعقیدے په اعتبارسره انسان آزاددئے کده هرچاهرڅومره ګنده عقیده وی نو بیاهم څوك پابندی نشی پرے لګولئ اودغه رنګه پرکافرباندی هم دده دکفرپه وجه ته پرده باندی دقتل، جزئی، زمی اوغلام جوړولوپابندی نشے لګو لئے بلکه هغه پخپله عقیده کی آزاددئے دغه رنګه که یوکس نن مسلمان دئے صباته یهودی شی بل صباته نصرانی شی درے یم صباته مجوسی شی څلورم صباته کمونست اودهری شی "علیٰ هٰذالقیاس" نوبیاهم داکس آزاددئے اوهیڅ قسم پابندی پر ے نشے لګولئے۔

(۳) "حریة التعبیرعن الرأی" درایی دتعبیرآزادی یعنی انسان دخپلی رایی اونظرچی څه

تعبیر او معنیٰ هم اخلی نواخستئ یه شی اوده دے بیادوه قسمونه جوړیژی (۱) درایی آزادی ، (۲) دبیان آز ادی ،

الف : داول قسم مطلب دادئے چی که چیرته یولوئ جاهل اوزندیق راولاړشی ده قرآن کریم متعلق یاد احادیثوپه باره کی د خپلی خیټی نه رایی پیش کړی اوله کتاب البطن نه دقرآن اویااحادیث مبارکه ؤ مفهوم یامرادذکرکوی نوپه جمهوری نظام کی وه داسی کس ته مکمله آزادی ده ـ

ب : دبیان دآزادئے مطلب دادئے چی هرسړئے دبیان ، اخبار، کالم اومضمون لیکلوپه باره کی آ زا ددئے بیابرابره خبرده که هغه کالم یامضمون یابیان داسلام خلاف ؤ کده جهاد خلاف ؤ کده قرآن خلا ف ؤ نوپدے ځیزکی هم دوئ انسان ته مکمله آزاد ی ورکوی ـ

(۴) " حرية الشكوه " چی څوك هم شکایت کوی ، دچاهم شکایت کوی ، اودڅه هم شکایت کوی ، نوپدے ټولوکی انسان آز اددئے ـ

(۵) " حرية التقديم العرائض " دوئ وایی چی ددرخواسطونوپه پیش ولوکی هم خلګوته مکمله آزا د ی ده ، کده مسلمانانوپه ملك کی عیسایان یاقادیانیان دګرجے یاخپلی عبادت خانے جوړو لودر خوا سط پیش کړی نوداعارضه دسخط کیدئے هم شی او عملی جامه هم ورکول کیدئے شی ـ

دحریت اجتماعی بیان

دحریت شخصی ددے آخری قسم هم یودوه شکلونه ذکرکؤ چی هغه په لاندی ډول سره دی :

(۱) " حرية عقدالأجتماعات وحضورها " په جمهوریت کی ده اجتماع، جلسو، جلوسونو، مظا هرو اودهرنوانعقادکول اوبیاورتلل ـ

(۲) " حرية تكوين الجمعيات والأنتساب أليها " په جمهوری نظام کی سړئے هررنګه پارتیئ یا جماعت جوړوی بیا چی هرقسم نسبت ورته کوی یعنی په هرنامه چه مسمیٰ کوی نوپدے کارکی خلګ آزاددی ـ

(۲) دحریت اقتصادی بیان

دحریت اوآزادیوپه بحث کی دویم قسم حریت اقتصادی ؤ:

ددے مطلب دادئے چی انسان ده مال اودولت په ګټلوکی آزاددئے اوددے جمهوری نظام چی موژ مخکی دکوم ښاخ تذکره اوکړه دسرمایه دارانه اوجاګیردارانه نظام په نامه سره نوددے کیپتلزم اثرهم پد یکی پروت دئے اوددے تفصیل مختـه راروان دئے ، اوس ددے حریت اقتصادی هم یو څوقسمونه

اوشکلونه دی دهغوئ بیان کۀنوپدے کی دوئ خلګوته دتملك ده طریقے آزادی ورکوی دهغے یوڅوصورتونه په لاندینی ډول سره ملاحظه کړئے :

۱ := "طریقة التملُّك" چی ته په څه طریقه سره هم دمال مالك جوړیدئے شی نوپدے کی ته آزاد یے اګرکه په فاسدی اوباطلی بیعه سره یاپه فاسدی اجارے سره دمال مالك شی ـ

۲ := " الحریت فی شیء مملوكٍ " چی دکوم څیزانسان مالك جوړیدل غواړی بیاکه هغه د شرابوپه ذریعه سره وی اوکه ده خنز یرپه ذریعه سره وی غرض دا دوئ وایی چی کوم هم څیزدانسان مملوك وی بس دهغه جوازورته شته که هرشیء انسان اخلی او یایه خرڅوی نوپدے کی دئے آزاددئے ـ

۳ := " الحریت فی حق العمل " دوئ واچی انسان کوم یوکارکولئ شی بیاکه شراب خرڅوی ، که سی ډیانی خرڅوی ، که دیُّو ثی کوی ، که دجوے اوقمارکاروبارکوی ، که سنیماچلوی نوپدے ټولوکارو نوکی په جمهوریت کی څه پابندی نشته ـ

۴ := " الحریت فی حق الراحت " چی انسان په کومه طریقه سره خپل خواهش پوره کوی او خپل ځان ته راحت اوسکون رسوی نوپدے کی دته آزادی حاصله ده ، اود " تهامز هابس " سیاست دا ن تعریف موژمخکی اوکړلو هغه ده خیراوشرداسی تعریف کوی چی خیرعبارت دئے له شهوت پرستئ نه یعنی چی کوم شئ ستاخوښ شی هغه به خیروی اوشرعبارت دئے دنفرت نه یعنی کوم شئ دانسان نفس نه خوښه وی هغه به شروی نواوس شراب نوشی انسان خوښه وی بس دابه دده لپاره خیروی او فر ض عبادت نه خوښه وی نودابه دلره شروی " نعوذباللّٰه من ذالك "

(۳) دحریت سیاسی بیان

دحریت اوآزادئ په بحث کی آخری قسم حریت سیاسی ؤده دے سیاسی آزادئے هم یوڅو شکلونه دی په لاندینی ډول سره :

الف := " حریة الأنتخاب " ددے مطلب دادئے چی رعیت اوعوام دځان لپاره کوم کس منتخب کوی بیاکه هغه مسلمان ؤ که کافرکه مشرك وی اوکه فاسق فاجراوکه خزه وی نوپدے ټولو خبروکی عوا موته آزادی حاصله ده ـ

ب := " حریة حق الترشیح " یعنی که چیرته یوسړئے بغیردیو چادمشورے نه خپله اوټونوته اودریژی اودجمهوریت ده میزاج سره هم آشنااوبلدوی اوجمهوریت منی هم نوبیاورته آزادی شته اګرکه

کا فرولی نه وی ـ

ج := "حریة حق التشریع" چی په کومه طریقه سره څوك شریعت اوقانون جوړه وی نوپدے کی هم دوئ انسان آزادگنړی څه پا بندی وربانده نه لگوی اوپدے قانون سازی کی بیاانسان دکتاب البطن نه هم رایه پیښه ولئ شی ـ

د := "حریة حق مراقبة الحاکم" پرحاکم اوحکمران وخت باندی خلگ اعتراض کولئ شی چی داحاکم ندئے صحی اوداعیب د ئے پکی ـ

ه := "حریة عزل الرئیس" که چیرته خلگ له حکمران وخت نه تنگ راشی نوبس مخالفت دی ترے نه اوکړی اوهغه حکمران د ی معزوله کړی خوداچی ددوئ خنزیرانونه وی خوښه هرڅوك داکارنشی کولئ ـ

دحریت اجتماعی چی موژکوم دویم قسم اوویلود " حریة تکوین الجمعیات و الأنتساب أليها " په عنوان سره نوددے قسم لدے حریت سیاسی سره څه قسم تعلق شته اوهغه پردے بنیادچی کوم ما لداره او استعماری ملکونه دی هغوئ بیاپردے نوروغریبو ملکونوباندی خپلی خپلی ډلی او تنظیمو نه جوړوی مثلاً لکه زموژپه ملك کی نیشنلزم (قوم پرستی پارټیانی) دروس دنظریے خلگ دی نو هغه یه پا لنه کوی ، اودامسلم لیگ اوپیپلیان بیادمغرب ده نظریے خلگ دی نوددے خلگوپالنه بیا غرب کوی اوهغه یه خیال ساتی ، دادجمهوریت اصول ثلاثه ؤ چی موژدستاسوپه وړاندی ذکرکړل او تا سواو کتل چی پدے حریت کی بیا دجمهوریت څومره حرامیتوب پروت ؤاوداپه حقیقت کی دوئ انسان دالله ﷻ دبندگئ نه آزادوی اوالله ﷻ په شریعت کی چی کوم شرطونه اوقیودات دی نودجمهور یت اصلی هدف دهغوقیوداتونه ده مسلمانانولیرکول دی ـ

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه

۲۰ جمادی الأولیٰ ۱۴۴۱ھ بمطابق ۱٦،جنوری ۲۰۲۰ء فی یوم الخمیس

وماکان لمؤمن ولامؤمنة اذاقضیٰ اللّٰه ورسوله امراًان یکون لهم الخیرة .... (الآیة)

احکام دین اسلام چوں شمع گشد خاموش ::: عالم جہول گردد جاہل شود علامہ (شاہ نعمت اللہ)

درس
جمهوریت
او
ډیموکراسی
حصه هفتم

اضافه ترتیب وکتابت

حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه هفتم

دجمهوریت کفردشریعت محمدیه ﷺ په رڼاکی

اوس به پدے اوومه حصه کی ان شاء اللّٰه العزیزدجمهوریت ده تکفیروجوهات بیانؤبالفاظ دیگر موژیوه دعوه لروهغه داچی جمهوریت اوډیموکراسی کفری شیطانی اوطاغوتی نظام دئے اوس به ددے دعوے پراثبات دلائل پیښه ؤاوپه مدلّلانه اندازسر به داخبرثابته ؤ چی جمهوریت کفردئے اوددوئ پد ے خپلوسابقه اصولوسربه ددے نظام کفرثابته ؤ ۔

جمهوریت ځانله یومستقل دین دئے

دجمهوریت دتکفیریوه وجه داهم ده چی داځانله یومستقل دین دئے زکه چی جمهوریت ددین اسلام نه غیرڅیزدئے اواللّٰه ﷻ فرمایلی دی ﴿ فماذابعدالحق الاالضلال ﴾(یونس : ۲۳) نوجمهوریت دا سلام په مقابله کی ځانله علٰحده دین دئے اپر دے خبره به موژیوڅلو دلائل پیښ کړو:

الف :۔ اول دلیل دادئے چی دین دے ته وایی چی ستادزندګئ په هره شعبه کی دخل لری او جمهو ریت هم دجوندددتیرولولپاره یو خپل مستقل تصورلری ، دانسانانودحیات ډیری شعبے یه را تګی کړے دی ۔

ب :۔ دویم داچی لکه څنګه چی ددین اسلام په پریخودلوسره سړئے کافرکیژی ،مخرج من الملة ګنړل کیژی ،باغی شمارل کیژی، دمرتدپه نامه سره مسمیٰ کیژی ،مباح الدم ګرځی بعینهٖ داقانون دنوروادیانو هم دئے اونن صباده ټولی کفری نړئ دین، دین جمهوریت دئے اوهم داوجه ده چی که یوکس اسلام پریژدی یهودی ، عیسائی یا قادیانی شی یابل خنزیرترے نه جوړشی یامسلمان وی بیا هندوشی بیامسلمان شی دویم ځل بیادهری شی یعنی مرتدشی نودے کس ته نه څه سزاملاویژی اونه څه قسم قانو نی پابندی ورباندی لګی خولیکن که چاده جمهوریت نه انکاراوکړوداجمهوری آئین یه چیلنج کړوده دوئ کفری اووضعی رټ یه چیلنج کړونوداسی کس بیاددوئ په قانون کی باغی ګرځی یوه شپه هم بیاپدے ملك کی په آرامه نشی تیره ولئ فوراًبه ګرفتاره کیژی اومباح الدم به وی نولدے نه معلو مه شوه چی جمهوریت ځانله یومستقل دین دئے ۔

ج :۔ دریم داچی داده فقهی کوم کتابونه چی په مدارسوکی ورته ویل کیژی دادین دئے اوکنه

اوپدے کی ده عقوباتو مسئلے شته او کنه چی حدبداسی جاری کوے رجم به په داسی طریقه سره جاری کو ے دا ټولی مسئلے اوس جمهوریت پخپل لاس کی اخستے دی نوداوس مستقل دین نه شونوبیاڅه شو ـ

د :ــ څلورم ده دین مختلفی اوبیشماره معناګانی علماؤبیان کړے دی خوموژدلته درے مشهوری معنٰی بیا نه ؤ چی ده هغوئ په مجموعه سربه ددین درے قسمونه شی (۱)دین اسلام ، (۲) دین الملك ، (۳) دین الجمهور هغه درے معنیٰ لاندی دی ،

۞ اول دین په معنیٰ دقانون سره راځی لکه چی اللّٰه ﷻ په یوځائے کی فرمایلی دی ﴿ماکان لیأخذأخاه فی دین الملك﴾(یوسف : ٧٦) أی فی قانون الملك ،

۞ دویم دین راځی په معنیٰ داطاعت سره لکه چی اللّٰه ﷻ فرمایلی دی ﴿ولایدینون دین الحق ﴾(التوبه :٦٩) أی ولایطیعون اللّٰه لطاعة الحق ، امام طبریؒ وایی چی داللّٰه ﷻ حق اطاعت نه کوی ،

۞ دریم دین په معنیٰ ده جزااوسزاسره هم راځی لکه څه رنګه چی اللّٰه ﷻ فرمایلی دی ﴿ما لك یوم الدین ﴾(الفاتحة :۳)

اللّٰه ﷻ مالك دورځی دجزادئے ، اوپه حماسه کی بده الفندالزمانی شعرهم تاسواوریدلئ وی چی " دنا هم کمادانوا " موژداسی جزاورکړله لکه څنګه چی یه له موژسره کړی ؤ،پدے باره کی یوه مقوله هم مشهوره ده چی " کماتُدینُ تُدانُ " اوپه پښتوکی موژ وایو چی څه کرے هغه به بیارے بے هم ، اوچی څه کوے هم دغه رنګه به درسره کیژی هم ، اوجزامن جنس العمل وی اوپه دین سره هم انسان ته جزاء ملاویژی زکه ورته دین وایی ـ

ترکیب : اوس ددین موژدرے معنیٰ ګانی اوکړلے (۱) دین په معنیٰ دقانون سره (۲) دین په معنیٰ داطاعت سره (۳) دین په معنیٰ ده جزاسره ، نواوس به ددے درے معنی ګانوپه ترکیب سره مو ژهغه درے ادیان پدے طریقه سره معلومه ؤ :

اول : اوس که کوم خلګ یاقوم یاملك اوریاست اللّٰه ﷻ قانون ساز اومنی اودهغه دقانون اطاعت هم اوکړی په نیت دبدلے سره نوداخلګ اوقوم به مسلمانان وی پردین اسلام باندی به ګنړل کیژی اوددے ملك قانون به اسلامی قانون وی اودابه دین اسلام وی ، اوس پدے ترکیب کی ټولی معنا ګانی راغلے ـ

دویم : اوکه کوم قوم بادشاه ، حکمران اویاحاکم وخت قانون ساز اوګنړلواودهغه دوضعی قانون یه اطاعت هم اوکړلوپه نیت ده بدلے سره نودیته بیادین ملوك ،ملوکیت اوشهنشاهیت وایی لکه چی

نن صباکوم په امریکه اوسعودی کی دئے دوئ ورته صدار تی نظام وایی ۔

دریم : اوکه په یو ځائے کی عوام قانون سازاوګنړلئ شی اوده هغوئ دقانون اطاعت اوشی په نیت ده بدلے سره نوودیته بیادین جمهوریت وایی ، ده بدلے نه مراددهغه ملك مراعات حاصلول او د هغه ملك ښهری جوړیدل ،اوپه امن سره په هغه ملك کی زندګی تیرول ، اوس په موجوده جمهوریت کی مذکوره بالادرے واړه معناګانی په اتمه اواکمله طریقه سره وجودلری لدے څلورم دلیل نه هم معلومه شوه چی جمهوریت ځانله یومستقل دین دئے ۔

ه :ــ پنځم داچی دجمهوریت خپل نقباء اومشران هم ددے خبری اعتراف کوی چی جمهور یت ځا نله یو مستقل دین دئے لکه چی دوئ وایی[democraci is the word news relegion] یعنی جمهوریت داددنیایونوئے مذهب دئے ۔

اوس پدے نظام کی عوام " نعوذباللّٰه " دخدائے حیثیت لری اوکوم نمائنده ګا ن چی یه پار لیمنټ ته لیژلی دی هغه دپیغمبرانو حیثیت لری ، نوددوئ دخپلو مشرانو او کبراؤدارایه ده چی جمهور یت ځانله یو مستقل دین دئے ۔

لهٰذجمهوریت یونوئے کفری دین دئے چی خپل شریعت ، خپل قوانین ، خپل اخلاق اودژو ند تیرولولپاره یو خپل ځانګړئے تصوراوحیثیت لری ددغه نوی دین فلسفیان پیروکاران اومتبعین غواړی چی جمهو ریت دی تراسلام ، یهودیت ، مسیحیت ، هندویزم ، بودانیت ، اوبل هردین نه مقدم او محترم شی اوبل یودین دی هم دجمهوریت په رنګه قداست اواحترام اونه لری ، ټول انسانان دی په جبر ی شکل سر ه ددغه نوی دین په منلوباندی مجبوره شی اوکه څوك دانوئے دین اونه منی نو هغه بده انسانیت ده در جے هم مستحق لیانه وی ۔

دمثال په ډول امریکه یومسیحی هیواداوملك دئے که هلته څوك مسیحیت نه منی اویاله مسیحیت نه واوړی بل دین ته نولدے کس سره حکومت وخت څه مشکل نه جوړه وی ، لیکن که چیرته یوکس په امریکه کی ده جمهوریت ده منلونه انکاراوکړی نودا کس اوس په امریکه کی داوسید لوحق نه لری هم دغه رنګه که یوسړئے په برطانیه ، یاپه فرانس کی ، یاپه جرمنی کی ، یاپه ایټالیاکی او یاپه استړالیاکی چی داټول مسیحی ریاستونه دی اوداکس مسیحیت اونه منی نو هم خیرخیریت دئے هیڅ مشکل ورته نه جوړیژی نه له یو څه مصیبت سره مخامخ کیژی ، خولیکن که یه جمهوریت اونه منلونوداکس بیاپدے ملکونوکی داوسیدوحق نه لری ۔

اوس لدے نه معلومه شوه چی جمهوریت دټولوباطلواومنسوخه ادیا نومجموعه ده دانورټو ل

باطل ادیان دجمهوریت په شکل کی وجودلری نوخلاصه داشوه چی نن صبادټولویهودو هنودو نصارا عیسایانو کفارواومشرکینودین جمهوریت دئے اوټولی کفری نړۍ دغه نوئے جمهوری اوډیمو کراسی د ین قبول کړئیدئے ۔

هم دغه رنګه که یو څوك په اسرائیلوکی یهودیت اونه منی نواوسیدلۍ شی خوکه جمهوریت اونه منی بیانشی اوسیدئے ، هم دغه حکم نن صباده دنیاپه ټولو ملکونوکی حاکم دئے ، اوداتردے چی که یوکس په اسلامی ملکونوکی اسلام اونه منی اویامر تدشی نو هیڅ مشکل هم نه لری خو لیکن که جمهو ریت اونه منی نو هغه به له هرقسم انسانی حقوقونه محرومه کیژی اوحتی چی دژو ند تیرولو حق هم بعضے وختونوکی ترے نه ډیرپه بے رحمۍ سره سلب شی ،اوسلام ډیروخلګوپرے یخۍ دئے په زرګو نه خلګ په ورځ کی قادیانی کیژی شیعیت ته اوړی ډیرخلګ هندوان شوخودایوه مسئله هم نه ګنړی ۔

نوپریژده زموژدخپل پاکستان مثال به راواخلو چی کوموخلګوله دے جمهوری دین نه مخالفت اوکړوداسلامی اومحمدی شریعت ده نفاذلپاره میدا ن ته رااووتل نوبیاکوم حالت ته اورسیدل اوڅه حشریه اوشوڅومره تنکی تنکی ماشومان یه په شهادت اورسول په ماشومانویه سرفه اونه کړه په مسا جدواومدارسویه سرفه اونه کړله حتیٰ چی قرآن یه هم لیااونه بخلو ، نوکه په پاکستان کی هم پا ر لیمان اویاحکومت دیوے سیمی لپاره په جمهوری طریقه سره یوداسی قانون رائج کړی چی ده اسلا می تعلیماتورعایت پکی شوئے وی اودجمهوریت دمزاج سره ټکرلری نوټوله کفری نړۍ یه په خلاف اودریژی اوحکومت ده خپلی فیصلے نه رجوع کولوته اړکو ی (مجبوره کوی) پدے دلیل سره چی داد فعه له نوی جمهوری دین سره مخالفت لری ...۔

په اوسنی دورکی مغرب اویورپ چی ددے نوی جمهوری دین رامخته کؤنکی اومنونکی د ی هغوئ په میلینونه ډالر، په لکونه فوجیان ، په سلګو نو زره راډیوګانی اومؤسسے یه په نړئے کی دهم دے جمهوری دین دترویج اواشاعت لپاره په کاراچولے د ی ، هرهغه ملت چی ددے نوی دین منلوته نه تیاریژی دهغوئ دځپلولپاره جمهوری دین دهغه خلاف دجګړی کولوجوازپیداکوی ، اوله ملګرو ملتونونه ده هغوئ دوژلورسمی اوقانونی فتو ئ ترلاسه کوی ، پاتے شوه داخبره چی جمهوریت ولی کفردئے ؟ نوددے خبری شرعی دلائل په لا ند ی ډول بیانه ؤاودقارئینود آسانتیالپاره په هم هغه سابقه طریقه سره ددے دتکفیر(چی داولی کفری نظا م دئے)وجو هات هم بیانه ؤ چی په کومه طریقه سره مود دے اصول ذکرکړی ؤنودتکفیردلائل یه هم په هغه زاړه ترتیب سره بیانوؤ ۔

دحاکمیت اصل دشریعت په رڼړاکی

الف = ÷ دتقنین اوتشریع شق دشریعت په رڼړاکی

۱ ◌ : =

دحاکمیت داصل موژدوه شقونه جوړکړی ؤیودتقنین اوتشریع شق ؤ بل دتنفیذاوحکومت ته درسید وشق ؤداولنی شق مطلب داؤ چی په کوم قانون یاشریعت به ده خلګوترمینځ فیصلے کیژی او یا داچی قا نون به ثوك جوړوی ، ددے شق هم بیاموژډیرصورتونه اوشکلونه جوړکړی ؤددے داو لنی شکل خلا صه داوه چی قانون به عوام جوړوی یعنی قانون سازی به عوام کوی دازکه دوئ وایی چی عوام دقا نون سرچینه ده ، نودحاکمیت اعلیٰ اوقانون سازئ حق جمهوریت عواموته سپاری چی دا کثریت په شکل کی به حکمرانی کوی، خواسلام اوشریعت محمدیه ﷺدغه حق صرف اوصرف اللّٰه ﷻ لره ثابته وی ،اسلام وایی چی بندګان ټول داللّٰه ﷻ مخلوق دئے هرڅه ورته اللّٰه ﷻ پیداکړی دی او هم هغه دانسانوپه ضرورتونواومصلحتونوډیر ښه پو هیژی اودهم دے ازلی پو هی پربنیادیه په هره ز مانه کی هر قوم ته ده هغوئ دحال اووضعیت مطابق شریعت اوقانون رانازل کړ ئدئے اوداددے لپاره چی ده دے قا نون مطلق اطاعت اوشی ، اودهغه دحاکمیت په مقابله کی بل هیڅوك دحاکمیت په حیثیت او هیڅ قا نون دمنلووړاونه منلئ شی ـ

پرهم دے اساس ټول مسلمانان پردے مکلف دی چی داللّٰه ﷻ رانازل شوئے قا نون اومنی ، او داختلاف اومنازعے په صورت کی صرف اوصرف دهغه ده قا نون اطاعت او کړ ی ، نه داچی له خپله لو ری دخپلی پو هی او عقل پربناء قوانین جوړکړی اوبیاپه هغو خپلووضعی اواختراعی قوانینو فیصلے کوی ، په اسلام کی قطعی الثبوت دلا ئل له هغه کس نه ایما ن نفی کوی چی ثوك د اللّٰه ﷻ د قانون نه علاوه دبل چاپه قانون فیصلے کوی ، اوداللّٰه ﷻ په مقابله کی دبل چاحا کمیت منی ، اویادا چی داللّٰه ﷻ په قانون فیصلے کوی خوپه زړه ورباندی راضی نه وی نولاندی صریح آیتونه ددے خبر ی قطعی دلائل دی چی حاکمیت به صرف اوصرف اللّٰه ﷻ لره ثابت و ی اوصرف او صرف بداللّٰه ﷻ قا نون منلئ کیژی درب لم یزل دقانون په مقابله کی بده بل چاد قانون هیڅ حیثیت هم نه وی نودوئ ویلی ؤ چی شریعت اوقانون به عوام جوړه وی اوحا کمیت اعلیٰ هم عوا موته حاصل دئے داټولی خبری د کفردی اوس پدے هکله موژیوڅو آیتونه مبارکه پیش ؤ :

(۱) اول اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿أن الْحُکم ألّالِلّٰه ﴾(الانعام : ۵۷) فیصله اوقانون سازی داللّٰه ﷻ حق دئے ، اوبل ځائے کی فرمایی چی ﴿أن الْحُکم ألّالِلّٰه ﴾(یوسف : ۴۰ او۶۷) ندئے حکم اوفیصله د څه شی مګرخاص اللّٰه ﷻ لره ،

(۲) دغه رنګه په یوبل ځائے کی فرمایی چی ﴿ألالهٗ االْحُکم وهو أسرعُ الحٰسبین ﴾(الانعام : ۶۲) خبردارخاص داللّٰه ﷻ لره فیصله اوهغه ډیرزرحساب کؤنکئ دئے ، اوبل ځائے کی فرمایی چی ﴿ولهٗ االْحُکم وألیه ترجعون ﴾ (القصص : ۷۰،او۸۸) یعنی اواللّٰه ﷻ لره دئے حکم (دهرشی)اوده ته به بیرته ګرځولئ شئ تاسو،

(۳) بل ځائے کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿أم لهم شرکٰؤ اشرعوالهم من الدین مالم یأذن بهٖ اللّٰه ﴾ (شوریٰ : ۲۱) ددوئ لپاره شریکان دی چی هغوئ ورله دین جوړکړئدئے اوددے دین اذن اواجازت اللّٰه ﷻ دوئ ته ندئے ورکړئے ، په یوبل ځائے کی فرمایی ﴿و اللّٰه یحکم لامعقب لحکمهٖ ﴾ اونبی السیف ﷺ فرمایلی دی چی وألیك حاکمتُ أیْ رفعتُ أمری ألیك فلاحکم ألالك (بخاری ، باب التهجد) یعنی ستاپه قانون (قرآن) به زه فیصلے کوم اونشته حق دقانون سازئ مګرتالره ـ

(۴) اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ فأن تنازعتم فی شیءٍ فرُدُّوه ألی اللّٰه والرَّسول أن کنتم تؤمنون باللّٰه والیوم الآخر ﴾(النساء : ۵۹)

که ستاسوجګړه راغله په یوشی کښی پس وه یه ګرځوئے کتاب اللّٰه ته اوسنت درسول ته که چیرته یئ تاسوایمان راوړونکی په اللّٰه ﷻ اودآخرة په ورځ باندی . داآیت په صراحت سره حکم کوی چی دمنازعے اوجګړے په صورت کی به فیصله په جمهوری اوبل وضعی قانون باندی نه کوئ بلکه دفیصلے حل به صرف اوصرف داللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺ ویناوی ، بل ځائے کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ فلاوربك لایؤمنون حتیٰ یحکموك فیماشجربینهم ثم لایجدفی أنفسهم حرجاًمماقضیتَ ویسلمواتسلیماً ﴾ (النساء : ۶۵)

پس قسم دئے ځماپه رب ستاچی مؤمنان نه ګنړلئ کیژی دوئ ترهغه وخته چی ته یه پخپلو جګړو واوشخړوکی حکم (فیصله کؤنکئے)نه یی ګرځولئے ، اوبیادوئ اونه مومی پخپلوزړونوکی څه قسمه نا راض ګی ستاده فیصلے په کولوسره ،اواو منی دوئ ستاخبره اوفیصله په منلوسره بغیردڅه ناراض تیا نه په خوښه سره ـ

پدے آیت مبارکه کی هم دهغ کس دایمان نفی شوے ده چی څوك دخپل پیغمبر ﷺ په دین فیصلے نه کوی نودانن صباچی څوك په انګریزی قانون سره فیصلے کوی یاپه ملکا نواوسردارا نوسره

خپلی لانجے حل کوی اوکله داسی هم کیژی چی دچافائده په شریعت کی وی هغه وایی زه په شریعت سره فیصله کوم اوچے په شرعی فیصله کی فائده نه وی بیاپه انگریزی قا نون یاپه ملکا نواو سردارانوسره فیصلے کوی داډیری خطرناکی خبری دی زکه چی دشریعت اسلامی نه انکارکول یاد شریعت پرځائے دانگریزیادبل انسان فیصلے اوقانون ته ترجیح ورکول دا صرا حتاً کفر دئے :

(۵) بل ځائے کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ أنـاأنزلناالیك الکتاب بالحق لتحکم بین الناس بماأراك اللّٰه ﴾ (النساء : ۱۰۵)

بیشکه موژدرلیژلئیدئے تاته اے محمد ﷺقرآن په حقه سره اوددے لپاره چی ته فیصله او کړے دخلگوترمینځ په هم دے کتاب سره داللّٰه ﷻ دلارښوونوپه رنړاکی ، پدے آیت کی هم دقرآن دناز لولو هدف اومقصددارابنوول شوئدئے چی رسول اللّٰه ﷺدی ده هم دے پربنیاددخلگوپه مینځ کی فیصلے کوی ، نده جمهوریت په قانون سره ـ

لهٰذاپورتنی ټول آیاتونه اوپه لسگونه نورآیتونه په پوراصراحت سره داموضوع بیانوی چی سیادت حاکمیت اعلیٰ یوازی اللّٰه ﷻ او ده هغه درالیژلئے شوی شریعت ته حاصل دئے ، اوفیصلے هم با یدچی صرف اوصرف په هغ قانون اوشی چی اللّٰه ﷻ رانازل کړئدئے ، اوهرڅوك چی داللّٰه ﷻ دقانون په مقابله کی پخپل عقل اورائی سره ده خلگولپاره داسی قوانین جوړه وی چی هغه د اللّٰه ﷻ له قانون سره مخالف وی نوداسی کس اوخلگ مؤمنان نشی پاتے کیدئے بلکه داسی خلگ په یقینی ډول داسلام له دا ئر ے نه اوځی ـ

په جمهوریت کی حاکمیت اعلیٰ ده عوامو حق گنړلئے کیژی خوپه اسلام کی داحق صرف او صرف اللّٰه ﷻلره ثا بت دئے .په جمهوریت کی دخلگودمشکلاتودحل اوفصل لپاره قوا نین دبشر له طرفه صرف دعقل پربنیاد جوړیژی ، داکثریت (پالیمان) دمنلواوتصویب اوحاکم له تو ثیق نه پس قا نونیت پیداکوی ، خوپه اسلام کی بده اسلام دقانون په مقابله کی بل هیڅ یوقانون هم نه جو ړ یژی ، اونه به داسلام قانون پارلیمان ته دنفاذپه خاطروړاندی کیژی ، اوکه څوك دنفاذشریعت بل پار لیما ن کی پیش کړی نودے کس دے ابلیسی پارلیمان ته داللّٰه ﷻپرحکم اوقانون باندی فو قیت اوبالا دستی ورکړله نوداکارهم بیا پخپله صریح کفردئے اودازکه چی دے کس داسلام شریعت محمدیه ﷺدومره تذلیل اواهانت اوکړلو چی دامعززدین یه پار لیمان (پارلیمنټ) ته یوورو فاسقا نوا وفاجرانوته یه حواله کړو اوهغوئ بیاشپژمیاشتی پردے خبره بحثونه کول چی آیااوس موژدااسلامی شریعت په پا کستان کی نافذکړواوکنه اوداده نفاذوړدئے اوکنه " نعوذباللّٰه من ذالك "

بهرحال دالله ﷻ ده قانون نه علاوه بل وضعی اواختراعی قانون جوړول بیابرابره خبرده که هغه دجمهوریت په نامه سره اوکه په هرنامه سره وی داصریح کفردئے اودازکه چی دالله ﷻ دقانون په مقابله کی خپل قانون جوړول داپه حقیقت کی دالله ﷻ له قانون سره معارضه اومقابله کول دی اودا معارضه او مقابله مستلزمه ده دالله ﷻ دقانون عدم رضالره داته چی دالله ﷻ دقانون په مقابله کی خپل قانون جوړوے نولدے نه معلومیږی چی ته دالله ﷻ په قانون نه یی راضی اودالله ﷻ پردین اوقانون باندی عدم رضاصریح کفردئے ، اوجمهوریت دتقنین اوتشریع حق عواموته ورکوی چی قانون به عوام جوړه وی نوالله ﷻ فرمایی چی ﴿أن الْحُكم ألَّالِلّٰه ﴾ اوددے په مقابله کی جمهوریت وایی چی نه ''أن الحکم ألاللشّعَب یاألاللعوام یاألاللناس '' حکم اوفیصله بده عوامو کاروی ، لدینه معلومه شوه چی د جمهوریت دحاکمیت دغه شق کفردئے ـ

نوپه جمهوریت کی دستورحیات اودزندگئ تیرولونظام یعنی (آئین) جوړول دادپارلیمنټ حق دئے ، چی هغوئ دخپل خواهش مطابق چی چاته هم اوغواړی نوهغه ته دآئین اوقانون درجه ورکوی ، اوپه شریعت محمدی ﷺ کی داحق دالله ﷻ نه سوا بل هیچاته هم ندئے حاصل اوداسی عقیده لرل له الله ﷻ سره کفرکول دی زکه چی الله ﷻ فرمایی ﴿أم لهم شركاءُ شرعوالهم من الدين مالم يأذن به الله ﴾ (الشوریٰ : ۲۱) آیاددوئ داسی شریك شته چی هغوئ ددوئ لپاره دزندگئ دتیرولونظام مرتب کړئدئے چی ددا سی کاراجازه الله ﷻ نده ورکړے ـ

جمهوری قانون سازی اواسلام

دابحث خوموژپه ډیرښه اندازکی اوکړوچی دقانون سازئ حق صرف اوصرف رب لم یزل ذات لره دئے خو''حضرت مولانا عاصم عمر'' پردے موضوع ډیرخکلئ بحث کړئدئے نوزکه ځمازړه او غوښتل چی هم دهغه په طرزسره دابحث صرف خپلی مورنئ ژبی ته راواړه وم نوهغه لیکی چی جمهوری نظام انسانانوته دااختیارورکوی چی دانسانانوداکثریت نظام اودستورحیات دخپل ځان لپاره خوخ کړی ، چی څه ته یه زړه اوشی نوحلاله وی بے اوچی څه ته یه زړه اوشی نوحرامه وی بے آئینی ریاست او ملك هم دیته وایی چی دانسانانوحق پکی تسلیم شوئوی اوکه چیرته په یوملك کی د انسانانودادقانون سازئ حق نه وی نوداسی ملك ته بیاجمهوری آئینی دستوری ملك ویل کیږی نه ،حالانکه دزندگئ تیرولوپه دستورکی بل څوك دالله ﷻ سره شریك جوړول بالاتفاق کفردئے خو مگرپدے جمهوری نظام کی یه له الله ﷻ سره محض سریك هم ندئے نیولئے بلکه داحق یه په مکمل ډول سره

پارلیمنټ ته ورکړئېدئے " نعوذبالله " الله په قانون سازی کی شریك جوړول بربنډاو خکاره جرم ګرځولئېدئے اوله دا سی کارنیه منع کړے ده اوفرمایی چی ﴿ و لایُشرك فی حکمهٖ أحداً ﴾ (الکهف : ٢٦) اوهغه (الله ﷻ)پخپل حکم (قانون) کی هیڅوك هم نه شریك که وی ،

امام بغویؒ فرمایی :

" چی ابن عامرؒ اویعقوبؒ ددے لفظ دویم قراأت کړئېدئے هغه داچی " ولاتشرك فی حکمه احدا " یعنی دالله ﷻ په حکم (قانو ن) کی څوك شریك مه جوړه وئ "

دازکه چی ددے قانون جوړولوحق صرف هغ ذات لره خاص دئے چی چاداکائنات پیداکړئېدئے او الله ﷻ وایی چی : ﴿ ألالهٗ الخلق و الأمر ﴾ (الاعراف : ۵۴) " ... واورئ ! چی دپیدائش اوحکم (قانون سازئ) صفت صرف الله ﷻ لره خاص دئے "

ددے آیت په تفسیرکی مشهورحنفی عالم مفسروفقیه ، امام ابواللیث ثمرقندیؒ فرمایی :

" ألاکلمة التنبیه ،یعنی:اعلموا أن الخلق للّٰه تعالیٰ و هو الذی خلق الأشیاء کلهاوامره نافذفی خلقه " پدے آیت کی لفظ " الا" دتنبیه دپاره ده مطلب یه دادے چی پوه شئ چی خلق (پیداکول) صرف اوصرف له الله ﷻ سره خاص دئے چی کوم ذات دنیااونورهرڅه پید اکړی دی نو هم دهغه ذات حکم اوقانون به نافذیژی ـ

امام نیشاپوریؒ فرمایی :

پدے آیت کی ددے خبری دلیل دئے چی دالله ﷻ نه علاوه بل هیچاره داحق ندئے حاصل چی پر یو چاباندی یوه خبره لازمه کړی ، امام فخرالدین رازیؒ هم دغه رنګه خبره کړے ده ـ

لدے آیت کریمه نه داخبره معلومیژی چی دالله ﷻ نه ماسوابل معبودنشته ، الله ﷻ خالق د ئے او هم هغه قانون جوړونکئ دئے نوپدے کی که څوك هم یوصفت هم دبل لپاره ثابت کړی نو ګو یاکه دا کس په زبان سره داویلے کلمه دلااله الاالله نه انکا ر کوی ، لهٰذااوس که یوکس یومزارته لاړ شی او هلته اووایی چی اے فلانئ پیره ! ماته بچئے راکړه یایوڅوك دخپل بچی نسبت دیو پیرطرف ته او کړی چی دابچئے فلانی پیرراکړئېدئے ، نو هرڅوك وداسی کس ته مشرك وایی ، لیکن که یو څو ك دا سی اووایی چی فلانئ دقانون جوړولوحق لری (یعنی پارلیمنټ)یادستوراوقانون جوړول داد پار لیمنټ کاردئے ... نو آیاده داسی خلګوپه باره کی دشرك لفظ ستاسوده خولونه پدے وجه نه رااوځی چی د دا سی کارمرتکبین خوله فردطاقتوریاحکمران طبقے سره تعلق لری ؟ حالا نکه پدے آیت مبار که کی الله ﷻ دتخلیق په شانتے قانون سازی هم خپل خاص صفت ګرځولئے دئے ! قانون جوړول داصر ف دالله ﷻ حق دئے بل هیڅوك هم داحق نه لری چی دخپل طرف نه یوقانون جوړ کړی یاده یو څیزپه باره

کی دناجائزیاجائزقا نونی اوغیرقانونی حکم اوکړی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی :

" و من زعم أن اللّٰه للعبادشیئاًمن الأمرفقدکفربمأأنزل اللّٰه علیٰ أنبیائه لقوله ﴿ و لایُشرك فی حکمهٖ أحداً ﴾

" اوکه چاداگمان اوکړوچی اللّٰه ﷻ دامر(دستوراوآئین جوړولو) دصفت څه اختیارخلګولره هم ورکړیدئے نو چی اللّٰه ﷻ پرخپلوانبیاؤباندی څه هم رانازل کړی دی دے کس پدے ټولونازل کرده اشیاؤباندی کفر او انکار اوکړ و،اوداللّٰه ﷻ دے قول په وجه سره چی ﴿ ألا لـه الخلق و الامرتبارك اللّٰه رب العٰلمین ﴾ داللّٰه ﷻ نـه بـه تردے نه زیات نورانکارڅه وی چی کوم صفت اللّٰه ﷻ ده خپل ځان سره خاص کړئے وی اودئے هغه صفت داللّٰه ﷻ نه واخلی انسان ته یه ورکړی ،او هغه داللّٰه ﷻ سره برابرکړی ـ

ع لامه سیدابوالحسن علی ندوی ؒ فرمایلی دی :

اللّٰه ﷻ دخپل ځان نـه عـلاوه بـل چالره داحق ندئے ورکړئے چی هغه دی دیو څیزپه باره کی د جاء اونا جائزفیصله اوکړی ، حتیٰ چی نبی ته هم دااجازه نده ورکړے چی هغه دی داللّٰه ﷻ دحکم نه علاوه دخپل طرف نه یوه خبره حلاله یاحرامه اوګرځوی ،

نـو بـل چالـره به ددے خبری اجازت بیاله کومه وی چی داللّٰه ﷻ دقـانـون پـه مقابله کی دخپل طرف نـه قانون سازی اوکړی اوهغه څیزونه جائزکړی کوم چی احکم الحاکمین ذات ترقیامته پوری په بـاقـی قـا نـون (قرآن) کی ناجائزه کړی وی ، یایوداسی خبره ناجائزه کړی اوپابندی ورباندی اولګوی چی هغه اللّٰه ﷻ جائـزه کړے وی اوده هغه کارده کولوحکم یه کړئے وی لکه جهادفی سبیل اللّٰه په دور حا ضرکی فـرض عیـن حـکـم دئـے اوقـائـدصـاحـب ویـلی دی چی موژپردے خبره اتفاق سره اوکړوچی د اسلحے سیاست نن صباناجائزدئے ـ

دعـالـم عرب مشهورعالم شیخ سفرالحوالی ؒ په " شرح عقیدة الطحاویة " کی د " الاله الخلق وا لامر " په تشریح کی لیکی چی :

" .... وفـی هٰـذه الآیة دلیـل عـلیٰ أنه لایجوزلأحدغیر اللّٰه تبارك وتعالیٰ أن یشرع للناس بأی حال من الأ حـوال ، فـا لشرع المتبع أنماهوشرع اللّٰه و دینهٖ ، لأن اللّٰه تعالیٰ هوالذی خلق الخلق ، فکیف یکون له الخلق ویکون لغیرهٖ الأ مروالنهی "؟

پـدے آیت کی ددے خبری دلیل دئے چی داللّٰه ﷻ نـه علاوه بل هیچالپاره داندی جا ئز چی په یو حالت کی هم دخلګولپا ره قانون سازی اوکړی ، نو هغه شریعت چی دهغه اتباع کول پکارده هغه صر ف اوصرف داللّٰه ﷻ شـریعت اودین دئے ، اودازکه چی هم اللّٰه ﷻ مـخلوق پیداکړیدئے نودا څنګه کید ئے چی خالقیت دی دهغه دپاره خاص وی اوامراونهی (یعنی څه کول اوڅه نه کول یاقانون سازی کول)

داحق دی بیابل چالره ورکول شی ـ

ددے خبری ده آسانئ دپاره موژیو مثال بیانه ؤ " وللّٰه المثل الاعلیٰ " هغه داچی یوکس دګاډی او مو تر ایجاداوکړواوس به ددے ګاډی دچلولو طریقه هم داکس راخائی (راښیی) چی دابه کوئے او دابه نه کو ئے چی ګاډئے چلوے یایه روانه وے نوبیابه ریس ورکوے اوچے اودره وے یه نوبیابه بریك نیسے ،،، نوددے ګاډی چلؤنکی په باره کی ستاسو څه خیال دئے چی یوډرے وردے موجِدُخبره اونه منی اوپخپله ځانی استاذی سریه چلوی ؟ چی چیرته بریك نیول وی هلته ریس اوایکسلټرورکړی اوچے مختـه بیایی نوده ریوس ګیراولګوی چی خی طرف تیه راتاوه وی نواستیرنګ ګس طرف را ګر ځوی ،،،،؟ نوداخکاره خبرده چی داسی ډریوربه ده موتړهم بیړه غرقه کړی اودځان اوده سوارلوبیړه به هم غرقه کړی نوزکه داسی اناړی استاذاوډریوردطا قت په ذریعه سره دګاډی نه راخکته کول پکاردی ـ

نو چی اللّٰه ﷻ ددے کائناتو خالق دئے اوس به داکائنات چلیژی هم پرهغه طریقه چی کومه طریقه اللّٰه ﷻ راخودلے دچی هغے ته دزندګئ تیرولونظام ، طرززندګی یادستورحیات وایی ، که چیرته داللّٰه ﷻ دمقررکردقانون اوطرززندګئ نه علاوه دبل انسا نی طرزباندی چلن اوشی نوبیابه هرطرفته تباهی اوهلاکت وی ، پدے وجه اللّٰه ﷻ داسی اناړیان خلګ دډریورنګ دسیټ نه (یعنی دا نسا نیت دقیادت نه) ده راخکته کولولپاره پردے امت باندی جهادفی سبیل اللّٰه فرض کړیدئے اوویلی دی چی داجها ددټولوجهانونولپاره رحمت دئے :

﴿...ولولادفع اللّٰه الناس بعضهم ببعضٍ لفسدة الارض ولیکن اللّٰه ذوفضلٍ علیٰ العالمین ﴾ (الکهف : ۲۵۱)

که اللّٰه ﷻ بعضے خلګ دبعضے نوروپه ذریعه سره مه ختم کولئے نوپه زمکه کی به فسا دپیدا شو ئے ؤمګراللّٰه ﷻ پرټولو جهانونوباندی دفضل کولووالادئے ، اوس هغه خلګ چی هغوئ ته اللّٰه ﷻ ده دنیادچلولوطریقه ورخودلے دنودهغوئ داذ مه واری جوړیژی چی داسی قسم اناړیان د ه استاذئے له سیټه دقتال اوجهادپه ذریعه سره راخکته کړی اودازکه چی ټول انسا نیت دتباهئ نه بچ شی ، شیخ سفرالحوالیؒ مخته لیکی چی :

" وهٰذامافعله الناس فی الجاهلیة الاولیٰ وفی کل جاهلیة فی کل زمان ومکان ، یؤمنون باللّٰه له الخلق ، ولٰکن یجعلو ن لغیره الامر ، فیشرعون ویسنون القوانین ، ویحلون مایشاء و ن ، ویحرمون مایشاؤون ، وهٰذامن الشرك الأکبرا لذی لایغفره اللّٰه تبارك وتعالیٰ ، وهوحقیقة الطاغوت الذی أمراللّٰه تعالیٰ أن یکفربهٖ ، ولایکون الأ نسان مؤ مناً ألااذا کفربالطاغوت الذی یشرع من دون اللّٰه تعالیٰ .... "

په مخکینی جاهیلت بلکه ده هردوراوهری علاقے په جاهلیت کی به خلګوداسی کول چی خا

لـق بیه اللّٰه ﷻ مـنـلـو اودزنـدگـئ ده نـظـام ده جـوړلو حق بیه بل چالره ثابته ولو، آئین سازی بـے کوله ، قـوانین بـے جوړول ، چی څه بـے خوښه وه هغه بیه حلالول اوچی څه بیه غوختل نو هغه بیه حرامه ول ، .... داکار شرك اکبردئـے اوداشرك اللّٰه ﷻ معاف کوی هم نه ، اوانسان ترهغه وخته پوری صحی مؤ من کیـد ئـے نشی چی ترڅویه دداسی طاغوت نه بغاوت نه وی کړئـے چی څوك داللّٰه دقانون په مقا بله کی خپل قانون جوړوی "۔

اوس اسـلام وایی چی که چاداللّٰه ﷻ دقـانـون نه علاوه دبل چاپه قانون سره یوه فیصله او کړ له او ارا ده یـه داوه چی موژبده غیر اللّٰه په قانون فیصله کؤنواګرکه داخلګ اوس خپل ځانونه مسلمانان او مـؤ منان ګنړی ﴿ یـزعـمـون أنهم آمنوا بما أُنزل أليك وماأنزل من قبلك ﴾ خـولـیکن اللّٰه ﷻ اواسلام ده داسی خلګو په هکله فرمایی چی ﴿ فلا وربك لايؤمنون حتى يحكموك فيماشجربينهم ﴾ (النساء : ٦٥)

قسم می دی وی اے پیغمبرﷺ په رب ستاباندی چی داخلګ ترهغه وخته مؤمنان نشی کید ئ چی تر څویه پخپلو مقدماتواوفیصلوکی تاسوفیصل اوحَکم نه یی جوړ کړئـے ، نو حاکمیت اعلیٰ او قانون سازی دادواړه داللّٰه ﷻ حق دئـے څوك چی داحق خپل ځان لره ثابته وی یایه داللّٰه ﷻ نه علاو ه بل چالره ثابته وی " فهٰذاشركٌ باللّٰه فی صفته الحاكمية "نو داده حاکمیت په صفت کی له اللّٰه ﷻ سره شرك شو، او اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ولايُشركُ فی حُكمهٖ احداً ﴾ (الكهف : ٢٦) له اللّٰه ﷻ سره په حکم کی هیڅو ك هم شریك نشته ، نوپدے مرتبه کی چی قانون سازی څوك ده خپل ځان حق ګنړی دا صریح کفرد ئـے ، اوبل قانون سازی خوپریژده علامه تفتازانیؒ لکلی دی چی :

" وكـذالك لـوجـلـس علىٰ مكانٍ مرتفعٍ وحوله جماعة يسئلونه مسائل ويضحكونه ويضربونه باالو سا ئد يكفرون جميعاً "(شرح العقائدص:٢٠٢)که چیرته یوجاهل کس دیوه مفتی یایوعالم سړی پرځائـے کینا ستـلـو اواویـه ویـل چی راځـئ له مانه دمسئلو متعلق تپوسونه کو ئـے زه به جوابونه درکوم اودا ناست کسـان لـدے جاهل نه تپوسونه کوی خنداګانی کوی اوپه بالختونوسره اولی نوتفتازانیؒ وایی چی له د سـره ټـول خـلـګ کـافـران دی اودلیـل داپیښه وی چی دے کس ده عالم اومفتی ده مسنداوده علم تو هین اوبـے ادبـے اوکړله نو چی دیوعالم دځائـے اومسند بـے ادبی اوتو هین کفردئـے نو چی څوك ده الو هیت او حاکمیت ده مسند تو هین اوبـے ادبی کوی دابه بیانه وی کفر " فتدبرو "

٢ ◯ : =

داول شـق پـه دویم شکل کی موژویلی ؤ چی دعوامودرائی به تقدس اواحترام کیژی اوهم د عوا مـورا یـه دقـانـون مـصـدرګنړلئ کیژی چی عوام اواولس څه غواړی هم هغه به حق اوقانون وی ، او چی

عوام څه ردکړی هغه به هیڅ شرعیت اوقانو نیت نه لری ، په جمهوریت کی دعوامورایه دالله ﷻ ترڑائی هم مقدسه ګنړلئے کیژی ،که الله ﷻ پخپل قانون اوشریعت کی یو حکم رانازل کړ ئے وی او عو ام د هغه الهی حکم خلاف رایه صادره کړی نوجمهوریت حکم کوی چی الهی شریعت دی پر یښو دلئے شی خولیکن دخلګورایه دی نافذه اوعملی شی ـ

پدے جمهوری نظام کی که یوکس یوشرعی یااسلا می قانون پیش کړی نودا به بیادوئ د خپل اساسی اوجمهوری قانون په رڼاکی ګوری که له اساسی قانون سره برابرؤنوبه دمنلووړوی اوداز که چی له اسا سی قانون سره موافقت لری ، پدے خاطریه نه منی چی دادالله ﷻ حکم اوشریعت دئے ، اوکیه له اساسی قانون سره موافقت نه لرلوبیاپه هیڅ صو رت کی هم نشی عملی کیدئے ، اګرکه صریح آیت یاحدیث مبارکه ولی نه وی ، اولیاده امت ده علماؤ اجماع وی ، اوحالانکه دالله ﷻ پرشریعت اوحکم باندی دعوامورایه مقدمه بالاتره ګنړل داهم کفردئے اولدے کار نه الله ﷻ خپل خوژ پیغمبرﷺ هم منع کړئے دئے اوورته وایی چی ﴿ وأن حکم بینهم بماأنزل الله و لاتتبع اهوائهم و احذرهم أن یفتنوك عن بعض ماأنزل الله ﴾ (المائده : ۴۹) اوفیصله اوکړه اے پیغمبرﷺ ددوئ تر مینځ په هغ قانون سره چی کوم الله ﷻ رانازل کړئے دئے اوددوئ په خوښه اوآرزوګانوپسی مه ځه او ځان اوساته له دوئ نه چی وانه ړوی تاله هغه څه نه چی الله ﷻ درته رالیژلی دی ـ

خودوئ وا یی چی نه په جمهوریت کی به حتماًعوامو ته رجوع کول کیژی ، دعوامورایه دی معلومه شی او بیا دی دهغوئ درائی پربنیاد قو انین وضع شی کے څه هم دالله ﷻ دقانون سره مخالفت لرلو، اودادخلګودرائی نه جوړشوئے قانون بیابل هیڅ قانون اواراده نشی ردکولئ .. نودوئ وایی چی د عوامودرائی تقدس به کیژی هغه به مقدسه ګنړل کیژی یعنی چی دعوامو څه رایه وی هغے ته به ترجیح ورکول کیژی او سلام دعوامورائی ته ترجیح نه ورکوی په یوبل ځائے کی الله ﷻ فرما یی چی ﴿ فعّالٌ لّمایُرید ﴾ (هود : ۱۰۷)یعنی الله ﷻ چی څه اراده اورایه اوکړی دهم هغے پوره کؤنکئ دئے نومطلب داشو چی د الله ﷻ درائی تقد س به کیژی اوپه یوبل مقام کی فرامایی چی ﴿ لایُسئل لمایفعل وهم یُسئلون ﴾ (الانبیاء : ۲۳) دالله ﷻ اراده اورایه مقدسه ده له هغه نبه سوال نه کیژی اوله انسانانوبه سوال اوتپوس کیژی ، نو الله ﷻ خپل قانون رایه او اراده راجحه اوده بل چاقانون اواراده یه مرجوحه اومردوده او ګرځوله ، اوجمهوریت ده دے په مقابله کی وایی چی نه دعوامو قانون اورایه مقدسه ده د قرآن قانون به نه ردکیژی اودوئ وایی چی نه ده عوامورایه مقدسه ده هغه به نه ردکیژی اوالله ﷻ فرمایی چی ﴿ وکلمة الله هی العلیاء ﴾ (التوبه : ۴۰)

دالله ﷻ ده قانون بالاستی به وی دالله ﷻ دین اوقانون پرنوروټولوادیانوفوقیت لری او دوئ وا یی چی نه (عوام کی بالادستی، قانون کی بالادستی) لوړوالئ بده عوامووی ، نوجمهوریت یودالله ﷻ دقانون پرځائے خپل قا نو ن کیخودلوبل یه دالله ﷻ پرقانون باندی خپل وضعی قانون ته فوقیت ورکړلواوترجیح یه ورکړله لکه چی دووایی " ملک میں نفاذ اسلام کی کوششوں میں قرارداد پاکستان کوفوقیت حاصل ہے " (مطالعه پاکستان سوا لاًو جواباً ص:۹۲)

اوکه څوك دالله ﷻ ده قانون مخالفت اوکړی اولیاسرتابی ترے نه اوکړی نودداسی کس لپاره څه سزا نشته دغه رنګه که چیرته په امریکه کی یوکس دعیسائیت نه مرتدشی نو هم څه ورته نه وایی لیکن که څوك دعوامودرائی اویاجمهوریت مخا لفت اوکړی اویاله دے نوی جمهوری دین نه مر تدشو نودداسی کس خلاف بیاجنګ هم کوی ایټم بم هم پرے استعمالوی ، اوآ پریشن هم پرے کوی ، په پا کستان کی هم ډیرخلګ ښکاره په ښکاره له اسلام نه مرتدشو څوك یهودیان شو څوك عیسایان شو څوك قادیانیان شو څوك هندوان اوشیعه ګان شویوه پروایه هم نشته هیڅ باك یه هم نه ګنړی خو لیکن که چادعوامودرائی اوجمهوری دین مخالفت اوکړونوپرهغه دقانون دمخالفت پرچه کاټوی اوله قانون نیه باغی ګنړی نوګویاکه جمهوریت د ﴿وأن حکم بینهم بماأنزل الله ﴾ پرځائے د " ولاتحکم بینهم بماأنزل الله " قائله دئے ،اوده﴿ ولاتتبع اهوائهم ﴾ پرځائے بیاد " أتبع أهوا ئهم " قائله دئے ګوره یو سړئے د ګناه په نیت زنایاغلالیایوبله ګناه کوی نوداکس خوګنهګاربے شکه چی دئے لیکن کافرند ئے او که یوکس وه ګناه ته جائزوایی اوښه کاریه ګنړی فخرهم پرے کوی نوداکار بیا صریح کفردئے ، او دا موژاووه یل چی دخالق قا نون لیری کول اودهغه پرځائے خپل وضعی اوملعون قانون رائج کول دا کار بغیرده څه شك نه کفردئے زکه چی دامعارضه راغله ده الله ﷻ له قانون سره اودمعارضے په هکله علماء فرمایی خصوصاعلامة شامیؒ لیکلی دی چی که یوجاهل کس تریوه عالم نه دهغه دعلم په وجه سره ترے نه مخکی (وړاندی) شونوداکس کافرشوزکه چی دعلم توهین یه اوکړواوچی څوك دالله ﷻترقانون خپل قانومقدم او مقدس ګنړی اوخپل قانون ته دالله ﷻ پرقانون فوقیت ورکوی اودالله ﷻ دقانون توهین کوی نوده داسی کس یاخلګویاملك اوریاست په کفرکی به هم لیاڅوك شك لری۔

الله ﷻ فرمایی چی ﴿ یٰأ یُّهاالذین آمنوالاتقدموابین یدَیِ الله ورسولہٖ واتقواالله ﴾ (الحجرات: ۱) یعنی اے مؤمنانوخپله رایه دالله ﷻ پرقانون مه مقدم کوئ اوعلامه ابن کثیرؒ هاد " الیاسق " پرقانون باندی پرهم دے وجه دکفرفتویٰ لګولے وه چی هغوئ خپل یاسق قانون دالله ﷻپرقانون مقدم اومقدس ګنړلو، اوخپل قانون دالله ﷻ پرقانون باندی مقد س بیاپدے طریقه ګنړی چی که چیرته

یو ملاده نفاذشریعت بل پارلیمان ته یو سی نودوئ به وایی چی اودریگه دامقدمه موژدخپل اساسی قانون په رنړاکی گورونویوبده پارلیمنټ له یوه گوټ (کونج) نه اعتراض اوکړی چی داقانون خوپدے فلانئ وجه سره نشی نافذکیدئے اوبل به له بل گوټ نه څه اووایی بل به له بل کونج نه څه نورغول اوخوری ، اوڅوك به وایی چی داخو پنځلس سوه کاله مخکینئ زوړقانون دئے داقانون پدے اوسنی ماډرن دورکی نشی چلیدئے څوك به وایی چی داقانون خوده ا قوام ملحدے ده قانون سره ټکرلری وغیره وغیره ـ

نودوئ داخپل وضعی قانون اساسی اواصل گنړی اودقرآن قانون ده خپل قا نون تبع گنړی چی کده اسلام قانون یوه دفعه ده دوئ له اساسی قانون سره برابره وه نوبیابه هغه دفعه نافذه کړی اوکے یه ورسره سمون نه خوړلونوبیابه ردکیژی ، اوپه پا کستان کی تاسواولیدوچی شپږ [٦] میاشتی په عدالت کی دحدودوآرډیننس اوچلیدو اوپه تی وی گا نوکی بے ورباندی تبصرے کولے چابه ویلے چی داخود جمهوریت خلاف مقدمه ده زکه چی په ډ یموکرا سی کی آزادی ده اوپه اسلامی قانون کی خودانسان حریت اوآزادی سلب کیژی نوزکه یه داده حدودومقدمه ردکړله ، نوجمهوریت قرآنی قانون دخپل اساسی قانون تابع اوگرځولواوبل یه خپل قا نون دقرآن پرقانون باندی اوچت اومقدس اوگنړلونوزکه جمهوریت اظهرمن الشمس کفردئے ، دے بل خباثت تیه اوگوره چی خپل قانون ته اساسی قانون وایی نوددے خودامطلب شوچی ددے و ضعی قانون نفاذدملادتړ په رنگه حیثیت لری پاتے شودقرآن قوانین دهغه موازنه به له خپل اساسی قا نون سره کوی دقرآن قانون که نافذنه شونو هم څه خبرنده خوچی جمهوریت برقراره وی دجمهوریت داستیصال بیخ ویستلو خبرکه چاپه کورکی پټ په کمبله کی اوکړله اوانتظامیه پرے خبره شوه نوپردے کس بده دهشتگرداوداساسی قانون نه دباغی حکم لگیژی ، اوبیاچی یه څومره سز او ر کړله هغه به لژوی توبه نعوذباللّٰه دادقرآنی قانون څومره توهین دئے ـ

لدے وجهی نه علماء فرمایی چی داکمیونزم ، سوشلزم ، سیکولرزم خوهم کفری نظامونه دی خوجمهوریت ددے تو لوکفرو نو سر داردئے اود ازکه چی جمهوریت ته داساسیت حیثیت حاصل دئے اودخلگووه رائی ته ترجیح ورکوی اوس که تولو خلگووه یوه کمیو نسټ سړی ته اوتونه ورکړواوکامیابه یه کړونوداکس اوس کمیونزم را وستئ شی دغه رنگه ده سیکولرنظریے والاسیکولرزم راوستئ شی " وعلیٰ هذاقیاس " نودجمهوریت په لاره هرکفرراتلئے شی سواده اسلام نه پدے وجه جمهوریت د تولو کفرونو منبع ، سرچینه ، بنیا داواجتماع ده نوداللّٰه ﷻ دقانون نه علاوه نورکه شپیته قوانین دی اوکه

سل قوانین دی ټولوته ترجیح حا صله ده اوداټول دانسان دخواهش مطابق دی اوکفری قوانین دی ـ

۳ ◯ : =

دریم شکل اوصورت داؤ چی داکثریت رایه بده حق معیارګنړلئے کیژی ، ددے دامطلب د ئے چی هرچایاهرڅه ته چی اکثریت رایه ورکړی هم هغه به حق وی اودحاکمیت مستحق به هم هغه کس وی چی اکثریت یه تائیداوکړی ، اوپه اسلام کی بیاداکثریت رایه دحق معیارنه ګنړلئے کیژی بلکه حق به هغه وی چی قرآن حدیث او دشرعی دلائل یه تائیداوکړ ی ، بیااګرکه یوکس ؤ اوپه مقابل کی یه ډیرخلګ ؤ هم ،مثلاً که دیو ملك اکثره خلګ په یوه اوبل دلیل سره دزنا، لواطت اوسودجوازورکړی اوپه مقابله کی یه یوکس مخالف و ی یایوکس هم رایه ورنه کړی نوبیابه هم دغه افعال نه رواکیژی ، بلکه ده تل له دپاره به حرام وی ، خوپه جمهوریت کی داکثریت رایه دقانونی حلالولواوغیرقانونی حرامه ولوصلاحیت لری ـ

په اسلام کی حق اوجائز هغه دی چی شریعت حق اوجائزګنړلی وی باطل اوناجائزبیا هغه دی چی کوم ته شریعت با طل اوناجائزویلی وی ، په اسلام کی صرف داکثریت درائی تردیدندئے شوئے بلکه قرآنی آیتونه په صراحت سره وایی چی لژخلګ دحق منونکی او شکرګذاره وی ، اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ وأن تُطع اکثر من فی الأرض یضلوك عن سبیل اللّٰه أن یتبعون ألایخرصون ﴾ (الانعام : ۱۱٦)

اوکه ته دزمکی پرمخ دډیروخلګو خبراومنے نودااکثریت به تاداللّٰه ﷻ له لاری نه واړوی دازکه چی اکثریت خوپه ګومانونو پسی روان وی او(اټکلیان وی) بل ځائے کی فرمایی ﴿ ولکن اکثرالناس لا یعلمون ﴾ (الاعراف : ۱۸۷) اکثریت دخلګو خونا پوهه وی نه پوهیژی ، اودکمولګو خلګوپه باره کی قرآن وایی چی ﴿ وقلیلٌمن عبادی الشکور ﴾ (سبا : ۱۳) داللّٰه ﷻ شکرګذاره بندګان ډ یرلژدی ـ

رسول اللّٰه ﷺ هم ډیرکرته داکثریت درائی په خلاف داقلیت رایه منلے دکله چی حق ورته د اقلیت په رایه کی ورته ښکاره شوئدئے ، لکه دبدرپه جنګ کی یه یوازی دحضرت حباب بن المنذرؓ په رایه باندی پداسی حال کی عمل اوکړوچی رسول اللّٰه پخپله هم اونوروصحابه ؤ هم دجنګ دډګرمتعلق بله رایه لرله .. هم دغه رنګه یه دحدیبیے په صلحه کی دصحابه کرا مؓ داکثریت را یه اونه منله بلکه ده هغوئ ده رائی خلاف یه له قریشوسره صلحه اوکړه ..ـ

ابوبکرصدیقؓ هم دار تدا دده فتنے په مقابله کی دقوی موقف په خپلولوکی داکثریت درا ئی مخالفت اوکړوداسامهؓ لشکر یه دشام په لوری اولیژلو .. لدے ټو لودلائلو معلومیژی چی په اسلام کی درائی ورکؤنکواکثریت یاا قلیت ده حق اوباطل رواوناروا په ټاکلوکی هیڅ حیثیت نه لری او په

جمهوریت کی اکثریت ته د " أله " حیثیت اورایه بیاده " شریعت " حیثیت لری چی دا ځانله ښکاره کفردئے ۔

جمهوریت داکثریت رایه معیارده حق ګنړی اوداپدے وجه چی ټول خلګ خوپریوه خبره نه متفق کیږی نوزکه چی دخلګو اکثریت پرکوم طرف ؤنو هغه خبربه معیاردحق وی داکثریت دمتفق کیدولپاره بیادوئ دوے طریقے ایجادکړے دی یوه طریقه داده چی که چیرته یوطرف ته پنځوس کسان ؤ اوبل طرف ته یوپنځوس کسان ؤ نوددے یوکس په سواکیدوسربه اکثریت هم هغه طرف ته حاصل وی .. اوپه پارلیمنټ کی دوئ پردو۲ تهائی اکثریت عمل کوی هغه پدے طریقه سره چی دخلګودر ے یاشپږحصے جوړیکی پدیکی چی دخلوروکسانورایه پرڅه باندی راغله نو هم هغه رایه به معیا رد حق ګنړلئے کیږی اوپر هم هغه خبربه فیصله هم کیږی ، یاده خلګوشپږدلی جوړیکړی او هغه بیا پر شپږحصوتقسیم کړی پدے شپږحصوکی چی دخلوروحصورایه پرکوم طرف وه نو هم هغه رایه به قا بل عمل اوقابل ترجیح وی ۔

ددے په مقابله کی قرآن محض اکثریت نه منی لکه چی اللّٰه ﷻ فر ما یی چی اے پیغمبر ﷺ که چیرته تاداکثریت تابعداری اوکړله نودابه تادحق لاری نه ګمراه کړی ، نو اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ لا تُطع اکثرمن فی الأرض ﴾ اوجمهوریت د اللّٰه ﷻ ددے حکم په مقابله کی وایی چی نه " أطیعوا أکثرمن فی الأرض " اوداکارمفضی الیٰ الکفردئے زکه چی صرف زناکول ګناه کبیره دکفراکبرندئے ، لیکن که یوسړئے په قانونی لحاظ سره پرزناکولوامرکوی اودزنادجوازقانون جوړکړ ی اوودے طرف ته دعوت ورکوی نودابیاښکاره کفراکبردئے اوپه " أطیعوا أکثرمن فی الأرض " سره د اللّٰه ﷻ دامرسره معارضه هم ده .. اوبل اللّٰه ﷻ فرمایی چی اکثریت معیارده ضلالت دئے (او تاسوبده هدایت دلاری نه ګمراهان کړی چی نورګمراه کوی نوبه دئے پخپله هم خامخاګمراه وی) اودوئ وایی چی نه اکثریت معیارده حق دئے ۔

اللّٰه ﷻ وایی چی داکثریت رایه ګمراهی ده اودوئ وایی چی نه داکثریت رایه معیاردحقا نیت ده نوداوس داللّٰه ﷻ دحکم سره معارضه نه شوه ، داللّٰه ﷻ دحکم پر ځا ئے یه خپل حکم او قا نون نافذکړودومره تقدس اواحترام یه ورکړوچی که چاترینه مخالفت او کړلو نو دهغه کس خلاف بیا هرقسم قدم اوچته ول خپله فریضه ګنړی اودلته چی داللّٰه ﷻده حکم اوقانون بے احترامی اوتوهین کوی د اللّٰه ﷻ دقانون تقدس یه په مکمل ډول سره پاماله کړئدئے دادومره خبرورته نه ښکاری ، نوپرد ے جمهوریت ددے عبارت تطبیق ډیرښه کیږی چی له ابن تیمیهؒ نه یو کس تپوس اوکړوچی له یو چانه د

شریعت دنفاذمطا لبه کیژی اوهغه لدے سائل سره ددے مطا لبه پر نه منلوباندی جنگیژی نودداسی کس څه حکم دئے بیاشیخ الاسلامؒ دامذکو ره لاندی عبارت او و یلو:

" أمـاأذاقَـتـلـه عـلىٰ دين الأسلام مثلَ مايُقاتلُه النصرانيُّ علىٰ دينهٖ فهٰذاشرٌّ من الكافر المعاهدفأنَّ هذا كافرٌ مُحاربٌ بمنزلة الكفارالذين يقاتلون النبي و أصحابَه "(مجموع الفتاویٰ :ج ۳۴/ ۱۳۶،۱۳۷)

نـونـن صبادنـفـاذشـریـعـت پـه خـاطـرده دے جـمـهـوری اوابلیسی دین دمخالفت په خاطرعوام خوپریژده څومره جیدجیدعلماء یه په شهادت اورسول خصوصاًمفتی نظام الدین شامزئی صاحب ، غا ز ی عبدالـر شیدؒ ،شیخ نصیب خان صاحبؒ،شیخ خالدحقانی صاحبؒ،حضرت مولانا عبدالعزیز صاحب چی اوس هم نظربنده دئے وغیره وغیره ، نولدینه معلومه شوه چی ده جمهوریت مثال دهغوکا فرانو په شان دئے کو مو کا فرانو چی له پیغمبراسلام ﷺ سره اودهغه له ملګروسره جنګونه کړی ؤ ـ

۴ ◌ : =

څـلـورم صورت داؤ چی مرجع دقانون به عقل وی یعنی په جمهوریت کی عقل معیاردحقا نیت ګنړ لئے کیژی چی عقل څه وا یی هم په هغے به فیصله کیژی ، اواسلام دعقل تابعداری نه منی بلکه اسـلام دشـریـعت تعبیداری منی اوعقل دلاند ینیو و جو هاتوپربناء پراشیاؤاوافعالودصحی او غلط حکم لګولوصلاحیت نه لری :

" اولًا " داچی عـقـلـونـه خـومـختـلف دی دیـو چاپه عقل سره به یوه خبرصحی وی خو هم هغه خبـربـده بـل کـس په عقل سره غلطه وی یو سړئے به وایی چی دفلانی کاروه مرتکب ته دی انعام ور کو لئے شی اوبل به وایی چی نه سزادی ورکول شی نوزکه شریعت عقل لره اعتبارنه ورکوی ـ

" ثـانیـاً " داچی عقل خونن یوه خبرکوی خوصبابیاله هغے خپلی خبری مخالف وی اوبله خبر کـوی دعـقـل پـه فـیـصـله کی خودوام اومضبوط والئ نه وی ، اودشریعت فیصله خوله هرمکان، هری ز مانے ، اوله هروخت سره موافقت لری اوهغه یوه فیصله به وی ـ

" ثـالثاً " داچی عقل لکه څنګه چی دزمانے دبدلون سره بدلیژی اوړی رااوړی هم دغه رنګه له خـوا هشـاتونه هم متأثره کیژی ، کله ده خوا هشاتوغلبه باندی راشی بس بیابه مفلوجه پروت وی په هم دے وجـه مـحـض عـقـل دیـو څیـزدصحی اوغلط معلومو لومعیارنشی کیدئے ، اودادمعتزله ؤرا یه ده چی عـقـل تمیزاوتوپیرکوی په مینځ دحلالواوحراموکی په مینځ ده صحی اوغلط کی ، اوموژ وایو چی عـقـل لـره هله اعتبارشته چی وحی اوشریعت ورسره وی مطلق عقل ده کامیابئ ذریعه نشی جوړیدئے نـوعـقـل لره به هله اعتباروی چی کله ده عقل رایه له شریعت محمدیه ﷺ سره موافقه وی او که عقل د

شریعت نه مخالف شوبیا داعقل مندی دانسان دګمراهئ اوهلاکت سبب جوړیژی لکه چی یوشاعر و یلی دی :

که په عقل لار موندئے شوه بے د فضله ::: چابه ضال نه ویل ابو علی سینا ته

دغه رنګه افلاطون هم غټ عقل مندؤ خوګمراه شونوکه مطلق عقل دانسان دنجات ذریعه وئے نو دادیونان لوئ لوئ عقلاء به بیانه ؤګمراه شوی ، اومشرکین خو هم دعقل په وجه په شرك کی مبتلاء ؤ اوویل بیه چی دادومره نظام ثنګه یوخدائے چلوی اوپیغمبرانسان ثنګه کیدئے شی ، نولد ے نه معلومه شوه چی صرف عقل دصحی اوغلط جائزاوناجائزتمیزنشی کولئے ، او دجمهوریت دااصل هم دکفریاتونه دئے زکه چی موژاووه یل چی معیارده حق به شریعت وی اودوئ وایی چی نه معیارده حق به عقل وی .. خوده پورته نیوټولودلائلوپه خلاف په جمهوریت کی (حکم) کول اوقوانین جوړول د عقل کاردئے چی " وحی الٰهیه " ؤته پکی هیڅ قسم دخل نشته ، په بل عبارت په جمهو ریت کی دتشریع اوقانون حق له اللّٰه ﷻ نه په مکمل ډول سره اخستل شوئدئے اوپه مکمل ډول سره انسانا نوته حواله شوئدئے چی دا هم په حقیقت کی ترټولونه لوئ کفردئے ـ

ب = ÷ دویم د تنفیذاوحکومت ته درسیدو شق دشریعت په رڼاکی

په اسلام کی دحاکم اوامیردانتخاب څلورطریقے

په اسلامی سیاست کی دامیردانتخاب دپاره څلورطریقے دی ۱ ـ بیعت اهل حل والعقد، ۲ ـ استخلاف ، ۳ ـ شوریٰ ، ۴ ـ استیلاء !

(۱) اول مثال دابوبکرصدیقؓ خلافت دئے چی څواهل حل والعقدسره جمع شودا بو بکر صدیقؓ پرلا س په بیعت اوکړو،لدے نه پس بیاعاموخلګوبیعتونه اوکړل ، " لماقال الامام الماوردیؒ :ان بیعة ابی بکرؓ انعقدت بخمسة اجتمعوا علیهاثم تابعهم الناس فیهاوهم عمربن الخطاب و ابوعبیدة بن الجراح وا سید بن حضیرو بشربن سعدوسالم مولیٰ ابی حذیفةؓ " (الاحکام السلطانیة ص: ۷ الباب الاول فی عقدالامة)

(۲) داستخلاف صورت دادئے چی دیوڅواهل حل والعقدپه مشوره سره خلیفه وخت د یودا سی کس په باره کی وصیت اوکړی چی په هغه کی دخلافت ټول شرطونه موجودوی لکه چی ابو بکرصد یقؓ دعمرفاروقؓ په باره کی وصیت کړئ ؤ چی لمانه پس به عمرؓ خلیفه وی ، (ازالة الخلفاء ص: ۵ مقصد اول)

(۳) دشوریٰ مطلب بیادادئے چی خلیفه وخت ده یو څوکسانوشوریٰ مقرره کړی چی زماد خلا

فت نه پس به داکسان پخپله مشوره سره دبل خلیفه انتخاب کوی ، لکه چی دعمرؓ په وخت کی شپږو کسانو حضرت عثمانؓ خلیفه اوټاکلو ،(الاحکام السلطانیة ص: ۷ الباب الاول فی عقدالامة)

(۴) داستیلاء مطلب دادئے چی یوکس دمذکوره بالاطریقونه ماسواپه یوه بله طریقه سره خلیفه جو ړشی بیااستیلاء پردوه قسمه ده ۱ـ چی یوکس دخپل طاقت اوغلبے په زورخلیفه شی اود خلافت شرائط پکی وی داقسم شرعاًجائزدئے ، ۲ ـ دویم دا چی په هم دے طریقه سره حکمران شی خو د حکمرانئ اوخلافت شرائط پکی نه وی موجود ـ (محصله ازفتاویٰ حقانیه ج: ۲/ کتاب السیاسة)

اوس موجوده جمهوری انتخاب لدے یوے طریقے سره هم سمون نه خوری زکه چی دلته کی خوداهل حل والعقدنوم لیانشته بلکه دشروع نه هرللوپنجو هرزانی اوشرابی اوعالم اوجاهل حصه پکی آخلی ـ

◉ :ـ **په اسلام کی دحاکم یاحکمران جوړیدلوشرائط**

دسیادت اوحاکمیت په دویم شق کی موژداویلی ؤ چی پدے جمهوری نظام کی به سړئے د انتخاباتو دلاری نه حکومت ته خپل ځان رسوی ، بیاکه پدے انتخاباتوکی هرڅومره کافریافاسق یا فاجر یاقادیا نی یایوبل داسی دشریعت ده طریقے نه مخا لف کس ډیراوټونه واخستل بس هم هغه به ده ملك حا کم اوحکمران جوړیژی اوحالانکه په اسلام کی حاکمیت اوولایت دایو څه ګپ شپ ټوقی ټکالی ندی نه څه غنیمت دئے چی په څه طریقه هم ممکن وی نو حاصل دی شی بلکه په اسلام کی حاکمیت اوحکمرانی یوډیر دروندمسؤلیت اوډیرخطرناك مکلفیت دئے اوپه اسلام کی ده حکمران دانعقادلپاره شپږاساسی شرطونه دی هغه په لاندی ډ ول سره دی :

اول شرط : اول شرط دادئے چی حاکم اوحکمران وخت به مسلمان وی ، کافرسړئے داسلامی ملك حکمران نشی جوړیدئے ، بیابرابره خبرده که هغه یهودی وی که نصرانی که سیکولر اوکه ملحد یا کمو نستٔ وی زکه چی اللهﷻ فرمایی ﴿ ولن یجعل اللّٰه للکٰفرین علی المؤمنین سبیلاً ﴾ (النساء : ۱۴۱) اوهیڅکه به اونه ګرځوی اللهﷻ دکافرانولپاره پرمسلمانانوباندی څه لاره ـ

په قرآن کریم کی دحکمرا نانو متعلق همیشه داراځی چی " وأولی الامرمنکم " دامشران اوحا کمان به لتاسو مسلمانانونه وی ، او پردے شرط باندی داسلام دټولوعلماؤ اجما ع ده هیڅا هم مخا لفت ترے نه ندئے کړئے ، نوپدے وجه سره پرمسلمانانوباندی دکافرحاکم کیدل حرام دی ، خوپه جمهوریت کی ددین لپاره هیڅ اعتبار نشته چی هرڅوك ده حکمرانئ لپاره ځان منتخب کولئے شی ، دهغه وه مسلمانی اوکفرته څوك نه ګوری نه څوك دااعتراض پرے کوی ، بلکه اوس خوپه عملی لحاظ سره د

ټولی اسلامی نړۍ لپاره دټولو کفارودامتفقه فیصله دچی من وعن صحی مسلمان په یوه ملك کی هم حاکمیت ته اونه رسیږی اګرکه لس زره اوټونه واخلی یالس لکه او ټونه واخلی هم ، اوچی کومواسلامی خلګوددے انتخا با تودلاری نه کرسئ اوچوکئ ته ځانونه رسولی دی هغوئ یه هم په عزت سره برقراره ندی پرے یخی بلکه چی کوم حشریه ورسره اوکړوهغه ټولی اسلامی نړۍ اولیدلو مثلاًلکه ترکیه شوه ، الجزا ئرشو اونوراسلامی ملکونه شو ـ

نوپه شریعت محمدی ﷺ کی هیڅ یوکافرهم پرمسلمانانوباندی افسرحاکم یاجج نشی مقرر کیدلئے ، حتیٰ که یوذمی کافر (هغه کافرچی داسلامی حکومت ده حکم لاندی ز ندګی تیروی اوجزیه ورکوی دهغه دځا ن اودمال حفاظت هم داسلامی خلافت ذمه داری ګنړلئے کیژی) هم افسریامشرجوړشولونودده ذمیت ختم شواوس ده دے کس وینه تویه ول مسلمانانوته مباحه شوه ، لیکن په جمهوری شریعت کی هندو، سکه ، عیسائی ، اوبل هرکافرحاکم اوجج جوړ ید لئے شی لکه څنګه چی موژعملاًوینو لکه ذوالفقارعلی بهټوله ښځی سره دواړه شیعه ګان ؤ دغه ر نګه بینظیره هم شیعه ګنړه وه ـ

دویم شرط : دویم شرط په اسلام کی دحاکم لپاره نارینه توب دئے دښځی حاکمیت او حکمرانی په اسلام کی حرامه ده لکه څنګه چی په (بخاری ، ترمذی ، نسائی ، مسندامام احمد او مشکوٰة) کی یو روایت دئے چی کله رسول اللّٰه ﷺ ته داخبراورسیدلو چی دایرانیانود (کسریٰ) باد شاه له مرګ نه پس دهغه لوردخپل ملك حاکمه اوحکمرانه جوړکړے ده نونبی کریم ﷺ پدے هکله ا وفرمایل چی " لن یفلح قوم ولوا أمرهم أمرأة " هیڅ کله به هغه قوم کامیابه نشی چاچی دخپل ملك حا کمیت اومشری خز ی ته حوا له کړله ، خوپه جمهوریت کی ښځه اوسړئے یوشانتے دانتخاب اوحاکم کیدلوحق لری ، نو دجمهوری پارلیمنټ دا قانون چی خزه هم دملك سربراه اومشره جوړیدئے شی داعقیده هم داجما ع امت نه خلاف داوپه اسلامی ملکونوکی پا کستان هغه اولنئ ملك دئے چی ښځه پکی وزیرا عظمه جوړه شوے ده ـ

دریم شرط : دریم شرط دبلوغ دئے زکه چی نابالغه هلك مکلف نه وی دشریعت له لور ی نه ـ

څلورم شرط : دعقل دئے زکه چی لیونئ اومجنون هم ندئے مکلف په جمهوریت کی نن صباڅنګه خلګ حکمرانان دی لیو نیان اوماشومان یه شرمولی دی ـ

پنځم شرط : دآزادئے اوحریت دئے زکه چی مریی اوغلام دخپل ځان ملکیت اوتصرف نه لری نودبل چاپه باره کی به څه اختیارورسره وی اونن صباحکمرانان اوجرنیلان ټول دامریکے غلا ما ن

اومریان دی پرویز خبیث ته یه یوژنګ ټیلیفون وه ر ااو کړ لونو میتیازی یه په پتلانه کی لاندی توئ شولے ـ

شپږم شرط : دعدالت دئے ، ددے دامعنیٰ ده چی حاکم به ابتداءً فاسق نه وی اګرکیه ځینی علماء سره دکراهیته جائزګنړی ـ

اوم شرط : اوم داچی حاکم مشراوخلیفه هغه خلګ ټاکی چی کوم " أهل الحل والعقد " وی ، یعنی دحکمران انتخاب به هغه خلګ کوی چی څوك صالحان ، زبده ، عالمان ، په سیاست پوه ، اوا هل خبر خلګ وی چی دامت اوملك پرمصالحواومفاسدویه نظروی اودحاکم انتخاب ښه په احتیاط اودقت سره اوکړی لداسی قسم انتخاب نه وروسته بیاورسره داطاعت عمومی بیعت اوکړی ، خوپه جمهوریت کی په اوټ اچولوکی دیوکافر ، فاسق ، مجرم ، بے عقل اوجاهل اودیوصحی مؤمن ، متد ین ، صالح ، هوشیار ، اوعالم یوحیثیت دئے په جمهوریت کی اصلاح اوفسادته نه کتل کیږی بلکه هغوئ وشماراوډیروالی ته ګوری لکه چی شاعرمشرق علامه اقبال ډیرخه ویلی دی چی :

جمہوریت ایک ایسا طرز حکومت ہے کہ جس میں ::: بندوں کو گنا کرتے ہیں تولا نہیں کرتے

دهرچاتعدادچی ډیرشوبس هم هغه بده حاکمیت حقداره وی مثلاًکه یوه طرف ته پنځوس علماء ، مجاهدین ، صالحان اومجرب سیاست دانان وی اوبل طرف ته یوپنځوس فاسقان ، شرابیان او جا هلان وی ، اوس ده جمهوریت په تله اوچابړئے کی دادویمه ډله غو ره ده اوده حاکمیت حقداره ده ـ

◉ :ـ

پدے شق کی یوصورت موږداهم اوو یلو چی په جمهوریت کی دیومتبع سنت عالم دین او یو جاهل اوټ اورایه سره برابره ده اوپه اسلام کی عالم اوجاهل قطعاًنشی سره برابرے دئے بلکه دعالم مر تبه څو چنده ترے نه اوچته ده زکه چی اللّٰهﷻ فرمایی : ﴿ قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لایعلمون ﴾ (الزمر : ۹)

عالم اوجاهل هیڅ کله هم په یوه شی کی هم نشی سره برابرے دئے بلکه علماؤته اللّٰهﷻ پر غیر عالما نوډیرفضیلت ورکړیدئے ، اوپه بل ځائے اللّٰهﷻ فرمایی چی ﴿ یرفع اللّٰه الذین آمنوامنکم والّذین أوتواالعلم درجات ﴾ (المجادلة : ۱۱)

دموجوده جمهوریت دقدیم شرك سره دمماثلت یو مثال

دحاکمیت داصل ددے دویم شق یعنی دانتخاباتوده شق چی کوم طرزاوطریقه وه نودا طریقه ده پخوانو مشریکینوله طریقے سره برابره خکاری دهغوپه باره کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ ماتعبدون من دو نهٖ ألاأسماءً اسمیتموها ﴾ (المجادلة : ۱۱)

تاسودغیراللّٰه عبادت نه کوئ مگرصرف دهغونو مونوعبادت کوئ کوم چی تاسوپخپله مسمیٰ کړی اومنتخب کړیدی ، نوددے اوسنی جمهوریانواوپخوانو مشریکانوترمینځ صرف دومره فرق دئے چی هغوبده کانړی (گټی) ختی ، لرگی نه ، یاله اوړونه یوبت جوړکړوبیابے نوم پرے کیخو دود " لات ، منات ، عزیٰ ، وُد ، سواع " بیابے ددے خودساخته بتانوعبادت کولو ، اونن صبا جمهوریان هم پخپله اوټونه ورله ورکړی پخپلواوټونوسره یوکس منصب چوکئ ته اورسوی کامیابه یه کړی بیا پخپله نوم هم ورله ورکړی چی دا " وزیرقانون دئے ، داوزیردفاع دئے ، داقانون سازاسمبلی د " وغیره وغیره ، اوبیا هغه لاړوپارلیمنټ ته اوهلته کی دقرآن اواسلام خلاف خپل وضعی اواختراعی قوانین جوړه وی داللّٰه ﷻ حرام شده صریح قوانین حلال گرځوی ، اوده جواز هم نه بلکه دقانون حیثیت ورکوی اوداجمهوریان عوام بیاپدے مذکوره ټولو مفاسدوکی دهغوئ په قوانینوعمل کوی ـ

اوس بے تطبیق داسی کؤ چی ممبران کامیابه کول اوهغوئ ته ده وزیرقانون یاوزیردفاع وغیره نومونه ورکول دا ﴿ أسماءً ا سمیتموها ﴾ شوبیاده هغوقوانین اوحکمونه منل اوعمل باندی کول دا ﴿ تعبدون ﴾ شویعنی ده هغوعبادت کول شواودهغورب گنړل شوزکه چی په تحلیل اوتحریم کی دچاقوانین اوحکمونه منل داپه حقیقت کی دهغه دربوبیت اقراردئے چی زمارب اوخدائے دئے ددے خبری دلیل په قرآن کریم کی د ﴿ أتخذوا أحبارهم ورهبانهم أرباباً ﴾ (التوبه : ۳۱)

آیت کی د " حضرت عدی ابن حاتمؓ " واقعه ده ، اوس چی کله دے عوامو داخلگ خپل منصب کرسئ پارلیمنټ اواسمبلئ ته اورسول کامیابه یه کړل نواوس پکارداؤ چی دوئ داللّٰه ﷻ قانون نافذکړئے وئے اوداملك خوآزدشوئے ده " لاأله ألااللّٰه " پرنا مه دئے ، اوداحضرات لاړواوهلته کی یه داللّٰه ﷻ په مقابله کی خپل قانون جوړکړواونافذیه کړونولدے وجهی نه جمهوریان ددے آیت مصداق اوگرځیدل اوپه جمهوریت کی دحاکمیت اعلیٰ اواکثریت والااصلونه دخدائی درجه لری " نعوذباللّٰه " دازکه چی دحاکمیت حاملین اکثریت دئے په جمهوریت کی به عوام خپلی فیصلے پخپله کوی پدے کی نه دعالم بالاخه کارشته اونده عالم خارجی څه کارشته (یعنی وحی) ـ

د مساواتو اصل دشریعت په رڼړاکی

دجمهوریت په اصول ثلاثه ؤکی دویم اصل دمساواتوؤاوس ددے اصل موازنه دشریعت مطهره سره کؤ چی ددے اصل له حقیقت نه هم تاسو خبرشئ :

۱ ❁ :=

ددے اصل په صورتونواوشکلونوکی یوصورت دا ؤ چی په وظائفواونوکریانوکی به مساوات وی یعنی دمسلمان ، کافر، فاسق فاجراوخزی تمیزاوفرق به پکی نه وی بلکه مسلمان اوکافراودانورټول به سره برابروی ددے په ردکی اللّٰه ﷻ فرمایی : ﴿ أفنجعل المسلمین کاالمجر مین ﴾ (القلم : ۳۵) آیامـوژمسلمانان دمجرمانوپه رنګه اوګرځؤ ، نوداسی نشی کیدئے بلکه مسلمانان ترے نه افضل دی په یوبل ځائے کی اللّٰه ﷻ فر مایی ﴿ أفمن کان مؤمناً کمن کان فاسقاً ﴾ (السجده : ۱۸) آیامسلمان د کا فراوفاسق په شانتے کیدئے شی نه بلکه دفاسق درجه ډیره خکته ده ، نوپه جمهوری شریعت کی مسلمان اوکافرسره برابردی ، حالانکه پردے خبره دامت اجماع ده اودقرآن مجیدنورهم ډیرآیتونه پد ے باره کی شته چی کافراومسلمان نشی سره برابرے دئے ـ

بل په جمهوریت کی دیومتقی پر هیز ګاره سړی اودیوګنهګاره کس اوټ ، رایه اوشهادت سره برابردئے اواللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ اَنَّ أکرمکم عند اللّٰه أتقاکم ﴾ (الحجرات : ۱۳) داللّٰه ﷻ په نزدپه تاسوکی عزتمندسړئے چی دئے هغه متقی دئے ، او س په دغه رنګه ډیروآیتونوکی اللّٰه ﷻ اسلام ته فضیلت ورکوی پرکفرباندی ، لکه چی اللّٰه ﷻ په یو مقام کی فرمایی ﴿ هل یستوی الظلمات والنور ﴾ (الرعد : ۱٦) آیااسلام اوکفرسره برابرے دئے شی دلته هم استفهام انکاری دئے چی نه هیڅ کله نه ، اللّٰه ﷻ مسلمان ته فضیلت ورکړوپرکافرباندی ، عالم تیه منقبت ورکړوپرجاهل باندی ، متقی تیه فضیلت ورکړوپرفاسق فاجراوګنهګارباندی ، سړی تیه فضیلت ورکړلوپرخزه باندی اوجمهوریت وایی چی نه داټول سره برابردی اللّٰه ﷻ دکفاروپه باره کی فر مایی چی ﴿ أولئك کاالأنعام بل هم أضلُّ ﴾ (الأعراف : ۱۷۹) داکافران ترحیوانانواوځناوروهم بدتردی اوپه یوبل ځائے وایی چی ﴿ لقدخلقناالأنسان فی أحسن التقویم ، ثم رددناه اسفل سٰفلین ﴾ (التین : ۴،۵) کا فر خواللّٰه ﷻ په لاندے نئے اوآخری حصه کی ګرځولیئدئے ـ

داللّٰه ﷻ داقوانین دی اوس یوبل کس یاملك اویایوریاست راپاسی ده دے الٰهی قوانینوپه مقا بله کی خپل وضعی قوانین جوړکړی چی " ألر جال والنساء سواءٌ فی الحاکمیت " او " ألعلماء والجهلاء

سواءٌ ‘‘ او ’’ ألظلماتُ والنورسواء ‘‘ او ’’ ألمسلم والمجرم سواء ‘‘ او ’’ ألکافروالمؤمن سواء ‘‘ او ’’ ألفا جر والمتقی سواء ‘‘ او ’’ أولٰئك یعنی ألأنجلیزیون کا لمسلمون بل هم أفضل ‘‘ ’’ نعوذباللّٰه من ذالك ‘‘ دااوس صریح کفرندئے نوبیا کفرنورڅنګه وی ، اوس دوئ پدے خپل وضعی قانون کی معارضه اوکړله ده اللّٰه ﷻ له قرآنی قانون سره اوداللّٰه ﷻ دکافّه قانون پر ځائے یه خپل وضعی قانون کیخودلو، اوبیایه مقدس هم ترینه اوګنړلو چی که چاددے مساوا تو مخالفت اوکړونو هغه به بیاعد الت ته پیش کیژی اوددے کس په خلاف مقدمه به درج کیژی چی دا کس دجمهوریت خلاف دئے دملك دآزادئے خلاف دئے ، او چی اوتړونوته اودریژی یایه بل ته ور کو ی نوبیابده خزی اونریو حیثیت وی ۔

زکه علماؤلره پکاردی چی پدے مروجه سیاست کی څه حصه هم وانه خلی ددے خبری خو یوه وجه داده چی پدے جمهوری طریقے سره اسلام راوستل ډیره لیری خبرده بل داچی دخپل علمی شان ډیره لویه بے انتهائی ګستاخی ده زکه چی تاته اللّٰه ﷻ دعلم په و جه سره فضیلت درکړیدئے اوته پردے الٰهی امتیازراضی نه شوے بلکه خپل ځان دی له فا جرانوفا سقانواوکافرانوقادیانیانوسره برابر کړلوزکه چی په جمهوریت کی خودیوے خزی دیوزانی لوطی او یومتقی عالم اوتړ اورایه سره برابره ده ، بهرحال داکوم نصوص چی موژذکرکړوپدے کی اللّٰه ﷻ په صرا حت سره ویلی دی چی عالم اوغیرعالم ، مسلمان اوکافر ، ښځه اونر ، متقی اوفاجر ، کفراواسلام دا هرګز نشی سره برابرے دلئے جمهوریت اوجمهوریان وایی چی نه داسره برابرے دئے شی نوداتحلیل دما حرّم شواوتحلیل دماحرم بالاتفاق کفر دئے ۔

۲ ❁ :=

ددے اصل په صورتونواوشکلونوکی بل د خزی اونرپه مینځ کی مساوات ؤ دوئ وایی چی ښځه او نر دواړه سره برا بردی ، یوپربل باندی څه فوقیت نه لری بلکه جمهوریت ترنرهم لیاوه خزوته ډیره ترجیح ور کوی په هرځائے کی بے د لیډیزلیډیز ویناوی خوددے په مقابله کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ ألرِّجال قوّا مون علی النساء ﴾ (النساء : ۳۴)

یعنی سړی به حاکمان اوسربراهان وی پرخزوباندی ده ښځی حاکمیت اوسربراهی نشی راتلئ پرسړ وبا ندی ۔

نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی ’’أخروا النساء حیثُ أخرهن اللّٰه ‘‘ (مشکوٰة)

دابښځی داسی شاته اووروسته کړئے ترسړولکه څنګه چی اللّٰه وروسته کړے دی ۔

نودسړوپه مقابله کی ښځی هیڅ حیثیت هم نه لری زکه چی یارانو(یعنی امام یوسفؒ اوامام محمدؒ) و

یلی دی چی : " وقالاعلیٰ الرَّجُل النصف وعلیٰ النسوۃ النصف لأنھُن وأنْ کَثُرْنَ یُقمن مقام رجلٍ واحدٍ" (ھدایہ ثالث ، کتاب الشھادت)

په اسلام کی دښځی حاکمیت اوسربراهی

ددے عنوان متعلق دغه برنئ مبحث کافی دئے خوفتاویٰ حقانیے دابحث ښه په تفصیل سره لیکلئے دئے قائدصاحب اومولاناشیرانی صاحب بیادجوازلاری ورته ګوری نوزکه زه مناسب ګنړم چی ددے عظیمی درسګاه نبوی ﷺ دعلماؤ مؤقف تاسوته اوره سوم شیرانی صاحب سلیم صافی ته په یوه انټرویو کی ویلی چی ، " سوال: عورت صدریاوزیراعظم بن سکتی ہیں شریعت کی روسے! جواب: اس میں اختلاف ہیں ابن جریرطبریؒ کی رائے یہ ہے کہ بن سکتی ہے اورامام اعظم ابوحنیفہؒ کی رائے یہ ہے کہ وہ قاضی بن سکتی ہے یعنی جن چیزوں میں انکی شہادت ہے ان شہادت کی بنیاد پہ وہ قاضی بن سکتی ہیں اوربعض علماء نے مطلق تو حالات جوبھی مناسب ہو"

دقائدصاحب په باره کی " شیخ ایمن الظواھریؒ " لیکی " یہ افسوس ناک واقعہ تو سبھی کو یاد ہوگا کہ پاکستان کی ایک بہت بڑی دینی جماعت کے قائد نے بینظیر بھٹو کے وزیراعظم منتخب ہونے پر کہا تھا کہ: " شریعت نہ تو نماز میں عورت کی امامت کو جائز قرار دیتی ہے، نہ ہی ملکی معاملات میں عورت کی امامت کو درست جانتی ہے، لیکن جب عوام نے ایک عورت کو وزارت عظمیٰ کے لئے منتخب کرہی لیا ہے تو ہمیں اس عوامی رائے کا احترام کرنا چاہیے، یہ مؤقف پاکستان کی متعدد دینی تنظیموں کے عمومی کردار کی عکاسی کرتا ہے " (سپیدہ سحراورٹمٹماتا چراغ ص: ۱۱۵)

دده بعض کارکنان وایی چی قائدصاحب دبینظری په وخت کی ویلیدی چی دښځی حکمرانی په اسلام کی ناجائزده اوس راشئ چی اویه ګوروچی قائدصاحب څنګه ناجائزورته وایی :

معزمُلا لیکی چی ، " حضرت اقدس کا کمال دیکھیں، بینظیر جب پہلی دفعہ وزیراعظم بنی، تو حضرت نے اسمبلی میں اٹھ کرفرمایا، کہ اگرچہ اسلام عورت کی حکمرانی کی اجازت نہیں دیتا لیکن ہم اکثریت کی رائے کا احترام کرتے ہیں، لوبھئ باقی کیا بچا ان کا دفاع کرنے والے کیا تھوڑا سا بھی نہیں سوچتے، اسنے تو اکثریت (اورعوامی رائے) کو خدا کا درجہ دے دیا، گویا "ولن تجدلرأی الکثرین (ورأی الناس) تبدیلا اور الاکثرون یحکمون لامعقب لحکمھم " پتا نہیں ان کی گمراہیوں کی کوئی حد بھی ہے، ان کے چیلے اسلام کو پس پشت ڈال کراس کے ہرفعل کی توجیہات کرتے رہتے ہیں.....خدا کا کوئی خوف دلوں میں نہیں، اب تو انکا دماغ اسی جمہوریت اوراکثریت پرستی کی وجہ سے دینی مسائل میں بھی الٹا چلتا ہے " (فضل الرحمان شریعت کی عدالت میں قسط نمبر ۱۵)

اوس دلته دوه متضادخیزونه سره جمع شول یوداحکم الحاکمین ذات حکم چی عدم جواز دئے اوبل طرف ته دموجوده جمهوری اکثریت حکم چی جوازدئے تاسوالفاظوته اوګورئ قائدصاحب د رب العٰلمین دحکم په مقابله کی جمهوری اکثریت ته ترجیح ورکړله یعنی اګرچی په اسلام کی دخزی

سربرا هی حرامه ده خواوس داکثریت رایی جائزه کړله اوداکثریت درایی احترام خودرب العٰلمین ترحکم نه هم زیات دئے زکه دئے داکثریت په صف کی اودرے دو۔

نوفتاویٰ حقانیے ددے سوال په جواب کی لیکلی دی چی : آیاپه اسلام کی ښځه دملك سربراه جو ړیدئے شی نوجواب یه داورکړیدئے چی ددلائل شرعیه ؤدرویه خزه بادشاه اوسربرا هه جوړه ول ندی جائزتفصیل په لاندی ډول سره اوګورئ :

دشریعت اسلامیه یوادنیٰ شانتے طالب علم هم داخبره ډیره په آسانی سره پیژندئے شی چی د یو څیز جوازیاعدم جوازددین اسلام دڅلورومشهورواصولو اودلائلو نه ثابتے دئے شی ، اوددے دلا ئلو نه بغیرپریو څیزباندی دجوازیاعدم جواز حکم لګول او هغه څیزشرعی حکم ګنړل دابه سرا سر جها لت وی ، پدے وجه داخبره ضروری ده چی دخزی سربرا هی ده هم دے اصولوپه رڼاکی اوکتلئے شی چی د ښځی دسربرا هئ شرعی حیثیت معلوم شی ، پدے باره کی یوتفصیلی مضمون پیشه ؤستا سوپه وړا ندی اوامیددئے چی پدے سره صحی صورتحال مخی ته راشی۔

(۱) اول بده قرآن کریم نه شروع اوکړوپه قرآن مجیدکی اللّٰه ﷻ فرمایی : ﴿ الرجال قوامون علیٰ النساء بمافضل اللّٰه بعضهم علیٰ بعض ﴾ (النساء : ۳۴)

حضرة العلامة حافظ ابن کثیرؒ ددے آیت په تفسیرکی فرمایی :

" یقول تعالیٰ ﴿ الرجال قوامون علیٰ النساء ﴾ ایٔ الرجل قیم علی المرأة ایٔ هورئیسهاو کبیرهاو الحاکم علیها ومؤدبهااذااعوجت ﴿ بمافضل اللّٰه بعضهم علیٰ بعض ﴾ ایٔ لأن الرجل افضل من النساء والرجل خیرمن المرأة ولهٰذا کانت النبوة مختصة بالرجال وکذالك الملك الاعظم لقولهٖ " لن یفلح قوم ولوامرهم امرأة " (رواه البخاری من حدیث عبدالرحمٰن بن ابی بکرة عن ابیه ، تفسیرابن کثیر ج: ۱ / ۴۹۱)

ترجمه: اللّٰه ﷻ فرمایی چی سړئے پرخزه باندی حاکم ، رئیس اوسرداردئے ، اوخزی لره برابره ؤنکئے او مؤدب دئے چی کله کژه شی ، زکه چی سړی پرښځوافضل دی اووجه ده افضلیت یه داده چی نبوة په سړوکی راروانده ئے ، دغه شانتے په شرعی ډول سره خلیفه ګان هم سړی جوړے دئ شی ، حضور ﷺ فرمایی چی هغه قوم (اوملك) کله هم کامیابی نشی ترلاسه کولئ چی دکوم قوم مشری اوسردا ری خزی ته حواله شی۔

(۲) په یوبل حدیث شریف کی راځی ، " حدثناعثمان بن الهیثم قال حدثناعوف عن الحسن عن ابی بکرةؓ قال لقدنفعنی اللّٰه بکلمة سمعتُهامن رسول اللّٰه ﷺ ایام الجمل بعدماکدت ان الحق بأصحاب الجمل فأقاتل معهم قال لمابلغ رسول اللّٰه ﷺ أن اهل فارس قدملکواعلیهم بنت کسریٰ قال لن یفلح قوم ولوامرهم امرأة "(

صحیح البخاری ج: ۲ / کتاب النبیﷺ الیٰ کسریٰ وقیصر)

ترجمه : حضرت ابوبکرةؓ فرمایی چی ماته اللهﷻ ده جنګ جمل په ورځ هغی خبری ډیره زیا ته فائده را کړه چی هغه خبرماله حضورﷺ نه اورے دلے وه ، کدانه وئ نوقریبه وه چی زه له جنګ جمل والاوو سره یعنی دحضرت عائشےؓ موری په لشکرکی (له مسلمانانوسره) جنګیدلئے وئے ، ابوبکرةؓ فرمایی هغه خبره دادچی کله حضورﷺ ته داخبراوره سیدوچی ایرانیانودکسریٰ لور(بوران بنت شیرویه) پرتخت باندی کینه ؤله نوبیانبی ﷺاوفرمایل چی هغه قوم (اوملك) کله هم کا میابی نشی ترلاسه کولئ چاچی دخپلواموروحاکمه اووالئ خزه مقرره کړه ـ

دبخاری شریف په حاشیه کی پردے بره حدیث باندی دقسطلانیؒ په حواله سره لیکلی دی چی د جمهورومذهب دادئے چی دښځی سربراهی ناجائزده ـ

دغه شانتے محدث شهیرفقیه نبیل ملاعلی قاریؒ ده دے حدیث په تشریح کی لیکلی دی چی :

" فی شرح السنة : لاتصلح المرأة ان تکون اماماً و لاقاضیاً لأنهمامحتاجان الیٰ الخروج للقیاس بأمور المسلمین و ا لمرأة عورة لاتصلح لذالك ، و لأن المرأة ناقصة و القضاء من کمال الولایات فلایصلح لهاالاالکامل من الرجال "

(مرقاة المفاتیح ج :۷ کتاب الامارة و القضاء)

په شرح السنة کی دی چی ده ښځی سربراهی اوریاست عامه ده دووجهونه جائزنه ده :

(۱) سربراهی ددے خبری تقاضاء کوی چی دمسلمانانودامورودحل کولودپاره به آزادګرځی او خزی ته خودقرارفی البیت اوحجاب حکم شوئدئے ـ

(۲) خزه دعقل په لحاظ سره ناقصه ده اوریاست عامه ده کمال ولایت په وجه سره کمال عقل غواړی ـ

دعلامه ابن کثیرؒ اوملاعلی قاریؒ په شانتے محدثین اومفسرین داحدیث عام اخلی اوددے په وجه سریده خزی دسربراهئ پرعدم جوازباندی استدلال نیولئدئے ، لهٰذاداحدیث صرف دکسریٰ له وا قعے سره مختص ګنړل دامحض دعوه ده نورڅه حقیقت نه لری ، دراوی حدیث ابوبکرةؓ دکلام نه هم دا خبره معلومیژی چی دئے هم ددے حدیث نه عامه معنیٰ آخلی ، " کمالایخفیٰ علیٰ المتأمل "

(۲) په یوبل روایت کی راځی ، " مارأیتُ من ناقصات عقل و دین اغلب لذی لب منکن قالت یارسول اللّٰه ﷺ ما نقصان العقل و الدین قال: امانقصان عقلهافشهادة امرأتین تعدل شهادة رجل فهذانقصان العقل ، وتمکث اللیالی لا تصلی وتفطرفی رمضان فهٰذانقصان الدین " (رواه مسلم ، تفسیرابن کثیرج :۱ سورة البقرة)

ترجمه : مانه دی لیدلی چی دعقل اوددین دکمی نه باوجوددسړوپرعقل غلبه موندونکی

ترتاسونه زیاتی وی ، هغے تپوس اوکړو چی حضورﷺ په موژکی ددین اودعقل کمی څنګه وی ؟ نبی ﷺ ورته اوفرمایل چی دعقل دکمئ وجه خومعلومه ده هغه داچی دوه خزی دیوه سړی سره په شهادت اوګواهی کی برابری دی ، اوددین کمی داده چی دحیض په ورځوکی نه لمونځ وی اونه روژه ـ

لدے حدیث نه صفامعلومه شوه چی ښځه ناقص العقل ده اوریاست عامه نوم دئے دکمال عقل اودد ے دپاره دکمال عقل ضرورت دئے اوددے حدیث درویه داکمال په خزوکی نشته نوزکه دخزی سربراهی اوریاست عامه جائزنه ده ـ

۱ :ـ

" لماقال الامام سعدالدین التفتازانیؒ : (تحت قول النسفی) ویشترط ان یکون من اهل الولایة المطلقة الکاملة ؟ ایٔ مسلماًحراًذکراعاقلابالغاً.... النساء ناقصات عقل ودین " (روا شرح العقائدالنسفی ص: ۱۱۳ الخلافة والامارة)

دشرح العقائدمشهوره شرح نبراس کی دی چی :

" قداجمع الامة علیٰ عدم نصبهاحتیٰ فی الامامة الصغریٰ " (النبراس ص: ۳۲۱ نصب الامام ، یشترط ان یکون الامام من اهل الولایة)

دامت محمدیه ﷺ پردے مسئله باندی اجماع شوے ده چی دښځی سربراهی امامت کبریٰ اوامامت صغریٰ دواړه ناجائزدی ـ

۲ :ـ علامه علاؤالدین الحصکفیؒ فرمایی :

" ویشترط کونه مسلماحراذکراعاقلابالغاقادراً " (الدرالمختارعلیٰ هامش ردالمختارج: ۱باب الامامة)

یعنی دریاست عامه ده پاره ده سړی نرولایت شرط دئے لهٰذاده ښځی سربراهی نده جائز ـ

۳ :ـ علامه ابن عابدین شامیؒ دخزی دسربراهئ دعدم جوازپه تعلیل کی فرمایی :

" لأن النساء امرن بالقرارفی البیوت فکان مبنیٰ حالهن علیٰ الستروالیه اشارالنبی ﷺ حیث قال کیف یفلح قوم تملکهم امرأة " (ردالمختارج: ۱باب الامامة)

ښځوته خودقرارفی البیوت حکم شوئیدئے لهٰذاددوئ دپاره حجاب ستراوپرده لازمی ده ، اوحضور اقدس ﷺ دخزی دسربراهئ دعدم جوازطرف ته اشاره کړے ده چی هغه قوم به کله هم کامیابی نکړی ترلاسه چی پرکوم قوم خزه حکومت کوی ـ

۴ :ـ علامه آلوسیؒ فرمایی :

" ولیس فی الآیة مایدل علیٰ جوازان تکون المرأة ملکة ولاحجة فی عمل قوم کفرة علیٰ مثل هٰذاالمطلب

، وفی صحیح البخاری من حدیث ابن عباسؓ ان النبی ﷺ لمابلغه ان اهل فارس قدملکوا علیهم بنت کسریٰ قال" لن یفلح قوم ولوامرهم امرءة " (روح المعانی ج :۱۰ الجزء ۱۹۔ الکلام علیٰ نکاح الانس والجن)

یعنی دښځی سربراهی نده جائززکه چی په صحیح بخاری کی دی چی کله نبی ﷺ ته داخبراوره سیدو چی فارسیانودخپل ملك بادشاه دکسریٰ لورجوړه کړے ده نونبی ﷺ داحدیث اوفرمایلو۔

۵ :۔ مولاناابوالکلام آزادؒ فرمایلی دی :

" اللّٰه ﷻ په دنیاکی هره طبقه ته پربله طبقه باندی په څه خاص خاص خبرواوکارونوکی مزیت ورکړئدئے ، اوهم داشانتے مزیت دسړودئ پرخزوباندی ، سړی دخزودضروریات معیشت دپوره کولوذریعه ده ، په هم دے وجه دسربراهئ مقام په قدرتی ډول سره سړوته ورکول شوئدئ " (ترجمان القرآن تحت هٰذهٖ الآیة " الرجال قوامون علی النساء ")

٦ :۔ مفتی محمدشفیع صاحبؒ فرمایلی دی :

" دحضورﷺ دمذکوره بالا حدیث شریف " لن یفلح قوم ولوامرهم امرءة " رانقل کولونه پس لیکی چی : پدے وجه علماء امت پردے خبره سره متفق دی چی خزی ته امامت وخلافت،یاسلطنت اوحکومت نشی ورکول کیدئے ، بلکه دلمانځه دامامت په شانتے امامت کبریٰ هم صرف له سړوسره خاص دئے ؟ اودبلقیسی په واقعه سره یوشرعی حکم نشی ثابتے دئ چی ترڅودانه وی ثابت شوی چی سلیمانؑ له هغے سره نکاح اوکړوبیایه حکومت اوسلطنت دے ته پریخودلو ، اوداخبره په یوه صحیح روایت کی هم نده ثابته چی دهغه له رویه پرشرعی احکاماتواعتماداوشی " (معارف القرآن سورة النمل)

۷ :۔ مشهورمحدث حضرت مولاناعبدالحق دهلویؒ ده مذکوره بالاحدیث په تشریح کی فرمایی : " ازین معلوم میشودکه زن قابل ولایت وامارت نیست " (اشعة اللمعات ج: ۳ کتاب الامارة والقضاء)

۸ :۔

علامه نواب قطب الدین خان دهلویؒ هغه هم دمذکوره بالاحدیث په تشریح کی لیکی چی :

" لدے حدیث نه معلومه شوه چی دولایت اوحکمرانئ اهل صرف سړئے رجل کیدئے شی ، خزه ده سربراهئ اودحکمرانئ دمنصب مستحقه اولائقه نده " (مظاهرحق ج: ۳ کتاب الامارة والقضاء)

۹ :۔ قاضی ثناء اللّٰه پانی پتیؒ د ﴿ بمافضل اللّٰه بعضهم علیٰ بعض ﴾ حصے لاندی لیکی :

" یعنی الرجال علیٰ النساء فی اصل الخلقة بکمال العقدوحسن التدبیروبسطة فی العلم والجسم ومزیدالقوة فی الاعمال وعلوالاستعدادولذٰلك حضوابالنبوة والامامة والولایة والقضاء والشهادة فی الحد ودو القصاص وغیرهاووجوب الجهادوالجمعة والعیدین والاذان والخطبة والجماعة وزیادة السهم فی الارث ومالکیة

النکاح و تعددا لمنکوحات و الاستبدادبالطلاق و کمال الصوم و الصلوٰۃ من غیرفتورو غیرذٰلك وھٰذاامروھبی "(تفسیر مظھری)

۱۰ :۔ حکیم الامۃ حضرت مولانااشرف علی تھانویؒ فرمایی :

" اور ہماری شریعت میں عورت کو بادشاہ بنانے کی ممانعت ہے پس بلقیس کے قصہ سے کوئی شبہ نہ کرے اول تو یہ فعل مشرکین کا تھا، دوسرے اگر شریعت سلیمانیہ نے اس کی تقریر بھی کی ہو تو شرع محمدی ﷺ میں اسکے خلاف ہوتے ہوئے وہ حجت نہیں " (بیان القرآن ج:۲/ ۴۴۷)

۱۱ :۔ ابوالبرکات علامہ نسفیؒ فرمایی :

" یعنی انما کانوامسیطرین علیھم لسبب تفضیل اللّٰہ بعضھم وھم الرجال علیٰ بعض وھم النساء بالعقل وا لعزم الیٰ قولہٖ و النبوۃ و الخلافۃ و الامامۃ " (المدارك)

"اللّٰہ ﷻ په بعض خبروکی پرخزوباندی سړوته فضیلت ورکړیٔدئے عقل، عزم ، حرزم ، رائے ، وقت ، جها د وکمال ، صلوٰۃ وصوم ، نبوت وخلافت وامامت وغیره "

۱۲ :۔ مولانامحمدادریس کاندھلویؒ فرمایی :

"قولہ ولوا امرھم امرأۃ فی شرح السنۃ لاتصلح المرأۃ ان تکون اماماو لاقاضیاًلأن الامام و القاضی محتاجان الیٰ الخروج للقیام مأمر المسلمین و المرأۃ عورۃ لاتصلح لذٰلك و لأن المرأۃ ناقصۃ و القضاء من کمال الولایۃ فلا یصلح لھاالاالکامل من الرجال " (التعلیق الصبیح ج: ٤/ کتاب الامارۃ و القضاء)

۱۳ :۔ علامہ قرطبیؒ فرمایی :

" العاشرہ: روی البخاری من حدیث ابن عباسؓ ان النبی ﷺ لمابلغہ ان اھل فارس قدملکواعلیھم بنت کسریٰ قال لن یفلح قوم ولوامرھم امرأۃ قال القاضی ابوبکربن العربیؒ ھٰذانص فی ان المرأۃ لاتکون خلیفۃ ولاخلاف فیہ " (تفسیرقرطبی ج؛۳ سورت النساء)

" قاضی ابوبکربن العربیؒ فرمایی چی پدے حدیث کی ددے خبری تصریح ده چی خزه دخلافت اهل نده اوپدے مسئله کی دهیچااختلاف هم نشته "

۱۴ :۔ علامہ بدرالدین عینیؒ فرمایی :

" قال الخطابی فی الحدیث ان المرأۃ لاتلی الامارۃ و لاالقضاء " (عمدۃ القاری ج:۱۸ کتاب الامارۃ و القضاء) " علامہ خطابیؒ فرمایی چی ښځه ده حکومت اوقضاء اهل نده "

ازاله شبهات

مخته یه دیو ځو شبهاتو ازاله هم کړے ده هغه هم مناسب ګنړم چی اویه لیکم :

۱ : ۞

بعض حضراتو ته ددے حدیث " لن یفلح قوم " متعلق دخصوص شبهه پیداشوے ده ، دازکه چی په بعض قومونو کی خزی سربراهی پاتے شوے دی اودهغوئ په سربراهی کی دعدم فلاح پر ځا ئے فلاح لیدلئے شوے ده، ددے شبهے جواب دادئے چی په کوموقومونویاوختونو کی خزی سر برا هی تیری شوے دی ، هغه ضرورپه یودرجه کی دعدم فلاح مصداقی ګرځیدلے دی اوتاریخ پردے خبره ګوا ه دئے ، اوبعض قومونه خودډیرعبرتناکه زوال اوعدم فلاح سره مخامخ شویدی ، نوداعتراض زکه نشی وارے دیدئے چی ډیرقومونه بغیرده ښځی ده حکومت نه پرزوال راغلی دی او داپدے وجه چی لکه څنګه چی ده مرګ اسباب مختلف دی دغه رنګه دزوال اسباب هم مختلف دی ،لکه مثلاًدبرطا نیے مثال راواخلئ چی په یوزمانه کی دبرطانیے په دورسلطنت کی نورنه ډوبے دو اونن هغه عظیم بر طانیه ددنیاپه یوورکوتی شانتے ګوټ کی محصوره ده اوله عظیم نه صغیره او حقیره برطانیه جوړه شوه ، نودکوموقومونوفلاح چی ظاهراًپه نظرښکاری پدے سره پرحدیث نبوی ﷺ باندی څه اثر نه پر ے وځی زکه چی فلاح خویوه کلی مشککه ده اوددے مختلفی مرتبے دی ،نوظاهراًده فلاح یوه مر تبه ده فلاح دټولو مرتبووجودلره نه لازمیژی ، تردے چی دعدم فلاح دعدم تحقق په وجه سره د حد یث نبوی ﷺ دمتأثرکیدویره لازمه شی ، لدے نه علاوه داستقبال دصیغے " لن یفلح " نه دا هم معلومیژ ی چی مستقبل کی به داقومونه له یوخاص زوال اویاناکامئ سره مخامخ شی ، داحدیث دامت ټولواکابرینوسلفاًوخلفاًپرعموم باندی پرے ینبئ دئ اودانشاء په معنیٰ یه اخستئ دئے ، دنو رونصوصونه علاوه پدے حدیث سره هم زموژاکابرینوده ښځی دسربراهئ پرعدم جوازباندی استد لا ل نیولئ دئے ۔

۲ : ۞

بعض بیادے شبهه کی مبتلاء دی چی حضرت تهانویؒ ده ښځی دریاست عامه اوسربراهئ دجواز فتویٰ ورکړے ده، ددے خلګو متعلق به موژدااووایو چی داخلګ دتهانویؒ اصل مقصدته صحی ند ی رسیدلی ، اویالیابیاله تجاهل عارفه نه کارآخلی ، حضرت تهانویؒ چی په " امدادالفتاویٰ " کی کومه فتویٰ ورکړے ده له هغه عبارت نه داخبره مترشحه کیژی چی تهانویؒ په دووصورتونو کی د

جوازقائله دئے :

۱ :۔ اول داچی ښځه به محض صوری مشره اوحاکمه وی په حقیقت کی به مشره نه وی بلکه په حقیقت کی به مشیره وی ، حاکم اوحقیقی سربراه به پارلیمنټ وی ، اودجوازوجه یه داده چی خزه داهل مشوره ؤنده ، لیکن په موجوده حالاتوکی خوداصورت نشته زکه چی دلته کی خوحقیقی سربراه وزیراعظم وی ، اوپارلیمنټ محض دیومشیرحیثیت لری ۔

۲ :۔ دویم صورت دادئے چی خزه خوبه حقیقتاًحکمرانه وی مگرالتزاماًبه پخپله انفرادی رایی سره کا رنه کوی ، ددے صورت دجوازرازدادئے چی دعدم جوازعلت دعقل نقصان دئے ، اوچی کله دسړوپه مشوره سره ددے انجباراوشی بیاخوعلت مرتفع شواوچی علت مرتفع شونومعلول یعنی عدم جوازاوعدم فلاح هم منفی شو ، مگرپه موجوده حالاتوکی داصورت هم بلکه دلته کی خووزیراعظم مستبدبالرائے وی اوپارلیمنټ صرف دخپلی رایی تابع کوی ۔

اوچی کله خزه حقیقتاًحکمرانه اوسربراه مملکت وی اودخپلی انفرادی رایی نه کارآخلی دے صورت ته تهانویؒ هم ناجائزوایی اوداخل حدیث یه گنړی ، بهرکیف دحضرت تهانویؒ دفتوے نه د خزی دمطلق سربراهی جوازثابته ول دایقیناًدتهانویؒ مقصدته عدم وصول دئے اویادتجاهل عارفانه نتیجه ده ، خوداخبره یادساتئ چی مذکوره دوه صورتونه هم مشروط په حجاب سره دی دپردے اودشریعت ده احکاماتورعایت به ساتی دانن صبابربنډتوب پدے صورتونوسره هم نه ثابتیژی اوپردے خبره دعلامه ابن عابدینؒ تعلیل په صراحت سره دلالت کوی ۔

۳ : ۞

بعض خلگ دبلقیسی په واقعه سره دلیل نیسی اووایی چی دایمان راوړه لونه پس په یوه دلیل سره هم داخبره نده ثابته چی سلطنت دی ترے نه اخستل شوئ وی ، نوظاهراًدسلطنت حکایت اودانتزاع نه عدم حکایت دسلطنت پربقاء اوبحالئ باندی دلالت کوی اوتاریخ صراحتاًددے خبری مؤیددئے ، او قاعده اصولیه هم ده چی ، " اذاقص اللّٰه ورسوله علینااامراً من غیرنکیرعلیه فهوحجة لنا " نوله قرآن کریم نه ثابته شوه چی دخزی سربراهی جائز ده ۔

ددے شبهے جواب دادئے چی دبلقیسی حکومت دهغودووصورتونونه یوصورت ؤ چی تهانویؒ جائزورته ویلی ؤ، اوددے قرینه داللّٰهﷻ داارشادعالی دئے ، ﴿ ماکنت قاطعة امراًحتیٰ تشهدون ﴾ " بلقیسی اوویل چی زه دیوخبری قطعی فیصله نه کوم چی ترڅوتاسوله ماسره نه یئ موجود "

اوکه لدے قرینے نه څوك روگردانی کوی اوداوایی چی دبلقیسی حکومت دریم ناجائزصورت ؤ نوبیاده

تیری قاعدے له رویه جواب دادئے چی پردے صورت خوشریعت مقدسه انکارکړئدئے نوزکه حجت نشی جوړے دئے۔

۴ : ۞

بعض حضراتوبیاده " لن یفلح قوم " متعلق دضعف دعویٰ کړے دلیکن داسراسردروغ دی اوبهتان عظیم دئے ، امام ترمذیؒ پخپل کتاب " سنن ترمذی " کی دیته صحی ویلی دی چی :

" حدثنامحمدبن المثنیٰ ثناخالدبن الحارث عن حمیدالطویل عن الحسن عن ابی بکرةؓ قال عصمنی اللّٰه بشئ سمعته من رسول اللّٰه لمابلغ رسول اللّٰه ﷺ لماهلك کسریٰ قال من استخلفوا قالوا ابنته فقال النبی ﷺ لن یفلح قوم ولوا امرهم امرأةفلماقدمت عائشةؓ یعنی البصرة ذکرت قول رسول اللّٰه ﷺفعصمنی اللّٰه به قال الترمذی هٰذا حدیث صحیح " (جامع الترمذی ج: ۲ ابواب الرؤیا)

۵ : ۞

بعضے خلک بیادطاهرے صدیقے بنت صدیق حضرت عائشے صدیقےؓ ژوندپه دلیل کی پیښه وی او دمروجه سیاست ده خزوپه حق کی هم دهغے موری دلیل نیسی چی عائشه مورخو هم په جنگ جمل کی دکورنه وتے وه ددے اعتراض یوجواب دادئے چی ام المؤمنینؓ په هغه وخت کی داما مت یاخلافت دعوه نه وه کړے اونیه دامامت اوخلافت مطالبه کړے وه بلکه هغے اود هغے ملگروخو دحضرت عثمانؓ دقصاص دپاره جدجهدکولو تاسوگورئ نه چی عائشه مورحضرت قعقاعؓ ته څه جواب ورکوی :۔

" که چیرته ده حضرت علیؓ هم داخیالات وی چی تاسوبیان کړل اوهغه دحضرت عثمانؓ دقاتلانونه دقصاص اخستلوارادہ لری ، بیاخوده جگړواومخالفت یوه خبره هم نه شوه پاتے موژخوتراوسوداگنړل چی دده له قاتلین عثمانؓ سره همدردی ده " (تاریخ اسلام ج: ۱/ ۳۹۶)

دمزیدتسکین ده پاره دصحیح بخاری شریف حاشیه هم ملاحظه کړئ :

" قوله ایام الجمل متعلق بقولهٖ نفعنی اللّٰه و ایام الجمل وقعة وقعت بالبصرة بین علی وعائشةؓ سنة ست ثلٰثین و کانت عائشةؓ یومئذعلی الجمل فسمیت بهٖ اصحاب الجمل یعنی عسکره ؟ قاله الکرمانی ولم تکن عائشة ولاغیرهاطالبین الامارة والخلافة بل طلبوا دمِ عثمانؓ من قتلته و کان علیؓ الیٰ قولهٖ کذافی الفتح " (صحیح البخاری جلد۲ کتاب النبی ﷺ الیٰ کسریٰ وقیصر)

لهٰذاپدے واقعے سره دښځی دسربراهئ پرجوازباندی دلیل نیول صحی ندی ، زکه چی پدے واقعه کی دامامت یاخلافت یوه خبره هم نه وه ، البته ددے واقعے دسرپرستئ کولوپه وجه سره دخلا

فت اوامامت صورت ضرورراغلئے ؤ چی هغه جائزنه دئے ، مگرده خلافت اوامامت حقیقت با لکلیه مو جود نه ؤ، زکه چی پردے موقع باندی خوعائشےؓ نه پخپله دامامت دعوه کړے وه اونه دد ے ملگر ودااامامه یاخلیفة جوړه کړه بلکه دوئ خوپه مشترکه ډول سره دحضرت عثانؓ دقصاص ا خستلو کو شش کولو ـ

البته تحریك اوسرپرستی دام المؤمنینؓ په لاس کی وه ، لکه څنگه چی په یوه کورکی بچیا ن دمورپه تحریك اوسرپرستئ کی کارکوی ، لدے وجهی نه پدے واقعے سره دخزی دسربراهئ اما مت اوخلا فت جوازپیشه ول صحی ندی ، مگرپدے صورت کی امامت راغلوپدے وجه ددے حد یث راو ی حضر ت ابوبکرهؓ اونوروصحابه کرامؓ ده غایت تقویٰ اوخشیتِ الٰهی په وجه سره دام المؤمنینؓ په لشکرکی شمولیت نه اوفرمایلو، اوحضرت عائشهؓ پخپله ددے حدیث دصوری مخا لفت اوددے فساد په وجه سره په واقعه جمل کی دومره غمگینه اوپرے شانه وه اواکثربیه داجمله پرزبان جاری وه چی : " کاش ددے واقعے ترپیښے دونه لس کاله وړاندی زه مړه وئے یعنی نه وئے "

٦ : ۞

بعض خلگ بیادابے بنیادبے سره اوبے پښوالزام لگوی چی ده " فیلډمارشل محمدایوب خا ن مرحوم " په مقابله کی دجمعیة علماء اسلام اکابرعلماؤده فاطمة علی جناحی حمایت کړئ ؤکه شر عاً دښځی حکمرانی ناجائزوی نوبیاشیخ السلام حضرت مولانامحمدعبداللّٰه درخواستیؒ ، حضرت مو لانامفتی محمودؒ ، محدث کبیرحضرت مولاناعبدالحقؒ، اورحضرت مولاناغلام غوث هزارویؒ په شا نتے علماء دفاطمه جناح تائیداوحمایت ولی کولو، ددے شبهے جواب صرف اوصرف دادئے چی ، " سبحٰنك هٰذابهتا ن عظیم "

پرمعترضینوباندی لازمی دی چی له دجل اوفریب نه کاروانخلی اودماضی قریب دتاریخ ور قی دی را واړه وی دایوبی دورسراکاری ریکارډدی ملا حظه کړی نوبیابه دوئ ته پته اولگی چی دجمعیت علماء اسلام اکابرینوده فاطمه جناح مخالفت کولویایه حمایت ؟ حقیقت دادئے چی پرهغه مو قعه باند ی د جمعیت علماء اسلام اکابرینودایوب خان اوفاطمه جناح مخالفت کولوسره سره حضرت مو لانا عبیداللّٰه انورلاهوریؒ په صدارتی امیدوارنامزدکړئے ؤاودجمعیة اکابرودفاطمے مخالفت زکه کو لو چی دخز ی سربراهی شرعاًناجائزده ـ

تنبیه ! شریعت مطهره ښځه دریاست عامه له سربراهئ نه مستثنیٰ کړه اودایه پردے باندی ډ یرشفقت اومهربانی اوکړله، زکه چی دخزوپرنازك اوضعیفو متهوباندی دریاست عامه په شانتے درو ند

بوج نه اچو ل داده حکمت تقاضاده نده عقل اودانش ـ (فتاویٰ حقانیه ج : ۲ / ۳٦۳)

لهٰذادښځی دحاکمیت اوسربراهئ دعدم جوازفتواګانی ډیروعلماء کراموورکړے دی پدے هکله مستقلی رسالے اوکتابونه چاپ شویدی ، مثلاً " حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی شهیدؒ " ده (*عورت کی سربراہی*) په نامه سره یوکتاب لیکلئے دئے اردواوعربی دواړه ایډیشنے ملاویژی حصه او له او دو یمه ، اومجسمه تقویٰ شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا سخی دادخوستی صاحب هم پدے هکله یو کتاب لیکلئے دئے وغیره وغیره ، نودادجمهوریت یوقسم ؤ چی خزه اونرپه حاکمیت کی او په اوټ اچولوکی دتساوئ حیثیت لری ده دے قسم ابطال موژپه مدللانه اندازسره ثابت کړو ـ

دآزادئے اصل دشریعت په رڼاکی

دجمهوریت اوډیموکراسی په اصول ثلاثه ؤکی دریم اوآخری قسم دحریت اوآزادئے ولو د دے موژډیرقسمونه اوبیاموتر هرقسم لاندی ډیرصورتونه اوشکلونه بیان کړی ؤ اوس ددے سابقه صورتو نولژشانتے موازنه له شریعتِ محمدیه ﷺ سره کؤا وداډیرخطرناك اصل دئے اوتفصیل یه په لاندی ډو ل سره دئے :

(۱) حریت شخصی دشریعت په رڼاکی

ددے اصل مطلب داؤ چی سړئے دخپل ذات په اعتبارسره آزاددئے چی څه ته یه هم زړه او شی نو کو لئ یه شی دے حریت شخصی بیاپخپل کورکی درے قسمونه لرل (۱) حریت مادی، (۲) حریت معنو ی، (۳) حریت اجتماعی ، اوس به موژد لف ونشرمرتب یعنی په سابقه ترتیب سر به دهر قسم حقیقت د ه اسلام په دائره کی معلومه ؤ :

حریت مادی دشریعت محمدیه ﷺ په رڼاکی

الف :ـ ۞

ددے قسم اول شکل اوصورت " حق الحیاة " ؤ اوددے مطلب داؤ چی دزندګئ دتیرولوپه هکله سړئے آزاددئے داشرطونه پکی نشته چی اسلام قبول کړه یاجزیه ورکولوته تیارشه اولیابیاقتال جنګ ته ټنګ شه ، پدے شکل کی دوئ په اصل کی پر اسلام باندی رداواټیك لګوی اوداردبیاپرډیره اوګده لاره راتاوه (راګرځوی) وی هغه داچی مثلاًکه یوکس له اسلام نه مرتدشولومشرك شو یا یهو دی شو یاعیسائی شویابودائی شویاله ابتداء نه حربی اواستعماری کافرؤنوپدے ټولوصورتونوکی ته دا

کس نشے قتلوئے اوکه محصن کس زنااوکړله نو هم قصاص نه شے ترے نه اخستلئے اونه یه رجم سنګساره ولئے شے دوئ وا یی چی که چیرته یوکس راپاسیدواوبل کس یه اووژلو نودامقتول خو هسی هم مړشواوس ددے قاتل حق الحیات دزندګئ دتیرولو حق ولی سلب کؤداصورت له اسلام سره ډیرتضادلری زکه چی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ کتب علیکم القصاص فی القتلا الحرُّبالحر.... ﴾ (البقره : ۱۷۸)

چی لدے قاتلانونه قصاص اخستل فرض دی محصن خزه اوسړئے به رجم کوے ﴿ ألزانیة والزانی فا جلدوا کل واحدٍمنهمامأة جلدةٍ ﴾ (النور : ۲) اودوئ وایی چی نه انسان ده کفراونوروجرائموپربناء نشے قتلوئے اونیه پانسئ کولئے شے داحق الحیات بیامحدوددئے ددوئ ترخدایانوپوری داحق صرف او صرف دپرویزخنزیرپه رنګه جرنیلانوپوری خاص دئے ورنه که ده ممتازقادری ، غازی علم الدین شهید، غازی فیصل خالد، په شانتے مسلمان ددوئ دجمهوری دین خلاف اوداسلام دمزاج مطابق کاراوکړی نوداسی غیرتمندانسان به بیادقادری مردمجاهدپه رنګه فوراً پانسی کیژی ، اوپه قرآن کریم کی اللّٰه ﷻ په یوبل ځائے کی ارشادفرمایی چی :

﴿ قاتلوا الذین لایؤمنون بااللّٰه و لابااليوم الآخرو لایحرمون ماحرم اللّٰه ورسولُه و لایدینون دین الحق من الذین أوتوا الکتٰب حتی یعطوا الجزیة عن یدٍوهم صاغرون ﴾ (التوبه : ۲۹)

دکافرلپاره په اسلام کی درے لاری دی (۱) اول داچی اسلام به قبله وی (۲) دویم داچی که اسلام نه را وړی نوبیابه جزیه اوټکس ورکوی اسلامی حکومت ته (۳) کدایو هم نه کوی نوپه اسلام کی دداسی کافرلپاره بیادر یمه لاره دقتال ده چی جنګ ته به تیاریژی ، څلورمه لاره نشته اونه داسی حیات په اسلام کی شته چی بغیردځه پابندئے نه آزادبه ګرځی اوجمهوریت وایی چی نده اسلام پرقبلو لو پا بنددئے اونده جزیه پرورکولواوجهادله کفاروسره کول داخوپه جمهوری شریعت کی دئے حرام کار (نعو ذبا اللّٰه) که لداسی کافرسره چاده جهاداعلان اوکړونو هغه بده دهشتګردئے نوم سره تورن کیژی نواوس ددے آیت په مقابله کی جمهوریت خپل قانون جوړکړوچی پرکا فراوخاصکر پر انګریزباباباندی به هیڅ قسم پابندی نه وی ـ

ب :ـ ۞

دویم صورت د " حق التنقل " ؤپدے صورت کی دوئ ویلی ؤچی په نقل المکانی کی انسان آزادؤدمسکن په بدلولوکی هم هیڅ قسم پابندی نه وه باندی که چیرته یه هم زړه کیدونوتلئے شے بیابرابره خبرده کده سیاحت اوچکرلپاره ځے اوکده ضرورت لپاره ، که هرڅومره غټ مجرم کافروی نو

هم دارالا سلام ته ښه په آزاده توګه تلئے شی بیاکیه په اسلامی ملك کی لس کاله تیره ول اوکیه شل کا له تیرول هغه دده خوښه ده ـ

ددے په مقابله کی اسلام ده نقل مکانی اجازه ورکوی خو محدوده اجازه ورکوی هغه داکه یو حربی کافرله اسلامی حکومت نه امن اوغوختلونو اسلامی حکومت وداسی کا فرته امن ورکولئے شی پدے هکله اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ وأن أحدٌمن المشركين استجارك فأجره حتىٰ يسمع كلٰم اللّٰه ﴾ (التوبه : ٦)

اوکه یوکس دمشرکانونه امن اوغواړی نو امن ورکړئے هغه ته ترهغے پوری چی واوری کلام داللّٰه ﷻ . له " يسمع كلٰم اللّٰه "

نه علماؤیوکال مراداخستے دئے چی تریوه کال نه زیات امن نه شی ورکول کیدئے اودایوکال استیمان هم په دوؤصورتونوکی ورته حاصل دئے یوداچی دتجارت پرښاه به اسلامی ملك ته راځی دویم داچی دکلام اللّٰه داوریدولپاره به راځی دریمه لاره ورته نشته چی دسیراولیاسیاحت لپاره به په اسلامی ملك کی چکرونه لګوی اوکه یه تریوه کال نه زیات وخت اوشوبیابه ذمی ګنړلئے کیژی اوجزیه ټکس به اداکوی دپابندئے زندګی به تیروی ـ

خونن صبا هندوان زموژملك ته ښه په آزاده توګه بغیردلیسنس نه راروانده ، پدے باره کی زموژدفقهی دکتابونوعبارت پداشانتے دئے چی " أذادخل الحربيُّ أليناامستئمناًلم يكن له أن يقيم في دارناسنةً ويقول لهٔ الأمام أنْ أقمتَ تمامَ السنةِ وضعتُ عليك الجزيةُ "(الهدايه : ٢/ ٥٧٠ باب المستأمن) دغه رنګه یومسلمان هم دارالحرب ته دتبلیغ لپاره یاد مسلمانانوده یو جنګی تدبیرده جاسوسئ لپاره تلئے شی لیکن داستوګی لپاره مسلمان هم دارا لکفر ته نشی تلئے او په جمهوری نظام کی بغیردځه قیده هرچالره اجازت شته دی اوس جمهوریت خپل وضعی قانون ده الٰهی قانون په مقابله کی کیخودلو ـ

ج :ـ ۞

دریم صوت د " حق الأمن " ؤددے مطلب داؤ چی هرسړی ته دی په هرځائے کی امن ورکول شی نواوس که یوکس زناګانی یالواطتونه کوی یاناحقه قتلونه کوی نوداسی کس ته به په جمهوریت کی امن حاصل وی زکه چی داده خپل شخصی حق دئے چی څه پخپل بدن کوی نو هغه کولئے شی او هم داوجه ده چی پدے اوسنی ۱۴۴۱ھ بمطابق ۲۰۲۰ء کی صرف په خیبرپختونخواکی څومره وړے ما شومانی اوهلکان دے ظالمانو حلال اوذبح کړونه یوکس ایکشن وربانده اخلی اونه یوسیا سی بلکه

مذهبی پارټیانی هم وربانده خاموشه دی داوجه داده چی دوئ ددے نوی جمهوری دین دتابعد ارئے حلف اخستے دئے خلک له پارلیمنټ اوججا نونه ګله کوی دانظام خو چلوی داخبیثان نو هغه به څنګه دے خلګوته پانړسئ ورکړی زکه چی داخوددے قاتلانو خپل شخصی حق دئے بلکه دے قاتلانوته خودوئ تحفظ ورکوی ـ

ددے نظام په مقابله کی اسلام وایی چی که چیرته شادی شده خزی او سړی زناسره اوکړله نو دادواړه به رجم اوسنګساریژی دلیل رجم ﴿ ألشیخ و الشیخة أذازنیافار جموا هما البتة نکالاً من اللّٰه ﴾ اوکه غیرشادی شده کسانوزناسره اوکړله نو هغوئ ته به دُرے ورکولئے کیژی اللّٰه ﷻ وایی ﴿ ألزانیة و الزانی فاجلدوا کل واحدٍ منهمامأة جلدة ﴾ (النور : ۲) اوکه یوکس بل کس اووه ژلو نو لدے قاتل نبه قصاص اخستل کیژی یابه دیت ورکوی اویابه داقاتل وژنی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ کتب علیکم القصا ص فی القتلا الحرُّبالحر.... ﴾ (البقره : ۱۷۸)

اوکه چاغلااوکړله نوله هغه نبه لاس پرے کیژی (غوڅ کیژی) اوکه چاشراب اوڅکل نو هغه تبه اتیا [۸۰] درے ورکولئے کیژی دغه رنګه که چیرته یوسړی بل سړی ته کنځلے اوکړلے نوپردے شاتم به حدقذف جاری کیژی ، نوداده " ألزانیة و الزانی "آیت دقانون حیثیت لری اودے جمهوریا نو دا الهی قانو ن ختم کړوخپل وضعی اوملعونی قانون یه ددے په مقابله کی جوړکړو چی که هر چا هر څه کول نو هغه تبه مکمله آزادی حاصله وی هیڅوك هم څه نشی ورته ویلئے ـ

د :ـ ۞

څلورم صورت د " حق عدم الاسترقاق " ؤده دے مطلب داؤ چی نن صباکدی کافرپه جنګ کی ګرفتا ر ه کړونوغلام نشے ترے نه جوړولئے او دبعضے ډیروعلماؤده خولے نه داخبره رااوځی چی نن صبا ده غلامانودورندئے نن صباغلامان نشته نوداسی حضراتوته موژوایو چی په قرآن کریم د ﴿ ما ملکت أیمانکم ﴾ الفاظ پنځلس کرته راغلی دی (څلورځله په سورت نساء کی ، یو ځل په النحل کی ، یو ځل په المؤمنون کی ، درے ځله په النورکی ، یو ځل په الروم کی ، څلورځله په الاحزاب کی ، او یو ځل په المعارج کی)

په قرآن مجیدکی په کَفاره ظهار، کفاره یمین ، کفاره قتل خطاء کی ده غلامانودآزادولو حکم اوهدا یت شوئدئے ، ماریه قبطیهؓ دوینځی په حیثیت سره دنبی السیف ﷺ په نکاح کی راغلے ده نوداپر تا سو څوارلس کاله وروسته کومه وحی راغله چی داټول نصوص اودغلامئ مسئله پرے منسوخه شوه ـ

حضرت مفتی صاحبؒ فرمایی چی ده مرتدینو خزی اوسړی خووینځی او غلامان نشی جوړ ے دئے خو مګریهودیان عیسائیان اوامریکیان دی زموژلاس ته راشی بیابے موژاوګوروچی وینځی او غلامان ولی نه ترے نه جوړیژی ، اوداخبره په بین الاقوامی معاهده کی شوے ده چی موژبه خلګ غلا مان نه جوړؤاوپردے باندی یه یو بل ته دسخطونه کړیدی اودلیل داپیشوی چی که موژله دوئ نه غلا مان جو ړ کړونوبیا چی په کفری ملکونوکی ځومره مسلمانان دی نودوئ به له هغوئ نه غلامان جو ړ کړی (اوهم دغه رنګه خبرخلګ امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهدؒ ته هم منسوبه وی خومفتی صا حب وایی چی داخبره هیڅ حقیقت نه لری) نوداده عدم غلامئ خبری بے ځایه دی ـ

اوکوم خلګ چی ددارالحرب دمسلمانانوغمخواره دی نو هغه خو هسی هم ددوئ غلامان دی ، اوبعضے خلګ بیاوایی چی پرعد م استرقاق باندی امام مالکؒ ده علماؤاجماع رانقل کړے ده چی نن صبا غلا مان جوړول نشته نوداخبره هم دکتاب البطن نده نورڅه حقیقت نه لری ، زکه چی که واقعتاًدامنسوخ وی نوبیازموژفقهاؤولی په هرمثال کی وینزی اوغلامان راوړلو ، ددے معا هدے ماتول اوختمول پکاردی زکه چی مو ژدالله ﷻ دطرف نه مکلف یود الله ﷻ بندګان یوداقوام متحدے بندے ګان نه یو، نودوئ وایی چی څوك حربی کافرهم نن صباغلام نشی جوړوئے اوالله ﷻ فرمایی چی تاسوددوئ نوجوانان قتل کړئے اوچی څوك په ګرفت کی درغلی وی دهغوئ نه بیاغلامان جو ړکړئے اوخزی یه وینځی کړئ نودغلامانوتحلیل الله ﷻ موژته کړئے دئے اوجمهوریت دالله ﷻ دا حلال شده حکم حرام ګنړی اوتحریم دماحل الله په اتفاق ده علماؤ سره کفراکبردئے داصریحی کفر د ئے هیڅ شك هم پکی نشته نبی السیف ﷺ دبنی قریظه ؤدښځونه اودنابالغه هلکانونه غلامان نکړوجوړ۔

ه :ـ ۞

پنځم صورت د " حق حرمة المسکن " ؤددے مطلب داؤ چی که انسان په کوم ځائے کی او سیژی یا کورجوړوی حتیٰ که حربی کافرپه حرم شریف کی دننه کورجوړول اوغوختل نو هم په جمهور یت کی دا خبره څه باك نه ګنړی ددے په مقابله کی الله ﷻ فرمایی ﴿ أنـماالمشرکون نجسٌ فلا یقربوا المسجد الحرام بعدعامهم هٰذا ﴾ (التوبه : ۲۸) دامشرکان پلیت دی مه یه پریژدئے مسجدحرام ته پس ده دے کال نه ، اونبی قتال ﷺ فرمایلی دی چی " أخرجواالیهودو النصٰریٰ من جزیرة العرب " دایهوداونصاراده عر ب ده جزیرے نه اوباسئ په یوبل ځائے کی وایی چی " لأخرجن الیهودو النصاریٰ من جزیرة العرب حتیٰ لاأدعُ ألامسلماً " (مسلم) ځه به ضروربالضروردایهودیان اونصارادعرب دجزیرے نه اوباسم اودمسلمان

نه علاوه به بل هیڅوك پدے جزیره عرب کی پرے نگدمه۔

دجزیرة العرب حدوداًربعه

دعرب مشرقی طرف ته خلیج ، فارس اوبحرعمان دئے ، اوپه جنوب کی بحرعرب یا بحرهند دئے ، په مغربی طرف کی بحرقلزوم اونهرسوئز دئے .. په شمال کی دعرب دملك رقبه [۱۲] یا[۱۳] لکه " لاکھ "مربع میل جوړیژی ، چی دادشام دملك سره پیوست والئ لری ، پدے شمالی علاقه کی ځلور یا پنځه لکه مربع میل ته قریب صرف خالص شګنه (ریګستانی) اوغیرآباده رقبے شا ملی دی ترټولونه مشهوررګستان د " الربع الخالی " په نوم سره موسوم ده چی دهغے رقبه دوه نیم لکه مربع میل ده ۔

دامام شافعی صاحبؒ په نز داخراج الیهودیامشرکینو حکم ترحجازه پوری خاص دئے او حجا زدهغه په نزددمکے مکرمے او مدینے منورے خواؤشا (یعنی شاؤخا) مضافات دی ، یمن وغیره دوئ په جز یرے کی داخل نه ګنړی ، اوداحنافوپه نزدټوله جزیر ه ده اواحناف دامام شافعیؒ ده دلیل جواب دا کوی چی په حدیث مبارکه کی دجزیرے په پنځوصوبو (ولایتونو) کی حجازیوه صوبه ده دانوروڅلو رو صوبوته هم جزیره وایی ، (تحفة المرآة ص: ۳۹۴)

اوس تاسودجزیرة العرب حدوداربعه اوکتل چی له کوم ځائے نه ترکومه ځایه پوری دی خونن صباده عربوشهزاده ګانوصرف دخپل وهمی دفاع په وهم سره دامریکے فوج دتبوك پر مقام باندی پرے یخئ دئے دهغوئ تنخاګانی اونورټول اخراجات دوئ پخپله برداشه وی دتیلوپه کوهیانوباندی هم د هغوئ قبضه ده اوښه دمزوجوند تیروی (ذخیرة الجنان)

دانن صبایهودنصارا ، امریکایان ، عیسائیان ، برطانویان ، اومشرکین دجمهوریت دهم دے اصل په وجه سره په عربو ملکو نو کی آباددی ، نن دعربوپه رګستان کی دامریکے فوج اوسیژی دد ے قانون اوددے اصل دوئ دومره حفاظت کوی چی که چا په عربوکی پرممبرباندی دخوژنبی ﷺدا فرمان بیا ن کړلوبس دهغه زندګی نوره سلب شوله ، لکه چی امام حر مین شریفین " عبدالرحمٰن الحذیفیؒ " چی یوه شپه نبی کریم ﷺپه خوب کی لیدلئے ؤنوچی کله سهردجمعے په ورځ پر ممبر باندی کینا ستونوپه اسلامی غیرت اوجذبه کی راغلواوداحدیث یه اوویلو چی " أخرجواالیهودوالنصٰریٰ من جزیرة العرب "

اوداحدیث یه دخپل بیان موضوع اوګرځوله خوچی کله هم له خطبے نه فارغ شواوله ممبرنه

راخکته شونوفورأیه هتکړئے اوزو لنے ورواچولے بندی یه کړوترتوروابویه اورسولو، دازکه چی هغه د جمهو ریت ددے بنیادی اصل مخالفت اوکړو" امام اهل سنت والجماعت حضرت مولانا محمد سر فراز خان صفدرؒ " لیکلی دی چی ددے حدیث دبیانولوپه وجه سره دیارلس زره [۱۳۰۰۰] جید جید علماء کرام دسعودی په عقوبت خانواوجیلونوکی پراته دی (ذخیرة الجنان : ۱۲ / ۱۶۹)

حریت معنوی دشریعت مطهره په رڼاکی

۱

ددے قسم اول صورت اوشکل د " حریة العلم " ؤپدے شکل کی دوئ ویلی ؤ چی انسان ته د هرقسم علومو حاصلولو آزادی حاصله ده بیاکه هغه ده موسیقی علم وی کده نجومو علم وی کده کتب سابقه ؤعلم وی حالانکه په یوه حدیث کی نبی ﷺ فرمایی چی " که څوك نجومی یافال ګرته لاړونوددداسی کس ایمان سلب اوختم شولو " ده عمرؓ په لاس کی دتوریت یوه ورقه وه اونبی ﷺ تر ے نه او لیده اوغصه شواواویه فرمایل چی " واللّٰه لوأن موسیٰ کان حیاًمایحلُّ لهٗ ألاأنْ یتبعنی "

په اللّٰه مدی قسم که چیرته دموسیٰ ؑ په شانتے جلیل القدرپیغمبرژوندئے وے نو هغه تبه هم ځماده تا بعدارئ نه علاوه نورڅه نه ؤجائزنوپه جمهوریت کی انسان ته دهرفن اوهرعلم دزدکړی مطلق حق حا صل دئے اواسلام ده داسی فنونواوعلوموده زده کړی مطلقه اجازه نه ورکوی چی کوم علوم یافنون له اسلام سره تضاداوټکرلری لکه د (کوډو ، جادو سحر علم ، ده مخکینیوکتا بونوعلم ، شعبده بازی شوه ، مداری ګری شوه ده ستوروعلم شو ، دډمتوب علم شو) اوده جادو زدکړه خوپه اسلام کی کفردئے اوددے علم اسلام مخنیوئے کوی ، نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی :

" من اقتبس علماًمن النجوم اقتبس شعبة من السحرزادمازاد " (ابوداؤدج : ۲/ ۱۸۹، ابن ماجه ص: ۲۷۳)

چاچی دنجومو(ستورو) علم حاصل کړونودے کس دجادویوه شعبه ایزده کړه چی څومره یه هم زیا ت کړونوبس زیات یه کړو،

حضرت شاه عبدالغنی المجددی الحنفیؒ ددے حدیث په تشریح کی لیکی :

" وادخل صاحب الدرفی العلم الحرام علم الفلاسفة و الشعبدة و التنجیم و الرمل و علوم الطباعین و السحرو الکهانة " (النجاح الحاجة ص: ۲۷۳)

صاحب ددرالمختارپه حراموعلوموکی علم فلسفه ، شعبده بازی یعنی اورونه بلول ، نجوم ، رمل ډزی اوټکان کول، علم طبعیات، جادواوکهانت داټول شامل کړیدی۔

امام شافعیؒ اوحافظ ابن حجرعسقلانیؒ دواړه لیکی :

" وامّاتعلّمه (ای السحر) وتعلیمه فحرامٌ "(نووی شرح مسلم ج:۲/۲۲۱، فتح الباری ج:۱۰/۱۸۳)

دجادوعلم ایزده کول اوخودل دواړه حرام دی ،

علامه ابن خلدون لیکی :

" فجعلتِ الشریعة باب السحرو الطلمسات و الشعوذه باباواحداً وخصه باالحظرو التحریم "(مقدمه ص: ۵۰۳)

شریعت جادو، طلسم اوشعبده بازی داټول څیزونوپه یوه جم کی شماره لی دی دایه باالخصوص ممنوع اوحرام ګرځولی دی۔

ملاعلی قاریؒ دامام مالك اویوه جماعت نه نقل کوی چی :

" وامّاتعلّمه (ای السحر) وتعلیمه کفرٌ "(بحواله فتح الملهم ج:۱۰/۲۵۵)

دعلم نسب متعلق نبی کریم ﷺفرمایلی دی چی :

" علم النسب علم لاینفع وجهالته لاتضر" (رواه ابن عبدالبرؒ عن ابی هریرةؓ کنزالعمال ج: ۵/۲۲۵)

علم نسب یوغیرنافع علم دئے ده دے نه ایزده کول اولدے نه جاهل پاتے کیدل څه ضررنه رسوی "

اونبی ﷺ چی به کله خپل نسب ترمعدبن عدنانه پوری اورسولونو، " ثم یمسك ویقول کذب النّسابون قا ل اللّٰه تعالیٰ وقروناًبین ذالك کثیراً " (اخرجه ابن سعدؒ عن ابن عباسؓ کنزالعمال ج: ۴/۲۹)

بس بیابه اودریدواوفرمایل بے چی (په وثوق سره ټوله غنډه) نسب نامه بیانه ؤنکی دروغژن دی ، اللّٰه فرمایی چی ددوئ په مینځ کی ډیرقرنونه تیرشوی دی ، (لایعلمه الااللّٰه)نولهٰذاترحضرت آدمؑ پوری د نبی ﷺټوله شجره نسب بیانه ول صحی نه دی۔

امام غزالیؒ دغیرشرعی علومودوه قسمونه بیان کړیدی :

(۱) اول هغه علوم چی دنیوی یااخروی فائدے پرے مرتبه وی اوداسی علم مقبول اومحمودوی ، (۲) دویم قسم هغه علوم دی چی ددے پرعکس وی بیادمذموم علم په بحث کی فرمایی :

" واماالمذموم منه فعلم السحرو الطلسمات ، وعلم الشعبدة ، والتلبیسات " (احیاء العلوم ج:۱ / ۱۴)

علامه ابن خلدونؒ دعلم موسیقی متعلق فرمایی :

" تلحین الموسیقی الصناعی فأنه لاینبغی ان یختلف فی حظره اذصناعته مباینة للقرآن من وجه " (مقدمه ص: ۴۲۵)

دعلم موسیقی دفن په ممنوع والی اومنهی والی کی دسره اختلاف ندئے مناسب زکه چی فن مو

سیقی په هرلحاظ سره دقرآن مخالف دئے ۔

اوس پـه اسـلام کـی پـردے علوموپابندی ده ناجائزاوبعض حرام دی اوجمهوریت ددے علومود حـاصـلـولودآزاد ئے قانون جوړکړوچی ده دے علوموتاته عامه آزادی دهیڅ قسم پابندی هم نشته دربا نـدی اوس دادشـریـعـت پابندی ختمول دیته تحلیل دماحرم وایی (یعنی هغه څیز حلالول کوم چی اللّٰه حـرام کـړئے وی) ددے متعلق شیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ وایی چی " مـن حلَّل الحرام وحرم الحلال المُجمعَ علیه فقد کفر " مجموع الفتاویٰ)

چاچی اجماعی حلال کرده څیز حرام اواجماعی حرام کرده څیز حلال اوګرځولونودے کس کفراوکړو ۔

اوصـاحب دبحرالرائق وایی چی " مـن اعتقدالحرام حلالاًفقدکفر " چـاچی دحرامو څیزونودحلت اعـتـقـا داولـرلـونوداکس کافرشو ، اوداعـتـقاددامعنیٰ نده چی ته بـے زړه څیرے (شلوے) چی پکی اویه ګـو ر ے چـی دئـے داحـرام کـرده علوم یاڅیزونه حرام ګنړی اوکنه اوس که څوك دااعـتراض او کړ ی چی داخـو اعـتقادی مسئله ده هغه دزړه کیفیت خوتاته نه معلومیژی نوبیاته څنګه حکم پر ے لګوے چی دا خـلـګ ددے حـرام کرده علوموپه حلت سره کافران دی اوهایوه کافرچی کلمه اوویله بیا هم یوصحابی قتـل کـړونونبی ﷺورته اوویل چی ولی دی اووژلوده خوکلمه ویلے وه نوصحابی ورته او ویل چی هغه یه دویری اوخوف نه ویلے وه په زړه کی یه ایمان نه ؤ نوپیغمبرﷺسخت غصه شواو ور ته اویه ویل چی آیـاتـادهـغـه زړه څیـرلـئـے ؤ چـی په زړه کی یه ایمان نه ؤ نواوس ګوره داعـتقاد په مسئله کی نبی ﷺدا صـحـابـی څـومـره خـجل کړو نوتبه ورته اووایی چی حضرت صاحب دامذمت دهغ کافرپه باره کی دئـے چـی دکـلمـے ویلویه اولنئ ځل وی ، اوچی څوك داتیاکلونونه ځانته مسلمان وایی ملك یه په اسلا می ریـاسـت سـره مسـمـیٰ کـړئـے وی اوددے باوجودکفری اقوال یاافعال ترے نه صادریژی یا تحلیل دماحرم کوی نوپداسی صورت کی بیاداتأویلونه نشته پکی چی داخوصرف په خوله داخبره کوی په زړه کی یه هیڅ هم نشته ۔

دمـانعین زکوٰة په باره کی به څوك داخبره ثابته کړی چی هغوئ دزکوٰ ة دوجودنه انکارکړ ئـے ؤ هـغـو ئ خـودزکـوٰـة نـه انـکـارنـه ؤکـړئـے بلکه تأویل یه کولو چی دااللّٰه ﷻ حـق ؤ چـی پیغمبرﷺتیه ورکـړئـے ؤاوس چـی کـلـه نبـی ﷺلـه دنیـانـه تشـریف یـوړلـو بـس دهغه له رحلت سره دافرضیت ختم شونوزکه یه اوس موژتاته نه درکؤ ۔

اویـابـے داتـأویـل کولو چی مخکی خوزموژدقوم نه په حکومت کی والیان اوګورنران نه ؤاوس خـوز مـو ژ دخپـل قـوم والیـان شتـه نـو زکه موژاوس زکوٰة حکومت ته نه ورکؤبلکه خپلووالیانوتیه ور

کؤ.. او ابو بکرصدیقؓ هغوئ ته دااونه ویل چی تاسودزکوٰة نه ورکولوعقیده لرئے اوکه صرف زکوٰة نه ورکوئ بلکه ددوئ په حق کی یه اویل چی " لومنعوانی عقالاًلقاتلتُهم " کیه یوه اورغومے یادګډ بچئے چی نبی ﷺ تیه ورکو لواوماتیه رانه کړونو هم به زه جنګ ورسره کوم نودے خلګوده امر ضروری نه مدا فعت اوکړوپدے وجه کافران شو ـ

اوبعینه دغه رنګه نن صبابعضے ملایان هم دموجوده جهاددحقانیت په باره کی قسماقسم تأویلات اواعتراضات کوی نن صباجهادنشته ، یادادجهادکولووخت ندئے ، یادجهاددصحت لپاره د امیر شرط هم شته اونن صباداشرط مفقوددئے ، یادا نن صباجهادجهادندئے بلکه فساداوخونریزی ده ، او بیا دا هم لیاورسره اووایی چی موژخودجهاد نه منکرین نه یوله جهادنه انکارکول مستلزم دی دقرآن انکا رلره اودقرآن نه انکارعین کفردئے اوددا سی ملایانومتبعین اومحبین هم وایی چی یاره ده خودجها دنه انکارندئے کړئے جهادخودئے منی بیاتاسوولی بدی ردی پسی وایئ ـ

دے حضراتوته موژوایوچی ګورئ داسی صراحتاًخوکفارواومشرکینو هم دالله ﷻ دوجود نه انکا رندئے کړئے چی دالله ﷻ و جودنشته نوزکه یه موژنه منوبلکه تأویلات اوشکوك اوشبهات بے پیدا کول چی یاره یوکس تن تنهاپه یوه وخت کی لس کارو نه کولئے شی چی په یوه وخت کی به رمه هم پیا یی (څروی) دوکان داری دی هم کوی اوزراعت دی هم کوی نوچی یوانسان دا نشی کولئے نو بیاالله ﷻ تن تنهادادومره کائنات څنګه سرته رسوی " نعوذباالله " مانعین زکوٰة هم دزکوٰة ده وجو دنه انکارنه ؤکړئے چی زکوٰت په قرآن کی شته بلکه حیلے اوبهانے بیه جوړولے ـ

لهٰذاداپه تاریخ کی نه چاویلی دی اونه په ترقیامته پوری څوك اووایی چی زه جهادنه منم یا جهادپه قرآن کی نشته بلکه دامذکوره با لا اعتراضات ده جهادپه باره کی کول یاددے په مثل نوری خبری کول دادجهادپرا نکاردجهاد او مجا هدینوپرعداوت باندی دلالت کوی اوددے قسم ډیرواعتراضاتوجوابات ماپه خپله رساله " یاشباب المسلمین حی علی الجهاد " کی کړیدی که څوك لداسی اعتراضاتونه متأثره وی نو هغه دی ده دے مجلے په ذریعه سره خپله ذهن سازی اوکړی ـ

۲ ✖

ددے قسم دویم صورت د " حریة الأعتقاد " ؤددے دامطلب ؤچی په جمهوریت کی انسان د خپلی عقیدے پربناء آزاددئے کیه هرڅومره غلطه اوپلیته عقیده وی هم دغه رنګه که څوك مسلما نیدو یا کا فرکیدواوکیه هرمذهب اختیارولونو هم آزادی ورته حاصله ده اودادواړه قسم آزادئے په پا کستان کی هم ښه په اکمله طریقه سره وجودلری په کالج کی هرقسم علوم اوفنون ورخود ل کیژی علم

سحر ، علم موسیقی ډمتوب ګلوکاری ، ساحران اوجادوګران هم دجسن آزادی په رنګه خوشالو کی علیٰ الاعلان راغواړی ـ

دویم قسم هم شته ډیرمسلمانان یهودیان شوعیسائیان شوکمیونستې شو قا دیانیان شو هند وا ن شوشیعه ګان شونودا ټولی خبری په عملی لحاظ سره دهم دے اعتقادی حریت په وجه سره و جو دلر ی هیڅ قسم پابندی هم نشته پرے هاکه یوکس پرخپل دین باندی بل کس ډیرتنګ کړی نو اوس وه دے سړی ته دومره اجازه شته چی روډته رااووځی اودخپلی رائی اوخپلوخیالاتوا ظهاراوکړی (نورد خپل مذهب دتحفظ اودفاع لپاره توره نشی رااوچتولئے) پرامن مظاهره اوکړی بیاپرامن کو ر ته لاړشی صرف یودوه درے تیرونه یاجنډے خواوسوزه وی نورهیڅ هم نشی کولئے ، اوسلام دحریت العلم په رنګه ددے حریت الا عتقاهم ردکوی نبی ﷺفرمایی چی " من بدّل دینه فقتلوهٔ " چاچی خپل دین اسلام بدل کړواومرتدشونو هغه کس قتل کړئے پرداسی سړی باندی اسلام دارتدادحکم لګوی اودو ئ بیادے خپلی کفری قانون اودفعے ته تأویلات هم کوی پرداسی کفربرسر ه دلائل هم لیاپیښه وی او وایی چی اللّٰهﷻ ویلی دی ﴿ فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیَکفر ﴾ (الکهف : ۲۹)

دچاچی خوخه شی نواسلام دی راوړی اودچاچی خوښه شی نوکفردی اختیارکړی ، نو هلکه داآزادی قبل الاسلام ده یعنی یو کس مسلمان ندئے اوس که دئے یهودی کیژی که هندوکیژی نود اسلام له طرفه باندی څه پابندی نشته خولیکن چی کله یوځل مسلمان شوبس اوس بل دین نشی قبلولئے او کیه چیرته اسلام پریخودوبل دین په قبول کړواوس به قتل کیژی ، اولیا دا چی دا امر تهد یدی دئے دد ے دامطلب دئے چی یوکس بل کس ته اووایی چی زه تاته اختیاردئے ته داکاراوکړه بیابه ماوګور ے چی زه څه در سره کؤمه ـ

اوس دامذکوره بالاچی موژکوم حدیث مبارکه ذکرکړوداقانونی حیثیت لری چی دمذهب په لحا ظ سره تاته هرګز آزادی نشی حاصلے دئے اوددے قانون صحابه ؤ تردے ځایه لحاظ ساتلو " معاذبن جبلؓ " د یمن والی " ابوموسیٰ اشعریؓ " ته یوځل لاړوچی کله ورسره ملا ؤشونودهغه خواکی (په څنګ کی) یوکس ترلئے ؤ نومعاذؓ ورته اوویل چی داکس دی ولی ترلیئدئے هغه ورته اوویل چی دامخکی یهودی ؤ بیامسلمان شواواوس بیامرتدشوئدئے یعنی یهو د یت ته دوباره تلئے دئے اوس ته کینه څه دئے قتل کومه نومعاذؓ ورته اوویل چی شاباس زریه قتل کړه چی تر څودی دئے نه وی قتل کړئے نوځه نه کینم هغه ویل خوراوستئے می قتل لره دئے هغه ویل چی تر څوداللّٰهﷻ اودهغه د رسول ﷺ حکم او فیصله نه وی پوره شوے نوځه نه کینم بیاابوموسیٰ اشعریؓ هغه کس قتل کړود

هغـــے نـه پس معاذابن جبلؓ ورسره کیناستلو " فـلـمـاقـدم علیه معاذقال انزل و القیٰ له وسادته فأذارجل عنده موثـق قـال مـاهـذاقـال هـذاکان یهودیافاسلم ثم راجع دینه دین السؤقال لااجلس حتیٰ یقتل قضاء اللّٰه ورسوله قال اجلس نعم قال لااجلس حتیٰ یقتل قضاء اللّٰه ورسوله ثلاث مرارفامربه فقتل " (ابو داؤد ثانی کتاب الحدود) ـ

اوجـمـهـوریـت ددے پـه مـقـابـلـه کی خپل قانون جوړکړوچی نه که نن سړئے مسلمان ؤصباته قـادیـانـی یـا یهودی شوبیاصبابیامسلمان شودهغـے نه پس بیاکافرشونو هم دمذ هب په بدلولوسره پرده بـانـدی څه قسم پابندی نشـتـه آزادبه وی لکه چی په افغانستان کی د " عبدالرحمٰن پنجشیری " په نامه سـره یـوکـس عیسـائـی شـوبیـاتـریـوڅه و ختـه په جیل کی ؤ آخرآزادشواودراهایئ خبریه پرمیډیاباندی ډیرعـام کـړواودازکـه چـی د نیـاتیـه داخبـره اوخـودلـه چـی که صبابل کس مرتدشونو هغه تبه هم آزادی حـاصـلـه وی څـه سـزابـه ورتـه نـه ورکـولـئـے کیـڅ ی نـودده پـه حما یت کی جمهوری قوتونه راپاسیدل اوراازادیه کړو ـ

دغـه رنـګـه په پاکستان کی هم الطاف حیسن مخکی لیالوئ خبیث ؤ د ده په باره کی " استا ذا لـمـجـاهـدیـن حـضـرت علامه حافظ فضل محمدبرېچ مر حومؒ " لیامخکی ویلی ؤ چه دده مخ ندئـے د انسـان بـلـکه اوس په دنیاکی لیامسخه شو ئدئـے نوداوّل لیا لوئ خنزیرؤ خومګربیاهم په نامه مسلمان ؤاواوس خـوعـلـیٰ الاعـلان هـنـدوشـوبیـاهـم خیـرخیـریـت دئـے هیڅ پروایه نه لری نوپه جمهوریت کی داآزادی شتـه چی څوك هم کو م یودین غوره کړی هغه قبلولئـے شی اوله ټولوادیانونه انکارهم کولئـے شـی هـغـه داچـی ملحداوکمونستٔ شی اوا سلام انسان ته ده هریوه دین اجازه نه ورکوی اللّٰه ﷻفرمایی چی ﴿ ومن یتبع غیرالاسلام دیناًفلن یقبل منه و هوفی الآخرة من الخٰسرین ﴾ (آل عمران : ۸۵)

اوهرڅوك چی له دین اسلام نه علاوه بل هردین قبول کړی نودابل دین به هیڅکله هم ترے نه اونه منل شی اوپه آخرت کی به له تاوانیانونه وی ـ

۳

ددے قسـم دریم صورت اوشکل ده " حـریة حق التعبیرعن الرأی " ؤد رایـی دتعبیرآزادی یعنی انسـا ن دخپـلی رایی اونظرچی څه تعبیراومعنیٰ هم اخلی نواخستئ یه شی اوددے بیادوه قسمو نه ؤ (۱) " حریة الرأی " ده رایی آزادی ، (۲) " حریة البیان "ده بیان آزادی ـ

الف :حریت الرأیه دشریعت مطهره په رڼاکی

داول قسـم مـطـلـب دادئـے چـی کـه چیرته یولوئ جاهل اوزندیق راپا سی دقرآن کریم متعلق یاداحا د یثـوپـه بـاره کی د خپلی خیتی نه رایی پیش کړی اوله کتاب البطن نه ده قرآن اویااحادیثو مبا ر

کـه ؤمـفهـوم یـامرادذکرکوی نوپه جمهوری نظام کی وه داسی کس ته مکمله آزادی داواسلام وایی چی کـه ثـوك په دین کی له ځانه خبری کوی داکس زندیق دئـے اودزندیق سزاپه اسلام کی قتـل دئـے نودین اسـلام دومـره هـم نـدئـے لاوارثـه چـی هـرغـوګ به پکی رایی پیشه وی حتیٰ چی دشرح العقائدعبارت موژمخکی ذکرکړو " وکـذالـوجلس علیٰ مکانٍ مرتفعٍ حوله جماعةٌ یسئلونه مسائل ویضحکونه ویضربونه باالو سائلیکفرون جمیعاً "

عـلامه تفتازانیؒ وایی چی که چیرته یوجاهل کس دیوعالم یامفتی پرځائـے کینا ستو او خپلو ملګروتیه اوویل چی له مانه تپوسونه کوئـے زه به جوابونه درکوم نوداکس خپله هم اوور سره دانورټول ملګری کافران شوداز که چی دوئ ده مفتی اوعالم دمسندپوری استهزاء اوکړله ، نوپه جمهوریت کی هر چاتـه ده هـرقسـم رایی پیشه ولواجازه شته اواسلام په دین کی درایی اجازه صرف مجتهدته ورکوی اود مـجتهـدرایـه هـم په غیرمنصوصه مسائلوکی معتبره ده اوهغه رایه به هم دکتاب البطن نه نه ورکوی بلکه له قرآن اوحدیث نبه استنباط اواستخراج کوی ، خوجمهوریت داسلام صریح قوانین دخپلی رایی پـه وجه سره مفلوجه کړیدی حالانکه اللّٰه ﷻ وایی چی ﴿ وأن نـکثوا أیمانهم من بعد عهد هم وطعنوا فی دینکم فقاتلوا أئمة الکفر ﴾ (التوبه : ۱۲)

کـه چاستـاسـوپـه دیـن کـی رایی پیښولـے ، بحث یه کولو ، یوپیغوریایونقص یه په دین کی راو یستـلـو ، نـو دکـفـردمشرانوسره او جنګیژئـے ، اودوئ وایی چی نه سړئـے چی دخپلی رایی څنګه تعبیر کـوی نـو هم هغه رنګه یه کولئـے شی لکه چی دانډیا (بهارت)یوکس ؤد " سلمان رشدی " په نامه سره ده اول ځـا نتـه مسـلمان ویلوبیامرتدشوله ارتدادنه وروسته یه یوه رساله اولیکله اوڅه آیتونه یه پکی درج کړل بیـا یـه نوم ورکړلود " شیطانی آیتونو " (نعوذباالله من ذالك) بیاچی کله مسلمانان دده په خلاف راپاسیـد ل اولـه مغرب نیه اپیل اوکړوچی ده داللّٰه ﷻ ده آیتـونـوتوهین اوسپکاوئ کړیدئـے نو محاکـمـے ته دی وړا ندی شی بیادده په حمایت کی برطانیه اونورټول مغربی ملکونه اودرے دل چی داخو د " تعبیرعن الرأی " والاحـریـت دئـے اوپـدے سره ثوك دئـے نشی ملامته کولئـے اوپدے کارنامے سره بیادته مغربی حکومتونوده " سر " لقب ورکړواوپه " سرسلمان رشدی " سریه مسمیٰ کړو۔

بـل طـرف تـه مسـلمانا ن دومره بے غیرته دی چی نه خویه مردارکړو ، اوبل دقتـل طاقت بیه نه درلـودلـوداوس اوطـوا ن خـویـه ؤ چـی دنـفـاذشـریـعت ده وجهی نیه دطالبانو حمایت کړئـے وئ یایه ددے خبیـث پـه مـقـابـلـه کـی و " شیـخ الـعرب والعجم شیخ اسامه بن لادنؒ " ته د " سیف المجاهدین " لقب ورکړئـے وئ بلکه داخولیری خبرد ه دوئ هم ورسره اومنله چی هاؤجی داخودده خپل جمهوری حق دئـے

، دغه رنګه په بنګله دیش کی د " تسلیمی نسرین " په نامه سره یوے سپئے دقرآن ګستاخی کړے وه او په " ډ نما رك " کی دنبی کریم ﷺ ځومره ګستاخیانی اوشوے اوځومره کارتونونه یه جوړکړل و دے تولو خنز یرانوته ده هم دے " حق التعبیرعن الرأی " قانون په وجه سره آزادی ورکړلئے شوه ، چی څوك په اسلام کی طعن رااوباسی نواسلام وداسی خلګوته " أئمة الکفر" وایی دهغوئ دوژلو حکم ورکوی اونن صباجمهوری مسلمانان دغه دکفرامامان اومشران مسلمانان ګنړی اودمحاکمے قابل یه نه ګنړی ، تحفظ یه هم لیاکوی پدے هکله حضرت کشمیریؒ فرمایی چی :

وهل فی ضروریات الدین تأوُّلٍ ::: بتحریفهاألاککفرعیان

څوك چی دکفردفاع اوکړی یاورله تاویل اوکړی نوداسی کس هم علانیةً کافردئے .

ب :حریت البیان دشریعت مطهره په رڼاکی :

ددے دویم قسم مطلب دادئے چی هرسړئے دبیان ، اخبار، کالم اومضمون لیکلوپه باره کی آزاددئے بیابرابره خبرده که هغه کالم یامضمون یابیان ده اسلام خلاف وی کده جهاد خلاف وی کده قرآ ن خلاف وی نوپدے ځیزونوکی هم دوئ انسان ته مکمله آزادی ورکوی اوهم دغه رنګه په جمهوریت کی داللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺ په ګستاخی کولوکی هم انسانانوته مکمله آزادی ورکوی اوددے قسم وجود په پاکستان کی هم شته هغه داسی چی څه وخت مخکی په " ډیره غازی خان " کی دسکول یوے ټیچرے یوځل داللّٰه ﷻ په شان کی ګستاخی اوکړله نوطالبانوبیا هغه سکول بندکړواوڅه جګړه یه ورسره واچوله بیاله روغی نه بعد دویم ځل دے خزی بیاګستاخی اوکړه اواویه ویل چی که دے پیره هم څوك ځماخلاف راپاسیدونوزبه له صوبائی حکومت سره رابطه اوکړمه اوداوهاچل به او کړم داپه اخبارکی راغلی ؤ ـ

اوډنمارك وایی چی دازموژجمهوری حق دئے چی موژدپیغمبراسلام ﷺ په شان کی ګستاخیانی کؤ (نعوذباالله) اوکارتونونه جوړؤاوچی کوم خلګ زموژپه خلاف راپاسیژی نودا خلګ په حقیقت کی زموژداخپل جمهوری حق له موژنه اخلی ، اوکه تاسوسوچ اوکړئے نودا کو می مذهبی پارتیانی چی دی دوئ هم دجمهوریت دکفراعتراف کوی زکه چی دوئ پردیولونولیکی چی " اگر پیغمبر کی شان میں گستاخی کرنا یھود و نصارا کا جمہوری حق ہے تو انکا سر اڑانا ہمارا اسلامی حق ہے " اوس پدے نعره کی دوئ پخپله جمهوریت داسلام مقابل جوړکړواودجمهوریت دکفراقراریه اوکړوچی دنبی ﷺ ګستا خی خودوئ دځان له حقوقونه یوحق ګنړی له دے نه باوجودبیاهم پدے جمهوری نظام کی وردننه شو یدی ـ

نوداللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺ دګستاخئ جوازته جمهوریت یوقانونی حیثیت ورکړلو حال

انکه امام العصرعلامه انورشاه کشمیریؒ په خپل شاهکارتصنیف (اکفارالملحدین ص: ۲۰۹ مکتبه لدهیانوی) کی فرمایی چی دالله ﷻ تمام صفات حقیقیه ازلی دی نه حادث دی اونه مخلوق لهٰذا چی کوم سړئے ورته حادث وایی یایه مخلوق ګنړی یاتوقف پکی کوی چی نه قدیم ورته وایی اونه حادث یا شك اوشبهه پکی کوی نوداکس دالله ﷻ دصفاتونه منکراوکافردئے ، (محصله ملاعلی قاریؒ " شرح فقه اکبر " ص:۲۹) دغه رنګه فرمایی چی کوم کس دالله ﷻ کلام یعنی قرآن کریم حادث ګنړی نوداکس هم کافردئے ۔

نو چی دالله ﷻ په صفاتوکی شك کول اوقرآن مخلوق ګنړل کفردئے نودالله ﷻ دذات دګستاخ به بیا څه حکم وی هغه به بیا نه وی کافراوچی کوم نظام ودے ګستاخی ته قانونی حیثیت ورکوی هغه نظام به بیانه وی کفری طاغوتی اوابلیسی نظام ، اودنبی الملاحم ﷺ په شان مبارکه کی حضرت شاه صاحب وایی چی که چاداوویل چی ده نبی السیف ﷺ رنګ مبارك تورؤ نوداکس دی قتل کړلئے شی ، اوکه چادنبی ﷺ په صفاتوکی کذب بیانی اوکړله یعنی په دروغویه اوویل چی دنبی ﷺ په صفا توکی یوصفت داسی دئے نوپدے سره هم دا کس کافراوموجب قتل ګرځی ۔

(اکفار الملحدین ص: ۲۰۸)

دامتفقٌ علیه مسئله ده اودامت مسلمه اجماع هم ده پرے چی " من سَبَّ اللّٰه ورسولهٗ فقد کفر " چا چی دالله ﷻ یادهغه د رسول ﷺ په شان کی ګستاخی اوکړله یایه کنځلی پسی اوکړلے نوداکس کا فر دئے " ویجب قتله " قتل یه واجب دئے " ولا یُستتابوا " اودتوبے ویستلو طلب به نه ترے نه کول کیږی بلکه فوراًبه قتل کیږی ، شاه صاحب وایی چی کوم مسلمان په نبی ﷺ پسی کنځلی اوکړلے یا یه درو غجن ورته اوویلویایه یوعیب پکی بیان کړویایه په یوه بله طریقه سره د خوژنبی ﷺ توهین سپکاوئے اویاتنقیص اوکړوداسړئے کافردئے اوخزه یه له نکاح نه اووتله یعنی وربانده طلاقه شوه او بیاوایی چی په انبیاء کرامؑ کی یوه نبی ته هم دکنځلو کولووالا (کافردئے) اوتوبه یه مطلقاًنه قبلیږی او چی کو م کس دداسی سړی په کفریامعذب کیدوکی شك اوکړونو هغه هم کافردئے ۔

لدے ټولوعباراتونه معلومه شوه چی ګستاخ پیغمبر ﷺ کافردئے اوموجب قتل دئے په جمهوریت اوپاکستان کی داګستاخی دګستاخ له بشری حقوقو نه ګنړی چی داخودده حق البیان یا د حریت البیان والاحق دئے ،اوچی بل مؤمن وه دے ګستاخ یاشاتم ته صرف په بدنظراوګوری نوپرے معذب کوی او قتلوی یه چی داخودهغه خپل جمهوری حق ؤته اوس له هغه نه خپل حقوق اخلے اود داسی کس انجا م به بیادمجاهدختم نبوت ممتازقادری ،علم الدین شهید، غازی فیصل خالدپه شا نتے

وی ، اولـه ګستـا خ سـر بـه بیـادعـاصیـے سپـئ او مـلعونی په رنګه معامله کیژی چی ښځه وه سړ ئـے خودئـے سړ ئـے ـ

ددیـن اسـلام ، جهـاداومـجا هدینوپه خلاف پروپیګنډے کول ، دهغوئ په حقانیت کی شکوك شبهات اعتراضات اوتأویلات کول پدے هکله اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ لأن لم ینتهی المنٰفقون و الذین فی قلو بهـم مـر ضٌ و الـمـرجـفـون فـی الـمدینة لنغرینَّك بهم ثم .... ملعونین أینماثقفو اأُخذو او قُتلو اتقتیلاً ﴾ (الأحزاب : ٦٠،٦١)

کـه چیرته دامنافقین دخپل نفاق نه منع نه شواوهغه خلګ چی ده هغوئ په زړونوکی مرض د شك او نفاق پروت دئـے ، اوهغه خلګ چی هغوئ په خارونوکی پرخلګوبـے ځایه تورونه لګوی ، (صـحافیان حریت البیان والا) داخلګ لدے خپلوکارونونه منع نه شونواللّٰه ﷻ خپل خوژپیغمبرﷺته وایـی چـی خـامـخـابـه مـوژتـامسلط کړوپردے خلګواوبیابه دوئ ستاپه ګاونډ (ځنګ) کی وخت نشی تیـرولـئـے او دو ئ بـه ملعونیان شی ، اوداخلګ چی چیرته هم اوموندلئـے شی بیابه نیولئـے شی او ګر فتاره کیژی به بیابه په سخت قتل سره قتل کیژی ،

نـواسـلام دومـره آزادی نه ورکوی چی هرفاسق فاجردی پرجهاداومجاهدوینوبـے ځایه تورونه او تهـمتـونـه لـګوی اوقسم قسم القابات اونومونه دی پرے ایګدی ، دپیغمبراسلام ﷺ په زمانه کی دوے خـزی او ځـوسـړی ؤ چـی دنبـی ﷺ اودهـغـه دصحابه ؤبیه په اشعاروکی مذمت بیانولواوپه رنګار نګاپر وپیـګـنـډ وسـربیـه خلګ له اسلام اومسلمانانونه متنفرکولونوپیغمبرﷺ حکم اوکړوچی داکسا ن اووژ نئ " ولو معلقین بأستار الکعبة " اګـرکه موده کعبـے مکرمـے په غلاف باندی رازوړنده اولیدل نوپه هغوئ کـی یـوابن خطل ؤ دهغه متعلق کتابونه لیکی چی " وقتـل ابن خطل وهومعلقٌ بأستار الکعبة " داابن خطل پداسی حالت کی صحابه ؤ قتل کړوچی هغه دکعبـے غلاف نیولئـے ؤ ، اوس دانن صباارباب صحا فت دجـمهوریت اوکفری حکومت طرفداری کوی جهادته دهشتګردی وایی ، فدائی اواستشهادی حملـے ته ځان مرګی اوخودکشی وایی ، هغه داللّٰه ﷻ ددین دسربلندئـے لپاره خپل نازك بشرتپکړ ے تپکړے کړ ی پدے دورفتن کی دومره عظیمه قربانی ورکړی اودوئ ورته خودکش اوځان مرګئ وایی ـ

تنبیه : خـودفـدائـی حملومتعلق دایوه خبره یادساتئ چی دانن صباپه عمومی ځایونوکی مثلاً هسپتا لونوکی په مسجدونوکی ، په سکولونوکی ، اوپه نورورداسی پبلك مقاماتوکی چی کومی دهما کـے کیژی اودوئ یه طالبانوته منسوبه وی چی " فلاں نے یہ دھماکہ قبول کیا ہے " داټول دروغ دی هیڅ حقیقت هـم نـه لـری اوداد هماکـے حکومت پخپله کوی بیاچـے په هرنیت اوپه هرنوم سره کوی هغه ددوئ خپل

کار دئے طالبانونه داسی دهماکے کړے دی اونیه جائزګنړی داده دروغولکئ پسی اوتړی چی فلانئ مجاهدداد هماکه قبله کړے ده ـ

لهٰذاداخلګ مجاهدینوته فسادیان وایی جهادته فساداوخونریزی اودهشتګردی وایی دجها داومجا هدینوپه هکله دفرعون بچی دترهګرئ اوشرپسندئ په شانتے اصطلاحات استعمالوی او داده شر پسنداوفسادی فتویٰ اول فرعون پرحضرت موسیٰؑ با ندی لګولے ده قولهٖ تعالیٰ ﴿ أنی أخافُ أن یُبدلَ دینَکم أوأن یظهرفی الأرض فساد﴾ (غافر : ٢٦)

ځه یریژم چی داموسیٰ به ستاسودین بدل کړی یابه په زمکه کی فسادخورکړی ، اونن صبابه هم تا سو لید لی وی چی په اخبارکی یه لاندی دمجاهدینودامیرانوتصویرونه (عکسونه) ورکړیوی اوبره یه په غټه سرخی سره لیکلی وی چی ''مطلوب فسادیوں کے نام ''

نوددداسی پروپیګنډوده والاؤپه اسلام کی داحکم دئے چی ﴿ أینماثقفوا أُخذو او قُتلو اتقتیلاً ﴾ ددا سی خلګوسرونه قلم کوئ او جمهوریت وایی چی نه داخوددوئ جمهوری دحریت البیان والاحق دئے د داسی خلګوتیارول اودفاع کول پکارده ـ اسلام ده مطلق رایی مخالفت نه کوی بلکه دګمراه کؤ نکی رایی مخالفت کوی دحق دبیان اوآزادئے لپاره چی کومه رایه وی اسلام د هغے رایی صرف حما یت هم نه کوی بلکه هغه یوعبادت ګنړی اوده هغے رایی وه اظهارته خلګ راپاره وی بیااګرکه هغه رایه د یوظا لم حکمران مخی ته ولی نه وی لکه چی له ابوسعیدخدریؓ نه روایت دئے چی '' أن من أ عظم الجهادکلمة عدل عندسلطا ن جائرٍ '' (ترمذی) دیوظالم بادشاه په وړاندی حق خبره کول دالوئ جهادد ئے ، اوکه څوك دحق پراظهاربانده اووژلئے شو هغه په اسلام کی له غوره شهیدانونه شمارل کیژی لکه چی رسول اللّٰه فرمایلی دی چی '' خیرالشهداء حمزة بن عبدالمطلب ورجلٌ قام ألیٰ رجلٍ فأمرهٗ ونهاهٗ فی ذات اللّٰه فقتلهٗ علیٰ ذالك '' (المستدرك للحاكم)

په شهیدانوکی غوره شهید حضرت حمزهؓ دئے اوبل هغه کس دئے چی بل کس ته دیوے نیکئ امرا وکړی اوله یوے بدئے نیه منع کړی اوهغه راپاسی داآمراوناهی اووژنی ، نومعلومه شوه چی په اسلام کی هرڅوك بل چاته ده حق ویناکولئے شی ـ

۴

څلورم صورت د '' حریة الشکوه '' ؤیعنی چی څوك هم شکایت کوی ، دچاهم شکایت کوی ، اودڅه هم شکایت کوی ، نو پد ے ټولوکی انسان آز اددئے ، ددے قسم خویوبنه اړخ اوښه طرف د ئے هغه دا چی دغریب اومالداره کس په شکایت کی به څه فرق اوتمیزنه وی ، خولیکن که اوس څوك دا

شکایت اوکړی چی موژدجماتونودمیناروا وآذانونه تنگ راغلی یویاموژپه تی وی اوریدلواویاخوب کو لوکی دآذانودوجهی نه تنگ راغلی یو۔

اولیاداشکایت اوکړی چی فلانئ ملاصاحب په لو ډ سپیکر کی دقرآن کریم ترجمه کوی یاو عظ اونصیحت کوی اوداخیزونه مالره دتی وی یاویسیارپه اور یدلوکی باعث تکلیف گرځی نود اقسم ټول شکایتونه ددے خلگوصحی دی اوقابل توجه دی اوپدا سی شان شکوٴکی انسانانوته مکمله آزا دی حاصله ده هیڅ قسم پابندی هم پکی نشته دئے اودملا صاحب لوډ سپیکری به راخکته کړی اود قرآن کریم ترجمه به پرے بنده کړی۔

۵ ✖

پنځم صورت د " حریة تقدیم العرائض " ؤ دوئ وایی چی ددرخواسطونوپه پیش ولوکی هم خلگوته مکمله آزادی ده ، کده مسلمانانوپه ملك کی عیسائیان ده گرجے جوړولودرخواسط درج کړی نود ادر خواسط اوعرض نامه دسخط کیدئے هم شی اودے کارته عملی جامه هم ورکول کیدئے شی حالانکه ده سابقه ادیانودعبادت خانو متعلق ده اسلام داحکم دئے چی زړے گرجے به آبادیژی نه او نوے به جوړیژی نه اودموجودوعبادت خانواوگرجوانهدام به نه کیژی اوزموژجمات یه په اسلام آبا د کی وران کړوپرهغه ځائے یه مندرسازکړو ۔

حریت الأجتماعی دشریعت مطهره په رڼاکی

داحریت المعنوی دحریت شخصی دویم قسم ؤ چی موژیه له اسلامی تعلیماتوسره ښه موازنه اوکړله اوس دحریت شخصی دریم اوآخری قسم بیانه ؤدهغه هم یودوه صورتونه اوشکلونه مو ژ ذ کرکړی ؤ۔

۱ ۞

اول صورت د " حریة عقدالأجتماعات وحضورها " په عنوان سره ؤ چی معنیٰ یه داوه چی په جمهوریت کی داجتماع، جلسو، جلوسونو، مظاهرو اودهرنوانعقادکول اوبیاورتلل پدے ټولو کارو نو کی انسان آز اددئے اوس درباب ، موسیقی ، شراب ، زنا ، دعریانئ اوفحاشئ اجتماعات اومحفلونه ته پخپله هم منعقدکولئے شے اوکه بل چاداسی اجتماع یامحفل جوړکړونو هغه ته هم حاضرے دئے شے اوپدے باره کی دقرآن فیصله پداسی ډول ده چی ﴿فلاتقعدوامعهم حتیٰ یخوضوافی حدیثٍ غیرہٖ ﴾ (النساء : ۱۴۰) داتحلیل دماحرم اللّٰه شواودابااتفاق اوباالاجماع کفردئے مولانا " سرفرازخان صفدرؒ " لیکلی دی چی " **تحلیل وتحریم کاحق صرف اللّٰه کوحاصل هے** " (**دل کاسرور** ص:۱۴)

خوافسوس صدافسوس بیاهم خلګ ده دے نظام په کفرکی شك من دی اواوس هم لیاده دوئ له خو لو نه داسلامی لفظ راا و ځی چی داخواسلامی جمهوریت دئے " واه عجباً "

لهذاپه دے جمهوری نظام کی دجلسواومحفلونوده انعقاداجازه شته پررودونوراوتل او تیرو نه سیز ل ددے اجازه هم شته او دامحفلونه که بیادهرمطلب لپاره اوپه کوم نامه سره چے جوړه وی نوجوړو لئے یه شی اګرکه یه ده همجنس پرستئ اولواطت دعامه ولولپاره جلوس رااوباسی یادهرنه او دروی ، یاپداسی محفلونوکی کیناستل چی هغوکی په اللّٰه ﷻ اودهغه په رسول ﷺ او یاپه دین اسلام پوری تو قی اواستهزاګانی کیژی نو هم څه پابندی درباندی نشته اوده دے په ردکی اللّٰه ﷻ فرمایی :

﴿ وأذارأیت الذین یخوضون فی آیاتنافاعرض عنهم حتیٰ یخوضوفی حدیثٍ غیرہٖ ﴾ (الانعام : ٦٨)

که چیرته ته لداسی خلګوسره ناست وے چی هغوئ دقرآن په آیتونوسره تو قی کوی نولدا سی اجتماعاتواومحفلونونه اعراض اوکړه اوکه له هغوئ سره دکیناستلوممانعت لتانه شیطان هیر کړی بیاله یادیدونه پس مه ورسره کینه ، اودهامخکینی آیت په آخرکی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ أنکم أذاً مثلهم ﴾ (النساء : ١٤٠)

که تاته له دوئ سره دناستی ممانعت یادؤاوبیاهم ورسره ناست وے اودهغوئ له محفله پانه سیدے نوته به هم بیاپه عذاب کی دهغوئ په مثل یی ، نولداسی اجتماعاتونه اسلام منع کوی او جمهوریت وایی چی نه دااجتماعات منعقدکولئے هم شے اوشرکت هم پکی کولئے شے نوا سلام د داسی محفلونودحرمت حکم کوی اوجمهوریت داسلام دغه حدودمات کړل اوجائزیه اوګنړل نو دایه تحلیل دماحرم اللّٰه اوکړوچی صراحتاًکفردئے او صاحب دروح المعانی لیکی چی " لأن مدار الحِلِّ والحرمة لیس ألاَّ حکمُهٗ سبحانه " (روح المعانی ص: ١٤ / ٢٤٨)

دحلت اوحرمت مداربه صرف داللّٰه ﷻ په حکم سره وی بل چاته ددے حق ندئے حاصل ، (محصله من راه سنت)

دانن صبادشیعه ګانومحفلونه به تاسو لیدلی وی چی داسپیان اوسپئ په صحابه کرامؓ پسی خصوصاً دشیخینو (حضرت ابوبکرصدیقؓ اوحضرت عمرفاروقؓ) په باره کی څومره بکواسات کوی یوه عا مه ښځه به راپاسی اودابوبکرصدیقؓ په حق کی به قسم قسم خبری کوی حالانکه دصحابه کرا مؓ په با ره کی خوخوژنبی ﷺ فرمایلی دی چی " أصحابی کاالنجوم بأیِّهم أقتد یتم اهتدیتم " ځماصحابه د ه آسمان دستوروپه شان دی چی په کوم یوه پسی هم روان شوئے بس هدایت مواومونده۔

۲

دویم صورت د " حرية تكوين الجمعيات والأنتساب أليها " په جمهوری نظام کی چی سړئے هرر نـګـه پـار تېـئ یاجماعت جوړوی بیا چی هرقسم نسبت ورته کوی یعنی په هرنامه چه مسمیٰ کوی نو پد ے کارکـی خـلـګ آزاددی ، ددے پـه مـقـابله کی اسلام ده مختلفو ډلودجوړولواجازت نه ورکوی اونبی قتّال ﷺ فرمایلی دی چی " أذابويعَ للخليفتين فاقتلوا الآخِرَمنهما " (مسلم : مشکوٰة رقم حدیث ، ۳۴۹۶) دابـو سـعـیـدؓ نـه روایت دئـے چی کله ددؤ خلیفګانو جګړه راشی په خلافت باندی یووایی ځه به خلیفه یم بـل وا یـی چـی نـه ځه به خلیفه جوړیژم نونبی ﷺ فرمایلی دی چی په دوئ کی دویم نمبرخلیفه قتل کړ ئـے ، یو بل روایت کی راځی " عـن عـبـدالـلّـه ابـن عمرؓ قال : قال رسول اللّٰه ﷺ من بايع أماماًفأعطاه صفقة يده التـصفيق أن المبايعين يضع احد يده في يدالآخر وثـمـرة قلبه فليطعهٔ أن استطاع فأن جاء آخرينازعهٔ فاضربواعنق الآخر " (رواه مسلم ، مشکوٰة رقم : ۳۴۹۹)

کـه یـوکـس لـه یوه امام سره بیعت اوکړودا امام دده دزړه ټکړه هم وه اودهغه اطاعت یه هم کو لو خـوپـدے مـیـنـځ کـی بـل کـس دخلا فت دعوه اوکړله چی نه امام اوخلیفه به ځه یم نونبی ﷺ اوفرمایل چی دادویم امام قتل کړئـے ـ

اواسلام ده باغیانو خلاف جهاد هم دمسلمانانودعدم تفریقـے په وجه سره واجب کړیدئـے ، په یوه مسـجـد کـی ددوؤ جـمـع داهـتـمام جواز هم ده دے وجه نه نه ورکوی چی که دویمه جمعه جائز شی بیابه هـردوه کسـان ځانله خپله جمع کوی ، اسلام دهم دے تفر قـے دختمولولپاره دیوه جمات سره قریب دبل جـمـات (مسـجـد) دجوړولوجوازنه ورکوی ، ددے ټولوخبرونه اسلام زکه منع کوی چی دمسلمانا نوپه جـمـعـیـت کـی څه خلل رانه شی ، خولیکن په جمهوریت کی دمسلمانانوپه مینځ کی تفرقه اواختلا ف پیداکول ده جمهوریت داصولونه دی ـ

هم داوجه ده چی په پاکستان کی سیکو لر جما عتونه پریژده دمذهبی تنظیمونو شما رنه کیژی دومره ډیردی "و الأنتساب أليها " پـه جـمـهـوریـت کـی خـویـوده پارټیانوده جوړولومطلقه آزادی ده اوبل کتـاسو داپار ټیئ په هرنامه سره مسمیٰ کوله نو هم درته اجازه شته دغه رنګه ده کفری پارټیانوسره صلح اواتـحـادهـم کولئـے شی لکه چی په پاکستان کی یوه مذهبی جماعت ده ۲۰۱۸ء په الیکشن انتخا باتو کـی دجـولائـی پـر [۲۵] تـاریخ چی کوم انتخابات ؤ په هغوا نتخاباتوکی یه له شیعه ګانو ، قادیانیانو او جـمـاعـت اسـلامـی سـره اتحادکړئـے ؤ ، اوسلام وایی چی له کا فرسربه ته نه اودریژ ے اوپه حالت جنګ کـی هم له کافرنه پدے شرط امدادطلب کولئـے " أذا كان الحكم هوالأسلام " کده اسلام نظام دنفاذیقین

ؤ بیا هله له کافرمشرك نه استعانت اومدداخستئے شے ، اوپدے موجوده سیاست سره خوداسلام د را تلویوامکان هم نشته ـ

نوبیا څنګه داخلګ لدے سیکولراوبے دینوګمراهانواوکافرانوسره اتحادکوی اوکوم خلګ چی دادلیل پیشوی چی نبی ﷺ خو هم له یهودوسره اتحاد اوصلحه کړے وه نوپیغمبرﷺ خوپه مدینه کی بطور حاکم دااتحادکړئے ؤپه مکه کی یه ندئے ورسره کړ ئے ، نواسلام وایی چی که چیرته دو ؤ کسانوپر خلا فت باندی جګړه سره راغله نوپدوئ کی بده اولنی کس اتباع کوئے اودویم به پر یژدئے اود دے پـه مقابله کی جمهوریت وایی چی نه " أذابـویعَ للخلیفتین فأیّدو الآخِرَمنهما " یا " فأیّدو الآخِرَ کلاهما " دادوه کسـان خـو لژدی په جمهوریت کی که یوسل پنځوس کسان اودریدل نو هم به دوئ وایی چی " فأیّد وکلهم " اللّٰهﷻ فرمایی چی ﴿ واعتصموا بحبل اللّٰه و لاتفرقوا ﴾ (آل عمران : ۱۰۳) تاسو داللّٰهﷻ په ر سئ لا سـونـه تیـنګ اونیسئ اختلافات اوتفرقه مه پیداکوئ په یو بل ځائے کی فرمایی چی ﴿ و ألف قلوبهم لو أنفقتَ مافی الأرض جمیعاًماألفتَ بین قلوبهم و لکن اللّٰه ألّف بینهم ﴾ (الانفال : ٦٣)

پدے آیت کریمه کی اللّٰه ﷻ دمسـلمانانوالفت اوخپل منځی محبت بطوراحسان بیانوی نو د مسـلمـانـانـوه مینـځ کی تـفرقه اوا ختلافات پیداکول داداسلام له نظره حرام کاردئے زکه چی څومره پارتیـانـی ډیـریـژی هغومره خپل مینځی عداوتونه اونفرتونه هم ورسره ډیریژی دے حرمت ته اسلام قا نونی حیثیت ورکړیدئے اوددے په مقابله کی جمهوریت بیادجوازقانونی حیثیت ور کړیدئے ـ

اوداقـاعـده هـمیشـه ورسـره رادوهراوه وئ چی که یوکس داللّٰه ﷻ دقـانـون پـه مـقابله کی خپل وضـعـی اوملـعـون قـانـون جوړ کړی اوداخپل قانون ته بیاداللّٰهﷻ پـرقـانـون بـاندی فوقیت هم ورکړی نـودابـاالاجـمـاع کـفـردئے مطلق دګناه ارتکاب لدے حکمه مستثنیٰ دئے خولیکن چی څوك وګناه ته قـانـونـی حیثیـت اودرجـه ورکـو ی نوداسی سړئے بیاپه اجماع دعلماؤسره کافردئے ، اوبلکه دوئ ودے خپـل وضـعـی اواختـراعی قا نو ن ته پراسلام باندی ترجیح ورکوی هغه پدے دلیل سره چی که یوکس راپاسـی چـی زه دادویـم امیـر یا حکمر ان نه منم یادادویمه ډله نه منم زکه چی داداسلام دمزاج نه خلاف کـاردئـے نوجمهوریت به ددے کس په مقابله کی دهادویمی ډلی یاخلیفه دفاع کوی اوورته وایی به چی په اصل کی خوته دقتل مستحق یی زکه چی هغه خو ده " حریة تکوین الجمعیات الخ " پراصل باندی عمل پیرادئے ـ

شخصی آزادی دشریعت په رڼاکی

تراوسه دحریت شخصی دقسمونو موازنه موژله شریعت سره اوکړله اوس دنفس شخصی آزادی یعنی دشخصی آزدی د ذات په باره کی څه بحث کؤ هغه داچی په جمهوریت کی انسان دخپل ذات په اعتبارسره مکمل آزاد دئے اوپدے آزادئے کی دوئ انسان ده بهائمیت اوحیوانیت تر در جے نه هم خکته ګرځولئے دئے اوداقسم حریت په پاکستان کی هم پدے طریقه سره و جودلری چی په پا کستان کی په ډیروځایونوکی چکلے (یعنی رنډئے خانے) موجودی دی اوپدے کی خلګ دحریت شخصی په نامه سرپه بدعملئ کی مبتلاء دی دحکومت له جانبه هیڅ قسم پابندی نشته پرے ، اوپه لاهورکی خود (ایرامنډئے) په نا مه سره دزناګانومرکزدئے اوداځائے یه هم سازکړئے ددے حرا میتوب لپاره دئے اوخه په آزاده سطح پکی زناګانی کیژی په دوه زره پنځه ۲۰۰۵ء کی له هم دے مقامه یوے خز ی انټروی ورکوله چی یاره داګنډم غباره ډیرمفیدشئ دئے زکه چی پد یکی زه په ورځ کی دپنځه ویشت [۲۵] کسانونفسانی خواهشات هم ورپوره کوم اوځمامزدوری هم پکی کیژی ، علامه تفتا زا نیؒ ویلی دی چی دزناتحلیل کول یعنی زناته حلال ویل داکفردئے صرف زنانه بلکه هر هغه څیز چی دهغه حر مت په دلیل قطعی سره ثابت وی هغه ته حلال ویل داکفردئے " أذااعتقدالحرام حلالاًفأن کانت حرمتهٔ لعینهٖ " کالزنا " وقد ثبت بدلیلٍ قطعی یکفر " أیضاً " من استحلَّ حراماًو قدعلم فی دین النبی ﷺ تحریمُهٗ کنکاح ذوی المحارم اوشرب الخمراوأکل المیتة اوالدم او الخنز یر من غیرضرورةٍ فکافرٌ " أیضاً " من استحل شر ب النبیذألیٰ أن یسکر کفر " (شرح العقائد ص: ۲۰۰، ۲۰۱)

تفتازانیؒ خوویلی دی چی یو حرام څیز حلالول کفردئے اوچی څوك یو حرام قطعی ته دجواز قانونی حیثیت ورکړی نودداسی افرادوپه کفرکی به لیاشك وی اودداسی نظام په کفرکی به لیاشك وی " لاوالله "

دهم دے حریت شخصی دوجهی نه داڅه وخت مخکی دهمجنس پرستئ لواطت (دنرله نرسره دنکاح کولو)لپاره په کرا چئ کی خلګواحتجاج کړئے ؤ چی موژته دی دهم جنس پرستئ بل منظور شی ، اودادحقوق نسوان بل هم ددے شخصی اوذا تی آزادئ پربناء منظورشوداآزادی خوپه مغرب کی ډیره زیاته ده خودنمونے په ډول موژیو مثال دوه ذکرکؤیوداچی غالباً په ۲۰۰۰ء دوه زره کی په " نیو یارك " کی پنځوسړواوخزودروډپرغاړه بدفعلی کوله چاورته دهم دے شخصی آزادئ پر بنیا دڅه نشوور ته ویلے اودانن صبادحقوق نسوان والازموژخزوته هم داآزادی ورکوی چی دخروپه رنګه به ګر ځی نبے

قمیص وی نبے پرتو ګ وی ۔

اوددے شخصی آزادئے په نوم سره د " ډنمارك " وزیراعظم دخپلولونړوسره یو ځائے سیر وسیاحت اوتفریح کولوداکنایه ده له زنااوبدفعلی نه اوویل بے چی داخوددوئ خپل بدن دئے چی څه پرے کوی نو هغه پرے کولئے شی اوبیابرابره خبرده کیه مااستعمالولواوکه بل کس استعمالولوپدے کی خو دوئ ته آزادی حاصله ده ، " نعوذباالله من ذالك " اودهم دے شخصی آزا دئے په وجه سره نن صبافحا شی اوعریانی عامه ده په انټرنیټ فیس بك نیټ وغیره وغیره کی بربنډفیلمونه شائع کیژی او هم دغه رنګه پرکیبل نیټورك باندی ۔

داسلامی جمهوریت حقیقت

اوس دانن صبابعض خواص هم داوایی چی داخواسلامی جمهوریت دئے اوموژهم مغربی جمهوریت نه غواړوبلکه زموژجد جهدخوداسلامی جمهوریت لپاره روان دئے ، هلکه جمهوریت نظام دکفردئے ، اشاعت یه کافران کوی ، راغلئ دکفاروپرلاره دئے ، بانیان یه لوئ لوئ کافران تیرشویدی ، اوتاسوبیاله کومی خوانه دکافرانوشارحین ، فقیهان ، اومجتهدین راپیداشوئ چی له ځانه پکی تقسیمونه جوړوئے چی داسلامی جمهوریت دئے اوهابل بیامغربی جمهوریت دئے کفرکفردئے بیا کداسلام په نامه سره وی اوکده قرآن په نامه سره وی ، شراب شراب دی اوحرام دی بیاکه ته دشربت نوم ورکوے کده سُرکے نوم ورکوے اوکدجوس نوم ورکوے نوپدے نومونوسره نه حلالیژی ، چی ته او وایی چی یوا صلی شراب دی اوبل جوسی اوشربتی شراب دی او داځماواله جوسی شراب دی پدے قسم تأویلاتوسره نه ده شرابوشرابیت ختم کیژی اونه یه حرمت ختم کیژی ۔

بل که چیرته دااسلامی جمهوریت شی نو ددے اسلامی لفظ خودامطلب دئے چی پدے نظام کی داسلام څه نخی څه دفعات یاڅه اثرات شته دی نوپدے نظام کی چی موژکومی خرابیانی اوکومی حرامتوبیانی بیان کړے یایه اوس آئنده کی بیانؤنوددے خبرواوکارونوثبوت به تاسوموژته داسلام په یوه ضعیف اویاموضوعی حدیث کی راپیداکړئے ۔

اوکه چیرته داواقعی اسلا می جمهوریت وی نو بیابه تاسوددے خلاف شرع کارونوسدباب کړئے ؤاوکه ددے کارونومتعلق له تاسوسره دلائل نشته یایه نشئ پیداکولئے نودکوم قرآن نسبت چی تاسوځان ته کوئ اویاتاسوپه کوم قرآن ایمان راوړئے دئ په هم هغه قرآن کی به سپاره هم دراوخایورکوع به هم دراوخایواوآیت به هم دراوښایو چی شا دی شده زانی اوزانیه به رجم کیژی

اوسنگساریژی به اوغیرشادی شده سړی اوخزی تبه دُرے ورکولئے کیژی ﴿ ألزانية والزانی فاجلدوا کل واحدٍ منهمامأة جلدةٍ ﴾ (النور : ۲)

اوکه چیرته دوؤکسانولواطت سره اوکړونود هغوئ په باره کی بیاداقانون دئے چی " والذان یأ تیانهامنکم فآذواهما "(النساء : ١٦)

که دوه کسان لواطت سره اوکړی نو هغوئ ته ضرروركړئے دضرربیاعلماء کرامو مختلفی معناگانی کړے دی بعضے وایی چی تریوه لوئ کمره (صخره) یادیواله دے لاندی کړی ، اوبعضے وایی چی تریوه غټ غره ندے رااوغورځوی ، نبی ﷺ په یو ځائے کی دلوطیانو په باره کی فرمایی چی " فاقتلواالفاعل والمفعول به "

اوکه چاشراب اوڅکل نو هغه تبه اتیاد رے سزاورکول کیژی " فجلدعمرؓ فی حدالخمرثمانین جلدةً " (رواه مالك ، مشکوٰة رقم : ۳۴۴۷)

اوس داټول کارونه په اسلام کی حرام دی اوجمهوریت ده جوازقانونی حیثیت ورکړئدئے نواو س داداسلامی دټکی څه مطلب دئے چی تاسویه ورسره وایئ بس ظاهراً اوتش په نامه اسلام دئے باطناً او عملاً کفردئے نوداوس دکوم ځائے سیاست شواودکوم ځائے منطق شو، نو چی کوم علماء حضرات ودے کفری نظام ته اسلامی جمهوریت وایی نوپه اسلام کی خودمحصن زانی اومحصنے زانیے حکم رجم اوسنگساریدل دی اوپه پاکستان کی په سلگونه خلگ علیٰ الاعلان زناگانی کوی ، لو اطت بر سرعام کیژی ، شراب علیٰ الاعلان څکل کیژی نوتاسوپردے خلگویوه اسلامی سزالاگوکئ او که دا هیڅ هم نشئ کو لئے اونبے ترقیامته اوکړئ بیاداداسلامی لفظ له کومی پکی راغلواوکه دو ئ پد ے وجه اسلامی جمهوریت ورته وایی چی لمنځونه ، حجونه ، روژے اوزکوٰتونه خه په آزاده توگه پکی اداکیژی نوددے انفرادی عباداتو آزادی خوپه امریکه کی هم شته دمسلمانانوداخترو نواو جمعوپه ور ځوکی هغوئ خپله سیکورتی ورکوی په امریکه کی دادمیلادالنبی ﷺ دمحفلونواخراجات څوك برداشه وی نوددے څیزونو آزادی خوپه مغربی ملکونوکی هم شته نوبیاداستاسوداسلامی ملکو نو څه فائده شوه او پدے نظام کی دلمانځه آزادی هم نشته په حقیقت کی ـــ

په جمهوریت کی دلمانځه آزادی هم نشته

که موژلژپه دقیق اوعلمی نظرسره ورته اوگورونوپه جمهوریت کی په حقیقت کی دلمانځه او دغه رنگه دنوروحکومونه آزا دی هم نشته هغه پردے بناء چی موژته د " لمانځه دکولو" حکم شوئد ئے نمونځ محض درکوع اوسجدے نوم ندئے ، بلکه ده لمانځه ده فرضیت عقیده لرل ، ددے دادا

ئیـګئ لپاره نظام صلوٰة قائمه ول ، چی څوك نمونځونه نه کوی پرهغوئ با ندی سختی کول ، چی څو ك دلـمـانځه پرپریخودوباندی زورچلوی یادلمانځه خلاف یوقوت اوطاقت جوړکړی نولداسی خلګوسره قتـال فـرض ګـنـړل ، داټـول کارونه ده نمانځه په قائمه ولوکی شامل اوضروری دی ، اوپه جمهوریت کی د دے یـوه څیـزاجا زت هم نشته دئے ، صرف دومره کاردئے چی دچاخوښه وی نو کو ے دے اوچی د چا نـه وی خـوښـه نـونـه دے اداکـوی ، ریاسـت او یـابل کس ودے بے لمانځه ته څه نشی ویلئے ، لدے نه مـعـلـومـه شـوه چی پـه جـمـهـوریـت کـی دفـرض لـمـانځه آزادی نشته بلکه دمباح لمانځه آزادی شته نـوګـویـاکـه جمهوریت یو مسلمان پردے عقیده باندی مجبوره کوی چی لمونځ فرض عین حکم ندئے بلکه مباح حکم دئے ، چی دچاخوښه وی نوکوی دے اوچی دچانه وی خوښه نونه دے کوی ـ

هـم دامـعـامـلـه ده ټـولـوعبـاداتوده ، اودیوفرضی حکم داباحت عقیده لرل ددے متعلق تاسوله سـرکاری مفتیانونه تپوس اوکړئے چی هغوئ څه جواب درکوی ـ اوبل له دے اسلامی جمهو ریت نه خـوددے کـارونوسدباب توقع خونشے ترے کولئے بلکه داخلاف شرع کارونه خواسلامی جمهور یت خپـل جـمـهـوری حق ګـنـړی اوددے حـرامـوکـارونـودمـرتـکـبینودفاع دوئ دځان فریضه ګنړی اودنا هی اوآمردسرقلمولوکوشش کوی لدے باوجودخلګ ورسره داسلام نوم استعمالوی ـ

پراسلامی جمهوریت د شیخ خالدحقانی شهیدؒ منطقی رد

تـرټولونه وړاندی خوداخبره قابل غورده چی موژدجمهوریت تعریف اوپیژنونوجمهوریت وا یی دعـوا مـوحاکـمیت ته لکه چی اسرارمدنی پخپله لیکی دی " یعنی عوام کی حاکمیت،عوام کے ذریعے عوام پر ، (جمہور یت ایک مکالمہ ص:۱۸) داتـعـریف دجـمـهـوریـت دپـاره یـو ماهیت اوحقیقت دئے اوماهیت مابه الشئ ته وایی چی مـطـلـب یـه دادئے چی لـدے نـه بـغـیـرهغه څیزهغه شانتے کیدئے نشی یعنی عوام دقانون سا زمـنـلـونـه بـغـیـرجـمـهـوریـت ته جمهوریت ویل کیدئے نشی ، اوبله خبرداده چی ددے اسلامی لفظ له جـمـهـوریـت سره څه تـعـلـق دئے نـوداخـومـعـلـومـه خبرده چی دادجمهوریت دپاره یوقسم دئے یعنی جـمـهـوریـت دد ے دپاره داسی دئے لکه چی دانواعودپاره جنس یاده اصنافودپاره نوع نولفظ اسلا می د جمهوریت دپاره قسم دئے اودیوشی قسم ته شئ مع القید وایی نوجمهوریت مع قیداسلامی ده محض جمهوریت اومطلق جمهوریت یوقسم شونولفظ اسلامی دجمهو ریت دپاره قسم شو ـ

اوس مـوژلـه جـمـهـوریـانـونـه داتپـوس کـؤ چی دجمهوریت چی کوم ماهیت دئے (دعوامو حا کـمیـت اوهـغـوئ قـانـون سازه ګـنـړل) نوپدے اسلامی لفظ سره دجمهوریت دغه ماهیت برقراره پاتے

شـواوکه ترے نه زا ئل شوکه تاسووایئ په اسلا می لفظ سره داما هیت ختم شونوبیاخوجمهوریت پاتے نشوزکه چی د ما هیت نه بغیردیو څیزدافرادووجودممکن نه دئے ؟

اوکه تاسووایئ چی نه ماهیت (یعنی ده عوامو حاکمیت) په اوس هم پاتے دئے نوبیاجمهوریت اسلامی څنګه شو. زکه چی جمهو ریت دقانون سازئ حق انسانواوپارلیمنټ ته ورکوی اواسلام د مطلق قانو ن سازئ حق اللّٰه ﷻ تـه ورکوی نوددے دوا ړو په منځ کی دتضادنسبت شواوآیادیوشئ ضدد هغـه څیـزقسم جـوړیدئے شی نشی جوړے دئے زکه چی که یوشئ دخپل ضدقسم جوړشی نو هغه مَقسم (مطلق جمهوریت)به خپل ذات اوضد(اسلام)دواړوته شامل شی اودابدیهی البطلان خبره ده ـ

اوکـه دوئ داسی کـاراوکړی چی ده جمهوریت ددے تعریف نه دحدپرځائے رسم جوړکړی نود اهم نشی صحی کیدئے زکه چی رسم خو هم مابه الامتیازوی یعنی دجمهوریت چی کوم تعریف دئے پدے سره جمهوریت دنوروټولویابعض نظامونونه راجدا کیژی اورسم خودڅیزله لوازماتونه وی نو اوس کـه تـا سـوپرهره لاره وراځئ یعنی که حدترے نه جوړوئ اوکه رسم خوعوامو (اوپارلیمنت)ته دقا نـون سـازئ حـق ورکول داصریح کفردئے اوده رسم په صورت کی خودادقانون سازئ حق دجمهوریت له لوا زما تواوخواصونه شوزکه انفکاك نشی متصورکیدئے کفربه لازمی راځی ـ

نـوداسـلام او جمهو ریت دوا ړومفهومات ځان ځانله شوداسلام بنیادپرلااله الااللّٰه او﴿ أن الحکم الاللّٰه ﴾ بـاندی دئے، چی ددے مطلب دادئے چی له اللّٰه ﷻ نـه ماسوابل څوك معبوداوقانون سا زنشته اودازکـه چـی دکـلمه مطلب داد ئے چی د اللّٰه ﷻ نـه عـلاوه بل معبود (لائق اومستحق دعبادت نشته) اودعبادت اطلاق پرقانون او حکم باندی هم کیژی لکه چی اللّٰه ﷻ فرما یی :

﴿ أن الحکم الاللّٰه أمرانْ لاتعبدوا الاایّاه ﴾ (یوسف : ۴۰) " حاکمیت نشته مګراللّٰه لره اواللّٰه امر او حـکـم کـړئـدئـے چـی صـرف دهغه عبادت دی اوشی " اوس ده عبادت ذکرله حکم نه پس راتلل داددے خبری فـا ئـده ورکوی چی دلته کی له عبادت نه مرادحکم اوقانون دئے ، زموژپه فقهاؤکی مشهورفقیه امام سر خسیؒ هم په " مبسوط " کی حکم ته عبادت ویلی دی اوفرمایی :

" واعـلـم ان الـقـضاء بالحق من اقویٰ الفرائض بعدالایمان باللّٰه تعالیٰ و اشرف العبادات ، لأجله اثبت اللّٰه تعالیٰ لآدمؑ اسم ا لخلافة فقال :" انی جاعل فی الارض خلیفة "

اودجمهوریت بنیادپر" ان الحکم الاللعوام یاالاللشعب "باندی دئے ـ

زمـوژاکـابـرینـو چی کله پاکستان آزادولونو هغوئ له عبادت نه حکم اوقانون مراداخستلوزکه چـی هـغـوئ بـه نعره لګوله چی " پاکستان کا مطلب کیالا الٰہ الا اللہ "اوس بـه دلتـه کـی لـه کـلمه نه صرف ده پا

کستان ز مکه مراد آخلے ، یابے دامطلب آخلے چی دلته کی به صرف دکلمے ویونکی اوسیژی ، یا بے دا مطلب آخلے چی دلته به مساجدمدارس اوخانقاګانی وی ۔

لیکن داټولی معناګانی غلطی اوبے محله دی زکه چی دا اوله معنیٰ خو هیڅ مطلب هم نه لری ، ددویمی معنیٰ بطلان هم ښکاره دئے زکه چی دلته کی خوغیرمسلم اواقلیت هم اوسیژی ، او دریمه معنیٰ زکه نه دصحی چی مدرسے اوجماتونه خو مخکی هم ؤ هندوانوخو هم مسلمانان له لما نڅه نه نه دی منع کړی ، نوصرف یوه معنیٰ پاتے شوه هغه داچی مخکی دقانون سازئ حق اللّٰه تعالیٰ ته نه ؤ حاصل بلکه انسانانوته حاصل ؤاول اسلامی نظام نه ؤنولهٰذادمستقل ملك اودکلمه دنعرے مطلب داشو چی دلته کی به داللّٰه ﷻ احکامات یعنی اسلامی نظام نافذکیژی ۔

اودجمهوریت بنیاددعوامو پرحاکمیت باندی ولاړدئے ، اوعوام مخلوق دئے اومخلوق داللّٰه ﷻ نه ما سواته وایی ؟ نومعلومه شوه چی اسلام اوجمهوریت دوه ځان ځانله نظریی دی اوداسلام او جمهوریت په مینځ کی دتبائن نسبت دئے ، حالانکه دقسم او مقسم په مینځ کی خودعموم خصوص مطلق نسبت راځی ، هرخاص عام اوهرعام خاص نه وی ، لکه چی دانسان اوحیوان په مینځ کی کوم نسبت دئے چی هرانسان حیوان دئے اوهرحیوان انسان نه دئے ، اوس موژداسی نه شوویلئ چی هراسلامی جمهوریت دئے اوهرجمهوریت اسلامی نه دئے ۔

که جمهوریان داسوال اوکړی چی دلته کی موژاسلام مقسم جوړه ؤاوجمهوریت یه قسم جوړه ؤنو بے مطلب داشی چی یو اسلامی جمهوریت دئے اویوغیرجمهوریت دئے یعنی خلافت ؟

نوددے سوال جواب دادئے چی دومره خوتاسو هم اومنله چی ده اسلام اوجمهوریت مینځ کی دتضاد اوتبائن نسبت دئے (کما مر) نوچی داسی شوه بیالکه څنګه چی یو څیزدخپل ضدفصل نشی جوړے دلئے دغه رنګه دهغه جنس هم نشی جوړے دئے اودازکه چی په ضدکی دضدیت مفهوم په طرفَینوکی وی لکه چی دنباتاتوجماداتواوحیوان په مینځ کی ضدیت دئے نواوس جمادات نباتات دحیوان دپاره فصل جوړے دئے شی یابالعکس یعنی دحیوان دپاره جنس جوړے دئے شی نه هرګز نشی جوړے دئے ؟

نوضدیت له طرفینُ نه وی چی داضدیت اومنلئے شونوداوس دے باطل لره مستلزم شو چی څیز خپل ذات اوضدلره شامل شی اوباطل لره مستلزم پخپله باطل وی ، نولهٰذااوس چی څوك جمهوریت داسلام یااسلام دجمهوریت قسم جوړه وی دابا طله خبرده ۔

خولیکن که اوس هم څوك اسلامی جمهوریت ورته وایی نوداګرچی په الفاظوکی سره جمع

کیدئے شی مگرپدے سره حقائق نشی بدلے دئے لکه چی څوك په الفاظوکی اوپه خوله وایی اسلا می یهو د یت نواوس په حقیقت کی اسلامی یهودیت په وجود کی راتلئے شی ، نه هرگزنه ؟

اوس ددے خبری وضاحت هم کؤ چی دوه متضادخیزونه خونشی سره جمع کیدئے خو چی جمع شی بیابده جمع کیدوپه صورت کی څه کؤلکه چی جمهوریانوسره جمع کړیدی ، نواوس به موژ جمهوریت ته اسلامی وایوکبه کفرورته وایواوکه بده معتزله ؤپه شانتے نه اسلامی ورته وایونبه کفری ورته وا یو بلکه یوبل نوئ در یم نوم به ورکؤ، نوددے خبری ډیرآسان جواب دئے هغه دا چی جمهو ریت حرام څیزدئے کفردئے اوکفربد، ارذل اوخسیس وی ، اودامسلمه ضابطه ده چی کله یو څیزیایوه مقدمه له اشرف اواخس نه مرکبه وی نونتیجه بده اخس اوارذل تابع وی نده اشرف ، داپه معقولا تواو منقولا تودوا ړوکی مسلمه قاعده ده ـ

مثال په یوه کو هی کی دمیتیازویوه قطره پرے وتله اوس پد ے یوه قطره سره دومره لوئ کو هئ نجس کیڅی کنه نودلته نتیجه داخس اوارذل (چی میتیازی دی) تابع شوه ؟ دغه شانتے که له اسلام سره دشرك ، کفریاعلامات کفرلڅشانتے حصه ملاؤشی نودابه کفرگنړل کیڅی ، اوهم داوجه ده چی که یوکس دقرآن له یوه آیت نه انکاراوکړی پدے سره داکس کا فرکیڅی اوس د لته دیوه آیت نه انکاراخس اوارذل شواودباقی ټول قرآن اقراراوتصدیق اشرف شو خو نتیجه ده اخس اوارذل تابعه شوه چی ده یوه آیت په انکارسره کافرشواودباقی ټول قرآن تصدیق کوی خوبیا هم مسلما ن نشی کیدئے ـ

اوس مروجه نظام له دوؤمقدمونه جوړدئے (۱) اسلامی ، (۲) جمهوریت ، پدے کی اوله مقد مه (اسلا می) مشرفه ده اودویمه مقدمه (جمهوریت) اخسه اوارذله داونتیجه موژاوویلو چی داخس اوارذل تا بعه وی نواوس فیصله تاسوپخپله اوکړئ چی دا نظام اوس اسلامی جمهوریت شواوکه کفری جمهو ریت شو" کفری جمهوریت شو"

اوکفری پدے شو چی یو خویه مفهوم کفری دئے اوبل دا چی له دین اسلام نه علاوه بل څیز ثا بت شواوداسلام نه ماسوا هم کفروی نورڅه وی لکه چی رب لم یزل ذات فرمایلی دی : ﴿ فماذابعدالحق الاالضلال ﴾ (یونس :۲۳)

اعتراضات :

اوس احتمال شته چی جمهوریان یو څواعتراضات اوکړی اول دا چی تااوویل یو څیزخپل ذات او ضدلره نه شاملیڅی حالانکه صا حب سلم وایی چی ، " التصوریتعلق بکل شئ حتیٰ بنفسه و بنقیضه " تصور له هر څیزسره متعلق کیڅی حتیٰ چی له خپل ذات او نقیض سره هم متعلق کیدئے شی ، ددے سوا ل

دوه جوابونه کؤ :

یو دا چی موژده شاملیدونه انکارکړئدئے یعنی پریو ځیزده خپل ضداطلاق کیدل اودلته سُلم مُلادتعلق خبره کړے ده چی تصو رله خپل ذات اونقیض سره متعلق کیدئے شی اوتعلق غیرشمول دئے نو " فلایر دمایر د"

دویم جواب دادئے چی تصورله وجودذهنی سره تعلق لری اوزموژخبره په وجودخارجی اونفس الامری کی ده په وجودذهنی کی خو هرڅه کیدئے شی اوپه وجودخارجی کی به ناممکن وی لکه فرض المحا ل اوبالفرض والتقدیریوذهنی ځیزونه دی مگروجودخار جی یه ناممکن دی ـ

دویم سوال داکیدئے شی چی تاسواوویل چی نتیجه به همیشه داخس اوارذل تابعه وی حالا نکه زموژ فقهاؤپردے خبره تصریح کړے ده چی که چیرته دیوکس په قول یافعل کی یوکم سل (۹۹) احتمالات دکفروی اویواحتمال داسلام وی نومفتیٰ به قول دادئے چی مفتی به فتویٰ دداسی کس پراسلام ور کوی نه پرکفریعنی داسی سړئے به مسلمان گنړلئے کیژی اوس دلته کی دکفراحتمالات ز یات دی او داسلام احتمال یودئے اونتیجه داخس تابعه نه شوه بلکه داشرف تابعه شوه یعنی ترجیح اسلام ته ورکولئے شوه !

ددے شك هم هغه برنئ جواب دئے چی احتمال وجودذهنی دئے ددے په مقابله کی علا مات اوامارات کفردی هغه له وجودخارجی سره تعلق لری اوهلته به نتیجه داخس تابعه وی لکه مثلاًیوکس لمونځ ، روزه ، حج ، زکوٰة داټول ځیزونه منی خوصرف صلیب یازنارغاړی ته واچو ی یایه صرف بت ته سجده اولگوله نواوس به دے کلمے روزواولمنځوته نه کتل کیژی بلکه دے یوے سجد ے ته به کتل کیژی اوکافربه گنړل کیژی ؟ اوهم داوجه ده چی په مانعین زکوٰة کی داسلام علا مے په زرگونه وے هغوته ابوبکرنه کتل صرف یوه علامه ده کفروه دهغے پربناء یه مرتدین ورته او و یلو، لدے نه معلومه شوه چی ده ملك خدادادنظام اوآئین اسلامی نظام اواسلامی آئین نه دئے بلکه کفری نظام اوکفری آئین دئے زکه که اوس هم ځوك ورته اسلامی جمهوریت وایی نودے ته وایی اجتماع د نقیضینُ اودابدیهی البطلان خبره ده ـ

اوکه ځوك دااعتراض اوکړی چی موژجمهوریت ده لغوی معنٰی یعنی اکثریت په معنیٰ سره آخلولکه چی اهل لغت یه استعما لوی بیاخویه جمع والئ صحی دئے لکه چی ده فقهی په کتابو نو کی موژوا یو چی دجمهورودامذهب دئے اولدے نه کثرت مرا ددئے ، لکه چی " مولانامحمدخان شیرانی سابق اسلامی نظریاتی کونسل ، مرکزی امیرجمعیت علماء اسلام بلوچستان " نه په یوه انټر و

ی کی سلیم صافی ور ته وایی " اسلام میں جمہوریت کی گنجائش ہے کیونکہ اسلام کی اصطلاح تو خلافت ہے " دئے په جواب کی ورته وایی :

" جہاں تک آپ کے سوال کا تعلق ہے جمہور کا ایک لفظ مشترک ہے جمہور ہمارے علماء کرام یا ہم عمومی جو لوگ ہیں اس مفہوم میں لیتے ہیں کہ کسی بھی معاملے میں لوگوں کی اکثریت، علماء کی اکثریت، پارلیمنٹ کی اکثریت، ایک یہ اصطلاح ہے اس اصطلاح کے حوالے پھر اسکی جو شرعی حیثیت ہے وہ کچھ اور بن جاتی ہے جیسا کہ ہمارے فقہاء فرماتے ہیں کہ یہ جمہور علماء یا جمہور فقہاء کی رائے ہیں، ایک جمہوریت وہ ہے جو پندرہ ویں صدی کے بعد یا اسی دوران مغرب نے مذہب اور کلیسا اور پوپ ..... " هغه بیاخپل سوال دوهراوه وی چی " لیکن پاکستانی جمہوریت یہ اسلام سے موافق ہے یا اسلام سے متصادم ہے " نو صاحب په جواب کی ورته وایی " پاکستان کے آئین میں دو چیزیں ہیں اسلام بھی ہے اور جمہوریت بھی ہے اب یہ تو آئینی ماہرین بتا سکتے ہیں کہ اس آئین میں اسلام اور جمہوریت یہ دونوں کس مفہوم پہ اکھٹے ہو گئے "

صحافی بیاورته وایی " اکھٹے ہو سکتے ہیں کیونکہ مولانا صوفی محمد جیسے لوگ کہتے ہیں کہ جمہوریت کفر ہے " نو دئے ور ته وایی چی : " اب ہمارے علماء کرام اس آئین کو اسلامی آئین سمجھتے ہیں اس لحاظ سے کہ اگر کوئی اچھا خاصہ مخلص مسلمان با اختیار مسلمان بن جائے اور وہ قصداً چاہئے کہ میں یہاں اسلامی نظام کو نافذ کروں تو اس کیلئے راستہ پا سکتا ہے لیکن مجبور نہیں ہے " نو بهر کیف دد ے کثرت او لغوی معنیٰ اخستو جواب دادئے (لکه څنګه چی شیرانی ورسره راګر ځیدو) چی په کلام کی لغوی معناګانی نه وی مقصود بلکه اصطلاحی معانی مقصودی وی اوپه پاکستان کی خودجمهوریت اصطلاحی اوکفری مفهوم په پورامصداق سره موجوددئے ، بیاتاسو څنګه وایی چی دلته کی خلګ جمهوریت په لغوی معنٰی سره آخلی ، دویمه خبرداده چی که بالفرض دااصطلاحی جمهوریت نشی اسلامی خلافت شی اسلامی آئین شی نو بیادیو شرعی اودینی مفهوم دپاره دومره بے دینه اومغربی لفظ استعمالول ددے څه حکم دئے په شریعت کی ؟

حالانکه په شرعی اصطلاح کی خوداکاربلکل نشی جائز کیدئے لکه دلمانځه دپاره څوك د ور زش لفظ استعمالولئے شی روژے ، صوم ته بهوك هړتال ویلئے شی ؟ دریمه خبرداده چی جمهوریت خودمغرب نه بلکه دټول ملت کافره دپاره یوقسم شعارجوړشوئیدئے په نن صبادورکی ، اودکفا رو له شعاراتونه خوځان بچاوه ول پکاردی ، خولیکن حقیقت دادئے چی په پاکستان کی یوبے دینه او سیکولرجمهوریت وجودلری لکه چی موژتفصیل اوکړوچی ددے ماهیت کفردئے یعنی دجمهوریت دماهیت حکم کفردئے اوله ماهیت نه بغیردے نظام ته جمهوریت ویل کیدئے نشی ، او چی کله ما هیت ورسره موجودشو نوده کفرحکم هم خودبخودپخپله ورسره موجودشو۔

دجمهوریت ماهیت (چی دقانون سازئ حق انسانانوته ورکول دی) کفراوشرك دئے او کفر شر

ك اواسلام سره جمع کیدئے شی ''نه'' لکه مثلاً د '' مسلم کمرشل بینك '' نوم به تاسو اوریدلئے وی دا بینك دسودپرنظام باندی ولاړدئے اوس ددے مسلم اواسلامی لفظ په لګولو سره دابینك اسلامی کیدئے شی '' نه '' دسودکاروبار حرام دئے که حلال دئے کفری دئے اوکه اسلامی دئے ، لهذالکه څنګه چی دابینکونه داسلامی په لفظ سره اسلامی نشی جوړے دئے هم دغه شانتے دلته هم په اسلامی لفظ سره جمهوریت نه اسلامی جمهوریت جوړے دئے شی ندے کفرته څوك اسلام ویلئے شی ، او داز که چی دماهیاتولواز مات کله هم دماهیاتوله افرادونه نه جداکیږی ګویاکه کفردجمهوریت دپاره لازم اعم شواوله لازم اعم نه اخص ملزوم نشی جد اکیدئے ۔

داسلامی جمهوریت متعلق دمولانا حافظ احمدصاحب عجیب تحقیق

مولانا حافظ احمدصاحب دجهاداوأ هل جهادسره محبت کؤنکئ حنفی عالم دین دده له قلم نه اللّٰه ﷻ دنوی مغربی کفری فلسفے پرنقددجهاداومجاهدینودعلمی تائیدمقدس خدمت اخستئ دئے ، اللّٰه ﷻدی دده په تحریراتوکی برکت واچوی اوده دعوت جهادده مزیدفروغ ذریعه دی اوګرځوی ! دئے د جمهوریت په حواله سره دشریعت محمدیه ﷺ مؤقف واضح کوی او لیکی چی :

'' سرمایہ داری، جمہوریت اورانسانی حقوق کا چارٹر کفرِ مطلق ،شرک ،ضلالت وگمراہی، بغاوتِ اُلٰہی ،اور بدترین ظلم وتعدی کا مجموعہ ہے۔ہم نے اس نظام کواسی طرح کفرمطلق کہاہے جسطرح یہودیت ،عیسائیت ، ہندومت ،بدھ مت ،اورسکھ مت کفرمطلق ہیں '' (جمہوریت یااسلام ص: ۱۰۱)

بیادئے ددے سوال جواب ورکوی چی '' آیااسلامی جمهوریت هم یوشیزدئے ؟'' اوفرمایی چی :

ددے سوال ساده جواب دادئے چی '' اسلامی کفر '' هم یوشیزکیدئے شی ؟ نوداخوښکاره خبرده چی یو ذی عقل انسان هم ده دے قائله ندئے ، نودئے وایی چی په اصل کی دسوچ او فکر خبر داده چی موژته دیوے اصطلاح سره د '' اسلامی '' لفظ دلګولو ضرورت ولی پیښیږی ؟ ددے و جه داده چی هغه ثیزیا هغه اصطلاح په حقیقت کی اسلامی وی نه ..... داداسلامی لفظ اکثره له هغو ثیز ونوسره لګیدلئے وی چی کوم اشیاء مشتبه وی لکه '' اسلامی بینکاری '' یا '' اسلامی تی وی چینل '' وغیره وغیره ....

اوتاسوبه ترنن تاریخه د '' اسلامی لمانځه '' یا '' اسلامی جهاد '' یا '' اسلا می حج '' په رنګه الفاظ نه وی اوریدلی ده دے وجه داده چی لدے اصطلاحاتوسره دا اسلامی لفظ ز که نه لګوی چی دااصطلاحات خوپه اسلام کی فطرتاًموجودد ی ۔ ترننه پوری چاته دااشتباه نده شوے چی د'' حج ''

لفظ یه اوریدلئے وی اوذهن دے یوه مندریایوے میلے طرف ته تلئے وی !... هم دغه وجه ده چی کله دغه رنګه اصطلاحات په نظرراشی نو هلته بیاتوقف کول پکاردئے د ډیرسوچ او فکر نه ورو سته دی دهغه څیزداسلامی یاغیراسلامی فیصله اوکړی ،،،، اسلامی جمهوریت هم دغه رنګه یوه اصطلاح ده چی ددے متعلق ده سوچ اوفکرکولواشدضرورت دئے ، داکثرومحقیقینورایه داده چی اسلامی اومغربی جمهوریت دوه متضادڅیزونه دی ، اوبعضے حضرات خوبیادومره وردننه شوی دی چی وایی اسلام اوجمهوریت ده یوے سکے دوه اړخه (روخه) دی " نعوذبا للّٰه من ذالك " نوداډیره غلط آمیزه خبرده ، اسلام موژته دخلافت عقیده راکړے دخلافت اوجمهوریت په اصولواوفروعو کی دآسمان اوزمکی فرق لری ، نوبیاڅه وجه ده چی موژخامخاداسلام ده خلافت نظام صرف جمهو ریت اوګنړو یا جمهوریت عین اسلام اوګنړو ـ " نعوذباللّٰه " (جمهوریت یااسلام ص: ۱۰۶)

داسلامی جمهوریت په هکله دمولانایوسف لدهیانوی شهیدؒ مؤقف

هغهؒ په یوځائے کی لژمخته فرمایی چی ..... کله دانعره اوچته کړی چی " اسلام ده جمهو ریت علم بر داره دئے " اوکله بیاد " اسلامی جمهوریت " په شانتے اصطلاح وضع کړی اوحالانکه مغرب چی دجمهوریت دکوم بت معبودان دی دهغوئ نه صرف داچی له اسلام سریه څه قسم تعلق نشته بلکه هغه داسلام دسیاسی نظریے هم ضددئے ، په هم دے وجه له اسلام سردجمهوریت پیو ندلګول اوجمهوریت په اسلام سره مشرفه کول داصراحتاًغلط کاردئے ..... په خلافت کی دحکمران لپاره ترټولونه بالاترقانون قرآن اوسنت دئے ، اوکه چیرته دمسلمانانوله خپلو حکمرانا نواومشرانوسرڅه قسم جګړه راشی نودهغے حل به دوئ دقرآن اوسنت په رڼاکی رااوباسی هغه فیصله به په قرآن او حدیث سره کوی ، چی ددے پابندی پرراعی (بادشاه حکمران) اوراعیانو(عوام اوولس) دواړوباندی لاز مه ده ـ

ددے په مقابله کی ده جمهوریت فتویٰ داده چی دمملکت آئین ترټولونه مقدس دستاو یزد ئے اوپه ټولونزاعی اموروکی به ددستوروه طرف ته رجوع کول لازمی وی تردے ځا یه چی عدالتونه هم ده آئین خلاف فیصله نشی کولئ .. مګردملك دستورددے ټولوتقدساتونه باو جوددعوامودخوانه دمنتخب کرده نما ئنده ګانودلاس ګړیاودساتیری څیز دئے ، اودوئ مطلوب بده اکثریت په را یی سرچی څه اوغواړی ترمیم اوتنسیخ کوی ، څوك هغوئ نشی منع کولئ اودملك داو سیدو نکو لپاره چی کوم قانون اوغواړی نوجوړولئے یه شی څوك هم تپوس نشی ترے نه کولئ ، ...ـ

اوس په تیروورځوکی په پاکستان کی دیوه لوئ مفکرسړی مضمون په اخبارکی شائع شوئے

ؤ چی شریعت دپارلیمنټ (پارلیمان) نه بالاګنړل داده قوم ده نمائندګانوتو هین دئے ، زکه چی قوم خپلو نمائندګانوته دقانون جوړولو مکمله آزادی ورکړے ده ، نوددے کس داعندیه ده " جمهوریت " صحی تفسیردئے ، چی ددے په وجه دقوم نمائندګان دشریعت الٰهی نه هم با لاترګنړی ، هم داوجه ده چی په پاکستان کی د " شریعت بل " دکلونونه صرف دقوم دمنتخب نمائنده ګانو ترخولواوزبانوپوری محدوده دئے ، لیکن ترنن تاریخه اسلام ته دشرف پذیرائی حیثیت نه شو حاصل ددے نه پس هم څوك داویلئے شی چی اسلام د .... جمهوریت قائله دئے ـ (آپ کے مسائل اورانکاحل :۸/۱۷٦)

اسلامی جمهوریت اومولانامحمدعاصم عمرصاحب مدظله العالیه

محقق زمان حضرت مولانامحمدعاصم عمرصاحب دکفراکبر (یعنی ترتپولونه لوئ کفر) متعلق بحث کی ویلی دی چی دکفر اکبرترتپولونه عام لیکن خطرناك صورت دادئے چی د اللّٰه ﷻ د شریعت په مقابله کی یه بل خپل نوئے شریعت جوړکړئدئے چی هغه دفرانسیسی ، انګریزی ، امریکی اودڅه نوروشریعتونوته دمنسوب نظامونوملغوبه ده ، اوداملغوبه یه دنظام زند ګئ په رنګه نا فذه کړے ده اودفیصلوکولومرجع اتهارتی اومأخذیه ګرځولے ده ، دهم دے ملغوبے مطابق ده فیصلوکولو حلف آخلی ، دهم دے وضعی اوملعونی قانون دپاسدارئ اووفادارئ قسمونه خوری ، او پرهم دے نظام عمل کول لازمی اوضروری ګنړی ، پردے باندی خپل ځان قربانوی ، اوددے نظام نه چی څوك مخالف وی هغه باغی ګنړی اودهغه وینه تویه ول حلال (قا نونی) ګنړی ، که څوك اوغواړی چی داللّٰه ﷻ شریعت دنظام زندګئ په ډول نافذکړی یاخپله زندګی دشریعت مطابق تیرول اوغواړی نو داسی کس به دریاستی طاقت په ذریعه سره ځپی ـ

عاصم صاحب وایی چی داصورت ترتپولونه نا پاکه او خطرناکه صورت دئے لیکن ابلیس ملعون دومره محنت کړئدئے چی دابدعملی یه ددوئ په ذهنو نوکی ډیره خائسته پیش کړے ده ، نو پد ے وجه دے کفرنوره ترقی اوکړله اویوداسی صورت یه اختیاره کړلو چی یوکلمه ګوانسان ددے دجل سوچ هم نشی کولئے ، اوهغه ناپاکه مذموم ، خطرناکه اوکریهه صورت دادئے چی داابلیسی شریعت اونظام یه اسلامی اوګرځولو، چی داپه حقیقت کی سرا سرد اللّٰه ﷻ وحده لاشریك پر ذات اقدس باندی دروغ اوبهتان دئے ، چی یوداسی ځیزیه اللّٰه ﷻ ته منسوب کړ لو چی هغه دسره پرخپل محبوب ﷺ با ندی اډونازل کړئے ندئے ، اونه پردے خبره لدے جمهور یا نو سره څه دلیل شته ، مګرخوا هش پرسته ، ددنیاعبادت کؤنکی ، دزندګئ غلامان ، داللّٰه ﷻ دملاقات نه بیزاره خلګ دخپلومعبودانوپه

وینابانـدی دے کـفرتـه داسـلامـی ویلو پر ضدبا ندی مضبوط دی ، چی څوك داابلیسی آئین نه منی نـو هـغـه کـس ددوئ پـه نـزدبـاغـی دئـے ، دهغه مال اوځان اخستل دوئ لره حلال دی ، دهغوئ حیاناکی اوپردناکی باعفته خزی خپلوکیمپونوله وړل ددوئ په دے اسلامی جمهوری شریعت کی جائزدی ، " ما لکم کیف تحکمون "

افسوس صدافسوس ! په کوم ګمان اوکوم زعم سرتاسو اللّٰه ﷻ ته دوکه ورکول غواړئ ؟ په کوم بـنیـادبـا ندی تاسودومره جرأت مند شوئ چی ده عرش اوکرسئ پرمالك باندی دومره لوئ دروغ تپئ ، ؟ صـرف پـه هـم دے بـنیادچی ددنیادعهدونه مزے واخلئ ، ددے مرداری دنیاددے مردارلاش نه تا سو هم څـه څـکـه اوکـړئ (څـه ترے نه اوخورئ) اودهغوئ سره شریك شئ چی چاددے مرداری په بد له کی د خپل آخرت سوداکړے وه ...؟ " یاللعجب یاللعجب " ﴿ ومن أظلم ممَّن افترىٰ علی اللّٰه کذبا ﴾ څو ك دئـے تر هغ کس نه لوئ ظالم چی څوك پراللّٰه ﷻ باندی دروغ تړی ـ (ادیان کی جنگ دین اسلام یا دین جمہوریت ص:۳۰)

لهٰـذانـن صبا چی کوم خواص لیانورکسان ودے کفری طاغوتی اوابلیسی جمهوریت ته د اسلا مـی جـمـهـوریـت نـوم ورکوی نود اخلګ دی دخپل ایمان په باره کی لڅګریوانوته سرونه خکته کړی زکه چی علامه انورشاه کشمیریؒ ویلی دی چی :

و هل فی ضروریات الدین تأول ::: بتحریفها ألا ککفر عیانٍ (اکفارالملحدین ص: ۳٦۴)

چاچی دکافردکفرنه دفاع اوکړله یایه ده کفرلپاره تاویل اوکړلونوداسی کس هم دعلانیتاً کا فرپه رنـګـه کـافردئـے ، اودے نن صباخلګو هم داسلامی جمهوریت په نامه سره داصریح کفراسلام ګر څولئ دئـے اوداخـوخـه کوے ټوله نړئـے یه پدے کفرکی مبتلاء کړے ده ، اوبل داچی دوئ به لیایوتاویل ورته اوګـوری چـی لـدے نه زموژدامرادندئ بلکه هامومراددئ داکوم بے علمه کسان چی دی یانور، رار وان نسل موپه څومره خطره کی اچولئ دئـے ـ

اسـلامـی جـمهوریت اومناظراسلام شیخ رحیم اللّٰه الحقانی الافـغـانی صاحب مدظله العالیه

مـنـاظـراسـلام شیخ القرآن والحدیث ابوابراهیم حضرت مولاناشیخ رحیم اللّٰه الحقانی صاحب پـه یـوه بیان کی دیوه سوال په جواب کی ویلی دی چی جمهوریت کفراوبدعت دئـے اوددیوبنداکابرؒ هیڅ کـلـه هـم دجـمـهـوریـت اوداوتٍ قـائـلـه نه ؤبلکه ددیوبنداکاربرخوجمهوریت کفرګنړلواودبعض جما عتو نـوداخبـره چـی په جمهوریت کی موژددے دپاره شرکت کؤ چی اقتدارته اوره سیژواو بیا اسلام نا فذ کړو

داهسی فرضی خبریدی تراوسه پوری په دنیاکی ده جمهوریت اودانتخاباتوده لاری اوپه طریقه باندی اسلام ندئے را غلئے ۔

داداسی مثال لری لکه چی یوکس بت خانے ته لاړشی عبادت پکی کوی اوبیا عذرداپیشه وی چی ځه دے بتانوته سجد ے ده دے دپاره کوم چی خپل مقصدته ورباندی ځان رسوم نوداکس ده کفر اوبدعت نه خلاسیژی نه اوهم دغه شانتے ځوك چی جمهوریت ته اسلامی نوم لګوی یعنی اسلامی جمهوریت ورته وایی نوداداسی دئے لکه چی یوځوك چی پرډیران یالیټرین یایوبت خانه باندی ده اسلا می نوم کیګدی مثلاً اسلامی ډیران یااسلامی لیټرین یااسلامی بت خانه نوصرف ده اسلامی په نوم با ندی یوشئ اسلامی کیژی نه ۔

(۲) حریت اقتصادی دشریعت محمدیﷺ په رڼاکی

دحریت اوآزدئے په اصل کی دویم قسم حریت اقتصادی ؤ پدے قسم کی جمهوریت سود ، بیع باطلے اوفاسدے ته اجازه ورکوی ، نوداقسم هم له شریعت مطهره سره ټکرلری اوهغه پردے بناء چی ده خرید اوپروخت ده جوازاوعدمے جوازاختیارچی کله دوئ پخپل لاس کی واخستلونوبیاموژته ده فقهی په کتابونوکی ده "کتاب البیوع" ده ویلوځه ضرورت دئے اوهم دے بیع با طلی ته که انفرا دی طورځوك بیع صحی اووایی نوهرغوګ به ورته کافروایی اوچی ځوك په قانونی ډول سره جوا زور کوی نو د هغه په کفرکی به بیاځه شك وی " فتفکروا یاأولی الألباب " سود رباجماعی اونصی کفردئے ده دے په باره کی اللهﷻ فرمایی چی ﴿ فأن لم تفعلوافأذنوابحربٍ من اللّٰه ورسولهٖ ﴾ (البقره : ۲۷۹)

که تاسوله سودی معاملونه منع نه شوئے نوبیاده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺله طرفه تاسوته ده جنګ اعلان دئے بیاورته تیا رشئ ۔

سودی لین دین باندی مصرطائفه ممتنعے په خلاف دقرآنی جنګ حکم

علامه خازنؒ ده مذکوره بالاآیت په تفسیرکی فرمایی چی :

" قال أهل المعانی :حرب اللّٰه النار ، وحرب رسولهٖ السیف ، واختلفوافی معنیٰ هٰذه المحاربة .... الخ "

(پدے بحث کی ده عباراتوده طوالت پربناء موژصرف پرپښتوترجمه اکتفاء کؤ)

" مفسرین حضرات فرمایی چی دسودخورخلاف " ده اللّٰهﷻ ده جنګ " نه مراددہ اللّٰهﷻ هغه کس لره په جهنم کی اچول دی ، او ده "اللّٰه ده رسول ده جنګ " مطلب دادئے چی په توره سره ده داسی خلګوخلاف جنګیدل ، بیاپه توره سره ده جنګ په معنیٰ کی ده علماؤاختلاف دئے : یوقول دادئے چی

لدے نه محض په دهمکئ اووعیدکی شدت پیداکول مقصوددی نه داچی حقیقی جنګ ـ

دبل قو ل مطا بق لدے نه حقیقی جنګ مراددئے ، زکه چی کله هم ده مسلمانانو خلیفه پدے خبرشو چی فلا نئ کس یافلانئ ډله ده سودپرکاروبارکولویاده سودپرخوړلو مصره ده نوداده امیروخت ذمه واری جوړیژ ی چی دا خلګ به نیسی اوده اللّٰه ﷻ حکم به پرے جاری کوی ، یعنی تعزیری سزابه ورکوی اوترهغه و خته بیه قید یانه وی چی ترڅویه ده سودخورئ نه توبه نه و ی ویستلے ، اوکه چیرته هغه سودخوره ډله ده قوت اوشوکت مالکه وه خپل فوج یه لرلونوبیابه امیروخت ده داسی ډلی او خلګوپه خلاف هم هغه شانتے جنګیژی لکه څنګه چی ده یوے باغی ډلی خلاف جنګ کول کیژی ، حضرت عبداللّٰه ابن عبا سؓ فر مایی چی : کومه (ډله) هم پرسودخورئ باندی قائمه وی اوده هغے نه نه منع کیژی نوده مسلمانانوپر حکمران وخت باندی واجب دی چی په دوئ به توبه اوباسی ، نوکیه چیرته توبه اوویستله اوده سود خور ئ نه منع شونوبیافبهاونعمت .... اوکه بیا هم منع نه شونوبیابه ده داسی خلګو څټونه و هی ـ (تفسیر الخازن :۱/۳۱٦)

علامه جصاصؒ ده مذکوره بالاآیت په تفسیرکی یوسکون بخش بحث کړیدئے اوفرمایی چی : " وقولهٖ تعالیٰ ﴿ فأْذنوابحربٍ من اللّٰه ورسولهٖ ﴾ أخبارٌمنه بعظم معصية وأنهٗ يستحق بهاالمحاربة عليهاوأن لم يكن كافراً .... الخ "

اللّٰه ﷻ فرمایی چی ﴿ بس که چیرته تاسوسودنه پریخودلونوبیاده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ له طرفه ده جنګ اعلان واورئ ﴾ "

داآیت موژته داراخایی (رابنیی) چی سودخومره لویه ګناه ده ؛ اوبل داچی که سودخورکافرنه ؤ نوبیا هم ده جنګ مستحق دئے ، پشرط ده دے چی ممتنع وی اوکه ممتنع نه ؤ بیا به امام وخت دو مره تعزیری سزاورکړی چی ده آئنده لپاره بیاداسی کاراونه کړی ، د دے نه علاوه نور هغه ګناهونه چی ده هغوئ متعلق اللّٰه ﷻ سزااووعیدمقررکړئے وی اوخوك پرهغه ګناه باندی مُصروی علانیةً یه کوی نوده دے ګناه مرتکب که چیرته ممتنع ؤنوله داسی کس اوده هغه له ټولوپیرو کارا نوسربه امام وخت جنګ کوی تردے چی له هغه کارنه منع شی ، اوکه هغه ډله ده طائفے ممتنعے په صورت کی نه وه نوبیابه امام ده هغوئ ده جرمونو په اعتبارسره مناسبه سزاورکړی .....

بس که چیر ته سودخورکس سودحلال ګنړلونوداکس کافردئے ، اوکه چیرته له حلال ګنړ لو سره سره ده یوے قوت نا کی اوشوکت ناکی ډلی لاس هم ورسره ؤده یوے زوروری طبقے مددورسره ؤ بیابه امام وخت له داسی خلګوسرده مرتدینوپه رنګه معامله کوی اګرکه هغه خلګ لدے نه وړاندی په

مجموعی حیثیت سره په مسلمانانوکی کنټرل کیدل ، اوده دے پرعکس که چیرته سودخوریاده سو دکاروبارکؤنکئے ده سود حرمت اومنی چی داحرام کاردئے خوبیا هم ده سود په کاروبارکی لګیاوی نوده داسی کس بیادوه صورتو نه دی :

که چیرته داکس یاداډله دطائفے ممتنعه په شکل کی وه نوبیابه امام ده دوئ په خلاف جنګ اوقتال کوی تردے چی توبه او با سی ، اوکه ممتنع نه وی نوبیابه حاکم وخت وهنه ټکونه اوده قیداو بندپه شانتے سزاورکړی تردے چی له سودخورئ نه منع شی ـ (احکام القرآن للجصاص :۱/۵۷۲)

امام مالکؒ فرمایی چی :

" الأمرعندناأن کل من منع فریضة من فرائض اللّٰه عزوجل فلم یستطع المسلمین أخذها کان حقاعلیهم جهاده یأ خذوهامنه "

زموژپه نزباندی دایوثابت شده شرعی حکم دئے چی کوم کس ده اللّٰه ﷻ په فرائضوکی ده یو فرض ده اداکولونه منع اوکړی (او هغه مرتکب وی هم دومره صاحب قوت اوشوکت) چی نور مسلمانان یه دهغه فرض پراداکولوباندی نه شی پابندکولئ ، نولدا سی کس اوډلی سره جهادکول پر تو لو مسلمانانوباندی فرض اوواجب دی تردے چی په زبردستئ اوزورسربه ده هغه نه هغه شرعی حق آخلی اوو صوله وی بے ترے نه ـ (مؤطاامام مالکؒ :۳/۳۸۰۹)

امام قرطبیؒ ده دے آیت په تفسیرکی لیکی چی :

" قال ابن خویزمنداد: ولوأن أهل بلدأصطلحوا علیٰ الربااستحلالاً کانوامرتدین ، والحکم فیهم کالحکم فی أهل الر د ة ، وأن لم یکن ذٰلك منهم أستحلالاًجازللأمام محاربتهم ، ألاتریٰ أن اللّٰه تعالیٰ قدأذن فی ذٰلك فقال : ﴿ فأْ ذنوا بحربٍ مِّن اللّٰه ورسولهٖ ﴾

" ابن خویزمنداد ؒ فرمایی چی : که چیرته ده یوے علاقے (یایوه ملك) اوسیدونکی ده سودی لین دین پرحلت باندی اتفاق اوکړی نوداخلګ به مرتدوی اولدوئ سربده مرتدینوده احکاماتوپه رنګه معامله کیژی ، البته که چیرته سودحلال نه ګنړی (عملاًده سودپرکاروبارکولوباندی مصروی) نوبیاهم ده امام لپاره داجائزدی چی لداسی خلګوسره اوجنګیژی ، آیاتاسونه ګورئ چی اللّٰه ده دے خبری جو از ورکړ ئیدئے اوفرمایی چی : ﴿ پس که چیرته تاسوسودنه پریخودلونوبیاده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ له طرفه ده جنګ اعلان واورئ ﴾" ـ (تفسیرقرطبی : ۳/ ۳٦۴)

فائده : طائفه ممتنعه هغی ډلی ته وایی چی څوك ده یوه واجب حکم نه انکاراوکړی یاده یوه حرام کارپر کولوباندی مصرټنګ او مضبوط اودریژی ؛اولدے سره سره ده دومره قوت اوشوکت خاو ندا

ن وی چی د ه جنگ نه بغیرهغوئ ده دے شرعی احکاماتوپرا داکولوباندی نه شے مجبوره کولئ ، نو پردے خبره ده ټولوعلماء کراموا تفاق دئ چی له داسی ډلوسره جنگ اوقتال کول واجب دی ، تردے چی ده فرا ئضو پرادائیگی اوده محرماتونه ده اجتناب پابندی قبوله کړی ، پدے هکله علامه ابن تیمیہؒ فر مایی :

لیکن چی کله هم پرعالم اسلام باندی تاتاریانو حمله اوکړله ده مسلمانانو پردارالخلافة " بغداد " یه قبضه اوکړله ، ده دے نه پس بیاداخلگ مسلمانان شو، مگرحکومتی نظام بے ده قرآن پرځائے په یو دا سی آئین سره چلولو چی څه قوانین یه ده چنگیزخان غه رااخستی ؤ څه شقونیه ده اسلام غه را جمع کړی ؤ څه قوانین یه ده تورات اوانجیل نه رااخستی ؤده دے ټولو مجموعے ته یه ده " الیاسق یا الیاس " نوم ورکړئے ؤ ، نو چی هره مقدمه اومشکل به رامخته شوبس په هم دے خپل قانون سربیه حل کولو ـ

دالیاسق قانون مطابق ده حافظ ابن کثیرؒ فتویٰ

داصورت حال چی کله هم حافظ ابن کثیرؒ اولیدونوفوراً یه فتویٰ ورکړه چی :

" چاهم د شریعت محکمه پریخودله چی کوم شریعت پرمحمدبن عبداللّٰه ﷺ خاتم النبیین باندی رانازل شوئے دئے اوپه منسوخوشریعتونوسریه فیصله اوکړله (اگرکه ده تورات اوانجیل ده حکم مطابق ولی نه وی) نوداکس کافرشولو، نودهغ کس به څه انجام وی چی څوك ده (چنگیزخان جوړکول شوی آئین) الیاس قانون مطابق فیصلے کوی اوداپرشریعت محمدی ﷺ باندی مقدم گنړی ؟ پدے کی خوهیڅ شك هم نشته چی داسی کس په اجماع ده امت سره کافردئے "ـ (البدایة والنهایة)

اوس تاسوخپله اندازه اولگوئ چی ده قرآن نه علاوه فیصلوکونکوعدالتونوته اسلامی ویل .. ... دا څو مره لوئ جرم دئے ؟

ابوجعفرنحاسؒ (۳۸۸ھ) ویلی دی :

" زه وایم چی ده فقهاؤپردے خبره اجماع ده چی کوم کس داخبره اوکړی چی شادی شده زانی ر جم کول ندی واجب نوداکس کافر شوزکه چی ده دالله ﷻ یوقانون ردکړلو "۔ (معانی القرآن)

مشهورحنفی فقیه ابولیث ثمرقندیؒ (المتوفیٰ ٦٧٥ھ) فرمایی چی :

" یعنی : أذالم یقر، ولم یبین .... یعنی : هٰذه الآیة عامة فمن جحدحکم اللّٰه فهومن الکافرین "۔ (تفسیر بحر العلوم للسمرقندی)

یعنی چی کله هغه په یوه مسئله کی ده الله ﷻ ده شریعت مطابق ده سزاده حق اوسچ کید لو اقراراونه کړی ، اونه هم داقانون بیان کړی ..... یعنی داآیت عام دئے چی څوك هم ده الله ﷻ ده شریعت اوقانون نه انکاراوکړی بس هم هغه ده کافرانونه دئے "۔

نواب صدیق حسن خان بهوپالیؒ (المتوفیٰ ١٣٠٧ھ) فرمایی چی :

" پدے آیت کریمه کی لفظ" من "عام دئے اومطلب یه دادئے چی ده دے آیت حکم ده یوه خا ص جماعت لپاره نه دئے بلکه دا حکم ده هرحاکم اوهرجج لپاره دئے "۔ (نیل المرام)

دآیت تفسیراوتاریخی پس منظر

ده دے آیت په تفسیرکی بعضے مفسرین فرمایی چی لدے نه کفراصغر(یعنی گناه کبیره) مراددہ ، او بعض وایی چی داآیت ده یهودوپه باره کی رانازل شوئدئے ، راشئ چی ښه په وضاحت سره ده دے خبری ده پیژندلوکوشش هم اوکړو ۔

ده ابن عباسؓ داقول چی " لیس الکفرالذی یذهبون ألیه " ، (دا هغه کفرندئے چی کوم کفرخوارج ترے مرا داخلی)

زکه چی خوارجوداآیت بنیادګرځولئ ؤاوبغیرده څه تفصیل نه بیه پرصحابه کرامؓ باندی ده کفرفتوئ ګانی لګولے ، حالانکه ده اهل سنت والجماعت په نزدپدے کی تفصیل شته دئے ، ده ابن عباسؓ دغه قول چی " یذهبون ألیه " (چی کوم کفرهغوئ مرادا خلی) پردے خبره ښکاره دلالت کوی چی داګفتګو یه ده خوارجوپه جواب کی کړے وه ، زکه چی ده اهل سنت خودامسلك ده سره ؤنه چی هغوئ ده داآیت بنیادجوړکړی اونعوذبالله ده یوصحابی رسول ﷺ تکفیردی اوکړی ، نو چی دامسلك ده اهل سنت والجماعت ده سره ؤنه نوبیاابن عباسؓ ده هغوئ په باره کی داولی اوویلو " چی کوم کفر هغوئ مرا دا خلی "۔

هم دغه رنګه ده مشهورتابعی ابومجلزؒ هغه ګفتګوده چی کومه لده سره ده بنی عمروبن سدو س خلګوپدے باره کی کړے وه ۔

یادلرئ چی داخلگ خوارج ؤابومجلزؒ دوئ ته هم دااوخودل چی پدے آیت کی مطلقاً ده کفر حکم نشته دئے بلکه څه تفصیل شته پکی ، پدے بحث کی که چیرته موژیو تاریخی روایت هم په صحی ډول سره یاد کړونوان شاء اللّٰه ده دے آیت په مطلب او مقصدبه بیاموژډیرزرپوئ شو ..

دادوه روایتونه دی چی هغه امام ابن جریرطبریؒ پخپل تفسیرکی په أثرنمبر ۱۲۰۲۵، او ۲٦ ۰ ۱۲ ، لاندی روایت کړیدی ، پدے روا یت کی چی کومه گفتگوده هغه ده ابومجلزؒ اوده بنی عمروابن سدوس ده خلگوپه مینځ کی ده ، ابومجلزؒ ده لویوتابعینونه دئے اوده به له حضرت علیؓ سره محبت کولو، اوداده بنی عمروابن سدوس خلگ اول ده حضرت علیؓ سره ؤا ووروسته بیاخارجان شوی ؤ ، اود و ئ به ویل چی حضرت علیؓ اونورټول صحابهؓ " نعوذباللّٰه " مرتدین شویدی ، اوپه دلیل کی بے هم دا آیت پیش و لو چی څوك ده اللّٰه په رانازل کرده قانون فیصله اونه کړی نو هغه کافردئے ـ

دے بحث په هغه دورکی ډیرزوراخستئ ؤزکه صحابه ؤؓ اوتابعینوؒ ده هغوئ په جواب کی اوفر مایل چی لدے نه هغه کفرندئے مراددہ کوم پربناء چی تاسو حضرت علیؓ اونور صحابه کرامؓ کافران ثا بته ول غوارئے ، په حضرت علیؓ هغه ځیزده سره شته نه چی کوم یه تاسوپکی ثابته وئ ، نوزکه ستا سود اآیت په دلیل کی پیش ول باطل دی ، تاسوده حضرت ابومجلزؒ الفاظ اوګورئ نوبیابه موپه ذهن کی خبره ډیره په آسا نئ سره را شی ـ

ده ابومجلزؒ نه خوارجوتپوس اوکړوچی پدے درے واړوآیاتونو (چی ده اللّٰه په شریعت باندی ده فیصلے نه کولووالاؤپه بار ه کی ده کافر، ظالم اوفاسق کیدلوبیان دئے) په باره کی ستاڅه رایه ده ؟ آ یا دا حق دی ؟ ابومجلزؒ جواب ورکړو چی بلکل حق دی ! خوارجوتپوس اوکړو: ویل آیادامراء ده اللّٰه ﷻ ده شریعت مطابق فیصلے کوی ، ؟ هغه جواب ورکړوچی :

" هو دینهم الذی یدینون به ، وبه یقولون ، أليه یدعون ، فأن هم ترکوا شیئامنه عرفوا أنهم قدأصابوا ذنبا "ـ

هم داشریعت خوده دوئ دین اونظام دئے چی داهغوئ ده دین په ډول خپلوی ، ده هم دے دین هغوئ قا ئل دی اوده هم دے وه طر ف ته خلگ راغواړی ، اوکه لدے نه څه پریژدی نوبیا هغوئ په پوهیژی چی موژګناه اوکړله ،

مخته یه نوری خبری کړے دی خوپه آخرکی فرمایی چی ؛

" داآیت ده یهودونصاریٰ ؤاومشرکینواوده دوئ په شانتے ده نوروخلگوپه باره کی دئے "(بحواله تفسیرطبری)

یعنی چی کوم مسلمانان امراء حکماء اومشران چی داشریعت ده آئین په ډول سره په خپل

ملك کی نا فذکی ، اوده هم دے نفاذشریعت قائله وی ، اوده هم دے دعوت چلوی ، بیاکه چیرته په یوه قانون کی په عمل کولوکی څه لژشانتے سستی یاتاخیراوشی پدے سره خپل ځان ګناهګاره ګنړی ، نودا آیت بیا ده داسی قسم حکمرانانوپه باره کی نه دئے ، داده هغو حکمرانانوپه باره کی دئے چی څوك ده یهو دو نصاریٰ ؤاومشریکینوپه شانتے شی چی ده اللّٰه ﷻ ده شریعت نه بلکل لاسونه اووینځی نیه په ملك کی ده آئین په ډول سره نافذه وی نده اسلامی قانون خبره کوی ، اونه هم ده دے دعوت چلوی ، یعنی په ملك کی شریعت هم نه نافذ ه وی ، اوعدالتونه یه هم ده شرعی قانون مطابق فیصلے نه کوی ، او بیا خپل ځانونه ګناه ګاره هم نه ګنړی ـ

پداسی وخت کی به داسی حکمرانان بیاپه مکمله توګه ده یهودو اونصاریٰ ؤ په رنګه کافران و ی ، لیکن تاسو خوارج چی کوم صحابه کرامؓ ده دے آیت په وجه سره کافران ثابته ول غواړئ نویادلرئ چی دا آیت ده دے صحابه کرامؓ په باره کی ندئے ، بلکه دا آیت ده یهودونصاریٰ ؤ اونورو هغو خلګوپه باره کی دئ چی څوك په مقدماتوکی ده یهودوپه رنګه کاراوکړی ـ

شاید چی اوس تاسوپه خبره پوئ شوی یئ چی کوموصحابه تابعینویامفسرینوده دے آیت په باره کی و یلی دی چی داده مسلمانا نوپه هکله ندئے بلکه ده یهودواونصاریٰ ؤ په باره کی رنازل شو ئد ئے نوده هغوئ مطلب داؤ چی خوارجودا آیت پرصحابه کرامؓ باندی منطبق کولواوداخبره سوفیصد غلطه ده ز که چی صحابه هم کافران شی نوبیاده انبیاء کرامؑ نه پس څوك مسلمانان پاتے شو، لیکن په یهودوکی چی کوم مرض ؤ چی ده اللّٰه ﷻ شریعت یه پرے یخئ ؤاوپه خپل وضعی آئین اوقانون سریه فیصلے کو لے بیایه داخپل اختراعی کارده ځان لپاره قانونی اوآئینی ګرځولئ ؤاوخپل ځانونه پردے بدکارورته ګنهګا ره هم نه خکارے دل ، البته ده دے مفسرینوپه نزدهم ده دے آیت حکم عام دئے ، یعنی که داده یهودوخویونه اوخصلتونه ده مسلمانانوپه یوه ملك یاریاست یاجج حاکم کی اوموندلئ شونو هغه به هم ده یهودوپه رنګه مکمل کافرګرځی ، لکه چی ده ابومجلزؒ په روایت کی داؤ چی " که څوك ده دے یهودواونصاریٰ ؤپه رنګه کارونه کوی نودا آیت ده هغوئ په باره کی هم دئے "ـ

داخبره موژده کتاب البطن نه نه کؤبلکه امام المفسرین ابن جریرطبریؒ پردے آیت باندی ده خه مفصل بحث نه وروسته خپله رایه پداسی ډول ظاهره کړے ده چی :

" ځماپه نزدپدے ټولواقوالوکی ترټولونه غوره قول دادئے چی دا آیت ده یهودوپه باره کی رانا ز ل شو ئد ئے اوداده دے آیت ده سیا ق اوسباق نه معلومیژی ..... نوکه اوس چیرته یو معترض دا اعتر اض اوکړی چی اللّٰه ﷻ خوداحکم ده هرسړی لپاره عام ګرځولئ دئے چی څوك هم ده اللّٰه ﷻ په

شریعت سره فیصله اونه کړی ، نو بیاتاخنګه داده یهودوسره خاص کړو ؟

نـودئـے ده دے خبری جواب کوی چی اللّٰه ﷻ ده داسی خـلګوعام حکم بیان کړئدئـے ، چی ده اللّٰه ﷻ قـا نـون ده انـکارپربناء پریژدی ، اوپه فیصله کولوکی ده اللّٰه ﷻ قـانون ده یهودوپه رنګه پریخودل کـفـردئـے ، نـوزکـه که اوس هم ده انکار پر بناء ثوك ده اللّٰه ﷻ قـانـون پـریـژدی نوداکس کافردئـے ، لکه ثـنـګـه چی ابن عباسؓ فرمایلی ؤ: که چیرته د ه ته داپته وه چی داحکم اللّٰه ﷻ پخپل کتاب کی را نازل کـړئـدئـے بیایه هم په الٰهی حکم سره فیصله او نه کړه اوانکاریه ترے نه اوکړونوده دے کس داسی مثال دئـے لـکـه چی چاته دابنه پته وی چی نبی کریم ﷺ ده اللّٰه ﷻ لـه طـرفه راغلئـے پیغمبردئـے خوبیا هم انکارترے نه اوکړی اواویه نه منی "۔ (تفسیرطبری)

د لته ده کافرکیدلونه څه مراددی

تـردے ځـایه پدے بحث کی دومره خبره معلومه شوه چی داآیت ﴿ومن لم یَحُکم بماأنز اللّٰه فأو لٰئك هم الکا فرون ﴾

" چی ثوك ده اللّٰه ﷻ په رانازل کرده شریعت سره فیصله اونه کړی ، نوداسی خلګ کافران دی "

ده دے کـافـرکیدلوتفصیل ده امت اسلافوبیان کړئدئـے ، چی کومه ده خوارجواوده موجوده نو ے مر جئـے فرقـے نه علاوه د اهل سنت والجماعت لاره ده ، اوس موژدابحث په څه نورتفصیل سره بیان ؤتر ټولونه وړاندی داخبره یادساتئ چی ده کفردوه قسمونه دی :

الف :ـــ کـفراکبر ، دیته کفرحقیقی هم وایی ، داداسی کفردئـے چی انسان ده اسلام ده دائرے نه اوباسی او ده دے په نتیجه کی ده انسان نکاح هم ماتیژی ۔

ب :ـــ کـفـراصـغـر ، دیته کفرمجازی هم ویل کیژی ، دیته علماء " کفردون کفر " هم وایی ، دادا سی کفردئـے چی انسان ده اسلام ده دائرے نه پرے نه اوځی ۔

چی کوم خلګ ده اللّٰه ﷻ په شریعت سره فیصلے نه کوی ده هغوئ په باره کی دسلف صالحین بیان کر ده تـفسیـرپـه تـفصیل سره بیان شوئدئـے ، صحابه رضوان اللّٰه تعلیٰ اجمعین تابعینوفقهاؤ مفسر ینواو محدثینو حضراتوؒ ده دے آیت مطلب داسی بیان کړئدئـے چی :

..... کـه ثـوك ده قـرآن ده قـانـون مـطابق فیصله واجب اونه ګنړی نوداسی کس په کفراکبرکی مبتـلاء دئـے ، اوداسی کس کافردئـے ده اسلام ده دائرے نه مکمل خارج شو، مګرکه ثوك ده قرآن په قا نـون سـره فیصله کول واجب ګنړی خوعملاًده دے مطابق فیصلے نه کوی ، اوداخپل عمل ګناه ګنړی ، نو دا بیا کفراصغردئـے چی له ملت نه انسان نه خارجه وی اوداسی کس فاسق دئـے ۔

داخبره امام صدرالدین ابن أبی العز حنفیؒ خه په تفصیل سره بیان کړے ده " اووایی چی دلته دامسئله په خه طریقه سره ایزده کول ضروری ده هغه دا چی ده الٰهی شریعت نه علاوه فیصلے کول کله داسی کفروی چی انسان ده اسلام له دائرے نه اوباسی اوکله بیاګناه کبیره یاګناه صغیره وی اوکله بیا کفرمجازی یاکفراصغروی ده دے خبری تعلق ده حاکم وخت له حالت سره وی۔

که چیرته حاکم (یایو ملك :راقم عاصم صاحب) دانظریه لری چی ده اللّٰه ﷻ ده قانون مطابق فیصلے کو ل نه دی واجب (اوده هغه دا نظریه هم ده) چی په فیصله کولوکی ده جج یاحاکم خپل اختیا ردئے (کده اللّٰه په قانون سره فیصله کوی اوکیه نه کوی په بل قا نون سره یه کوی) یایو حاکم (یاریاست) ده اللّٰه ﷻ ده قانون مطابق فیصلے کولوته اهمیت نه ورکوی ، اګرچی ده دے خبری یقین لری چی دا د ه اللّٰه ﷻ قا نون دئے ،نوداټول صورتونه ده کفراکبرغه دی یعنی داسی کفرچی انسان مرتدکیژی پرے۔

اوکه چیرته هغه ده اللّٰه ﷻ ده قانون مطابق فیصله کول خوواجب ګنړله اوپدے فیصله ده اللّٰه ﷻ ده قا نون علم هم ورته ؤاوپدے عمل سره یه خپل ځان ده عذاب مستحق هم ګنړلوخولدے ټو لو خبرونه باو جودیه بیا هم ده اللّٰه ﷻ ده قانون نه روګردانی اوکړله اودافیصله یه په بل قانون سره اوکړله ، نو داسی حا کم یاملك بیاګناهګاره دئے وه دیته به داسی کافرویل کیژی چی څوك په کفرمجازی یا کفر اصغرکی مبتلاء وی۔

اوکه پدے فیصله کی ده اللّٰه دقانون نه نه ؤخبرناواقفه ؤخومګرده الٰهی قانون علم یه حاصله ولواوحتیٰ الامکان یه کوشش کولوبیایه په فیصله کی غلطی اوکړله نودے تبه " غلطی کؤنکئے " و یل کیژی ، پدے سربه ده ده پراجتهادباندی ده ته نیکی ملاویژی اوخطابے معاف کیژی " (شرح عقیدة الطحاویة)

شیخ الاسلام امام ابن تیمیهؒ فرمایی :

" و لاریب أن من لم یعتقدوجوب الحکم بماأنز ل اللّٰه علیٰ رسوله فهو کافرفمن استحل أن یحکم بین النا س بمایراه هوعدلامن غیراتباع لماأنز ل اللّٰه فهو کافر ... "

" اوپدے خبره کی هیڅ شك هم نشته دئے چی کوم کس ده اللّٰه ﷻ په رانازل کرده شریعت سر ه ده فیصلے کولوده وجوب نظریه اونه لری (یعنی کیه دانظریه نه وه چی ده اللّٰه په قانون سره فیصلے کول واجب دی) نوداسی کس کافردئے ، اوچی څوك ده الٰهی شریعت نه علاوه یوبل نظام عدل او انصا ف او ګنړی اوده خلګوده مقدماتوفیصلے کول قانونی اوحلال اوګنړی نوداسی خلګ هم کافران دی "۔ (منها ج السنة النبویة : ۵ / ۱۳۰)

امام ابن قیمؒ فرمایی :

" والصحیح أن الحکم بغیرماأنزل اللّٰہ یتناول الکافرین ، الاصغرو الاکبربحسب حال الحاکم ..."

" اوصحی خبره داده چی ده قرآن نه علاوه په فیصلوکولوکی دوه قسمه کفرونه کیدئے شی یو وړوکئ کفربل لوئ کفراوده دے دارو مداردہ حاکم وخت پرحالت باندی دئے ..." (مدارج السالکین ص : ۲۵۹)

دمولاناصدرالدین اصلاحیؒ قول :

معروف اومشهورعالم دین مولاناصدرالدین اصلاحیؒ پخپل کتاب کی ده دے جمهوری نظام پریوڅو اساسی ستنوباندی وارکوی اوفرمایی چی :

" ده اسلامی نظام حکومت بنیادده اللّٰہ ﷻ پرحاکمیت مطلقه باندی رااوچتیژی ، اوس که چیر تـه یو دا سی دستورجوړیژی چی ده هغه اوله خبنته ده انسانی اقتداراعلیٰ اوده جمهوریت پرحاکمیت با ندی کیخودلئے کیژی نوده دے مطلب اومقصدبه لدے نه ماسوانورڅه وی هغه داچی پراولنی قدم یه ده اللّٰہ ﷻ نـه دبغاوت اعلان اوکړو، اوده دے نه وروسته ده دے دستورپه تدوین او تنفیذکی لاسونه وهل ده اللّٰہ ﷻ پـه نـاقابل منازعت حقوقوکی مداخلت دئے ،اوداسی مداخلت چی هغه صرف ده ملحد ا نو، منکرانواومشرکانوته زیب ورکوی اوداترټولونه لوئ " تعاون علیٰ الاثم والعدوان " دئے ـ

..... چی کـوم خـلگ پرخپل صوابدیداوده خپل خواهش مطابق فیصلے کوی نواللّٰہ ﷻ ده دا سی خلگو ده طرزعمل تعبیرپه کفر ، ظلم او فسق سره کړیئدئے اووایی چی :

﴿ ومن لم یَحُکم بماأنز اللّٰہ فأولٰئك هم الکافرون ....فأولٰئك هم الظالمون ..... فأولٰئك هم الفٰسقون ﴾ (المائده : ۴۴ ، ۴۵ ، ۴۷)

اوچی څوك ده اللّٰہ ﷻپـه نـازل کـرده (قرآن) سره فیصلے نه کوی نو هم داخلگ کافران دی ... ظالمان دی .... اوفاسقان دی ـ

چی کـله ده الٰهی قوانینو مطابق فیصله نه کول ده ظلم فسق اوکفرکاردئے اوس تاسوخپله اندا زه او لـگـو ئ چی ده الٰهـی قوانینو په مقابله کی ده خپل آئین اوقانون جوړۀنکی به په کومه ټولئ کی شمارل کیژی ؟ هم داسی خلگوته ده طاغوت لقب ورکول شوئے دئے :

﴿ یریدون أن یتحاکموا ألیٰ الطاغوت وقدأمروا أن یکفروابه ﴾ (النساء : ٦٠)

" دوئ داغـواړی چـی ده خپـلـی مـقدمے فیصله په طاغوت سره اوکړی حالانکه دوئ ته حکم شوئدئے چی ده طاغوت نه به تاسوانکارکوئ "

داخکاره خبرده چی دلته کی له طاغوت نه ابلیس ندئے مرادبلکه هغه یهودی سردار با لخصو ص کعب بن اشرف اویاابوبرزه اسلمی کاهن [روح المعانی] مراددی چی هغوئ بده خپل کتاب البطن ده اصو لو مطابق ده خلگوفیصلے کولے ، پداسی حال کی چی ده الٰهی قانون هم موجودؤ ـ مخته لیکی چی :

ده خلافِ شرع قانون سازئ هم داجو هری نجاست اوپلیتی ده چی ده دے په وجه علماء کرا مو دیته معصیت فاحشه ویلی دی ، ده حضرت مولاناعبدالحئ صاحب فرنگی محلی نه تپوس اوشو چی : څه خلگ ده انگریزپه خواکی باعزته اوباوقاره دی (یعنی ده انگریزپه قانون ساز مجلس کی منتخب شو یدی) اوهغوئ ده شریعت خلاف قانون جوړکړئدئے ده داسی قانون قبلول او منل اهل اسلام لره صحی دی اوکنه ؟ اوداخلگ ده دے قانون ده جوړولوپه سبب سره کافران دی اوکنه ؟ نوده جواب ور کړ لو چی :

هوالمصوب: اللّٰهﷻ په قرآن پاك کی فرمایی چی : ﴿ ومن لم یَحُکم بماأنز اللّٰه فأولٰئك هم الکافرون ﴾

نوداسی قانون چی ده شریعت نه خلاف وی ، اهل اسلام لره ده هغه قبلول حرام دی ، اوچی څو ك ده دے موافق عمل اوکړی نومقنن لره به هم گناه وی (چاچی داقانون جوړکړئدئے) اوچاچی داقانون ایجاد کړئدئے هغه که چیرته شرعی قانون بدگنړلودمصلحت خلاف یه گنړلواوغیرکافی یه گنړلو نوداسی موجداومقنن بیاکافردئے .... اوکیه الٰهی قانون بدنه گنړلوبیااگرچی کافر نه دئے مگرډیرلوئ فاسق دئے ـ (فتاویٰ مطبوعه مطبعِ یوسفی : ۲ / ۴۸ ، ۴۹)

هم دغه رنگه په مخکی ورځوکی چی کله په هندوستان کی طاغوت برطانیے دادِ فرمانروائی ور کولو نوپریوخاص موقع باندی پنځه سره [۵۰۰] ده امت ده علماؤپه دسخطونوسره دافتویٰ جاری شوه چی په کونسلونو(پارلیمان) کی شرکت کول حرام دی ، اوده دے یه ډیروجو هات خودلی دی په هغوئ کی د ه نورو عارضی اووختی وجو هاتویوه بنیادی اومستقله وجه داوه چی :

" په کونسل کی اکثره ده شریعت خلاف قوانین جوړیژی ، چی ده هغوئ تحریك یاتا ئید او یا پرهغوئ با ندی سکوت اختیاره ول سره ده دے نه چی مخالفت قدرت درسره هم وی نوداسی کا ریو مسلمان لره جا ئزنه دی ..." ده دنیاپه تاریخ کی به شایدداولنئ فتویٰ وی چی په دومره اهتمام سره شا ئع شوه چی ده پنځوپنځوسؤعلماؤمهرتصدیق باندی ثبت شو ، اوحقیقت دادئے چی دا مسئله هم ده د ے شان او اهمیت قابله ده ، زکه چی ده دین نه ناواقفه اوده مغرب زده مسلمانانویوه ډله پدے طاغوتی پارلیمانو نوکی ده شرکت هیڅ قسم قباحت اوعارهم نه گنړی ـ (*نظام طاغوت سے براءت ص:۱۷تا۲۰*)

ده پاکستان ده آئین مطابق ده دے کفری ریاست رِټ قائمه ول فوج خپله فریضه ګنړی ، ده قوت اوطاقت لرلونه باوجودده نفاذشریعت نه انکارکوی ، بلکه ده دے پرعکس ده کفرنظام اوقانون نافذه وی ، اوداسی کول ده ټولوا هل علموپه نزدکفردئے ، پردے مو ضوع باندی ده برصغیرده علماؤ څه قوال ذکرکؤ ـ

دمولانااشرف علی تهانویؒ قول !

ده تیری صدئے معروف فقیه ومفسراوده دیوبندده اکابرینونه حکیم الامت حضرت مولانااشرف علی تهانوی باباپخپل مختصرکتا ب " جزل الکلام فی عزل الامام " ده حاکم وخت ده فسق اقسام ذکرکوی او فر ما یی چی :

" والقسم السابع : أن یرتکب فسقاً متعدیاًألی دین الناس ، فیکرههم علیٰ المعاصی ....الخ "

" (ده عبارت ده اوژدوالی په وجه سره موژصرف ترجمه رانقل کؤ) اووم قسم : دادئے چی حاکم ده داسی فسق مرتکب وی (چی فسق ده ده ترذاته پوری محدوده نه وی بلکه) ده خلګوپردین باندی هم اثرکوی ، مثلًا هغوئ پرګنا هونوباندی مجبوره کوی ، ده جبراواکراه په وجه سره احکامات باندی لاګو کوی ، دا جبراواکراه کله حقیقتاً اوکله حکماً په کفرکی داخلیژی ـ

مثلًا چی کله حاکم ده شریعت سره متصادم قوا نینوپرنفاذباندی مصرپاتے شی نواوس که دا خلاف شرع قوانین پدے وجه نافذه ول چی د اقوانین یه ده شریعت ترقوانینوبهترګنړی داخوصریح کفر دئے ، اوکیه خپلوقوانینوته پرشریعت با ند ی اهمیت او فوقیت نه ورکولوخو مګرده شرعی نظام په نفاذکیه سستی اولاپرواهی کوله اوغالب ګمان داؤ چی ده اسلامی نظام ده ډیرتعطل په وجه سره اوده خلاف شرع نظام ده نفاذپه نتیجه کی بده خلګوده زړونونه ده شریعت عظمت اووځی ... نوداسی سستی او لاپرواهی اګرچی صریح کفر ندئے چی ده دے وه مرتکب ته دی کافراوویلئے شی . لیکن ده دے حکم شرعی په اعتبارسربه په کفرکی داخل شمارل کیژی ، اوده دے خبری دلیل تهانویؒ داپیشه وی چی زمو ژفقهاؤلیکلی دی چی که چیرته ده یوے علا قے خلګ ده اذان ده کولونه انکار اوکړی نوده دے علا قے ده خلګوپه خلاف به جنګ اوقتال کول جا ئزوی ، زکه چی اذان ده دین اسلام ده شعائرونه دئے اوده دے ده پریخودلوپه وجه سره ده دے عظمت اوا همیت ختم کیژی ده تفصیل لپاره " ردالمختار باب الاذان " اوګورئ ،

بس پدے صورت کی به دااووم قسم هم په دریم قسم یعنی کفرِبواح (کفرصریح) کی شا مل ګنړ لئے کیژی اوده کفربواح په صورت کی پرحاکم وخت باندی خروج کول جائزدی " (تکملة فتح الملهم

بشرح صحیح المسلم جلد ۳ کتاب الامارت)

دشیخ الاسلام مفتی اعظم پاکستان مولاناتقی عثمانی صاحب قول :

تقی عثمانی صاحب ده مسلم شریف په شرح کی ده فسق په اقساموکی لیکی چی :

" والثانی : ماکان متعدیاً، وذالك بترویج مظاهر الکفروأقامة شعائره ، وتحکیم قوانینه ، واستخفاف احکام الدین ، والامتناع عن تحکیم شرع اللّٰه مع القدرة علیٰ ذالك لأستقباحه ، وتفضیل غیرشرع اللّٰه علیه ، فهٰذا ما یلحق با لکفر البواح ، ویجوزحینئذٍ الخروج بشروطهٖ "

(ده حاکم ده فسق) دویم قسم : دادئے چی هغه فسق ده هغه ترذاته پوری محدوده نه وی بلکه پر نورو با ندی هم اثرکوی ... یعنی هغه ده کفرمظاهروته ترویج ورکړی ، ده کفرشعائرقائم کړی ، ده کفر ی قو انینو مطابق فیصلے کوی ، ده شرعی احکاماتوتحقیراو کړی ، ده قدرت اوطاقت باوجوددده نه خو ښیدوپه وجه سره ده الٰهی شریعت نه نافذه وی ، ده رب العٰلمین پرشریعت باندی نوروقوا نینوته ترجیح و رکوی ، ده فسق داقسم به په کفربواح کی شامل اوداخل ګنړلئے کیژی اوپه داسی صورتحال کی خروج ده خپلو شرا ئطو سره جائزدئے " ۔ (حواله سابقه)

دمولاناامین اللّٰه پشاوری صاحب فتویٰ :

دمشهوراهل حدیث عالم دین مولاناامین اللّٰه پشا وری نه دا سی خلګوپه باره کی تپو س اوشو چی څوك ده اللّٰهﷻ ده رانازل کرده شریعت مطابق فیصلے نه کوی ، (ده اوژدوالی په وجه سره ده عربیٔ عبارت نه رانقل کوم) حالانکه ده دے قدرت هم لری اوده مسلمانئ د عویٰ هم کوی ، بیاصرف پردے اکتفاهم نه کوی بلکه التهاده داسی کفری قو انینومطابق فیصلے کوی چی اکثره دفعے اوقوانین یه ده شریعت سره متصادم وی ، اوبل داخلګ ده شرعی اصو لوده عامه ولو کوشش هم نه کوی ، نه پد ے با ر کی څه سوچ اوفکرکوی .... اوچی څوك ده دوئ ده و ضعی خو د سا خته قانون مخالفت اوکړ ی نودا سی کس بیاګرفتاره کوی نیسی یه اووژنی یه ۔

نومهربانی اوکړه موژته او خایه چی آیاداسی خلګ ده دین نه خارجه کافران دی اوکه صرف ګنهګاره مسلمانان دی ؟ اللّٰهﷻ دی ستاسوپه علم اوعمرکی برکت واچوی " !

ده جواب په سلسله کی پردے اهمی موضوع باندی دئے لاندینئ جرئت مندانه فتویٰ ورکوی چی ده د ده ایمانی جرئت ثبوت دئے اللّٰهﷻ دی ده ته ډیره خه بدله ورکړی نودئے لیکی چی :

" تول تعریفونه اللّٰه لره دی اوده اللّٰه ﷻ رحمتونه اوسلامتیادی وی پرخپل نبی ﷺ باندی ، د هغه پرآل با ندی ده هغه اصحابواو خلفاؤباندی ..... امابعد:

بلاشك اوشبه یوداسی اسلامی خلافت قائمه ول چی هغه ده اللّٰه ﷻ رانازل کرده شریعت په مکمل ډول سره نافذکړی داده اهمو دینی واجباتونه دی ، اوپرهرمسلمان باندی ده خپل وس مطابق ده د ے لپاره سعی اوکوشش کول فرض دی ، په هم دے وجه صحا به کرامؓ ترهغه وخته پوری ده نبی کریم ﷺ تد فین اونه کړوچی ترڅوده خلیفه ده ټاکلونه فارغه شوی نه ؤ ، نواول یه خلیفه اوټا کلوبیایه ورو سته ده نبی اکرم ﷺ جسدمبارك دفن کړو۔

خه پوئ شئ ! چی په الٰهی شریعت سره ده فیصلونه کؤنکودوه قسمونه دی :

اول قسم : هغه کس چی اسلام منی اوپردے خبره یه هم ایمان وی چی اللّٰه ﷻ څه هم رانازل کړی دی هغه ټول حق اوسچ دی ، اوداعقیده هم لری چی الٰهی شریعت لره پربل هرشریعت اوقانون با ند ی په هرا عتبا رسره فضیلت اوفوقیت حاصل دئے ، اوبیاده دا سی سوچ اوفکروالاکس ده خپلوخوا هشاتوپه اتبا ع کی یاده عصبیت ده جذبے نه مغلوبه شی اوپه یوه جزئی اوانفرادی مسئله کی ده شر یعت نه علاوه په بل قانون سره فیصله اوکړی اوبیاپردے کارباندی شرمنده اوخپیمانه هم وی اوداعقیده هم لری چی ځما داکارقطعی غلط دئے۔

داسی کس ته ده خوارجونه علاوه بل څوك کافرنه وایی هغوئ داسی کس هم ده ملت نه خار جه ګنړی ، اوکومومفسرینو چی ده دے آیت ﴿ ومن لم یَحکم بماأنزل اللّٰه فأولئك هم الکافرون ﴾ (نه دا مطلب اخستے دئے چی څوك ده اللّٰه ﷻ ده قانون نه علاوه په بل قانون سره فیصله اوکړی نو هغه نه کافرکیږی دهغوئ داحکم ده داسی کس په باره کی دئے ده کوم تفصیل چی موږبالابیان کړو ۔

دویم قسم : هغه کس چی هغه ته مکمل قدرت اواختیارحاصل وی ، اللّٰه ﷻ حکومت اوا قتدارورکړ ئے وی ، اوکه چیرته اوغوا ړی نوپه یوه یوه ورځ کی دننه دننه ټول حکومتی عهدیداران معزوله کولئ شی ..... اوده دے نه باوجودده اللّٰه ﷻ ده شریعت مطابق فیصلے نه کوی ، نه پدے باره کی څه سوچ فکر او کوشش کوی بلکه ده دے په مقابله کی ده انسانانوده جوړکړل شوی قانون مطابق پر خلګوباندی حکو مت کوی ، اګرچی هغه بلکلیه ده شریعت سره متصادم وی اویاده هغوئ اکثریت ده شریعت نه خلاف و ی ، اوبل داکس یوشرعی حکم هله باقی پریژدی چی کله ده ده له خواهش سره ټکر نه لری ، مثلاًلکه ده خلګونه زکوٰة ، عشراو خراج وغیره اخستل داحکم باقی پرے خودل (زکه چی ده د ے په نتیجه کی خو حکومت ته ډیرمالونه حاصلیژی) ۔

اوهم دغه شانتے هغه شرعی احکامات هم با قی پریژدی چی ده کو موګنجائش ده دوئ په کفر ی اوانسانی قانون کی وی ده دوئ له قانون سره تضادنه لری ، اودوئ داشرعی احکامات پدے وجه نه پر

یـژدی چـی دااُلهی حکومونه دی بلکه پدے وجه یه باقی پرے یخی و ی چی د ه دوئ په (مذمومو) مقا صـدوکی څه رکاوټ اوخنډنه واقع کیژی ، نوپدے خبره کی هیڅ شك هم نشته دئے چی داسی کس کا فـرمـرتـداوخارج من الاسلام دئے ، ده داسی سړی په باره کی ده نبی کریم ﷺداقول صادق راځی چی : " حتّٰی ترَوامنهم کفراً بواحاً " یعنی " چی کله ته دا حکمرا نان په صریح کفرکی مبتلاء اووینے (نو هله بیا ده دوئ پـه خلاف توره رااوچته وه) " ـ بغیرده څه شك نه داسی کس ده کفربواح مرتکب اوکافردئے اود توبے ده دعوت ورکولونه پس یه وژل واجب دی "ـ

(فتاویٰ الدین الخا لص : ۲ / ۱٦۳)

دمولاناولی اللّٰه کابلګرامی صاحب یوقیمتی اقتباس:

مولاناولی اللّٰه کابل ګرامی شهیدؒ په مالاکنډکی ده نفاذشریعت ده مطالبے کؤنکوسره ده حکو مـت او فو ج ده ظا لما نه سلوك نقشه راکش کوی په سنه ۱۴۲۱ھ بمطابق ۱۹۹۸ء لاندی خبری لیکی ده ده داا قتبا س چی پرکـو موفوائدواونکاتوباند ی مشتمل دئے لدے نه دامعلومیژی چی ده پاکستانی فـوج له دین سره دشمنی کول دایوڅه نوئے کارنه دئے ، ده دے مرتد لشکرتاریخ خوده داسی تور وکار نا مـونـه ډك د ئـے ، البتـه مـلکی ذرائع ابلاغ ده فوج دے تورن کرداربانـدی پرده اچولے ده نودئے فر مایی چی :

" المسلمون فی مالاکندو مایتعلق بهاطالبوا الدولة بتطبیق الشرع المحمدی ﷺعلیٰ شعب الحیاة البشر یة کلها منذزمان ...الخ "

" مـالاکـنـډاوده هـغـے سره ده ملحقه علاقو مسلمانانوتریوے عرصے پوری ده حکومت نه دا مـطالبه کوله چی ده زندګئ په ټولو شعبوکی دی شریعت محمدی ﷺنافذکړلئے شی ، مګرترننه پو ر ی حـکـومـت د ے طـرف تـه هیڅ عملی قدم هم نه دئے اوچت کړئے ، ګویاکه ده دوئ په نظرسره هم دا اسلا می ریاست نه دئے ، اوحالانکه دوئ خوبالعموم دادعویٰ لری چی پاکستان یوا سلا می ریاست دئے ، بلکه دوئ خو یه ده اسلام قلعه ثابته وی ـ

دحکومت خاوندان چی هرڅه اووایی نو حقیقت هم دادئے چی نه خوپاکستان یواسلامی ملك دئـے ، اونـه هـم پـه یـوه طـریـقـه سره دے تـه دارالاسـلام ویل کیدئے شی ، زکه چی ده دے ملك دستو رکفری د ستوردئے ، صرف په لمانځه روژے ده جمعے او عید ینو په اداکولوسره یو ملك اویوه خطه دار الاسـلام نـه جـوړیـژی ، کـه محض لمونځ اوروژه دارالاسلام جوړیدولره کافی شی نوبیاخوده یورپ او مر یکے هم ډ یری علاقے دارلاسلام ګنړلئے کیژی،﴿ داپه هغه ورځ ده ایمان په نسبت کفرته ډیرنزدے ؤپه

خولوسره هغه خبری کوی چی په زړونوکی یه نشته دئے اوچی کوم څه دوئ پټه وئ په هغے سره اللّٰه ډیرښه خبرداره دئے ﴾ (آلعمران : ١٦٧)

بیا چی کله حکومت زورمحسوس کړلواوبله چاره ورته پاتے نه شوه نوظاهراًیه دامطالبه او منله خوپه زړه یه اونه منله ، نوحکومت په کاغذی کاروائی سره ده زندگئ په ټولوشعبوکی ده شریعت ده نفاذاعلان اوکړو، ﴿ کـه چیرته دوئ واقعی ده تلواراده کړے وئ نوبیابے ضروربالضرورڅه سامان تیاره ولو﴾ (التو به :٤٦)

﴿ داپدے وجه چی اللّٰه کوم څیزرانازل کړئے ؤدوئ هغه ناخوښه اوگنړلونوزکه اللّٰه ده دوئ اعمال حبط کړل ﴾ (محمد:٩)

مگرچی کله ده یوه اوگدمدت تیریدلونه وروسته هم پردے اعلان باندی عمل اونه شونوده نفا ذشریعت دامطالبه دویم دریم ځل بیاتکرارشوله ، آخرکارده دے شرعی مطالبے په جواب کی ده ملك ده مختلفوعلاقونه فوج راجمع شولواوده مالاکنډ پر مسلمانانویه حمله اوکړله ،ده هغوئ په خلا ف یه جنگ شروع کړوهغوئ په قتل کړل گرفتاره یه کړل اوپه هره طریقه سره یه اذیت وراورسولو، الحمدللّٰه د ے نه باوجودهم خلگ لدے خپلی مطالبے هه شاته نه شو، چی کله حکومت دا او لید لونودویم ځل یه فوج ته اشاره اوکړله چی (هغوئ دی دوباره ده شریعت ده نفاذمطالبه کؤنکی) مسلما نان قتل او گر فتاره کړی ، ده حکمرانانواوفو جیانوداطرزعمل څه نوئے کارنه ؤبلکه ده دوئ فرعونی " اسلاف " هم پردے لاره باندی قائم ؤ﴿ اوده فرعون په قوم کی چی کوم سردارؤ هغه فرعون ته اویل چی آیاته به مو سیٰ اوده هغه قوم هم دغه رنگه پرے ژدے چی هغوئ به په ملك کی فسادخوروی اوستا سو معبودان به پریژدی ، نو هغه اوویل چی موژبه ده دوئ هلکان اووژنواوخزی بیه ژوندئے پرے ژدواوبغیرده څه شك نه موژپر دوئ غالبه یو﴾ (الاعراف : ١٢٧)

نودوئ خپل لشکرمنظم کرواوپرمسلمانانویه حمله اوکړله ، هرقسم اسلحه یه باندی وه آزما یله ،گوله بارود، توپونه ، ټینکونه او نوره هرقسم اسلحه یه استعمال کړله ، مسلمانان یه قتل کړل ، ده هغوئ مال اودولت یه اوسیزلو، داسی معامله یه ورسره اوکړه لکه چی ده اهل ماسکویااهل بهارت سر یه چی جنگ وی ، دے بدبختانوخوجماتونه مسجدونه مدرسے هم معاف نه کړلے مسلمانان یه شهیدا ن کړل ، اللّٰه ﷻ دی پردے ټولوشهیدانوباندی رحم اوکړی ، اللّٰه ﷻ دی ده دوئ په نسلونوکی برکت وا چوی او دو ئ ته دی په دنیااوآخرت کی بهترینه جزاورکړی ـ

چی چاده دوئ په خلاف جنگ کړئے وی چی چاده د ے جنگ حکم ورکړئے وی اللّٰه ﷻ دی

هغوئ ټول تباه کړی ! الله ﷻ دی زرے زرے کړی ، ده دوئ وحدت اواتفاق دی الله ﷻ پاره پاره کړی ، پرزمکه دی یه یوکورهم باقی پاتے نه کړی ، اوده دا سی خونه د ی الله ﷻ تباه کړی چی ده دوئ سوچ اوخیال هم نه وی ! الله ﷻ دی ده هرهغ مسلمان نصرت اوکړی چی څوك ده ده ددین نصرت کوی ، اوموژدی هم الله ﷻ پداسی اتلانوکی شمارکړی ! الله ﷻ دی هرهغه کس رسوااوذلیله کړی چی څوده ده دین پریژدی اوموژدی هم الله ﷻ ترے نه اوساتی !

دفوج ده ظلم اوستم په وجه سره ډیرومسلمانانو هجرت اوکړوخپل کورمال اودولت اهل او عیال دایه ټول پرے خودل ، ده دوئ په عدم موجودګئ کی فوجیانوده دوئ کورونه اوسیزل مالونه یه لوټ کړل ، ده دوئ اهل وعیال حتی چی خزواوورومشومانوتیه هم لیااذیتونه اورسول ، لکه څنګه چی یه په باجوړ کی اوکړل ، حکومت ده دے تحریك ډیرقائدین ګرفتاره کړل ، نظربنده یه کړل اوده خپلی علاقے نه یه بهر ته ده تلونه منع کړل ، پته نه لګی چی ترڅوبه داذلت ورباندی مسلط وی .... اوان شاء الله العزیز چی ده الله ﷻ په نزدبه داعزت ګنړلئے کیژی ، بیاحکومت صرف پردے باندی اکتفاء اونه کړله بلکه پر هر قسم دعوتی چاروباندی یه پابندی اولګوله ، حتیٰ چی په جماتونوکی یه ده جمعے په ورځ محض ده اذا ن کولواجازت ورکولو۔

نومقصددادئے چی ده خلګو یه په هره طریقه سره ده خوفزده کو لوکوشش او کړلو، هرهغه کس چی ده هغه پرسربه توره لنګوټه توړپټکئے ؤاویابیه اسلا می بیرغ پر کوراودرولئے ؤدایه ټول ګرفتاره کړل ، بلکه په ابتداء کی خویه ده غټوګیرووالا هم اونیول ، کابلګرامی صاحب فرما یی چی ماته بعضے خلګواویل چی په ابتدائی ورځوکی به پولیس اوفوجیانوګاډئے (مو ټر) او درو لو اوتپوس بیه کولو چی پتا سوکی څوك ده نفاذاسلام مطابله کوی ؟ ډیرخلګ به ده دوئ ده ظلم په وجه سره چپ پاتے شواوچاچی به جواب ورکړونوهغه بیه پرزمکه راکاګلو (راکشولوبیه) ده ګاډی بیه را خکته کړلو، اوبیه وهلواوجیل ته بیه یووړلو، الله ﷻ خه پوهیژی چی حقیقتاً به دامعامله څنګه وه لیکن چی موژده دوئ کوم جرائم اولیدل نوپدے وجه موژویلئے شوچی ده داسی کارکیدل هم ده دوئ نه څه بعیده نه ده ـــ ده دے ټولو مظالمونه باوجودهم ده مالاکنډاوملحقه علاقوخلګ ده خپلی شرعی مطا لبے نه یوقدم هم شاته نه شو لو، هغوئ ته پته وه چی دامکاره اودوکه بازه حکومت دئے ، نه شریعت نا فذه وی اونیه خوښه وی ـ (اعلام الاعلام بمفهوم الدین و الاسلام اورفع الحجاب عن مضار الجمهو رية و الانتخاب ص : ۳۳۳ ، ۳۳٤)

حکم بغیر ماأنزل الله یوځل کول اویادد ے عادت جوړه ول

حکم بغیرماأنز ل الله یوځل کول اوده یومخ عادت جوړولو کی فرق اوداده آئین " شریعت " په ډول سره په ملك کی نافذه ول نوده دے فرق پیژندل هم ضروری دی :

الف : یوصورت دادئے چی په ټول ملك کی شرعی اواسلامی حکومت وی ټولی معاملے په قرآنی قانون سره حل کیږی مگرصرف په یوه معامله کی ده قرآن نه علاوه په بل قانون سره فیصله اوشی ـ

ب : دویم صورت دادئے چی په ملك کی اسلامی شریعت وی خولدے نه باوجودداعادت جوړ شوئے وی چی فیصلے ده قرآن نه علاوه په بل قانون سره کوی ـ

ج : دریم صورت دادئے چی په ملك کی ده اسلامی حکومت نوم هم نه وی بلکه ده اسلا می شریعت پرځائے یه خپل نظام رائج کړئے وی اوعدالتونه ده هم هغه نظام لاندی ده وفاداریٔ قسمو نه خوری اوهم په هغه نظام سره فیصلے هم کوی ـ

ده کفراکبریاکفراصغربحث اوتفریق ده داسی ریاست ملك حاکم اوجج په باره کی دئے چی په ملك کی اسلامی نظام وی خوصرف په یوه معامله کی ده قرآن نه علاوه فیصله اوشی ، نوداتفریق ده دے جرم له اولنی صورت سره تعلق لری ـ

زکه داخبرده پیژندلووړده چی ده دویم صورت په کفرکی خوده یوه درباری مفتی اوعالم هم څه شك نشته دئے ، اودریم صورت هم ده کفراکبرډیرپلیت شکل دئے ، ده الله ﷻ سره دومره لوئ کفرخوده بنی اسرائیلویهودوهم نه ؤکړئ ، ده هغوئ ده فیصلو مأخذاومرجع هم وحی (یعنی تورات) ولو، اوده د ے نوی ابلیسی جمهوریت مرجع اومأخذده الله ﷻ ده شریعت په مقابله کی ده غیرالله (پارلیمنټ) شریعت دئے ، نوداسی صریح کفراسلام ثابته ول ده خپل ایمان ده حبط اوختمیدلوخبرده دا سی کفرده عو امومخته نه بیان ول هم بدترین کتمان حق دئے ـ

دومن لم یحکم بماأنزل الله متعلق ده فقهاء امت اقوال

ده قرآن نه علاوه په بل قانون سره ده فیصلے کولوبحث فقهاء امت په ښه آسان اندازکی بیان کړئدئے د ه قارئینوده سهولت پربناء موژدلته دابحث هم ذکرکؤ بتوفیق الله عزوجل ـ

کفراکبر :

ا :ـ ده دے خویوتعریف امام صدرالدین حنفیؒ کړئے ؤلدے نه علاوه که چیرته یوکس دا نظریه او عقیده اولری چی په موجوده زمانه کی ده اسلامی شریعت مطابق ده غله لاس پریکول غو څو

ل ، زانی سنګسارول یاکوړے ورکول ، ده بین الاقوامی تعلقاتو بنیادپرقرآن اوسنت باندی برابره ول ، قتا ل فی سبیل اللّٰه کول ..... مناسب نه دی ، یاقابل عمل نه دی ، یاپردے باندی عمل کول بے عزتی شر مندګی اودعالمی برادرئ تو هین اوسپکاوئ اوګنړی ، یاده اللّٰه ﷻ په حدودوکی ترمیم کول جائزاوګنړی ، یاعملاً تر میم اوکړی ، یادانظریه اولری چی ده خلګوداموجوده جمهوری نظام ډیرمناسب دئے ده اوسنی دور لپا ره ، ..... نوداټولی نظریی ده هغ کفراکبردی چی انسان ده اسلام ده دائرے نه اوباسی زکه چی د ے کس خوده نبی ﷺ راوړلئے شوئے شریعت بداوګنړلواوده غیراللّٰه ﷻ شریعت یه خه اوګنړلو ـ

ب :ـ ده کفراکبربل صورت دادئے چی یوکس ده اللّٰه ﷻ قوانین هم ښه اوګنړی مګرجمهوری آئین تردے نه لژډیرقابل عمل اوګنړی ـ

ج :ـ یاجمهوری نظام ده نفاذشریعت سره برابراوګنړی ده " ب او ج " حکم یوشانتے دئے یعنی دا دواړه قسم خلګ په کفراکبرکی مبتلاء د ی زکه چی ده اللّٰه ﷻ ده قانون په مقابله کی یوبل قانون ښه ګنړل ، یایه ده دے برابرګنړل داپه حقیقت کی ده اللّٰه ﷻ ده رانازل کرده قانون تردیددئے ـ

د :ـ یاده محمدعربی ﷺ ده شریعت په نافذولوکی اوګده اوګده تاریخونه ورکوی اوبهانی باز یانی کوی ده شریعت بل پرتنفیذبه میټنګونه اومشورے کوی بیابه مخالفت ترے نه کوی یاا نکار اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ ثم أعرض عنهاأنّامن المجرمین منتقمون ﴾ (السجده : ۲۲)

بیایه ده دے دین نه اعراض اوکړلوبے شکه چی موژله مجرمانونه انتقام اخستونکی یو ـ

داصورت هم ده کفراکبرغه دئے ، ده نفاذشریعت نه انکارکول یامخالفت ترے نه کول ، یاتر ډیر ی مودی پوری ټال متول ورسره کول ، ده دے ټولوخبروحکم فقهاؤیوشانتے بیان کړئدئے ، داده فقهی د ه کتا بو نومشهوری مسئلے دی چی ده هرمسلك په کتابونواو فتاؤکی پیداکیدئے شی ، خصوصاًده حضرت مولانامحمداشرف علی تهانوی ؒ ده امدادالفتاویٰ په اووم جلدکی ده مولاناتقی عثمانی صاحب ده مسلم شریف شرحه " تکمله فتح الملهم " په کتاب الامارت کی یه لیدلئ شئ ـ

مشهورحنفی فقیه علامه ابن نجیم ؒ فرمایلی دی چی

" فیَکفرأذا.... سخربأمرمن أوامره .... أوجعل له شریکاً ..."

" اوکه چیرته هغه ده اللّٰه ﷻ ده یوه حکم هم تحقیراوسپکاوئ اوکړویایه ده اللّٰه سره څوك شر یك او نیو لونوبه کافرکیژی " داخبره یادساتئ چی په قانون سازی کی څوك هم ده اللّٰه ﷻ سره شریك جوړول دا کفراکبردئے اوداجمهوری نظام خویه صرف شریك هم ندئے جوړکړئے بلکه " نعوذباللّٰه "

ټول او مکمل حق یه (پارلیمنټ) ته ورکړئدئے ۔

" وکذایکفر الجمیع لأستخفافهم بالشرع ... "

هم دغه رنګه به هغه ټول خلګ هم کافران وی چی څوك شریعت حقیراوسپك ګنړی ۔

" ولو صغر الفقیه أو العلویَّ قاصداً الأستخفاف بالدین کَفَر ...."

اوکیه ده شریعت ده بے حیثیته ګنړلوپه وجه سره فقیه کمتراوګنړلونو هم یه کفراوکړو ۔ (البحرالرائق)

غورکوئ ! پدے نظام کی ده عالم نه بلکه ده مطلقی سپینی جامے څه حیثیت اوعزت دئے او ده جج او وکیل کوم مقام دئے ؟ ده نفاذشریعت اوده هغه ده مطالبے کؤنکوسره څه کیژی ؟ ده عدالت او پارلمینټ په مینځ کی اسلامی دفعے څنګه دلته او هلته او لی رااولی ، عدالت یده پارلیمنټ وه خواته ورخوشی کوی پارلیمنټ یه ده اسلامی نظریاتی کونسل وه خواته ورولی شپژ میا شتی یه شریعت بل په پارلیمنټ کی یوبل ګوټ " کونج " ته ویشتو مشورے اومینټګونه یه پرے کول آیاداده شریعت محمدی ﷺ تحقیرسپکاوئ اوتوهین نه دئے نوکه دا هم مذاق اومسخرے نه شی بیادمذاق تعریف څه دئے ؟

خلاصه بحث

دابحث ډیراوګدؤنوزکه موده قارئینوده آسانتیالپاره په وضاحت سره ده نکتوپه شکل کی ده ټول بحث خلاصه دلته کی په اجمالی ډول سره ذکرکؤده دے بحث نه داخبره ډیره په واضحه توګه سره معلو میژ ی چی ده اللّٰه ﷻ ده شریعت نه علاوه په بل قانون سره ده فیصلے کولودوه غټ صورتونه او شکلونه دی ۔

شکل اول

ده دے اولنی شکل دوه صورتونه دی یعنی ده دے جرم هغه صورت چی ګناه عظیمه خوده ده مګرده اسلام له دائرے نه انسان نه پرے اوځی هغه شکل په لاندی ډول سره اوګورئ :

۞ :ـــ یودا چی په مجموعی حیثیت سره شرعی نظام نافذوی اوداسی قاضی وی چی شرعی قوانین وا جب العمل ګنړی ، اوده دے په پرے خودلوسره خپل ځان ګناهګاره ګنړی ، نوپداسی حال کی په یوه نیمه واقعه یامقدمه کی ده قرآن نه علاوه ده خپل نفسانی خواهش پربناء یاداقرباء پروری پربناء یا ده رشوت خوری پربناء په بل قانون سره فیصله اوکړی نودا هم اګرچه سنګین جرم دئے مګرله دین نه انسان نه اوباسی خوفاسق اوظالم ګرځی اوچی ډیره سخته شی نوده کفراصغرمرتکب به ګنړلئے کیژی ۔

۞ :ـ دویم دا چی ټول نظام عدلیه اونظام حکومت داسی وی چی شرعی احکامات په مجمو عی حیثیت سره پکی معطل وی اوده انسانانو خپل جوړکرده قوانین پکی نافذوی ، قاضیان اوججان ده دے انسانی قانون مطابق فیصلے کوی خوخپل ځانونه په سخته ګناه کی مبتلاء ګنړی ، پدے انسانی نظام سره نه وی راضی صرف پدے نیت سره پکی برخمن وی چی ده اختیارخاوندان ده دے نه سوابل قا نون نه نافذه وی ، نوپدے وجه ده عوام الناس ده خپلو جائزوحقوقوده رااخستلولپاره اضطراراًپدے نظام کی کارکوی ، اوچی کله هم ده شرعی قوانینوده نظام موقع ورته ملاوشی بیاده سترګوده رپ په مقدا رهم تعطل پکی نه کوی ـ

داسی کس جج اوقاضی هم ده کفراصغر مرتکب ګنړلئے کیژی داهم ډ یر خطرناك صورت د ئے خومګرله دین نه انسان نه باندی خار جیژی ، بلکه ده دے مرتکب به هم فاسق او ظالم شمارل کیژی د داسی کس ګواهی اوشهادت به نه قبلیژی دانوکری به هم حرا مه وی اوتنخوابه یه هم حرامه وی ـ

شکل ثانی

دویم شکل هغه دئے چی سړئے په کافرکیژی اوله دین اسلام نه ده دے په وجه سره اوځی ده د ے هم یو څوصورتونه دی :

۞ :ـ اول صورت دادئے چی اسلامی حکومت وی جج اوقاضی په نوروټولواموروکی ده شرعی احکاماتو مطابق فیصلے کو ی مګریویاتریوه نه زیات شرعی حکم یه بغیرده څه قابل قبول شرعی عذرنه تردیری مودے پوری معطل کړئے وی اوده دے شرعی حکم پرځائے په بل قانون سره فیصلے کوی نوداصورت ده کفراکبرغه دئے ـ

۞ :ـ دویم صورت دادئے چی هم داقاضی په نوروټولواموروکی ده شریعت ده قانون موافق فیصلے کوی مګریونیم شرعی قطعی حکم سپك اوحقیراوګنړی یاده دے اوسنی دورلپاره نامناسبه او فرسوده او ګنړی اوده غیراللّٰه قانون لدے نه خه بهتراوګنړی نوپدے وجه پدے شرعی حکم سر ه فیصله اونه کړی نوداصورت هم ده کفراکبرغه دئے ـ

۞ :ـ دریم صورت دادئے چی په ټول ملك کی ده شرعی اواسلامی نظام خوب لیدل حرام وی او شرعی حکمونه په مجمو عی حیثیت سره معطل وی دقرآنی قانون پرځائے انسانی قوا نین نا فذا لعمل وی قاضیان اوججان وخت هم ده دے انسانی قوا نینومطابق فیصلے کوی هیڅ ګناه یه هم نه ګنړی اونه څه قابل قبول شرعی عذرلری داصورت هم ده کفراکبرغه دئے یعنی داسی کفر چی انسان له دین اسلام نه پرے اوځی ـ

موجوده جمهوری عدالتونه اوججان

دموجوده جمهوری نظام عدالتونه صرف په هغه قانون سره فیصله کول واجب ګڼړی چی کو م قانون ده دوئ ده جمهوری آئین حصه وی ده دے نه علاوه په بل قانون سره فیصلے کول دوئ حرام او غیر قا نونی ګڼړی اودومره قدرحرام یه ګڼړی چی ده دے نه ماسوابل قانون (اګرکه ده اللّٰه قرآنی قانون و لی نه و ی) ویل اوایزده کول دوئ ده وخت ضیا ع ګڼړی ، ده دوئ په کالجونوکی هم داجمهوری قانون و یل کیژ ی اوپرهم دے باندی ده مقدمے چلولواوجج جوړیدلوسندورکوی ۔

ده دے په مقابله کی که ده اللّٰه ﷻ د ه قانون هرڅومره لوئ عالم یامفتی وی هغه ده دوئ په نزده دے هم ندئے قابل اومستحق چی ده و کا لت یاجج سندورله ورکړی ، بلکه داخلګ خوعلماء جاهلان اوحقیره ګڼړی ، پدے سره ده دوئ ده عقید ے اندازه لګول ده اهل علموحضراتولپاره هیڅ ګرانه خبرنده چی دوئ پرکوم قانون باندی ایمان راوړ ئد ئے پرالٰهی قانون یه ایمان راوړئدئے اوکیه پردے خپل جمهوری بت ایمان راوړ ئے دئے ؟ اوکه څوك بیا هم پردے خبره ضدیان دی چی داسی ججان په کفراکبرکی نه شماری اوده کفراصغرپه درجه کی یه ګڼړ ی نوده کفراصغرپه صورت کی خو هم امام ابن ابی العزحنفیؒ داشرط بیان کړئے ؤ " چی ده غیراللّٰه په قانون سره فیصله کؤنکئے به دایقین لری چی زه ده عذا ب مستحق یم " ؟

اوتاسوخولژده دے جمهوری نظام تحت چلیدونکی عدالتونه اوده ججانو حالات څه ملاحظه کړئ چی هغوئ په څومره ضد یّت اوتعنت سره ده قرآن قانون نه علاوه فیصلے کوی خپل ځان ده عذا ب مستحق ګڼړل داخوډیره لیری خبرده هغوئ خوخپل ځانو نه منصفان ، قاضیان ، ججا ن ، اوده اللّٰه ﷻ و لیان ګڼړی ، نویو حرام کارهم نه بلکه کفرده قرب الٰهی ذریعه ګڼړل ده ټول امت ده علماؤ په نزد با ند ی دا سی کفردئے چی له دین نه انسان خارجه وی ده امام صاحب په نزدباندی هم داسی کسان په کفر اکبرکی داخل دی نه په کفراصغرکی ۔

دعلماء حقه ؤ نه څه ګزارشات

آیاده موجوده پارلمان (پارلیمنټ) عدالتونه اوججان دانظریه نه لری چی په ټولو مقدماتو(خصوصاً سو د ، زنا، غلا وغیره) کی ده اللّٰه ﷻده رانازل کرده قانون مطابق فیصلے اورول ندی لازمی بلکه ده دوئ په نزدده هغ قانون مطابق فیصله اورول واجب دی کو م قانون چی په پارلیمنټ کی منظو رشوئے وی او ده آئین حصه ګرځیدلئے وی ؟ امام صدرالدین حنفیؒ اوامام ابن قیمؒ خولیا هغه وخت ده

کفراکبرحکم ورکولو چی کله یو حاکم دانظریه اولری چی په فیصلوکولوکی خپل ځان بااختیاره اوګڼړی کده اللّٰه په قا نون سره فیصلے کوی اوکیه ده بل چاپه قانون سره کوی۔

اونـن صبـاخوبلکل پرعکس معامله ده هغه دا چی حاکم اوجج خوده قر آنی قانون نه علاوه بل قـانون پرځان باندی واجب کړئـے اولازم کړئدئـے ، بلکه پردے خبره لده نه قسم اخلی چی ده دے جمهور ی قـانـون مطابق به فیصلے کوی اودابه ده غیراللّٰه له جا نبه یعنی پارلیمان نه منظورشوئـے وی ؟ آیا مو جـوده نـظام ده قرآن فیصلے ته څه اهمیت ورکوی ؟ بلکه دا خوده قرآن ده قانون (سنګساری ، کوړے ، لاس پریکیدل ، قصاص ، اوده سو دممانعت وغیره) نفاذ په قوت سره نه پریژدی ، اوداقرآنی قانون ناقابل عـمـل ګڼړی ، ده دوئ په لاء کالجو نوکی ده قرآن سنت او فقهی پرځائے هغه قو ا نین ورخودی کوم چی انګریزجوړکړی دی۔

آیاپدے موجوده جمهوری عدالتی نظام کی څوك هم خپل ځان ګنهګاره ګڼړی ؟ آیاده قرآن نه علاوه فیصلواوعدالتونوته اسلا می نه وایی غیرقرآنی ابلیسی اوطاغوتی قوانین اسلامی نه ثابته وی ؟ نـوده عـلماء حقه نه موژداخواست کؤ چی هغوئ دی ده امام صدرالدینؒ داعبارت دے تش په نامه اهل علمو ته په ښه طریقه سره ورایزده کړی چی :

" ... فـأن اعتـقدأن الحکم بماأنزل اللّٰه غیرو اجب و أنه مخیرفیه ، أو استهان به مع تیقنه أنه حکم اللّٰه فهٰذا کفرأکبر .... "

" ... کـه چیرته حاکم (یارياست) دانظریه لری چی ده اللّٰه ﷻ ده قانون مطابق فیصله کول ندی واجب (اودانـظریه یه هم ده) چی دئـے په دے فیصله کولوکی بااختیاره دئـے چی ده هرچاپه قانون سره فیصله کوی نوکولئـے یه شی اویاحاکم یاجج ده اللّٰه ﷻ ده قانون مطابق فیصلے کولوته اهمیت ورنه کړ ی ، اګـر که دایقین لری چی داده اللّٰه ﷻ قـانـون دئـے نوبیا هم داسی کس جج یاحاکم پد ے تو لو صو رتو نوکی په کفراکبرکی مبتلاء دئـے ....'' پدے عبارت کی هره هره خبره ځانله مستقل کفراکبردئـے ، اوپدے موجوده باطل نظام کی داټول کفرونه جمع دی۔

نوعلماء کرام ده داسی خلګوپه هکله څه فرمایی چی هغوئ ده خپلوعدالتونوبنیاد، مرجع، او مأخذ ده اللّٰه ﷻ ده کتـاب نـه علاوه انسانانوته درجه ورکړے ده چی هغوئ څه قانون هم جوړکړی بس داعـالتـونـه بـه ده هـم هـغـه قـانـون مـطـابـق ده فـیـصلوکولوپابند وی ، پردے باندی له عدلیے نه حلف اخستلئـے کیژی اوهم ټول عمرده دے حلف په فاسداریٔ اووفاداریٔ کی تیروی ؟ ده دے په بدله کی دوئ ته اجرورکوی (تنخوا ، پرموشن وغیره شو) اوده دے پرخلاف ورزی باندی دوئ ته عذاب ورکوی (ده نو

کرئ ختمیدل شو) .... نوداتول څه دی ؟ اوده امام صاحب دالفاظ هم ډیرده غوراوطلب وړدی اوپه مدعا کی ډیرواضح د ی چی " مع تیقنه أنه حکم الله " حاکم یاجج اگرچی دایقین لری چی دااحکامات اوآیاتونه الله ﷻ رانازل کړی دی لیکن ده دے نه باوجود هغه چیرته هم ده دے الهی قانون مطابق فیصله اونه کړه نوداکس ده کفراکبرمرتکب دئے !

له اسلام سره بل دین هرگز قابل قبول نشی کیدئے

عاصم عمرصاحب فرمایی چی که چیرته علماء کرام داوایی چی موجوده جمهوری عدالتی نظام خوده الله ﷻ پر رانازل کرده قا نو ن باندی ایمان لری نوزکه پرے ده کفراکبرحکم نه شی لگیدئے ، نولدے علماؤنه موژدادرخواست کؤ چی ده کومو مفسرینو تفسیرموژمخکی بیان کړوهغه دویم ځل بیا لژ او گورئ چی آیاپه موجوده جمهوری نظام کی هغه خبری نشته چی کوموته اسلاف امت کفر اکبرو یلی ؤ ، اولدے سره ده دے خبری تپوس هم درنه کؤ چی آیامحض په ژبه سره ده قرآن ده حق منلونوم ایمان دئے ؟

یوه ډله په ژبه سره دادعویٰ لری چی هغوئ پرقرآن باندی ایمان لری لیکن چی کو م شی ته قرآ ن کفرویلئے وی هغه کفرنه گنړی ، نو آیاداسی کس هم مسلمان کیدئے شی ؟ آیاداسی کس په خپل قو ل سره ده خپل ایمان تردیدنه کوی ؟ هم دغه رنگه که یوسړئے دادعویٰ اوکړی چی ده قر آن پرټو لو آیتو نوباندی ښه مضبوط ایمان لری مگرلدے سره یوه خاص بت ته سربسجودشی ، یاهغه بت مقدس او گنړی ، دهغه بت تعظیم کول پرهغه ده ژونداومرگ قسمونه خوړل داټول ځیزونه کفرنه گنړی نو آیاده د نیایو سرکاری عالم یامفتی داسی کس ده کفرنه بچاوه ولئے شی ؟

آیاداسی کیدئے شی چی یوسړئے په ژبه سره هم کلمه طیبه وایی اولدے سره ده اسلام نه علا وه یوبل دین هم منی ؟ نو آیاداسی کس ته مسلمان ویل کیدئے شی نه هرگزنه ؟ چی هرڅوك په یوه و خت کی د ه دوؤدینونواقراراوکړی یاده اسلام په مقابله کی یوبل دین اختیارکړی یاده اسلام نه علاوه بل دین خه او گنړی نوداسی کس مسلمان نشی کیدئے اوده ژبی اقراریه ندئے معتبر۔

اوده دے پرعکس ده جمهوریت محافظ قوتونه (لکه خصوصاًپارلیمنټ ، عدلیه ، فوج او پو لیس) ده دے دین جمهوریت ده حفا ظت اووفاداریٔ حلف آخلی ، په ژبه سره هم اقرارکوی اوده دوئ عمل هم ده دے خبری تصدیق کوی ، او ده اسلام په باره کی ده دوئ عمل بغض اوعنادظاهره وی ، یاکم ازکم ده اسلامی شریعت ده نفاذمخالفت کول اوده اسلام ده نه نفاذلپاره ریاستی طاقت استعمالول داده د ے خبری واضح دلیل دئے چی دوئ ده داسی اسلامی شریعت مخالف دی چی کوم شریعت محمد عر

بی ﷺ راوړئے دئے ، اوچی هرڅوك ده نبی ﷺ ده دین نه مخالف وی دهغه کس ده حکم په باره کی تا سولژتپوس اوکړئے ۔

ځئ موژنورهم شاته ځواوده سرکاری اودرباری علماؤ خبره منو چی ده دے جمهوری نظام محا فظ قو تو نه ده نفاذشریعت په هکله څه بغض اوعنادنه لری ، خولیکن دومره تاسو هم راسره اومنئ چی ده دوئ په زړونوکی ده دے جمهوریت محبت اوعظمت دومره ډیرد ئے چی ده اللّٰه ﷻ ده قانون سره یه برابرهم نه بلکه بالاتریه ګنړی ، چی کوم شئ دوئ حرام (غیرقانونی) کړی بس هغه به حرام وی اوچی کوم څیز دوئ حلال (قانونی) کړی بس هغه به بیاحلال وی ، ده دے تعظیم احترام ، ده دے ده وفاداری ده دے په دائره کارکی اوسیدل اوده ټولوکارونوده کولوقسمونه خوړل ..... داټول کارونه بغیرده محبت نه کیدئے شی هرګزنشی کیدئے ؟ اوس راشئ چی ده محمدعربی ﷺ په شریعت کی یه اوګوروچی ده دے محبت اوتعظیم په باره کی څه ویل شویدی ، اوغیراللّٰه ده اللّٰه ﷻ سره برابره ول قرآن ده داسی خلګوپه باره کی فرمایی چی ، ﴿ .... أذنسویکم برب العٰلمین ﴾ (الشعراء : ۹۸)

داده جهنم ده والاؤ خپل منځی جګړه ده اوداجګړه به دوئ جهنم ته ده داخلے دونه وروسته ده خپلو قا ئد ینوسره کوی ۔

امام حافظ ابن کثیرؒ ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی :

" دوزخیان به له خپلوقائدینوسره جګړه واچوی ورته اوبه وایی چی ستاسوده حکم موژداسی فرما نبرد اری کړے وه لکه څنګه چی ده رب العٰلمین فرمانبرداری کول پکاروی ، اوموژده رب العٰلمین سره ستاسوعبادت کړئدئے "۔

امام بیضاویؒ فرمایی :

" په عبادت کی دے دوزخیانوده دے (قائدینو) حق ثابته ولو " یعنی له اللّٰه ﷻ سره یه تاسو (دروغ جن معبودان) صحی معبودا ن ګرځولی ولئ اوپه عبادت کی یه تاسوده رب العٰلمین سره برا بر کړ ی وئ ۔

امام ابن قیمؒ فرمایی :

" فصل : وأماشرك فهونوعان : أكبرو أصغر . فالأكبر لايغفره اللّٰه ألابالتوبة منه ، وهوأن يتخذمن دون اللّٰه ندايحبه كمايحب اللّٰه وهو الشرك الذى تضمن تسوية آلهة المشركين برب العالمين .... ألى أن قال ..... فذكر ألهه و معبوده من دون اللّٰه " (مدارج السالكين ص: ۲٦۰)

ده شرك دوه قسمونه دی یوشرك اکبربل شرك اصغر ۔

شرکِ اکبر : داشرك الله ﷻ بغیرده توبے نه نه معافه وی ، هغه دادئے چی یوکس بل څوك له الله ﷻ سره شریك جوړکړی ، له هغه سره داسی محبت کوی لکه څنګه چی له الله ﷻ سره محبت کول پکاردی ، ده دے شرك په ضمن کی هغه شرك هم راځی کوم چی به مشرکینو خپل بتان له الله ﷻ سره برابرګڼړل ، هم پدے وجه به دوئ په جهنم کی خپلو معبودانو ته وایی چی :

﴿ أذنسویکم برب العٰلمین ﴾ " په الله ﷻ موده قسم وی ! چی موژ خو په خکاره ګمراهی کی ولو چی کله موژتاسو ته ده رب العٰلمین په شانتے برابره درجه درکوله ، دا (برابر ګڼړل) ده دوئ ده دے اقرار نه با وجود ؤ چی دوئ به ویل الله ﷻ تنهاده هرڅیز خالق اومالك اورب دئے ، ده دے اقرارنه باوجود چی د ه هغوئ معبودان نه څه پیداکولئ شی ، نه چاته رزق ورکولئ شی ، نه څوك وهلئ شی ، نه څوك ژوندئے کولئ شی بیا هم ده الله ﷻ سره ده برابره ولو صرف داوجه وه چی دوئ به لدے باطلو معبودانو سره محبت کولو اوده هغوئ عظمت بے کولو ، مشرکین ده خپلو معبودانو سره تر الله ﷻ ډیر محبت کوی ، که چیرته ده دوئ ده معبودانو توهین او سپکاوئ اوشی نو دوئ ټول ده ببرشیرونو په شانتے غضبناکه کیژی مګر چی کله ده الله ﷻ توهین اوشی بیانه غصه کیژی ـ

" امام ابن قیمؒ فرمایی چی په دنیاکی اکثره مشرکین په هم دے قسم شرك کی مبتلاء شوی دی "

اوجمهوریت په اصل کی ده هم دے شرك دعوت ورکوی ، که چیرته ته ده یوجرنیل ، فوجی ، یا جج و غیره نه تپوس اوکړے چی ده دنیاخالق مالك رب اورازق څوك دئے ؟ نویقیناً به دئے هم دا جواب درکوی چی الله ﷻ ـــ خو مګرکه دویم ځل بیاداتپوس ترے نه اوکړے چی بیاداجمهوری عدلیه اوقانون سازه اسمبلی له الله ﷻ سره برابرنه بلکه تر الله ﷻ نه یه لویه اومقدسه ولی ثابته وئ ؟ ده قرآن قانون ترهغه و خته پوری ولی ده فیصلے قابل نه ګڼړئ چی ترڅوده غیرالله (پارلیمنټ) له جانب نه منظوری نه وی ورکول شوے ؟

هم دغه رنګه که لدے فوج اوپولیس وغیره نه داتپوس اوکړئ چی تا سو خوده الله ﷻ ده حدودو(مثلاً درے اوسنګساری) توهین اوتحقیرباندی نه غصه کیژئ لیکن که څوك ده جمهوریت رټ اوقوت چیلنج کړی بیاده ببرشیرپه رنګه ټول ورراباندی خوشئ کیژئ اوخپل ټول قوت ده هغه په خلاف استعمالوئ ؟ بیاخپل وطن وال علاقه وال ده کلمے ورونړه په ډانګووهئ ، آ نسوګیس پرے خوشی کوئ ، په طیارواوتوپونوسره یه اولئ دهماکے باندی کوئ !

اے حقانی علماؤ ! که چیرته داآئین سازه اداره اوعدلیه اوس هم په شرك اکبرکی نه وی مبتلاء نو بیا شرك اکبراوکفراکبروایی څه ته ؟ تاسویه تعریف اوکړئ ، حالانکه ده نبی ﷺ ده منصف (فیصله

کؤنکئے) منولونه بغیرایمان ممکن نه دئے اللّٰه ﷻ فرما یلی دی چی : ﴿ فلاوربك لايؤمنون حتىٰ يحكموك فيما شجربينهم ثم لايجدوا فى أنفسهم حرجاً مماقضيتَ ويسلموا تسليماً ﴾ (النساء : ٦٥)

قسم دئے ستاپه رب سره ! چی دوئ ترهغه وخته پوری مؤمنان نشی کیدئے چی ترڅویه په خپلوجګړوکی تاسوفیصل او منصف نه یئ تسلیم کړئے ، اوبیا چی تاسوکومه فیصله اوکړئے په هغه سربه په زړونوکی څه تنګی نه محسوسه وی ، اوهغه ستاسوفیصله به خه په خوشالئ سره قبلوی ـ

امام ابوبکرجصاصؒ فرمایی چی :

" پدے آیت کی ده دے خبری دلیل دئے چی څوك ده اللّٰه ﷻ یادهغه ده رسول ﷺ ده احکا ما تونه یو حکم ردکړی نوداسی کس له دین اسلام نه خارج شوبیابرابره خبرده کیه ده شك پربناء ردکړی یایه قبول نه کړی ، اوداکس ده صحابه کرامؓ هغه مسلك صحی ثابته وی چی په کومه وجه سره هغوئ ده زکوٰة نه ورکؤنکی مرتدین اوګنړل اوهغوئ یه قتل کړل ده هغوئ اولادونه یه غلامان او ګرځول ، زکه چی اللّٰه ﷻ دافیصله اوکړه خپلی فیصلے اوقانون رسول اللّٰه ﷺ ته وړاندی نه کړی نو هغه ده اهل ایما ن نه ندی "

امام ابوبکرجصاصؒ هغه خلګ هم په ردکؤنکوکی ګنړی چی څوك یه ده قبلولونه منع او کړ ی ، نو چی څوك دوه اویا[۷۲]کاله د ه اسلامی شریعت په خلاف لګیاوی اوده توری په زورسره یه په ملك کی نه نا فذه وی نوده هغوئ به څه حکم وی ؟

علامه شبیراحمدعثمانیؒ ددے آیت په تفسیرکی فرمایی :

" په خپلوفیصلوکی ده رسول اللّٰه ﷺ ده حَکم (فیصله کؤنکئے) جوړولونه بغیرایمان ندئے ممکن ، یعنی منافقین خلګ په څنګه بے هوده خیالونوکی پراته دی ، اوڅنګه له بے هوده حیلونه کارآخلی ، دوئ لره خپله سوچ کول پکاردی ، موژقسم خورو اے محمده ﷺ چی ترڅوپوری داخلګ تا سو پخپلو ټولوغټواووړوجګړوکی مالی اوجانی تنازعاتوکی منصف اوحاکم نه یئ تسلیم کړئے اوچی بیایه ستا سوپه فیصله کولوسره په زړونوکی څه قسم تنګی هم رانه شی اوستا هرحکم په خوشالئے سره ده زړه نه قبول نه کړی ترهغه وخته پوری دوئ ته هرګزایمان نه شی نصیب کیدئ اواوس چی څه کوئ نوپه سوچ اوفکرسریه کوئ " (تفسیرعثمانی)

آیارحمة للعٰلمین ﷺ صرف ده ربیع الاول په میاشت کی نبی ګنړئ ؟ ده سیرة النبی ﷺ پرنامه خوډ یر لوئ لوئ محفلونه اونعتیه پروګرا مونه جوړوئ علمی مناظرے کوئ .... خولیکن چی کله ده اللّٰه ده ر سول ﷺ پخپلو معاملاتوکی ده حَکم اوجج جوړیدلو وخت راشی بیاده هم دے محبوب اور

سول ﷺ ده دشمنانو په قانون سره فیصلے کوئ ، اوده هم دے جمهوری قانون ده تقدس ، وفاداریٔ اوپا سداریٔ قسمو نه خوریٔ ، داستاسو پرنبی ﷺ باندی څنګه ایمان دئے داتاسو څنګه ده نبی ﷺ عاشقان او غلامان یئ ؟ ده محسن انسانیت ده احساناتوده بدلے ده څکلوداکوم اندازدئے ؟ پرختم نبوت باندی دا څنګه ایمان دئے چی ده خاتم النبیین ﷺ راوړئے دین اوشریعت موده عدالتونونه ویستئ دئے ، ده زند ګئ ده تیرولوده نظام نه موایستلئ دئے ، ده قادیانانواوده هغوئ ده آقاګانو پرعدالتونو موایمان دئے ؟ په دنیا کی ده اللّٰه ﷻ اوده هغه ده رسول ﷺ ده دشمنانوجوړکرده طرز ندګی رائجه ده ؟

اے غلامان مصطفیٰ ﷺ ! سوچ اوکړئ ! کله خولڅسوچ اوکړئ ..... پرزړه باندی لاس کیڅدئے اوسوچ اوکړئ ، داڅنګه وفاده دا څنګه محبت دئے ؟ده دے امت محمدی کشتئ ترهغه وخته ترمنزله پوری نشی رسیدئے چی تر څو مو محمد ﷺ په هرمیدان اوهره شعبه کی نبی نه وی منلئ ، پردے امت چی کوم ذلت مسلط د ئے داذلت به ترهغه وخته پوری وی چی ترڅومو خپلی زندګئ دمحمد ﷺ ده شریعت لپاره لیلام کړے نه وی او خپل سرونه موپه تلوکی نه وی نیولی ـ

ده شریعت مطهره یو حکم نه منل ده هغه ادائیګی منع کول داده شریعت په نظرکی له دین نه د ه اوړے دوپه زمره کی داخل دی اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ ألم تر ألی الذین یزعمون أنهم آمنوا بمااُنزل الیك وماأنزل من قبلك تریدون أن یحاکموا ألی الطاغوت وقدأمروا أن یکفروا به ویریدالشیطان أن یضلهم ضلالاًبعیداً ﴾ (النساء : ٦٠)

" آیاتا هغه خلګ اونه لیدل چی داګمان کوی چی موژخوپرهغ کتاب باندی ایمان راوړئدئے کوم چی پر تاسورانازل شوئدئے ، اوپرهغه چی ترتانه وړاندی رانازل شوی ؤ ، دوئ داغواړی چی خپلی مقدمے او فیصلے طاغوت لہ یوسی حالانکه دوئ ته خودا حکم شوئدئے چی دوئ به لدے طاغوتونونه انکار کوی اوشیطان خو هم داغواړی چی دوئ ترډیره پوری ګمراهان اوساتی "

ده دے آیت په تفسیرکی **امام ابن جریرؒ امام قرطبیؒ امام ابواللیث سمرقندیؒ** داروایات رانقل کړی دی :

(١) " ده شعبیؒ نه روایت دئے چی ده یوه منافق اویوه یهودی کس پخپل مینځ کی پریوڅه شئ باندی جګړه سره راغله یهودی اووه یلو چی دامقدمه به وړوستاسو پیغمبر ﷺ لره زکه چی هغه ته پته وه نبی ﷺ خورشوت نه اخلی ، منافق اویلی چی نه ده دے حل به ستاسوپه یهودی مشرانواو حکا مورا او با سواومنافق ته خوپته وه چی ده دوئ مشران خورشوت آخلی ، بیادواړه ده جهینے قبیلے دیوه کاهن پر فیصله باندی سره متفق شونوپدے هکله داآیت رانازل شو" ـ

(٢) " دویم ده حضرت عبداللّٰه بن عباسؓ نه روایت دئے چی دیوه منافق اویوه یهودی جګړه سر

ه راغلـه د ه منافق نوم " بشر " ؤاوده یهودی نوم " زفر " ؤنویهودی اویل چی دافیصله به ستاسوپه نبی ﷺ سره کـؤاومنافق اویل چی نه دافیصله به په یهودی عالم " کعب بن اشرف " سره کؤلیکن یهودی ده نبـی ﷺ نـه مـاسـوابـل چاته تیارنه ؤبس آخرکارنبی ﷺلره راغلواوده تنازع تفصیل یه ورته واوروه لونو نبـی ﷺده یهـودی پـه حق کـی فیـصلـه اوکړله چی بهرراووتلونومنافق یهودی ته اوویل چی زه پدے فیصله سره نه یم راضی ماسربه ځی حضرت ابوبکرصدیقؓ لره هغه هم ده یهودی په حق کی فیصله او کړله درے یم ځل یه ورته اویل چی او س به ځوعمرفاروقؓ لره دے منافق داسوچ کړئے ؤ چی هغه خوله یهـودوسره ډیـر سـخـت دئـے نوزکه به ځماپه حق کی فیصله اوکړ ی چی کله ده هغه دربارته ور غلو نو یهـودی ورتـه اوویل چی نبی کریم ﷺاوحضرت ابوبکرصدیقؓ دواړوځماپه باره کی فیصله او کړله اوس دئـے پرهغودواړو فیصلوندئـے راضی اوتاله یه راوستم ـ

عـمرؓ مـنافق ته اوویل داصحی وایی هم داسی دی هغه ویل چی ها ـ عمرؓ ورته اوویل چی تاسو دواړه اودریژئ زه رازمه بس کورته لاړواویوه ښه تیره توره یه راواخستله چی راا ووتلونوده منافق سریه پر ے اووهـلـواوهـلته یه اوغورځولوبیایه اوفرمایل چی څوك هم ده پیغمبر اسلام ﷺپه فیصله سره نوی راضی نوده هغه په حق کی بیاده عمرؓ دغه فیصله ده یهو د ی ده دهغه ځائے نه اوتختے دومنډه یه کړله چی کـلـه یـه ده دے مـنافق سرقلم کړلوبس نورومنا فقینو نبی کریم ﷺلره راتلل شروع کړل چی جی ! هـغـه لـره ده تـلـوخـوزمـوژدامـطـلـب نـه ؤ چـی ستـاسوپرفیصله نه ؤراضی حضرت ! مو ژخوستاسوده فیـصـلـے ده ردپـربناء عمرؓ لره نه ؤتلی بلکه هغه لره ده تلو مقصد موداؤ چی یوده صلح او اتفاق صورت راپیـداکـړی چی ! عمرؓ خوډیر زیاتئ کړئدئـے چی یو مسلمان یه بغیرده څه دلیل نه او وژ لو نودوئ دهغه مـنـافـق ده کـفـرقـولـی اوکفرعملی ډیرتاو یلونه جوړکړل چی کله هم دااستغاثه نبی کریم ﷺته وړاندی شـوه نوده هغه ده خولـے مبارکی نه بـے اختیاره داکلمه اووتله چی : " ماکنتُ أظنُّ أن عُمرَ یجترءُ علیٰ قتلِ رجلٍ مؤمن "

ځماخوداګمان هم لیانه ؤ چی عمرؓ به یو مؤمن مسلمان قتله وی ، بس په دویم آیت کی بیااللّٰهﷻ ده دے منافق حکم ظاهرکړ و چی :

﴿ فلاوربك لایؤمنون حتیٰ یحکموك ﴾ پس قسم دئـے ستاپه رب سره ! یعنی اللّٰهﷻ پخپل ذات سر ه قسـم خـوری پـردے خبره چی دا خلګ ترهغه وخته پوری مؤمنان نشی کیدئ چی ترڅویه تاسوخپل منصف نه یئ تسلیم کړئـے نواللّٰهﷻ پخپل ذات سره قسم خو ری چی داسی خلګ نه دی مؤمنان نو پر دے مـو قـع بـاندی جبریلؑ راغلواودا آیت یه راوړلوبس ده هم هغی ورځی نه ده حضرت عمرؓ لقب فاروق

شولو، ده دے واقعے نه داخبره اظهرمن الشمس معلومه شوه چی کوم کس ده کلمے دعویٰ هم لری ، د ه دے نـه باوجودده قرآن اوسنت پرفیصلوباندی نه وی راضی نوده داسی خلګوسزاقتل دئے ، چی کله د ه قرآن او سنت مطابق ده فیصلوکو لواړراوحکم اوشی نوبیاده مؤمنانوشان اللّٰهﷻ دابیان کړیدئے چی :

﴿ أنـمـا كـان قـول الـمـؤمـنـين أذادعـوااٰلـىٰ الـلّٰه ورسوله ليحكم بينهم أن يقولو اسمعناو أطعناو أولٰئك هم المفلحون ﴾ (النور : ۵۱)

" بـلاشبه ده مؤمن قول ، چی هغه ده اللّٰه ﷻ اوده هـغه ده رسول ﷺوه جانب ته ده فیصلے کولوده پاره رااوغوختلئے شی بس هم دا به کیژی چی دئے به هم داوایی چی موژهم واوریدل اوهم مه اومنل ، اوهم دوئ کامیاب دی "

اوده منافقینوپیژندګلو هم قرآن کړے ده چی :

﴿ وأذاقيل لهم تعالو اٰلىٰ ماأنزل اللّٰه وألىٰ الرَّسول رأيتَ المنافقين يصدون عنك صدوداً ﴾ (النساء : ٦١)

اوچی کـله دوئ ته اوویلئے شی چی راشئ ده هغ کتاب وه طرف ته کوم اللّٰه رانازل کړئے دئے اوده ر سو ل اللّٰهﷻ طـرف ته راشئ نوبیا به ته منافقین اووینی چی دوئ به طرف ته کیژی " اوقرآن ته ده را تـلو مطلب دانه دئے چی دوئ قرآن اوګوری یاده قرآن تلاو ت اوکړی یاده حسن قرائت محفل ته راشی بلکه قرآن ته ده راتلو مطلب دادئے چی ده قرآن ده قوانینو مطابق فیصلے اوکړی ـ

الـغـرض ده دے آیت په تفسیرکی ده حضرت عبداللّٰه بن عباسؓ ده کفردون کفر (کفراصغر) قو ل پـه وجه سره ده نن صباعدالتونه ده دے مصداق ثابته ول صریح خیانت دئے اوده عبداللّٰه بن عباسؓ پر ذات بـا نـد ی بهتـان دئـے ، زکه چی هغهؓ خوکفراصغرمطلقاًنه ؤویلی بلکه دایه ده خوارجوپه باره کی و یـلـی ؤ، نوده دے بحث ده پیژندلونه پس ده تولوورونړونه دادرخواست دئے چی موجوده عدالتی نظام ، چی ده شـر یـعـت نـه عـلاوه فیصلے کوی ، ده دے په هکله دی داونه ویلئے شی چی داخوده [۷۳] ده آئیـن مـطـا بـق فـیـصـلے کوی اوده [۷۳] آئین خواسلامی دئے نوزکه داعدالتونه هم ده اسلامی آئین مطابق فیصلے کوی ، داده اللّٰه ﷻ پرذات اقدس باندی دومره لوئ بهتان دئے چی آسمان مات شی او را اولویژی اوریزه ریزه شی ـ

امـام ابـوبـکرجصاصؒ په خپل " احکام القرآن " تفسیرکی دانکته بیان کړے ده چی نن صباده دے خـلـګـوده سترګوده کولاوه ولو لپاره کافی دی چی کوم خلګ غیراسلامی کفری ابلیسی طاغوتی او فـر عونی آئین اسلامی ثابته وی اوده غیراسلامی آئین سره ده فیصلوکولوعدالتونوپه باره کی وایی چی داخوده اسلامی آئین سره فیصلے کوی نوفرمایی چی :

" ..... فأن كان المرادجحودحكم الله أوالحكم بغيره مع الأخباربأنه حكم الله ، فهذاكفرٌ يخرج عن الملة و فا عله مرتدٌ.."

" اوکه چیرته پدے آیت کی ده کفرنه مراددہ الٰهی قانون نه ده فیصلے کولونه انکاراویاده قرآن نه علاوه فیصلوته ویل چی داخوده الله په قانون سره فیصله اوشوه دادواړه صورتونه داسی کفردئے چی د ه اسلا م نه انسان خارجه وی اوداسی کونکئے مرتددئے "

حکیم الامت اشرف علی تهانویؒ ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی چی :

او(یادلرئ) چی څوك هم ده الله په رانازل کرده قانون سره موافق حکم اونه کړی (بلکه غیرشرعی قصد اً حکم شرعی اوګنړی اوده هغه موافق فیصله اوکړی) نوداسی خلګ بلکل کافران دی ـ (بیان القرآن)

مفتی محمدشفیع صاحب هم بعینهٖ دغه شانتے فرمایلی دی نولهٰذا هغوخلګولره یریدل پکا ردی چی څوك دے عدالتونوته اسلامی وایی ـ (ادیان کی جنگ دین اسلام یا دین جمہوریت ص:۱۱٦)

موجوده عدالتی نظام

داحقیقت خوده یوه صاحب بصیرت نه هم پټ ندئے چی په موجوده عدالتونوکی ده شریعت مطابق فیصلے نه کیژی ، اونه ددے عدالتونوضابطه کارده شریعت نه ماخوذده اونه هم ده دے عدا لتو نوپه ججانو حضراتوکی ده شرعی قاضی لازمی اوصاف شته دی ، ده دے پرعکس دلته ده انګریز و ضع کر ده قوانین نافذالعمل دی ، چی کوم قوانین هغوئ په ۱۸۳٦ء اوپه ۱۸۸٦ء کی جاری کړی ؤ، پدے کی په بعضے قوانینوکی جزوی ترمیمات شوی دی ، مګرپه مجموعی حیثیت سره دااوس هم هغه انګریز ی نظام دئے ـ

بالخصوص داخبره خوده دے نظام په هکله په پوره اطمنان سره کیژی چی پد ے کی ده رائجو قوانینو " مأخذ " او " مصدر " قطعاًقرآن اوسنت ندئے ، اوبعضے قوانین (ده انګریز ده نظام نه ده أخذکولونه پس) ده شریعت مطابق جوړولوسره ده ماخزاومصدرمسئله نه حل کیژی ، اوس خوخبره صرف ترفساقوفجارواوده لادینوخلګوده ججانوترجوړیدوپوری محدوده نه ده ، بلکه ده " رانابهګوان داس " په رنګه مشرك هندوهم ده " اسلامی جمهوریة پاکستان " ده عدالت عظمیٰ " چیف جسټس " (قاضی القضاء) پاتے شو... اوس دے عدالتی نظام ته ده اسلامی ویلوڅه ګنجائش پا تے شو ؟ آیاپه یوشرعی عدالت کی یو هندو کس ده مسلمانانو " قاضی اعلیٰ " جوړے دئے شی ؟ بس د ذرائع ابلاغ په تدبیرونواواختراعی سوچونوسره مه دوکه کیژی چی هغوده دے کفریه عدالتی نظام د ه

ججانو محبت ده خلکو په زړونو کی اچوی ، دانظام اوده دے سرکرده خلک ده عداوت اونفرت قابله د ی ، ده محبت اوتعظیم قابله نه دی !

دمفکراسلام مولانامفتی محمودؒ قول

ده دے مکروه اوابلیسی نظام نه ده پردے اوچته ولوپه غرض مفتی محمودؒ په ۱۹۶۹ء کی فر مایلی ؤ چی :

" حکومتی ډلی ده قیام پاکستان ده دوه ویشت [۲۲] کلونوده تیرے دونه وروسته هم شرعی نظام نافذ نه کړواوپاکستانی عدالتونه مسلسل ده استعماری عیسائیانوده وضع کرده قوانینو مطابق فیصلے کوی "۔ (تحقیق زادالمنتهی شرح الجامع الترمذی، مقدمة الشیخ شیرعلی شاه صاحب ص : ۱۶)

ده مفتی محمودؒ دافرمان لکه څنګه چی ده ۱۹۶۹ء پرعدالتی نظام باندی صادق راتلو هم دغه رنګه پر اوسنی عدالتی نظام باندی هم صادق راځی زکه چی پدے ټوله مده کی پدے نظام کی څه بنیادی او حقیقی تبدیلی نده راغلے ۔

مولاناصوفی محمداودهغه د ملګرومؤقف

ده مروجه خلافِ شرع عدالتی نظام ده خاتمے اوده شرعی عدالتونوده قیام ده پاره په " سوات " اوده " ما لاکنډ " په څوعلاقوکی ده تیروکلونونه یوتحریك راروان دئے ، اوده دے تحریك سرپرستی ده علاقے د ه علماؤپه لاسونوکی ده ، چی په هغوئ کی یونامداره شخصیت ، بزرګ عالم دین مولاناصوفی محمد په پشتوزبان کی ده لیکل شوی یوه کتاب کی څه دا سی وایی چی ؛

" (ترجمه) ده پاکستان موجوده نظام قانون غیراسلامی دئے ، ده پاکستان حکمرانان ، عوام او ټول طبقات اومسالکوعلماء بغیرد ه څه اختلاف نه پردے امرمتفق دی چی دانظام ده انګریزده جو ړکړ لئے شوی کفریه قوانینوباندی قائم دئے ، بیاکه ده دے قوانینو مطابق فیصلوکولوته کفراونه ویلئے شی نو بیا نو ربه څه ورته وایئ ؟..... که ده اسلام یوعمل ده دے قانون خلاف وی نو دا اسلامی عمل دانظام " ده قا نون خلاف ورزی ګنړی " ده دے عمل پرمرتکبینوباندی قانونی دفعات لاګوکوی او حکمرانان پخپله هم وایی چی ده ته ده قانون په لاس کی ده اخستلوسزاورکولئے شوه ۔

اوس آیاد اتپو س کول زموژحق نه جوړیژی چی که چیرته دانظام ده انګریزده قانون متصادم او خلاف ده یوه اسلامی حکم په عمل کی ده راوستلوپه ردکی ده قیداوبند سزاورکوی ، د ااسلامی عمل کؤنکئے مجرم ګنړی اووایی چی دے کس ده دے عدالتی نظام خلاف ورزی اوکړله ، .... نوده کفرتردے نه زیات بل قبیح صورت څه کیدئے شی ؟ بیاپردے هم نه بس کوی بلکه چی کوم کس ده

دے کفری قانون په خلاف ده قرآنی قانون ده نفا ذمطالبه کوی نوپداسی کس بیادوئ مسخرے وهی توهین اوتحقیریه کوی ، وه دا سی کس ته لیونئ وا یی ، ده شریعت محمد یﷺ غوختونکوته شرپسنده اودهشتگردوایی ، حالانکه هم داحکومتی خلگ ده کافراقواموسره ده مسلمانانوپه خلاف بدنی ، لسانی ، اومالی امدادونه او کو مکونه کوی " ـ (الفرق بین الخالق والمخلوق فی الحاکم والمحکوم ، للشیخ صوفی محمد)

بیاده سوات مالاکنډه حالیه فوجی آپریشن نه مخکی مولاناصوفی محمدصاحب (اللّٰهم تقبل شهادته) اوده مالا کنډ نورو متعددوجیدوعلماء کراموده شرعی عدالتونوده قیام مطالبه اوکړله ، له حکومت وخت سره یه پردے مسئله باندی ډیراوګده اوګده مذاکرات اوکړو، اوحکومتی نما ئند ګانوپه یوه وخت کی هم دادعوئ نده کړے چی مخکی جاری عدالتی نظام " غیرشرعی نه دئے " بلکه ده شر عی مطابق دئے ، ده دے پرعکس په ابتدائی مراحلوکی حکومت ده شرعی عدالتونوده قیا م مطالبه تسیلم هم کړله ، چی کله حکومت ده شرعی عدالتونوپه ملك کی دعدالت عظمیٰ دتابع کولواصراراو کړونوپردے باندی مذاکرا ت معطل شو ، مولاناصوفی محمدصاحب اودهغه ملګروده دے مطالبے ده منلونه انکاراوکړواوصحافیانوته چے کوم تحریرا ت لګلی ؤپه هغوئ کی یه صراحتاً ویلی ؤ چی :

" ده شرعی عدالتونوده قیام مقصددادئے چی ده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ ده حکم مطابق فیصلے به کیژی ، پس چی کله اللّٰه ﷻ اویاده هغه رسول ﷺ په یوه معامله کی یوه فیصله اوکړی ده هغے نه ور وسته بیا هغه فیصله بل انسانی عدالت ته وړل کفراوارتداددئے ، اللّٰه ﷻ دی موژلدے نه محفوظ اوسا تی " ـ (شمشیرص: ۱۳۲)

دمولاناامین اللّٰه پشاوری صاحب قول

مشهوراهل حدیث عالم دین مولاناامین اللّٰه پشاوری صاحب پخپله فتاوئ کی ده لاندی فرمان باری تعا لیٰ په تشریح کی فرمایی چی :

﴿ ومن لم یحکم بماأنزل اللّٰه فأولئك هم الکٰفرون ﴾ (المائده : ۴۴)

" اوچی څوك ده دے (شریعت) مطابق فیصله اونه کړی چی کوم شریعت اللّٰه ﷻ رانازل کړئدئے نو هم داسی خلگ په حقیقت کی کافران دی " ده دے آیت په تشریح کی دئے وایی :

" قال الآلوسی فی تفسیرروح المعانی (٦/ ١٤٥) أن المرادعموم النفی بحمل ماعلیٰ الجنس و لاشك أن من لم یحکم بشئ مماأنزل اللّٰه تعا لیٰ لایکون ألاغیرمصدق و لانزا ع فی کفره : أقول . فتدبر فی هذاالتفسیرأن الذین لا یحکم بجمیع ماأنزل اللّٰه کافربأجماع المسلمین ، و لا یغر نك بعض القوانین الاسلامیة فی بلادالأسلام

فأنها ما أقيمت لأنهاشرع الله بل لموافقتهاقوانين الأوروبيين والكافرين ، فلاتنس هذا "

" علامه آلوسیؒ پخپل تفسیرروح المعانی کی لیکلی دی چی : پدے آیت کی به لفظ " ما " پرټول جنس باندی محمول کو لئے شی ، گویاکه لدے نه مرادعموم نفی دی ..... (یعنی) داخبره هر قسم شك اوشبهے نه بالاتره ده چی څوك هم ده الله ﷻ ده را نازل کرده قانون نه علاوه په بل قانون سره فیصله او کړی ، بیااگرچی هغه معامله په یوه ورکوټی حکم کی پیښه شوے وی ، نودا سی کس به خا مخاده شریعت منکرګنړلئے کیږی اودده په کفرکی هیڅ اختلاف هم نشته ـ

زه وایم چی : ده دے آیت مبارکه پردے تفسیرباندی ده غورکولوضرورت دئے چی کوم سړئے په هره ورکوټے یاغټه معامله کی ده الله ﷻ په رانازل کرده شریعت سره فیصله اونه کړی ، ده داسی سړ ی پر کفرباندی ده ټولوعلماؤاجماع ده ، بس چی کله هم داخبرتاسوپه دوکه کی نه پرے باسی چی نن صباپه اسلامی خطوکی بعضے اسلامی قوانین نافذدی ، یادلرئ ! چی داقوانین یه پد ے وجه نه دی نا فذ کړ ی چی ده الله ﷻ شریعت ده دے ده نفاذمطالبه کوی ، بلکه دایه زکه برداشت کړی دی چی ده اهل یورپ او کفاروپه قوانینوکی ده دے اسلامی دفعاتوګنجائش شته ، بس دانکته په ډیرذکاوت سره ذ هن نشین کول پکاردی "!

اوس ګورئ داغیرمقلدوهابی عالم دین دئے موژخوډیری بدی ردی سپکی سپوری پسی وایو لیکن ده په څومره جرأت سره ده د ے نظام په خلاف قلم چلولئے دئے اودانه دئے بلکه ده په نوروډیر و ځایو نو کی پردے نظام باندی ردکړئدئے لدے نه معلومه شوه چی ټول اهل سنت والجماعت پردے خبره متفق دی چی داجمهوری نظام پلیت اومردارنظام دئے کفری ابلیسی شرکی او طاغوتی نظام د ئے ، والله اعلم بالصواب ـ (فتاویٰ الدین الخالص جلد: ٦)

بعض خلګ وایی چی پشاوری صاحب اوس لدے قول نه رجوع کړے ده زماپه خیال چی دارجوع بے پرحق باندی نه وی مبنی بلکه ده دے رجوع به دوه وجهی وی اوهغه دواړه غیرمعتبریدی هغه داچی لیابه ډنډه وی اولیابه پیسه وی ! " والله اعلم بالصواب)

(نحن تابعوا الحق لاللرجال :ـ الحكمة ضالة المؤمن :ـ الحق ماقام عليه الدليل وليس الحق فيما عمله الناس)

دموجوده عدالتی نظام په هکله دمولاناولی الله کابل گرامی شهیدؒ تحقیق

حضرت مولاناولی الله کابلګرامی شهیدؒ کابلګرام ده (سوات) سره تعلق لرلواویوډیرلوئ بز ر ګ عالم د ین ؤده دوئ شمارده پنج پیرعلماؤپه اکابرین وخت کی کیدو ، ده اهل علموپه حلقه کی ده دوئ ثقا هت علمی څه مخفی امرنه ؤ اونه هم دده حق ګوئی ده چانه پټه وه ، ده هم دے حق ګوئی په و جه د

فـو جـی آپریشن په دوران کی دے ظالمانودده دضعف کمزورئ اوبوډاوالی څه خیال اونه سا تلو بلکه په هـم دے پیـرانـه سـالـی کـی یـه ګرفتـاره کـړواوجیـل کی یه بندی کړوآخریه بیاپه شهادت هم اور سولو، نـودئـے پخپل کتاب " أعـلام الأعـلام بمفهوم الدین و الأسلام " کی ده " الـمـحاکم فی باکستان " (یـعنی ده پاکستان عدالتی نظام) ترعنوان لاندی لیکی چی :

" فـنریٰ المحاکم فی باکستان مشحونة ممایسخط اللّٰه عزوجل کالصورو التماثیل وهی موضوعة فی أکر م مـوضع عندهم فی غایة أعزاز .... وقدحرم اللّٰه عزوجل التصاویر، تصاویر ذات الروح ، ویفعلون مایفعلون تقلیداً و محاکاة للکفرة أئمتهم الیهود و النصاریٰ أعداء المسلمین و أعداء الأسلام ....

و کـذالك صورة القضاة و لباسهم و هیئاتهم جلوسهم للقضاء ولغتهم کلهامستوردة من الخارج مخالفة لما یرضیٰ اللّٰه عزوجل و رسوله .... و القضاة فی باکستان و أعضاء الحکومة و الوزراء و رئیس الجمهوریة فکلهم کما قا ل ابـن عبـا سؓ : " لعن النبی ﷺ المخنثین من الرجال " وعنه قال: " لعن النبی ﷺ المتشبهین بالرجال من النساء و المتشبهات بالرجال "،

... وأسـوء مـن ذالك کله و أسخطه عنداللّٰه عزوجل وعندالمؤمنین حکمهم و قضائهم فی جمیع المحاکم و مـن جمیع قضاتهم بالقوانین الوضعیة الکفریة ، وأقضاهم عندهم من کان متخصصاً فی تلك القوانین ، فیکون هو قا ضـی القضاة عندالحکومة ، وأماو کلائهم ﴿ فـویلٌ لهم مماکتبت أیدیهم وویل لهم ممایکسبون ﴾ یستدلون بدعا و یهـم و مسـائـلهـم بـحکم جزئیات حدثت فی أی قطر العالم الکفری و قضی به قاضٍ، سواء کان ضدالحکم الشرعی و مـقـابلاً لـه أم غیر ذالك ، وینقادلدلیله القاضی ویحکم به کأنه حکم سماوی أوحی ألیه فی الوقت الراهن فنسخ ما کان قبله ، فنعو ذبا للّٰه سبحانه من الکفربعدالأسلام ﴿ و کیف تکفرون و أنتم تتلیٰ علیکم آیات اللّٰه و فیکم رسولهٗ ﴾ "۔

ترجمه :

مـوژوینو چی ده پاکستان عدالتونه لداسی امورونه ډك دی چی په هغوئ سراللّٰه ﷻ غضبناکه اوغـصـه کیـژی ، مثلاًپـدے عـدالتـو نـوکی نه صرف داچی تش تصورینو(عکسونه) اومجسمـے دی بـلکه ده تکریم په خاطریه هغوئ پرډیرومعززترینو ځایونوباندی ایخی وی ، حالانکه اللّٰه ﷻ تصویرونه یـعـنی ده روح ده والاؤتصویرونه حرام کړی دی ، لیکن چی څوك ده کفارورونده تقلیدکوی اوده خپلو پلا رانو یهو دو نصاراؤپرنقش قدم باندی روان وی نو هغوئ ده دین اوده ملت ده دشمنانوداغلطی اومذمومی طریقـے خپلوی ، ....

هـم دغـه شانتـے ده ججانوشکلونواوصورتونه ، ده هغوئ وضع قطع ، ده فیصلو کولوپه و خت

کی ده هغوئ ده کیناستوانداز اوطریقه ، ده هغوئ ژبی دایه ټول ده کفاروخویونه خصلتو نه خپل کړی دی ، ده الله ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ ده مرضئ نه خلاف دی ، ..... ده پاکستان پرججانو، حکو متی اراکینو، وزیرانواوپرصدورمملکت ټولوباندی ده حضرت عبدالله بن عباس ؓ حدیث صادق را ځی ((چی نبی کریم ﷺ پرهغوښځوباندی لعنت کړیدئے چی څوك ده سړوپه شانتے ځانونه جوړوی)) اوپه بل روایت کی داسی الفاظ منقول دی ((چی نبی کریم ﷺ پرهغوکسانولعنت کړیدئے چی څوك ده خز وسره مشابهت اختیاره وی وعلیٰ عکس)) ۔

..... بیاتردے ټولونه بدترترټولونه ده الله ﷻ ده ناراض ګئے اواهل ایمان ولاؤته ده دُکه او تکلیف ورر سؤنکئے جرم دادئے چی ده ټولوعدالتونوټول ججان ټولی فیصلے ده انسانانوده وضعه کرده کفری قوانینو مطابق کوی ، لدوئ نه چی کوم کس پدے کفری قوانینوکی څومره هم مهارت لری هم هغه به ترټولونه لوئ جج ګنړی اوهم داسی کس دوئ خپل " چیف جسټس " (قا ضی القضاء) جو ړوی ، اوچی ترکومه ځایه ده دوئ ده وکیلانوتعلق دئے : ﴿ بربادی ده دوئ لره زکه چی (دابے اصله خبر ی) دوئ پخپلولاسونوسره لیکی اوبربادی ده دوئ لره ده هغی ګټی په سبب چی کوم یه دوئ ګټی ﴾ (البقره : ۷۹)

داوکیلان په قانونی مسائلواوعدالتی جګړوکی ده عالم کفرپه یوه کونج (ګوټ) کی په پیښه شو ے معا مله کی ده هغه ځائے ده جج یوفیصله اوغواړی پیدایه کړی بیا هغه فیصله ده نظیرپه ډول سره پیشه و ی ، بیابرابره خبرده که هغه فیصله ده شریعت سره متصادم مخالفه وی اوکه موافقه وی ، صرف دا هم نه بلکه جج هم داسی دلیل ته خپل سرخکته کوی اوده داسی دلیل مطابق فیصله کوی ، دانن صبا ججان ده کفری ججانو چی کله یوه فیصله اومومی نو هغه داسی ګنړی لکه چی له آسمانه یو ده وحی حکم را غلئے وی اودهغه په رانازلیدوسره نورټول سابقه احکامات منسوخ ګنړی ، بس موژده اسلام ده راوړ لو نه وروسته دوباره کفر ته ده ګرځیدلونه ده الله ﷻ ځاپناغواړو، ﴿ اوتاسوبه څنګه کفراوکړئ پدا سی حال کی چی پرتاسوده الله آیاتونه لوستلئے کیژی اوشته په تاسوکی رسول ده الله ﴾ (آل عمران : ۱۰۱)

(أعلام الأعلام بمفهوم الدين و الأسلام أو رفع الحجاب عن مضار الجمهورية و الأنتخاب ص : ۱۱۸ ، ۱۲۳)

حضرت مولاناز اهداقبال صاحب فرمایی چی

ده وخت پرڅوا همو شرعی موضوعاتوباندی ده عمده تحقیقی کتب مصنف ده مکتب دیوبند سره وا بسته لرونکئے معروف عالم دین مولاناز اهداقبال سلمه الله لکی چی :

" په موجوده وخت کی په اسلامی ملکونوکی هم داصورت حال دئے چی په یوه ملك کی هم ده شرعی نظام وجوداومکمل قوانین نافذنه دی اوده دے حکومتونوسربراهان اوحکمرانان په ناجائزه طریقه سره پرمسلم عواموباندی مسلط دی ، ده شرعی قوانینووجودخونشته دئے بلکه هغوئ سیکولزم او لادینیت باندی مبنی مغربی قوانین جبراً نافذه وی اومسلمان اولس لادینیت طرف ته راکاګی (راکشه وی) ده دے کفارویهودوانصاراؤاطاعت کول ده هغوئ اقتدارمنل نه صرف داچی ناجائزکاردئے بلکه دا ده دین دشمنان اوده اغیاروایجنټان ده اقتدارده ایوان نه باهرغورځول اونظام خلافت قائمه ول ده ټول امت مسلمه انتهائی اهمه فریضه ده ـ (اسلامی نظام خلافت اوهماری ذمه داریاں ص:۳۶۴)

ده اهل علموده دے اقوالونه داخبره واضحه ده چی له پاکستان سره په ټولواسلامی خطوکی یا خالص کفریه قوانین نافذدی یاده کفریه اواسلامی قوانینویوه ملغوبه ..... اوپه شرعی نکته نظرسره په دواړو صورتونوکی داسی عدالتی نظام ته کفریه نظام وایی ، ده اللهﷻ دین خوده ټول مکمل شریعت ده نفاذا وپه اسلام کی ده پوره پوره داخلے دلومطالبه کوی ، ده دے نه کم چی څه هم وی هغه شرعاً قابل قبول نشی کیدئے ـ

دپاکستان ده آزادئے دوه اویا [۷۲] کلونه اوشول ... ده دے سوال تپوس کول ده هرمسلمان حق جوړیژی چی په دومره طویل مدت کی څومره حدود نافذشو؟ ده څومره شرعی قوانینوتطبیق او شو؟ آیا یوده عقل خاونداخبره تسلیمه ولئے شی چی یودا سی ریاست (ملك) چی هغه دی درے غټ جنګو نه کړی وی ، چی ده هغه ملك صرف ده برتی فوج تعدادترپنځولکو[۵۰۰۰۰۰] نه زیات و ی .... آیا دسی ملك ده دے خبری طاقت نه لری چی داسی عدالتونه قائم کړی چی هغه ده شریعت مطابق فیصلے کوی ؟ بیاداسی ریاست ده دوه اویاکلونوده تیرودونه پس هم یوشرعی عدالت قائم نه کړ لو؛ ده انسانانوده جوړکرده قوانینوده نفاذ لپاره یه یومکمل عدالتی نظام قائم کړیئدئے اوده دے لپاره یه ده ججانواووکیلانوده مهیاکولولپاره یوخه مضبوط نظام جوړ کړیئدئے ؟ ده دے نه باوجودهم یواحمق دا عذرمنلئے شی چی پاکستانی حکمران اوحکومت ده شریعت ده نفاذقدرت اوطاقت نه لری .....!!!

شرعی قوانینوته ده سرخکته کولونه انکارکول ده خپلووضعی اواختراعی قوانینوترویج اونفاذکول دا کارده سلفوخلفواوټولو علماؤپه نزدبالاتفاق کفردئے ، پدے حوالے سره ده نمونے په ډول سره څه اقوال دلته کی ذکرکؤاللهﷻ پخپل مقدس کتاب کی فرما یی چی :

﴿ فلاوربك لايؤمنون حتّٰى يُحكموك فيماشجربينهم ثم لايجدوافي أنفسهم حرجاًمماقضيت ويسلمواتسليماً ﴾ (النساء : ٦٥)

" ستاپه رب سره قسم ! داخلګ ترهغه وخته پوری هرګز مؤمنان نشی کیدئے چی ترڅویه پخپل منځی اختلافاتو کی تاسو فیصله کؤنکئے نه یئ منلئے ، بیا چی تاسو هره فیصله اوکړئے پر هغه فیصله به څه قسم تنګی په زړونو کی نه محسوسه وی ، او هغے فیصلے تبه غاړه ایګدی "۔

ده دے آیت په تشریح کی علامه ابوبکرجصاصؒ فرمایی چی :

" وفی هٰذه الآیة علیٰ أن من ردشیئامن أوامر اللّٰه تعالیٰ او أوامر رسوله ﷺ فهو خارج من الاسلام ، سواء رد ه من جهة الشك فیه ، أومن جهة ترك القبول ، والامتناع من التسلیم ، وذالك یوجب صحة ماذهب ألیه الصحابة فی حکمهم بأرتداد من امتنع أداء الزکاة وقتلهم وسبی ذراریهم لأن اللّٰه تعالیٰ حکم بأن من لم یسلم للنبی ﷺ قضائه و حکمه فلیس من أهل الایمان "

" داآیت پردے خبره دلالت کوی چی کوم کس ده اللّٰه ﷻ اوده هغه ده رسول ﷺ یو حکم ردکړی نوداسی کس ده اسلام نه اوځی ... بیابرابره خبرده کیه پدے وجه ردکړوچی هغه ته ده دے حکم (په صحت کی) شك ؤ ، یایه شك نه وی لیکن بیاهم داحکم اونه منی یا هغه حکم ته ده سرخکته کولونه انکاراوکړی ، ده هم دے نه ده صحابه کرامؓ ده دے مؤقف صحت هم ثابتیژی چی کوم موقف هغوئ ده زکوٰة نه ور کؤنکوپه خلاف اختیارکړئے ؤاوپرهغوئ یه ده ارتدادحکم اولګولو هغوئ یه قتل کړل او ده هغوئ نیه غلامان اووینځی جوړول یه جائزاوګرځول .... زکه چی اللّٰه ﷻ داحکم کړئے ؤ چی کوم کس پخپلو ټولو معاملاتوکی ده حکم او فیصلے کولو حق ده نبی اکرم ﷺ شریعت ته نه کړی حواله نو هغوئ ده اهل ایمان نه ندی "۔ (احکام القرآن للجصاص : ۳/ ۱۸۱) اوهم دغه شانتے اللّٰه په یوبل ځا ئے کی فرمایی چی :

﴿ أفحکم الجاهلیة یبغون ومن أحسن من اللّٰه حکماً لقوم یؤقنون ﴾ (المائده : ۵۰)

"(که چیرته دوئ ده اللّٰه ﷻ ده رانازل کرده حکم نه مخ اوړوی) آیابیاده جاهلیت فیصله غواړی ، اوده یقین لرونکولپاره تراللّٰه ﷻ هم خه فیصله کولووالابل څوك دئے "۔

علامه احمدشاکرؒ فرمایی چی :

" أن الأمرفی هذه القوانین الواضعیة واضح وضوح الشمس ، هی کفرٌبواح ، لاخفاء فیه ولامداورةٌ، ولا عذر لأحدٍ ممن ینتسب للأسلام ، کائناً من کان فی العمل بها، أوالخضوع أواقرارها، فلیحذرامرؤٌلنفسه ، وکل أمر ئٍ حسیبُ نفسه ، ألافلیصدع العلماء بالحق غیرهیابین ولیبلغواماأ مروا بتبلیغه غیرموانین ولامقصرین "

" یقیناًده دے وضعی اوخودساخته قوانینو معامله اظهرمن الشمس ده ، ده دے قوا نینو کفر کیدل دو مره واضح اوبیّن امردئے چی ده شك اوترددپکی هیڅ قسم ګنجائش نشته ، بس خپل ځا ن ده

اسلام و ه طرف تـه مـنسـوب کـؤنـکـئـے ده هرسړی لپاره ... چی هرڅوك وی ..... هغه لره پردے قوا نیـنـوبـانـدی عـمـل کـول ، دیته غاړه کیخودل ، یاده منلو هیڅ جواز هم نشته دئـے ، هرسړ ی لره پکاردی چی لـدے فتنـے نه ده بچاویدوفکراوکړی او هرکس لره خپله محاسبه کافی ده ، بالخصوص د علماء کرا مـوداذمه وار ی ده چی نن ده هرقسم خوف اوخطرے نه تیرشی ده هغـے پرواه اونه کړی اوحقه خبره علیٰ الاعـلان بیـان کـړی ده ځـه تـاخیـر او تقصیرنه بغیرده اللّٰه ﷻ احـکـامـات خـلـګـولره اورسوی "۔ (عمدة التفسیر : ۴ / ۱۷۴)

اوس هـرمسـلمان له پکاردی چی خپل ګریوان ته سرخکته کړی اوسوچ اوکړی چی په موجوده وخت کـی خـصـوصـاًپـه پـاکستان کی کوم قوانین رائج دی بیاکه هغه ده سیاسیاتوسره تعلق لری ، کده اقـتـصـاد یـا تـو سره ، کده جنګونواوسزاسره یاده بین الاقوامی تعلقا توسره تعلق لری ... آیاداده اسلامی شـریـعـت عطا کرده قوانین دی ؟ اوکه داشرعی قوانین نه دی اوواقعی دی هم نه نوبیاداقوانین ده کوم ځا ئـے نه راغلی د ی ؟ څنګه پرخلګولاګوشوی دی ؟ څوك دی چی داقوانین نافذه وی اوجاری کوی یه ؟ چا خـلـګ پردے خبره مجبوره کړیدی چی قوانین به منی ؟ ده رحمان رانازل کرده شریعت شاته پرے خودل اوده شیـطـان په شریعت باندی به رضا مندی آخرترڅووی ؟ لژخوده زړه نظرکهلاؤکړی اوده حالاتوجائزه واخلئـے تا سولره ده جواب موندلولپاره ډیرمحنت کول ندی لاز می ـ و اللّٰه المستعان !

دپاکستان مطلب څه دئـے .... لاأله الااللّٰه " دانعره اوس هم صحی ده ؟

هـرهـغـه مسـلـمـان چـی پردے زمکه ده شریعت الٰهی ده نافذاوغالب لیدلوخواهش منددئـے ، هـغـه لـره ده پـا کستـان ده آزادئـے نـه واخـلـے تـراوسـه پوری ده ټولو حالاتوپه یخ (سوړ) زړه سره جائزه اخستـل پکاردی ، آیاپه دوه اویاکاله کی دے خطے ده دین اسلام ده نفاذاوده شریعت ده حاکمیت وه طرف تـه سـفـرشـروع کـړ ئـدئـے اوکـه هره راتلونکے ورځ داخطه ده کفراواهل کفروه جانب ته نزدے کوی ، ده اسـلام اوده اهـل اسـلا م نیـه لیـری کوی ؟ نن ده پاکستان په کوم کونج ګوټ کی هغه ده " لاأله الااللّٰه " کلمه غالبه شوه چی ده کومی کلمے پرنوم باندی دوه اویاکاله وړاندی ده عوام المسلمین نه ده قربا نیو و رکـولو مطالبه شوے وه ؟ پدے ریاست خو ده " لاأله الااللّٰه " کردارهم دومره دئـے چی دایه ده کفریه قا نو ن جوړؤنکی پارلیمان پر عمارت باندی بره په ښوغټوښائسته حروفو سره لیکلے ده ـ

ایمان ، تقویٰ اوجهادفی سبیل اللّٰه " .....؟

آیـادادیـن صـرف ده دے لپاره راغلئـے ؤ چی داشیطان صفته فوج ده خپلو مرا کزواوچهاونیانود یـوالـونه په " ایمان ،تقویٰ اوجها دفی سبیل اللّٰه " نعروسره مزین اوخائسته کړی ؟ داخوپخپله ده دین تو

هیـن دئـے چی دامبارك شرعی اصطلاحات یوداسی دجالی لشکرطرف ته منسوب شی چی هغوئ پر طـاغـوت با ندی ایمان لری .... ده اولیاء شیطان په خاطرده اولیاء الرحمان په خلاف چی " جنگ " روزانه مشغله او وظیفه وی .....!!!

لااله الاالله " محض یوه جمله نده بلکه ده ټولی زندگئ دستورالعمل دئـے

ده الله ﷻ دیـن ده دے لپـاره نه ؤرانازل شوئـے چی ده خوخائسته نعروشکل ورکړلئـے شی اوپر درودیوال باندی خائسته اولیکلئـے شی ، بینرونه دی اولگولئـے شی ، پوسټری دی چاپ شی ، اوبیر غو نه دی اور پولئـے شی ، اونه دادین ده دے لپاره راغلئـے دئـے چی په محفلونواومجلسونوکی دی ده دے کـلمـے صـداپه ښه خائسته آوازسره اوچته شی اوپه کلوکوڅوکی دی ده دے ده حق نعرے اولگولئـے شی ، دا خوده الله ﷻ دیـن دئـے .....چی پرټولی زندگئ باندی ده حاوی اوغالبه کیدولپاره رانازل شو ئد ئـے ، اقتـصـادیات وی که سیاسیات وی ، اجتماوی اموروی که انفرادی معاملات وی ، عدالتونه وی که خـار جـی تعلقات وی ، منبراومحر اب وی که ذرائع ابلاغ وی ..... ده زندگئ هره شعبه ده دے شریعت تا بـعـه جـوړول لازمـی اوضـروری دی ! کـه چیـرته ده " لاأله الاالله " معانی هم دومره محدوده وئـے لکه څـنـگه چی بعضـے خلگوگنړلـے ده نوبیاخوبده انبیاء کرامؑ کارډیرآسان ؤ ، هغوئ به صرف بس دومره مطالبه کوله چی په ژبه سره یوځل داکلمه اووایئ بیاچی هرڅه کوئ بس درته اجازت دئـے ... فیصلـے د ه خپلی خوښی کوئـے ، ده خپلی خوښئ حکومت کوئ چی څنگه هم غواړئ بس هغه شانتـے زندگی تیـروئ .... اوخـلـگـولره به هم داسی دعو ت قبلول ډیرآسان ؤ ، لیکن موژوینو چی انبیاء کرامؑ له څومره مصائبواوآلاموسره مخامخ شوی ؤنبی کریم ﷺ فرمایی چی :

" أشدالناس بلاء الأنبیاء ثم الامثل فاالامثل " ترټولوخلگونه زیات غمونه اومصیبتونه انبیاء کرامؑ تـه ر سیـژ ی بیـا هـغـوتـه چی څوك هغه ئ ته ډیرقریب اونزدے وی ، اوپه بل ځائـے کی نبی ﷺ فرمایی چـی ټـو لو انبیاؤته اذیتونه اوتکلیفونه رسیدلی دی خومگر چی ماته کوم تکلیفونه رارسیدلیدی هغه بیـابـل چاته نه دی رسیدلی ، ټول خلگ ده هغوئ دشمنان شو ، ثابته معاشرواوقبائلوور سره قطع تعلقی اوکـړلـه ..... دازکـه چی ده انبیاء کرامؑ دعوت محض په ژبه سره ده یوے کلمـے ده ویلودعوت نه ؤبلکه ټـولـه زند گی ده " لاأله الاالله " موافق اوتابعه جوړولودعوت ؤ ، داداسی دعوت ولو چی ده پیړ یو پیړ یو یـعـنـی صـدیونه چی کوم طرز حیات را روان ؤ هغه یه سم بلکلیه ختم کړلواوده زندگئ په هراړخ کی یه انـقـلاب راوستـلـو! اوښکاره خبروه چی خلگودومره تبدیلئ لره قطعاًنه ؤتیارهم پدے وجه هغوئ اویل چی :

﴿ حسبناماوجدناعليه آبائنا ﴾ (المائده : ۱۰۴)

" موژلره هم هغه طريقه كافی ده چی پرکوم طرزباندی موژخپل پلاراونيکه ليدلی ؤ" اوداچی :

﴿ بل نتبع ماوجدناعليه آبائنا ﴾ (لقمان : ۲۱)

" بلکه موژخوده هم هغی طريقے پيروی اوتابعداری کؤ چی پرکوم طرزباندی موژخپل پلاراو نيکه ليد لی ؤ"

الغرض نن موژپه خلاسوسترګوسره مشاهده کؤ چی په موجوده وخت کی خصوصاً په پا کستان کی يوا سلامی حکم ورځ په ورځ ماتيژی اوده کفرسره واسطه اورابطه ورځ په ورځ مضبوطيژی تردے چی ده نبی کريم ﷺ فرمان تردے ځايه صادق په نظرراځ چی :

" لتنقضن عرىٰ الاسلام عروة عروة فكلماانقضت عروة تشبث الناس بالتی تليهافأولهن نقضاًالحكم و آخرهن الصلاة "

داسلام ده زنزير(زنجير) کړئ به ضروربالضروريوده بل نه پس ماتيژی ، چی کله هم يوه کړئے ماته شی نوخلګ به په دويمی کړ ئے سره اونخلی اومطمئن به شی . ترټولونه اوله ماتے دونکے کړئے بـه (شريعت) حاکميت وی اوترټولونه آخری ماتے دونکے کړئے به لمونځ وی "۔ (رواه احمد، وابن حبا ن ، والطبرانی ، والحاکم ، وغيرهم)(شمشيربے نيام)

د دے بحث نه داخبره ښه په وضاحت سره معلومه شوه چی موجوده عدليه نظام ده پخلو اصو لو او ضوا بطوپه اعتبارسره يو خا لص غيرشرعی اوکفری نظام دئے زکه چی پدے کی ده دوه اويا کالونونه ده انسان قانون ته ده رب العٰلمين پرقانون باندی فوقيت حاصل دئے ، اوده هم دے نه ده ملك ده سياسی نظام کفرهم خکاره شوزکه چی داغيرشرعی قوانين اول په پارليمنټ (پارليمان) کی تياريژی اوبياده هغے نه وروسته بياعدالتونه هغه قوانين نافذه وی پدے سره ده دے رياست مجموعی وجو دبطلان هم ثابت شولو، چی هغه دوئ ده دے طاغوتی عدالتونواساسی ستنه ګنړی ، ده دے عمل مبا ح قانونی بلکه مقدس ګنړی اوده دے احترام ده آئين اوقانون ده لاری نه واجب ګنړی ، نودے غلط پليت ريا ستو نوته اسلامی ويل څنګه ممکن دی ؟

پاتے شوده ججانواووکيلانو حکم نوده هغوئ متعلق خلاصه اواصول ذکرشوپاتے شوداچی پرمتعين افرادو(فلان بن فلان) با ندی حکم لګول دانه ممکن دی اونه هم دازموژاصل مقصوددئے ، داده مفتيا نو حضراتوکاردئے چی دابالاصورتونه مخی ته کيژ دی پدے نظام کی ده شريکوافرادوده حا لاتوتحقيق دی اوکړی اوبيادی شرعی حکم باندی منطبق کړی ، زموژاصل مقصددلته کی دانه دئے

چی ده افراد و حکم بیان کړو، بلکه زموژمقصددادئے چی ده دے نظام کفرثابت کړواوچی کوم خلګ پدے نظام کی برخمن دی بیاکه په هرنیت اوهرنامه سره وی نوموژده زړه ده کومی نه هغوئ ته داد عو ت ورکۀ چی هغوئ ده دے نظام نه لاس وا خلی اودایوخطرناك جرم اوبدی اوګنړی ده دے نه توبه او با سی اوخپل ځان ده دے عهدونه محفوظ اوساتی ....

اوکه اوس هم دوئ پدے کفری عدالتی نظام کی دحصے جوړ دلو باندی مصروی نوکم ازکم داخودی اوکړی چی پدے فاسدنظام کی شرکت خوګناه اوګنړی لدے نه دی د ه کراهت اونفرت اظهاراوکړی اوخپل ځانونه په اضطراری حالت کی اوګنړی .... نو هله بیاامکان شته چی داکارده دوئ ده جرم شدت اوسخت والئ څه سپك اوکم کړی ..... اګرچی بیا هم یوډیرسنګین جرم د ئے !اوبل پدے ټول بحث کی هرعام مسلمان لره هم دعوت دئے چی ده اللهﷻ ده شریعت نه علاوه په بل قانون سره ده فیصلے کول قباحت اوبدوالئ اوګنړی ده دے جاهلی عدالتونوده نظام نه دی خپله را بطه کټ اوختم کړی اوخپلی فیصلے په علماء کراموسره ده شریعت محمدی ﷺ موا فق اوکړی ۔

کتبه بیمینه حبیب الرحمٰن جلالی بمورخه

۱۸ جمادی الثانی ۱۴۴۱ھ بمطابق ۲۲ ،فروری ۲۰۲۰ء

فی یوم السبت

و من یشاقق الرسول من بعدماتبین له الهدیٰ ویتبع غیر سبیل المؤمنین نولهٖ ماتولیٰ ونصلهٖ جهنم ... (الآیة)

دیواستبداد جمهوری قبامیں پائے کوب ::: توسمجھتا ہے یہ آزادی کی ہے نیلم پری (اقبال)

درس
جمهوریت
او
ډیموکراسی
حصه هشتم

اضافه ترتیب وکتابت
حبیب الرحمٰن جلالی (ا بن مولوی جلال الدین صاحب کبزئی)

جمهوریت حصه هشتم

دجمهوریت پدے اتمه حصه کی به ان شاء اللّٰه ده یو څوشکوکوشبهاتواواعتراضاتوجوابونه کووچی ده دے شبهاتوپه وجه سره نن صبابعض خلګ پدے موجوده کفری اوجمهوری نظام کی ده مداخلت کولواوحصے اخستلودلیل نیسی پدے شبهاتوسره پدے کفری حکومت کی ده حصے اخستلواوده حکم بغیرمانزل اللّٰه جوازثابتوی اوده هم دے اعتراضاتوپربناء دوئ تردے کفری اووضعی قوانینو لاندی ده جوندتیرولوڅه حرج نه محسوسه وی۔

بلکه ځینی اسلام ته منسوب هغه علماء چی یاده مغر بی تاثیرنه لاندی راغلی دی اویاهم ده جهاداوقربانیواوپه نبوی منهج سره ده اسلا می نظام ده حا کمو لو اونافذه ولونه ناخبره دی اویا هم قصد اًداسی کوی اودانن صبا چی پدے جمهوری نظام کی کوم وردننه شوی تنظیمونه دی هغوئ پدے جمهوری حکومتو نواوپارلیمانونوکی ده حصے اخستلودپاره په محمدی شریعت کی ده دلائلوده مو ندلوکوششونه کوی اوپه بے ځایه شبهاتواوا ستد لالاتوسره پدے جمهوری نظام کی ده شریك کیدو لا ری غواړی :

اوله (۱)شبهه : دیوسفؑ ده مصرله بادشاه سردوزیرپه حیث کارکول

ده هغواعتراضاتونه یواعتراض داهم دئے چی حضرت یوسفؑ ده مصرده بادشاه په کفری حکومت کی ده مدا خلت اظهاراوکړولدے نه معلومه شوه چی اوس هم مسلمانان په یوکافرنظام کی کارکولئ شی اوده نااهلوده اصلاح په نیت اویاده هغوئ نه ده منصب اوعهدے ده اخستلوپه نیت سره په یوه کفری نظام کی مداخلت کولئ شی چی دهغه منصب حق په صحی اوشرعی طریقے سره اداکړی نو اوس ده دے اعترا ض موژیو څوجوابونه کوو۔

" **اولاً** " داچی یوسفؑ خوپیغمبروواوپیغمبرخومعصوم وی نوزکه له هغه نه پدے منصب کی څه قسم کوتاهی نه کیدله۔

" **ثانیاً** " دویم داچی هغه پیغمبروواوده پیغمبرپه موجودګی کښی بل څوك خلافت امارت او حکرانی نشی کولئے اونه مشری کولئے شی ، رئیس المنافقین عبداللّٰه بن ابی ابن سلول خو هم پدے وجه ده پیغمبراسلامﷺوه دشمنئ ته ملاوتړله زکه چی د ئے خوده نبیﷺوه مدینے منورے ته ده را

تلونه وړ اندی ده مدینے ملك اوسردارووده ملکئ تاج ورپسرشوئے ؤ اونبی ﷺ چی تشریف فر ما شو نودده ملکی یه ټوله سره ورګډه کړله ۔

" **ثالثاً** " داچی هغه ځانته شریعت ؤاوزموژغه ځانته شریعت دئے زموژپه شریعت کی دعهدے پرطلب باندی سخت وعیدونه راغلیدی پردے خبره رد شوئے دئے ۔

" **رابعاً** " داچی هغه ته پته وه چی ماته یو منصب راکوی زکه چی هغوئ به ویل ﴿ فلماکلّمه قال انك اليوم لدينامكين أمين ﴾ (لقمان : ۲۱) نو چی هسی یه هم منصب ورکولونوده ویل بیاخوپکارده چی ده د ے منصب طلب ترے نه اوکړم زکه چی هغه خوده هغه منصب حق اداکولئے شوپیغمبرؤ ۔

" **خامساً** " داچی ده یوسفؑ په زمانه کی ده فاسقانواوفاجرانواختیارات ؤ اوده بادشاه په قانون بیه فیصلے کولے اوکه څوك سوا ل اوکړی چی په اوسنی دورکی خو هم دغه حالات دی نوجواب داد ئے چی پریوسفؑ باندی پابندی نه وه اونه هم هغه برداشوله بلکه هغه خپل اختیارات چلول اوده هغو ئ اختیارات یه ټول ورختم کړل قرآن ګواه دئے چی :

﴿ ماكان ليأخذأخاه في دين الملك ﴾ (یوسف : ۷٦) نو هغه خوده بادشاه په قوانینوسره فیصلے نه کولے بلکه ده خپل شریعت او ده خپلو آباؤ أجدادوپرپله روان ؤ اوتاسوکه نران یئ نوپه جمهوریت کی صرف یوحدجاری کړئ بیابه موپته اولګی چی ده سیره څوپخیژی ۔

اوڅوك چی دادعوه کوی چی پدے نظام کی ټول نااهلان پرمنصبوناست دی اوموژیه اهل یو نوزکه پکی برخمن یونو جواب دادئے چی پد ے نظام کی به تاسو هله مداخلت کولو چی تاسوته ده اهلیت موقع خودرکول کیدئے بلکه تاسوخوپه پارلیمینټ اوجمهوریت کی ده دوئ ترکفری اووضعی قوانینولاندی ده جوندتیرولوقسمونه (حلف) او چته وئ نوربه پریژدوصرف ده فرزند حضرت مفتیؒ اوقائدملت صاحب یوقول رانقل کړوچی پدے هکله ده هغه څه نظریه ده نودئے فرمایی چی :

''پاکستان میں قانون کی عمل داری ہونی چاہئے آئین کی تحت زندگی گزارنے کی ترغیب جمعیت علماء اسلام نے دی ہے'' ان خیالا ت کا اظہار انہونے ریلوے ہاکی گراؤنڈ میں علماء اکرام اور دینی مدارس کے مہتمم سے خطاب کرتے ہوئے کیا.....(روزنامہ جنگ کوئٹہ، پیر، ٦ مارچ ۲۰۱۷ء)

" **تنبیه** " دلتہ دایوہ خبرده اورے دوده هغه داچی پدے کتاب کی موژدبعضو ډیرومشهو رو کسا نوپر اقوالوباندی ردکړئدئے نود دے دامطلب نه دئے چی اوس موژده دے اشخاصو سره یاعداوت دئے یا موحسداونفرت دئے ورسره یاموژ دهغوئ ده ذات خلا ف یوتاسوبده راویانوده جرحی په باب کی

لیدلی وی چی پرراویانوباندی څنګه جرحی کیژی لکه امام مالکؒ ده محمدابن اسحاق په هکله وایی چی دا کذاب اودجال دئے اووایی چی " لوقمتُ بین الحجرو المقام لحلفتُ انه کذاب دجال " که چیرته څه د ه حجر اسود اومقام ابراهیمؑ په مینځ کی اودریګم نو هم به وایم چی داکس کذاب اودجال دئے حالانکه دا ده جمهوروپه نزدباندی ثقه راوی دئے ده دے متعلق به شیخی واستاذی شیخ محمدادریس صاحب ډیر په تاکیدسره ویل چی دادا هل ثقه ؤنه دئے خوامام ملکؒ به چیر ته یوه خامی پکی لیدلے وی پرهغه هم موژردنه کؤ۔

دغه شانتے په روایت ده معنعن کی دامام بخاریؒ په نزدده معاصروراویانو په منځ کی ملا قات اوسماع شرط ده اوامام مسلمؒ وایی چی نه مولاقات اوسماع یه شرط نده نوپدے باره کی امام مسلمؒ ده امام بخاریؒ په باره کی څنګه الفاظ ویلی دی حالانکه استاذیه هم دئے داولی نودازکه چی سندخوده دین سره تعلق لری اوده دین په وجه سره پریو چاباندی رداوتنقیدکول داده دین دفاع ده په غیبت محرمه وغیره کی یه شمارنه کیژی ، بعینهٖ دغه رنګه ده دے خلګو سره هم زموژڅه ذاتیات نشته دانظام کفری اوطاغوتی نظام دئے اوده طاغوت نه خوموژته اسلام ده براء ت اوانکاردرس راکو ی او تا سو څنګه ده شریعت په خلاف تردے کفری اوطاغوتی آئین تحت جوندتیروئ کفری نظام خوزکه دئے چی ده تحلیل او تحریم مکمل اختیارات لری ده سودکاروبارنصاً اوقطعاً حرام فعل دئے اودوئ قا نو ناً جوازندئے ورلره ثابت کړئے پارلیمنټ ته په مکمل ډول سره ده تحلیل اوتحریم حق حاصل دئے دا بحثونه خوموژټول په تفصیل سره کړیدی ده دے نظام اوده دے آئین پرکفر خوموژمکمله یوه حصه لیکلے ده۔

دغه رنګه زموژاستادشیخ محمدادریس صاحب اکثره پردرس ترمذی او تقریر ترمذی رد کو ی چی دامسئله داسی ده اودوئ داسی لیکلے ده (اګرچی شیخ صاحب یه نوم نه آخلی بلکه وایی چی بعض ده اردووالاؤداسی لیکلی دی)اواوس هغوئ هم پدے نوی ایډیشن کی دهغو خبرو تصحیح کړے د نوده د ے اوس دامطلب شو چی زموژاستادده حضرت تقی عثمانی صاحب ده ذات خلاف دئے یایه ور سره حسددئے یایه نفرت ترے نه کیژی " نه نه کلاوحاشا " نحن تابعوا الحق لاللرجال

بل شیخ ادریس صاحب خپله ټوله زندګی دبخاری اوترمذی په درس اوتدریس کی لګولے ده په درجنو کرته یده امام بخاریؒ زیارت کړئدئے په درجنوکرتیه په خوبونوکی لیدلئدئے لوئ استاذیه ګنړی خوبیا یه هم " من کل الوجوه " دامام بخاریؒ اتباع نده کړے امام بخاری اوترمذیؒ دواړه شافعی المسلك دی او شیخ صاحب حنفی المسلك دئے ، امام بخاریؒ پردے خبره یو مکمل باب راوړئدئے چی

که چاپه یوه یادوه کوتواشاره اوکړه نوپدے سره طلاق واقع کیږی شیخ صاحب اتفاق نه ورسره کوی داکراه اواضطرار حالت بخاریؒ ده ابن عباسؓ په روایت سره مترادف ثابت کړیدی شیخ صاحب اتفاق نه ورسره کوی پدے باب کی ، امام ترمذیؒ یو حدیث رانقل کړیدئے موږبه دهغه حدیث الفاظ رانقل کړو :

" باب منه ایضاًحدثنا: بندارناابوعامرالعقدی نافُلیح بن سلیمان المدنی ؛؛؛؛؛ مذکرواصلوٰۃ رسول اللّٰہ ﷺ فقال ابوحمیدانااعلمکم بصلوٰۃ رسول اللّٰہ ان رسول اللّٰہﷺجلس یعنی للتشهدفافترش رجله الیسریٰ وقبل بصدر الیمنیٰ علیٰ قبلته ووضع کفه الیمنیٰ علیٰ رکبتهٖ الیمنیٰ وکفه الیسریٰ علیٰ رکبته الیسریٰ واشاربأصبعه یعنی السبابة قال ابوعیسیٰ هذاحدیث حسنٌ صحیح " (ترمذی جلداول ص: ٦٥)

اوس پدے حدیث کی امام ترمذیؒ ویلی دی چی داحدیث حسن اوصحیح دئے اوشیخ صاحب اوویل چی نه داحدیث ضعیف دئے اوس شیخ صاحب اگرچی زموږمشردئے موږیه ده پښوخاوری هم نه یومګرداامام ترمذیؒ په مقابله کی خویه داحیثیت ندئے دامقام ورته حاصل شوئے دامام بخاری اوترمذیؒ په واسطه سره دئے اوس امام ترمذیؒ نه پوهیږی چی حسن اوصحی ورته وایی اوشیخ صاحب ښه پوهیږی چی نه داضعیف دئے نه شیخ صاحب داخبره ده کتاب البطن نه نده کړے بلکه دعلامه عینی اوحافظ ابن حجرؒ په شانتے جبال العلم نیه ورته مورچه نیولے ده دغه شانتے موږهم ددے نظام کفرد کتاب البطن نه نه کووبلکه دډیرولویولویوعلماؤتائیدراسره دئے داستدلال ، استخراج اواستنباط په باب کی به شیخ صاحب ډیرکرته داویل موږته چی اے امام بخاری داستدلال په باب کی له امام ابو حنیفهؒ سره ډغری مه وهه موږهم ورته وایو چی په شرعی نظرسره دسیاست اومروجه جمهوریت په باب کی له شیخ خالداوعاصم عمرسره ډغری مه وهئ ـ

" **سادساً** " داچی پیغمبرﷺفرمایی "من طلب قضاء المسلمین فغلب جوره عدله " څوك چی ده مسلمانانوده قضاء منصب طلب کړی اوبیاورکولئے شی نودده جوراوظلم به ده هغه پرعدل باندی غالب شی " ومن غلب جوره عدله فله النار " اوده چاچی ظلم پرعدل غالب شونو هغه کس به په اورکی وی او ده یو سفٔ پرخپل ځان یقین ؤ چی زه خوده رب العٰلمین له طرفه پیغمبریم نوزکه پرماجورنشی غالبه کیدئے ـ

" **سابعاً** " اوومه وجه داده چی دااوسنی پارلیمانونه خوشرکی اوطاغوتی پارلیمانونه دی اودلیل یه دادئے چی اوسنی پارلیمان (پارلمینټ) ته ده تشریع تحلیل اوتحریم حق ورکول شوئدئے حالانکه ده تشریع اوتحریم والاکارصرف اوصرف اللّٰہ ﷻ لره ثابت دئے (کمامرتفصیله) خویه جمهوریت اوډ

یموکراسی کی دغه حق عوامواولس ته ورکول شوئیدئے چی پارلیمنټ یه ممثل دئے ۔

اسلام خوده اعلیٰ حاکمیت اوتشریع په حق کی ده مداخلت اختیاربل هیچاله هم نه ورکوی خو په جمهو ریت کی صرف داهم نه چی محض ده تحریم اوتحلیل حق یه عوامواواکثریت ته ورکړئیدئے بلکه په قطعی ډول سریه اللّٰه ﷻ ده دے حق نه ده دوئ په زعم کی محرومه کړئیدئے ، په هم دے وجه سره اسلام ځا نله مستقل دین دئے اوجمهوریت ځانله مستقل دین دئے اوده دواړو ده تشریع مصادرهم جدا جدادی په اسلام کی ده تشریع مصدر (الٰهی وحیی) او (رسول) دئے ، اوپه جمهوریت کی ده تشریع مصدرده خلګوخواهشات اوهوسونه دی ، اواللّٰه ﷻ ده دین اسلام نه علاوه بل یودین هم نه قبلوی او فر مایی چی :

﴿ و من یبتغ غیرالاسلام دیناًفلن یقبل منه وهو فی الآخرة لمن الخٰسرین ﴾ (آلعمران : ۸۵)

اوهرڅوك چی ده اسلام نه علاوه بل دین غوره کړی هیڅ کله به ورسره اونه منلئے شی اوهغه به په آ خرت کی ده تاوانیانوسره وی ،

نو آیا څوك داسی تصورکولئے شی چی یوسفؑ به ده اسلام نه علاوه بل دین منلئے وی اویا بیه ده خپلو مو وحدینونیکونوده ملت نه علاوه بل ملت اختیارکړئے وی ؟ اویابیه دهغه ده احترام او پا سدا رئے حلف اخستئے وی ؟ اویابیه هم دهغه مطابق قانو ن ګذاری کړے وی ؟ لکه چی ده اوسنی ز مانے د ه پارلیمنټ ده والاؤحال دئے ؟

یوسفؑ خولیاده بندی توب اوبے وسئ په وخت کی هم ده شرك اومشرکینونه ده بیزارئ اعلان کړئے ؤ لکه چی قرآن وایی :

﴿ أنی ترکتُ ملّة قوم لایؤمنون باللّٰه وهم بالآخرة هم کٰفرون . واتبعت ملة آبائی أبراهیم واسحٰق ویعقو ب ماکان لنا أن نشرك باللّٰه من شیئ ﴾ (یوسف : ۳٦ . ۳۸)

(بیشکه ماپرے ینبئے دئے دین دهغوخلګو چی ایمان نه راوړی پراللّٰه باندی اوحال دادئے چی دوئ هم ده آخرت نه انکارکوی ، اومتابعت کړئیدئے ماده دین ده خپلوپلرونواونیکونو چی ابراهیمؑ اسحٰقؑ او یعقوبؑ دئے ، ندی مناسب موژلره چی شریك اونیسوده اللّٰه سره یوشئ)

وروسته یوسفؑ ده توحیددحقیقت بیان کوی اوعلیٰ الاعلان وایی چی حکم به صرف اوصرف ده اللّٰه ﷻغه چلیژی اوعبادت به هم صرف ده اللّٰهﷻ غه کیژی لکه چی قرآن فرمایی :

﴿ یٰصٰحبی السجن ء أرباب متفرقون خیرأم اللّٰه واحدالقهار ، ماتعبدون من دونهٖ .... ﴾ (یوسف : ۳۹ . ۴۰)

آیاداممکنه ده چی یوسفؑ خوده بنداوده ضعف په وخت کی هم ده شرك نده بیزارئے اعلان او

کړ و اوحکومت یه یوازی الله ﷻ لـره ثابت کړو، اوبیادی ده آزادئـے اوقوت په وخت کی داحقیقت پټ کړ ی ، او ده بادشاه په دین دی فیصلـے اوکړی ، په داسی حال کی چی الله ﷻ په زمکه کی تمکین هم ور کړ ئـے ؤ ؟

یـوه بـلـه خبـره هـم قابل غورده هغه داچی په پارلیمنټ اووزارت کی فرق موجوددئـے ، پارلیمان شـریعت او قوانین جوړوی اووزارتونه یه تنفیذوی ، نو هغه خلگ چی په اوسنی پارلیمنټ کی ده الله ﷻ ده دیـن خـلاف قـوانین جوړوی اوتصویبوی یه نوده هغوئ جرم ترهغوډیردئـے چی کوم څوك جوړکړی قـوانیـن عـمـلی کوی ، زکه داخبره بـے بنیاده ده چی کوم خلگ دے اوسنی پارلیمان ته ده ورتللودپاره ده یوسفؑ عمل دلیل نیسی ـ

خـوده دے دامطلب نه دئـے چی پارلیمنټ ته ورتگ دی ناجائزاووزارت قبلو ل دی جا ئز شی ، او سـنی طاغوتی نظامونه چی ده الله ﷻ ده دیـن په مقابله کی رااوتی دی ده الله ﷻ ده د ین اوده هغه ده دو ستـانـوسریه ده جگړ ے کولواعلان کړئدئـے . ده الله ده دشمنانوسره دوستیانی اوا تحا دونه کو ی ، نو دا سی وزارت اوعهـده قبـلـول هم حرام کاردئـے اوده یوسفؑ په عمل سره استدلال نیول هم با طل د ئـے ، ز کـه چـی په اوسنی حکومتونوکی وزیران ده هم دے وضعی اواساسی قوا نینوپاسداری اواحترام کوی ، اوده دے نه باوجودچی الله ﷻ پـه دغـه شانتـے طاغوتی (حکم) باندی ده کا فر کید ولو حکم کړ ئد ئـے لکه چی فرمایی :

﴿ یریدوون أن یتحاکموا ألی الطاغوت وقدأمروا أن یکفروا بہٖ ﴾ (النساء : ٦٠)

(دوئ داغـواړی چـی خپـلـی فیـصلـے په طاغوت باندی حل کړی پداسی حال کی چی دوئ ته حـکـم شـو ئدئـے چی په هغه طاغوت دی کافرشی ، اوس که څوك داگمان کوی چی یوسفؑ به هم دغه شـانتـے طا غوتی قانون منلوده هغه پاسداری اواحترام بیه کولو پداسی حال کی چی هغه خوالله ﷻ ده خپـلومخلصوبندے گانونه گرځولئ ؤ نویقیناً چی داسی گمان کونکی بده الله ﷻپه یوه پیغمبرباندی دروغ ویونکی وی ترټولوبدکافرله دین اسلام نه به وتلئ انسان وی ـ

"ثامناً" اتـم داچـی پـه اوسـنـی حـکـومتونوکی وزیران ده وضعی کفری قوانینومنونکی او منفذین دی ، په هرڅه کی ده دے وضعی قوانینوپابندی نو آیاده حضرت یوسفؑ په باره کی هم داگمان کیـدئـے شی چی معاذالله هغه هم ده کفری وضعی ظالمو اوباطلوقوانینوپابنده ؤ ؟ که ده چاده یوسفؑ په حق کی هم دانظریه وی اوده هغه پدے فعل سره استدلال نیسی نوپه یقینی ډول سره داسی خلگ ده

اللّٰه ﷻ یو پیغمبرده کفری قوانینو په منلوسره تورن کوی ، چی داکارپخپله کفردئے اومستلزم دئے ده د یـن اسلا م نه دبیزارئے لره ، زکه چی اللّٰه ﷻ خـوانبیاء ده هم دے دپاره رالیژلی دی خپلوامتونولره چی هغو ئ ته ده طاغوت ده پرے ښودلواویوازی ده اللّٰه ﷻ ده احکاماتوده منلوتعلیم ورکړی اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ ولقدبعثنافی کل أمة رسولاً أن أعبدوااللّٰه وأجتنبواالطاغوت ﴾ (النحل : ٣٦)

" **تاسعاً** " نهـم داچی اللّٰه ﷻ ده یـوسف ؑ پـه بـاره کی ده تمکین خبره ذکرکړے ده ﴿ وکذالك مکنالیو سف فی الأرض ﴾ (یـوسف : ٢١) دتـمـکیـن لفظ پدے آیت کی مجمل دئے خوپه بل ځائے کی اللّٰه ﷻ ده دے اجمال تفصیل داسی بیان کړیدئے :

﴿ الـذیـن أن مکناهم فی الأرض أقاموا الصلوٰة وء اتواالزکوٰةوأمروابالمعروف ونهواعن المنکرولله عاقبة الأمور﴾ (الحج : ٤١)

داچی ده یوسف ؑ په باره کی اللّٰه ﷻ ده تمکین خبره کړے ده نو معلومه شوه چی یوسف ؑ هم لد ے خـلـکـوؤ چـی لـمنځونه اودروی ، زکا ت ورکوی ، امربالمعروف اونهی عن المنکرکوی ، اوپدے باره کـی تـر ټولولوئ معروف توحیداوترټولولوئ منکرشرك دئے ، هغه ؑ دخپلوپلرونوده حق دین اتباع کوله او د هـغـوئ پـه حق دین یه فیصلے کولے ، ده اللّٰه ﷻ ده قـانـون نـه عـلاوه یه په بل قانون سره هیڅ کله فیصلے نه کولے اونیه هم ده اللّٰه ﷻ ده قانون خلاف ده بل قانون ده جوړولواجازه ورکوله ، اوکه څوك د هغه ؑ په باره کی ده دے په خلاف عقیده اولری نو هغه مسلمان نشی پاتے کیدئے ـ

اودعـصرحاضرپدے طاغوتی حکومت کی یووزیریایوبل کس ده اسلام دپاره ده دے جمهوری دیـن پـه خلاف یوکاراوکړی نو هغه به فوراً له خپلی وظیفی اوعهدے نه برطرفه کیژی دستبرداره کیژی به ده د ے اساسی اووضعی قانون سرده خیانت په جرم سربه وژل کیژی اویابه زندان ته اچول کیژی اوده د ے خبری لنډمثالونه موجوددی ـ

هـغـه داچی ده ختم نبوت غازیان لکه (غازی ممتاز قادری شهیدؒ، غا ز ی علم الدین شهیدؒ ، او غـازی حـافـظ فـیـصـل خالدافغانی) ده دے کسانوانجام خو هرکس ناکس ته معلوم د ئے حالانکه پکار خـوداوه چـی داغازیان یده محمدرسول اللّٰه ﷺ سره ده وفاده وجهی نه پرتخت باندی کینه ولی وئ نوبل نشـانـونه یه ورکړی وئ انعامونه یه ورکړی وئ ده اسلام ده لوری نه خوداسی خلګ د ه ډیرلوئ اعزا ز اوا حتـرام خـاوندان دی خولیکن بیاهم دااسلامی ملکونه وه دے اسلامی غازیانوته څنګه قسمه سزاګانی

اوتـکـلیفونه ورکوی داولی نوداز که چی داقسم کارونه اگرچی په اسلام کی ده فخر وړدی خومگرده دے اساسی طاغوتی کفری اوجمهوری قانون خلاف دی ـ

زکـه یه داسی انجام وی اوپه دین جمهوریت کی خوکه ده دے جمهوری اواسلامی قانون ټکر او تضادسره راشی بیابه ترجیح اوفوقیت ده دوئ وضعی اوکفری قانون ته حاصل وی " نعوذباللّٰه من ذالك " اوکـه چیـرتـه ټول حـکـومـت اووزارتونه دانتخاباتوده لاری نه ده مسلمانانولاس ته ورشی بیا هم ورته ده حـکـومـت کـولـوفـرصـت نـه ورکـوی لـکه چی ده اسلامی دنیاپه ځینوځایونوکښی داخبره بالمشاهده اولیـدلـئـے شـوه نـوپه هم دے وجه سره ده حضرت یوسفؑ په عمل سره پدے کفری نظام کی ده وردننه کیدلواستدلال نیول صرف بهانه ده نور هیڅ حقیقت هم نه لری ـ

دویمه (۲)شبهه : د نجاشی بادشاه په عمل سره استدلال نیول

بـلـه شبـه دوئ ده نجاشی بادشاه پیشه وی چی هغه اسلام قبول کړوبیایه هم ده اللّٰهﷻ ده قانون نه علاوه په بل قانون سره فیصلے کولے اوکده اللّٰه ﷻده قانون نه علاوه په بل قانون سره فیصلے کول کفروی بیاخونجاشی هم نشو مسلمان ـ

نجاشی څوك ؤ

اول بـده نـجـاشـی لڑ شانتے تعارف اوکړوچی داڅوك ؤنوداده حبشے نصرانی بادشاه ؤ چی کله مسـلـمـانان په مکه مکرمه کی ده کافرانوده ظلم اوستم نه تنگ راغلونوبیاپیغمبرؐ پخپله په مکه کی پا تـے شـو او مـلـگـروتیـه حبشـے تـه دتـلـو حکم اوکړوچی کله صحابه ؤ هجرت اوکړونو مشرکین مکه ور پسـے ور غلو اونجاشی تیه اوویلے چی داخلگ بے دینه شویدی اوله موژنه درتختید لی دی نوداواپس رااوشړه نـجـا شی دوئ خپل دربارته رااوغوختل اوورته یه اوویل چی تاسوخپل موقف پیش کړئ چی د لته ولی را غلی یئ اوڅله بے دینه شوی یئ نو ـ

(حـضرت جعفرطیارؓ) پاسیدواوډیرخلکولئـے تقریریه او کړوچی مو ژخواول ډیرجاهلان ؤ قتلو نـه بـه مـوکـول ، یودبل وینی به موتویه ولـے ، ګناهونه به موکول ، شرابونه زنا ګانی به موکولے ، اوس پـه مـوژکـی اللّٰـه یـوپیـغمبرراولیـګلو هغه دسحرپه لمانځه کی موژته قرآن لولی ، زموژپه مینځ کی یه مـحبـت اوالفت راوستلیئدئـے ، بهرکیف دا قسمه خبری یه ورته اوکړلے بیا هغه د حضرت عیسیٰؑ په باره کـی تپـوس ترے نه اوکړوچی دهغه متعلق تاسوڅه وایئ نو هغهؓ د سورت مریم آیتونه ورته اولوستل چی پـه هـغـوکـی ده عیسیٰؑ ده ولادت ذکرهم شته ، دهغـے نه پس نجاشی ورته او ویل چی بیشکه په

انجیل کی یه هم دغه شانتے ذکرراغلئے دئے ، ده دینه ذره برابرنه کم دئے اونه زیات دئے ، اواهل مکه یه را اوشړل چی ځئ ورك شئ نونجاشی ده حضرت جعفرطیارؓ پد ے بیان سره مسلمان شوبیا چی کله وفات شونوپیغمبرؐ غائبانه جنا زه پرے اوکړله ـ

بعض خلګ اوس هم غا ئبا نه جنازے کوی خصوصاًداسیاسی خلګ خوداصحی ندی زکه چی ده نجاشی جنازه خوده پیغمبرؐ معجزه وه یعنی دهغه لاش اللّٰه ﷻده ته دمعجزے په طورحاضرکړ ئے ؤ ، اودنجاشی ده قبرنه بیا نوررا و چتیدوداډ یربزرګ سړئے ؤخوصحابی پدے ندئے چی دنبیؐ دید اریه ارمان ؤخووه راغلئے نه دئے ، نوبهرحال دوئ اوس دااعتراض کوی چی دانجاشی مسلمان شو او پیغمبرؐ مسلمان اوعبدصالح هم ورته ا وویلواوجنازه یه هم غائبانه پرے اوکړله حالانکه هغه داللّٰه ﷻپه قانون سره فیصلے ندی کړ ے اوبادشاه هم ؤبلکه هغه ده اللّٰهﷻ ده قانون په مقابله کی بل قانون چلو لئیدئے ، نوده دے اعتراض به موژیو ځو جوابونه کؤ ـ

" **اولاً** " داچی دوئ خودی اول ده منع دلیل پیش کړی چی نجاشی داللّٰه ﷻ په قانون سره فیصلے ندی کړی ، دوئ دی داخپله خبره دقرآن نه یادروایاتونه یادتاریخ نه ثابته کړی ، اوکه دوئ وایی چی عدم ذکر دمنع دلیل دئے یعنی له هغه نه داخبره نده ثابته چی داللّٰهﷻ په قانون سردے فیصلے کړ ے وی نودا عدم ذکرپردے خبره دلالت کوی چی هغه په محمدی قانون سره فیصلے ند ی کړے نو مو ژوایو چی دا ندئے دلیل اونه عدم ذکرحکم بغیرماأنزل اللّٰه لره مستلزم دئے اوکه دوئ وایی چی دمنع د لیل خودسره شته نه موژوایو چی ولی نشته په قرآن کی اللّٰه ﷻ له شیطان نه دمنع دلیل غوختیٔ دئے چی :

﴿ مامنعك ألاتسجدأذأمرتك ﴾ (الاعراف : ۱۲) ته ده سجدے کولونه کوم ځیزمنع کړے ـ

نودمنع دلیل شته دئے اواللّٰهﷻ هم غوختیٔ دئے ، نولدوئ سره دادلیل نشته چی نجا شی دی ده اللّٰهﷻ ده قانون نه علاوه په بل قانون سره فیصلے کړے وی ـ

" **ثانیاً** " دویم داچی نجاشی که حکم بماأنزل اللّٰه ﷻ ندئے کړئے نو هغه ته خواحکامات پرو خت باندی نه ؤرسیدلی هغه دالله ﷻ په احکاماتوخبرنه ؤنوفیصلے بیه څنګه کړے وے اوده دے خبری دلیل له موژسره شته چی هغه ته احکامات نه ؤرسیدلی زکه چی " حضرت عبداللّٰه ابن مسعو دؓ " فرمایی چی کله موژاول له پیغمبرؐ سره ؤنو چی به چاسلام واچولواوموژبه په لمانځه کی ؤ نوپه لما نځه کی به مو جواب ورله ورکړوخولیکن چی کله موژنجاشی ته لاړواوبیاواپس راغلونوپیغمبرؐ نمونځ

کولواوموژ سلام پرے واچولوخو هغهؑ جواب راله رانه کړوبیایه ده لمانځه نه پس اوفرمایل چی " أنها شغلٌ "، یعنی او س خوپه لمانځه کی ده قراء ت ویلوشغل دئے ده سلام جواب به چاته نه ورکوئ ، اوس ابن مسعودؓ اود هغه په شانتے نورصحابه داحادیثودډیری حصے نه خبرؤخو چی ده نجاشی خواته لاړو بیادډیرو احکا ما تونه نه ؤخبرنو چی ده ابن مسعودؓ په شانتے صحابی نه ؤخبرنونجاشی غریب تبه دځه پته وه حالانکه حکم خو هله شرط دئے چی تاته مسئله دررسیدلے وی اواللهﷻ فرمایی چی :

﴿ وأوحي ألي هٰذاالقرآن لأُنذركم بهٖ ومن بلغ ﴾ (الانعام : ۱۹)

نوداللهﷻ ده وحدانیت نه علاوه نوری مسئلے به هله ده قرآن اواحا دیث مطابق کوی چی کله ورته احکامات رسیدلی وی نوکه یوکس پداسی دشت بیابان اویاغره کی اوسیژی چی ده نوروحکمونو نه نا خبره وی خوداللهﷻ وحدانیت یه منلئ وی نوداکس هم بخلئے شوئدئے اوپه عقل سر خودا معلو موه ولئے شی چی اللهﷻ واحدلاشریك ذات دئے زکه چی ؛ ﴿ وفي كل شيئ آية تدل علىٰ أنه واحد ﴾ او ده دے خبری دلیل ده یونان فلاسفه هم دی زکه چی هغوئ پخپل عقل سره داللهﷻ ده وحدانیت اقرار کولوخولیکن انبیاء اکرامؑ یه نه منل اونجاشی خودومره اړخ ته پروت ؤ چی نوراحکامات ورته ندی رسیدلی ـ

" **ثالثاً** " داچی نجاشی پیغمبرؑ ته خط رااولیګلو چی زه خپل بچئ درلیګم ستاسوده خدمت لپاره چی ستاسوخدمت اوکړی " وفي رواية " چی دین ایزده کړی ، اوپه بعض روایتونوکی راځی چی شپیته (٦٠)کسان ورسره نورحبش هم دی هغه هم درلیژمه لدے خبری نه یوه داخبره معلومه شوه چی ده ته دین نه ؤرسیدلئے اوبله خبره داده چی ده پیغمبرؑ هغه ته جواب ورکول هم ندئے معلوم چی هغه ده دے خط جواب ورکړئدئے اوکنه ، نولدوئ سره ده دے خبری دلیل نشته چی هغه ته احکامات رسیدلی دی اوبیایه هغه احکامات ندی نافذکړی اوداللهﷻ ده قانون نه علاوه په بل قانون سره یه فیصلے کړے دی ، نوچی احکامات ندی وررسیدلی اوله موژسره دنه رسیدودلائل هم شته دی نوزکه په نه رسیدوسره پرنجاشی باندی عمل کول ندی لازمی ـ

" **رابعاً** " داچی نجاشی ته کوم احکامات رسیدلی ؤپه هغویه عمل کړئے ؤمثلاً لکه د عیسیٰؑ په باره کی هغه ته معلومات اوشوچی عیسیٰؑ ابن اللهﷻ ندئے بلکه عیسیٰ ابن مریم دئے نوفوراً یه له خپلی شرکی عقیدے نه ده برائت اعلان اوکړواواسلام یه قبول کړواوتاسوته خوموژپه سل ځله دا خبره درسولے ده چی داپارلیمنټ اوداجمهوریت کفری ، شرکی ، اوجاهلی نظام دئے لدے نه لری اوسئ

اوتاسوبیا هم نه ترے نه جداکیژئ نجاشی خوده اسلام دومره پیروی اوله شرك نه دومره بیزاری اختیاره کړه چی اهل مکه یی رااوشړل اوصحابه کرام یه پخپل ګواندګی پرے خودل اوتاسو خوده جمهوریت دو مره تابعداری شروع کړے ده چی که یوفاسق فاجریاد امریکے یوسفیرراشی نوعوام څه کوے خواص هم دا تمنا کوی چی زماپرکوریه څه خوراك کړئے وئے اولدے فاسقانوسره څومره په محبت سره نشست اوبرخاست کوی ـ

مګرده دے په مقابله کی له یو مؤمن مجاهدسره یه څه روأ یه ده اول مو دا کو شش وی چی په نامه مجاهداووینی نوایی چی دامجاهدله ملکه شړئے اوله علاقے اوضلعے نیه او با سئ کدانه ؤ پخپل کورکی خویه یوسیکینډهم نه پرے ژدی لکه چی مولاناشیرانی هم ده (او بوپرسر) دادیو ځائے نوم دئے ، ویلی ؤ چی که څوك داکاریعنی جهادکوی نو هغه اول سمجاؤکئ چی دا جهادپریژدی کیه نه منل نوبیایه دکلی اوعلاقے نه اوباسئ اوتر غوژیه اونیسئ سعودی ته یه اولیژئ دا حنافواوشوافعوپه زا نی کی اختلاف دئے چی غیرمحصن زانی بده کوړو نه وروسته ده علاقے نه اوبا سی اواحناف وایی چی نه داخروج عن الوطن ده امیرترمصلحت اوسیاسته پوری موقوف دی نودے خلګوخوده جمهور یت دومره اتباع اوکړله چی مجاهدیه ترزانی هم لیاګنهګاره اوګرلو " نعوذباللّٰه من ذالك "

نوده نجاشی له عمله داجمهوریان دحکم بغیرماأنزل اللّٰه پرجوازباندی استدلال نیسی نوموژوا یو چی ده نجاشی ده غیراللّٰه په قا نون سره فیصلے کول داهم پریژده اوکفریه هم پریژده ده حکم بغیر ما أنزل اللّٰه پر حرمت خواتفاق ده علماؤدئے اوچی څوك جواز ثابته وی نوداتحلیل ده ماحرم اللّٰه دئے او تحلیل ده ما حرم اللّٰه په اتفاق سره کفردئے ـ

دریمه (۳)شبهه : د عمرفاروقؓ په عمل سره استدلال نیول

اوس ده صحابهؓ نمبردئے هغه هم نه دی ترے نه پاتے نوبعض خلګ دااعتراض کوی چی دقحط په زمانه کی یوکس حضرت عمرؓ له راغلواوغلایه کړے وه نوحضرت عمرؓ دهغه لاس نه کړو پر ے اومعاف یه کړونولدے نه معلومه شوه چی عمرؓ د اللّٰهﷻ په حکم سره فیصله اونه کړه بلکه بغیر ما أنزل اللّٰهﷻ یه حکم اوفیصله اوکړله ددے اعتراض هم یوخوجوابونه کؤ !

" **اولاً** " داچی داده قحط زمانه وه اوداکس حضرت عمرفاروقؓ له راغلو چی زه اوځماخاندان ده لوژی نه هلا کیدونوزکه زه راغلم اویودوکان می لوټ کړونوعمرؓ دے کس ته ده قطع یدسزاورنه کړه بلکه معاف یه کړواوده داسی کس متعلق خوقرآن وایی چی :

﴿ فمن اضطرغیرباغ و لاعادفلاأثم علیه ﴾ (البقرة : ۱۷۳)

په اضطراری حالت کی پرداسی کس باندی هیڅ ګناه اوالزام نشته دئے نواوس عمرؓ دافیصله ده اللّٰه ﷻ د حکم مطابق اوکړله اوکه مخالف اودافیصله یه ده " أخف الضررین او أهون البلیتین " قاعدے مطابق کړے ده هغه داچی کله یوکس په دوه (۲) ضررونوکی راګیرشی نوبیاپه دے کی پرادنیٰ اواخف ضرر باندی عمل کولئے شی خوداهله چی دریمه لاره نه وی ـ

نیت په تصحیح سره غلطه اوفاسده لاره صحی کیدئے شی بلکه دتصحیح نیت سره سره به لاره هم هغه اختیاره وے کومه لاره چی اللّٰه ﷻ اودهغه رسول ﷺ اوصحابه کرامؓ اختیار کړے وه زکه چی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ؛

﴿ ومن یشاقق الرسول من بعدماتبین له الهدیٰ ویتبع غیرسبیل المؤمنین نوله ماتولیٰ ونصله جهنم ... ﴾ (النساء : ۱۱۵)

" اوچی څوك درسول ﷺ مخالفت اوکړی ، وروسته ده دے نه چی هدایت ورته ښکاره شوئے و ی او دا هل ایمان دلاری نه علاوه پر بله لاره باندی روان شی، نوموژبه داسی کس پرهم هغه لاره پریژدوپرکومه چی دئے روان دئے اداسی کس به موژجهنم ته اورسؤ "

علامه ابن کثیرؒ ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی چی :

" ای ومن سلك غیرطریق الشریعة التی جاء بهاالرسول ﷺفصارفی شق " یعنی چی څوك دمحمد ﷺدراوړی شریعت نه ماسواپربله لاره روان شی نو هغه له محمدﷺسرپه مخالفت کی اولویدلو ـ یعنی داسلامی لا ری نه علاوه پربله لاره باندی اسلام څنګه راتلئے شی ؟ هغه لاره خودحضرت محمدﷺدلا ری نه علاو ه دابتداء نه په مخالفت کی راروانه ده اوچی څوك درسول ﷺپه مخالفت کی راشی نو هغه ته څوك په د نیااوآخرت کی کامیاب ویلئے شی ، داسی کسان دشاعرده دے قول مصداق دی :

نه خدا ہی ملا نه وصال صنم ::: نه ادھر کے رہے نه اُدھر کے رہے

اوچی څوك غواړی نودالجزائراوفلپائن دعبرت داستانونه خواره پراته دی ، چی چادمحمدﷺ اودهغه درسول ﷺده لاری نه علاو ه پربله لاره باندی اسلام راوستل اوغوښتل نودهغوئ کوم انجام شو؟ دا لجزائرنه وروسته دمصرحالت اوس هم زموژپه وړاندی دئے ! اګرچی په بعض ملکونوکی بعض قوتونوته داسلام پرنامه باندی اقتدارورکول شوئدئے لیکن اسلام نن هم دپارلیمنټ محتاجه دئے ، لکه څنګه چی داسلام ده منظوری ده پاره درپه دراوګرځیدل هم دغه رنګه دانقلاب نه وروسته هم د محمد ﷺشریعت دپارلیمنټ دمنظوریٔ محتاجه دئے ـ خوداخبره هم یاده لرئ چی یوتش په نامه مذ هبی جماعت ته داقتدارورکول کیدل اسلامی انقلاب ندئے ، بلکه داسلامی انقلاب نظیرکه ګورئ نو په افغانستان کی دطالبانونظام اوګورئ !

ابن جریرطبری ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی چی :

" ویتبع طریقاً غیرطریق أهل التصدیق ، ویسلك منهاجاً غیرمنهاجهم ، وذالك هوالکفرباالله لأن الکفر با الله ورسو له غیرسبیل المؤمنین وغیر منهاجهم "

" داهل ایمان دلاری نه علاوه پربله لاره باندی روان شی ، اودمؤمنانودمنهج اوطرز طریقے نه علاوه بله طریقه اختیارکړی ، داپه اللّٰه سره کفرکول دی ، اوپه اللّٰه اودهغه په رسول ﷺ سره کفرکول داده مؤ منا نو لاره اومنهج ندئے "

آیادجمهوریت دبطلان ده پاره دومره خبره نده کافی چی داده صحابه ؓ لاره نده ؟ داعلاء کلمة اللّٰه ده پاره خودے مقدس جماعت د قتال فی سبیل اللّٰه لاره اختیارکړے وه اوجمهوریت خودقتال لاره حرامه ګنړی ـ

نوداسوچ دنفس دوکه ده ! اوداشیطان یوډیربدعمل ده دے خلګوپه ذهنوکی ښائسته کړئدئے ، کچیرته هرعمل دښه مقصدده پاره په صحی نیت سره عنداللّٰه مقبول شی نوبیاکافران دبتانوپه عبادت سره ولی کافران ګنړئ ، اوده دوئ دے عمل ته ولی کفروایئ ، زکه چی دوئ خوده دے بتانوعبادت پدے نیت سر ه کوی چی پدے سرداللّٰه ﷻ قرب اونزدیکت حاصل کړی اوده دے خبری تصدیق خویه اللّٰه ﷻ پخپله کړئدئے چی :

﴿ مانعبدهم الالیقربونااليٰ اللّٰه زلفیٰ ﴾ (الزمر: ۳)

" ده دے بتانوعبادت خوموژزکه کؤ چی اللّٰه ﷻ ته نزدے شو " اویابیه داعبادت دبتا نو د سفارش په نیت سره کولولکه چی اللّٰه ﷻ وایی : ﴿ هٰؤلاء شفعائناعنداللّٰه ﴾ (یونس : ۱۸) او س کافرانوپه صحی نیت سر ه دبتانوعبادت کولوخوبیاهم اللّٰه ﷻ ده دوئ دے عمل ته کفراووه یلو ، نوداخبره یا دسا تئ چی هرعمل ته ترهغه وخته نیك اوښه نشے ویلئے ، چی ترڅوپه هغه کارکی دوے [۲]خبری نه و ی :

اول : په هغه عمل سربه صرف اوصرف داللّٰه ﷻ رضامقصودوی ، **دویم :** هغه کاربده نبی ﷺ اودهغه دصحابه ؓ پرطریقه لاره او منهج باندی وی ، فضیل ابن عیاض ؒ فرمایلی دی چی :

" العمل الحسن هواخلصه ، واصوبه ، ، قالو! یااباعلی : ماأخلصه وأصوبه ، قال : أن العمل اذاکان خالصاًولم یکن صواباً لم یُقبل ، واذاکان صواباً ولم یکن خالصاً لم یقبل ، حتّٰی یکون خالصاًصوابا، والخالص ماکان اللّٰه ، والصوا ب ماکان علیٰ السنة "

" یعنی نیك ښه عمل هغے ته وایی چی په اخلاص سره وی اوصحی وی خلګوتپوس ترے نه او کړو چی اے اباعلی ! داده اخلاص والااوصحی عمل کوم یودئے ، نوده اوویل چی بیشکه که یوعمل په اخلاص سره وی اوصحی نه وی نوداعمل ندئے مقبول عنداللّٰه ، اویوعمل صحی وی خوپه اخلاص سر ه نه وی نو هغه عمل هم ندئے مقبول ، داخلاص والاعمل هغه دئے چی صرف داللّٰه ﷻ دپاره اوشی

او صحی عمل هغه دئے چی دنبیﷺ دسنت مطابق وی یعنی دنبی ﷺ دطریقے مطابق وی ، اونبی ﷺ فرمایی چی " من عمل عملاً لیس علیه امرنافهورد " (مسلم)

اواللّٰه ﷻ فرمایی چی : ﴿ و قدِمْنا الیٰ ماعملوا من عمل فجعلناه هباءً منثوراً ﴾ (الفرقان : ۲۳)

اوموژاورسیدوده دوئ هغواعمالوته چی دوئ کړی ؤبیاموژاوګرځول عملونه ده هغوئ دشګو دذراتوپه شا ن ، حافظ ابن کثیرؒ ده دے په تفسیرکی فرمایی چی : " فکل عمل لایکون خالصاوعلیٰ الشریعة المرضیة هوباطلٌ " هرهغه عمل چی په اخلاص سره نه وی اودشریعت ده لاری مطابق نه وی نو هغه باطل دئے او اللّٰه ﷻ فرمایی چی : ﴿ و جوهٌ یومئذخاشعةً ، عاملة ناصبةٌ ، تصلیٰ ناراً حامیة ، تسقیٰ من عین آنیة ﴾ (الغاشیه)

" څومره مخونه به پدے ورځ ذلیله وی ، محنت کؤنکی اوستړی به وی ، اواچول کیڑی به ګرم اورته ، د ه خوټکیدونی چینی نبه خړوبه کیڑی " ده دے آیتونو مطلب دادئے چی دے خلګوبه په دنیا کی داسی کارونه کړی وی چی دوئ بے دثواب کارګنړی ، اوشپه ورځ بے پریوه کړے وی ، خولیکن هغه عمل د نبیﷺ اودهغه دصحابه ؤ دطریقے نه مخالف وی لدے وجهی نبه هغه عمل داللّٰه ﷻ دربار کی قابل قبول نه وی ، اواللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ قل هل ننبئکم باالاخسرین اعمالاً، الذین ضل سعیهم فی الحیاة الدنیاوهم یحسبون أنهم یحسنون صنعاً ﴾ (الکهف : ۱۰۳)

" آیاځه داعمالوپه اعتبارسره ده نقصان والانه دراوخایم چی ده دوئ مشقتونبه په دنیاکی ضائع شوی و ی ، اودوئ به داګمان کوی چی موژخوګویاکه ښه کارکؤ ، اودثواب په طمع به ناست وی ، اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ فکیف اذاأصابتهم مصیبة بماقدمتْ ایدیهم ثم جاؤك یحلفون باالله انْ اردناالااحساناً وتوفیقا ﴾ (النساء : ٦٢)

" هغه (منافقین چی خپلی فیصلے دغیراللّٰه په قانون سره کوی) نو هغوئ ته چی کله دهغو ئ دا عما لوپه وجه سره څه مصیبت اورسیژی نوبیاقسمونه خوری چی زموژاراده خوصرف اوصرف د نیکی او دعدم اختلاف وه ، یعنی چی موژکومی دغیراللّٰه په قا نون سره فیصلے کؤپدے سره زموژ نیتونه دنیکئ دی نده بدئ ، اوزموژنیت ده دواړوډلو (مسلمانانواوکافرانو) په منځ کی دصلح ؤنده اختلاف او بدئ ـ

" **مفتی صداقت علی صاحب** " دموضوعی احادیثودجوړولوپه اسبابوکی یوسبب داهم بیان کړیدئے چی څه داسی کم علمه یابے علمه خلګ ؤ هغوئ به دخپل زعم مطابق دخلګوده دین وه طرف

تـه دمتـو جـه کولودپاره اوله معا صی اوګناهونونه دبچاؤدپاره ده زهد ، ترك دنیا، ترغیب اوترهیب په شا نتـــے مـضـا میـن جوړول اوپردے کاریه دادلیل پیشه ولوچی په حدیث کی خود کذب علیٰ النبی ﷺنه مـنـع راغـلـے ده اوموژخوداکاردکذب للنبیؐ ﷺدپاره کؤیعنی موژخودپیغمبرﷺپه خلاف دروغ نه وایو بلکه زمو ژد اکارخودنبی ﷺده راوړی دین دنصرت اودخلګووه دے طرفته ده رامائله کولودپاره دئے پد ے نیت او پد ے دلیل سربه خلګودځانه حدیثونه جوړل اودابے څه دګناه کارنه ګنړلو ـ

دغـه رنـګـه یـوه وا قـعـه " عـلامـه عبـدالـحـئ لکهنویؒ " رانقل کړے ده اولیکی چی له " ابو عـصـمة نـوح بـن ابـی مـریم المروزی " نه چا تپو س اوکړلو چی تاسوده " عکرمة عن ابن عباسؓ " په سـنـدسره دقرآن کریم دهرهرسورت چی کوم فضا ئل ذکرکړیدی داروایات تادکوم ځائے نه رااخستی دی حـالا نـکه د" عـکرمة " دنورو شا ګر دانونه یوه هم دا سی قسم روایت ندئے رانقل کړئے ؟ نو هغه ورته او ویـل چـی کله ماداحالات اولیدل چی خلګ دقرآن کریم نه بے توجهی اختیاره وی اودقرآن پرځا ئے د " امـام اعظم ابو حنیفهؒ " په فقه اود " ابن اسحاق " په مغازی کی مشغوله دی نومادثواب په نیت سره دځا ن نه دقرآن کریم دسورتونو دفضا ئلووالااحادیث جوړکړل ده دے دپاره چی دخلګو رجوع دامام ابو حنیفه اودابـن اسـحـاق دفـقـهی پرځائے قرآن کریم ته او شی اوس ده دے حضراتونیتونه اګرچی صحی ؤلیکن طریقه یه ناجائزه اوغلطه وه زکه چی په هرقسم صحی نیت سره دځا نه احادیث جوړول قطعاً ندی جا ئز اود " فلیتبوأ مقعده من النار " دو عـیدمصداق ګرځی ،(چندمعروف لیکن غیرمستنداحادیث ص:۴۵)

نـوجـمـهـوریت ځا نله یومستقل ملة اومستقل دین د ئے کفری شرکی اوجاهلی دین دئے نواو س پـدے کـی مـوژسـتـاسوپر نیتونوالزام نه لګؤمنو چی تاسوبه پکی په ډیرښه نیت سره کا ر کوئ خو دالاره مـو غلطه ده اودغلطی کفری لاری پیرو ی ده نیت په تصحیح سره نه صحی کیژی نوداخبره بالکل غلطه ده چی زمو ژنیت صحی دئے عمل اولاره که مو هرشانتے و ی پروانه لری نه عمل اولاری ته اعتبا رشته دئے اوپربدن بده زړه اثرات ښکاره کو ے ـ

پنځلسمه (۱۵)شبهه : دخلافت نصوص پر موجوده سیاست منطبق کول

بـل اعتـراض داکـوی چـی مـوژخـوده نفاذشریعت په نیت سره په جمهوریت اوډیموکراسی کی حصه ا خستـے ده چی اسلام نافذشی اوداللّٰه ﷻ پـه شریعت سره حکم اوفیصلے اوشی اوپدے سیاست سره خو موژملکی مسائل حل کؤاووه دے مروجه سیاست تبه بیاده خلافت نوم ورکړی اودا آیتونه به پر ے مـنطبق کوی چی اللّٰه فرمایی : ﴿ لیستـخلفنهم فی لارض کمااستخلف الذین من قبلهم ﴾ (النور : ۵۵) ا

یضاً ﴿ و اذقال ربك للملٰئكة أني جاعل في الارض خليفة ﴾ (البقره : ۳۰)

ابن جریرطبریؒ دخلیفة تعبیرپه لاندی الفاظوسره کوی چی !

" الخليفة الفعيلة من قولكَ بعده كماقال في هٰذاالامرِ أذقام مقامه فيه بعده كماقال اللّٰه تبارك و تعالٰى ﴿ ثم جعلناكم خلا ئف في الارض من بعد هم لننظر كيف تعملون ﴾ (یونس : ۱۴)

اوطبریؒ دابن زیدقول رانقل کړیدئے هغه وایی چی : " ويحتمل أن يكون أرادبن زيد أن اللّٰه أخبرالملائكة أنه جاعل في الارض خليفة له يحكم فيهابين خلقهٖ بحكمهٖ "

لدے حوالونه معلومه شوه چی دآدمؑ تخلیق دخلافت دقیام دپاره ؤاوله نورونصوصونه دا خبر ه معلو میژی چی تمام انبیاء اکرام پرزمکه داللّٰهﷻ نائبین اوخلیفگا ن دی لکه چی حضرت ابو هریرةؓ فرمایی چی : " كانت بنو اسرائيل تسوسهم الأنبياء كلماهلك نبيٌّ خلفه نبي وأنه لانبي بعدي و سيكون خلفاء فيكثرون "

اوابـوالبرکاة عبداللّٰه النسفیؒ فرمایی چی : " لأن آدم كان خليفة اللّٰه في أرضه و كذالك كل نبي كما قال تعالى ﴿ يٰاداؤ دأنـاجعلناك خليفة في الارض ﴾ (ص : ٢٦) نـودانـصـوص اوعبـارات به پرخپل مروجه سیاست مـنـطبـق کـوی چی لدے سیاست نه زموژمراداومقصد خلافت اوحاکمیت دئے اوپیغمبرﷺ پخپله یو سیاسی لیډراورهنماء ؤاولس[۱۰] کاله یه حکومت اوسلطنت اوکړو ؟۔

دے حضـراتوته موژوایو چی دنبی ﷺده سربراهیت اوخلافت اوحاکمیت نه موژانکارنه کؤ دا نـن صبـا مـجاهدین چی خپلی تنکئ ځوا نئ قربانوی دهغوئ هم دغه مقصددئے چی داللّٰه احکامات پـه زمکه کی نافذشی ، اوپدے مروجه سیاست کی خوتاسوسل کا له داللّٰهﷻ دقانون نه علاوه دمخلوق تـروضـعی قانون تحت ښه په خوشالئ اوپه اقرارسره تیرکړل اوچی زرکاله مونوراوشی نو هم خلافت خو پـریـژده د خلافت خوب به لیا هم اونه وینئ اوخلافت خوپریژدئ تاسوخوده غیراللّٰه ده قانون دبقااوتقویت ذریعـه لیادلا سه جوړیژئ خلیفه خوپرزمکه داللّٰهﷻ احـکامات جاری کوی اوتاسوخودامریکے اواقوام متحد ے احکامات اوآئین پر مو ژ لا ګوکو ئ ۔

پرمروجه سیاست باندی زموژداکابرینوتعریفات لاګوکول

اولیـابـه پـرمروجه سیاست باندی زموژداکابرینوتعریفات لاګوکوی " **امام غزالی**ؒ " پخپل مایه نـازکتـاب (ا حیـاء الـعلوم) کی دسیاست اصطلاحی تعریف پدے الفاظوسره کوی چی " السياست هي التاليف و ا لتعاوُن ..... على اسباب المعيشة وضبطها "

اوعـلامه ابن خلدونؒ فرمایی چی " فـاالسیـاسة و الـملك هی کفالة باالخلق و خلافة للّٰه فی العبادلتنفیذا لاحکام فیهم "

اودعالم اسلام عظیم مؤرخ **علامه ضیاؤالرحمٰن فاروقی** شهیدؒ دتجلیات عثمانی په حواله سر دسیـاسـت تعریف کوی چی : " السیـاسیة أقـامة الـعـدل و الاحسـان وحسـن الـمعاملة و المعاشرة فی الریاست و الحکمة الشرعیة "

اوبیـاکـله دسیاست دا همیت ده ذکرکولودپاره دعلماؤاقوال هم ذکرکوی چی پردے خبره خو دتو لو علما ؤاتفاق دئے چی سیاست دشریعت جزدئے **امام غزالیؒ** فرمایی چی دانسان په اصولی اعمالوکی بلند ترین عمل سیاست دئے ،

علامه ابن قیمؒ وایی چی سیاست ته سیاست ویل داخویوه اصطلاح ده اوحالانکه سیاست خود شریعت یوه حصه ده ،

ابوحنیفه ثانی علامه ابن نجیم مصری حنفیؒ فرمایی چی سیاست عادله دشریعت مطهره یوه حصه ده ،

مفتی تقی عثمانی صاحب فـرمایی چی سیاست له دین اسلام نه ځانله اوعلیحده څیزګنړل نا جائزدی ،

حکیم الامة اشرف علی تهانویؒ وایی چی په سیاست اودیانت کی سیاست وسیله ده ،

مفتی هندمتفی کفایت اللّٰه صاحب فرما یی چی سیاست داسلام ابتدائی منزل دئے ،

شهیدناموس صحابه علامه حق نوازجهنګویؒ فرمایی چی سیاست دمنبراومحراب حصه ده،

او**مولانافضل الرحمٰن صاحب** وایی چی سیاست دانبیاء کرامؑ وظیفه ده ـــ

موژورته وایو چی محترمودسیاست دموجوده تعریفاتواوز موژداسلافواواکابرینوداقوالونه موژا نـکارنه کؤلدے تعریفاتواواقوالو نبه هغه کس انکارکوی چی بالکل دحماقت اوکم عقلئ آخری درجے تـه رسیـدلـئـے وی چی سیاست به له اسلا نه جداګنړی خو صرف دومره وایو چی تاسوده دے اقوالو او د مـروجه سیاست لژموازنه سره اوکړئ چی څه مناسبت سره لری هم اوکنه ده دے ټولو اقوالو خلاصه لب لبـاب اونـچـوړخـودارااوځـی چی دالـلّٰـه پرزمکه ده اللّٰه قانون اواحکامات نافذول چی په اردوزبان کی یه تعبیر پدے الفاظوسره کیژی چی . خدا کی زمین پرخدا کانظام

په مروجه سیاست سره اسلام نشی نافذیدئے پردے دعوے باندی دوؤ لس (۱۲) دلائل

خولیکن پدے مروجه سیاست سرده الله ﷻ داحکاماتوتنفیذاواسلام راوستل ډیره ناممکنه خبرده دچاچی داخیال دئے چی پردے جمهوری لاره به موژاسلام راولونو ے این خیال است ومحال است و جنون

بلکه پدے سیاست سرخوتاسونوردغیرالله نظام اوقوانینوته بقاء اوتقویت ورکوئ (کمامر) نواس موژ ده دے خبری پربطلان اوناممکن والی باندی یوڅودلائل ذکرکؤ ـ

اول دلیل : اول دلیل دادئے چی جمهوریت یوه خپله مفکوره سوچ اوفکرلری هغه داچی په کوم ملك کی کوم نظام راځی نو هغه به داکثریت په وجه سره راځی اکثریت به هغه نظام اوقانون منظوره وی اوعوام به صرف مقدمه درج کوی زکه چی په جمهوریت کی خوعوام اواولس دقانون سر چنه ده ، نو اول خوموژاوویل چی پردے لاره داسلام نفاذبالکل ناممکن دئے خو بالفرض والتقدیرکه له دے لاری نه داسلام تنفیذاوهم شی نوداتنفیذبه پدے وجه سره نه کیژی چی داخوالهی نظام اوالهی قا نون دئے بلکه داکثریت ده خوښی په وجه سربه کیژی ، نو چی اکثریت لتاسره نه وی بیاتاسو هرگزاسلام نشئ راو ستئ ـ

اوس تاسو پدے سیاست سره اسلام ده خلگواومخلوق تابع کړوکنه چی کده اولس اکثریت د اسلام پرنفاذراغلوبیابه په هغه ملك کی اسلامی نظام وی اوکه ده اکثریت رایه پرجمهوریت ، سیکو لر زم ، سوشلزم او کمیونزم پرنفاذباندی راغله نوبیابه په هغه ملك کی دهم هغه نظام اونظریے نفاذرازی حالانکه اسلام خوبه تاسوپدے وجه سره نافذه وئ چی ده الله ﷻقانون دئے اوالله لدے خپل نظام او خپل قانون نه ماسوادبل نظام اودبل قانون دقبلولواجازه هرگزنه ورکوی کقولهٖ تعالی ﴿ ومن یبتغ غیرالاسلام دیناً فلن یقبل منه ﴾ اوکده عواموا واکثریت په رایه سره راشی نودے ته خوبیااسلام نه وایی ـ

دویم دلیل : بل دلیل دادئے چی فرض که ستاسوحکومت راغلوپدے ملك کی اسلامی نظام مو نا فذکړواوس خوچونکه په جمهوریت کی مکمله آزادی ده نوکه بل کس داستاسوداسلامی نظام په خلا ف راپاسیدوچی موژهغه سابقه کفری اوجمهوری نظام غوا ړواوس ده دے کس مقابله تا سوکولئ شئ لیاورسره جنگ اوقتال کولئ شئ هرگزنه زکه چی تاسوخودمثبت سیاست قائله یئ د اسلحے دسیا ست نه خوتاسولیری تختئ ـ

بل داچی ده دے کس مقابله به تاسوپه انتخاباتواواکثریت سره کوئ اوا کثریت له هغه سره شو اوټونه دهغه زیات شونواوس به تاسوپه سړه باندی اسلامی نظام ور پریژدئے او بیابه له هغه سره په جمهوری نظام کی حصه آخلئ ، زکه چی په جمهوریت اوډیموکراسی کی خو آزا دی ده کدی اسلام راو ستوکه دی جمهوریت راوستواوکه دی عیسا ئیت اودهریت نافذه ولو او تاسوخو هغه کس لدے خپل کفری دعوت نه نشئ منع کولئ نه پابندی پرے لګولئے شئ چی دا سلام نه علاوه ده بل نظام دعوت به نه چلوے نده امربالمعروف اونهی عن المنکرپراعلیٰ درجه قتال فی سبیل اللّٰه عمل کولئ شئ ـ

دریم دلیل : دادئے چی فرض کړه تاسوپرجمهوری لاره په دے مروجه سیاست سره اسلام نا فذ کړونواوس خوپه جمهوریت کی حکومت تریوه محدوده وخته پوری وی مثلاً په اکثرو ملکونوکی دحکومت دکولوپنځه کاله وی ، اوس به تاسو پنځه کاله اسلام نافذکړئ ستاسوقائدتبه پنځه کاله امیر المؤ منین اوخلیفة المسلمین اوویل شی خوله پنځوکلونه پس که بل کس اوګټله اوتا سواوبیله له بیا به په سړواسلامی نظام پرے ژدئے اوبیرته به په جمهوریت پوری نخلئ نوداخو تا سو اسلام محد و دکړ وتریوه مقرره وخته پوری اوداخوداجماع نه خلاف خبره ده زکه چی پردے خبره خوا جماع ده چی کوم امیریوځل مقررشواګر که په فسق کی مبتلاء شی خو چی ترڅوکفربواح نه وی ترے نه صادرشوئے تر هغه وخته به امیروی " ولاینعزل الامام باالفسق و الجوروتجوزالصلوٰة خلف کل برو فاجر .... هٰذا أذالم یؤ دا لفسق أو البدعة الیٰ حدّالکفر " (شرح العقائد ص: ۱۹۱)

نوپدے سیاست کی خوتاسواسلام منحصرکړوپه پنځه کاله کی حالانکه اسلام خوعالمی دین دئے ترقیا مته به جاری اونافذوی نودادکوم ځائے خلافت اوسیاست دئے چی پنځه کاله به اسلام وی او پنځه کا له به بیاکفروی ـ

څلورم دلیل : دادئے چی پرجمهوری لاره اسلام نشی راتلئ اوتاسوبیاهم داسلام دراو ستلو دپاره سیا ست کوئ پدے کفری نظام کی حصه اخلئ نوداخوتاسوپه اصل کی دعوامواوده آئینده نسل دپاره دجمهوریت پرعدم تکفیراوښه والی باندی اعتماد پیداکړوزکه چی هغوئ خوپه تاسوپوری دلیل نیسی چی که واقعتاً جمهوریت صحی نظام نه وی کفری اوطاغوتی نظام وی نو بیابه فلانی مولا نا ، فلانی شیخ الحدیث ، فلانی شیخ التفسیر اوفلانی پیراومرشد حصه پکی نه اخستله اوجمهوری چی کوم تنظیمونه دی دهغوئ تائیدبیه نه کولولهٰذا چی دفلانی مولاناپه شانتے شخصیاتو حصه پکی اخستے ده نومعلومه شوه چی پدے جمهوری نظام کی حصه اخستل څه پروانه لری ـ

تا سو خوبه دا سلام یایوبل صحی نیت سره پدے نظام کی مداخلت کړئوی اودانورخلګ ده

کفراو دسیکولر نظرے ده ترویج اوبقاء دپاره پکی اخته دی اوځان په حقه بولی دلیل په تاسوسره نیسی اوچی کوم سیاسی خلګ دی هغه عواموته هم داویی چی ګورئ که په دے نظام کی کارکول یامدا خلت کول ناجائزوئ نوبیابه فلانی صاحب حصه نه پکی اخستله ، لکه نن صباچی دسنګرطالبانوته هم وایی چی تاسو د جمهوریت ده لاری نه له موژسره خبری صلح اومذاکرات اوکړئ ـ

دوئ پخپله دمذهبی پارټیانو څومره مخالف دی که نیشنل والادی ، که پیپل والادی ، که مسلم لیګ والادی ، کده تحریك انصاف اوپختونخواه والادی وغیره وغیره خوبیاهم طالبانوته وایی چی تا سودمولاناصاحب په رنګه لاره اختیارکړئ مولاناصاحب پخپله نه منی خوچی کله جمهوریت راشی نو بیاخوده " الکفرملّة واحدة " پربناء دجمهوریت طرف ته دعوة ورکوی ـ

پنځم دلیل : دادئے چی پردے لاره اسلام زکه نشی راتلئ چی جمهوریت خپل اصول قواعد قوانین لری اواسلام هغه اوصول نه ورسره منی لکه مثلاً په جمهوریت کی یواصل دمساواتودئے او س بته هله جمهوریت ته ورځے چی په انتخاباتوکی ده خزی اونراوټ سره برابراوګنړے عالم اوجاهل سره برا براوګنړے خپل علمیت ده دوئ له جهل اوناپوهی سره برابر اوګنړے نوپه اوټونوکی به تا سوا سلام شاته کوئ لیری بے ژدئ جمهوری آئین به منئ زکه چی په اسلام کی خوعالم جاهل ، خزه اونر، مسلمان او کافردا هرګز نشی سره برابرے دئ ـ

بل داچی تاسوخوانتخاباتوته دشهادت نوم ورکوئ اوپه شهادت کی خودوه خزی دیوه سړی سره برابری وی نوکه تاسوواقعتاً ده اسلام په مقابله کی جمهوری آئین ند ئے اختیارکړئے جمهوری قا نون موندئے منلئ نوبیاتاسو مړونه شئ ده اسلام داقانون جاری کړ ئ چی د ه دوؤ خزواوټ بده یوه سړی سره برابروی اویاچی زموژکوم اوټران دی نوپدے کی به ده دوؤ خز واوټ په یوه اوټ شمارل کیژی شیعه ګانوقادیانیان اواقلیت به اوټ اچولوته نه پریژدئے زکه چی که هغه اوټ وا چوی نواوټ ته خو تا سو شهادت وایئ نوبیاخودی یوسنی دیوبندی اوحنفی عالم اوبل شیعه قادیانی او عسائی په شهادت کی سره برابر کړواوداللّٰه ﷻ ده دے آیت مخالفت مواونه کړوچی ﴿ قل هل یستوی الذ ین یعلمون والذین لا یعلمون ﴾ ﴿ هل یستوی الظلمات والنور ﴾ اللّٰه ﷻوایی چی عالم اوغیرعالم ندی سره برابراوتاسوخوسره برا برکړل تا سو خوپدے خوشحالیژئ چی یوشیعه یایوعیسایی درله اوټ درکړی پروګرامونو تیه در غو اړ ئ اوښه فخر پرے کوئ ـ

نوتاسوبه هله ده دے جمهوری نظام غړی شمارل کیژئ چی اول بده اسلام له تعلیماتونه لا س وینځئ دجمهوری آئین به مکمله پابندی اووفاداری کوئ زکه چی که تاسوجمهوری آ ئین هم نه ور

سره منئ اوپه جمهوریت کی اسلامی اومدنی سیاست هم کوئ نوداخواجتماع ده نقیضینوده ، نو چی ده دین اسلامی تفضل اوبرتری تاسوله ځانه اوویستلو شریعت مطهره موده دوئ ده وضعی کفری او جمهوری آئین تابع کړونوبیاداسلام درکی څه پاتے شوداخوبدیهی خبره ده که تاسوده اسلام منونکی یئ نواسلام خودامذکوره بالایو څیز هم نه منی بیایه تاسوولی ورسره کوئ ۔

شپږم دلیل : دادئے چی هره لاره خپل منزل مقصودته تللے وی جمهویت ده سیکرزم یوښاخ دئے نو لاره بیه هم خامخاسیکولر زم ته تللے وی اودوئ چی کوم نظام نافذه وی نو هغه سیکولرنظام د ئے او سیکولرزم نه له اسلام سره جمع کیدئے شی اونه له یهودیت اونصرانیت سره جمع کیدئے شی نودین جمهوریت ده دین اسلام په مقابله کی جوړشوئدئے که ته پراسلامی لاره روان شے هغه به خا مخاتاده اللهﷻ اود هغه درسول ﷺرضااودجنت دخول ته رسوی ،اوجمهوری لاره به تاده دے عکس منز ل ته رسوی زکه چی داخوداسلام په مقابله کی جوړشوئے دئے مثلاً که یوکس ده کراچئ پرروډباندی دکرا چئ په ګاډی کی کینی اومنزل مقصودیه لاهوروی نواوس تاسواووایئ چی داکس به کراچئ ته ر سی او کبه لاهورته اګرچی دصحی نیت دلاهورکړئے وی نوکراچئ تبه رسی بعینه دغه رنګه دجمهور یت پرروډ(لاره) دجمهوریت په ګاډی کی تاسو څنګه اسلام ته ځان رسوئ ۔

اووم دلیل : دادئے چی جمهوریت (کیپیټیلزم) یعنی سرمایه دارانه نظام غواړی زکه چی دادجاګیر دارانه نظام یوه نقشه ده اوس تاسوپدے کی بغیرده سرمایی نه پاتے کیدئے نشئ زکه چی لتا سوسره سرمایه نه وی نوبیابه تاسوانتخاباتوته په څه سره اودریژئ په انتخاباتوکی خوډیره خرچه لګی نوله کیپیټیلزم نه علاوه ستاسوبله چاره نشته دئے اوچی کیپیټیلزم دی ورسره او منلونواوس به تا سو دسود ، ده پولیوقطرو، او این ، جی اوز ته دجواز چترئ ورکوئ ،اوهم داوجه ده چی نن صباخواص هم پد ے څیز ونوکی وردننه شواوخپلی سرمایی یه په بینکونوکی بندی کړلے چی کوم کارونه هغوئ کول اوس خواصو هم پکی حصه وا خستله ۔

اوهم دغه وجه ده په ۲۰۱۸ء او ۲۰۱۹ء کی چی کله قائدملت صاحب ده عمران خان په خلا ف ده دهرنے کولوعزم اوکړو ده اسلام آبادپه ډی چوك کی نوبیایوه کس انټروی ترے نه اخستله سپینګیرئ خکارے دوخوکلین شویه کړے وه سپینی جا مے یه اچولے وے نورده دے حضرات نو مونه ماله څه رازی داویډیومادخپل استاذپه موبائل کی اوکتله نو هغه تپوس ترے نه اوکړوچی مو لانا صاحب تاسودعمران خان راکوزه ول غواړئ اوداوایئ چی موژاسلامی نظام را ولو نو چی که تاسو اقتدا رته اورسیژئ نوپدے نظام کی خوسودی کاروبارعام دئے تاسوبه بیالدے سودسره څه کوئ هغه ورته

اوویل چی له سودسره زموژخه کار نشته دئے ستاخنگه کارنشته له سودسره، دے نصی حراموته قا نو نی جوازورکول شوئدئے نوداستافریضه نه جوړیژی چی پرد ے باندی داسلامی تعلیماتوپه رنړاکی رد اوکړئ اوداسودی قوانین نیست اونابودکړئ ـ

اتم دلیل : دادئے چی پدے نظام کی خوټوله معامله پراکثریت ولاړه ده اواکثریت تاسونشئ حاصلو لئ زکه چی کله تاسوخلگ پرخپل ځان باندی راجمع کوئ نوده دے دپاره به تاسودروغ وایئ دو که بازی به کوئ دغه رنگه درشوت هم ضرورت دئے اولدے نه بغیراقتدارته رسیدل ناممکن دی ـ

نهم دلیل : دادئے چی تاسوپدے طریقه سره زکه اسلام نشئ راوستئ چی پدے کی به تاسو ده جمهو ریت ده اساسی قانون خیا ل ساتئ اوس به تاسو هله اسلام راولئ چی کله اسلام ده دوئ له اسا سی قا نون سره موافق کړئ ، اوچی پدے طریقه سرمواسلا م نافذکړواواساسی قانون خودانسانی ذ هن نـه جوړ شوئدئے نواسلام مودانسانی خواهش تابع کړواوکه تاسووایئ چی موژاول اساسی قانون ختمه ؤبیا اسلام راولونوبیابه تاسوپدے سیاست کی خپه نه کیگدئے زکه چی تاسودهم دے اساسی قانون په وجه سره پارلیمنټ حکومت اواقتدارته رسیدلی یئ اوهم دے اساسی قانون تاسوته په انتخا با توکی ده اودرے دلواجازه درکړے ده ، زکه تاسوده دے اساسی قانون په خلاف یوقدم هم نشئ اوچته ولئ ـ

لسم دلیل : دادئے چی تاسوپدے سیاست سره صحی اوکامل اسلام نشئ راوستئ اودازکه چی تاسو چی کله اقتدارته اورسیژئ نوپه اسلامی نظام کی خوترټولونه لویه شعبه دامرباالمعروف اود نهی عن المنکرده اوس پدے شعبه باندی تاسوعمل نشئ کوئ اودازکه چی ستاسوپه مقابله کی پیپلیان ، نیشنلیان ، سیکولراوجمهوری نظام غواړی اوس ده دے پارټیانودغه رنگه دقادیانیانو اوشیعه گانوپه خلاف تاسواودرے دئ شئ اوداپارټیانی تاسوختمولئ شی نه هرگزنه نودابه بیاخنگه اسلام وی چی نه پکی امربا المعروف کیژی اونه پکی نهی عن المنکرکیژی ـ

یوولسم دلیل : دادئے چی پدے جمهوریت کی به اسلامی نظام داساسی قانون پربنیادراځی اوا سلا می نظام به تاسوپدے نیت سره راولئ چی داده اللهﷻ له جانبه موژته راکول شوئ نظام دئے او په مو جوده نظام کی تاسواسلام پدے نیت سره نشئ راوستئ بلکه ده پارلیمنټ داراکینوپه مشوره او خوښه سره بیه راولئ اول خوپدے طریقه سره داسلام نفاذناممکن دئے داخبره به لژپه منطیقی اندازکی هم اوکړو " لوکان نفاذالشریعة ممکناً بطریق المروجة لکان یلج الجمل فی سم الخیاط حقاً لکن التالی باطل فاالمقدم مثله " خوبالفرض که پدے طریقه سره منظوراونافذهم شی دااسلام به بیاده انسانی خواهش پا بندشی زکه چی کده پالمینټ اراکین یوحکم جاری کول اوغواړی یایوحکم منسوخه ول اوغواړی نوپد

ے تولو کی به دوئ ته مکمل اختیاروی اواللّٰه ﷻ وایی :

﴿ وأن حکم بماأنزل اللّٰه و لاتتبع أهوائهم احذرهم أن یفتنوك عن بعض ماأنزل اللّٰه الیك ﴾ (المائده : ۴۹) اوتاسوفیصلے کوئ په خپل مینځ کی داللّٰه ﷻ په قانون سره اوده دوئ دخواهشاتوتابعداری مه کوئ ، اودانه چی دوئ تاپه فتنه کی واچوی اووادی ړوی ده بعض ماأنزل اللّٰه نه پیغمبرﷺ ته اللّٰه ﷻ ده دے خبری اجازه نه ورکوی چی داسلام یو حکم یایوجزء دی ده دوئ په خوښه سره معطل کړی اوموجوده جمهوری نظام خوده اسلام له کلیاتونه انکارکوی اوبیاهم تاسوده سیاست په نامه سره پدے نظام کی حصه اخستے ده اواسلامی جمهوریت ورته وایئ بل ځائے کی اللّٰه ﷻفرمایی :

﴿ وأن کادوا لیفتنونك عن الذین اوحینااالیك لتفتری علیناغیره واذالاتخذوك خلیلاً ﴾ (الاسراء : ۷۳)

اوقریبده چی کافران تاوارہ وی دهغ قرآن نه چی ماتاته وحی کړے ده اوچی کله ته ده دوئ وه طرف ته ور مائله شے نو خامخابه دوئ تاته ده دوستئ لاس درورانده کوی ـ

اوهم داوجه ده چی دانن صبامجاهدین چی په تك تورغره کی تك تورغارکی دننه نه پریژدی او له دوئ سره په اسلام آباد، لندن او پارلیمنټ کی شیراوشکردی حالانکه مجاهدهم اسلام غواړی او دا سیاسی خواص هم اسلام غواړی دوئ په پارلیمنټ اواسمبلیانوکی ورسره ناست دی اومجاهد دافغانستان او وزیرستان په توروغرونوکی نه پریژدی دوئ تیه په اسلام آبادکی ځایونه ورکړیدی اوبت شکن ملامحمد عمرمجاهدؒ اودهغه ملګیری دمحمدرسول اللّٰه ﷺدکلی میلمانه یه په توره بوړه کی نه پر یخودل اللّٰه ﷻ ډیرښه ویلی دی چی ﴿ ودوالوتدهن فیُدهنون ﴾ داکفارداخوښه وی چی لژته ورنرم شے او لژبه بیادوئ درنرم شی ، که نن هم طالب اودسنګرمجاهدلژشانتے تنزل سرتیټی اومداهنت اوکړی دا مجاهدچی نن یه په غره کی نه پریژدی صبابه هم دامجاهددنفاذشریعت آوازپه واشنټن کی اوچته وی اوده دے سیا سیانوپه رنګه آزادبه ګرځی ، اللّٰه ﷻ فرمایی چی که ماپرتاباندی ثابت قدمی نه وئے راو ستے نوقریبه وه چی تابه وه دوئ ته لژشانتے میلان کړئے ؤ ـ

حضرت مفتی صاحبؒ فرمایی چی اللّٰه ﷻ دی زموژقدمونه هم پردے حقیقی اسلام اود جمهوریت پر مخالفت باندی ثابت قدمه پاتے کی آمین ثم آمین ، اودوئ ورته لژلژمیلان اوتنز ل کوی اووایی به چی " ہم طالبان طرز نظام نہیں چاہتے"

نو چی داخلګ دطالبانوپه شانتے نظام نه غواړی بیاموژله دوئ نه داتپوس کؤ چی که ستا سوپه نظر کی دطالبانونظام صحی حقیقی اواسلامی نظام نه ؤبیاموپه هغه وخت کی ولی دطالبانو حمایت کو لواوله " جلال الدین حقانیؒ " سربه مو ملاقاتونه کول اودابه موویل چی " افغانستان میں مفتی محمودؒ

کے بچوں کا حکومت ہیں '' اوپه جماتونوکی به موقنوت نازلے ویلے په جلوس اوپروګامونوکی به موویل چی '' ایک لاکھ کفن پوش موجود ہیں او گولی کا جواب گولی سے دیا جائے گا''

اوکه دطالبانونظام صحی محمدی نظام ؤنوبیاپه خوله باندی ولی مسلمانانوته دوکه ورکوئ چی موژبه اسلام راولوسل کاله مواوشول چی پدے حسینه نعره سرمو طالبان په مدرسوکی له اسبا قو نه محرومه کړی دی ، اوچی تاسودطالبانوپه رنګه صحی اومحمدی اسلام نه غواړئ نوداخوبیاله اسلا می نظام نه انکارشواوده دے خبری فتویٰ پخپله ځانله اوګورئ ۔

بل داچی پدے الفاظوسره تاسو څوك خوشحاله کوئ چی کله وایئ '' ہم طالبان طرز نظام نہیں چاہت '' اوکله وایئ '' اسلحہ کی سیاست کرنے والا دین کی نمائندے اور محافظ نہیں ہوسکتے '' اولیاداوایئ چی '' ہم نے اپنے منزل تک مثبت ذریعے سے جدجہد کرنا ہے '' اویا '' نفاذ شریعت کا واحد ذریعہ ہے اووہ انتخابات ہیں '' یاداویل چی '' موجودہ دور میں جہاد جائز نہیں یہ علماء کا متفقہ فیصلہ ہیں '' (غفورحیدری) یاداویل چی '' ہم آئین کی حدود میں رہ کر شریعت کی نفاذ کی جدجہد جاری رکھیں گے '' یاداویل چی '' یہ جو دہشتگردی ہے اسکے پیچھے وردی ہیں '' اولیاداویل '' جہاد اور آزادی کے نام پر برسرپیکار لوگ دوسروں کی جنگ میں اندھن نہ بنیں اس سے ہماری تہذیب بچے گی نہ جان و مال کا تحفظ ہوگا '' (مولاناشیرانی)یاداویل چی '' دہشتگردوں اور مسلح تنظیموں کے خلاف بلا امتیاز کاروائی کرنا ہوگی '' جے یوآئی ،احوال بلوچستان روزنامہ سینچر ایکسپریس،کوئٹہ،بدہ ۲۴ اگست ۲۰۱۶)

نواوس پدے قسم الفاظوسره لتاسونه اللّٰه اودهغه رسول ﷺ خوشالیژی ، علماء خوشالیژی ، طالبان خو شالیژی ، مجاهدین خو شالیژی ، مفتیان حضرات خوشالیژی اوکه یهوداونصاریٰ دپارلیمنټ فاسقان او فاجران درنه خوشحالیژی دے ته وایی رکوب اومیلان کافرانوته اواللّٰه ﷻ پیغمبراسلام ﷺ ته تعلیماً للامة وایی چی ﴿ أذاًلأذقنٰك ضعف الحیٰة و ضعف الممات ثم لاتجدلك علینانصیراً ﴾ (الاسراء : ۷۵)

کدے لژشانتے رکوب اوکړلودے کفاروته نوموژبه په دنیااوآخرة دواړوکی دوچنده عذاب در کړواو بیا به نه وی تالره څوك مددګار ، اوپه بل ځائے کی وایی چی ﴿ لئن اشرکت لیحبطن عملك ولتکونن من الخٰسرین ﴾ (الزمر : ٦٥)

تاسودجمهوریانوته تنزلات کوئ اودشیطان پرلاره ورسره روان یئ ده دے جمهوریا نور هنما ئی خوشیطان کوی دشیطان په وحیی سره دوئ دانظام چلوی او اللّٰه ﷻ فرمایی ﴿ یأیهاالذین آ منوا ادخلو ا فی السلم کافة و لاتتبعوا خطوات الشیطان ﴾ (البقره : ۲۰۸)

اے دایمان والاؤدشیطان دقدمونوپیروی مه کوئ ترمپ ، زرداری ، نوازشریف ، شهبازشریف ، مشرف ، عمران خان اوقمرباجه وغیره داتول لوئ لوئ شیطانان دی دغیراللّٰه دقانون دتقویت اوبقاء ذر یعے دی نو د ه دے غوندورهنمائی شیطان کوی سیف المجا هدین شیخ اسامه بن لادن شهیدؒ به ویل

چی " وقدا خذ بوش الصلیب الضخم ویذهب وراء الناس فکل من یذهب خلف بوش فی خطته فقدارتدعن ملة محمد " بوش غټ صلیب رااخستئ دئے اودخلګوپه وړاندی روان دئے اوڅوك هم پده پسی ځی نو هغه کس له دین محمد ی ﷺ نه مرتددئے ۔

بل ځائے کی اللّٰه فرمایی چی ﴿ ومن یتبع خطوات الشیطان فأنه یأمربالفحشاء والمنکر﴾ (النور : ۲۱)

شیطان خوپه فحشاء باندی امرکوی اودجمهوریت مشراوامیرنشته نوزکه داطریقے شیطان ور خیی د فحشاء اوبے حیایئ لاری یه ځنګه ورخودلے دی اودحقیقت نیه ځومره لیری کړیدی په بل مقام کی اللّٰه ﷻ فرمایی :

﴿ ولوتقول علینابعض الاقاویل ، لاخذنامنه بالیمین ، ثم لقطعنامنه الوتین ، فمامنکم من احدعنه حاجزین ﴾ (الحاقة : ۴۷)

اے پیغمبره ﷺ کدی پرموژباندی څه خبری اوترلے دځانه نوموژبدی په ښی لاس سره او نیسو، بیابه دی شارګ کټ کړو، اونبی ﷺ پخپله وایی چی مالره ندی جائز " أن ابدل کلمة اللّٰه " نو چی پیغمبر ﷺ پد ے دین کی تغیراوتبدل نشی کوئے تاسوبیاڅوك یئ چی دشریعت دصریحو نصو صوپه خلاف روان یئ اوبیاوایئ چی دے کی زموژدامصلحت دئے پدیکی موداحکمت اوسیاست او خیردئے ۔

دوولسم دلیل : دادئے چی په مروجه سیاست سره دجمهوریت پرلاره باندی اسلام راوستل د سره جا ئز نه دی زکه چی داکفری او غلطه لارده داسلام دنفاذلاره شریعت مطهره متعینه کړے ده بیا تا سو څنګه پردے کفری لاره اسلام راولئ نوده دے خبری خودا مطلب دئے چی ستاسوپه نظرسره دین اسلام ناقص اونامکمل دین دئے ستاسوله عمله داسی خکاری چی تاسووایئ چی اسلام خو نور مکمل دین دئے خودنافذه ولولاره ورسره نشته دااسلامی نظام به موژپه څه طریقه سره راولو هغه طر یقه یه نده را خو دلے اوکه مودادنقص اعتراض پراسلام باندی نشته دئے نوبیامو ولی داکفری لاره اختیارکړے ده دا خو تاسوده پیغمبر ﷺ د صحابه کرامؓ ، دمؤمنانواودشریعت ده مقررکرده طریقے نه مخالفت کوئ نوده دا سی عمل په باره کی اللّٰه ﷻ فرمایی :

﴿ ومن یشاقق الرسول من بعدماتبین له الهدیٰ ویتبع غیرسبیل المؤمنین نوله ماتولیٰ ونصله جهنم ﴾ (النساء : ۱۱۵)

اوچی کوم کس ده پیغمراسلام ﷺ مخالفت اوکړی پس لدے نه چی هغه ته هدایت هم ښکاره شوئے وی اودمؤمنانودلاری نه اوګرځی یعنی دمسلمانانودلاری نه علاوه بله لاره اختیاره کړی ، نود

اسی کس به موژدهغے لاری اوهغوکسانوته حواله کړوچی پرکومه لاره اودچاپرلاره روان شوئے وی ، او داسی کس به موژجهنم ته اورسؤ ـ

علامه ابن کثیرؒ ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی :

" ایٔ ومن سلك غیرطریق الشریعة التی جاء بهاالرسول فصارفی شق " چی څوك دنبی ﷺ دراوړی شریعت نه علاوه بله لاره اختیارکړی نوداکس له محمدﷺ سره په مخالفت کی اونختلو ، نو هغوئ خوله ابتداء نه داجمهوری لاره دنبی ﷺ ده راوړی دین په مقابله کی راویستلے ده نوپردے لاره به بیا تا سو څنګه اسلام راولئ اوڅنګه بیه آخرت کی کامیابه شئ نوربه څه لاس له نشی درسوا دشاعرده دے قول نه چی ؎ نه خدا ہی ملا نه وصال صنم ::: نه ادھر کے رہے نه ادھر کے رہے

چی څوك پردے لاره اسلام راوستل غواړی نو هغه دی له (الجزائر) نه واله تر (فلپائن) پوری دعبرت خواره داستانونه اوګوری ، چی چادپیغمرﷺ اودهغه دصحابه ؤ ده لاری نه سواپربله لاره اسلام راوستلو نو هغه کوم انجام ته اورسیدل اودالجزئرنه وروسته اوس د (مصر) عبرت ناکه مرحله زموژپه وړاندی ده اګرچی په بعض ملکونوکی بعض قوتونونه داسلام پرنامه اقتدارته اورسیدل مګراسلام بیا هم د جمهو ریت دپارلیمنټ محتاجه دئے لکه څنګه چی داسلام دنفاذدپاره پارلیمنټ ته په ډیرو سترو خپل ځانونه اورسول هم دغه رنګه دانقلاب دراتلونه بعدکی هم محمدی شریعت دجمهوری پارلیمنټ منظوری ته محتاجه دئے اوپه دروازه کی خړپړپروت دئے ، اوبله داخبره یادلرئ چی وه یوه تش په نامه مذهبی جماعت ته داقتدارملاویدلونوم اسلامی انقلاب ندئے کده اسلامی انقلاب نظیراومثال وینئ نوپه افغانستان کی دطالبانونظام اوګورئ دیته وایی اسلامی انقلاب ـ

علامه ابن جریرطبریؒ ده مذکوره بالاآیت په تشریح کی فرمایی چی :

''ویتبع طریقاغیرطریق أهل التصدیق ، ویسلك منهاجاً غیرمنهاجهم ، وذٰلك هوالکفرباالله ، لأن الکفر با الله ورسوله غیرسبیل المؤمنین وغیرمنهاجهم''

اودمؤمنانودلارنه علاوه پربله لاره تلل ، اودمؤمنانودطریقے نه سوابله طریقه اختیاره ول ، د الله ﷻ سره دکفرکولو مترادف دی ، اوپه الله ﷻ اودهغه په رسول باندی کفرکول داده اهل ایمان ده والا ؤ لاره او طریقه نده ـ (جامع البیان فی تأویل القرآن ج ۹)

آیادجمهوریت ده بطلان دپاره داخبره نده کافی چی دالاره دصحاب ؤ نده ، داعلاء کلمة الله او دا سلام در اوستلودپاره خودصحابه ؤ جماعت دجنګ اوقتال لاره اختیارکړے وه دغه رنګه " حضرت امام مهدی علیه الرحمة " او" حضرت عیسیٰؑ " هغوئ به هم دنفاذشریعت دپاره دجهاداوقتال لاره اختیاره و

ی نـومـروجـه سیـاسـت دنبی ﷺ دهغه ده صحابه ؓ دامام مهدی اودحضرت عیسیٰ ؑ دټولوسره مخالفت لری ، اوجمهوریت خوجهاداوقتال فی سبیل اللّٰه حرام ګنړی ـ

د " نـوله ماتولیٰ " مـطـلـب عـلامه ابن کثیرؒ داسی بیانه وی چی څو ك دشریعت محمدی ﷺ نه علاوه پربله لاره ځی نواللّٰه ﷻ فـرمایی چی داسی کس موژپرهم هغه لاره پریژدوچی پرکومه روان دئے ، اوده دے سړی پـه زړه کـی هم هغه لاره خائسته کؤد استدراج په طریقے سره لکه چی اللّٰه ﷻ وایی ؛ ﴿ فذرنی و من یکذب بهذاالحدیث سنستدرجهم من حیث لایعلمون ﴾ (القلم : ۴۴)

یـعـنـی الـلّٰـه وایـی چـی مااوده دے خبری منکرین سره پریژدئ زه به دوئ پداسی آرامه اوآسانه طریقه سره جهنم ته اورسوم چی دوئ ته به پته هم نه وی اواللّٰه ﷻ فرمایی :﴿ فلمازاغوا أزاغ اللّٰه قلوبهم ﴾ (الصف : ۵)

چی کله دوئ په شك کی پرے وتونواللّٰه ﷻ هم ده دوئ زړونه په شك کی واچولو ـ

اوقاضی ثناء اللّٰه پانی پتیؒ فرمایی چی :

" ایٔ نـجعله فی الدنیاوالیاً لماتولیٰ من الضلال " یـعنی چی کومه ګمراهی ده اختیاره کړه نوموژبه په دنیاکی هغه ګمراهی ده لره ملګرے اودوسته اوګرزؤ ـ

اوس ده خـلافـت ده قیـام دپاره داللّٰه له طرفه مقررکرده لاره پریخودل اوپدے جمهوری نظام کی وردننـه کیدل دادخلګودګمراهئ لوئ سبب دئے چی کوم سبب اللّٰه پدے آیتونوکی بیان کړئدئے ، بیا شیـطان داجمهوری لاره دوئ ته څومره خائسته کړے ده چی ده دے لاری دپریخودلواوس دوئ تصورهم نشی کولئ ، (محصله من ادیان کی جنګ ص : ۱۴٦)

اوهم دغه وجه ده چی په انتخاباتوکی یه شکست ورکړلوده پارلیمنټ نیه په څومره ذلت سره را بهـرکړود ۲۰۱۸ء سـنه په انتخاباتو کی ، خودوئ بیاهم دالاره پرے نخودله اوکیه لاره اوطریقه صحی وئ بیا هـم لیـا خیـرؤده دوئ لاره هـم غـلـطـه ده پرکفری لاره اسلام راولی نولهٰذاداجمهوری نظام کفری ،شرکی، طاغو تی اوجاهلی نظام دئے پکارده چی موژپدے نظام کی ده شرکت کولونه اجتنا ب اوکړو ـ

شپاړسمه (۱٦)شبهه : دمکے مکرمے په دورسره دلیل نیول

بل اعتراض داکوی چی اسلام خوپه قلاره قلاره اوتدریج سره نافذشوئدئے نبی ﷺ هم دیارلس (۱۳) کاله وروسته نا فذکړو، نوخیردئے موژبه هم په جمهوریت کی څه موده پس اسلام راولو، اویااوس دی هـم دغه جمهوری نظام وی چی کله امام مهدیؑ اوحضرت عیسیٰؑ راشی بیابه هغوئ اسلامی نظا م

راولی اودپاکستان خوڅه دپاسه اویا[۷۰] کاله شوی دی نودومره زرخو اسلام نشی راتلئ اوکیدئے شی چی په مروروده زمانے سره دهم دے جمهوریت په ذریعه سره الله اسلامی نظام راولی ـ

اوهم دغه شبهه مولوی جارالله صاحب هم پیش کړے ده چی دیارلس کاله صحابه ؤ بغیردخلافت نه تیر کړو تر صلح حد یبیه پوری چپ پا تے شوجهادیه نه کولو حالانکه لدوئ سرخوپه مکی دورکی هم دالله ﷻ مد دشا ملید ئے شونواوس هغه ده یوه حکمت پربناء ناست ؤپه موژکی خوبه لیاډیری غلطیانی وی زکه دالله مد دخوراسره شاملیدئے شی اوس هم خووخت پکی لگی اوس موژ په هغه دورکی یواو تا سوو ایئ چی را پاسئ جهادته اوس موژتوره هم نشوراا خستئ اودجمهوریت نه هم بائیکاټ اوکړونودابه څه شو حالانکه پیغمر ﷺ هم تریوڅه وخته پوری ګزاره کړے ده لدے نه وروسته هم صحابه دا کثرو با د شا هانوپه دور حکومت کی چپ پاتے شویدی لکه دهارون الرشیدپه شانتے بادشاهان شوداا گرچی لژخه ؤ خودومره هم نه ؤ چی پر دین باندی سوفیصد برابرروان ؤ ـ جوابات !

" **اولاً** " داچی دپیغمبر ﷺ په زمانه کی اسلام پدے وجه سره په تدرج سره نافذشو چی پر پیغمبر ﷺ با ندی شریعت په یوځل ندئے نازل شوئے بلکه په تدریج سره سوکه سوکه به نازلیدو خو چی کوم آیت به نازل شونو هغه آیت بیانبی ﷺ دیو مصلحت او حکمت پربناء ندئے معطل کړئے بلکه فوراً بیه عمل پر ے کولودنبی ﷺ اودصحابه ؤعمل دهغوئ دعلم سره بلکل نختئ ؤلکه چی دلمانځه احکامات لیا مکمل نه ؤرانازل شوی خودوئ به بیا هم نموځ کولو ـ

" **ثانیاً** " داچی تاسوبه په قلاره اوتدریج سره هله اسلام راولئ چی لتاسوسره خوپه تحکیم دشرع الله کی دیو چاموافقت وی اوپه جمهوریت کی خواکثریت ته اعتباردئے اوده اکثریت نه اوس فی الحال احتمال شته اونه یه آئینده کی ، چی لتاسوسردی پدے مسئله کی متفق شی زکه چی اکثریت خوکا فران وی اکثریت خوکم عقل وی اکثریت خوناشکره وی دحق والاخولژوی ـ

" **ثالثاً** " داموژمنو چی پیغمبر ﷺ دیارلس کاله بغیردخلافت نه پاتے شوئدئے خو هغه د یار لس کا له اوس دنسخ احتمال لری زکه چی صاحب جلالین هرځائے کی وایی " نُسخت بآیات السیف " او په منسوخ دورسرخودلیل نشی نیول کیدئے ، بل داچی دمکے په دورکی ډیراحکامات نه ؤمثلاً حج نه ؤ، زکوٰة نه ؤ،جمعه نه وه ، اذان نه ؤنوبیاخو هغه هم مه کوئ پرے یژدئے اوکه نورټول احکامات کوئ نودے یوه جهادڅه ګناه کړے ده چی دیته نه تیاریژئ ، بل داچی " وللآخرة خیرٌ لك من الاولیٰ " دنبی ﷺ آخری دوراوآخری حالت ته اعتباردئے اوآخری حالت یده جهاداوخلافت غه دئے ، در یم دا چی

تیك ده نبی ﷺ په غیراسلامی دورکی پاتے شوئدئے خودیهودیانوپه شورئ کی یه شرکت ند ئے کړئ بلکه په دعوت کی به موژدحضرت ابراهیمؑ طریقه اختیاره ؤ زکه چی اللّٰه ﷻ فرمایی ﴿ قد کانت لکم اسوة حسنة فی ابراهیم و الذین معه أذقالو القومهم ﴾ اودابراهیمؑ څلورخبری قرآن موژته بیان وی ﴿ أنابرءٰؤا منکم ،و مماتعبدون من دون اللّٰه ، کفرنابکم ، وبداء بیننا و بینکم العداوةُ و البغضاءُ ابداً ﴾ (الممتحنة : ٤)

اول داچی موژلتاسونه بائیکاټ اوکړلویعنی لتاسوسره موژنشست ورخاست ناسته پاسته نه کؤاو ستا سوپه مجالسوکی موژ شرکت نه کؤبیاوروسته وایی چی ستاسوله معبودانونه هم موژدبرائت اعلان کؤ ، دویم ورته وایی چی موژپتاسوکفرکؤلتاسونه انکارکؤیعنی تاسونه منو، دریم داچی زموژ لتاسوسره ښکاره بائیکاټ دئے ، اوڅلورم داچی په زړه کی هم بغض درسره لرو۔

دابغض اوعداوت په دواړه زکه راوړوچی بعض خلګ به وایی چی یاره لدے کفاروسره خوزمو ژپه زړه کی بغض شته دئے په زړه کی موبدایشی خوقرآن محض دزړه پردشمنی اکتفیٰ اونه کړه بلکه اویه ویل چی دزړه په بغض څه نه کیژی بلکه ظاهری دشمنی به هم ورسره کوئ ، (حضرت مفتی صاحب) وایی چی لدے جمهوری نظام نه بائیکاټ اواجتناب پکاردئے،اونه نبی ﷺ ده دوئ په نظام اوطرز طریقوکی شمولیت ورسره کړئدئے زکه چی کیه له ابوجهل سره انتخابات کړی وئ نوښکاره خبره ده چی ابوجهل ترے نه ګټله دغه شانتے کیه په بدرکی اوټونه سره کړی وئ نو هم ابوجهل ګټله نواصل شئ برائت اجتناب او بائیکاټ دئے " فلاتقعدوامعهم " زکه چی نن تاسودټولی نړئے دپاره دلیل شوئ هریووایی چی که جمهوریت کفروئے نو بیا به له موژسره فلانئ اوفلانئ مولانانه کیناستلواصحاب کهف اللّٰه صرف په برائت سر او بخل اوچته درجه یه ورله ورکړله اوچی دوئ وایی زموژمجبوری ده یاموژمجبوره یونوتاسوتراصحاب کهف نه هم په اضطراری حالت کی یئ هغه یوڅوڅوانان ؤاوله مکملی باد شایئ نه یه دبغاوت اعلان اوکړوخپل وطن خپل موراوپلاریه پریخودلوخودغیراللّٰه نیه دبرائت اعلان اوکړونودهغوئ طرزنه هم یوڅوخبری معلومیژی اول برائت دویم جماعت اودریم توره رااوچتول۔

اوکه دوئ وایی چی په پارلیمنټ اسمبلیانواو جمهوریت کی بیاهم څه ناڅه علماء ښه دی لیا بد ه یوفحاشئ مخه اونیسی لیابه دشریعت په خلاف پاس شوئے بل مستردکړی بهرحال هاده اسلام څه نوم اوچتیژی موژ وایوچی ستاسوپدے جمهوری لاره کی پدے مروجه سیاست کی سل کاله پوره شو اوس لتاسونه موژداتپوس کؤچی په پاکستان کی سل کاله وړاندی فحاشی زیاته وه اوکه اوس زیاته ده سل کاله مخکی شیعه ګان اوقاد یا نیان ډیرؤ اوکه اوس ډیردی سل کاله مخکی دپیغمبرﷺ اودقرآن تو

هین ډیرکیدلواوکه اوس ـ

نوپدے نظام کی دشرکت ستاسو څه فائده شوه بلکه اولټه عذاب دئے زکه چی تاسودرے ځله شریعت بل پیش کړ واودے خبیثانودرے ځله دخلّاق عالم قانون فیل اونامنظوره نکړونوکه تاسودا شر یعت بل پیش کړ ئے نه وئ نوپاس شوئے به نه ؤخوکم ازکم فیل شوئے به هم نه ؤ اوس تاسو څوارلس کاله وړاندی الٰهی منظورشده قانون اوس ده دے خبیثانوخپوته یوړوچی داراله منظورکړئے نوداوس تا سوپخپل لاس د خلّاق عالم دقانون توهین اوبے عزتی اونه کړه اسلامی ، قرآن اومحمدی قانون دومره بے حیثیته شو چی تاسویه نن دپارلیمنټ خبیثانوته وړئ چی جی داراله منظورکړئے ـ

" **رابعاً** " داچی په افغانستان کی له څومره وخته باطل نظام رارروان ؤ،دظاهرشاه داؤودخان و غیره ده د ے ټولونظامونه غیراسلا می ؤله دوئ نه وړاندی برطانیه اوروس پاتے شوئے ؤ خوبیا هم چی کله (بت شکن فرزندابراهیمی عمرثالث ملامحمدعمرمجا هدؒ راپاسیدوصحی محمدی لاره یه اختیار کړه نو صحی محمدی نظام رانه غلوتاسو هم که اسلامی نظام نشئ راوستئ نودکفری نظام حصه خو مه جوړ یژئ دکفرنه خودبرائت اعلان اوکړئ ـ

" **خامساً** " داچی تاسوپه تدرج سره دپارلیمنټ پرلاره اسلام راولئ نوتاسوبه اول شریعت بل پیشوئ بیابه دوئ په پارلیمنټ کی میټینګ ، اجلاس اومشوره پرے کوی چی آیادادبل خوپیش شوئد ئے او س یه منظورکړواوکنه اوحضرت مفتی صاحب فرما یی چی په " جامعه حقانیة " کی موژته شیخ الحد یث مولانانصیب خان شهیدؒ ده دے آیت ﴿ أنماالخمروالميسروالانصاب والازلام رجسٌ ﴾ (المائده : ۹۰)

په تشریح کی اوویل چی داللّٰه پرحلال شوی اوحرام شوی څیزونوباندی مشوره کول کفردئے چی په دا سی طریقه سره اجلاس رااوغواړے چی دافلانئ حلال څیزبه په علاقه کی څنګه عام کړو ـ

" **سادساً** " داچی تاسوپه قلاره قلاره اسلام راولئ نوداخبیثان خوپه پارلیمنټ کی داسلام ، قرآن ، او مجاهدینوپه باره کی قسم قسم بکواسات کوی اوپتاسوکی دومره جرأ ت نه وی چی داخوله ور له ماته کړئ دشیخی وشیخناشیخ محمدفقیرصاحب په شانتے ساده کارورسره اوکړئ پردے مخ یه اوو هئ چی ماغزوتیه درداورسیژی اوهامخکینی څه ښه ؤیوبیه په کرسئ اوویشتلوبیابے اسملئ اوپار لیمنټ په مقعدونووراومنډله اوتاسوخوپه تدرج سره کفرته ورمائله کیژئ ـ

اووه لسمه (۱۷)شبهه : موژخوچاته داسیاسی اودحکمرانئ میدان نه پریژدو

بله خبردوئ داکوی چی موژچاته میدان نه پریژدو(حضرت مفتی صاحب) فرمایی چی دامیدان دوئ تـه ډیر خوندورکوی اووایی چی که چیرته موژپارلیمنټ پریژدونوده دین دشمنانوتبه لره اخالی پاتـے شی او هغوئ چی بیاپرمسلمانانو حکو مت کوی نودابیاموژنه شوبرداشوئ !

الجواب ؟

جـواب دادئـے چـی گـوره دامـجـاهـدین چی خپلی نازکی ځوانئ قربانوی دهغوئ خو هم دغه مـقـصـد دئـے چـی دادخلافت او حکمرانئ اودحاکمیت اعلیٰ میدان چاته نه پریژدی تاسوده دے میدان دپاره څه تیارئ کړئدئـے اوتیارئ دادئـے چی دامیدان خوپیغمبراسلام ﷺاوصحابه ؤپه توره اواسلحه سر ه ګټلـئ دئ نـوتـاسویوټوپك یایوه توره اخستـے ده بلکه تاسوخود اسلحـے دسیاست جوازنه منئ کول خویه لیر ی خبرده ـ

اوکـه تـاسووایئ چی موژبه دے جمهوری نظام ته سجدے کؤکوؤ آخربه دوئ راته او وایئ چی راسـئ مـلـیـانـواوس هغه ستاسواسلام راولئ دغه شانتـے به تاسواسلام نافذوئ اوپه جمهوریت کی خو ستـاسـواوده دے نـوروسیـکـولرخلګو څه فرق نشته دئـے زکه چی هغوئ هم پرملة مسلمة باندی دغیر اللّٰـه قانون اوآئین ملسط کړئـے دئـے قسم قسم ظلمونه اوستمونه پرے کوی اوتاسو هم پدے نظام کی خـه ده خـوشـحـالـئ جـونـدتیروئ بس صرف لدے اوسنی حکمران سرمواخستـے ده حالانکه دا خو یو فـرددئـے داخـوبـه یـو څوکاله جوندئـے وی بیابـے لیاحکومت ختم شی یابه پخپله مردار شی اولیابیه بل څـو ك مـردارکړی دادشریعت خلاف ورزیانی اوداکارونه خوله یوه فردسره تعلق نه لری بلکه داخوله نظام سره تعلق لری اوپرنظام باندی تاسوردنشئ کوئ بیاستاسودے مبارکوګیروموژته څه فائده راکړه ـ

لد ے و جهی نه صاحب ده " معالم فی الطریق " وایی چی اسلامی نظام دیته نه وایی چی مقد س افـراددی پـار لـیمنټ ته لاړشی اوهلته دی دغیراللّٰه په آئین سره حکم کو ی بلکه دوئ به هم مقدس و ی دانـه چـی تـائـی بـے اچولـے وی غټ زندیق به وی نودوئ به هم مقدس وی نظام بیـه هم مقدس وی په الهی قانون سربه فیصلـے کوی دیته وایی اسلامی نظام ، اوکه تاسو هم داکثریت قانون ده اللّٰه پرقانون ور سـره بالا تر ګنړئ او داکثریت په آئین ورسره فیصلـے کوئ نوبیاکه هر څومره غټ حنفی یادیوبندی شی اوهر څو مره اوګده ګیره پریژدی داللّٰه ددشمنانوپه صف کی ولاړدئـے ـ

اتلسمه (۱۸)شبهه : زموژمجبوری ده چی پدے نظام کی به شرکت کؤ

په جمهوریت کی دحصے اخستلوبل دلیل دوئ داکراه غه پیشه وی چی موژمکره یواو مجبو ره یو دا کراه اومجبوری په حالت کی خوسړئے دکفرکلمة هم ویلئے شی ، مرداره دخره اوخنزیرغوښه هم خوړ لئے شی اوپه کفری نظام کی خوحصه بطریق اولیٰ اخستئے شی اواللّٰه ﷻ داکراه په باره کی فر مایی چی ﴿ من کفرباالله بعدایمانه ، الامن اکره وقلبه مطمئن باالایمان ﴾ (النحل : ۱۰۶)

اونبی ﷺفرمایی چی : " عن ابن عباسؓ ان رسول الله تجاوزعن امتی الخطاء و النسیان و مااستکرهوا علیه " (مشکوٰة ص : ۵۸۴)

الجواب ؟

الاکراه علیٰ نوعین اکراه پردوه قسمه ده (۱) یوه اکراه ملجئ ده ، (۲) اوبله اکراه غیرملجئ د ـ

ضابطه داکراه ملجئ داده چی یو څوك تاته په قتل سره دهمکی درکړی هسی دی اویروی خو څه کولئے نشی یادقیدکولوتنبیه درله درکړی ـ

اوغیرملجئ دیته وایی چی دمذکوره بالاخیزونوتنبیه درله درکړی اوپتاکی ده دے ده برداشت طاقت هم نه وی اوده دے څیزونو وقوع هم یقینی وی نوپه اولینی صورت کی تاته دکفردکلمے دویلوا جازه نشته دئے اوپدے دویم صورت کی جوازلری "

نوموژوایو چی پرتاسوباندی کومه اکراه شوے ده اوڅه مجبوری موده که چیرته تاسواوتپونوته اونه اودریګئ نوبه موقتل کړی کبه یواندام درنه جداکړی دایوکارهم نه درسره کوی نوبیانوره څه مجبو ری ده ، اوکله وایی چی موژپه " أهون البلیتین یا أخف الضررین " مسئله کی راګیرشوی یو هغه داسی چی یوخبره داده چی پاکستان بغیرداسلامی نظام نه پاتے شی کفری نظام پکی جاری اوساری وی دویمه خبر داده چی موژده سیاست په ذریعه سره پردے کفری لاره باندی اسلام راولونوموژمنو چی دادواړه لاری ند ی صحی خودادویمه لاره څه قدرے صحی ښکاری زکه چی ترمکمل کفرداسلام جانب څه ښه دئے ـ

موژوایو چی ښه خوپکی یوه خبره لیاهم نده زکه چی دجمهوریت بنیاددتوحیددکلمے سره مخالف دئے اوداداسی چی موژ حاکمیت اللّٰه لره ثابته ؤ اوډیموکراسی دحاکمیت اواوقانون سازئ حق عوامولره ورکوی نودادجمهوریت غټ کفردئے اوکفرښه شئ کیدئے شی ، خوکه بالفرض موژ دا ستا سومجبوری در سره اوهم منوخوبیاهم داد اهون البلیتین والامسئله هله وی چی درے یمه لاره نه وی بیاپه دوؤ ضرر ونوکی په یوه ضرربانده ده عمل کولواجازت شریعت ورکوی ـ.

اوستاسودپاره خوداسی درے یمه مأموربه پیغمبراسلام ﷺاودهغه دصحابه ؤلاره شته چی دجمهوریت وجودبه هم ختم شی او اسلام به هم نافذشی اوهغه لاره دجهاداوقتال ده نودابهانه څه حقیقت نه لری ، هاداویلئ شئ چی جهادګران کاردئے دخوالفوکار ندئے خوداعذرهم قابل قبول نه دئے زکه چی پیغمبرﷺکولواوته په آرامه سره پرکورله خوالفوسره ناست یی ـ

نولسمه (۱۹)شبهه : چی کوم اکابرین علماء اوس پدے نظام کی شریک دی د هغوئ په عمل سره دلیل نیول

بعض خلګ پدے جمهوری نظام کی دمداخلت بل دلیل دعلماؤ اکابرینوپه اقوالواودهغوئ په ذات سره نیسی چی فلا نی عالم ده دے مروجه سیاست حمایت کړئدئے اواوټ یه استعمال کړئدئے اکثره دوئ په موجوده اکابرینوکی ده شیخ الحدیث مغفوراللّٰه باباجی د " شیخ الحدیث عبدالحلیم دیر باباجی " دشیخی اوشیخنا" شیخ محمدادریس صاحب " دغه شانتے د " شیخ الحدیث مفتی زرولی خان صاحب طال اللّٰه عمرهم " دغه شانتے دنوروعلماؤاقوال پیشوی ، نوده دے هستیانودسردسایی سوا لونه خو موژهم په هرلمانځه کی کؤده دوئ په باره کی خوموژڅه نشوویلئ خوډیرپه ادب سربه ده دے شبهے یوڅوجوابونه اوکړو !

" **اولاً** " داچی دے حضراتوخوستاسوحمایت په دلالت النص سره ندئے کړئ اوکیه کړئدئے خوپیش یه کړئ ((ځماخپل استاذ شیخ محمدادریس صاحب حفظه اللّٰه هغه هم ده دے مروجه سیاست ښه زبرد سته تائیدکوی خوبے دلیله بس دادلیل یه دئے چی نورکه نه وی ده دے جاهلانوپرځائے خو عالم ښه دئے دهغه ځائے نبه یوه خبره موژته رااورسوی یوخلاف شرع بل خوبه ردکړی یابے نشاندهی اوکړی نو موژوایو چی دقریشوکوم وفد چی نبی ﷺلره راغلونوهغوئ له نوروخیزونوسره سره دحا کمیت او سیا دت وعده له ابوطالب سره اونه کړه چی مشری به ورکړوخوزموژخدایان دی پریژدی هغو ئ پسی دی بدی ردی نه وایی نواوس ده ابوجهل اودنوروکافرانوظالمانوپرځائے دنبی ﷺمشری نه وه بهتره ولی یه نه قبلوله نورکه نه ؤهاخپل ملګری خوبه یه څه له تکلیفونونه خلاص شوی ؤنبی ﷺته هغوئ مشری ورکوله ده نه قبلوله اوتاسوله پارلمینټ نه رااوباسی اوتاسویه نه پریژدئ ـ

بیا شیخ صاحب یوه واقعه بیان کړه چی د لته کی یوعالم ؤبیابے داوټ اونتخاباتوده لاری نه خلګ منع کول خوبیادخدائے قدرت ؤچی سیلاب را غلو په هغه سیلاب کی دانجوزوالاؤخلګوته پیسے ورکولے کورونیه ورکول ډیر خلګ قادیانان شو مخته یه هم څه خبره اوکړله خوزه نه شوم پوئ

بیایه اوویل چی ما هغه عالم ته اوویل چی دقیامت په ورځ به الله تاترمرئ رانیسی هغه ول ته خوماته غصه شو ے ماورته اوویل چی هوکے خوتاخلګ داوټ نه منع کول کدااوټ فلانی ګټلئے وئ نواوس به داخلګ ولی قادیانیان کیدل نوکوم خلګ چی په شرك کی مبتلاء ؤ آیادهغوئ تپوس به قیامت کی له نبی ﷺ نه کیژی زکه چی که نبی ﷺ مشری قبله کړ ے وئ نوممکنه وه چی ډیرخلګ بیه په مثبت ذریعه پخپلو اخلاقوسره ده شرك نه اړولی ؤ ـ

تنبیه ! پدے سر چی دچاذهن ته داخبره رانشی چی ګویاځمادشیخ صاحب هتك مراددئے یاده ده له مسلك سره موافقت نه لرم هرګزداسی نده حضرت شیخ صاحب ماته ډیرقدردان دئے زه دده د خپو خاو ری هم نه یم خوالبته دسیاست اوجمهوریت په باب کی موافقت نه ورسره کوم اونه دمطلق اطاعت درس ماته شریعت راکوی چی په هرڅه کی بیه اتباع کو م ؟))

اوموژده دے لاری بطلان په نصوصوسره ثابت کړواودے حضراتوبه پدے نظام کی دشرکت فتویٰ تریو ه مصلحت لاندی ورکړے وی اومصلحت هغه معتبروی چی له نص سره مخالف نه وی ، نومنو چی دوئ بده پنځو یا لسو مصلحتو نو او منا فعو پربناء ستاسو حمایت کړئ وی خوده دے په مقا بله کی موژ په سلګونونقصانات اومفاسدذکرکړل اوداخبره هم موژپه نص سره ثابته کړه چی پرقلیلو مصالحواومنافعوبه ډیرومفاسدوته ترجیح ورکول کیژی اواعتباربه وه حرمت ته وی لکه چی آیت دخمر موژپه دلیل کی پیش کړلو ـ

" **ثانیاً** " داچی په ټولو مصالحواومنافعوکی لوئ مصلحت توحیداوحاکمیت دالله ﷻ دئے او ترټولونه لوئ مفسدشرك دئے لکه چی الله ﷻ فرمایی ﴿ أن الشرك لظلم عظیمٌ ﴾ (لقمان : ۱۳) زکه پدے مصلحت اوسیاست سره دالله ﷻ دحاکمیت اودقرآنی قانون انتفاء راځی اوبل پردے خبره موژخومره دالائل پیش کړ ل چی پدے مروجه سیاست سره شریعت نشی نافذه کیدئے بلکه نور لیا شر ك اودغیرالله قانون اوآئین ته تقویت اوبقاء حاصلیژ ی نواوس به اعتباردعلماؤوه اقوالواومصالحوته و ی کبه وه دے مذکوره مفاسدوته وی ـ

دجمهوریت په ردکی داکابرعلماء دیوبنداقوال اوعبارات

" **ثالثاً** " داچی له موژسره هم دجمهوریت پرتکفیر (کفر) اوبطلان باندی ، اوپدے کی د حصے نه ا خستلو ، اوپردے لاره داسلا می نظام دنه راتلوباندی دداسی علماؤاواکابرینواومشائخ عظا مواقوال او عبا ر ات شته چی هغه اکابرین " مسلّم بینکم وبیننا " دی اوداقوال زموژدټولودپاره مشعل راه

دی نو کتا سو پدے مذکوره اکابرینوسره دلیل نیسئ اونورنقلی دلائل درسره نشته دئے اوله موژسره دنقلی دلا ئلو سره سره داکابرینواقوال هم شته دی ملاحظه کئ هغه اقوال اوعبارات ؟

1: ﷲ

حضرت شاه لی اللّٰه محدث دهلوی ؒ فرمایی چی :

" لما کانت المدینة ذات اجتماع عظیم لایمکن ان یتفق رأیهم جمیعاً علیٰ حفظ السنة العادلة " (حجة اللّٰه البالغة ، باب سیاسة المدینة)

چی کله شهر (خار) دمسلمانانودهجوم اورش نوم دئے ، نوبیاده دوئ رایه پرسنت باندی متفق کیدل نا ممکن دی .....۔

معلومه شوه جمهوری نظام چی داکثریت موافقت ته محتاجه دئے نوپدیکی داسلام او مسلما نانوکامیابی ثابت ول ده دو کے نه سوانورڅه نشته دئے ،

2: ﷲ

حکیم الامة حضرت مولانااشرف علی تهانوی ؒ فرمایی چی :

غرض په اسلام کی جمهوری سلطنت څه څیزاوڅه شئ نه دئے ..... دااختراعی متعارفه جمهوریت محض دځانه جوړکولئے شوئ مهمل اوبے معنیٰ څیزدئے ، اوبیاخاص کرداسی جمهوری سلطنت چی دمسلم اوکافردواړوارکانونه جوړوی داسی سلطنت غیرمسلم سلطنت وی ، (ملفوظات تھانوی ص:۲۵۲، نیز اوگوری احسن الفتاویٰ کتاب الجهاد، باب سیاست اسلامیه)

پدے غیرمسلم لفظ سره ده دوئ ده اسلامی نوم بطلان هم ثابت شو چی دوئ ورته وایی داز مو ژپه ملکو نوکی خواسلامی جمهو ریت دئے اوبل بیامغربی جمهوریت دئے نواسلامی اومغربی اوفر عونی ده د ے زائدالفاظو څه حیثیت نشته دئے نه پدے سرد جمهوریت کفرپتے دئے شی۔

بل حضرت تهانویؒ د " فاذاعزمت فتوکل علی اللّٰه " آیت په تفسیرکی فرمایلی دی چی پدے آیت سره دجمهوریت بنیاد او ویستلئے شویعنی استیصال یه اوشوبیایه ویلی دی چی جمهوری سلطنت هم یوسلطنت دئے ؟؟ داخوصرف دماشومانولوبی اود انگریزانوبدعت دئے اومفتی محمودؒ د ے نظام ته لعنتی نظام ویلئدئے ۔

3: ﷲ

حضرت مولانامحمدادریس کاندهلوی ؒ فرمایی :

دوئ وایی چی داخودمزدورانواوعوامو حکومت دئے خوداسی حکومت بغیردڅه شك نه کا فر

حکومت دئے ، (عقائدالاسلام ص:۲۳۰) په بل ځائے کی فرمایی چی : " وه داسی حکومت ته اسلامی حکومت نشی ویل کیدئے چی کوم حکومت ده اللّٰه ﷻ حاکمیت اودشرعی قانون برتری اوبالادستی نه منی بلکه داوایی چی حکومت بده عوامواومزدورانووی چی عوام اومزدور خلګ کوم قانون جوړکړی ده ملك قا نون به هم هغه وی داسی حکومت بغیرده شك نه کافرحکومت دئے ،﴿ أن الحکم الاللّٰه ﴾ ﴿ و من لم یحکم بماأنزل اللّٰه فأولئك هم الکافرون ﴾ (عقائدالاسلام ص:۱۹۵۔۔ ادارہ اسلامیات کراچی)

4 : ۞

حضرت علامه سیدسلیمان ندوی ؒ فرمایی :

داسلامی جمهوریت تصورپدے الفاظوسره ردکوی ؟ چی جمهوریت اودجمهوری عمل له اسلام سره څه تعلق دئے ! اودخلافت اسلامی سریه څه تعلق دئے ! مروجه جمهوریت خواووه لسمه (۱۷) صدئے پس په وجودکی راغلیدئے ، دیونان جمهوریت هم دموجوده جمهوریت نه جداؤ ، لهٰذا اسلامی جمهوریت یوه بے معنیٰ اصطلاح ده ... موژته خوپه اسلام کی چیرته هم مغربی جمهوریت په نظررانه غلو اواسلامی جمهوریت خوهیڅ شئ هم ندئے ، معلومه نده چی " اقبال " مرحوم ته داسلام په روح کی داجمهوریت ده کومی نه (یعنی دکوم ځائے) په نظروه راغلو ؟؟؟؟؟ جمهویت دیوه خاص تهذیت اوتاریخ ثمره ده داپه اسلا می تاریخ کی غوختل معذرت خواهی ده ، (ماہنامہ سنابل، کراچی مئی ۲۰۱۳ء جلد نمبر ۸ شمارہ نمبر ۱۱، ص: ۲۷، ۲۸ مدیر مولانا حافظ محمد احمد صاحب، نیز اوکوری ماہنامہ ساحل، کراچی، شمارہ جون ۲۰۰۶ء مأخذ از مالی علامہ سید سلیمان ندویؒ مرتبہ مولانا غلام محمدؒ)

دعلامه ندویؒ ده دے تعریف په رنړاکی ده دارالعلوم کراچئ پرمفتیانواودارالافتاء باندی هم صدافسو س دئے چی هغوئ هم پرخپل ستیمپ باندی داسلامی نوم لیکلئ دئے اوپه پداسی الفا ظو سره چی ، " مفتی جامعة دارالعلوم کراچی اسلامی جمهوریت پاکستان ، او، دارالافتاء جامعة درا لعلوم کراچی اسلامی جمهوریت پاکستان "

5 : ۞

حضرت مولاناقاری محمدطیب صاحب سابق مهتمم دارالعلوم دیوبند ؒ فرمایی چی :

دا (جمهوریت) له اللّٰه ﷻ سره په صفت ملکیت کی هم شرك دئے اوپه صفت علم کی هم شر ك دئے ، (فطری حکومت)

نوا ے دیوه اللّٰه ﷻ منونکودشرك دلاری په اختیاره ولوسره هم څوك داسلام رفعت اوبلندی راوستئ شی -

6 : ﷲ

حضرت مولانامفتی رشیداحمدصاحبؒ فرمایی چی :

داټولی میوے اوپاڑی دهم دے جمهوریت دخبیثی ونی پیداوا ردئے ، په اسلام کی ده دے کا فرانه نظا م هیڅ تصورهم نشته ،اونه پدے طریقه سره ترقیامته پوری اسلامی نظام راتلئے شی ، (احسن الفتا وىٰ ج ٦ ص: ٢٦)

7 : ﷲ

حضرت مولانامحمدیوسف لدهیانوی شهیدؒ فرمایی چی :

ده دے ټولواموروا عـتراف دوئ پخپلوزبانوسره کوی ، ده دوئ بیانات اوگورئ اوعمل یه هم ده د ے مـطـا بـق دئـے نـولهـذاشریعت ده دوئ دزړونودڅیرلوحکم نه ورکوی چی زړونیه اوگورئ ، بلکه شر یـعـت ده دو ئ پرظاهری قول اوفعل حکم لگوی نوده دے مذکو ره بالاخبروپربناء ده حکمرا نا نو کفر خو دشك نه و تلـے خبرده ـ

اوپـاتـے شوئـے فوج چی داخوپرقرآن شریعت محمدی ﷺباندی ایمان لری ، نوده دے ایما ندار وخـودی دا حـالت ئـے چی دقوت اوسر کشئ په زورسرده قرآن قانون نافذولوته نه پریژدی اوداله یوه دو ؤ

کلونونه نه بلکه څه د پاسه اویاکلونه اوشو چی دوئ دقرآن دقانون دنفاذوه مخالفت ته کمربسته دی اوس کـه تا سو دیته کفرجحود (دنکارکولووالاکفر) اونه وایئ نوپه کفرعنادکی خویه څه شك نشی کیدئـے ز که چی ده دوئ قول اوفعل پردے خبره دلالت کوی چی دوئ دقرآن اوسنت له آئین سره دشرعی نظام سر ه ، دنـفـا ذشـریـعـت سـره بـغض اوعنادلری اوداکفرعنادی هم " مخرج عن الملة " ګرځی یعنی داانسان د ا سـلام لـه دا ئـرے نـه اوباسی ، زکه چی داسلام له یوه حکم سره بغض اوعنادلرل هغه ناخوښه اوناپسنده ګـنـړل ، اود هـغه په منلوکی بغیرده څه عذرنه ټال متړول کول ، یادهغه حکم مخالفت کول داټولی کفری خبـری دی ، ده اویـاکـلـونـونه یه شریعت محمدی ﷺ ده تنفیذنه بندکړئدئـے که تاسو هر څومره نرم اوهر څـومـره مـصـلـحت پسنداوسیاست پسندشی نوبیاهم ده دوئ د شریعت نه اعراض کول (یعنی دشرعی احکاماتو په نافذولوکی ټال متړول کول) داخوواضحه خبرده ، اوداکارهم دکفراکبریوواضح قسم دئـے ـــ

یوے شتمه (۲۱)شبهه : کوم خلګ چی پدے نظام کی برخمن دی هغوئ خوقرآ ن حق ګنړی

بعض خلګ وایی چی دوئ خوقرآن اواسلام حق دین ګنړی اودحقانیت اقراریه هم کوی نوبیا تا سو څنګه ودے نظام ته کفری وایئ اوپدے کی شرکت ناجائزګنړی !

الجواب :

ګـورئ مـحـض دقرآن دحق په منلوسره سړئـے نه خلاصیږی زکه چی دقرآن دحقانیت اقرار خو یهـودوهـم کولوخوستاسوپه شانتـے دعنادده وجهی نه پرخپل محرف شده دین ولاړؤ، اوخپل منسوخ د یـن یـه نـه پریښوولو ، اوبعینه دغه حا ل زموږپرسرودمسلط شده حکمرانی طبقـے هم دئـے ، داعلم ورته شتـه چـی دقرآن قوانین حق اوسچ دی اوپه زبان سره هم ده دے خبری اعتراف کوی ، بلکه بعض پخپل ذاتی جوندکی پربعضو احکاماتوعمل هم کوی ، خولیکن چی کله دقرآن دقوانین په مقابله کی جمهو ری قـوانـیـن راشـی بیـادقـرآنـی قانون دردکولودپاره دخپل طاقت استعمالول حلال اوقانونی بولی ، دشر یـعـت دحـکـمونودمنلووالاؤسره جنګیدلوته جهادوایی ، دکلمه ګومسلمانانوځانونه مالو نه دخپل ځان دپـاره حـلال ګنړی ، دقرآن دنظام دمطالبـے کؤنکوته باغیان وایی اوپه حقیقت کی پخپله له دین شریعت نه باغیان دی ؟

ده دے طبقـے دحال معلومه ولونه بس تاسوفیصله اوکړئ چی ده دوئ ایمان پرقرآن باندی دئـے اوکیـه پـر خپـل وضعی اواختراعی قانون باندی ایمان راوړئدئ ، چی څوك هم داقانون جوړکړی بس هم

هغه قا نو ن به نافذالعمل وی اوهم هغه به دستوروی اوهم هغه به آئین اوقانون وی ، ده دے وضعی قا نون ده پاره عدالتونه دی ، فوج دئے پولیس دئے ، اودهم دے قانون وه عبادت ته ده را بللوده پاره ذرائع ابلاغ دی . . . . او دهم دے بت خانے طواف کوی ، اودهم دے ده پاره سعی اوکوشش کوی پدے پار لیمنټ اوبت خانه کی چی کوم اله ، معبوداوصنم دئے چی دالله په مقابله کی دهغه عبادت کیژی دهم د ے بت خا نے دمجاورجوړیدلو کو شش کوی۔

نوایے علماء حقه ؤ !

آیاپه شریعت محمدی ﷺ کی ده دے خبری اجازت شته چی یو حکمران دی د قرآن دمنلوسره سره یوبل شریعت اوبل دین هم دځان ده پاره لازمی اوګنړی اګرکه هغه دین دتوریت اوا نجیل ولی نه وی ، یوخواته پرقرآن دایمان درواړلودعو یدارے بل طرف ته دجمهوری دین پرتنفیذباندی هم ضدی یے او د ه دے خبری اظهارهم کوی چے پدے اوسنی دورکی دجمهور ی شریعت نه ماسوابل شریعت قابل عمل ندئے ؟

ده داسی نظریے ده والاڅه حکم دئے ، ده داسی رکن پالیمان ، فوجی ، افسریاجج څه حکم دئے چی څو ك خپل وضعی اوکفری آئین دقرآن ترآئین مقدس ګنړی اوپراسلام باندی تنقیدخپل اساسی فریضه ګنړی اوپردے منصب کیناستل خپل مقصدګنړی۔

دوه ویشتمه (۲۲)شبهه : پر موجوده مقتدر قوتونوکتاسوزیاته حکم اولګوئے نو منافقین به شی اونبی ﷺ خوله منافقینوسره دکفاروپه شانے معامله نده کړے

دمسلمو ممالکودینداره طبقه ده دے مذکوره طبقاتوپه باره کی وایی چی پردے خلګو او طبقا توك ه تا سوزیاته حکم اولګوئ نوبه منافقین شی اوپه دلیل کی دمنافقین مدینه مثال پیشوی اونبی ﷺ هم له منافقینوسره دکافرانوپه رنګه معامله نده کړے نوبیا تاسو څنګه پردے خلګودکفرفتوئ لګوئ اودکا فرانوپه رنګه معامله ورسره کوئ !

الجواب :

نو موژورته وایو چی کتاسودمنافقین مدینه حالات ښه په غورسره مطالعه کړئ نوتاسوبه پخپله دے نتیجے ته اورسیژئ اوپخپله به اقراراوکړئ چی دازموژدعوه باطله ده چی موژداوسنی دورد منکرین شریعت حکمرانان دمدینے له منافقینوسره برابره ؤ ، دمدینے منافقینودقرآن دیوه حکم اویو ے دفعے نه هم علیٰ الاعلان انکارندئ کړئ ، حتیٰ چی له جهادی قافلے نبه پاتے کیدو نو هم بیه بها

نـــے جوړولـــے علیٰ الاعلان یه نشوویلئ چی موژجهادنه کؤ ، اونیه داویلی دی چی موژدمسلح جد جهد دجـوازقائله نه یو، اونیه داویلی چی موژخپلی فیصلـــے دقرآن قانون پرځائـــے په یوبل آئین سره کؤ هایوه بشیرنامی کس لژشانتـــے رجوع اوکړه دمحمدﷺدفیصلـــے نه بیایه څه حشراوکړوفاروق اعظمؓ ـ

اونیـه داویـلـی دی چـی موژدرجم اوسنګساروالاقانون نه منو، اونیـه ده لما نځه متعلق ویلی دی چـی داخـوده هـر لـمـونځ کؤ نکی خپله ذاتی معامله ده چی کده چاخوښه شی نوکوی دے اوکده چانه وی خوښه نو ند ے اداکوی ، اودنن صباحکمرانان اومقتدرقوتونه داتولی خبری علیٰ الاعلان اوبرسرعام کـوی اوصـرف خبـری هـم نـه بـلـکه عمل یه هم ده دے مطابق وی ، اوچی څوك داسی خبری کوی هغه مـنـافـق نـه وی بـلـکـه دشـریـعـت مـنـکروی اوکداباطل نظریا ت له اسلام سره دضدپربنیادپیشوی نوپه شریعت محمدی ﷺکی بیاوداسی خلګوته ملحدین اوزنادقه وایی ـ

درویشتمه (۲۳)شبهه : دقادیانیانوپه تکفیر(اویوم الفتح)سره دلیل نیول

چی کوم خلګ دجمهوریت په ذریعه سره داسلامی نظام دراوستلوعقیده لری دهغوئ یودلیل داهم دئـے چی ده دے جمهوری نظام په برکت سره موژقادیانیان آئینی کافران کړل ، دغه رنګه هغه ورځ هـم نـد ه لیری چی موژبه ده دے لاری په ذریعه سره اسلا می نظام نافذکړواومذهبی سیاسی قوتونه داډ یـره لـو یـه کـارنـامـه ګـنـړی اودځان ده پاره یه دفخرذریعه بولی په جمهوریت اوډیموکرا سی کی دحصے اخستلوده پاره داکارنامه دلیل نیسی ، جوابات !

" **اولاً** " داچی پـدے خبره کی خو هیڅ شك هم نشته چی کو مو حضراتودقادیانیانودتکفیرپه تحریك کی حصه اخستـے ده دهغوئ نیت سوفیصدصحی ؤ، اومقصدیه داؤ چی دافتنه ده بیخ نه ختم شـی ، خـولیکن ده دے نظام چلؤنکومکارانوپدے کی هم علماؤته ده دوکے ورکولوکوشش اوکړ ودقاد یانیا نودبچاؤدپاره یه خپل شیطانی ذهن استعمال کړواوترډیره حده پوری پکی کامیابه هم شو ؟

اوس پـدے سلسله کی داسوال مخی ته راځی چی آیاقادیانی داسلام له رویه کافراصلی دئـے ، کـه مـرتد دئـے اوکه زندیق دئـے ؟ اهل علم ته پته شته چی دادرے واړه اصطلاحات دجد اجدا مفهو ما تـوده پاره استعمالیژی اوحکم یه هم دیوبل نه مخالف دئـے ! نوده دے خبری تفصیل دادئـے چی (۱) کـافـرا صـلی خوندئـے زکه چی ده خواول خپل ځان ته مسلمان ویلو ، (۲) مرتد هم ندئـے اوهغه لدے و جهـی نـه چی هغه خودکفرله ارتکاب نه باوجودخپل ځان کافرنه ګنړلوبلکه دخپلوباطلونظریاتوسره یه ځـانتـه مسـلما ن ویلو ، (۳) نویوزندیق پاتـے شواوداتعریف پرے صحی هم راځی نولهذاقادیانیان دشر

یعت له رویه په زنادقه ؤکی شماردی ؟

اوس بـه مـوژپه اسلام کی دزندیق حکم معلومه ؤچی په شریعت کی دزندیق څه حکم دئـے نو ده ټـو لـو عـلـماؤپـه نـزددزندیق حکم دا دئـے چی که ترګرفتارئ له مخه توبه اوباسی نوتوبه یه قبوله ده حـکـومـت وخـت بیاڅه نشی ورته ویلئـے اوکه یوځل اونیولئـے شو بس بیاکه سل ځله توبه اوباسی هم به نه معاف کیژی بس بیاحکم ده قتل دئـے مرداره وی بـے ـ

خـولیـکـن په پاکستان کی دوئ قادیانیان آئینی کافران کړل اودذمیانوپه شانتـے حیثیت یه ور کـړو د هـغو ئ ځانواومالوتیه تحفظ ورکړوزکه چی دکفرنه پس خودوئ په اقلیت کی شمارشواوداقلیت تحفظ خو دوئ ریاستی اوملکی طورباندی خپله فریضه ګنړی ، نواوس ده نوروعیسائیانواوهندوانوپه شـانتـے دقـادیانیانوتحفظ هم پرریاست باندی فرض شونوداتکفیراوس دوئ ته دفائد ے ذریعه شوه کده نـقصان اوتاوان ذریعه شوه دفائدے ذریعه شوه ، زکه چی شرعی حکم خویه داؤ چی اول بـے دوئ ته ده قا دیـانـی عـقـیـدے نـه ده توبـے ویستلوامرکړئـے ؤکیه توبه ویستـے وئ اوصحی مسلمانان شوی وئ خو فبهاو النعمة اوکیه له قادیانیت نه توبه نه ویستلئ نوبیابـے حکم داؤ چی ټول کلهم اجمعون به یه قتلول ؟ ـ

اوس دوئ هغوئ پرخپله عقیده باندی پریښودل ریاستی اوقانونی تحفظ یه ورله ورکړو نو داګو یـاکـه دقـا دیانیانوپرالحادباندی راضی کیدل شو، اودجماعت په حیثیت سره ریاست ده دوئ پرحفاظت با نـدی مـأ مـورکـول شـو، حـالانـکـه پـردے خبره اجماع ده امة ده چی ده رحمة للعٰلمین ګستاخ به واجب الـقـتـل وی او کـه چاده اسـلامـی ریـاسـت عدالت داجازے نه بغیرقتل اوکړونو هم پردے غازی څه الزام نشتـه دئـے ، اوس تـاسـوښـه پـه یـخ زړه سره سوچ اوکړئ چی دکومی طبقـے په شریعت کی داحکم وی چـی دهـغـوئ مالونه اوځانونه دمسلمانانودپاره مباح دی اوکه چابغیرداسلامی ریاست داجازے نه قتل کړی وئ نوبه هم پرقا تل څه ملامتیانه وه ؟

اواوس ده دوئ ځـانونه اومالونه محترم شواوده دوئ حفاظت ریاست اوملك دځان فریضه ګنړی حالانکه دوئ ترنن تاریخه پرهغه زندیقیت اوالحادباندی قائم دی بلکه اوس خویه نورتقویت اوموندلوپه " چـنـاب نـګرچنیوټ " کی چی په کوم ځائـے کی دختم نبوت مرکزدئـے دحضرت مولانااللّٰه وسا یا صا حب حفظه الله پـه مشـرئ کی په هم هغه اریه اوعلاقه کی لدوئ سره خواکی دقادیانیانو تصرف دئـے خپل اصـل لـوئ مـر کـزیـه دئـے ، خپـل فوج خپل پولیس خپل قانون اودستوریه دئـے ، خپله عدلیه خپل قا ضیـان اوخپل ججان یه دی ، الغرض هرڅه یه پوره دی اوښه په ډاګه علیٰ الاعلان خپل دعوة چلوی نودا

تقویت نه شو نورڅه دی ، عبادت خانے یه ترمخکی نه اوس ډیری شوے نوداوس دوئ له قادیانیانوسره ښه اوکړل او کیه بداوکړل داوس یوم الفتحه شوه اوکه یوم الکثرت شوه یعنی داده ، ۷ ستمبر ۱۹۷۴ء ورځ اوس دقادیانیانوددیروالی ذریعه شوه کده نقصان ذریعه شوه امة مسلمه ته دفتح ذریعه شوه اوکده غم ذریعه جو ړه شوه ـ

مخکی دومره قادیانیان ؤلکه اوس مخکی دومره علیٰ الاعلان ګرځیدئ شولکه اوس مخکی دومره دعودیداران ؤلکه اوس مخکی دومره ګستاخیانی کیدے لکه اوس " نه " اودا تا سو وه داسی جماعت ته تحفظ ورکړوچی په هیڅ حال کی پدے ملك کی ده جوندتیرولو مستحقین نشو کیدئ ، اودا خوترکافراصلی نه هم بدترین دی زکه چی کافراصلی خوذمی په نامه سره په هراسلامی ملك کی او سیدئے شی مګرزندیق اومرتدپه هیڅ حال کی نشی اوسیدئے ، له دے باوجوددوئ ده دے ریاست په اموروکی دخیل دی ـــ اوکه څوك داووایی چی قادیانئ اول مرتدؤاواوس یه اولاده دکافراصلی په حکم کی ده ، نوداخیال هم بالکل غلط دئے قادیانی نه اول مرتدؤاونه اوس ده کافراصلی حکم کی کیدئے شی بلکه دشریعت ده رویه پرون هم زندیق ؤاونن هم زندیق دئے ـ

اوچی کله دمحمدعربی ﷺ نبی السیف اونبی الملاحم ﷺ په محبت اوعشق کی سرشندو نکومجا هدینوپه لاهورکی دقادیانیا نوپرمرکزباندی حمله اوکړه نوبعض احمقانوده دے حملے مذمت اوکړو اوا ویه ویل چی داخوپه آئین کی کافران دی اوس ده ذمی په حکم کی دی بعض خواص خودومره پکی لاړو چی اویه ویل چی دقیامت په ورځ به نبی ﷺ له دوئ سره ولاړوی (العیاذباللّٰه ، نقل کفرکفرنه باشد) ـ

حالانکه ټولوا هل علموته داخبره معلومه ده چی قادیانی زندیق دئے اوزندیق ذمی نشی جوړ یدئے ، لهٰذا چی چا هم پرنبی ﷺ باندی دومره لوئ بهتان اوتړلو چی خاتم النبیین ﷺ بده قیامت په ورځ لدے ملعونی طبقے سره ولاړوی چی چادختم نبوت عقیده ذرے ذرے کړه اوبراه راست دپیغمبراسلام ﷺ ګستاخان اودشمنان دی ، نوده داسی درنے جملے ویونکودپاره پکارده چی توبه اوباسی ورنه احتمال شته چی دقادیانیانوپه محبت کی دهغوئ سره یه حشراوشی ـ ـ !

نوداوس تاسودقادیانیانوپه باره کی کومه توره کړے ده چی پردے خبره دومره غره یئ ـ

" **ثانیاً** " داچی دوئ نن صبادقادیانیانوپه خلاف هاچغی سورے جوړی کړے دی جلسے او جلوسونه کوی دزنده باداومرده بادنعرے دی چی وهی یه کله وایی چی فلانی دنبی ﷺ په شان کی ګستاخی کړے ده کله وایی چی فلانی جماعت دصحابه کرا مؤ په باره کی بدی ردی ویلی دی کله وا

یی چی دقرآن تو هین شوئیدئے کله وایی فلانئ بل پیش شوئیدئے اوفلانئ شئ دآئین حصه وه اوس یه دوئ اوباسی هادعاگانی دی اوطالبان یه له اسباقونه ویستی دی " شیخ الحدیث مولانافضل محمد یو سف زئی صا حب " پخپل (علمی خطبات) کتاب کی یوه ډیره خونده وره خبره کړے ده هغه دا چی لکه څنگه چی دامُسلّمه خبرده چی دهر عمل ده پاره ردعمل وی نو هم دغه شانتے دهرعمل دپاره په وجودکی درا تلو دپاره څه علتونه اووجو هات هم وی اونن صبا خلگوردعمل ته ښه توجه ورکړے ده مگردهغه عمل په وجودکی دراتللووجو هاتوته نه گوری حالانکه اصل څیز خودی وجو ها ت زکه چی هغه وجو هات او علل ختم شی نودهغه عمل به دسره صدوراونه شی اوچی عمل صادره نشی نورد عمل نبه هم سړئے خلاص شی ـ

مثلًا دانن صبا چی زموژپه ملك کی کومی پریشانیانی دی ده دے تو لووجه اوعلت نظام د ئے داتعلق لدے نظام سره لری نوموژله پکارده چی اول ده دے جمهوری نظام دخا تمے کوشش او کړو چی دانظام موختم کړواسلامی نظام راغلوبس داپریشانیانی به پخپله خود بخود ورسره ختم شی زکه چی په اسلامی نظام کی دمدعین ختم نبوت اودگستاخان نامو س رسالت یوساده کامل اواکمل علاج د ئے د قتل نو چی یودرے څلورمدعیان ختم نبوت اوگستاخان ناموس رسالت دا سلام آبا دپه ډی چوك کی رازوړندشی پانسئ شی اوسنگسارشی نودچاپه پلارکی به بیادویم ځل ده د ے کاردارتکاب جرأت پیداشی " کلاوحاشا " ترقیامته به بیاخوك داسی کاراونه کړی ، لکه تاسوراشئ چی دافغانستان تاریخ اوگوروپه ټول افغانستان کی ترنن تار خه صرف دوؤ کسانودنبوت دعوه کړے ده یومخکی د" عبدا لطیف اخوندزاده " په نوم سره یوملاؤ دبادشاه خاص سړئے ؤ دحج په سفر راروان شو ئے ؤ بیاوالله اعلم چی په څه طریقه سرغلام احمدقادیانی ته رارسیدلئے ؤ اوورسره مرتدشوئے ؤبیا قادیانی افغا نستان ته د خلیفه په نامه سره لیژلئے ؤ چی هلته به ځمامشن اوچلوے چی څنگه لاړو او داخبری یه هلته شروع کړے هغوئ ورته اوویل چی داخبری پریژده ویل نه زه نبی یم نو هغوئ په مین چوك کی رازو ړ ند کړو اوسم یه خمیره کړوبیاپه نامه قادیانئ په افغا نستان کی ندئے پیداشوئے ـ

اوس د ۱۴۴۱ه په آخرکی بمطابق ۲۰۲۰ء یوبل خنزیردنبوت دعوه اوکړه لنگئ یه وهلے وه لو یه گیره یه وه قرآن یه په لاس کی ؤ په فارسی ژبه کی یه خبری کولے بیاطالبانوراونیولوپه گټو، کا نړو اوډبرویه اوو یشتلوسنگساریه کړو او س زه ترقیامته چیلنج ورکوم چی یوکس دی صرف دقادیانی نوم په افغا نستا ن کی واخلی چی بیاده ده څه حشرکیژی دنبو ت دعوه خولیاډیره لیری خبرده ، له دوؤ کسا نوسریه دشریعت مطابق معامله اوکړه تر قیامته پوری دامسئله حل شوه ـ ـ یوه سړی ته حدقذف ورکړه

بیادی دئے عام دکچالانو آلوګانو (پټاټو) خرڅولووالاته کنځلی اوکړی صحابی خوپریژده هغوئ ته خو یه پلار هم په کورکی پټ په تلتك کمبله کی څه نشی ویلئے ـ یوه سړی ته حدسرقه ورکړه بیادی تر قیا متـه څـوك غـلااوکـړی ، لـه یـوه سړی نه قصاص واخله بیادی ترقیامته څوك یوعام مسلمان قتل کړی علماء خو یا لو یه خبرده ؟

نـواصـل خبرپه نظام کی ده مولاناعاصم عمرصاحب یوه ډیره ښه خبرلیکلے ده هغه وایی چی په پاکستان کی علماء هم شته ، قاریان اوطلبه هم شته ، صوفیان اوصلحاء هم شته ، تبلیغان هم شته بیا ولـی محاشی عریانی اوز ناکاری دومره عامه ده څومره مدارس دی نوبیایه جواب هم پخپله کوی اووایی چی داخـواصـل کـی نظام دفحاشئ عریانئ اوبے دینئ والانظام دئے نوزکه که دینداری هرڅومره زیاته شـی بیـابـه هـم هـادنظا م اثر خامخاوی لکه چی اوس په افغانستان کی دطالبانو حکومت نشته حدو داو قصاص نشته خوبیابه هم ته په ټول با زارکی دفحا شئ اوعریانئ ځایونه اونه وینے غلابه نه اووینے ـ

دا خـوماپخلوسترګوپه " خا نشین " او " برامچه " کی اولیدل کمومستریانوبه دورځی کوم زاړ ه زاړه مـو ټرسائیـکـلی بهراودرولے وی نودشپے به یه هم نه دننه کول دپرچوم دکانووالابه بهرسامان ده شپـے نـه د نـنـه کـولـودسـروزروګتمئ او ګړ ئ بده عامو خلګوپه لاس وے دچاپلارکی داطاقت نه ؤ چی شـکـولـئـے یـه و ئ زمـوژیـوملـګرئ ؤدکـان بـے کـولـونـویوه ورځ مازدیګرکی چهټی شوه ده دوکان رابـنـدکـړویـوه بـورئ دآ لـو ګـانـواویوغټ دګیس والا سلنډ ریه بهرپریخودو ماو رته ویل چی فلانکی یه داڅیزونه خودننه کړه څوك بیه غلاکړی ده راته اوویل چی داافغانستان دئے څه پا کستان ندئے ـ

" **ثالثاً** " داچی دوئ خوترآئین نه هم وړاندی علماؤکافران کړی ؤ ډیروعلماؤدافتوئ ورکړے وه چـی قـا د یـانیان خارج عن الملة د ی ، لکه چی حضرة العلامة شاه انورشاه کشمیرؒ ی سرفهرست شمارل کیږی ، اود ه دے داسی مثال دئے لکه چی دشیعه ګانوتکفیر اوس لیاډیروعلماؤکړئدئے خصوصاً " اما م اهـل سـنـت والـجـماعة مولاناسرفرازخان صفدرؒ " پخپل مایه نازتصنیف (ارشادالشیعه) کی ددوئ پر تـکـفـیـرښـه مـفـصل بحث کړئدئے ، اوچی کومونوروعلماؤده دوئ په باره کی کتابونه لیکلی دی دهغو کتـا بـونـومـو نـه اود مـصـنـفـیـنـونومونه یه هم ذکرکړیدی خصوصاً د " مجددالف ثانی " (ردروافض) تـألیف شـو ، نـوده د ے تکفیراوس څه فائده شوه چی یوکافرمورابهرکړوده پارلیمنټ نه (قادیانی) اوبل کا فر موورددننه کړو (شیعه) ـ

څلیرویشتمه (۲٤)شبهه : دآئین په بعض اسلامی دفعاتواوشقونو سره دلیل نیول۔

بعض خلک دااعتراض کوی چی باالعموم دمسلم ملکونوپه آئین کی خوبعض دفعات اسلامی وی لکه دپاکستان د ۱۹۵٦ء په آئین کی دوئ تقریباً دیارلس دفعات اسلامی گنړی اوهغه په لا ندی ډول سره دی !

(۱) اللہ کی حاکیت، (۲)مملکت کانام ، یعنی دملك نوم به اسلامی وی لکه چی دوئ اسلامی جمهوریت ورته وایی ، (۳) صدرمملکت کیلئے مسلمان ہونے کی شرط ، خودوزیراعظم دپاره داسلام شرط لازمی ندئے ، (۴) قرآن وسنت کے مطابق قوانین ، (۵)اسلامی اصولوں کی پابندی ، (٦) اسلامی قانون کانفاذ ، (۷) مذہبی آزادی ، هرڅوك که شل ځله داسلام نه مرتدکیژی اوکه دیرش کرته نو هم دته مکمله آزادی حاصله ده ، (۸) زکوٰۃ واوقاف ، (۹) اسلامی اقدار کی حفاظت ، (۱۰) اتحادعالم اسلام ، (۱۱) فلاحی ریاست کا قیام ، (۱۲)اقلیتوں کے حقوق کا تحفظ۔۔

موژاوو یل چی په پاکستان کی چی څومره غیراسلامی خلک اوسیژی لکه یهودیان ، عیسائیان ، قاد یا نیان وغیره دیته دوئ اقلیت وایی اوددا سی خلکوپه باره کی ددوئ داسی قانون دئے چی ، " پاکستان میں اقلیتوں کوآزادانہ طور پراپنے مذہب کے مطابق زندگی بسر کرنے اورانہیں اپنے عقیدے کے مطابق عبادت گاہیں تعمیر کرنے کا اختیار حاصل ہوگا،اقلیتوں کے جائز حقوق اورانکی مذھبی وثقافتی آزادی کا پوراتحفظ کیا جائیگا۔" (۱۳)ادارہ تحقیقات اسلامی کا قیام،

دغه رنگه د ۱۹٦۲ء په آئین کی هم ټول یوولس دفعات دی خودانورهغه دی کوم چی موژ با لا ذکرکړل څلوردفعے پکی زیاتی دی هغه پدے ډول سره دی چی ، (۱)اسلامی اصولوں کی پیروی ، (۲)اسلامی تعلیمات کا اہتمام ، (۳) زکوٰۃ اوقاف اورمساجد ، (۴) اسلامی معاشرتی کونسل ،

دغه شانتے د ۱۹۷۳ء په آئین کی ټول شل دفعات دی خوموژیوولس زائددفعات پکی را اخلو، (۱) سرکاری مذہب ، یعنی دپاکستان سرکاری مذهب به اسلامی وی ، (۲)صدراوروزیراعظم کیلئے مسلمان ہونے کی شرط ، (۳) مسلمان کی تعریف ، (۴) قرآن پاک اوراسلامیات کی لازمی تعلیم، (۵) اسلام معاشرے کا قیام ، (٦) قرآن پاک کی صحیح طباعت ، (۷) عربی زبان کی تعلیم ، (۸) سود کا خاتمہ، (۹)مجلس شوریٰ ، (۱۰)نظریہ پاکستان کا تحفظ ، (۱۱) اسلامی نظریاتی کونسل ، (مطالعہ پاکستان سوالاً وجواباً، بلوچستان یونیورسٹی کے نئے نصاب کے عین مطابق ص:۸۴تا۱)

نورسیاسی علماء هم دغه رنگه خبری کوی چی قادیانی هم پدے آئین کی کافرشو، مدار سو مساجدو اوخانقاګانوته تحفظ حاصل دئے نوپدے دفعاتواودے خبروسره داثابته وی چی دااسلامی آئین دئے زکه لدے ریاست سره وفاکول ده وفاداری حلف اخستل اوددے آئین اطاعت پرموژ هر مسلمان باندی فرض اولازمی دی ، جوابات۔

" **اولاً** " ددے خبری بہ موژاولاًانکاری جواب اوکړویعنی موژدانه منو چی دادفعات اسلامی دی (حضرت مفتی صاحب نوراللہ مرقدہ) ویلی دی چی حضرت تقی عثمانی صاحب حفظہ اللہ پخپل کتاب " اسلام اورسیاست "کی دحکیم الا مة حضرت تهانوی ؒ په حواله سره لیکلی دی چی پدے آئین کی چی کوم اسلامی شقونه داخل دی هغه هم غیراسلامی دی زکه چی ایمان څه ته وایی نودایمان تعریف داسی دئے چی : " هو التصدیق بجمیع ما جاء به النبی ﷺ " چی پیغمبراسلام ﷺ څه هم راوړی دی هغه ټول منل خولدے سره یوبل قید هم شته چی شرح عقائداونوروکتابونو هم لګولیئدئے هغه دا چی " من حیث أنه جاء به من عنداللّٰه " پدے حیثیت سربے منے چی داده اللّٰه ﷻ له طرف نه دی ، اوس که چیرته تادیوفلسفی نه توحیدایزده کړوپه عقلی دلائلوسره نوداتوحیددی معتبرندئے چی ترڅودی دپیغمبر ﷺ په واسطه سره نه وی منلئے ؟

بهرکیف هغه وایی چی داسلامی احکاماتواسلامیت هله دئے چی دقانون اوآئین حصه پدے وجه سره اوګرځی چی بس داده اللّٰه ﷻ حکم اودقرآن فیصله ده ،اوداوسنی چی کوم شقونه آئین ته ورداخل شویدی ددے معیارکتاب اللّٰه سنت رسول اللّٰه ﷺ اواجماع امت ندئے بلکه داپردے بناء ور داخل شویدی چی اوتنګ پرے شوئیدئے دپارلیمنټ داراکینوداکثریت پربنیادورداخل شویدی ، نوزکه که اوس هم اکثریت پردے باندی دوباره سره متفق شی چی دااسلامی دفعات به اوباسونوبیایه ختموئ هم شی ، نوپدے جمهوری نظام کی یوه دفعه هم ترهغه وخته دآئین حصه نشی کیدئے چی ترڅوپوری عقل انسانی (یعنی په پارلیمان کی ناست خلګ اواراکین) هغه دفعے ته قانونی حیثیت ورنه کړی ، اوداخودشك نه خلاصه خبرده چی دالٰهی قانون منظوری ترانسانانوپوری موقوفه کول یعنی دانسانانو محتاجه کول صریح کفردئے ۔

نودادفعات اوشقونه یه پدے وجه دآئین حصه نه دی ګرځولی چی داللّٰه ﷻ حکم دئے زکه چی که یقیناًداسلام پربنیادوی نوبیاخودامملك په ۱۴ ، اګست ۱۹۴۷ء کی د لاأله الااللّٰه پرنامه آزادشوئیدئے بیاله دینه تر ۲۳ ،مارچ ۱۹۵٦ء پوری ده دے ملك خپل آئین اوقانون نه ؤجوړدبرطانیے په آئین سر یه فیصلے کولے چی دوئ " ګورنمنټ ایکټ آف انډیا ،یا، انډیاایکټ "قانون وررته وایی تردے وخته چی کوم ممبرهم اسملئ ته تللئے دئے هغه دحلف نامے دکلماتونه پس داالفاظ ویلی دی چی زه بده بر طانیه دملکی اودهغے دخاندان وفاداره یم ۔

اوس دانه [۹]کاله دبرطانیے آئین ته څه ضرورت ؤخودامملكِ خدادادد" لاأله الااللّٰه " پرنامه آزاد شوئے ؤاود " لاأله الااللّٰه " آئین اوقانون خوڅوارلس سوه کاله مخکی تیاروپروت ؤنوخودااسلامی نظام

به مو نا فذکړئے ؤ اوبیاوایی چی " ۱۹۵۶ء میں پاکستان نے آئینی طور پر! اسلامی ریاست! ہونے کا اعلان کرلیا اوقرار دیا کہ پاکستان میں تمام قوانین اسلامی احکام کے مطابق ہوں گے ۱۹۶۲ء کے آئین میں اس عزم کا اعادہ کیا گیا اور قوانین کو اسلامیانے کیلئے دوادارے اسلامی مشاورتی کونسل اور ادارۃ تحقیقات اسلامی تشکیل دیے گئے ۱۹۷۳ء کے آئین میں مزید اسلامی دفعات کا اضافہ کیا گیا اور ۱۹۷۳ء کے آئین میں ایک آئینی ترمیم کے ذریعے آئین میں ''مسلمان'' کی تعریف بھی داخل کی گئی جس کی رو سے ختم نبوت کے منکرین غیر مسلم قرار پائے، ۱۹۷۷ء کے انقلاب کے بعد بڑے پیمانے پر قوانین میں تبدیلیاں لائی گئیں اور کئی قوانین کو اسلامی شریعت کے سانچے میں ڈھالنے کی کوششیں کی گئیں ، ''(اسلام جمہوریت اور آئین پاکستان)

نوددے دومره ټال متهول ددے دومره لانجوڅه ضرورت دئے چی په فلا نی کال کی موداو کړواوپه فلانی کال کی موداوکړونو معلومه شوه چی صرف دخلګوددوکے دپاره مو دالانجے جوړی کړے دی۔

" **ثانیاً** " داچی پدے نظام کی که هرڅومره دفعات ، شقونه اوقوانین ددے آئین حصه اوګرځی خو بیا به هم فوقیت ده دوئ خپل وضعی اختراعی اوجمهوری آئین ته حاصل وی ددے خبری اعتراف دوئ پخپله کړئدئے اووایی چی " ملک میں نفاذاسلام کے کوششوں میں قراردادپاکستان کوفوقیت حاصل ہے " (مطالعہ پاکستان سوالاً وجواباً: ۹۲)

نو چی قراردادپاکستان ته فوقیت حاصل شوبیاپدے دفعات اواسلامی شقونوسره اسلام ته فائده او شوه اوکه تاوان حالانکه اسلام به همیشه بلنداوبالاوی تنزل اوخکته والئ قطعاً نه منی زکه چی نبی الملاحم ﷺ فرمایی " الاسلام یعلواو لایُعلیٰ علیه "

نو اصل اعتبارغلبے اوفوقیت ته دئے اوهغه جمهوریت ته حاصل دئے زکه چی زموژدفقهی مسئله ده چی " ونحن نقول المغلوب غیرموجودحکماً حتیٰ لایظهر ایُ المغلوب بمقابلة الغالب کمافی الیمین حلف لایشرب لبناً فشرب لبناً مخلوطاً بالماء و الماء غالب علیٰ للبن لایحنث ، ایضاً اعتباراًللغالب "

(هدایة ج ۲ ص: ۳۷۱)

نودے یوڅواسلامی دفعاتوته څه اعتبارنشته دزکه چی اصل اعتبارغلبے اوفوقیت ته دئے اوهغه غلبه ددوئ جمهوری آئین ته حاصله ده لکه د" ممتازقادری " قتل په اسلامی آئین کی نه ؤجائزبلکه دنوبل انعام مستحق ؤاوپه جمهوری قانون کی یه قتل جائزؤ د " آسیے ملعونے " خلاصون په اسلا می آئین کی نه ؤجائزدګستاخ رسول تحفظ په اسلامی قانون کی ندئے جائزاوپه اسلامی جمهوریت کی جائزدئے د " غازی علم الدین شهید " قتل په اسلامی آئین کی نه ؤجائزپه اسلامی جمهوریت کی جائزؤد " غازی فیصل خالد " قیداوبندپه اسلامی آئین کی ندئے جائزاوپه اسلامی

جمهوریت کی جا ئزدئے او " واللّٰه اعلم " چی مخته څه ورسره اوکړی ـ

د " نسیم طاهرگستاخ " قتل دا سلامی آئین له رو یه مأموریه ؤ اوپه جمهوریت کی حرام ؤ، او س داټول څیزونه په اسلام کی نه ؤجا ئز په جمهوریت او ډیموکراسی کی جائزؤنوعمل په کوم نظام په کوم قانون اوپه کوم آئین اوشوحالانکه د ۱۹۶۲ءپه آئین کی دوئ پخپله ویلی دی چی داسلامی اصولوپیروی به کیژی؟ نواصل غلبه اوفوقیت جمهوری آئین ته حاصل دئے دجمهوری آئین په مقابله کی داسلامی آئین هیڅ حیثیت هم نشته " نعوذباللّٰه " افسوس دئے پرخواصو چی دوئ بیاهم دے ملعون قانون اوآئین ته اسلامی وایی ـ

" **ثالثاً** " داچی آیادبعض اسلامی دفعاتوپه وجه سره یونظام اسلامی کیدئے شی آیادڅه کفر اوڅه اسلا م ومجموعے ته اسلام ویل کیدئے شی هرگزنه ، اللّٰه ﷻ داخبره ځائے په ځائے پخپل کلام کی بیان کړے ده چی ، ﴿ أفتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض " ﴾ (البقرة : ۸۵)

" آیاایمان راوړئے تاسوپه بعض کتاب باندی اوکفراختیاره وئ په بعض نورو سره "

دنبی کریمﷺپه دورکی یهودودیوے مسئلے فتویٰ طلب کړه چی ستاپه شریعت کی ددے څه حکم دئے ؟ بیاکه هغه حکم ددوئ دخواهشاتومطابق وئ نوبیایه په هغه حکم سره فیصله کوله او که ددوئ دخواهشاتوپه خلاف وئ بیایه فیصله نه پرے کوله ، ودے کارته اللّٰه ﷻ د ﴿ یحرفون الکلم من بعد مواضعه ﴾ (المائدة : ۴۱) نوم ورکړو !

" دوئ دالـلّٰه احکامات دصحی ځایونونه پربل مخ اړوی " موجوده جمهوری نظام خو هم دیهو دوایجا دد ئے نوزکه ددے یهودی خصلت په دوئ کی په پوره توګه ځائے نیولیئدئے چی داسلام کوم قا نو ن ده دوئ د خواهشاتومطابق وی هغه په انسانانوسره منظوره وی اودخپل وضعی آئین حصه یه ګر ځو ی دازکه چی " اسلام پسندوته " هم ددے کفری نظام اسلامی ثابتولوڅه مصنوعی دلیل پیداشی اودخپلو خواهشاتوبت بیه هم راضی شی ، اوچی کله ده دوئ خواهشات په کوم ځائے کی داللّٰه ﷻ یوآ ئین نه منی هلته بیاصریح کفر، ضد، عناد ، اعراض اوټال متول کوی ـنواللّٰه ﷻ خپلومنونکوته پوره په پوره دمسلمانیدوحکم کوی چی :

﴿ یٰأیهاالذین آمنوا ادخلوافی السلم کافة ﴾ (البقرة :۲۰۸)

اے دایمان والاؤپوراپه پوراپه اسلام کی داخل شئ اودشیطان دطریقے پیروی مه کوئ ـ؟

اوس پدے آیت کی اللّٰه ﷻ مکمل په اسلام کی ده داخلے دلوحکم کوی ، اومخته یه اوفر ما یل چی د شیطان پیروی مه کوئ ددے دامطلب شو چی که په مکمل ډول سره من وعن په اسلام کی دا

خلـه نـه شوئ بلکه څه خبری موداسلام اومنلے اوڅه موپر یښودلے دبل چاغه موڅه راوخستلے نودا دشیطان پیروی ده اوپدے کارسره لتاسونه شیطان راضی کیژی۔

نن صبادمغرب اوکفری ملکونوخواهش هم دادئے چی تاسومسلمانان لمنځونه کوئ ، روژ ے نیسئ ، اوحجونـه کوئ ،مگر تجارت ، عدالت اوپه بین الاقوامی معاملاتوکی زموژجوړکړلئ شو ئ دیـن قـابـل اتباع دئے نوربه زموژدجمهوری دین اتباع کو ئ ، چی څوك داخبره ورسره اومنی نوا مر یکه لـه هغه نه خوشحالیژی ، اوچاچی لدے نوی جمهوری دین نه انکاراوکړواودایه اوویل چی په هرڅه کی بـه صر ف اوصرف دالله ﷻ دیـن چلیژی ، ده الله ﷻ لـه دیـن اونـظـام نه علاوه بل نظام اوآئین نشی نافذ یـدئـے ، بیـا امـریـکه اونورتمام هغه قوتونه چاچی آخرت هیرکړئدئ هغوئ دداسی مؤمنانو مقابلے ته رااوځی ددے خبری دلیل داد ئے چی الله ﷻ فرمایی :

﴿ وأذاذکـر اللّٰهُ وحده اشمأزت قلوب الذین لایؤمنون بالآ خرت واذاذکر الذین من دونه اذاهم یستبشر و ن ﴾ (الزمر :۴۵)

" اوچی کله صرف دالله ﷻ ذکـراوشی (یعنی دهغه په ذات اوصفاتوکی بل څوك شریك نه وی) نو چی پرآخرت باندی ایمان نه لری دهغوئ زړونه ځائے پرځائے اودریژی ، اوکده الله نه ماسواده بل چا ذ کراو شی نوبیاخوشحاله کیژی "

الله ﷻ خپـل پیـغـمبـرهـم ددے خبری نه آګاه کوی چی دایهوداونصاریٰ تاله بعض قوانینونه اونه ګرځوی اوفرمایی چی :

﴿ وأن حکم بینهم بماأنزل اللّٰه ولاتتبع أهواء هم واحذرهم أن یفتنوك عن بعض ماأنزل اللّٰهُ الیك ﴾ (المائدة: ۴۹)

''اے پیـغـمبـر ﷺ تـه ددوئ پـه منځ کی په هغ کتاب سره فیصلے کوه چی کوم کتاب الله ﷻ پرتـاسـو رانازل کړئدئے اوتاسوپه فیصلوکولوکی ددوئ دخواهشاتوپیروی مه کوئ ، ددوئ دطرف نه دد ے خبری نه آګاه اوسه چی چیرته تاسوپه فتنه کی وا نه چوی " یعنی تاسوله بعضو هغو احکا ماتونه اونه ګرځوی چی کوم حکمونه الله ﷻپرتاسورانازل کړیدی۔

پـدے آیـت کـی واضـحـه اشـاره ده چی دکافرانو همیشه داخواهش وی چی په څه طریقه سربه مسـلـمـانـان د قـرآن څـه احکامات پریژد ی اوزموژوضعی اواختراعی آئین به اومنی زکه چی هغوئ ته پتـه ده چـی کـوم مسلمان پرداسی کارکولوباندی راضی شی نوداکا رپه اصل کی دشیطان پیروی ده اوپه فتـنـه کی ځان اخته کول دی ، اوس ګوره چی اکثره حکمونه دقرآن نافذوی خوبعض حکمونه اوقوانین

دکافرا نودخواهش غه هم ورسره ملاؤشی یاپربعض احکاماتوده دوئ په خوښه سره عمل اوشی نولدے نه هم اللّٰه ﷻ خپل خوژپیغمبرﷺ منع کړوچی دابعض احکامات پریښودل دا هم دشیطان پیروی ده ؟ اود ابه موژدرسره اومنو چی ستاسو په آئین کی بعض شقونه اسلامی دی خوداکثره دفعات اوقوانین د چا دی نوپدے نظام کی دکفارودخواهش مطابق قوانین زیات دی غلبه ده دوئ خواهش ته حاصله ده اسلامی قوانین لژ دی اومغلوبه دی ، په اسلام کی خواصل حدود ، قصاصات اوتعزیرات دی ، دهغوئ نوم هم نشئ اخستئ مساجد ، مدارس ، دجمعے اوعیدینولمنځونه ، دمیلادالنبی ﷺ پروګرامونه داخوپه مغرب او نوروکفری ملکونوکی هم برسرعام اداکیژی ۔

ددے آیت په تفسیرکی علامه ابن کثیرؒ فرمایی چی :

" پدے آیت مبارکه کی اللّٰه ﷻ پرداسی سړی رداوکړوچی څوك داللّٰه ﷻ احکامات پریژدی چی په هغوئ کی له خیرنه ماسوانور څه نشته ، اوداسی قانون اختیاره کړی چی هغه دخلګو پر خواهشاتومبنی وی ، اوهغو (قانونی) اصطلاحاتوته لاړشی چی هغه اصطلاحات خلګوبغیرده څه شرعی دلیل نه جوړکړی وی ..... چاچی داسی اوکړوداکس کافردئے اوقتال ورسره واجب دئے او ترهغه وخته به ورسره جنګیژے چی ترڅوداللّٰه ﷻ اودهغه درسولﷺ دقانون طرف ته نه وی راواپس شوی ، نودقرآنی قانون نه علاوه په بل قانون سربه فیصله نه کیژی بیابرابره خبرده که وړه مسئله وی او که لویه ، (تفسیر ابن کثیر: الجزء ۲)

ابن جوزیؒ په زادالمسیرکی ددے جملے " بعض ماأنزل اللّٰه الیك " په تشریح کی دوه قول ذکرکړیدی :

یوداچی لدے نه مرادرجم دئے داقول دابن عباسؓ دئے ؟ دویم داچی لدینه مراددقصاص کیفیت دئے او داقول دامام مقاتلؒ دئے ،

په مروجه اسلامی جمهوریت کی ددے دواړومرادونوفقدان دئے ۔

ددے دواړوآیتونوپه شاننزول کی امام المفسرین ابن جریرطبریؒ او حافظ ابن کثیرؒ فرمایی چی :

بعض دیهودوسرداران ، مشران اوعلماء سره جمع شواومشوره یه اوکړه چی راشئ محمدﷺ د خپل دین په باره کی په فتنه کی وا چؤ، نوراغلواونبی ﷺ تیه اوویل چی اے محمد ﷺ تاته معلومه ده چی موژدیهودومذهبی مشران اوپیشوایان یوکه موژپرتا ایمان راوړونوزموژپه وجه سربه ټول یهودیان ایمان راوړی ، خوته صرف دومره اوکړه چی زموژله خپل قوم سره جګړه راغلے ده موژتاسو خپل فیصل جوړؤته به فیصله زموژپه حق کی کوے نبی ﷺ لدے خبری نه انکاراوکړو۔

پدے واقعه کی پرهغوخلگورددئے چی ځوك پدے جمهوری اوکفری نظام کی دسیاست په نا مه سره لد ے وجهی شامل دی چی موژپدے ذریعه سر ه داسلام خدمت کؤ ، نبی ﷺ خومحض په یوه معامله کی دشریعت خلاف فیصلے نه انکاراوکړو حالا نکه پدے کی دټول یهودقوم په اسلام کی ده دا خلے دلوپه رنگه لوئ مصلحت ، حکمت اوسیاست ؤ ، نو چی نبی ﷺده دومره لوئ مصلحت باوجو دد خلاف شرع یوے فیصلے ته نشوتیارنودے اوسنی سیاسیانولره به داخنگه جائزوی چی سل کاله دو همی او فرضی مصالحوپه خاطرده دے کفری نظام حصه گرځی دلیدی ، نوداسلام دخدمت په نامه سر پدے جمهوریت کی شامل خلگودپاره داضروری ده که واقعتاًدوئ دنبی ﷺوارثان دی نوبیادی دپیغمبر اسلام ﷺاتباع اوکړی ددے جمهوری کفر نه دی انکاراوکړی اوده دے په خاطردی خپل ټول مصلحتو نه قربان کړی ۔

علامه آلوسیؒ ده دے آیت په تفسیرکی فرمایی ؛

" اوتاسو هوشیاره اوسئ چی داخلگ مودالله ﷻ درانازل کرده آئین نه لژشانتے هم اونه گر ځوی دبا طل دحق په شکل کی دپیشولو په ذریعه سره " نن صباځومره خلگودحق په شکل کی دباطل اتباع کړے ده اوجمهوریت یده خپلوزلفواسیرجوړکړئد ئے ، داخبره هم یادساتل پکارده چی بعض خبری دقر آ ن اواحادیثو منل اوبعض دکافرانودغیرالله دقانون منل داڅه معمولی شا نتے خبره نده بلکه قرآن مجیدداسی کاردارتدادکیدلووړگرځولئ دئے الله ﷻفرمایی چی :

﴿ أن الذین ارتدوعلیٰ ادبارهم من بعدماتبین لهم الهدیٰ الشطان سوَّل لهم و املیٰ لهم ، ذٰلك بأنهم قالوا للذین کر هوامانزل الله سنطیعکم فی بعض الامروالله یعلم اسرارهم ﴾ (محمد : ٢٦)

" اوبے شکه هغه خلگ چی اوگرځیدل پرشاگانوخپلو، وروسته لدے نه چی ښکاره شوه دوئ ته لاره د هدایت شیطان داکارښائسته کړئدئے دوئ لره اومهلت یه ورکړودوئ ته ، اوداپه دے وجه سره چی دوئ به ویل هغوکسانوته چاچی ناخوښه کړی ؤ هغه څه کو م چی موژرانازل کړی ؤ ، چی ډیرزربه موژپه ځینوکارونوکی ستاسواطاعت اوپیروی اوکړو ، اوالله ﷻ پو هیژی ددوئ په پټوکارونو باندی "

لدے آیت کریمه نه صفاصفامعلومیژی چی په بعض خبروکی دکفاروپیروی کول داپه بعض اوقاتوکی دمرتدکیدوسبب هم جوړیژ ی ،

علامه قرطبیؒ ددے آیت په تفسیرکی فرمایی چی ؛

" اودالدے وجهی نه چی دوئ کافرانوته اوویل چی موژبه په بعض خبروکی ستاسوپیروی کؤ ، مثلاًد نبی ﷺ مخالفت کول ، اوددوئ پردشمنی ثابت قدم اوسیدل ، له نبی ﷺ سره شرکت کول بیاله

جهادنه کیناستل ، اودنبی ﷺ منصوبه اوتدبیرپه پټه طریقه سره کمزورے کول ، دوئ خوداخبری خفیه کړے وے لیکن اللّٰه ﷻ خپل نازنین پیغمبرلدے تدبیرونونه خبرکړو۔

امام ابن جریرطبریؒ اونورواکثرومفسرینود " مانزل اللّٰه " تفسیرپه قتال سره کړئدئے ، یعنی د اللّٰه ﷻ نازل کرده کوم حکم چی دوئ ناخوښ کړی ؤ هغه حکم دقتال دئے ، ؟

اوس تاسوغوراوکړئ ! چی نن صباپه عالمی جمهوری نظام کی شامل ممالکو او حکمرا نا نو د جهاداوقتال په پریخودلوکی دکافرانو دخبرودمنلودپاره باقاعده معاهده ورسره کړے ده اوکنه، اوداقوام متحدے پر پلیټ فارم یده جهادپرمنسوخ والی باقاعده دسخطونه کړی دی ، له دے باوجودهم ده دوئ پر ایمانونو با ندی څه فرق نه راځی اوداحکمرانان اوس هم دمسلمانانوامامان ګنړی ؟

علامه جلال الدین سیوطیؒ په تفسیرجلالین کی اوقاضی ثناء اللّٰه پانی پتیؒ په تفسیرمظهری کی وایی چی :

سنطیعکم فی بعض الامر أمر المعاونة علیٰ عداوة النبی ﷺ وتثبیط الناس عن الجهادمعه ،

دامنافقین پدے وجه سره ګمراهان دی چی دوئ مشرکانوته ویلی ؤ چی موژبه په بعض خبرو کی ستاسو منویعنی له محمدﷺسرپه دشمنی کی لتاسوسره په تعاؤن اومددکی اوخلګ به له محمد ﷺسره په جهادکی دتلونه په منع کولواوکینولوکی ستاسوخبره منو ، قرآن کریم پدے بل آیت کی د داسی خلګوانجام بیانوی چی :

﴿ فکیف أذاتوفت هم الملائکةُ یضربون وجوههم وادبارهم ﴾

هغه وخت به پردے خلګوباندی څه تیریژی چی کله فرشتے ددوئ روحونه قبض کوی دوئ به پر مخونواوشاګانووهی ، چی څوك دکفربعض قوانین اومنی دهغودانجام دئے نوچی څوك مکمل دکفرپه قانون کی وردننه شی دهغه به څه انجام وی ۔

" **ثالثاً** " داچی " لاردمیکالی " یوه قاعده جوړه کړے ده هغه داچی " الغایة تُبررالوسیلة " مقصد او هدف جائزکوی وسیلے لره یعنی که هرڅومره غلطه ګنده اوناجائزه لاروی خوچی ته خپل منزل مقصودته پرے رسیدئے شی بس هغه لاره اوهغه کارستاد پاره جائزدئے ، اوس پدے بعض اسلا می دفعا تواو کا رونوسره ددوئ کفری نظام ته نفع رسیژی اوپدے سره ده دوئ نظام دکامیابئ طرف ته روان دئے زکه چی عوام خوپریژده بعض ناواقفه خواص هم پدے سره دوکه شویدی چی اوګوره پدے نظام کی خو دا بعض دفعات اویادابعض کارونه اسلامی دی نوکداکفری نظام وئے بیابے دااسلامی دفعات اوشقونه دخپل آئین حصه نه جوړول ، اوهم داوجه ده چی دریډیوګانوچی هرچینل وی اوهره راډ

یو چی وی مثلاً ډیوه راډیو، مشعل راډیو، خیبرپختونخوارادیو ، دامیدرنړا ، وغیره وغیره ، داتولی راډ یوګانی دزوال ایمان دپاره دنفاذشریعت دفقدان اوجمهوری نظام دبقاء دپاره کارکوی ؟

خولدے باوجودتلاوت کلام پاك بمع ترجمه پکی شته ، دقاریانوقرءت ورکوی ، چی دلمانځه وخت شی نودهرهرځائے دجامع مسجددښه خکلی آوازدمؤذنانوآذان ورکوی ، دحرمینو شریفینواو دنبی ﷺدمکی زندگی اودمکی اوصافوپه باره کی چی کوم نعتونه دی هغه هم پکی شته ، چی کوم لدوئ سره جوړعلماء دی له هغوئ نه دمسائلوتپوسونه کیژی ، سحرکی ترجمه ورکوی ، اوس داخیزونه ددوئ خو ښ نه دی خولیکن پدے سره ددوئ نظام ته عروج اوتقویت ملاویژی اوخصوصاً دینداره طبقه دوئ پدے ځیزونوسره ډیره ښه مطمئنه کړے ده ، اوپه هم دے سره یه ددوئ له ذهنو دنفا ذشریعت جذبه ویستے اوختمه کړے ده پرخپل کفری نظام یه ښه خوشاله پاتے کړیدی ـ

بل دامذهبی آزادی ، دمدار سواومساجدوآزادی داخوپه کفری ملکونوکی هم شته مثلاًپه انګلیندکی د مسلما نیدوباقاعده دسخط درنه غواړی اوپه آئین کی دی مسلمان لیکی نوپر لما نځه ، روژے اودحج په ادا کو لوکی څه پا بند ی نشته چی صرف ددوئ ترقانون لاندی اوسیدے بس نوره مکمله آزادی درته حاصله ده ، نوپدے مروجه اسلامی جمهوریت کی خو هم دغه آزادیانی د ی نورپکی څه دی موژاوویل چی په اسلا می نظام کی خواصل حدودقصاص اوتعزیرات دی هغه نشته بیاده دے اسلامی جمهوریت اواسلامی دفعاتوڅه فائده شوه لهذاکه چیرته دیوملك آئین نهه نوی (۹۹) فیصده اسلامی وی اوصرف یو شق اویوه دفعه پکی غیراسلامی وی چی هغه شق باقاعده دآئین حصه وی نو هم شریعت مطهره ددا سی شرك قبلولوته تیارندئے ، لهذاودے آئین تبه اسلامی نه ویل کیژی بلکه کفری آئین به ورته ویل کیژی ، نوکه یو مسلمان دانظام دځان دپاره نظام حیات یاپردے باندی عمل کول لازمی اوګنړی نودا کار دحضرت محمدﷺدراوړی دین له پریخودلوسره برابردئے ، زکه چی دئے یوه داسی خبره پرخلګو باند ی لازمه وی چی هغه اللهﷻ لازمه کړے نه ده ـ

" **رابعاً** " خلاصه دکلام داشوه چی دپاکستان په آئین کی دقادیانیانوتکفیر (کافران کیدل) پدے وجه سره ندئے شوئ چی دوئ دنبوت دعوه اوکړه بس ددے کارپه ارتکاب سره سړئے داسلام له رویه کا فرکیژی اودپاکستان آئین اسلامی آئین دئے نوپدے وجه قادیانیان هم کافران دی ، بلکه د قادیانیانو تکفیرپه اکثریت سره شوئیدئ دپارلیمنټ اکثریت ددوئ پرتکفیرباندی دسخطونه اوکړل پدے وجه دپاکستان په آئین کی کافران شو، بهرکیف دقادیانیانوپه تکفیرکی دوئ داسلامی خیال ندئے سا تلئے اونیه پدے وجه سره قادیانیان کافران کړوچی دپاکستان د ۱۹۷۳ء آئین اسلامی دئے کده آئین د

اسلامی والی خبره شی نوبیاخوشیعه ګان هم کافران دی هغه یه ولی مسلمانان پرے یخی دی پکارد چی دهغوئ تکفیرهم اوشی ـ

اهل تشیع دشریعت په عدالت کی

پدے باره کی د " سنی مؤقف " په نامه سره دسپاه صحابه ده قائدینودطرف نه دسابق چیف جسټس سیدسجادعلی په حکم سره سپریم کورټ آف پاکستان ته چی کوم سنی موقف پیش شوئو د ئے اوپد ے کی داهل سنت والجماعت قائدینو څلورساعته (ګهنټے) خپل مؤقف ښه په مدللانه انداز کی پیش کړئ ؤاوشیعه ګانو هم خپل مؤقف پیش کړئو ـ

دشیعه ګانوکلمه ، آذان اوپه قرآن کی تحریفات !

پدے کتاب کی یه باحواله لیکلیدی چی دشیعه ګانوکلمه هم داسلام دکلمے نه ځا نګړ ئے حیثیت لری مثلًا ، ۱ : ـ لااله الاالله محمدرسول الله علیٌّ ولی الله وصی رسول الله وخلیفة بلا فصل ، ("ادیان عالم اورفرقہ ہائے اسلام کا تقابلی مطالعہ" ازسیدعلی حیدرنقوی)

په ایران کی دکلمه اسلام په تبدیلی کی دڅلورم جزء اضافه کړے ده پدے شان چی :

۲ : ـ لااله الاالله محمدرسول الله علیٌّ ولی الله خمینی حجة الله ،(" ماہنامہ وحدت اسلامی تہران جون۱۹۸۴ء بحوالہ خمینی ازم اوراسلام ص:۴) ۳ : ـ لااله الاالله الامام الخمینی ،

په شهادتینوکی یه هم داسی تبدیلی کړے ده چی : اشهدان لااله الا الله واشهدان محمدرسول الله وعلی ولی الله واشهدان خمینی روح الله حجة الله علیٰ خلقه ،

ارکان اسلام اوشیعیت : عن ابی جعفرؑ قال :بنی الاسلام علیٰ خمس : علی الصلوٰة والزکاة والصوم والحج والولایة ، ولم ینادبشئ کمانودی بالولایة ، (اصول کافی ص:۲۹ج۳/)

اذان اسلام اوشیعیت : اشهدان علیّاولی الله وصی رسول الله وخلیفة بلافصل ،

پدے کتاب کی یه ده باقرمجلسی دکتاب " تذکرة أئمة ص: ۱۹/ ۲۰) په حواله سره هغه آ یتونه هم را نقل کړیدی چی په هغو آیتونوکی شیعه ګانودخپل ځان دطرف نه اضافه کړے ده اوداختصارپربناء پر اضافه شده ځایونوموڅرخی راکاګلے دی :

(۱)" یاایهاالرسول بلغ ماانزل الیك من ربك فی شان علی وان لم تفعل فمابلغت رسلته والله یعصمك من الناس " (المائده : ٦٧)

(۲)" انماانت منذرلعبادوعلی ای منقلب ینقلبون " (الرعد : ۷)

(۳)" وسیعلم الذین ظلموا آل محمد ای منقلب ینقلبون " (الرعد : ۷)

(۴)" ام یحسدون الناس علیٰ مااتهم اللّٰه من فضل فقط اتینا آل ابراهیم و آل محمد الکتاب والحکمة واتیتهم ملکاً عظاماً " (النساء : ۵۴)

(۵)" وقفوهم انهم مسئولون فی ولایة علی ابن ابی طالب مالکم لاتناصرون " (الصافات : ۲۴)

(٦)" فانااذهبن بك فانامنهم منتقمون بعلی بن ابی طالب " (الاحزاب : ۴۱)

(۷)" وکفیٰ اللّٰه المؤمنین القتال بعلی بن ابی طالب وکان اللّٰه قویاعزیزا " (الرعد : ۷)

(۸)" الحمدللّٰه رب العٰلمین الرحمٰن الرحیم مالك یوم الدین هناك نعبدوهاك نسعان نوشدلسبیل المستقیم لسبیل الذین انعمت علیهم سوی المغضوب علیهم ولاالضالین " (الرعد : ۷)

په فتاویٰ شیخ الاسلام کی له حسین احمدمدنیؒ نه چاتپوس کړئدئے چی آیاشیعه ګان کا فرا ن دی " کیا شیعہ کافر ہیں "جـــواب : یقیناً قرآن میں تحریف کے ماننے والے، اللہ کے علم یا جزئیات کا انکار کرنے والے، بدا کے قائل ہونے والے کافر ہیں، علیٰ ہٰذا القیاس حضرت صدیقہؓ پر تہمت رکھنے والے وغیرہ وغیرہ ' (مکتوبات ۱/۲۸۰/۲۸۱، فتاویٰ ص؛۲۵۱) "

" الرافضی اذاکان یسب الشیخین ویلعنهماوالعیاذباللّٰه فهوکافر۔ ولوقذف عائشة بالزنا کفرباللّٰه ویجب اکفارالروافض فی قولهم برجعة الاموات الیٰ الدنیاوبتناسخ الارواح وبانتقال روح الالٰه الیٰ الائمة وبقولهم فی خروج امام باطن وبتعطیلهم الامروالنهی الیٰ ان یخرج الامام الباطن وبقولهم ان جبرئیل غلط فی الوحی الی محمدؐ دون علیٰ ابن ابی طالب وهؤلآء القوم خارجون عن ملة الاسلام واحکامهم احکام المرتدین کذافی الظهیریة " (عالمگیری ۲ / ۲٦۴)

پنځویشتم(۲۵)شبهه : د تیرواکابرینومثلاً دمفتی محمودؒ په شرکت سره دلیل نیول۔

بل اعتراض دوئ داکوی چی که جمهوریت کفری نظام شی نوپدے نظام کی خوز موژ ډیروا کابرینو حصه اخستے ده خصوصاًلکه حضرت مولانامفتی محمودؒ دغلام غوث هزارویؒ په شانتے اسلافو پدے نظام کی شرکت کړئدئے اواوس تاسویو ځوجذباتی نوجوانان رااوچت شوئ یئ ده دے اسلا فو د نقش قدم مخالفت کوئ دے طریقے ته کفروایئ اوپدے نظام کی شرکت ناجائزبولئ نواوس دمفتی صاحب په رنګه علماؤباندی تاسو څه حکم لګوئ دکفرحکم خو هم نشئ پرے لګوئ چی هغو ئ ده د ے نظام په شرکت سره ندی کافران نوموژهم دهغوئ پرلاره روان یو،! ده دے سوال مولاناعاصم عمر صا حب دوه جوابونه کړی دی زکه زه هم دهغه الفاظ خپلی مورنئ ژبی ته رااړه وم ؟

" **اولاً** " داچی دجمهوریت اسلامی یاغیراسلامی والابحث داڅه نوے خبره نده بلکه ده دے

له شروع سره علماء امت پدے باره کی تحریرونه شروع کړلو، البته پدے بحث کی زموژپه دورکی تیزی راغله او ده جمهوریت په باره کی په فکرونو اوخیالاتو کی پخپل مینځ کی متصادم رایی والافریق زمو ژ مخی ته راغلئ دئے ، یوه ډله جمهوریت ته دشریعت مطهره په رڼاکی کفروایی اوپه جمهوری عمل کی شرکت جائزنه ګنړی اوپه بله ډله کی بیابعض خلګ پدے کی څه جزئی ترمیمات اوکړی اوده دے نظام ده اسلا می ثابته ولوکوشش کوی اوبعض خولیاپکی وایی چی دنیاته دجمهوریت تعیلم ورکړئے اسلام دئے او مغرب والاؤدجمهوریت سبق له مسلمانانوایزده کړئدئے ؟

بهرکیف دادویمه ډله دانظریه لری چی په اوسنی دورکی داسلامی انقلاب ده راوستلواو دمحمدﷺده شریعت دنا فذ ولو جد جهد هم صرف دجمهوریت په ذریعه سره کول صحی لاره ده ـ

دیو طالب علم ده پاره پدے اختلاف کی رایه ورکول یادافیصله کول ډیره ګرانه ده چی کوم حق دئے او کوم باطل دئے ؟ دچا نظریی اسلامی دی اودچاغه غیراسلامی دی ؟ اودامشکل خو هله نو رز یا ت شی چی دا هم اووینی چی کوم خلګ دے نظام ته کفروایی ده هغوئ سره ده دومره مقام والاعلماء مو جوددی چی صرف علمی ا ستعداد هم نه بلکه دتقویٰ اودیانت دارئ پراعلیٰ مرتبوباندی فائزدی ، اوده د ے په مقابله کی چی کوم خلګ وه دے نظام ته اسلامی وایی اوپدے کی شرکت ضروری ګنړی په هغوئ کی هم داسی افرادشته چی تراولی ډلی کم نه دی اوداسی اهل علم پکی شته چی دهغوئ د علمی مقام اودیانت ټول قائله دی ـ

چی په کوم بحث کی له چاسره دلائل ډیروی ، یادشریعت په رڼاکی چی دکوم فریق خبره حقه اوسچه وی ، دایوتاریخی حقیقت دئے چی انسان په فیصله کولوکی ترهغودلائلونه زیات چی کمه خبره ته زیا ته اهمیت ورکوی هغه داده چی د " قوم مشران ،نقباء اوکبراء " کوم طرف ته دی حتیٰ چی دانبیاؤپه شا نتے شخصیات هم لدے مشکلی مرحلے سره مخامخ شوی دی حالانکه که دلائلوته اوګو رے نوبیا خوده انبیاؤپه حقانیت کی څه شك نشته دئے چی پرانبیاؤبه براه راست وحی رانازلے دلے ؟

نوپدے کی هیڅ شك نشته چی کله هم انسان ته یودعوت وړاندی شی بیادهغه دعوت په قبلولواونه قبلولویعنی ردکولوکی دئے خپلومشرانوته ګوری ، که مشرانو هغه دعوت قبول کړئ ؤنو قوم یه هم قبلوی اوکه مشرانوردکړئ ؤبیا داعیانوته په ابتداء کی ډیرمشکلات وی ، اوپدے باره کی چی داعیا نو ته کوم اعتراض باربارورڼاندی کیژی هغه داوی چی آیاته ډیرښه پو هیژ ے اوکه زموژمشر ا ن ډیرښه پو هیدل ؟ که چیرته داستاپروګرام اوستاخبره حقه وی نوبیابه زموژمشرانو هم اختیارکړے وه ؟

لیکن موژداوایو چی آیاد " یوقوم مشران " همیشه پرحقه وی ؟ آیا " ځوانان " همیشه پرباطله اوغلطه وی اوآیادځوانانو طریقه کارکله هم نشی صحی کیدئے ؟ آیاپه شریعت مطهره کی دامعیاردئ چی کله هم دمشرانواوکشرانو آراء (یعنی رایی) سره مختلفی شی بیابه اعتباراوقابل عمل دمشرا نو را یه وی ؟ اوآیاحقه خبربه هم پدے وجه سره ردکول کیژی چی دمعاشرے ده مشهور واو نا موروکسانو پرژبه نده جاری سوے ؟ آیادغه رنګه اعتراضات دحق نه منونکومخکی ندی کړی ؟

دخاتم النبیین حضرت محمدمصطفیٰ ﷺدشمنانوبه هم دغه رنګه اعتراضات کول قرآن ګواه دئے چی :

﴿ وقالوا لولانزل هٰذاالقرآن علیٰ رجل من القریتین عظیم ﴾ (الزخرف : ۳۱)

" دوئ به ویل چی داقرآن په دوؤبستیو (مکه اوطائف) کی پریوه غټ شخصیت باندی ولی نشورانازل " اللّٰه په دوؤمختصروالفاظوکی جواب ورله ورکړوچی : ﴿ أهم یقسمون رحمة ربك .. ﴾ (الزخرف : ۳۲)

" آیاستادرب ده رحمت تقسیم هم داکفران پخپله کوی "

چی دافیصله اوکړی چی داللّٰه ﷻ رحمت دی چاته ورکولئے شی ؟ داللّٰه ﷻ درحمت مستحق څوك دئے ؟ آیاده دے رحمت حقداره به هغه وی چی دوئ یه لوئ اوګنړی اوکه به هغه وی چی اللّٰه ﷻ دهغه دلوئ والی فیصله کړے وی ؟ ده دوئ په نظرکی خود لوئ والی معیاردنیاده دهغه شهرت ، زیب ز ینت لوئ لوئ القابات دتی وی اواخبارونوپه سرخی کی په نظرراځی ... نواللّٰه ﷻدنیاپداسی خلګوکی تقسیم کړے ده خولیکن رحمت یه ترټولولوئ دئے اوچی چاته اوغواړی دخپل دے رحمت مستحق یه جوړکړی ـ

هم دغه شانتے کده انبیاء کرامو ده دعوت تاریخ موژلژاوګورونوبیابه ده دے اعتراض په حیقیقت کی څه وزن پاتے نشی ، زکه چی څومره انبیاء راغلی دی اودخپل دعوت آغازیه کړئدئے نو ترټولونه وړا ندی یه دقوم " مشرانو " مخالفت کړئدئے ، زکه چی انبیاء خوبه ده دوئ په نظرکی کم عمرولو ـ دانبیاؤپه مخالفت کی به دقوم مشهوره اومعروفه معتبرافرادوړاندی وړاندی کیدلو ، د پیسے ، شهرت ، ذهانت او حلقه احبابوپه اعتبارسربه دانبیاؤمخالفینوته ډیرلوئ مقام حاصل ؤ خوچی دا بنیا ؤدعوت به ترټو لو نه وړ اندی چاقبول کړو نودے مشرانوبه دهغوئ په باره کی ویل : ﴿ مانراك اتبعك ألا الذین أراذلنا ﴾ (هود : ۲۷)

" اوموژخوستامنونکی صرف هغه کسان وینو چی ترموژواړه (اودکم حیثیت والادی) ..." او

کـلـه به د ے مشرانودنبی ﷺ اصحا بوته بے وقوفان ویل : ﴿ قـالوا أنؤمن کما آمن السفهاء ﴾ (البقرة :۱۳) " آیا مو ژبه ده دے بیوقوفانوپه رنګه ایمان راوړو "

حـضـرت ابـرهیـمؑ چـی کـله بتان مات کړل نوپه هغه وخت کی دده عمردابن کثیرپه روایت سره شپـارس (۱٦) کـالـه ؤ چی اللّٰه دهغه نظام کفرپرده باندی واضح کړئ ؤ ، اوس تاسوغوراوکړئ چی ! یو طـرف تـه نو جوان دئے (چی مشرانوبه جذباتی هم ورته ویلی وی) اوبل طرف ته ده قوم ذهین ، فطین ، جهـاندیده ، اوتجربه کاره مشران ؤ ، خولیکن اوس په چاکی داجرئت شته چی خلیل اللّٰه ته جذباتی ځوا ن اووایی او دهغه طریقه کارغلطه اوګنړی اودقوم مشران په حقه اوګنړی ؟

امام ابن کثیرؒ پخپل تفسیرکی دعبداللّٰه ابن عباسؓ روایت رانقل کړیدئے چی :

" اللّٰه ﷻ هـرنبی ده ځوانئ په حالت کی رالیژلئ دئے ، اوکوم عالم ته چی یه علم ورکړیدئے نو په ځوانی کی یه ورکړیدئے "

کـه مـوژدنبـی ﷺ دسیرت مطالعه اوکړونو موژتبه معلومه شی چی نبی ﷺ خپلوصحابه ؤته ځـه هـم ور خـودلی دی هغه هم دا دی چی دحق اودباطل ده پیژندلو معیارصرف په عمرکی غټوالئ اوور کـوټ وا لـئـے ند ئے بلکه معیارحق دنبی ﷺ شریعت دئے ـ لهٰذادا هل سنت والجماعت په نزدصحابه کـرامؓ مـعـیـارحـق دی ، بـاوجـودلدے نه چی بعض په عمرکی لوئ ؤاوبعض کم عمره ؤ ، ده دے وجه هم هغه حق دئے کوم چی نبی ﷺ دوئ ته خودلی ؤاوپه دوئ ټولوکی مشترك ؤ ـ

دصحابه کرامؓ سیرت مطالعه کړئ نوتاسوبه اووینئ چی څومره کم عمره صحابه داسی ؤ چی اللّٰه ﷻ د عـلـم په دولت سره مشرفه کړی ؤ اوداختلاف په صورت کی به دلوئ عمروالاصحابه ؤلدوئ نه تبوس کو لو ـ

پـه حـنفی مسلك کی څومره مسئلے داسی دی چی په هغوئ کی داستاذ (امام ابوحنیفهؒ) په مـقابله کی دشاګردانو (امام ابویو سف اوامام محمدؒ) په قول سره عمل شوئدئے ، هم دامعامله په ټو لو مـذاهبوکی ده ، نبی السیف ﷺ ده حضرت ابوبکرصدیق اوعمرفاروقؓ په موجودګی کی اسامه ابن زیدؓ دجـنـګ امیـرنـکړومقرره شیخین په رنګه شخصیات ده هغه ترقمنده لاندی جنګیدل دحدیث الفاظ دا سی دی چی ، " عـن ابن عمرؓ قال ، امررسول اللّٰه ﷺ اسامة (ابن زید) علیٰ قوم فطعنوافی امارته فقالؐ ان طعنوافی امـار تـه فـقـدطعنتم فی امارة أبیه قبله وأیم اللّٰه لقدکان خلیقاًللأمارة وان کان من احبَّ الناس الیَّ وأَنَّ هٰذالمِنْ احب الناس الیَّ بعده " (صحیح البخاری ، المجلدالثانی ، باب غزوة باب زیدبن حارثة) ـ

نـوداخـومـره ده ظلم خبرده چی نن صباموژحق پیژنو هم بیایه صرف ده دے وجهی نه ردکؤاونه

یه منو چی زموژمشران دهغه حق سره نه دی ، آیاداللّٰه ﷻ درحمت تقسیم انسانانوپخپل لاس کی اخستئے دئ ؟ آیادقیامت په ورځ به داخلک درب لم یزل په وړا ندی څه دلیل پیش کړی اوکه به محض ده مشرا نوپرپله تګ په ښه وراسی ؟

نوځه له ټولوقارئینونه ډیرپه ادب سره دادرخواست کوم چی ده یوخودقیقودپاره خپل سرونه ګر یوانو نوته خکته کړئ اوخپل مشر ان قائدین له ذهنونونه اوباسئ چی کوم شخصیات دجمهوریت په حمایت یامخالفت کی پیش پیش دی ، بلکه ده دواړوډلودلائل ښه په یخ زړه سره مطالعه کړئ ده یو ے ډلی طرف هم مه نیسئ زکه چی دحق په قبلولوکی ضدیاتعصب خنډنشی جوړ لکه چی اللّٰه ﷻ فرمایی چی : ﴿ .. ولایجرمنکم شنآن قوم علیٰ ألاتعدلوا اعدلوا هواقرب للتقویٰ .. ﴾ (المائدة : ۸)

" ... ده یوقوم دشمنی دی تاپرناانصافی باندی نکړی باعثه تاسوانصاف کوئے زکه چی انصا ف ډیرنز دے دئے تقویٰ ته "

اوحضرت علیؓ فرمایلی دی چی :

" أعرف الرجال بالحق ، ولاتعرف الحق بالرجال "

تاسودشخصیا توپه ذریعه سره حق مه پیژنئ بلکه دحق په ذریعه سره شخصیات اوپیژنئ " (مختصر التحفة الاثنی عشریة) " نحن تابعواالحق لاللرجال " علامه ابن تیمیةؒ فرمایلی دی چی " الحق ماقام علیه الدلیل ولیس الحق فیماعمله الناس "

هاداخبره هم ده وضاحت وړده چی که چیرته دلائل واضحه په ادب سره په وقاراوعلمی اندازسره پیښ شی اوداکابرعلماؤ دیواجتها دی غلطئ نشاندهی پکی اوشی نودانشاندهی مستلزمه نده داکا بر ینو تنقیص لره ، اونه پدے سره ده دوئ علمی مقام نظراندازه کول مقصودوی .. اونه چالره داکا رپکارد ئے چی اویه کړی ــ ده اسلام په تاریخ کی لویولویوأئمه ؤاودعلم ستنو هم په بعضے و ختونوکی شاذی را یی ذکرکړے دی یااجتهادی خطاء ترے نه شوے وی ـ پرداسی مواقعوباندی بیاز موژداسلافوداطریقه د ه چی دهغه دعلمی مقام اوجلالت شان اعتراف هم کوی اوپه یوه ډیره ښائسته توجیه سره دهغه خطاء ته خطاء هم اووایی ؟

دادواړی خبری پرافراط اوتفریط باندی مبنی دی چی یوعالم په یوه مسئله کی خطاء اولیدئے شی بیا د هغه علمی مقام اودهغه دینی خدمات ټول ده خاوروسره خاوری کړی ده ادب لاره پریژدی او د هغه شخصیت په تذلیل پسی اولګی .. یاده دے پرعکس ده نبی ﷺاودهغه دصحابه ؤنه وروسته یو شخصیت دحق اودباطل معیاراوګنړلئے شی اودهغه دومره دفاع اوشی چی خطاء یه ده نمرپه رنګه وا

ضحه شی خوبیا هم په هرغلط اجتهادکی دهغه پیروی کیژی ، نولدے افراط اوتفریط نه ګریزکول او د خپلواسلافو ده اعتدال والالاره اختیاره ول بس هم داسفینه نجات ده ـ

علامه ابن قیمؒ ده جلیل القدرشخصیاتوپه خطاء کی دتعامل والالاره پداسی اندازکی راخائی چی :

''قدتکون منه هفوة أوزلة هوفیهامعذور بل مأجورٌ لأجتهاده ، فلایجوزأن یتبع فیها، ولایجوزأن تهدر مکانته وأمامته ومنزلته فی قلوبالمسلمین''

" عین ممکنه ده چی ده یوه (جلیل القدرشخص) نه دی یوه غلطی اوخطاء اوشی ، یا هغه په یوځائے کی اوخوییژی ، (خو هغه غلطی اوښکیدل دیوعذرپه وجه سره وی لدے وجهی نه) به هغه شخصیت معذور ګنړلئ کیژی اوداهم ممکنه ده چی دهغے اجتهادی غلطئ په وجه سره ده ته ده اجتها دیواجرهم ورکولئے شی ، البته دهغه په غلطئ کی دهغه پیروی کول دابیاندی جائزاو نه هم بیا دا کار جائزدئے چی دهغے غلطئ په وجه سره دهغه شخصیت مقام اومرتبه کمه شی اودخلګوپه زړونوکی دهغه قدراو منزلت ختم شی "

" **ثانیاً** " داچی کومواکابرینو چی پدے نظام کی شرکت کړئ ؤاوس یه پدے دنیاکی وجود نشته دئے ، نودهغوئ په باره کی موژ وایو چی دااحتمال شته چی پرهغوئ ده دے نظام کفرنه ؤښکاره شوئ نوزکه په شریعت کی یوعذردئے اودعذرپه وجه سره څوك دیوشخص معین تکفیرنشی کولئے ، اودغه رنګه دهغوئ متعلق دډیرومشهوروشخصیاتوپه باره کی داګواهی شته چی په آخرعمرکی یه پدے جمهوری نظام سر داسلامی قانون دراوستلونه برائت اوبیزاری اختیارکړے ده ـ

اوخلګ دمفتی محمودؒ ده ملفوظاتونه هم داخبره ثابته وی چی څه دنفاذشریعت په بنیادپدے نظام کی برخمن وم خواوس راته معلومه شوه چی پدے نظام اوپدے لاره سره اسلامی نظام نشی را تلئے ـ

اویو چاته دیوشی کفرزرمعلومیدل اوچاته وروسته معلومیدل دادهغه دعلم اوتقویٰ سره څه منا فی خبره نده اوداخبره هم څه حقیقت نه لری چی که جمهوریت کفروی نوبیادادومره لوئ لوئ علماء و لی دیته کفرنه وایی ، اودایادساتئ چی اللّٰه ﷻ دحق اود با طل دظاهره ولودپاره په هردورکی اوپردے دین مبین با ندی دګردغبارده لیری کولوده پاره په هره زمانه کی دمخصو صو شخصیا توانتخاب کړئدئے او داده اللّٰه رب العزت فضل دئے چی چاته ملاؤشی مثلاً ! .

لکه " سیدناحضرت عمرفاروقؓ " چاته چی حضرت جبریلؑ دحق اودباطل دجداکولودپاره د فا روق لقب ورکړو ، لیکن دمانعین زکوٰة په خلاف چی کله (سیدناابوبکرصدیقؓ) دقتال اعلان او کړو نو

عمرؓ ورته او فرمایل چی آیاتاسولداسی خلگوسره جنگیژئ چی هغوئ کلمه وایی اونورصحابه هم ورسره ملگری ؤ چی نبیﷺ خوبه له صبراوتحمل نه کاراخستواوتابیادومره زردجنگ اعلان اوکړو، اووروسته بیاهم د غه عمرؤ چی ویل بے اللهﷻ دابوبکرسینه کولاؤکړے وه ، اوس پدے واقعے سره دحضرت عمرؓ فضیلت نه کمیژی ، خولیکن داده اللهﷻ سنت دی چی دیوکس یایوجماعت ته په اوله مرحله کی د هغه پرسینه درحمت تجلیانی وه اوروی اودچاپرسینه یه بعدکی وه اوروی ، نوموژدانه وایو چی دے اکا برینوبه قصداًداکارکړئ وی بلکه احتمال شته چی هغوئ تبه داپته نه وه چی ده دے عمل به ترفائدے تاوان اونقصان ډیروی ، زموژاکابرین خو هم نه انبیاء ؤ چی معصوم ورته اووایواونه صحابه ؤ چی محفوظ ورته اووایو خامخاشرئے پخپل اجتهادکی کله خطاء کیژی لکه مفتی اعظم پاکستا ن مفتی محمدشفیع صاحب ده دے آیت ﴿ یٰٓأیھاالذین آمنوا ان جائکم فا سق بنبأ فتبینوا ﴾ (الحجرات : ٦)

په تفسیرکی دفاسق نه صحابی مراداخستئے دئے چی ده دے غلطئ ازاله بیاتقی صاحب پخپل تفسیرکی کړے ده اوس دومره لوئ شخصیت ؤاوده صحابی ته فاسق ویلئدئے نوانسان کمزورئ دئے خامخاپخپل اجتهادکی غلطیدئے شی ، اوتاسولره داعذر نشته زکه چی تاسوخوپخپلی تجربے سره او لیدل چی پدے ذریعه سره اسلام نشی راتلئے اوپدے نظام کی ترگټی وه اسلام ته نقصان زیا ت دئے ، ده اسلام تاریخ اوگورئ خلافت ده نبوت پرمنهج باندی ده راوستلوده پاره " سیدناحضرت حسینؓ " په فتنه دخلق قرآن کی " امام احمدبن حنبلؒ " دصلیبیانودفتنے په خلاف " سلطان صلاح الدین ابو بیؒ " عالم اسلام ته ده تاتاریانو د فتنے داثراتونه ده بچاوه ولودپاره " شیخ الاسلام .... مجا هدمیدان " پرحق باندی جیل اوقیداوله جیل نه ده محبوب وه طرف ته ده رحلت کولووالاامام ابو حنیفه اوداما م ا حمدبن حنبلؒ ریشتونئ جانشین " امام ابن تیمیهؒ "

دغه رنگه ده دین اکبری په خلا ف " مجددالف ثا نیؒ " په برصغیرکی حکومتی زوال دعلم او قوت په ذریعه سره مستحکم کولووالا "" شاه ولی اللّٰه محدث دهلویؒ " په اسلامی هندکی ده شریعت په خاطردجهاداوقتال بنیادایخودونکئے " سیداحمد بریلویؒ " دطاقوردشمن په مقابله کی ده عددی قوت دعذررد کؤنکئے ده شاملی میدان ته وتونکئے د ه عزیمت پرلاره تلونکئے " حق نوازجهنگویؒ " حالانکه شیعه گانوداهل سنت والجما عت په کو رو نو کی په کامیاب دعوت سره کارکولو، دقرآن اوسنت پرطرزباندی خالص اسلامی ریا ست قائمه ؤنکئے " امیرالمؤمنین ، بت شکن ، عمرثالث ملامحمدعمرمجاهدؒ " حالانکه اهل علم هم دخلافت علیٰ منهاج النبوت ده عملی قیام نه مایوسه

شوی ؤ اوخلافت یه ده درس اوتدریس نه هم ویستلئے ؤ، د " أنا ربکم الاعلیٰ " ویونکئے فرعون ، مغرب اوامریکے ته چیلنج ورکؤنکئے ده هغے غروردپنټاګون او " ورلډټریډسنټر " په ملبه کی ملاوه ؤنکئے " شهیدامت ،، سیف المجاهدین ، شیخ اسامة بن لادنؒ " ده پرویز مشرف اودهغه وه فوج ته چیلنج ورکؤنکئے " امام وخت . . . غازی عبدالر شیدشهیدؒ " ؟

اوس ستاسوایمانی غیرت دازغملئ شی چی څوك ستاسوده خالق ما لك اومولیٰ په حکم کی چینجی رااوباسی ؟ اوخاصکرچی پدے ایوا ن او مجلس کی بیاکفارهم وی هغوئ هم پردے باندی تبصرے ور سره کوی چی نن صباپدے نوی او جدید د ورکی ده خلّاق عالم قانون ده دے مستحق دئے چی زموژده ملك قانون جوړشی او کنه ؟دیته وایی طعن فی الدین اودیته وایی أئمة الکفرچی ده دوئ متعلق رب لم یزل ذات فرمایی ، ﴿وان نکثوا أیما نهم من بعد عهد هم وطعنوا فی دینکم فقاتلوا أئمة الکفر ﴾ (التوبه : ١٢)

اوس دایوان ده ارکانوداحال اوداغیرت دئے ده شریعت بل ده منظورئ ده پاره چی کله پرهغه با ندی بحث کوی په پارلیمنټ کی نوده بحث موضوع داوی چی هغه اللّٰه چی ده دوئ په دستورکی ده حا کمیت اعلیٰ حق هم ورته حاصل دئے نودهغه حکم ده دے وړدئے چی ده قانون حیثیت ورکول شی ؟ بیاده بحث په دوران کی داپابندی هم نشته چی غیرمسلم یعنی اقلیت به پدے باره کی ده رایی ور کو لو حق نه لری " نه " مسلمان ، هندو، عیسائی ، قادیانی اوشیعه رافضی داخلگ هم ده خلّاق عالم پرحکم باندی تبصرے کوی چی داحکم ده قانون حصه وه گرځؤاوکنه ؟ اوبعضے خولیاداهم کړیدی چی ده شر یعت بل یه شلولئے (پریکړئے) هم دئے اوبیایه ترخپولاندی کړئے هم دئے ؟ لدے نه باوجودعدالت راغوښتی دی یوسزایه پرے مقرره کړے ده چی تاسوولی ده الٰهی شریعت توهین اواستخفاف اوکړونه بلکه ده دے آئین له طرفه وه هغوخلگوته تحفظ حاصل دئے اوپه آئین کی داخلگ اوس هم ښه کټر مسلمانان گنړل کیژی نومعلومه شوه چی داکفری آئین دئے چی ده هیومن رائټس اوده بنیادی حقوقو

په شانتے آزادی فکر، مذهب اوده اظهارخیال وغیره خبروباندی مشتمل دئے ۔

روزانه عیسایان ده پیغمبراسلام ﷺ په شان کی گستاخیانی کوی جلسے اوجلوسونه رااوباسی اودامطالبه کوی له حکو مت نه چی داده توهین رسالت ایکټ دی ختم شی ؟ اوس پدے هکله جلسے اوجلوسونه کول اوده دے ایکټ ده خاتمے مطالبه کول داطعن فی الدین ندئے یقیناًدئے بیاهم حکو مت ده دے خلگو گرفتاری نه کوی نه داخلگ ترکیفرکرداره پوری رسوی اوپدے هکله ده این جی اوزد والاؤلهجه خوبیا بیخی نا قابل سماعت ده بیاهم ده داسی خلگواجتماعاتوته آزادی حاصله ده ، اوپه قا نونی ډول سره داآزادی ورکول صریح کفرد ئے زکه چی داخواباحت دئے چی زندیقیت دئے، نواوس تا سواووایئ چی ده حاکمیت اعلیٰ نسبت اللّٰه ﷻ ته کول ده دے نسبت څه فائده شته ؟ " نشته "

اویقیناًنشته نو چی نشته بیاپدے دوکه سره اوپدے قسم جملوسره ده پاکستان دااباحی آئین اسلامی جوړے دئے شی اوپدے آئین سره جمهوریت اسلامی کیدئے شی ؟ هیڅ هم نشی کیدئے بلکه داده شیعه گانوپه شانتے تقیه ده چی پدے سره خپل کفرپټوی ، اوس راشئ چی لدے نه پس له شریعت بل سره څه کیژی هغه هم اوگورونولدے نه پس په اول ایوان کی پردے باندی اوټ کیژی په او ټنگ کی که چیرته دوتهائی اکثریت ورته حاصل شوخو " فبهاوالنعمة " اوکه داسی اونه شوبیابه بیرته دا بل مړه کیژی ، اوده پاس والی په صورت کی به دویم ایوان ته ځی هلته به هم ده دے اول ایوان په رنگه معامله ورسره کیژی اوس که بالفرض دے دوم ایوان پاس کړوبیابے لدے نه پس ده توثیق ده پاره صدر صاحب له وړی ۔

" وماادراك ماالتوثیق "اوتاسوته پته ده چی تو ثیق یه بیاڅه بلاده ؟ یعنی پریوخیزباندی ده اعتما داواطمنان اظهارکول ، یعنی ده صدرمملك پرشریعت الٰهی باندی په دے وجه اعتمادنشته چی دا ده اللّٰه ﷻ هغ رب حکم دئے چی پرچاباندی ماایمان راوړئدئے ، بلکه داتوثیق به پدے وجه کوی چی د ه ایوان ارکانوپردے بل باندی اعتمادکړئدئے اوده رضااظهاریه ورباندی کړئدئے ؟ اوکه چیرته (نعوذ با للّٰه) دو یم ایوان یعنی ایوان بالادا بل فیل کړی بیابه بیرته اول ایوان یعنی ایوان زیرین ته منتقل کیژی او له هغه نبه درخواست کوی اوده منظورئ فقراوسوال به تر ے نه کوی که چیرته هغوئ ده دے بل پر منظورئ با ندی مصرؤبیا به هغوئ صدرته درخواست اوکړی له هغے نه پس به صدرده دواړوایوانو اجلاس رااو غواړی پدے اجلا س کی به بیاده دے شرعی حکم خامیانی بے حجابه کړی (نعوذباللّٰه) اوکه چیرته د وا ړوایوانوپه شریکه سره پاس اومنظورکړوبیابه بیاصدرده توثیق دسخط ورباندی کوی پد ے میدان کی تقریباًنه لس کفرونه صادر یژی له دوئ نه چی تفصیل یه راروان دئے ۔

نوداداسی کفردئے چی ده اللّٰهﷻ ده شریعت یه دومره تو هین کړیدئے اوبعینه ده ولیدبن مغیره په شا نتے کفردئے زکه ده هغه په هکله اللّٰهﷻ فرمایی ، ﴿ أنه فکّره و قدره فقُتل کیف قدرثم قتل کیف قدر ثم نظر ثم عبس وبسرثم أدبرو استکبرفقال أنْ هٰذاالاسحریؤثرأن هٰذاالاقول البشر ﴾ (المدثر : ١٨تا ٢٥)

" یقیناً چی ده فکراوکړواواندازه یه اوکړه ، پس قتل دی شی ده څرنګه اندازه اوکړه، بیادی قتل کړلئے شی چی ده څرنګه اندازه اوکړه ، بیایه اوکتل ، بیایه مخ تریوُ کړئے اوتندئے یه ګونجی کړئے بیایه شا کړه اوده (حق له قبولونیه) تکبراوکړو، اواویه ویل چی ندئے داقرآن بلکه جادودئے چی (له نورونه پخوانو خلګونه) منتقل شوئدئے اوراروان دئے ، بیایه (اوویل چی داده اللّٰهﷻ کلام ندئے) بلکه ده بشریعنی انسان کلام دئے "

داشوده دوئ بل پیشه ول اوپرهغه باندی بیابحث کول بیاده کلام الناس اوعام قانون دانانوده تجا ویزا توسره برابره ول هغه مسترد یا قبله ول نوده دوئ سزاشوه ، ﴿ سأصلیه سقروماادراك ماسقر لاتبقی و لا تذرلوّاحة للبشر ﴾ (المدثر : ٢٦تا ٢٩)

اودیته وایی طلب العوج چی ده قرآن په نص سره کفردئے اللّٰهﷻ فرمایی ،﴿ ألذین یصدون عن سبیل اللّٰه و یبغونهاعوجاوهم بالآخرة کافرون ﴾ (الاعراف : ٢٥)

" هغه ظالمان چی منع کول بیه خلګ ده اللّٰهﷻ ده لاری نه اوتلاش بیه کولوپه هغے کی کوژ والئ او د و ئ په آخرت باندی کافرن وو " بلکه د لته کی محض طلب العوج هم ندئے بلکه ده کفریو څواقسام جوړیژی :

اول کفر: استخفاف الدین :

دین اسلام بے حیثیته اوکمزورئ ګنړل ، یوشرعی حکم دومره کم ګنړل چی د هغه ده تقنین یعنی ده قا نو ن ده حصے جوړه ولوده پاره ده ایوان ده ارکانوترمنظورئ پوری موقوفه کول ، اولدے سره سره بل ده دا سی سفارشی ضرورت چی ده ایوان ده ارکانونه وی په مجمع الانهرکی دی چی ، " ومن اهان الشریعة او المسائل التی لابدمنهافقدکفر.... ویکفربجلوسه علیٰ مرتفع ویتشبه بالمذکرین ومعه جماعة یسألونه ویضحکون منه ، ثم یضربهم بالمخراق ، وکذایکفرالجمع لأستخفا فهم بالشرع " (ج: ٢/ ٥٠٩ ، ٥١٠)

" چاچی ده شریعت تو هین اوکړویایه ده داسی مسائلوتو هین اوسپکاوئ اوکړوچی ده ضروریا ت دین س ره تعلق لری نوبیشکه داسی کس کافردئے ؟ اویایوکس پراوچت ځائے باندی کیناستواوله مفتیانوسره یه تشبه اختیارکړله اویوجماعت هم ورته ناست وی هغوئ تپوسونه ترے نه کوی اوخندا ګانی کوی او بیاد اناست خلګ داکس پررومالونواوبالختونوسره اولی نوپدے کارسره داتوله مجمع سره

ده دے فرضی مفتی نه کافره شمارل کیږی "

اوس ده یوشرعی حکم نه دالوبه جوړه ول چی ده پارلیمنټ اراکین یه منظورکړی اوکیه نامنظو رکړی او پردے باندی ده بحث په وخت کی هرکافراومسلمان ته دااجازه ورکول چی پردے الٰهی حکم با ندی اعترا ضات اوکړی نودااوس ده شریعت الٰهی استخفاف اوتو هین ندئے نوربیاتو هین څه ته وایی ـ

دویم کفر: خپل قانون ته پرالٰهی قانون ترجیح ورکول ؛

ده پاکستان وه آئین ته ده اللّٰهﷻ پرقانون باندی ترجیح ورکول ، ده آئین پاکستان ده قانون ساز ئ پرو سیجرده باب اوآرټیکل نمبر [۷۰] نه تر [۷۷] پوری پردے باندی حاوی دئے ، یوشرعی بل له عام بل سره برابره ول اواراکینوته دااجازت ورکول چی پردے شرعی حکم باندی اعتراضات اوکړی اوپه هغه کی بعض نقصانات راویستل اوپه هغه وخت هرڅوك هرشانتے بیان اوکړی نو هم یه عدالت نه طلب کوی پدے هکله ده علامه آلوسیؒ داقول مه هیروئ چی ، " نعم لاینبغی التوقف فی تکفیرمن یستحسن ماهوبین المخالفة للشرع منهاویقدمه علیٰ الاحکام الشرعیة متنقصالهابه "

" هوکه ! توقف ندئے جائزده داسی خلګوپه تکفیرکی چی داسی اصول ښه اوبهتراوګنړی چی له شریعت سره ښکاره مخالفت لری اوهغواصولوته پرشریعت باندی ترجیح ورکوی خوپداسی حا ل کی چی په هغے سره ده شریعت تنقیص کیږی "

اوبله ترجیح یه خپل قانون ته شرعی حکم باندی داده چی کده اللّٰه حکم ده دوئ ده آئین ده قا نونی ضا بطه کارسره مخالف ؤنوبیا به هغه شرعی حکم ردکول کیږی لکه چی موږده ښځی ده سربرا هئ په خلا ف تحریك ذکراوکړو؟!

شیخ الحدیث مفتی محمدطاهرمسعودصاحب لیکلی دی چی :

" څوك غیرشرعی قوانین پراسلامی قوانینوباندی افضل اوګنړی یاڅوك ده اسلامی قوانینو په خلاف د ه نوروقوانینوقائل وی پدے سره داکس ده اسلام له دائرے نه خارج اوکافرګنړلئے کیږی ، [جوشخص غیرشرعی قوانین کواسلامی قوانین سے افضل سمجھتا ہے وہ دائرہ اسلام سے خارج ہے،اسیطرح وہ شخص جواسلامی قوانین کے برخلاف قانو ن کا قائل ہے وہ بھی کافر ہے۔مثلاً جوکہتا ہے کہ چورکی سزاصرف ایک ماہ قید ہے یازانی کی سزاصرف دس کوڑے ہیں، یہ شخص دائرۃ اسلام سے خارج ہے] " (عقیدہ اہل سنت والجماعت ص:۶۱،۶۲ پسندفرمودہ شیخ سلیم اللہ خان صاحبؒ)

دریم کفر: ده اللّٰهﷻ قانون ده نوروقوانینوسره برابرګنړل :

لکه څنګه چی دیوعام قانون دان پرقانونی تجویزباندی بحث ، ووټ بیاده منظورئ اونامنظور

ئ دواړه قسمه حالات راتلئے شی هم دغه حیثیت ده اللّٰه ده قانون هم دئے ، اومحمدبن ابراهیم ده کفر اعتقادی له صورتونونه یوصورت دا بیان کړئدئے چی ثوك الٰهی قانون ده نوروقوانینوسره برابرګنړی هغه فرمایی : " الثالث ان لایعتقدکونه احسن من حکم اللّٰه ورسوله ، لکن اعتقدانه مثله ، فهٰذاکالنوعَین الذَین قبله ، فی کونه کافراً الکفر الناقل عن الملة لمایقتضیه ذالك من تسویة المخلوق بالخالق ، ولمناقضة والمعاندة لقوله عزوجل ﴿ لیس کمثله شیئ ﴾ (الشوریٰ : ١١) "

دریم قسم دادئے چی هغه داعقیده نه لری (چی ده غیراللّٰه حکم) ده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ تر حکم بهتراوافضل دئے البته داعقیده لری چی (ده غیراللّٰه حکم) ده اللّٰه ﷻ اودهغه ده رسول ﷺ ده حکم په رنګه دئے ، نوداعقیده ده دے کس په کافر کولوکی ده سابقه دوؤاقساموپه شانتے حیثیت لری (یعنی لکه څنګه چی په سابقه دووقسمونوسره سړئے کافرکیدوهم دغه شانتے پدے در یم قسم سره هم کافرکیژی)اوکفریه داسی کفردئے چی سړئے له دین نه اوباسی زکه چی داعقیده خوده مخلوق او خالق ده مساوی والی اوبرابروالی تقاضاکوی اوداده اللّٰه ﷻ ده دے قول سره ﴿ لیس کمثله شیئ ﴾ مناقضه اومعانده ده ـ (تحکیم القوانین) پدے باره کی اللّٰه ﷻ فرمایی : ﴿ ثم الذین کفروابربهم یعدلون ﴾ او ﴿ اذ نسوّیکم برب العٰلمین ﴾

څلورم کفر : حرام حلاله ول :

یعنی په دوتهائی اکثریت سره لکه څنګه چی شریعت بل پاس کیدئے بعینه دغه شانتے بل بل هم پاس کیدئے شی لکه چی ده تحفظ حقوق نسوان بل پردے خبره شاهددئے (چی پرډیرو غیر شرعی امو رو مشتمل ؤ) هغه اګرچی شرعی کورټ غیرشرعی اوګنړلو، لیکن "شیری رحمٰن " (چی هغه وخت وزیر اطلاعات وه) ته په یوه انټروی کی چااوویل چی فائنل رایه بده چاشی ؟ یعنی فیصله بده چاپررایه اوشی ، هغے ورته اوویل چی فیصله بده پارلمینټ پرایه کیژی .مفتی حمیداللّٰه جان صاحب هم په یوه بیان کی ویلی دی چی دابل پاس شو، اوشیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ فرمایلی دی : "و الانسان متیٰ حلل الحرام المجمع علیه اوحرم الحلال المجمع علیه کان کافراًمرتداً باتفاق الفقهاؤ "

اوانسان چی کله اجماعی حلال حرام کړی یااجماعی حرام حلال کړی نوداسی انسان ده ټولو فقهاؤپه اتفاق سره کافراومرتددئے " (مجموع الفتاویٰ ج : ٣/ ٢٦٧)

اوده تحلیل اوتحریم حق دوئ په ډیروځایونوکی موجوده پارلیمنټ ته ورکړئدئ لکه ده داسی قوانینوا ختیاردوئ ته حاصل دئے چی هغه له شریعت سره متصادم وی ، اوده شرعی احکاماتوده فیله ولو اختیار ، شریعت ده منظورئ اونامنظورئ ده پاره ده پیشه ولواختیار، پرشریعت بل باندی ده بحث

کولو اختیار، په شریعت بل کی ده ترمیم اختیارداتول ځیزونه حرام اوکفردئے اوآئین ده دے اجازه ورکړ ے ده ۔

پنځم کفر: ده اللّٰه ﷻ پردین باندی ده رضااوعدم رضادواړواختیار:

حالانکه ده اللّٰه ﷻ حکم دئے ، ﴿ الیوم اکملتُ لکم دینکم و أتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الا سلام دینا ﴾ (المائده : ٣)

اسلام خوده اللّٰه ﷻ منظورشده اوپسندیده دین دئے ، پدے باره کی دااختیارله کومه راغلو چی سړئے خودمختاره دئے په منظو روالی اونامنظوروالی کی ، کده شریعت په حق کی خپله رایه استعما ل کړی پرنفاذیده رضااظهاراوکړی اوده دے په خلاف ووټ ورکړی یاده ناراضګئ اظهاراوکړی ، " نعوذبا للّٰه من ذالك "

شپږم کفر: لدے ټولوقباحتونوباوجوددے آئین ته اسلامی ویل :

لدے ټولوکفرونونه باوجوددے آئین ته اسلامی آئین ویل داکفرندئے بیاڅه دی ؟ حالانکه اما م ابوبکر جصاصؒ فرمایلی دی :

" ومن حکم بغیرماانزل اللّٰه مخبراًأنه ماأنزل اللّٰه فقدکفر " (روح المعانی ج : ۴/ ۹۳)

چاچی ده اللّٰه ﷻ ده رانازل کرده قانون نه بغیرپه بل قانون سره حکم اوفیصله اوکړله اوپدے هم خبرؤ چی داده اللّٰه ﷻ حکم دئے نوداسی کس په تحقیق سره کافردئے ۔

اوداخواتفاقی مسئله ده چی غیراسلام ته اسلام ویل الحاددئے ، بلکه له امام ابومنصورما تور یدیؒ نه منقول دی چی که چیرته څوك زموژده زمانے بادشاهانوته عادلان اووایی نوداهم کافران دی ، ز که چی هغوئ خوعادلان ندی ، داخوده سلاطینومتلعق خبره ده چی ده عدل اوظلم دواړواحتمال پکی راتلئ شی خوکه څوك کفری آئین ته اسلامی اووایی نودهغه به څه حکم وی ؟

اوچی څوك دے ضلالتونوته ده عدل اوانصاف مراکزوایی چی هلته کی ده کفری قوانینو مطابق فیصلے کیژی نوده داسی خلګوبه بیاڅه حال وی ؟ اوداده جبراوظلم ده مراکزوپردیوالونویه هم ده عدل اوانصاف متعلقه آیاتونه نوشته کړیوی لیکلی یه وی ، نوچی غیرعادل ته عادل ویل کفردئے نو غیر اسلامی ته اسلامی ویل اوده عدل اوانصاف په شانتے اسلامی اصطلاحاتوسره مسمیٰ کول ، علا مه کشمیریؒ فرمایلی دی ،

ومن ذبَّ عنه اوتأوَّلَ قوله :: یُکفِّر قطعاًلیس فیه توانٍ (اکفارالملحدین ص: ۱۲۹)

چاچی ده دے غلام احمدقادیانی (یعنی ده هرکفر) دفاع اوکړه یایده هغه ده قول تاویل اوکړونو

داکس قطعی کافردئے اوپدے خبره کی هیڅ قسم کمزوری هم نشته ؟داعبارت صرف ترغلام احمدقا د یانی پو ر ی محدوده ندئے ، بلکه ده هرکافرکفر، ده هرخلا ف شرع نظام اودهغوئ ده قانون دفا ع کو لو ته شامل دئے ـ

اووم کفر: دا ټول عمل تدرج فی التشریع دئے :

یعنی ده شریعت ترمختلفودرجاتوتیرے دل اوبیاقانون جوړے دل اودا کار صرف ده اللهﷻ دئے ده بل چا پدے کارکی څه اختیار نشته ، بلکه که څوك ده دے اختیاردعویٰ اوکړی نو هغه کس به مشر ك فی الحکم ګنړل کیژ ی ؟اوس تاسوجواب راکړئ چی داټول کفرونه ندی اودے ټولواموروته آئینی اجازت ند ئے ورکول شوئ ، اوداکارلکه څنګه چی نقلاغلط دئے دغه شانتے عقلًا هم غلط اوباطل د ئے ، ز که چی ده اللهﷻ حکم چی یوځل له آسمان نه رانازل شوبس داقانون جوړشو، ده قانون په شکل کی را ناز لیژی ، زکه چی اللهﷻ ده علم محیط اورحمت کامل په شانتے اوصافوسره متصف دئے اوپه هم د ے وجه به دهغه وه هر خطاب ته په ذاتی ډول سره ده قانونیت اوحکم جوړے دلودرجه ورته حاصله وی اوهم داوجه ده چی ده اصول فقهی علماء ده "حکم" تعریف داسی کوی چی :" خطاب اللّٰه تعالیٰ المتعلق بافعال المکلفین اقتضاءً او تخییراًاوو ضعاً "

ده اللهﷻ خطاب چی ده مکلفینو (عاقلانوبالغانو) له افعالوسره متلعق وی ، هغه خطاب بیا طلبی وی (لکه فرائض واجبات اوسنن) یااختیاری وی (لکه مباحات) یاوضعی وی (لکه ده ماسپخین ده لمانځه ده پاره ده ظهرده وخت سبب کیدل) ـ

بهرکیف ! دلته کی ده مکلفینونوم محض ده اللهﷻ خطاب ته حکم اوده قانونیت درجه ورته حاصله ده ، یعنی قانونیت ده اللهﷻ ده کلام ذاتی صفت دئے ، اوده ذات اوذاتی په مینځ کی تخلُّل جعل خوعقلًا هم باطل دئے ، یعنی یو څیزته ده خپلوذ اتیا تواو ماهیا توده ثابته ولوده پاره شرائط اوو سائط نه وی ، بلکه هغه خوبغیرده شرط نه ثابتیژی ، اوحالانکه ده الٰهی حکم په ایوان کی پیشی ، اود هغه ده پاره سفا رشی پیداکول ، ده آئین ده ضابطه کار" پروسیجر" خلاف نه کیدل ، دایوان ده ارکانوپر هغه باندی بحث کول ، په ووټنګ کی دوتهائی اکثریت ورته حاصلے دل ، له دویم ایوان نه بیاپاسه ول ، د ه صدرتوثیقی د سخط ، لدے نه پس هم په یومحدوده اندازه کی پداسی شکل قانون جوړے دل چی په هغے سره ده حکومت سیاسی شکل متأثرنشی اوده ایوان پرارکانوبالا دسته نشی ، بلکه دوئ تبه دا اختیارحاصل و ی چی په هغه کی به ترمیم کولئ شی ، دغه شانتے شرائط یه لګولیدی ده حاکم اعلیٰ حکم ته ، نودا خبره عقلًا هم غلطه ده " لتخلل الجعل بین الذات والذاتیات " اوعرفاً هم غلطه ده ،زکه چی

په عرف کی هم یو غلام یا ملازم اومزدورلره ده خپل آقااونیك حکم بغیرله چون اوچراقانون وی چی آ قایوه خبره او کړی بیاغلام لره اختیار نشته چی سوچ پرے اوکړی چی داخبره به ځماپه مفادوکی وی اوکبه نه وی۔

اوس که څوك اووایی چی دے عمل ته خوموژتدرج فی التشریع نه وایوبلکه تدرج فی التنفیذ وایو ، نو موژوایو چی داتدرج فی التشریع دئے او تدرج فی التنفیذندئے زکه چی په قانون کی داخبره درج ده چی ده کوم کارارتکاب ترقانون جوړے دونه مخکی شوئیوی پرهغه کاربه سزانه ملاویژی ، یا مثلاًنن له یو چا نه ده ارتدادپه شانتے عمل صادرشو(نعوذباللّٰه) اوده دے کارسزاپه قانون کی نده مقرره اوبیاڅه مده پس ده دے کارسزاپه قانون کی مقرره شی نواوس به هغه مرتکب ته سزانه ورکول کیژی ز که چی هغه خو هغه عمل ترقانون جوړے دونه مخکی کړئدئے ، نوصفامطلب یه داشو چی دهغه قانو نیت کا لعدم دئے نه که تنفیذ۔

اوبل داچی ده موجوده فوج ده پاره یو اهمه اومشهوره مقوله ده چی ، " آرډراز آرډر " یعنی ده مشرانو امر اوحکم چی هرشانتے وی منل کیژی به اوده هم دے جرنیلانوپه حکم سره دوئ ده قبائلی مسلمانا نو په خلاف آپریشن شروع کړو، ده هم دے جرنیلاپه حکم سره دوئ پرلال مسجدباندی وراو ختل اوحمله یه پر ے اوکړه ، اوده هم دے جرنیلاپه حکم سره دوئ په سوات کی ده شرعی احکاماتو ده نفاذپه سزاکی ده سوات ده خلکووینه مباحه اوګرځوله اوپه څومره بے دردی سریه ده هغوئ وینی اوبهه ولے اودلیل یه دا ؤ چی دوئ (طالبانو) حکومتی رټ چیلنج کړئدئ ، حالانکه دوئ (حکومت) پخپله ده اللّٰهﷻ رټ په کوم اندازکی چیلنج کړئدئے ، اوحالانکه تاسوته داخبره یاده ول پکارده چی ده مذهبی احکاما توقا نو نیت ده شریعت له رویه ده وجوب درجه لری ، یعنی ده وجوب په جانب کی ضرورت اوده عدم وجوب په جانب کی سلب ضرورت ، یعنی ده شرعی احکاماتوقانونیت لازمی اوواجب دئے ، اوپه یووخت کی یه قا نون نه کیدل داممتنع دی ، خوده دے نظام اوده دے آئین له رویه ده شرعی احکا ماتو قانو نیت ده ا مکان خاص په درجه کی دوئ ګرځولئدئے ، چی پدے کی سلب ضرورت عن الجانبَین و ی یعنی نه یه وجو د ضروری دئے اونیه عدم وجود، یعنی په جمهوریت کی دا هم نشته چی شرعی احکامات دی بلکل ده سر ه قانون نشی جوړاوداهم نشته چی خامخا به قانون جوړیژی ، بلکه آزادی ده دواړه صور تو نه ممکن دی ، نوزموژجګړه لدے جمهوریانوسره پردے ده چی دینی احکامات فی الو قت بغیرله یوا ضافی شرط نه قو انین دی ، اوده دوئ مدعابیاداده چی داده مذهب قوانین فی الوقت ده مذهب قوانین دی ، لیکن فی الو قت ده ملك واجب الاطاعت قوانین نه دی البته دااحکامات قوانین

جوړے دئ شی ، " بعدالموت "

د ﴿ وماارسلنا من رسول ألالیطاع بأذن الله ﴾ آیت نحوی حیثیت

حالانکه الله ﷻ فرمایی :﴿ وماارسلنا من رسول ألالیطاع بأذن الله ﴾ (النساء : ٦٤)

"اوموژچی کوم پیغمبرلیژلئیدئے ده هم دے ده پاره چی ده الله ﷻ ده فرمان مطابق دهغه حکم اومنلئے شی "

اوس پدے آیت کریمه کی الله ﷻ ده رسول ده ارسال علت" لِیُطاع " بیان کړئیدئے یعنی رسول مطاع دئے اوپرهغه باندی رانازل شوی احکامات واجب الاطاعت قوانین دی ، اوده علت اومعلول په مینځ کی د ه بل څیزتخلل نه راځی ، بلکه علت اومعلول ده حکم په مینځ کی تاویژی راتاویژی ، ده علت تام په و جو دسره معلول فوراًموجودیژی ، ده بل دریم څیزانتظارنه کوی ، اوپدے نظام کی خو ده یودریم څیزانتظارهم کیژی چی هغه پارلیمنټ اوده اکثریت منظوری ده ، چی مستلزمه ده نفی ر سالت ته یاده ر سا لت ده اطاعت نفی ته ، اودادواړه څیزونه حرام اوکفردئے ، دغه شان قرآن اوسنت چی په دین کی پخپله معیاردئے اوده شریعت ده اصولونه دی ، دوئ ده دے ده پاره هم ځانله معیارمقررکړئید ئے ، چی د ه قرآن اوسنت معیاریت اواصلیت پرممانعت باند ی دلالت کوی ، اوهم داخبره ده دے نظام کفرلره مستلزمه ده اوهغه معیاراکثریت دئے ، که قرآن اوسنت ده اکثریت پرمعیارباندی صحیح برابر شونو بیا به قانون جو ړیژی اوکه نشوبرابربیابه نه جوړیژی ـ دغه شانتے ده دوئ په نزدقرآن اوسنت اگر چی قطعی الدلالت او قطعی الثبو ت دی بیاهم چی ترڅواکثریت نه وی پاس کړی نوده دے حیثیت به تر یو ے مفروضے نه ز یات نه وی بلکه یوه مفروضه به ګنړ ل کیژی ، اوهم داوجه ده چی پدے نظام کی ده شرعی احکاماتو حیثیت ده قانونی تجاویزودئے لیکن بنفسهٖ قانون اوواجب الا طا عت ندی ، او په قا نونی تجاویزوکی ده قانون جوړیدواونه جوړیدودواړوامکان لری اوپردے ټولوقانونی تجاویزوباندی قا نو نی پر و سیجر حاوی د ئے اوس پدے نظام کی (نعوذبالله) ده الله تعالیٰ حیثیت ده یوقانون دان په شا نتے دئے او ده مقنن مطلق په شانتے ندئے ـ (*جمهوریت عقل ونقل کی عدالت میں ص:٦٣ تا ١٠٧*)

حاکم اعلیٰ اوشرك

دپاکستان ده آئین پرتندی باندی ده دے کلمے ترجمه داسی لیکل شوے ده چی " *الله تعالیٰ حاکم*

اعلیٰ ہے " ده دے جملے دامطلب د ئے چی کلمه مواولویسته بس مخته راته دهرقسم شرك لاره صفا شونو حاکم اعلیٰ چی یه چیرته لیکلئیدئے دد ستورپه هم دے دیباچه کی یه لژمخته لیکلی دی چی ، " پاکستان کا سیاسی ڈھانچہ جمہوری طرز کا ہوگا "

دابنکاره شرك دئے مگردوئ یو ځل کلمه ویلے ده ځکه ده پریشانه کیدوځه خبره نشته ! اوس راشئ داهم اوګوروچی ده حاکم اعلیٰ ده لفظ په دستورکی څه تفسیردوئ کوی ؟ نودستورده دے خبری دا جواب ورکوی چی حاکم اعلیٰ یوه بے ضرره شانتے " اعزازی عهده ده " چی نه څوك جیل ته لیګلئے شی اونیه یه له جیل نه راخوشئ کولئے شی ، ده حاکم اعلیٰ رانازل شوئے آیت نده غله لاس کټ (غوځ) کو لئے شی ، نه سودناجائزه اوقابل مواخذه ګرځولئے شی ، ده حاکم اعلیٰ فرمان خویو بهترینه اخلاقی ا پیل دئے مگرپه قانونی ډول سره نه جووه [قمار] بنده ولئے شی اونه محش فلمونه ختمه ولئے شی ؟ په انسانی زندګئ کی یو څیزجائزناجائزقانونی اوغیرقانونی ګرځه ول داباقاعده یو ا ختیاردئے چی پد ے آئین کی " حاکم اعلیٰ " ته خوبهرحال ندئے حاصل نه داکاردهغه ده رسول کار د ئے ! " نعوذباللّٰه " د ه مذهب په شعبه کی خواللّٰه ﷻاوده هغه رسول ﷺته ده جائزاوناجائزده تعین پو ر ه حق حاصل دئے ، مگرپه قانونی شعبه کی بیاده حلال اوحرام جائز اوناجائزتعین ده حاکم اعلیٰ ده ر سول کارندئے بلکه دا حق به ده دستورده دیباچے له رویه ده مخلوق نمائنده ګانوته حاصل وی ده دے شق الفاظ داشانتے دی :

[where in the state shall exerciase its powers and authority throoqh the chosen reperesentative of the people]

بلکه ده آئین څلورم نمبرآرټیکل داوایی چی ده جرم اوسزاتعین به صرف اوصرف په ملك کی رائج قانو ن کوی داحق اللّٰهﷻ اود هغه رسول ﷺته ندئے حاصل چی ده جرم اوسزاتعین دی اوکړی ،" کمامر تفصیله " اللّٰهﷻ اود هغه رسول ﷺ چی څه وایی یاڅه غواړی نوعوا می نمائنده ګانوته دی او وا یی ، دا کا رده هغوئ دئے که هغوئ اوغواړی نوده اللّٰهﷻ اود هغه رسول ﷺ حکم تبه ده قانون درجه ور کول شی اوکه هغوئ نه اوغواړی نوبیابه ده دوئ ده حکم حیثیت هم ده یوعام قانونی تجاویزده مطالبے په ر نګه کیژی ، ده حاکم اعلیٰ والاشق خوده دستورپه دیباچه کی ضرورشته مگرداحق ندئے ورته حا صل چی ده عدل ایوانونوته لاړشی ۔

آئین ترټولونه وړاندی ده دے خبری اجازه نه ورکوی که چیرته تا سوپه تجربه کولوباندی مصر یئ نوبیالوئ شقونه اوګورئ نوتا سوتبه هم داجواب ملاویژی چی ده عدا لتو(ضلالتو) نوله دے خبر

ی سره څه کارنشته چی په قرآن مجیدکی څه راغلی دی یا په احادیثوکی څه لیکلی دی ، ده قرآن دلا لت چی هرڅومره قطعی اوواضح شی اوحدیث چی هرڅومره متواترشی بیا هم تاسولا ړشئ ده دے قر آن په کورونواوجماتونوکی تلاوت کوئ خلګوتیه وایئ مګرعدالت تیه مه ر اوړئ اونه عدالت ته ده راوړ وپه وجه سره ده قرآن اوحدیث تقدس پاماله وئ اومه ده ججانواو و کیلانوو خت برباده وئ ځکه چی په آ ئینی لحاظ سره ده قرآن اوحدیث څه قانونی حیثیت نشته . " نعوذباللّٰه من ذالك نقل کفرکفرنباشد "

داخبره ده چانه پټه ده چی په ملك کی رائج قانون ده قرآن کریم ده محکم آیتونوپرځائے ده انګریزی قا نو ن ده توروکتابونه جوړ شوئد ئے ؟ اونه داسی ده چی داخبره ده آئین پاکستان سره متصا د مه ده اوټول عدا لتونه ده دے حاکم اعلیٰ ده آئینی شق نه خلاف چلیژی لکه چی دوئ دادوکه ورکوی عامو مسلما نانوته چی دستورخواسلامی دئے ګړپرصرف نافذه ولووالاکوی ، حالانکه ده دے پرعکس ده دفعے نمبر (١) 268 عین دغه منشاء ده چی قانون بده کتاب اللّٰه پرځائے ده انګریزی دورده صحیفو نه راا خستل کیژی . . . !

چی له هرڅومره دجل نه کارواخلئ خوبیا هم ده دے خبری نه څوك لاعلمه د ئے چی عدلیه ، مقننه ، او د ه قانون نافذه ؤنکے ادارے اوافرادده هم دے قانون پرعملدرآمدباندی حلف آ خلی اوله هم دے قا نون سر ه ده وفاداریٔ عهداووعده کوی ، قانون دان تاته اوس هم داوایی چی د ه پا کستان په دستو رکی ده حا کم اعلیٰ دامطلب هرګزندئے چی دهغه ده رانازل شوی آیاتونوته دی ده قانو ن درجه ورکول شی ، ده دے جملے هم داسی مثال دئے چی څوك اووایی چی اللّٰهﷻ خو " الٰه " دئے مګرده بندګئے حق نه لری چی دهغه عبادت دی اوشی !په دستورکی مذکورد " حاکم اعلیٰ " والاجمله یوقانونی اطا عت اوآئینی فرمانبرداری لره مستلزمه اولازمه نده ـ اونه هم داجمله اوداشق ده غیراللّٰه قا نون باطل ګر ځوه لئے شی او نده غیراللّٰه بندګی حرامه ولئے شی ؟

په ملکی آئین کی خوبیشکه چی اللّٰهﷻ حاکم اعلیٰ دئے ، مګرده سیاست اوقانون په ایو ا نو کی ده امر اونهی تحلیل اوتحریم (حلال وحرام) اختیارندئے ورته حاصل بلکه دااختیارده ملك قانون سازخدا یا نو(ارکان پارلیمنټ) ته حا صل دئے ، پاتے شوحا کم اعلیٰ نوده هغه حکم نده پولیس ده پاره دئے ، نده فوج ده پاره دئے ، اونه عدا لتونه ده دے خبری دستوراً پابنده دی چی دهغه ده قانون اودهغه پرحلال او حرام با ندی فیصلے اوکړی ، نده زندګئ ده چلولووالاشعبواوسرکاری اداروباندی ده هغه ده آ یتونواود هغه ده رسول ﷺ فرامینوته ده " سمعنااو اطعنا " ویلو څه آئینی پابندی شته ، اونه په تعلیمی اونشریاتی شعبو کی ده شرك اوده الحادپرسبق باندی څه قسمه ممانعت شته ، ده دے ټولوشر کیا تواو

بغاوتونوده خکاره آئینی چتپی نه باوجوداللهﷻ ده دے آئین له رویه " حاکم اعلیٰ " دئے ۔

د اللهﷻ ده حاکمیت داخومره خکلے نسخه ده چی په ایوانونوکی ده شریعت محمدی ﷺ غیر مشروط اطاعت سره سره ده اسلام سندورکوی ، شیطان ورته خوده لی دی چی ده برطانیے بادشاه ده امراو نهی ده هرقانونی اختیارنه په خالی لاس دئے لدے نه باوجودشاهی تاج ورپسرکول کیژی ، او قانو ناًوا جب الاطاعت ندئے لدے نه باوجودپرشاهی تخت باندی ناست دئے نوپه پاکستان کی هم ده حاکم اعلیٰ ده حلیے پرالفاظولوبی کول څه ناممکنه خبرنده !کداخبره تاسوته نااشناء خکاری نوده دستور ده قانون سازمخلوق آئینی اختیارات یونظراوګورئ بیابه پوئ شئ چی په برطانیه کی بادشاه اوپه پاکستان کی ده حاکم اعلیٰ ده اعزازی عهدے څه فرق دئے . ﴿ سبحان اللّٰه وتعالیٰ عمَّایُشرکون ﴾ (الزمر : ٦٧)

نوبناء پردے چی داخبره تریوخوش فهمئ نه زیاته نده چی ملکی آئین اللهﷻ ته " حاکم اعلیٰ " اوویلویوځل یه پرژبه کلمه جاری شوے ده اواوس معامله محض ترعملی کوتاهیانوپوری محدوده ده ؟ ده کلمے په باب کی خوادنیٰ نه ادنیٰ ترین واقفیت لرولو والاکس هم داپیژنی چی ده حکم اوده آئین په باب کی صرف اللهﷻ حاکم اعلیٰ ګنړل یوازی پدے سره کارنه کیژی بلکه ده کلمے له ویلوسره سره اوًلا داخبره ضروری ده چی ده غیراللّٰه له حاکمیت اعلیٰ اوقانون سازئ اوده غیراللّٰه له آئین اونظام نبه ده برأت اعلان کوے زکه چی کلمه توحید " لااله الااللّٰه " ده دین اسلام بنیاددئے داهغه ده عظمت اوشوکت والاکلمه ده اللهﷻ چی څومره هم انبیاءؑ دنیاته رالیګلی دی وه ټولوتیه داکلمه بطورمنشو رورکړے ده، اومفسرین حضرات لیکی چی ده لطف او عُجب خبره خوداده چی ده دنیاپه ټولو لغاتوکی هره جمله ده اثبات نه شروع کیژی ده نفی نه نه شروع کیژی لیکن یوکلمه توحیدیوه داسی کلمه ده چی شروع او ابتداء یه په نفی سره شوے ده یعنی اللهﷻ اولًاده " لا " په توره سره ده ټولوشُرکاؤ، ادیانو، قوانینو، نظامونوصفائی کوی لدے نه پس بیادخپل الوهیت اقراردہ خپلوبندے ګانونه غواړی ، نبی السیف ﷺ هم ده مکے په مشرکانوباندی صرف ده اللهﷻده ذات منل نه خوښتل بلکه دایه ورته ویلو چی پدے کلمه " لااله الااللّٰه " کی چی کوم اللّٰه دئے صرف هم دااللّٰه مافوق الاسباب ، علم کامل ، اوده قدرت کامل خاونداوګنړئ اوله ده نه لاندی اولده نه ماسواده نوروټولوشرکاء او سفارشیان پریژدئ یعنی په لاء سره صرف الوهیت برقراره ساتل اوله نوروټولوشیزونو نه انکارکول مقصوددی، لدے نه پس به بیاده اللّٰه ﷻ ده حاکم اعلیٰ خبره معتبره وی ۔

نن صباکده تاریخ مخ مسخه شوئے مه وئ نوداخبره بده و ضاحت محتاجه نه وه زکه چی

محض اللّٰهﷻ معبوداعلیٰ ګنړل نولدے نه خوپخوانوقومونو هم انکار ندئے کړئ ، مسئله خوپه هر و خت کی ده دے وړو خدایانوغه مشکله وه اوده دوئ مدعاداوه چی دے وړوخدا یا نوته هم حاکم اعلیٰ ذا ت څه اختیارات ورکړیدی ، ده انبیاء کرامؑ جګړه هم ده دے خدایانوسره وه لهٰذا که چیرته ده غیراللّٰه ده بندګئ اواطاعت نفی مخکی اوشوه نوبیا هله داکلمه اداکیژی اوکه دا سی او نشی نو بیامحض ده خو لے حاکم اعلیٰ ته څه اعتبارنشته ، زکه چی اللّٰهﷻ فرمایی :

﴿ ء أربابٌ متفرّقون خيرٌ ام اللّٰهُ القهار، ماتعبدون من دونهٖ ألااسماءً سميتموهاانتم و آبآؤ كم مانزل اللّٰه بها من سلطٰن ان الحكم الاللّٰه أمران الاتعبدوه ألاأياه ذٰلك الدين القيم ولكن اكثرالناس لايعلمون ﴾ (يوسف : ٦٠)

نوداخوده کلمه شهادت ده اولنی جزء تشریح وه چی اولًابه سړئے دغیراللّٰه ده تشریح اوقانون سا زئ ده حق نه انکار اونفی کوی ، پاتے شوده اللّٰهﷻ ده حاکمیت ده اثبات تعلق نودهغه هم دغه مطلب د ئے چی ده اللّٰه ﷻ فرمان اودهغه رالیژل شوئے قانون دی تسلیم شی ، اوتاسوله قانون دانانونه تپوس او کړئ دوئ لدے دو یمی خبری نه هم انکاری دی ، که چیرته ده اللّٰهﷻ ده کتاب اودهغه ده رسول ﷺ سنت دستو راً ناقابل تر میم ، تعطیل اوناقابل تنسیخ قانون اونه منلئے شی اوترهرآئین بالاترآئین اونه شما ر ل شی نو بیا دهغه ده حاکمیت دعویٰ محض ده کلمے ده ویلوتردعوے پوری محدوده نده بلکه د هغه شریعت غیرمشروط اود اټل قانون منلونه بغیرده حاکم اعلیٰ خطاب یولغوه کاردئے " نعوذباللّٰه "

اللّٰه رب منل مګرده هغه رانا زل شوی احکام اوقوانینوته حتمیً ده قانون درجه نه ورکول ، ده سیاست شعبه ده حضر ت محمدﷺده راوړی دین اوهدایت په دستوری ډول سره پابنده نه منل مګر صرف په مذهبی ډول سره هغه رسول منل داخوبدترین مذاق ټوقی اوټکالی دی چی پدے سیکو لرا یو ان کی په ډ یرد ستو ری اهتمام سره وجودلری ، ده دے خبری خو هم دامعنیٰ ده چی ته یوکس ته جج وا یے هغه جج منے مګرده فیصلو کولوحق نه ورکو ے فیصلے پده نه کوے بلکه په بل چا یه کوے، تا سولدے مو جوده ججانواو عدا لتونوسره داسی کار کولئ شئ " نیه شئ کولئ " نوبیاده خلّاق عالم او مالك الملك ذات سره څنګه دو مره جرأت مندشوئ حالانکه اللّٰهﷻ فرمایی : ﴿ فلاوربك لايؤمنون حتىٰ يُحكموك فيما بينهم ثم لايجدوافي انفسهم حرجاًممَّاقضيت ويُسلمواتسليماً ﴾ (النساء : ٦٥)

" اے محمدﷺداخلګ ترهغه وخته مؤمنان نشی کیدئ چی ترڅویه پخپلو مینځی اختلا فا توکی تا سوفیصل اوحَکم (ده فیصلے کولووالا) نه یئ منلئ بیاچی تاسوکومه فیصله اوکړله پرهغه فیصله به په زړونوکی څه قسم تنګی هم نه محسوسه وی بلکه هغه بده زړه په سترګومنی "

موجوده پارلیمانی قانون سازی اودکفرونو مجموعه

په پاکستان کی ده قانون سازئ حق مطلقاًپارلیمانی اکثریت ته حاصل دئے لکه چی " اسرار مدنی " هم ویلی دی چی ، " پارلیمان یاپارلیمنٹ یا قانون ساز ایوان، ایک ایوان ہوتا ہے جہاں پر قانون سازی کی جاتی ہے " (جمہوریت ایک مکالمہ ص:۳۳)

حالانکه قانون سازی صرف اوصرف ده مالك الملك ذات حق دئے اوداخبره داسلامی عقائدوپه بنیادی اصولوکی شامله ده دقرآن کریم ډیرآیتونه پردے خبره دلالت کوی مثلًا :

(١)﴿ أن الحكم ألاللّٰه أمر الاتعبدو األاایاه ذٰلك الدين القيم ولكن اكثر الناس لايعلمون ﴾ (یوسف : ٤٠)

" حاکمیت اوقانون سازی داخوصرف اللّٰهﷻ لره خاص ده ، اوحکم یه کړئدئے چی صرف هم دهغه عباد ت به کؤ، هم دامستحکم دین دئے مگراکثره خلگ نه پوهیژی "

(٢)﴿ وأنزلناالیك الكتٰب بالحق مصدقالمابين يديه من الكتٰب ومهيمناعليه فاحكم بينهم بماأنزل اللّٰه ولا تتبع اهوائهم ..... أفحكم الجاهلية يبغون ومن احسن من اللّٰه حكمالقوم يوقنون ﴾ (المائده : ٤٨ ، ٥٠)

(٣) ﴿ فلاوربك لايؤمنون حتىٰ يُحكموك فيمابينهم ثم لايجدوافي انفسهم حرجاًممَّاقضيت ويُسلمو اتسليماً ﴾ (النساء : ٦٥)

اوس تاسوفرض کړئ چی مثلًایواسلام پسندممبرپارلیمنٹ ته یوبل پیش کړو مثلًا هغه ده دے بل په ذریعه سره داغواړی چی سودقانوناًناجائزاوحرام شی اوس راشئ چی اوګوروچی ده آئین ده " legislative procedure " له رویه لدے بل سره څه کیژی اوده کفرله کومومراحلوسره مخامخ کیژ ی قانون دانان هرګزلدے نه انکا رنشی کولئ نوده دے بل په پیشه ولوسره لدے خلګونه تقریباًده نهو یالسو کفرونو صدورکیژی۔

(١) اول کفر:

اول کفرخودادئے چی کوم قانون څوارلس سوه کاله وړاندی رانازل شوئدئے نودهغه قانون ده اللّٰهﷻ له جانبه پرحضرت محمدﷺباندی رانازلیدل ده دے خبری دلیل دئے چی دامنظورشده قانون د ئے ، اوده دے شرعی احکاموده قانون اومنظورئ په منلوکی لژشانتے هیچ اوپیچ اونه اویاکول داهم وا ضح ترینه کفردئے ، پدے کی شك کؤنکئے هم کافردئے ، اوده فاروقی توری هم ده یوآئینی طریقه کا رانتظاراونه کړوبلکه ده بجلئ ده رفتارپه شانتے اوبغیرله څه فکراوسوچ نه اوچلیده ، اودااللهی قانون ده پاکستان نظام ده سره قانون نه منی ، داخوښکاره خبرده کیه واقعتاًده قانون په سترګه ورته کتلئ بیادڅه

بل پیشه وی ؟ اوس ده داسی اسلام پسندومتعلق هم ده حضرت عمرؓ ده توری رایه معلومه کړئے چی ځوك الٰهی حکم ده داسی بل په حیث پیشه وی چی اوس خوقانون ندئے مګرچی کله یه ده پارلیمنټ اراکین منظو رکړ ی بیابه قانون ګنړلئے کیژی ۔

(۲) دوم کفر:

هاځئ ده قرآن ده آیتونو خوداحیثیت نشته چی قانون متصورشی ، بلکه صحی ده ده قانون په صورت کی یه سرکاری ایوان ته پیش کړئ نوبیاخوکم ازکم دومره مهربانی اوکړئ چی ده ایوان ده منتخب رکن نه بغیریه دربارته ده حاضرئے اجازت ورکړئ ، حالانکه ده آئین په نظرکی هرڅوك دابل نشی پیشه و لئے بلکه داکفرصرف اوصرف ده ایوان منتخب رکن کولئے شی ، ده دوئ په ذهنوکی ده اللهﷻ ده حکم دومره حیثیت چیرته دئے چی ده ممبرده سفارش نه بغیردی ایوان ته دننه شی ، اوده دو ئ ده ایوان د ه تقد س هم څه آداب دی ! زکه چی که هم داممبرده بازارحسن (یوخلاف شرع) یوه مطا لبه ده بل په صورت کی پیش کړی اوده اللهﷻ احکامات هم پیش کړی نواوس تاسواووایئ چی ده شر یعت مطهره یه څه ځا نله خصوصیت پریخودو ؟ دوئ خوده شرعی اوغیرشرعی دواړه بلونه سره برابر ګنړی ده دواړوده منظورئ یو حیثیت دئے ۔

(۳) دریم کفر:

ده سودحرمت ته ده قانون سندورکولوده پاره چی دابل پیش شی نوبیا که چیرته ده هاؤس ده ضابطه کار(پر وسیجر) مطابق وی اوده آئین مخالف هم نه وی ، نوبه په ایوان کی ده بحث ده پاره منظو رکول کیژی ، اوکه چیرته دابل ده دستوریاده ایوان ده ضابطه کارمطابق نه وی بیادبل درجے ته هم لیا نشی ر سیدئے، اوپرهغه بل باندی ده سره بحث لیانه کوی اوده ایوان وګړی پدے صورت کی خبروته لیانه تیاریژی ، ده بے نظیری په دورحکومت کی چی کله یوغیرت مندا سلام پسندکس ده ښځی ده حکمرا نئ په خلاف تحریك پیش کړونو هغه ته هم داجواب ملاؤشو چی خوله بنده کړه اوداستاتحریك ده آئین خلاف دئے اوس تاسواووایئ چی داهم کفرندئے نوبیاکفرڅه ته وایی ؟

پدے سلسله کی ده " زیادة فی الکفر " دوه صورتونه ملاحظه کړئ ۔

الف:

علماء دین ده دستوراوآئین ده دے ضابطے متعلق څه فرمایی چی د قرآن اوحدیث هم ده دوئ ده ضا بطه کارمطابق کیدل ضروری اولازمی امرګنړل ؟ اوکه چیرته ده اللهﷻ یادهغه ده رسول ﷺ حکم ده دو ئ ده قانون ده ضابطه کارمطابق نشوبیادهغوئ خبره لیاده دے مستحقه نده چی محض یه واوری

اوهغه حکم بده ضابطے په خلاف ګنړلئے کیژی ؟ تف لعنت دی وی ستاسو پرآئین اوایوان باندی اود هغه پرتقدس اوضابطه کارباندی ، " اف لکم ولماتعبدون من دون اللّٰه " ـ

ب :

اوکه چیرته قرآن اوحدیث په قسمت کی خه شوده دستوراوایوان ده ضابطه کارمطابق ثابت شو (نوده دا سی ثابتؤنکی ده ایمان حالت هم لژاوګورئ) اوکه چیرته اسپیکریا چیئرمین ده دے رولنګ ده ورکولو مهربانی هم اوکړه نوبیابه څه کیژی ؟ شریعت بده بحث ده پاره منظورشی خوخه امتحانات یه لیااوس هم پاتے دی ! که پدے امتحاناتوکی پاس شوبیابده شریعت متعلق ګوری چی ده قانون ده جوړ ه ولو اهلیت لری " نعوذباللّٰه " اوکنه ؟راته اووایئ چی ده داسی ایوان په کفرکی ده شك کؤنکومتعلق ستاسو څه رایه ده اوکه په ایوان کی ناست اسلام پسنده خلګ ده اسلام په حق کی داده ذلت پرچیانی و صوله وی اوده عرش نه رانازل شوئے پاك دین دے خبیث اوپلیت ایوان ته وړی نوده دوئ په باره کی ستا سوایمانی غیرت ده کومی سزاتجویزورکوی ؟ پدیکی ستاسو هم امتحان دئے ـ

(۴) څلورم کفر:

اوس به پدے ایوان کی پردے خبره بحث شروع شی چی ده زمکی اوده آسمان ده مالك خبری ته دی ده قانون درجه ورکول شی اوکنه ! ده ایوان ده تقدس په سلسله کی داخبره ده دلچسپئ نه خالی ند ه چی ده آئین په "legislative procedure " کی دے خبری ته اشاره قدرهم نده شوے چی که یو " اسلا می " بل پیش شی نوبیابه صرف کلمه ګوممبران ده دے متعلق خپلی رایی پیشه وی ـ زکه چی کله هم دا بحث شروع شی نوبیابده مسلمانانوممبرانوده خلونه هم ده کفریه الفاظوباران راشروع شی خوبهرکیف ده اللّٰهﷻ په نامه سر به پدے خیراتی کاسه اوکچکول کی " پرجے سالك " اظهارخیال او فرمایی ، " بهرام ډی آواری " به هم دلائل پیش کړی " هندوان قادیانیان اونوراقلیتونه به هم " خپل بکواسات پرے شروع کړی ؟ بهرحال قوم تبه هره ورځ ده ایوان ده کاروایانومنظرپه اخبارونوکی ملاویژ ی اوهغوئ بیه وا یی ، اوس تاسو اووایئ چی دا " خوض فی آیات اللّٰه " (ده اللّٰه په آیتونوکی ده جګړ ے کولومترادف ند ی) اوده داسی خلګومتعلق اللّٰهﷻ فرمایی ، ﴿ فذرهم یخوضوا ویلعبوا حتیٰ یُلٰقوا یومهمُ الذی یوعدون ﴾ (المعارج : ۴۲)

(۵) پنځم کفر:

ده ایوان معززارکان چی کله ده اللّٰهﷻ ده حکم په باره کی ده خپلوخپلوناقصو آراؤده اظهارِ خیا

ل نه فار غه شی ، نولدے نه پس به بیاپه ایوان کی ده رایی شماری مرحله راځی ، ده شریعت ده پاره داډ یره خطرنا که اوپریشان کن مرحله ده پدے نوبت کی که چیرته شریعت بل ته اکثریت حاصل شوخو" فبهاو النعمة "او که داسی نه اوشو نوبیابه شریعت بل خکته سرده ایوان نه اوځی اوجمات مسجدتبه تشر یف وړی ،

﴿ ألالعنةُ اللّٰه علیٰ الظّٰلمین ، الذین یصدون عن سبیل اللّٰه ویبغونهاعوجاًوهم بالآخرة هم کٰفرون ، وألئك لم یکونوا معجزین فی الارض ﴾ (هود : ١٨)

" عن جابرؓ قال لعن اللّٰه رسول اللّٰه ﷺ آکل الرباوموکله وکاتبهٖ وشاهدیه وقال هم سواء " (صحیح مسلم)

ده حضرت جابرؓ نه روایت دئے چی رسول اللّٰه ﷺ لعنت ویلیئدئے پرسود خورباندی ، څوك چی یه پرے خوری، ده سودده کاتے (خاتے) پرلیکونکی باندی ، اوده دے معاملے پرګواها نو باندا و بیایه فرمایلی د ی چی داډول سره برابردی ـ

پدے کی چی کوم کفردئے دهغه ده بیان خوده سره ضرورت نشته ؟ خوبیا هم پرکفربالاده کفر سلسله دا سی روانده ،ده ارکانورایه شماری چی له بحث نه پس کیڑی نواګرچی ده سودحرمت ده ضرور یات دی سر ه تعلق لری اوپدے کی ده لاعلمئ عذرهم قابل قبول ندئے خوبیابه هم موژفرض کړوچی دوئ ده اللّٰه ﷻ ده حکم نه جاهله دی ، بیا هم ده بحث نه وروسته اوخصوصاً چی ده نظریاتی کونسل مهر باندی او لګی ده هغه ده فتویٰ نه بعدایوان لاعلمه نشوپاتے چی په قرآن کی داحکم له کوم وعیدسره را غلیئدئے ، لدے نه پس هم ایوان ته پردے باندی ده ووټ حق ورکول ده دے نظام واضح ترینه کفردئے ، اوله اللّٰه ر ب العز ت سره ده علیٰ الاعلان بغاوت مترادف ګرځی ، آیاتاسوته دامعلو مه ده چی په تاریخ کی ترننه پوری صر ف فرعون خپل ځان ته ده " اناربکم الاعلیٰ " غه ویلی ؤ؟ که چیرته ده ایوان ده ارکا نو ده ساده اکثریت یوه اشاره ده اللّٰه ﷻ ثابت اومعلوم حکم مستردکول ده دے واضح ترینه اختیارلری ، او چاته ده د ے اختیارپته نشته ... نواوس تاسواووایئ چی " ربکم الاعلیٰ "څوك دئے ،اللّٰه ﷻ یاده ایوان سیاست خدائے ؟

(٦) شپږم کفر:

ښه فرض که ده شریعت عزت باقی پاتے شوایوان دابل پاس کړومثلاً مبارك دی شی ، خولژشا نتے پیچید ګی لیاپاتے ده هغه داچی ده آرټیل اویا[٧٠] ده رویه بدا هله قانون جوړیژی چی ایوان بالا دو یم ایو ان یه هم پاس کړی ، لدے دومره خواریونه پس اوس ده شریعت نیم نصف کاراوشونوده حاکم اعلیٰ په نا مه سره چی کوم درخواست راغلئے ؤ هغه فائل اول ایوان دویم ایوان ته اولیګلو اللّٰه ﷻ دی

خیرکی چی مخته به څه کیږی۔

(۷) اووم کفر:

که چیرته ده دویم ایوان ده خدایانوده منظورئ په حاصله ولوکی شریعت فیل شو... بیابرابره خبرده که مکمل مستردشواوکه نه پوره مستردشی اونه پاس شی .... نوده مؤخرالذکرپه صورت کی کده اللّٰهﷻ عذاب راغلوخورابه شی کنے نورڅه خونشی کیدئے ؟ دویم ایوان هم ده اللّٰهﷻ له حکمه سره هغه سلوك کولئے شی لکه چی اول ایوان اوکړو، اودادویم ایوان هم ده اول ایوان په شانتے مقدس د ئے۔

(۸) اتم کفر:

له دے نامرادئے نه پس به بیادابل ده اول ایوان ده نظرثانی محتاجه ګرځی ، کدے دویم ځل هم اول ایوان څه اقدام اونه کړوبس دابل به خودبخودفیل کیږی اونامراده به جمات اومدرسے ته بیرته ځی اګرچی ده حاکم اعلیٰ حکم ولی ندئے .... اوکه چیرته اول ایوان ده دے ده قانون پرمنلوباندی مصرؤنو بیابه صدر مملکت ده دواړوایوانو مشترکه اجلاس راغواړی بیابده سره بحث پرے شروع شی اویوځل به بیاده " خوض فی آیات اللّٰه) مظاهره شروع شی دابده شریعت بل آخری اپیل وی لدے نه پس که هم قانون نشو جوړاومنظورنشوبیابه ده همیشه ده پاره دافائل خارج شمارل کیږی ، داهرچاته پته ده چی ده دے دواړ وا یو انونواجلاس ده ملك آخری اتهارتی ده قانون اوحرف آخربه هم هغه وی چی داایوانونه یه صادرکړی . ... آیایوما هرقانون دامذکوره توجیهات دروغ ثابته ولئے شی ، چی په آئینی ډول سره داا نکارده دنیا یو طاقت هم په اقرارسره نشی بدلولئ ؟ ۔

(۹) نهم کفر:

یوصورت داهم کیدئے شی چی ده آئین ده اویایمی[۷۰] یایواویایمی[۷۱] دفعے له رویه ده بل ده پیشو لونه پس په اول ایوان کی یادویم ایوان کی یامشترکه اجلاس کی چیرته هم یاپه یوه مرحله کی پدے بل کی ترمیم اوکړی ده هرایوان په هرسیشن کی بیاپه مشترکه سیشن کی ترمیمات درترمیمات اوکړی د غه شانتے چی په پیو(شودو) کی اوبه واچوی راواچوی اوده شومبړومطلوبه کثافت حاصل کړ ی ، نولد ے ټولوترمیماتوسره بده ایوان خدایان پراسلام باندی مهربانه شی اوپدے طریقه سربه اسلام راولی ، او ده دے ترمیماتونوعیت هم کیدئے شی مثلاًده سودپه باره کی به یو" amount "مقررکړی چی لدے نه کم به ممنوع اوتردے نه ده زیات ممانعت به نه وی یاپه خاصومدتونوکی به سودوی نوربه لدے نه مستثنیٰ وی یابده ګورنمنټ اوپرائیویټ سیکټریانوتقسیم په عمل کی راشی یابه په خاص

معا ملا تو کی په خاص نسبت سره ده زیات نه زیات ممانعت به اوشی غرض په زرهاؤصورتونه یه جوړ یدئے شی ۔

ده طلب ورخبره داده چی دابل که مستردشی یاله ترمیماتوسره پاس شی دااسلام پسنده ارکان به ده دے ده قانون منلوپه هرصورت کی پابنده وی ؟ زکه چی په آئین کی به ده دے رکنیت ده هغ و خت نه شما ر ل کیژ ی چی کله دوئ حلف واخلی [solemnly] اوقسم به خوری چی دوئ بده پاکستان ده آئین اوده قا نون سازمجا لسونه ده صادرشو قوانینونه صرف داچی احترام بے کوی بلکه ، [to the best ofhis ability] اطاعت اوفرمانبرداری بے کوی ۔

(١٠) لسم کفر:

اگرچی پدے [legislative procedure] کی نورهم ډیربے شماره مراحل پیداکیدئے شی چی په هر ه مرحله کی " زیادة فی الکفر " روان دئے اوکیژی اوس راشئ موژدے امکان ته ګورو چی چیرته ده اسلام پسندوده تخیل پرواز ختم کیژی ، هاځئ دواړوایوانونوبل پاس کړو، اوس بده قبولیت آخری منزل ته ده رسیدوده پاره ده ایوان صدرطرف ته تشریف وړی ۔ " تلك عشرة كاملة "

داشوده دوئ حاکمیت اعلیٰ اوده دوئ پارلیمان چی ده اللهﷻ ده یوه حکم په منظوره ولوباندی دومره عر صه تیره شوه ده دین ده نورواحکاماتومنظوری هم پردے باندی قیاس کړئ چی هغوئ به ځو مره صدیا نی اوپیړئ غواړی نو چی پدے طریقه سره ده اسلام یویو حکم نافذه کیژی ترهغوبه قیامت هم راشی فر شتے به پخپله بیاده اللهﷻ حکم پردوئ باندی فافذکړی ۔

نه ویشتمه (٢٩)شبهه : پاکستانی شیوخ اودین جمهوریت

ډیرپاکستانی شیوخ ده دے موجوده نظام پرکفرباندی خاموشه ناست دی په یواوبل دلیل سره چی کوم څوك ردورباندی کوی هغوئ ته هم په ښه نظرسره نه ګوری بهرکیف پدے باره کی بده یوه عظیم فقیه اوعظیم محدّث چی په پختنه خاوره کی فقیدالمثیل شخصیت دئے ده هغه هغه بیان چی مااحقر (جلا لی) مخامخ پخپلوغوګونوسره اورے دلیئدئے اوبیامی هم هغه وخت پخپلولاسونوسره لیکلیئدئے نو هغه الفاظ رانقل کوم اوبیابے ده انتهائی ادب اوده شریعت په چوکټ کی دننه له شرعی حیثیت سره مو ازنه کؤ هغه فرمایی چی :

" موژمنو چی ده اوټونومروجه طریقه خلاف شرع ده زکه چی داخوشهادت دئے اوپه شهادت کی خونراو ښځه نه وی سره برابراودلته کی خوسره برابردی ، موژمنو چی داجمهوری لاره ده ختټواوچقړ

ولاره ده ، موژ منو چی دے کښی ګناه ده ، خواوس زموژمجبوری ده بله لاره نشته لیابه پدے ده انتخا با توپه لاره کښی حصه آخلواوکه پدے کښی حصه وانه خلونوده نوروظالمانواو فاسقانوتسلط اواکثریت به راشی بیابه داسی قوانین جاری کړی چی هیڅ به هم نشوکولئ ؟ لکه ده پنجاب علماء په سیاست کی کمزوری دی نوپه لوډسپیکروکښی خطبه نشی ویلئ ، بیانونه علیٰ الاعلان نشی کولئ ! اودابل یه هم پیش کړوپه پنجاب کی چی څوك چی هم ده عیدالاضحیٰ چمړے (اوپوستونه) مدرسے ته ور کوی نوده ډ ی ، سی نبه اجازت نامه آخلی چی اجازت یه نه وی اخستئے نوبے شمیره علماء یه پرے قیدیان کړل ـ

اوبل داچی ختمی اوچقړی وی نوبیابه اوس تاسوجمات (مسجد) ته نه ځئ مدرسے تبه نه ځئ سبقونبه نه وایئ ! بل دا کوم علماء چی جمهوریت ته کفر، یانورڅه وایی نو هغوئ هم نه دی ګرم یعنی ندی ملامته زکه چی هغوئ دافتویٰ ده خپل ملك اوخپلی علاقے ده حالاتو مطابق ورکړے ده له هغو ئ سره بله تردے ښه لاره شته اوپرهغه لاره مخکی هم کامیابه شوی ؤ، اواوس هم ده کامیابئ طرف ته روان دی اوله موژسره ده اوتونونه ماسوابله لاره نشته زکه چی توپك به راآخلونوپدے ملك کی خو عیسایان دی ، سکان دی نوله هغوئ سربه څه کؤ حالانکه هغوئ خوده دے ملك ده آئین پاسدا ری کو ی نومو ژ پدے ملك کی انتشاراواختلاف نشوراوستئ خروج اوکړوده خروج اجازه خو هم شریعت نه را کوی ؟

لهٰذاکوموعلماؤ چی پردے نظام ده کفرفتویٰ لګولے ده داسیاسی فتویٰ ده مذهبی فتویٰ نده یعنی ده خپل ملك پربنیادیه دافتویٰ ورکړے ده " انتهیٰ کلام الشیخ "ـ

دابیان به موژپه یوڅوشقونوکی تقسیمه ؤنوبیابه په جواب کی راته آسانی پیداشی (١) مو جوده ده وو تونوطریقه خلاف شرع ده ګناه ده پکی خوزموژمجبوری ده اوس ، (٢) که موژپدے نظام او دے طریقه کی مداخلت اونکړونوبه فاسقان اوظالمان راباندی مسلط شی ، (٣) په ختواوکیچړوکی به اوس تاسو جمات اومدرسے ته نه ځئ ، (٤) له موژسره لدے انتخابی طریقے نه ماسوابله لاره نشته ، (٥) کومو علماؤ چی پرجمهوریت باندی ده کفرفتویٰ لګولے ده دامذهبی فتویٰ نده بلکه سیاسی فتو یٰ ده ـ

اوس بده لف ونشرمرتب په ډول سره دهریوه شق علمی اوادبی جوابونه کؤ ان شاء اللّٰه العزیز:

(١) اول شق :

چی دومره یه تسلیم کړه چی موجوده طریقه کارخلاف شرع اوګناه ده نواوس داخبره ده تپوس

وړده چی " جی " داکومه ګناه ده صغیره ده اوکه کبیره ده ، ده اوتړونومروجه طریقه خوکبیره ګناه هم کید ئے شی ز که چی پدے کی فاسق اومتقی ، عالم اوجاهل ، ښځه اونر، مسلمان اوکافرداټول سره برابردی لکه چی من جمله یه حضرت صاحب هم ذکراوکړوحالانکه ده دے ټولو مساوات حرام دئے ، اللّٰهﷻ پخپل کلام کی فرما یی چی : (۱) ﴿ أفمن کان مؤمناًکمن کان فاسقاًلایستوون ﴾ (السجده : ۱۸) (۲) ﴿ قل هل یستوی الذین یعلمون و الذین لایعلمون ﴾ (الزمر : ۹)(۳) ﴿ ألرجال قوامون علیٰ النساء بمافضل اللّٰه بعضهم علیٰ بعض ﴾ (النساء : ۳۴) (۴) ﴿ هل یستوی الظلمات و النور ﴾ (الرعد : ١٦)

داخولعینهٖ حرمت شولغیرهٖ حرمت یه هم شته چی مفصل بحث پدے هکله موژده اوټ او انتخاباتوپه عنوان سره کړیدئے بهرحال ده ووټ یوجهت ده ګناه کبیره دئے خوموژبه دلته کی ګناه صغیره ترے نه واخلواوپرګناه صغیره باندی اصرارکول ده دے څه حکم دئے چی داملك آزادشوئیدئے نوڅه ده پاسه او یا [۷۰] کلونه اوشو چی تاسوپدے صغیره ګناه کی مبتلاء یئ اومزیدنیت مولیاهم شته ، اوشیخ صا حب خوبل ځائے په یوعوامی مجلس کی ده الیکشن پرموقع ووټ ته عبادت ویلئید ئے چی اودس به او کړئ دوه رکعته نفل به اوکړئ دعابه اوغواړئ ده اللّٰهﷻ نه اووختی به لاړشئ بس چی څه مخی ته دره غلوپر هغه به ګوته اووهئ نویوځائے عبادت ورته ویل اوبل ځائے خلاف شرع ور ته ویل دابیاڅنګه منطق دئے اوپدے بیان کی یه له هغه مخکینی بیان نه برأت هم اونه کړلو، اوده دے ګناه پرنه کو لو با ندی مجبوری څه مجبوری ده چی دوئ وایی موژمجبوره یو چی پدے انتخابی طریقه کی تاسوشرکت اونه کړئ نوبه یواندام څوك درنه پرے کړی کبه مواووژنی یابه روټئ نشی درته ملاؤ ـ

اوبل داچی څوك داوایی چی جمهوریت ته موژهم کفروایو مګرده مجبوری په حالت کی ده خنز یرغو خی خوه ړل جائزدی نوموژمجبوره یو، جواب : دادئے چی تاسونه یئ مجبوره لتاسوسره خوده زر هاؤ مدار سو، مراکزو، اوخانقاګانوکم ازکم اویااتیالکه متحرك صحت مندځوانان دی ، اولتاسو سر خو ده فتوے هغه طاقت دئے چی په ټوله دنیاکی داطاقت نشته داسی طاقت دئے چی ایټم بم اوده امر یکے په شانتے سپرطاقت یه هم مقابله نشی کولئے ، اوخنزیرخوبه سرئے یوورځ اوخوری دوه ورځی بے او خوری ستاسوخوسل کاله اوشو چی ده خنزیرغوښی خورئ اوترڅومولیاورته نیت دئے ؟ ده خنزیر غوښه خوبقدرضرورت جائزده اوستاسو ضرورت اومجبوری خواډوپوره کیژی نه ، راشئ ده پاك صفااو حلا لوطرف ته ده جهادطرف ته ، هم داده اللّٰهﷻ حکم اود رسول ﷺ طریقه ده ، پدے سربه په نظام کی تبدیلی راځی کنے ترقیامته به پدے تیاروکی شپے صباکوٴ۔

(۲) دوم شق :

داشبهه نورهم ډیرخلګ پیشه وی چی که موژانتخابات اونه کړویاپارلیمنټ ته نشولاړنوبه دا ځائے بیافا سقان فاجران اوظالمان اونیسی نوزکه دامیدان موژچاته نه پریژدو؟ ده دے شبهے جواب داد ئے چی مو جوده پارلیمنټ ایوانونه اواسمبلیانی ده دے بحث اختیارات ، دائره کار، اوبیاده شریعت بل په وخت کی پرشریعت مطهره باندی بالادستی داټولی خبری تاسوواورے دلے نواوس به ستاسوده خیال مطابق پا ر لیمنټ بدتروی اوکبه سنیما هال ، پارلیمنټ په درجنوترے نه بدتره دئے زکه چی ده پارلیمان طریقه کار کفروه اوده سنیما هال ته تلل ګناه کبیره ده اوپه سنیماکی چی څه کیژی هغه کفرندئے ـ

اوس یو ملا سنیماته پدے نیت سره تلئے شی چی زماپرځائے څوك فاسق فاجریاظالم نه کینی ، اوکه څوك داسوال اوکړی چی سنیماته پدے نیت سره تلل چی فیلمونه به بندکړم بیاخوتګ جائز د ئے او دوئ خو هم ده جمهوری قوانینوده خاتمے په نیت سره پارلیمان ته ځی ؟ نوموژوایو چی دانیت خویه صحی د ئے مګرده خلاف شرع قوانینو خاتمه اوده شریعت حکمرانی به دوئ په جمهوری طریقه سره سرته رسو ی اوده جمهوری طریقے بیان خوتاسوواورے دوچی ده شریعت څومره مذاق اوڅومره هتك پکی کیدو؟ پاس اوفیل ، منظورنامنظور، پرشرعی حکم بحث ومباحثه ، پرهغه باندی ووټنګ، آ یادا ټو ل تاسواونه کتل ـ

اوس تاسواووایئ چی ده شریعت ده نفاذده پاره داطریقه جائزده اوپدے طریقے سره ده شریعت صحی نفاذممکن دئے . " نه جائزدی اونه ممکن دئے " اوکه دامُلاپه سنیماکی فلم هم نشی بنده ولئے (لکه حقوق خواتین بل پیش شونو هغه دوئ بندکړو ، شریعت بل درے ځله پیش شو هغه نافذشو) او لیا یه بالفرض بنده ولئے شی خولیکن تردے بندش نه زیاته محظورممنوع اوده حرام کارصدورکیژی ده شریعت هتك اوسپکاوئ کیژی نوبیاسنیماته تلل صحی دی " نه " نو چی سنیماته پدے نیت سره تلل چی زماپرځائے یوفاسق فاجرنشی لاړداجائزندی حالانکه سنیماترپارلیمنټ په کمه در جه کی ده نوبیاپار لیمان ته تګ څنګه جائزشو۔

پاتے شوه داخبره چی داسیاسی علماء که اسلامی قوانین نافذنه کړی نوکم ازکم دالوئ کفری قوانین خو به ده نفاذنه بندکړی که هلته په اسمبلئ کی څه نه اوکړی نودلته په ملك کی خوبه عوام خبرکړی څه چیغی نعرے خوبه جوړی کړی دهغ ځائے نبه یوخلاف شرع بل منظرعام ته رااوباسی ده مدارسوده تحفظ خبر ه خوبه اوکړی وغیره وغیره نودومره خوبه اوکړی ـ

ده دے سوال اواعتراض به موژدوه جوابه کؤ(١) یوداچی کوم کس چی هم ده پارلیمنټ رکن جوړشی نو له هغه نه داحلف آخلی چی تبه ده دے کفری آئین په مکمل ډول سره پاسداره اووفاداره یے :

" لہٰذا اس منصب پر باقاعدہ فائز ہونے سے قبل ہر رکن اور ہر ممبر کے لئے ضروری ہے کہ وہ اس کفر کا حلفیہ اقرار کریں جیسا ہر پارلیمانی رکن کیلئے ضروری ہے (اردنی دستور کے آرٹیکل ۴۳ میں لکھا ہے کہ: وزیر اعظم ودیگر وزراء کیلئے ضروری ہے کہ چارج سنبھالنے سے قبل صدر کے سامنے مندرجہ الفاظ میں حلف اٹھائیں کہ میں اللہ عظیم کی قسم کھا کر کہتا ہوں کہ صدر کا وفادار رہوں گا اور دستور کی حفاظت کروں گا..... ایسے ہی آرٹیکل ۷۹ میں ہے کہ اسمبلی اور پارلیمنٹ کے ہر رکن کے لئے چارج سنبھالنے سے قبل ضروری ہے کہ وہ صدر کے سامنے ان الفاظ میں حلف اٹھائے کہ میں اللہ عظیم کی قسم اٹھا کر کہتا ہوں کہ صدر کا وفادار رہوں گا اور دستور کی حفاظت کروں گا.....کویتی دستور کے آرٹیکل ۱۲۶، اور ۹۱ میں بھی اسی طرح ہے " (دین جمہوریت ص:۲۴)

نوده چمړواوده پوستونوده راغونډه ولوده پاره ، اوپه لوډسپیکرکی ده بیان کولوده پاره اوده مذکوره بالا خبروده وجهی نه ده دے دومره محظورناروااوکفری عمل (یعنی ده آئین ده وفاداریٔ حلف اخستل) ارتکاب کول نوداده کوم ځائے عقل اودانش دئے ، اوکه څوك دااعتراض اوکړی چی دوئ چی کله حلف آخلی نوشرعی احکام ذهن کی محظوراونیسی ده دے جواب دادئے چی په قسم کی ده قسم اخستلو وا لانیت ته اعتباردئے (چی څوك ده قسم طلب کوی ، مقسم له) ده قسم خوړونکی نیت ته څه اعتبار نه وی ـ

(۲) دویم جواب دادئے چی که یوکس پدے نیت سره سنیماته لاړشی چی که پرټوله سنیما با ندی پابند ی اونه لګوم نوکم ازکم دومره کارخوبه اوکړم چی بربنډاوعریانه فیلمونه به بندکړم داسی فیلمونه که او لګی چی څه قدرمهذب وی ډیرفحش نه وی نودومره کارخوبه اوکړم نوپدے نیت سره دا کس سنیماته تلئے شی " نشی تلئے " نواوس تاسوپارلیمنټ پرسنیماباندی قیاس کړئے اګرچی پارلیمان په ګناه کی ترسنیمانه هم زیات حیثیت لری ، نوده جمهوریت ماهیت کفردئے ، ده دے موجدین (افلاطون ، وولټا ئر،مونټیسکو، روسو، ارسطو طالیس)کافران دی ، اودانظام چی چازموژملك ته راو ړ ئیدئے هغوئ هم کا فران دی اوهم دے جمهوریت اسلامی خلافت ختم کړواوپرهغه ځائے یه قراراو نیو لو، لکه چی په ترکی کی اوشو ـ

خلافت عثمانیه چی ده مسلمانانو آخری امیدؤ، هغه اسلامی خلافت چی چاختم کړوده هغے پرځائے یه داجمهوری نظام قائم کړو، اودا هرڅه ده دنیالوئ غداراومرتد مصطفیٰ کمال اوکړل ، نن په تُرك کی مثالی جمهوریت قائم دئے ده امریکے اواقوام متحدے هم داکو شش دئے چی په دنیاکی جمهوریت بحاله اوساتی ، اوس تاسوراته اووایئ چی ده کوم نظام ماهیت چی کفروی ، بانیان یه کافران و ی ، زموژعلاقوته راوړونکی کافران وی ، چی کوم نظام ده اسلامی خلافت قاتل وی چی ده کوم نظام ده تقویت دعویداره نن هم کفاردی ، بیاده یوڅوفرضی مصالحوپرښاء ده دے کفری نظام ده تقویت ذریعه

جوړے دل ، ده دے نظام ده وفاداریٔ حلف اخستل نوداده کوم ځائے سیا ست دئے ، اوده کوم ځائے شر یعت اواسلام دئے چی نورکه نه ؤ څه ناڅه کارخوبه اوکړونوموژسوال در نه کوؤ چی څه مواوکړل ، ده تحفظ حقوق خواتین بل منظورشوتاسوبندکړو، شریعت بل درے ځله پیش شوتاسونافذکړو، ده شر یعت نفاذخوده بلاله هغه لوری دئے ده شریعت محمدی ﷺ چی کوم هتك توهین اواستخفاف اوشو پدے کی به تاسونه یئ برخمن ، عافیه صدیقه یه درنه یووړه ګرفتاره یه کړه تاسوپدے مروجه طریقه سره هغه راخوشے کړه حالانکه ده ټولوعلماؤ پرے اتفاق دئے چی ، ''امرأ ة مسلمةٌ سُبِّیتُ فی المشرق و جب علیٰ اهل المغرب تخلیصها '' که په مشرق کی یوه مسلمانه خوربندی شو ه ده مغرب پرباشنده ګانو فرض دی چی داخوربه ده کفارونه راآزاده وی ـ

ستاسوده خپل ملك نیه عافیه صدیقه یووړه تاسوڅه اوکړ ل ، ده رسول اللّٰهﷺ ګستاخیانی او شوے تاسوڅه اوکړل ، قرآنونه اوسیزل شول په ویاړیانو (چریانو) او ګندونوکی واچولئے شوتاسوڅه اوکړل ، په درجنوعلماء یه درشهیدان کړل تاسوڅه اوکړل ، نوربه پریژدو ده دے خپل خالدسومرؔوانتقام موواخستوداخولوئ داستان دئے دلته کی به موژڅومره قباحتونه او شمیرو ، شیخ رحیم اللّٰه حقانی صاحب ویلی دی چی داخبره کول چی څه نا څه کارخوبه اوشی دا هم ډیره خطرنا که خبرده اوده هم داسی زکه چی که یوبل پاس شی بس چیغی سور ے به جوړی کړی ـ

د رسول اللّٰه ﷺ ګستاخی به اوشی صرف جذباتی بیانونه به اوکړی زنده بادمرده با د چیغی به اووهی بس بیاخیر تالره او خیرمالره داروزانه ګستاخیانی کیژی نوتاسوولی یوه ګستاخ ته شرعی سزانه ورکوئ ، ده شر یعت دبل هتك اوتوهین او شوولی موایکشن نه پرواخستوبس صرف عمران خان دی خکته شی سبقو نه دی ویل کیژی قرآن او فقه دی محض ترمدارسوپوری محدود وی عملی نفاذکے نه ؤنوپروانه لری قر آن کریم خو صرف ده تلا وت ده پاره ندئے رانازل شوئے نه داده خوش آوازئ کتاب د ئے چی موژبه مقا بلے په ګټو، لهٰذ اڅه احکامات منل اوڅه نه منل ده یو څوکارو نو نفاذغوختل او ده نوروغه نه غوختل داخوده یهودوصفت دئے ده هغوئ په حق کی اللّٰهﷻ فرمایی چی : ﴿ أفتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض ﴾ (البقرة : ٨٥)

زموژده امت مسلمة په حق کی خودادرس دئے چی :﴿ یاأیهاالذین آمنوا ادخلوافی السلم کافة ﴾ (البقرة : ٢٠٨) موژخوبه ده ټول قرآن ده ټول اسلامی نظام ده نفاذکوشش کوؤپه څه ناڅه کارنه کیژی ـ

(٣) دریم شق :

حضرت صاحب خوموجوده انتخابات اوپارلیمنټ ده ختوباران اوچګوپه حالت کی هم نه پر یژ

دی مرو جه ووتړونه دومره اهمیت لری ده دوئ په ذهن کی ، حالانکه ده صلاة الجماعت ډیرتاکید را غلئد ئے په احاد یثواوفقهه کی په سنت مؤکدوالی کی خویه هیڅ اختلاف هم نشته بلکه بعضے وایی چی فرض کفایه دئے بعض یده فرض عینیت قائله دی نوده دے دومره تاکیدباوجودده جمع لمونځ ده ختړو با ران او چګوپه ورځ پرے خودل جائزدی ستاسوده زړونوده تسلئ پربنیادزه زموژده بعض فقهاؤعبارات را نقل کوم :

(١) " قال عامة مشائخنا: أنهاواجبة ، و ذكرالكرخي :أنهاسنة ..... وجه قول العامة الكتاب والسنة وتوا رث الأمة " (بدائع الصنائع ج: ١/ ٣٨٤)

(٢) الجماعة سنة مؤكدة أى قريبة من الواجب حتىٰ لوتركهاأهل مصرلقوتلوا، واذاترك واحدضرب و حبس، "ولا يرخص لأحدتركهاالالعذر ،منه المطروالطين ، والبردالشديد، والظلمة الشديدة ، " وعندالشافعي أنها فريضة . . . و عندمالك واحمدفرض عين وهوايضاًرواية عن بعض مشايخنا، (مجمع الانهر ج :١/ ١٦١)

(٣) " وتسقط بعذرالبردالشديدوالظلمة الشديدة ، و ذكرفي السراج الوهاج أن منهاالمطروالريح في الليلة المظلمة " (البحرالرائق ج : ١/ ٦٠٦)

اول :۔ نبی ﷺ چی کله مدینے ته هجرت اوکړواوداللّٰه ﷻ له طرفه دبیت المقدس وه طرفته دعبادت کولو حکم اوشونواوس بیت المقدس حقه قبله وه خولیکن یهودوهم بیت المقدس ته عبادت کولونوله دوئ سرده مخالفت کولوپه وجه سره ده نبی کریم ﷺ زړه غوختل چی زماقبله کعبه مکرمه شوے وئ اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ قدنریٰ تقلب وجهك فی السماء فلنولینك قبلة ترضاها ﴾ (البقره : ۱۴۴)

" موژوینو چی ته ده آسمان وه طرفته سترګی غړوے (چی کله به ماته ده کعبے جانب ته ده عبادت کو لو حکم اوشی) اوعنقریبه ده چی موژبه ستاده پاره هغه قبله اوګرځؤ چی ته په راضی یی " نواوس نبی ﷺ ته د بیت المقدس طرفته په عبادت کی اطمنان دیهودوپه وجه سره نه راتلو حالانکه په هم دغی قبلے سره اللّٰه ﷻ ته وصول کیدو ۔

دویم :۔ مخالفت دادئے چی کله حضور ﷺ هجرت اوکړونوپه مدینه کی به یهودیانودعاشورئ روژه نیو له نودوئ تپوس ترے نه اوکړوداتاسوده څه روژه نیسئ نو هغوئ ورته اوویلو چی پدے ورځ حضرت موسیٰؑ په دریاب باندی صحی سلامت پوری وتئ ؤاوفرعون غرق شونوده دے په شکریه کی موژداروژه نیسو ، نوپیغمبرؑ اوفرمایل چی موسیٰ خوبیاترتاسوزمابنه وروردئے پکارده چی داروژه بیا مو ژهم او نیسونوصرف ده دے یوے ورځی روژه نیول یه شروع کړه خولیکن ده وفات په وخت کی یه بیااو فرمایل چی که چیرته زه راروان کال ته اللّٰه جوندئے پاتے کړم " لأصومنَّ التاسع " نوبه نهمه روژه هم ور سره نیسم زکه چی صرف لسمه روژه ده یهودوطریقه ده نوښه طریقه یه وه خولیکن بیاهم نبی ﷺ خو

ښه نکړه بلکه ده نهمی یایولسمی روژے حکم یه هم اوکړو۔

دریم :۔ ده پیغمبرؐ له یهودوسره دومره مخالفت ؤ چی بنی نضیریه اوشړل ده مدینے نه اوبنی قریظه یه اووژل مدینه یه صفاکړله له یهودونه اوخیبریه فتح کړوخوپردے یه نکړوبس بلکه دایه هم اوو یل چی " أخرجوا الیهود و النصا ریٰ من جزیرة العرب "

دایهوداونصاریٰ ده جزیرة العرب نه اوباسئ اوپردے حدیث بیاحضرت عمرفاروقؓ عمل اوکړو چی حکم یه اوکړوا هل کتابوته چی تاسوبه ټوپئ نه پرسره وئ " ومنع عمر أهل الکتاب من لبس القلنسوة " او ده اسلام چی کوم شعائردی لکه پټکئ پګړئے وغیره ول دابه هم نه استعمالوئ حتّٰی چی داامریه هم اوکړوچی بغیرده ضرورت نبه پرآس هم نه سوریژئ اسلحه به نه ګرځوئ اومسلمانان یه هم له دوئ سره ده مشا بهت نه منع کړل ، نواوس ده پیغمبرؐ اوده هغه ده اصحابوله یهودوسره دارویه وه اودومره مخالفت یه ور سره لرلواوتاسو ځانته ده هم دے پیغمبرؐ وارثان وایئ اوبیاده نبی کریم ﷺله دشمنانوسره دومره په مینه اومحبت سره جوندتیروئ اوبعض وایی چی زموژخوجمهوری اتحاددئے ورسره نوزکه دهغوئ طریقه اختیاره ؤ محبت هم ورسره کوؤ اوداکارلیانااشناور ته ښکاری چی ته له یوکافرسره په سخته لهجه کی ګفتګوکوے اولیاپه سخت اندازکی ورسره ملاقی شے نودوئ وایی چی دا خوندئے مناسب کارحا لا نکه پردے موضوع باندی علامه ابن قیمؒ ده " الیهودوالنصٰریٰ " اوشیخ الاسلام علامه ابن تیمیهؒ ده "اقتضاء الصراط المستقیم " په نامه سره مستقل کتابونه لیکلی دی اوله یهودونصاراؤسره چی څوك هم دوستی یانرمی کوی پردے یه سخت ردونه کړیدی اونبی ﷺفرمایی چی :

" لاتبدءُ الیهود و النصٰریٰ باالسلام " تاسوبه دے خبیثانوته په سلام کی هم سبقت نه کوئ حالا نکه ده سلا م په سبقت کی بل صریح روایت دئے چی " البادئُ باالسلام بریئ من الکبر "دلته ده تکبرپه شا نتے ده مذ موم کارنه دنجات ذریعه ده خولیکن چی کله هم دغه سلام دیهودونصاراؤپه مقابله کی را شی بیانبیؑ فرمایی چی مخکی والئ پرے مه کوئ یعنی سلام به نه پرے اچوئ اومخته فرمایی چی " واذا لقیتموهم فی الطریق فاضطرواهم الٰی اضیقهم "اودایهودیان اونصاریٰ چی کله په لاره کی درسره ملاؤشی نو وه تنګ ځائے تیه مجبوره کړئ چی دئے په تنګ اوغایت ځائے کی لاړشی اوته په کو لا ؤا وپراخ ځائے کی لاړشے هغه په ختوکی لاړشی اوته په اوچه کی تیرشے نولدے امریکایانوسره زموژده نبی ﷺدا سلوك و اوده نن صبا جمهوری علماء بیاوه داسی سلوك ته بداخلاقی وایی نعو ذباللّٰه اوس تا سواخلاق ترنبی ﷺنه هم زیات شوحالانکه ده هغه داخلا قوتصدیق خواللّٰه پخپله کړئد ئے چی ﴿ وأ نك لعلیٰ خلق عظیم ﴾ (القلم : ۴)

نـودوئ ده ښـواوده بـدواخلاقومداردہ جمهوریت پربقاء ایښئ دئـے چی په کوموا خلاقوسره جمهوریت با قی پاتـے کیـژی بیاکه هغه هرڅومره بداخلاق ؤاوهرڅومره بدکارؤنو هم به دابنه اخلاق وی ـ

لهٰـذاچـی ده پیـغـمبرؐ له کافرانوسره کوم نهج کوم سلوك ؤخصوصاًله یهودواونصاریٰ ؤسره په جـمهـوریـت کـی لـدے مـحمدی طریقـے سره مکمل مخالفت دئـے اونبی ﷺ خوله دوئ دومره بیزاری اختیاره کړے وه چی .﴿ لاأعبدماتبعون ﴾

زه پـه هـغ نهـج اوهـغه طریقه باندی لیاعبادت نه کؤم چی په کوم طرزسره یه تاسوکوئ اونه زه عبـادت کـو م دهـغ شئ چی تاسویه کوئ نه فی الحال اونه فی الاستقبال اولاره یه ترے نه جدااوعلیٰحده کـړه چـی ستـاسوڅانله خپل دین دئـے اوڅماڅانله خپل دین دئـے ، دانن صباچی خلگ ده جمهوریت ده بیـرغ او جـنډے نـه لاندی راجمع شویدی داسلام په مقابله کی نولدے نه معلومه شوه چی جمهوریت څانله یو مستقل دین دئـے زکه چی په مکه اومدینه کی دجمهوریت کانفرنس ندئـے شوئـے بلکه لیابه په لندن کی کیژی اولیابه په نیویارك کی کیژی نودادهغه څائـے نه راغلئـے نظام اوملة دئـے ـ

تنبیه ! لهٰـذامـوژمـجـاهدینولره پکارده چی موژهرڅه قبلؤنو هغه بده الٰهی حکم اومحمدی مـنهـج مـطابق قبلؤاوچی څه ترك کؤنو هغه به هم دالٰهی حکم اودمحمدی ارشاداتوپه رڼاکی پریژدوده جـمهـو ریـت اوجـمهـوریانو(اگرکه خواص ولی نه وی) افکار، تصورات، دهغوئ طورطریقـے دابه ټولی مـوژده دے وجهـی نه پریژدوچی داده الٰهی منهج نه مخالف دی ، اوجمهوریان ده یهودواونصاراؤپرنقش قـدم او د هـغوئ پرپله روان دی اوده دے روایت مصداق یه خپل څانونه جوړکړیدی چی " لتتبعُنَّ سنن من کان قبلکم شبراً بِّشبُروذراعاًبذراع حتّٰی لوسلکوجسرضبی لسلکتموه قال الیهودوالنصٰریٰ قال فمن " (شیخین)

نبی الملاحم ﷺ فرمایلی دی چی تاسوبه ده دے یهودواونصاریٰ ؤلویشت په لویشت اوگزپه گز تـا بعداری اوکړئ حتیٰ که چیرته هغوئ ده سمسرے په سوړه اوغاروردننه شوی ؤنوتاسوبه هم وردننه کیـژئ ، پـه یـوبـل روایت کی راځی که چیرته په هغوئ کی یوه کس له خپلی مورسره علیٰ نیةً بدفعلی کـړے وه نوتاسوبه هم له خپلی مورسره ښکاره په ښکاره بدفعلی کوئ ، نن صباتا سوگورئ چی خلگ پـه الٰهـی اومـحـمـدی دیـن سره نه متدیّن کیژی بلکه خپل څانونه په هم دے طاغوتی اوکفری دین سره مـتـدیـن کـو ی پدے طاغوتی اداره کی وردننه کیژی اوهیڅ قسم باك یه هم نه محسوسه وی چی پدے کـی خـو دالٰهی دین مخالفت راځی ، ده ارسطواوفارابی په شانتـے ده غټوغټوگمراهانوسره مشابهت را ځی او نبی ﷺ فرمایلی دی چی " من تشبه بقوم فهومنه "

ددین اسلام دامزاج دئـے چی په نهج منزل مقصوداومنبع کی په هرڅه کی بته له نورو ادیا نو او

نظامونوسره مخالفت کوے ، چی ستاسرچینه ده جاهلیت نه جداشوه ، لاره دی دکفرنه جداشوه او منزل مقصوددی هم ده کفرنه علیٰحده شونو هله به بیاموژصحی مسلمانان شمارل کیژواوپه جمهوریت کی خوپدے سره فخرکوی ده اتحادلاسونه یه ده یوبل سره اوچت کړی اوپورته کړی وی نولدے اولیاء الطاغوت اونصاران طاغوت نه ده براأت اعلان کول پکاردی۔

نقصان اتم دمقصدده حصول دپاره حرامی وسیلے جائزکول

داخبره خواوضح من الشمس ده چی جمهوریت یوه حرامه وسیله ده خولیکن دوئ په دلیل کی یوه قاعده پیشه وی اوهغه قاعده جوړه کړے " لاردمیکالی " ده په عربئ کی دهغے الفاظ داسی راځی چی " الغایة تُبرِّرالوسیلة " اوپه اردوکی راځی چی " مقصدرذرائع کونیک بناتاہے " وه منصب ، مقصد، هدف او کرسئ ته ده رسیدودپاره چی ته هرقسم لاره اختیاره وے دابه ستاده پاره صحی او جائز وی ، مثلًا که یو کس پدے نیت سره سینماکولاؤ کړه سینمایه جوړه کړه چی ده دے په منافعواوپیسوسربه بیازه حج ته لاړشم یامسجداومدرسه پرے جوړه کړم نوداقسم وسیلے اگرچی په دین اسلام کی حرامیدی خولیکن په دین جمهوریت کی جائزیدی ، اوهم داقاعده اوداطریقه ده نبی کریم ﷺ ده زمانے دکافرانووه مثلًا اللّٰه ﷻ فرمایی چی : ﴿ وقالت طائفة من اهل الکتاب آمنوا باالذی اُنزل علیٰ الذین آمنواوجه النهار وکفرواآخره لعلّهم یرجعون ﴾ (آلعمران : ٧٢)

" اوو ایی یوه طائفه چی ایمان راوړئ په سحرکی اوبیابیرته کافران شئ په ماخام کی ده دے دپاره چی دا نورنوی اوتازه مسلمانان هم دوباره کافران شی " اوس په یهودیت کی دین اسلام قبوله ول دا حرام ، نارواونا جائزکارؤ چی به چااسلام قبول کړونودوئ به هغه کس ته بے دینه اوصابی ویلو خواوس دلته دوئ ده خپل مقصدده حصول ده پاره (چی هغه صدعن سبیل اللّٰه ؤ) ده دے قاعدے ده رویه دا حرام کا راو کړو نونن صباجمهوری خواص هم ده خپل ځان په دفاع کی داقاعده پیشه وی چی جمهوریت اگرچی کفر دئے اوغلطه لاره ده خوموژخپل مقصدنفاذشریعت ته پرے ځان رسؤنوپدے وجه په جمهوریت کی حصه اخستل جائزدی۔

اوبیاپرخپل کارده اسلامی تعلیماتواثرات منطبق کوی او اووایی موژده اسلام ده پاره دومره قربانی ور کړے ده اوبعض پکی وایی چی موژده جهادافغانستان ده پاره (دفاع افغانستان کونسل) کولاؤ کړو (حضرت مفتی صاحب) فرمایی چی پدے خبروسره نه دفاع راتلئ شئ اومه پدے سره فخرکوئ اونه ده جهادی ملگری ده دوئ پدے قسمه خبروسره دوکه کیژی " علامه ابن القیمؒ " پخپل تصنیف (اعلام

المو قعین) کی پردے خبره یوکم سل [۹۹] دلائل راوړیدی چی ده هدف اومقصدپه صحی کیدوسره ناجائزه وسیله نه صحی کیژی ؟ بلکه چی کله هم وسیله خرابه شوه نوده دے وسیلے نتیجه به هم خا مخاخرا به رااوځی اونه په صحی اونیکه وسیله سره بیاحرام څیزاوناجائز مقصدجائزکیدئے شی مثلًا شراب ده مخامرة العقل دعقل ده پټه ولوده وجهی نه حرام دی نواوس که یوکس اووایی چی زه یوه قطره شراب څکم پدے نیت سره چی بدن ته می تقویت اورسیژی بغیرده حکیم حاذق ده وینانه اوپه یوه قطره سره خوپرسړی بے هوشی هم نه راځی نواوس پدے صحی نیت اوصحی وسیلے سره شراب حلا لید ئے اوجائز کیدئے شی نه هرګزنه ؟

دغه شانتے چی ده کوم څیزنتیجه غلطه وی نودهغه شئ وسیله به ناجائزه وی مثلًا اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ و لاتسبوا الذین یدعون من دون اللّٰه فیسبوا اللّٰه عدواً بغیرعلم ﴾ (الانعام : ۱۰۸)

اوس دلته نتیجه خرابه ده چی اللّٰه ﷻ ته کنځلی کول کیژی نوده دے وسیله اوذریعه هم حرامه شوه چی هغه کافرانوته بدردویل شو۔

نوخلاصه دکلام داشوه چی کومه وسیله دکوم مقصدده پاره ترکومه وخته پوری په کوم ځائے کی شارع معتبره کړے وی هغه وسیله به معتبره اوجائزوی انسان پخپل عقل اوخپلی پوهی سره نپه ناجائزه و سیله جائزمقصدته ځان رسولئ شی اونه غلط مقصداوخرابه نتیجه په صحی وسیله سره جا ئزکولئ شی لکه چی اللّٰه ﷻ فرمایی :

﴿ لاتتخذِالمؤمن الکٰفرین اولیاء من دون المؤمنین .... ألاأن تتقوامنهم تُقاةً ﴾ (آل عمران : ۲۸)

پدے آیت کریمه کی اللّٰه ﷻ مسلمانان ده کفاروده دوسئ له هغوئ سرده مداراتواونرم سلوك کولونه منع کړی دی مګرصرف ده اکراه په صورت کی که ورته اوخاندے یاځان دلته هلته کړے نوده د ے جواز یه ورکړئیدئے ده تقیه نه مرداحالت اکراه دئے ۔

اوس داده نرمئ ذریعه اووسیله اللّٰه ﷻ صرف داکراه ترحالته پوری مقیده کړے ده پدے وجهه سړئے په عامو حالاتوکی له کفارو سره نرم سلوك اوپه پسته خوله نشی ملاقی کیدئے چی داده نرمئ جوازخو اللّٰه ﷻ پخپله خپل کتاب کی بیان کړئیدئے اوس داوسیله ده دے اکراه دضرورت اواضطراری حالت نه علاوه په عامو حالاتوکی حرامه ده اودانسان ده تکفیرذریعه ګرځی ۔

نقصان نهم د مسلمانانو وحدت ټکړے ټکړے کول

ده دے خبری اجمالی ذکرموژمخکی هم اوکړوخواوس یه مزیدوضاحت کؤ چی ده مسلما نانو وحدت ما تول داحرام کارد ئے اوپدے باره کی نبی ﷺفرمایلی دی چی " من أتاکم وامرکم جمیع علیٰ رجل واحدو ارادأن یشق عصٰیکم فقتلوه کائناًمَن کان " ایضاً " عن عرفجةؓ قال سمعتُ رسولَ اللّٰه یقول أنه سیکون هناة وهنات ای شرورٌ وفسادات فمن ارادأن یفرق امرهذهِ الأمة وهی جمیع فاضروبوه باالسیف کائناًمن کان " (رواه مسلم ، ومشکوٰة رقم حدیث : ٣٤٩٧)

کتاسوپریوه امیرباندی سره راجمع شوی وئ اوبل کس داستاسواجتماعیت ختمولونودادویم کس که هر ثومره متقی اوولی زمان وی نو هم یه قتل کړئ اوهادخلیفتین په روایت کی هم نبی ﷺده دویم خلیفه ده قتل حکم کړئ ؤاودازکه چی دئے اگرچی خلیفه دئے خواوس ده مسلمانانوپه مینځ کی تفرقه او تعصب راولی اوپدے سره دمسلمانانووینی توییژی اوده دوئ خپل منځی مینه الفت اومحبت ختمیژی ، نودمسلمانانوداجتماعیت ده پاماله ولودپاره پیغمبرؐ ده دے کسانوده وژلو حکم اوکړو، اوجمهوریت ده ډ لی بازی حکم کوی چی ثومره ډلی جوړیژی هغومره ډیموکراسی خوشحالیژی اواللّٰه ﷻده فرقه واریت په مذمت کی فرمایی چی ؛ ﴿ أن الذین فرّقوادینهم وکانواشیعاًلست منهم فی شئ ﴾ (الا نعام : ١٥٩)

"هغه خلک چی هغوئ تفرقه راولی اوجداجدایه کړودین خپل اوهغوئ ډلی ډلی شوته نه یی له هغوئ نه په هیڅ ثیزکی هم "

دلته اللّٰهﷻ داسی نه اوویل چی " لیسومنك فی شئ "دوئ لتانه نه دی بلکه ته ده دوئ نه نه یی او دازکه چی دین اواسلام مربوط دئ په پیغمبرﷺپوری اللّٰه ﷻفرمایی ﴿ قل هٰذه سبیلی ادعواالیٰ اللّٰه علیٰ بصیرة اناومن اتبعنی ﴾ (یوسف : ١٠٨)

نبی ﷺپه ټولواحکاماتوکی متمیزاومنفرددئے یعنی تبه ددوئ دمنهج اولاری نه جداوالئ اختیاره وے اگرچی دین لتاسره دئے او کتاسوده دوئ دین اودهغوئ طرزطریقه اختیاره کړئے نو دا لتا سره ندی منا سب تبه له دوئ نه ځان ساتے نوتفرقه دوحدت ده مسلمانانواللّٰهﷻ ته ډیر مبغوض ثیز د ئے -

اوپه یوبل آیت کی اللّٰهﷻ تفرقه بازی ده مشرکینوعلامه اونخه خودلے ده اوفرمایی چی :

﴿ ولاتکونوامن المشرکین ، من الذین فرقوادینهم وکانواشیعاً ﴾ (الروم : ٣١، ٣٢)

ته مه ګرځه دمشرکینونه دهغوکسانونه چی تفرقه یه راوستے ده په دین خپل کی اوشویدی ټولئ ټو لئ ، نودتفرقه بازئ تشبیه اللّٰهﷻ له کفراوشرك سره ورکړه چی تفرقه بازی ده مشرکینوکاردئے

په شریعت محمدی کی ډلی جوړه ول ناجائزاوحرام کاردئے اوپه جمهوریت کی ډله بازی ده دوئ ده اصولونه دی جائزه حلاله بلکه واجب یه ګنړی اوچی شریعت یوکارحرام کړئے وی اوته حلال ورته وایی نوداپه حقیقت کی پرالله ﷻ باندی ده دروغوویلو مترادف دی زکه چی ده دے آیت چی :

﴿ و لاتقولوا لماتصف السنتكم الكذب هٰذاحلال وهٰذاحرام لتفتروا علىٰ لله الكذب ﴾ (النحل : ١١٦)

په تفسیرکی علامه آلوسیؒ فرمایی چی ده دے آیت ده معنیٰ حاصل دادئے لکه چی امام عسکریؒ په صراحت سره بیان کړے ده چی تاسووه هغ ځیزته حلال اوحرام مه وایئ چی دکوم ځیز حلت اوحرمة ده الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ نه نه وی ثابت اوکه چاده الله ﷻ اودهغه درسول ﷺ حرام کر ده شئ ته حلال اوویل یاده دے پرعکس نودابه پرالله ﷻ باندی ده دروغوویلوپه شان تے وی اومخته فرمایی " لأن مدا را لحل و الحرمة ليس ألاحكمُه سبحانَه " (روح المعانی : ج ١٤ / ٢٤٨)

زکه چی دحلت اوحرمت مداربه صرف دالله ﷻ په حکم سره وی ،نوده خپلی خیټی نه تحلیل دماحرم الله کول داداسی مثال لری لکه چی داکس پرالله ﷻ باندی دروغ وایی اوالله ﷻ ده اسم تفضیل په صیغه سره فرمایی چی :

﴿ و من أظلم ممن افترىٰ علىٰ الله كذبااو كذب بئآياته ﴾ (الاعراف : ٣٧)

" تردے به لوئ ظالم بل څوك وی چی څوك پرالله ﷻ باندی دروغ تړی ، اودجمهوریت چی مو ژڅومره اُصول اوویل دااکثره ځیزو نه الله ﷻ حرام کړیدی اودوئ حلال نه بلکه ده حلت یه قانونی جو ازورکړئ دئے نو چی کوم خلک الله ﷻ په ظلم سره متصف کړی نودهغوئ به نورڅه انجام وی ـ

اوداکوم خلک چی ده اسلامی جمهوریت په نامه سره پدے جمهوری نظام کی وردننه شویدی ددوئ نشست اوبرخاست ، آمدورفت ، خردونوش داټول ځیزونه له هم دے ډیموکراسیانوسره دی دوئ خوهم ورسره پدے صفت سره متصف کیږی اوبیاوایی چی موژپه اسمبلئ کی آذان اوکړوياموپه جماعت سره پکی لمونځ اوکړویادمدارسوتحفظ کؤنوداده مدارسوتحظ کول یاپه اسمبلئ کی په جماعت سره لمونځ کول دا به لویه فائده وی ((اوکده الله له جانبه خپل ځان په ظالم سره متصف کول ، دالله قانو ن معطل کول، دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ اودقرآن مجیدپه ګستاخانه مجالسوکی کیناستل ، شریعت بل چی کله دوئ پیش کړی نودافاسقان فاجران په اسمبلئ اوپارلیمنټ کی شپږمیاشتی پرے بحثونه کوی چی ده دے کتاب قانون ده تنفیذمستحق دئے اوکنه نوداده قرآن توهین نه شو ـ

دولاء او براء مسئله دعنقاء په شان مفقودالوجودګرځول دادومره اهمه مسئله ده چی تقریباً اویا [٧٠] آیتونه مبارکه ددے مسئلے متعلق رانازل شویدی ، دالله ﷻ دکتاب الله اودالله درسول ﷺ له د

شمنانوسره شانه بشا نه ګرځیدل ، په ورین تندی خبری ورسره کول ، ده صحابه ؤله دشمنانوسره اتحا د کول دے کافرانوته ده کلمے ورونړه ویل (کماقال حافظ حمدالله صراحتاً)دالله محبین مجاهدین په قسم قسم القاباتوسره مسمیٰ کول ، دفدائی په رنګه قربانی ته خودکش اوځان مرګئ ویل ، ده انبیاؤوارثان پر زمکه راخکل را کشول اوپه بے رحمئ سره وژل ، ده الله ﷻ ده کلام میلمانه بمباره ول ، ده مسلمانا نو د خو یند واو مینند وعزتونه اخستل ، تاسوکه په اسلام آبادیاخپلوځایونوکی آئرکنډیشن کمروکی ناست یئ بے خوفه ، او س دامذکوره ټول ځیزونه په جمهوریت کی وجودلری)) نواوس ده جمهوریت مفا سد اواونقصانات ډیر شواوکه منافع مفاسدیه زیات دی اوداقاعده ده چی پرقلیل منافعوبه زیاته مفاسدوته تر جیح حاصله وی ، اوکله به وایی چی په فلانی وخت کی په اسمبلئ کی دهم جنس پرستی یعنی ده لوا طت بیل پیش شو بیاده دے علماؤپه ذریعه سره مستردشونوموژوایو چی صحی ده دابیل خو مستر دشوخولیکن ده دے کاروجودخوندئے ختم نن صباعلیٰ الاعلان لواطت شرع دئے ده فرنډپه نامه سره داسی ځوان نشته چی له هغه سردی یونابالغه هلك نه ګرځی الاماشاء الله ده داسی ورونړوپه باره کی می لیااوریدلی دی چی خپل کشروروره نورو ته ده لواطت ده پاره حواله کوی اوپیسے پرے اخلی " لاحول ولاقوة "

نواصل کاربه داؤ چی تاسوده دے بدفعلئ بنیادختم کړئوئ ده بل په مستردوالی سره کومه فا ئده اوشوه هادقلت اوکثرت فرق بے ضروروی نودهمجنس پرستئ متعلق ډیری واقعے پیښی شوے د ی او حکو مت پرے خبرشوئ هم دئے خوبیا هم نه پردے کارخه بندیزاولګولواونه یه چیرته یوه لوطی ته شرعی سزاورکړے ده حالانکه ده دے خلګوپه باره کی خوده شریعت فیصله واضحه ده چی " فقتلوا الفاعل وا لمفعول به " نوداخبره یاده ساتئ چی که چیرته ده یوځیزنقصانات اومفاسدډیروی اوفوائدیه لژ و ی نوده د ے یوځوفائدوپه وجه سره هغه ناجائزاوحرام شئ نه جائزکیژی بلکه ده منافعوپه مقابله کی به وه مضرا تواونقصاناتوته اعتباروی اوداخبره " امام اهل سنت مولاناسرفرازخان صفدرؒ په نص سره ثابته کړے ده هغه لیکی چی " دنیامیں شاید ہی کوئی چیزایسی ہوجس میں اسکی خرابی کے باوجوداس میں کوئی خوبی ہومثلاً شراب اور جوئے جیسی بدترین چیزوں کے بارے میں اللہ کاارشاد ہے: ان دونوں میں گناہ بڑا ہے اورلوگوں کیلئے ان میں کچھ منافع بھی ہیں:

یہ ٹھیک ہے کہ ان میں گناہ بہت ہے مگر اللہ تعالیٰ نے ان میں فی الجملہ منافع کا ذکر بھی کیا ہے لیکن ان قلیل منافع کی وجہ سے انکو جواز کا درجہ حاصل نہ ہوسکا بلکہ ان کے مضرات اور مفاسد کے پہلوکوغالب قرار دے کرانکو ہمیشہ کیلئے حرام قرار دیدیا اور اکبرالکبائر کی مد میں انکا شمار کیا گیا " (راہ سنت ص: ١٤٦ باب پنجم)

نوهرڅوك چی په کوم کارکی مبتلاء وی هغه به ده همیشه دپاره تاته ده هغه کارصرف خو

بیانی بیا نوی اګرکے منافع اوخوبئ په شماردرے څلوروی اونقصانات یه بے شمیره وی خولیکن اعتبا ربه مفا سدوته وی نواوس پدے مروجه سیاست کی اګرچی څه خوبئ اومنافع شته خولیکن خرابئ او نقصانا ت یه بیخی ډیردی زکه لدے مروجه سیاست نه اجتناب پکاردئے۔

آمدم برسرمطلب !

دپیغمبرؐ اودهغه دصحابه ؤاودمؤمنانو طریقه خواجتماعیت ده امة ده اوجمهوریت ده دے طری قے مخالفت کوی اوڅوك چی دپیغمبرﷺ اودمؤمنانودلاری اوطریقے مخالفت کوی نودهغوکسانوپه باره کی قرآن وایی چی :

﴿ ومن یشاقق الرسول من بعدماتبین له الهدیٰ ویتبع غیرسبیل المؤمنین نوله ماتولیٰ ونصله جهنم وساء ت مصیرا ﴾ (النساء : ۱۱۵)

اللّٰه ﷻ وایی چی څوك پیغمبرﷺ اوداسلام پرلاره نه ځی جمهوری لاره خوښه وی نوموژبے هم پرهم دے جمهوری لاره پریژدو " المرء مع من احب " روایت اوقاعدے مطابق بے له هم دے جمهو ر یانوسره ده قیامت په ورځ راپورته کړواوانجام بے هم دهم دے جمهوریانوپه شانتے وی " اللّٰهم احفظنامن الد یمقرا طیین واعوانهم "

اوپه بل ځائے کی اللّٰهﷻ فرقه بازی ده خپل عذاب ذریعه ګرځولے ده اوفرمایی چی ؛

﴿ قل هوالقادرعلیٰ ان یبعث علیکم عذابامن فوقکم اومن تحت ارجلکم اویلبسکم شیعاً ﴾ (الانعام : ٦۵)

(حضرت مفتی صاحب) فرمایی چی داجمهوریت پرزمکه داللّٰهﷻ عذاب دئے چی په ډلواو نتظیمو نوکی یه تقسیم کړی یواو خاصکرده اوټونوپه وخت کی څه غوبل وی اوپدے تفرقے سره خو دبخوداخو ت اسلامی اولفت ختم کیژی اوهم دغه وجه ده چی نن ده انګریزانواوټرمپ په محبت نه مړیژواودافغانانومجاهدینوپه بغض اونفرت نه مړیژونوچی لدے نظام سره ده چاتعلق دئے هغه له مجا هد ینو سره دلی محبت نه لری څومره محبت چی یه لدے فاسقانواوفاجرانوسره دئے اوبیاوایی چی تا سوزموژ سیا ست نه خوښه وئ نوتاسوده کفرپرلاره روان یئ ، کفرته تقویت ورکوئ اوزماله دے جمهو ر یت سره جګړه ده نوبه بیاڅنګه زمااو ستایووالئ سره راشی اوزه څنګه ستاتائیداوکړمه چی په افغا نستان کی کوم خلک هم دے اسلامی جمهوریت ته کومه ګوته اولګوی نوزه دهغوداګوته ورکاټه وم او دلته بیا هم دے جمهو ریت ته پخپل لاس سره اوټ ورکړم هلته ده جمهوریت په خلاف جنګیژم اودلته ده جمهو ریت ده تقویت حصه اوګرځم ده افغانستان حکومت ته ده هم دے جمهوریت اوډیموکراسی په

وجه سره مرتدین وایم وژ نه یم اودپاکستانی حکومت دفاع اوملاتړبه کوم ـ

نقصان لسم داسلامی غیرت پرځائے جاهلی غیرت پکا رراوستل

جاهلی غیرت قوم پرستی ، نیشنلزم ده پختوپنجابی اوبلوچی وغیره په نامه تفرقه جوړه ول دا جاهلی سوچ په خلګوکی عامه ول ده قومیت ده خباثت په باره کی " شیخ الحدیث مولانامسلمین صاحب " یو بیان مااحقر(جالی) اوریدلئ دئے هغه رانقل کوم نوشیخ صاحب ویلی دی چی دمدینے یو عالم پخپل کتاب کی لیکلی دی چی دامة محمدیه ﷺ په حالت می غوراوکړوچی داولی ورځ په ورځ پرتنزل اوخکته والی باندی روان دئے ترقی نه کوی نو هغه عالم وایی چی پدے اثناکی خوب راله راغلو اوپه خوب کی می " خلیفه اول بلافصل حضرت ابوبکرصدیقؓ " اولیدوچی ډیرهشاش بشاش ؤاو خوشاله ؤشنے جامے یه اچولے وے (اغستے یه وے) ویل اے فلانیه ولی پریشانه اوغمجن یی نو ما ورته اوویل چی اے امیرالمؤمنین امت ده کفاروده لاسه ډیرمرغوب دئے وجه څه ده نه پوهیژم نو صدیق اکبرؓ راته اوویل چی دامة مسلمة امراء خوخپلوځانوته ده حاملین قرآن نسبت کوی خوعمل نه پرے کوی هغه عالم وایی چی ماورته اوویل چی په کوم ځائے عمل ندئے کړئے نوصدیقؓ اوفرمایل چی تو ل قرآن خوپریژده د قرآن پریوه وړوکی سورة یه هم عمل ندئے کړئ چی هغه سورة سورة الاخلاص دئے ـ

بس داعالم وایی چی زه رابیدارشوم اوسوچ فکرواخستم چی پدے سورت کی دی څه چی موژ عمل ندئے پرے کړئ نوده ډیر تفکراوتدبرنه پس چی پدے سورت کی داللّٰه ﷻ کوم درے صفتونه د ی ده هغوئ متعلق عجیب اسرارات راته په ذهن کی را غلواودهغوئ موازنه می له دے موجوده حالا توسره اوکړه نوخپله می دافیصله اوکړه چی بیشکه موژپدے سورت سره عمل ندئے کړئ ـ

اول صفت :ـ اللّٰه احد !

معنیٰ داشوه چی اللّٰه مویودئے ، قرآن مویودئے ، دین مویودئے پیغمبرمویودئے ، اوموژسره څوځایه یوپه څومره تنظیمونو کی سره ویشل شوی یونومعلومه شوه چی پدے صفت کی اللّٰه ﷻمو ژمسلمانانوته ده اتفاق اواتحاددرس راکوی اوموژده اختلافاتواوتفرقے شکاریو، اوده دے عمل اصل و جه جمهوریت دئے چی پدے عذاب کی یه مبتلاء کړی یونن په پاکستان کی نورسیکو لرجماعتونه پریژده صرف مذهبی پارټیانی اوتنظیمونه دومره ډیردی چی په شمارلوبے سترئے شے ، اوده دے په مقابله کی افغانستان ته لاړشه چی زموژهمسایه اسلامی ملك دئے نوده امارت اسلامی نه بغیربه بل

نـوم تـا سونه وا وریٔ اوده دے هم دابرکت دئے چی لس کسان دی خواتفاق سره دی اوده دے اتفاق هم داو جه ده چی ده ټو ل روئے زمین کفرسره ده بعض اسلامی ملکونه سره یوشواوهغه دابوجهل په سوچ سر ه افـغـا نستـان ته رادننه شوچی ده نورئے په شانتے بے تیروؤداسی بے ده بیخ اوبنیادنه اوبا سو چی پته یـه هم نه اولګی چی دالته هم انسانان ؤاوکنه ده دوئ پدے سوچ اودے عقیده کی زموژبعض لوئ لوئ سیاسی مشر ان هم ورسره ملګری ؤخولیکن چی کوم تدبیراوکومه منصوبه یه مجاهدینو او د هشتګر دوته جوړکړے وه په هم هغه جال کی اللّٰه ﷻ دوئ پخپله اخته کړواوعربوډیرښه ویلی دی چی " من حفر حفرةً لأخیه وقع فیها "

دویم صفت :ـ اللّٰه الصمد !

پـدے صفت کی اللّٰه ﷻمـؤ مـنـانوته ده کفارونه ده بے نیازئ اوخودمختارئ درس راکوی چی مـوژده کـا فـرانـو خصوصاًفی الحال دامریکے وه غـلامئ ته سرونه خکته کړیدی نوبه ولی نه یوذلیله پا کستـان د خپل افغان مسلمانانوپه مقابله کی دامریکے وه دوستئ ته ملاوتړله خپلی اډے اوآئر پور ټو نه یه هغو ئ ته حواله کړوچی ځئ زموژده ملك نه پردے مجاهدینواودے افغانانو بمباری کوئ سعو د ی ورله تیل ورکول دوئ ورته اډے خالی کړے هغه امریکه ده نن یه کومه فائده دراورسوله ـ

نـو چی مـوژ ده کـفـر پـه غـلامـئ کـی تـردے حده رسیدلی یو چی خپل مسلمانان ورورواوخپله مسـلـمـانه خورده یو څو ډا لروپه بد ل کی کفاروته حواله کؤاووژنویه بے شمیره سربازان نن ده هم دے پا کستـان ده لاسـه دګوا نتا نا موپه جیلو نوکی وختونه تیروی ، بے شمیره علماء اومدار س یه ده امریکے پـه اشاره سره له خاوروسره خاوری کړل نوبه بیاده مسلمانانوراج پرکافرانو څنګه راشی اوولی به نه یوپه ذ لة کـی چی نن هم زمو ژ محا فظینودعراق پرمسلمانانودامریکے ده خوشالئ دپاره قیامت صغریٰ جو ړ کړئدئے ـ

نوکه مسلمانان دامحتاجه اوده سرتپټئ جوندپریژدی خپل صناعتونه اوخپل تجارتی کردارونه پخپلو ملکی تصرفاتوکی اولګوی نوده دنیاټول کفاربه ان شاء اللّٰه ده مسلمانانوغلامان وی نن ټول څیز ونه ده مسلمانانودی مثلاًلکه تیل شوخواستعمالوی یه کافران اوامریکه ـ

دریم صفت :ـ لم یلدولم یولد !

ده اللّٰهﷻده نسـب سلسله نشته نوپدے صفت کی اللّٰه ﷻ ده قومیت اوعصبیت ده پریخو دلو درس را کوی چی فی الحال زموژ مبحث هم دئے اونن صباقومیت اونیشنلزم ده جمهوریت پیداواردئے اوغـلا مـی هـم ده جمهوریت پیداواردئے ، امارت اسلامی افغانستان ده نوری دنیاپه لحاظ سره لژ محد

ودکسان دی خودامذکوره درے واړه اوصافه پکی موجوددی نوزکه یده امریکے بابا شلوارورخراب کړوا تفاق هم پکی شته الحمدلله الله ﷻ دے برقراره لری ، خودی اواستغناء هم پکی شته ، نه یده روس غلا می او منله نده امریکے ، اوخپل ملکی اشیاء یه دخپل ملك په ترقی کی مصروفه کړیدی له دومره معر کواو جنگونوباوجودیه نه له یوملکه قرضے اخستے دی نه چاته محتاجه دی نوزکه الله ﷻ ده امر یکے پر نگه قوت ده دوئ په لاسونوسره ریزه ریزه کړواوپرد نیا بیاده دوئ راج راروان دئے نو چی کله په مسلمان قوم کی اتفاق راغلوخودی اواستغناء راغله خیلئ اوزئی پکی ختمی شوے نوپرڅلورم نمبر بیا " **ولم یکن له کفواًاحد** " دئے ده دے دامطلب دئے چی دے قوم ته به الله ﷻ داسی راج ، دباؤ، عزت، بادشاهی ، اوحکمرانی ورکړی چی دنیابه ورته حیرانه وی اومثل بے دنیانشی پیشولئ ده :

حارث اشعری ؓ نه روایت دئے چی " قال رسول اللّٰه آمرکم بخمس باالجماعة والسمع والطاعة والجهادفی سبیل اللّٰه وأنه من خرج من الجماعة قیدشبر فقدخلع ربقة الاسلام من عنقه الاان یراجع ومن دعابد عو الجاهلیة فهو من جثیٰ جهنم وان صام وصلیٰ وزعم انه مسلم " (روا ه احمدوترمذی ، مشکوٰة رقم : ۳۵۱۴)

نقصان یوولسم وه نااهلوته عهده اومنصب سپارل

وه نااهلوته یوکارسپارل ، نااهله پرکرسئ اوعهده کینول او (حضرت مفتی صاحب) فرمایی چی په جمهوریت کی که ملا، عالم اولوئ شیخ الحدیث ولاړوی نو هغه هم نااهله دئے زکه چی یوخوده په کفری ، شرکی ، طاغوتی اوجاهلی نظام کی حصه اخستے ده اوبل وه دے ته نه گوری چی زماله علمه با وجوددوئ ماله ډمی ، فاسق ، فاجر، لوطی اوزانی سره برابره وی نوله ده سرده خپل علم قدراوغم نشته زکه یه عالم هم نااهله دئے جاهل خودئے جاهل ، اوخلافت ، صدارت ، امارت اوحکمرانی یو اما نت دئے اوچی داامانت ضائع شویعنی نااهله حکمران شوبس داده قرب قیامت لویه نخه ده د نبی ﷺ نه یوه اعرابی تپوس اوکړو چی اے دالله رسوله ﷺ " متیٰ الساعة " قیامت کله دئے نونبی ﷺ ورته او فرمایل چی " اذاضیعة الامانة فانتظر الساعة " چی کله امانت ضائع شوبس بیاده قیامت انظارکوئ اوپه یوبل روایت کی راځی چی " اذاوُسِّدالامرالیٰ غیراهله فانتظر الساعة "

کله چی امانت نااهلوته حواله شی بس بیاده قیامت انتظارکوئ ، اودنااهلوډیری علامے دی خودوه [۲] علامی په قرآن کی الله ﷻ ذکرکړے دی ،

﴿ فخلف من بعدهم خلْفٌ اضاعوالصلوٰة واتبعواالشهوات فسوف یلقون غیاً ﴾ (مریم : ۵۹)

لمنځونه ضائع کول اوشهوت پرستی داده نااهلوعلامے دی اوپه جمهوریت کی دادواړه علا

مـے بطریق اکمل وجودلری نور به پر یژدومشران اوحکمرانان اوډکتیټران یه لمانځه ته ورزش وایی چی ځومره لوئ خروی هغه به هغومره ده لمانځه نه ناخبره وی سورت اخلاص به نه ورله ورځی دملك رحمان اواعتزازعلی په شانتے خلګ دریادکړئ اودوئ به لویه عهده ور کړے وی دااوسنئ خرعمران خان به پریژدوسابقه حکمران نوازشریف ده لمانځه تپه وهلے ده لمونځ ور له ورتلو چی دوئ شانه بشانه ورسره ولاړؤاواوس یه له لور" مریم نوازی " سره اوژه په اوژه ولا ړدی بس ګر سره یه لدے ښځونه قسمت شوئدئے ده بے نظیری سره هم ده دوئ ملګری وه اوس یه له مریم نوازی سره هم ښه ګرمه کړ ے ده اوله هغوښځوسره یه صحبت وی چی نبی ﷺفرمایلی دی ده هغو ئ په حق کی چی " کاسیاة عا ریات " جامے بے اچولے وی خوبیابه هم بربنډی وی اوداسی ښځی به جنت څه کو ے ده جنت بوئ بے لیاپرپوزونشی را اوده شهوت پرستئ په هکله بے څه اووایو ؟ عیا ل را چه بیا ن

چی په کوموشرابونو ، کبابونو، زناکارئ اولواطت کارئ کی مبتلاء دی په یوروایت کی نبی السیف ﷺفرمایلی دی چی :

" أنَّ اللّٰه لایقَبضُ العلمَ انتزاعاًینتزعُه من الناس ولکن یقبضُ العلمَ بقبض العلماء حتّٰی اذالم یَبقِ عالماً اتخذ االناسُ رؤ ساًجُهَّالاًفسئلو افافتَوُبغیرعلم فضلو اوأضلوا " (متفق علیه عن عبداللّٰه ابن عمرؓمرفوعاً)

نوخلګ به سرداران اوجاهلان خپل مشران اورهبران اونیسی اوله هغوئ به سوالونه کوی او هغوئ به بغیردعلمه جوابونه ورکوی پخپله هم ګمراه وی اونورهم ګمراه کړی ، لدے نه دا هم معلو مه شوه چی بغیرده علم نه فتویٰ ورکول یامسئلے آیتونه اواحادیث نبویه ﷺبیانول دادګمراهئ سبب دئے ، (حضرت مفتی صاحب)فرمایی چی بے ځایه مفتیان ده ځانه مه جوړوئ چی چاخبره نه وی کړ ے تا سو بیاله مخه فتویٰ پرے اولګوئ زکه چی کتابونه لیکی " من افتابغیر تعَمُّدفقدوقع فی محَرَّم کبیر " بلکه لاادری اووایه چی ماته ده دے مسئلے پته نشته نوپدے سره ستاڅه نقصان کیژی علم کلی خوا نسان ته ندئے حاصل اونه علم ده جزئیاتونوم دئے بلکه " من قال لاادری بمالایدری فقداقتداء فی الفقه باالنعمان " څوك چی په یومسئله نه وی خبراوووایی چی ماته ده دے متعلق پته نشته نودا کس په حقیقت کی په امام ابوحنیفهؒ پسی روان دئے دهغه صحی مقلددئے ، زکه له هغه نه ده څلورو مسئلو تپوس اوشوده ورته اوویل چی ماته پته نشته اود " امام مالکؒ " ده شپژدیرش مسائلو متعلق او ویل چی ماته پته نشته ـ

اودجمهوریت پرجوازفتویٰ ورکول یاداسلامی جمهوریت په شانتے تأویلات کول اوده جواز چترئ ورته پیداکول دا هم ده " فضلو اوأضلوا " په زمره کی راځی اوغټ غټ شیخان پدے مصیبت کی

اخته دی لکه ده جامعة الاظهرمدرسے شیخ الحدیث دئے " شیخ زرقاوی " هغه هم ده دے فتویٰ ور کړ ے ده چی ښځی په سنیماکی کارکولئ شی مثلاً ټکټونه وغیره ورکول ، اود " شیخ عبدالله ابن باز " خبره خو موژذکرکړه چی دعرفات پرغونډئے ده پیغمبراسلام ﷺ ده خولے مبارکی ها آخری خطبه وا یی نو هغه هم وایی چی ډیموکریټ اسلام دی جوړشی اودتقارب ادیان په کانفرنسونوکی پیش پیش وی اووایی اسلام امن غواړی اسلام دا سی امن غواړی چی تاسوده یهودواونصاریٰ ؤ سره پریوه پلیټ فارم کینوی ده تقارب ادیان په کانفرنس کی یه ویلی ؤ چی الله ﷻ دامبارك آوازده مکے ده جوارنه اوچت کړو " لا حو ل ولاقوة " داده اهل سعودمفتی دئے هاشاعرډیرښه ویلی دی چی ، چوں کفر بر خیزد زکعبہ کجا ماند مسلمانی

نقصان دوولسم دمالی لالچ پربناء ده امیدوارانوبے ځایه پاکی بیانول

دمال ده لالچ دوجهی د امیدوارانواوعهدیدارانوبے ځایه پاکی بیانول اوبے ځایه مدح تعریفونه یه کول ، په شعرونوکی یه تر آسمانه خیژول ښه ده ډمتوب مرداره زنده ګی بے تیره کړے وی ټول جوندکی بے چیرته ده خیریوکارهم نه وی کړئ خو چی کله اوټونوته اودریژی نوبه قسم قسم القابات ور سره او لیکی چی " بےداغ ماضی،نڈرقیادت،نوجوان قیادت،محسن وطن،ترقی قوم،شیربلوچستان،فخرپارلیمان،قائدملت،امام سیاست،مجاہدملت،استاذ المجاہدین "

کده یوصفت لائق نه ؤ هم نودوئ به وایی چی زموژده مشرداصفت دئے او داصفت پکښے دئے ټوله زندګی بے ده جهاداومجاهدینوپه خلاف راتیره کړے وی دوئ به ورته وایی " مجاہدملت،استاذ المجاہدین " اوداده یهودوصفت دئے " مولانااالیاس ګهمن صاحب " هم په یوبیان کی ده " افضل الجها دکلمة الحق عندالسلطان جائر " متعلق ویلی دی چی ده هرجلوس اوجلسے بیان ته افضل الجهادنشی و یل کیدئے چی پرکوم بیان باندی پروټوکول ورته ملاؤشی هغه تبه هم افضل جهادوایی اوبیایه په دلیل کی هم داآیت پیش کړئ دئے چی :

﴿ لاتحسبن الذین یفرحون بمااتوا ویحبون ان یحمدوا بمالم یفعلوا ﴾ (آل عمران : ۸۸)

" چی یوکاردوئ کړئ نه وی خونسبت یه ځان ته خوښه وی چی خلګ اووایی چی داکارفلانی کړئدئے "

اوبیاده علماؤپه جامه کی ده پیسوده پاره ودے اوټونوته اودریژی غریب ملابه وی لیکن چی او ټونوته اودریژی اوکامیابه شی بیایه بنګلے اوعمارتونه ، دوکانونه ، پلازے ، قسم قسم قیمتی قیمتی

ګاډ ی دابه ورسره وی ده اسلام په نامه سره خپل کور آبادکړی اوخپل جیب ډك کړی فقیراوناداره کس به وی بیابه د ه جائیداداومحلاتو خاوندجوړشی ، *عیاں راچہ بیان*

حالانکه امارت وزارت اوحکمرانی داخویوعهددئے ده اللهﷻ له طرف نه زکه چی قرآن وایی :

﴿ ان الذین یشترون بعهداللّٰه و ایمانهم ثمناقلیلااولٰئك لاخلٰق لهم فی الآخرة ﴾ (آل عمران : ۷۷)

اوده داسی خلګوده پاره اللهﷻ څلوروعیدونه بیان کړیدی ، اودانورللوپنجوبه بیاده یوے ډا نګے ، برمے ، شمسئ ، تمبے ، یاتا سمبرده پاره یاده یونوروڅه خاورده پاره بے ځایه نمونه ورکوی چی دااوس یو نوئ ځوان اویونوئ قیادت راغلئ دئے نوجوان قیادت دئے یافلانئ مولانا، مفتی ، قاضی یا شیخ الحدیث صاحب به تاسوله دااوکړی هابه اوکړی نوده پیسویانورلالچ ده وجهی نه به پدے خلګو پسی نختئ وی بیاکه یه څه خاوری ورکړے نوتردے امیدواربه بیابل لوئ مفتی متقی اوپرهیزګاره نه وی پردنیا، مګر کیه هاده ده آرزونکړه ورپوره بیابلی پارتئ ته ځی اودبل چاپلوسی به کوی اوترهااولنی کس به بیابل خبیث نه وی په دنیاکی اووایی به چی زه خونه وم خبرداخوشرابی ؤ، پیسے یه خوړلے دی نوته خو هم د ه هم دے پیسوده پاره ورسره وے ته نه وی ګناهګاره اوهغه ګناه ګاره شو، نوبیابے غیبتو نه کوی اوده دا سی خلګو متعلق اللهﷻ فرمایی چی :

﴿ و من الناس من یعبدو اللّٰه علٰی حرف فان اصابه خیرن اطمأنَّ به و ان اصابته فتنة ن القلب علیٰ وجههٖ ﴾ (الحج : ۱۱)

نو هاامیدواربے خدمت کوی پیسے به ورله ورکوی خولیکن چی یو ځل فنډپرے بندکړی بس بیابه کنځلی کوی ، یابے یو ثادر ګړئ ، ساعت اویوموبایل ورکړئ وئ بس دئے سورشین ترختلئ وی چی فلانئ زنده باداوفلانئ زنده بادپیغمبرؑ فرمایلی دی ،

" عن ابی هریرةؓ قال : قال رسول اللّٰه ﷺتعس عبدُالدینارو عبدالدرهم " (بخاری)

اللهﷻ دی هلاك کړی هغه کس چی څوك ده دیناردراهمواوپیسو غلام وی وفی روایة " وعبد الخمیصة وعبدالقطیفة ان اعطی رضی و ان لم یُعط سَخِط تعس و انتکس رأسه و اذاشیك فلا انتقَش "(بخاری اول باب الحراسة)

اوهلاك ده وی هغه کس چی څوك ورله یو ثادریا چغه ورکړی نوبیاخوشاله وی ، کے څه خاور ی ورله ور کړے بس بیاده خپل مالك اومشرصفتونه کوی اوکے څه ورله ورنکړوبس بیاکے خپل ور ور ؤنو هم به ترے مخالف وی بس ځی به اوپه بل تنظیم کی به شمولیت کوی ، داکس دی هلاك شی اوده ده سردی خکته شی ، اوچی کله ده ده په لاس یاخپه کی ازغئ لاړشی نو هغه دی لده نه نه اوباسلئ شی

یعنی دا سی کس دی همیشه ده الله ﷻ له طرفه په مصیبت اوعذاب کی مبتلاء وی ، اوله " حضرت سعدابن ابی وقاصؓ " نه روایت دئے چی نبی ﷺاوفرمایل " لاتقومُ الساعة حتّٰی یخرجَ قومٌ یأکلون بألسنتهم کما تأکل البقرة بألسنتها" (مشکوٰة)

" قیامت به ترهغه وخته پوری نشی قائم چی ترخوداسی قوم نه وی راغلئے چی هغه به خور اك کو ی پخپلوژبو سره لکه څنګه چی غواګانی خوراك کوی په ژبوسره یعنی ده حلالواوحرامو فرق به نه کو ی اوپخپلوژبوسربه ده خلګوتعریفونه کوی اودا بے ده مال ګټلوسبب اوذریعه وی " (ارشاد الطا لبین ص : ۳۴۴)

نودانن صباشاعران ، نعت خوانان ، اونظم خوانان حضرات چی یوده بل ده مدحوپه وجه سره تړ ډیانی او پیسے ورکول کیږی نودوئ خپل ځانونه پخپله ده دے روایت مصداق ندی ګرځولی ، اوله ابو هریرةؓ نه مرفوعاًروایت دئے چی نبی ﷺاوفرمایل ، " یأتی علیٰ الناس زمانٌ لایبالی المرأمااخذمنه امن الحلا ل ام من الحرام " (مشکوٰة ، ارشادالطالبین ص: ۳۴۴)

پرخلګوبه داسی زمانه راشی چی ده دے پروابه نه کوی چی ماته کوم شئ رارسیدلئدئے آیا دا له حرامودئے اوکه له حلالودئے بس صرف لاس رسول به وی چی لاس کی راتلو هغه به حلال وی او چی په وس اوطوان کی نه راتلو هغه به حرام وی ، اوماته هم ډیرواوویل چی راشه یواسلام اسلام نشته بس لاس رسیدل دی اوپه یوبل ځائے کی نبی ﷺفرمایلی دی ، " لیأتینّ علیٰ الناس زما ن لا ینفع فیه الاالدینارو الدرهم "(عن ابی بکربن ابی مریمؓ مرفوعا) اوفرمایی" بادروا باالاعمال فتناً کقطع اللیل المظلم یصبح الرجل مؤمناویمسی کافراویمسی مو ٔمناو یصبح کافراًیبیع دینَه بعوض من الدنیاان لکل امة فتنة و فتنة امتی المال " (مشکوٰة ، عن کعب ابن عیاضؓ مرفوعا)

" د فتنوده راتلونه مخکی په اعمالوکی زروالئ اوکړئ څنګه فتنے به وی نو نبی ﷺوایی چی ده تکی توری شپی په رنګه فتنے به وی سحربه سړئے مسلمان وی اوماخام له به کافروی وبا العکس علماء بده یوڅه خاوروپه بدل کی خپل دین خرڅه وی اومسلمانان بده یوڅوپیسوپه عوض کی ایمانونه خرڅوی " نوالله مودی حفاظت اوکړی نن صباډیرخلګ ده هم دے مال اوجائیداد ده وجهی نه ګمراه شو ، او پیغمبرﷺفرمایی چی " من کانت الدنیاهمَّه فرق الله شملَه وجعل فقره بین عینیه ولم یأتی من الد نیا الا ماکُتب له و من کانت الآخرة همَّه جمع الله شمله و جعل غنٰه فی قلبه و اتته الدنیاو هی راغماً "

" دکوم قوم مقصداوهدف چی دنیااوګرځی نوالله ﷻ به ده داسی قوم اجتماعیت ختم کړی فقراومسکینی به ده هغوئ ده سترګوپه مینځ کی اولیکی چی وینے نوبه اوګئ وی ، اودنیاچی دهغه

په مقدرکی ځومره لیکلئ شوے وی هغومره به ورکو ل کیژی۔ اودچاچی دنیاوی زندگی ده کفایت و ی اواصل مقصدیه آخرت وی نواللّٰه ﷻ بے اجتماعیت برقراره اوساتی اوزړونه بے غنیان اوماړه کړی ، اود نیابه په ذلت اوخړوالی سره ورته راځی " نولدے جهی په بل روایت کی نبی ﷺفرمائی چی کله اللّٰه ﷻ دنیاپیداکړه بیایه تپوس ترے نه اوکړوچی ته څوك یی اوځه څوك یم نودنیاورته اوویل چی ته ز مارب یی اوزه ستاوینځه یم نواللّٰه ﷻ ورته اوویل " من خدمك فاستخدمیه ومن خدمنی فاخدمه " څوك چی ستاخدمت کوی نویه خپل خادم جوړکړه اوڅوك چی ځماخدمت کوی یعنی ځمااطاعت کوی نو ته د هغه خادمه شه اودهغه خدمت کوه اللّٰه ﷻ دی موژهم ده خپل دین خادمان جوړکړی۔

نقصان دیارلسم دالله درضاپرځائے دمخلوق درضاکوشش کول

امیدواران بده خلگوده رضاکوشش کوی چی دوه نیم کارونه یه کړی وی هغه به همیشه یادوی چی ما ستاسوده پاره هسپتال منظورکړو، بجلیئ می درته راوستله ، ستاسومحلے اوکوڅے ته می دا کاراو کړ و هاکارمی اوکړونوده جمهوریت مقصدده اللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺرضانه وی بلکه ده دوئ مقصدده خلگوده رضا وی چی خلگ رانه راضی شی اوتونه راکړی کامیابه می کړی اوپدے باره کی اللّٰه ﷻ فرمایی چی ، ﴿ یحلفون لکم لترضوعنهم فان ترضواعنهم فان اللّٰه لایرضی عن القوم الفٰسقین ﴾ (التوبه : ٩٦) اوپه یوحدیث کی نبی الملاحم ﷺفرمایی چی ، " من ارضی الناس بسخط اللّٰه سخط اللّٰه علیه و ا سخط علیه الناس "

څوك چی اللّٰه ﷻ خفه کړی یعنی هغه ناراضه کړی اوخلگ خوشاله کړی نواللّٰه به ترے نه نا راضه شی او خلگ به هم ترے نه نارا ضه شی ، نودوئ هم ده خلگوده رضاده پاره ریاکاری هم اوکړی چی څه یه کړ ی وی هغه ټول په اوبویوسی خولدے نه باوجودبیا هم ده خلگوده تهمت نه نشی بچ کید ئے مثلاً کیه هسپتال سازکړئے وی نوخلگ وایی ده هسپتال په باره کی ده ته لس کروړه پیسے ور کول شوے وے پدیکے ده په شپڅکروړه هسپتال جوړکړواوڅلورکروړه یه ځانته اوگرځولے اوپه فلانی فنډکی یه دومر ه پیسے اووهلے الغرض خلگ بیا هم نه وی ترے نه راضی " ومن ارضیٰ اللّٰه بسخط النا س رضی الله عنه وارضی الناس عنه " اوڅوك چی اللّٰه ﷻ رضاکړی ده خلگوپه خفگان سره یعنی ده اللّٰه ﷻ ده ر ضا وا لاکارونه کوی بیاکه خلگ ترے نه خوشاله کیژی اوکه خفه کیژی ده خلگوپروانه کوی ، نوبه اللّٰه ﷻ هم ترے نه راضی شی اوخلگ به هم خوشاله شی (حضرت مفتی صاحب) وایی چی که نن موژخلگ ده اللّٰه ﷻده رضاده پار ه خفه کړی دی خوصباله که څوك جوندی ؤنوبے اووینی چی

خلګ به له مجاهد ینو خوشاله وی ، اوزموژمقابل طبقے ده خلګوده رضاده پاره رب خفه کړونو خلګ به هم ترے نه ناراضه کیژی ان شاء اللّٰه العزیز۔

نقصان ثوارلسم داوټونودحصول ده پاره دوکے کول اودروغ ویل

ده اوټونوده حصول ده پاره خلګ دوکه کول اودروغ ورته ویل ده دروغووعدے ورسره کول ، چی که تا سو زه کامیابه کړم نوبه زه ده دے خپل ملك خداداد،ده پاره دااوکړم هابه اوکړم خو چی کامیابه شی بیابه هیڅ هم اونه کړی ؟

(حضرت مفتی صاحب) واچی ده جمهوریت مثال ده مسجدضرارپه شانتے دئے تاسو غو راوکړئ اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ والذین اتخذوا مسجداًضراراً ﴾ (التوبه : ۱۰۷)

هغه منافقین چی هغوئ مسجداونیؤده مسلمانانوده ضرردہ پاره نوپه ظاهرکی جمات ؤ اوپه باطن کی ضررؤجمهوریت هم په ظاهرکی آزادی ده اوپه حقیقت کی ضرردئے ظاهراًاسلام هم پکی چلید ئے شی خوپه حقیقت کی ضرردئے اسلام ته " وکُفراً " اوپه هغه جمات کی کفرؤجمهوریت هم من و عن سرتاپائے کفرکفردئے " وتفریقاًبین المؤمنین " هغه هم ده بے اتفاقئ اواختلاف نمونه وه اوپه جمهوریت کی هم پارټیانی اوتنظیمونه دومره ډیرشو چی اوس نمونه ورختم شو چی په څنګه نامه خپله پارټئ مسمیٰ کړی "وارصاداًلمن حارب اللّٰه ورسوله من قبل "

جمهوریت هم ده کفرمورچه اوخزه ده زکه چی په کومو ملکونوکی دلژوخت ده پاره جمهوریت معطل شی نودوئ فوراًبیامارشله قائمه کړی او اقتصادی پابندی اولګوی اوده دے مورچے په واسطه سره دوئ په نوروملکونوکی مداخلت کوی ، اوده مختلفو ذهنوخلګ پکی موجوددی ده روس پکی ده خپل ذهن مګلری دی دامریکے پکی دخپل ذ هن ده بر طانیے پکی ده خپل ذهن کسان شته اوکارورله کوی اوس ده مسجدضرارده خلګوصفت جمهوریانوته راواړه وه " ولیحلفن ان اردناالاالحسنیٰ " اودوئ به هم یوده اسلام په نامه رااوچت شی چی اے قومه قسم می دی په اللّٰه سره وی که زمابل مقصدوی بے لدے نه چی دامملك ده اسلام پرنامه آزاد شوئدئے اواسلام پکی نشته نوموژده نفاذشریعت ده وجهی اوده اللّٰه ﷻ ده دین ده خدمت ده وجهی پد ے جمهوریت کی حصه اخستے ده اوستاسوپه خدمت کی لګیایونوزموژ مقصددادئ چی ، اللہ کی زمین پراللہ کانظام

بل به وایی چی له ماسره خپلی پیسے ډیریدی زه خپله مالداره سړئ یم ده جائیدا داو ما ر کیټو

نوخاوندیم اودومره پیسه راسره ده چی پاکستان زه یوکال په خپلوپیسوسره چلولئ شم نوله ماسره پسے شته خو زه ستاسوده خدمت ده پاره ولاړیم اوټونوته اوده دے ظالمانوپه مقابله کی اودریدلئ یم چی پنځه کاله یه حکومت ؤخپله یه دومره بنګلے جوړی کړے پیسے یه اوخوړلے خوقوم اووطن لره یه یوخدمت هم او نه کړو، په خوله به وایی چی زه څنګه اسمبلئ ته داخل شم نوبه اسلام راولم " واللّٰه یشهد انهم لکٰذبون "

نبی ﷺ فرمایلی دی چی ، " من غشنافلیس مناو المکرُو الخدیعة فی النار " (مشکوٰة ، عن ابی هریرة فرفوعاً)

چاچی موژته دوکه راکړه لیایه له موژسره په یو معامله کی خیانت اوکړونوداکس زموژله جماعت نه ندئے ،فریب جن اودوکه باز سړئے به په اورکی وی ، یوه ورځ نبی ﷺ بازارکی تیریدونویوه کس غنم خر څول لاندی لانده ؤاوده پاسه اوچ ؤنبی ﷺ چی کله لاس وردننه کړونواویه فرمایل چی " ما هٰذایاصاحب الطعام " داڅه چل په شوئدئے هغه ورته اوویل چی پردے باران شوئدئے نبی ﷺ ورته او ویل " افلا جعلته فوق الطعام حتیٰ یریه الناس " نوتابیاولی ښکاره نه کیخودل چی خلګولیدلئ وئ اود ا مذکوره بالاحد یث یه اوویلو؟

(مفتی صاحب) وایی چی داجمهوریان هم په ظاهرکی یوشانتے دی اوپه باطن کی بل شانتے دی او تر ټولونه غټ ده دروغو ځائے داپارلیمنټ اوداقومی اوصوبائی اسمبلیانی دی ، صحی سړئے به قطعاًدے بُتخانوته نشی وربلکه ده دے ده ورانه ولوکو شش به کوی اودایوه غټ a , m , n ملا پخپله اوویل چی داسمبلئ پردروازه لاالـه کمله لیکے شوے ده باهرلیکن دننه پکی داللّٰه اورسول ﷺ سره جنګ شروع وی ، نودوئ پدے بت خانواوپدے دروغجنو ځایوکی ناست وی حالانکه اللّٰه ﷻ ده عبا دالرحمٰن په او صافوکی یوصفت داهم بیان کړئدئے چی . ﴿ والذین لایشهدون الزورواذامرُّوابااللغومرواکراماً ﴾ (الفرقان : ۷۲)

داهغه کسان دی چی ده دروغومجالسوته نه حاضریژی اوده دروغودوکواوفراډوترټولونه غټ ځائے دغه پارلمینټ دئے اوداقومی اوصوبائی اسمبلئ دی اوپیغمبرؐ فرمایی " من اشارعلیٰ اخیه بامریعلمُ ان الرشدفی غیره فقدخانه " (ابوداؤد، مشکوٰة)

چاچی خپل ورورته ده یوخیزپه باره کی مشوره ورکړه اوده ته داپته وه چی دده خیراوکامیابی پدے کارکی نشته اوده ته مصلحت ده دے نه په غیرکی دئے خوبیایه هم غلطه مشوره ورکړه نودے کس هم خیانت اوکړو۔

دانـن صباعلماؤده امة له ځوان نسل سره خیانت نه کوی خصوصاًله طالب علمانوسره زکه چی په هغو ئ کی خامخاداسلام ده نفاذله جهاد ، اوله دشمنانونه ده انتقام اخستلوجذبه وی اوداجذبه دوئ په زنـده بـادمـرده باداوده یوڅوبیرغونوپه سیزلوسره ورختم کړی اوبیاوایی ورته چی تاسوخوطالبان یئ فی الـحـالـه تـاسـومـه ځئ جهادته ، پرتاسوده جهادپرځائـے علم حاصله ول مطالعه کول دالاز می کارونه دی نـودوئ د ه پیـغمبرترشاگردانوده اصحاب صفه ترطالب علمانونه زیات دی پرهغوئ جهادؤاوپراوسنی طالبانو نشته حالانکه ده هغوئ په باره کی راځی چی " کانوایخرجون فی کل سریة بعثهارسول اللّٰه ﷺ"

غـز وه هـم نـه بـلـکه په هره سریه کی به مو جودؤنودوئ پدے سیاست سره ده ځوانی طبقـے دا جهادی جذبه ور مفقو ده کړے ده بلکه مولاناده یوسوال په جواب کی صراحتاًویلی دی چی کوموقو تو نـوبه خلگ د هشتگر د ئ ته تیاره ول جمعیت علماء اسلام ډیرخلگ لدے دغه نه راواړه ول نولدے نه مـعلومه شوه چی ده جمعیت علماء اسلام مقصدصدعن سبیل اللّٰه دئـے لهٰذاداکارکه سیاسی علماء کو ی اوکیـه ده مـدر سـو مـدرسین کوی دالدے ځوانانوسره خیانت دئـے ، نووایی به چی تاسواوتهونه راله را کړئ نوبه زه اسلام راولم که می اسلام رانه وستودفا ع خوبـے اوکړم نوچی داسلام وجودنشته بیادفا ع ده څـه کـوے هغه د فا ع یه هم او نه کړه حقوق نسوان بل ترے نه منظورشوبیایه اوویل چی ده مدارسو او مسـاجدو تحفظ به کؤ هغه یه هم ورله وران کړل دسوات مسجدونه مدرسے یه تولی ده خاوروسره خا ور ی نکړے ـ

بیـایه اوویل چی ده مجا هدینوتحفظ به کؤنواپریشنونه هم اوشواوده دوئ په دسخط سره او شو نـوورور ور پـر تـنـزل راروا ن دی لکه چی مشرکینوبه اول خپل بتان له خدائـے سره مماثل اوبرابرگنړل بیا چـی پـه دلا ئـلـو کی راگیرشو چی دابتان خو ده خدائـے سره قطعاً نشی برابریدئ نوبیایه اوویل چی ده قر ب الٰهی ذریعه خوبه شی کدا هم نشی نو شفعاء خوبه شی ، ده پختومثال دئـے چی یوه کس ترکانړله یو لـرگئ راوړو چی لدے نه ماته جُغ (کجاوه) جوړه کړه هغه ورته اوویل چی داوړوکئ دئـے جغ نه ترے نه جوړیژی ده ورته اوویل ځه منړه جغنډئـے خوبه ترے نه سازشی نوخلگ ترقی کوی پرمخ ځی اودوئ ور ځ په ورځ ورو ور وخکته پرتنزل رارو اندی ـ

نقصان پنځلسم دوخت ضیا ع

پـه انتـخـابـاتـوکـی بـه هـرکـلی ته روان یی کوڅه په کوڅه به گرځـے ، خصواصاًطالبان اوقاریان

سبقونه ، تکرارونه اومطالعے پریژدی بس په اوتونوپسی ګرځی ، په هره جلسه کی به حاضروی ، په هر جلوس مظا هره اوهره اجتماع کی به موجودوی بیاچی مدرسے ته راشی نویوه میاشت بے هغه ده جلسے او قائد ینوتصورات اوخیالات په ذهن کی وی اودهغوئ پرتقاریرواوشعرونوبه بحث اومباحثے کوی حالانکه ز موژاکابرین طالب العلم ته ده بیعت کولواجازت هم نه ورکوی زکه چی داوخت ده ذکرو نونه دئے بلکه اسباق به وائی په ذکرونوفکرونواومراقبوسره په سبوقونوکی خلل راځی نوده طالب علمئ په ز ما نه کی ده نفس ده تزکیه دتصوف په شان دعظیم الشان عمل جوازاکابرعلماء دیوبندندئے ورکړئے اوڅه معنٰی په جلوسونواوجلسوکی شرکت کول ده زنده بادمرده بادچیغی وهل ـ

ده دے مروجه سیاست پر موضوع باندی شیخ الحدیث شیخ زکریاؒ په خپل (الاعتدال فی مراتب الرجال المسمیٰ به اسلامی سیا ست) کتاب کی ښه مفصل بحث کړئدئے اوموژ هم رانقل کړئد ئے ـ اونبی کریمﷺفرما یلی دی چی پنځه څیزونه غنیمت اوګنړئ ترپنځوله مخه من جمله ده هغونه یودادئے چی " وفراغك قبل شغلك " فراغت اواوزګاری ستامخکی ترشغل اومصروفیت غنیمت اوګنړه نوده دے څیز و نونه دنیوی فائده شته اونه اُخروی اونه پدے طریقه سره اسلام راتلئ شی نیه اسلام ته څه فائده رسی بغیرده نقصان نه او تاسوخوپدے نیت سره حصه پکی اخستے ده چی اسلام تبه څه فائده پکی ورسی نولهٰذا که چاهم پد ے جلسواوجلوسونوکی څه قسم شرکت کړئ وی بس اسلام تیه هغه خد مت کافی د ئے پکارده چی نورپدے جمهوری نظام کی حصه وانخلی بلکه ده براء ت اعلان ترے نه اوکړی لکه چی ز موژپه اکابر ینوکی (مفتی حمیداللّٰه جان صاحب) علیٰ الاعلان ویلی دی چی ما هم پدے نظام کی حصه اخستے ده زه نوره توبه اوباسم اللّٰه دی زماداتوبه قبوله کړی نورتفصیل اکابرعلمائے دیو بند چی پرجمهوریت باندی کوم ردکړئدئ پدے عنوان سریه په اتمه حصه کی اوګوره ، اوبل " وشبابك قبل هرمك " (الترمذی ، مشکوٰة)

نوولی داقیمتی قیمتی ځوانی پدے عبث څیزونوکی ضائع کؤ (مفتی صاحب) واچی ز مو ژاستا ذ چی به کله ده دے آیت ترجمه کوله چی :

﴿ و یقول الضعفؤ اللذین ﴾ (المؤمن : ۴۷) نواوبه وایی ده زنده بادوالا هغوکسانوته " استکبرو ا انا کنالکم تبعاً " چی قائدین یه دی چی موژخوستاسوتائیدکولوستاسو حمایت موکولواویقیناًتکبروایی دیته چی " غِمطُ الناس وبطَرُالحق " خلګ ترځان حقیرګنړل اوحق ټکراوه ول حقه لاره نه اختیاره ول ده دو ئ مشرا نو هم ده اسلام ده نفاذده پاره دشریعت له طرفه معین کرده لارچی جهاددئے هغه یه پریښے ده او پردے کفری اوباطله لاره باندی رواندی بلکه دومره وردننه شویدی چی نن صباجهادته ناجائزوایی او

خپلـه و ضعی اوختراعی لاره کی شرکت فرض ګنړی ده جهادنه خلګ رامنع کوی اودے کفری لاره تیه برابره و ی ده دے ټولو خبرواثبات موژپه دلائلو سره کړئیدئ ده کتاب البطن نه داخبری نه کؤ ، په یوبل ځا ئے کی اللّٰهﷻ فرمایی چی :

﴿ و یقول الذین استضعفو اللذین استکبرو ا ﴾ (المائده : ۲)

اواوبـه وایی ده زنده بادوالا (دمدرسو طالبان) خپلو مشرانو اولیډرانوته " لـو لاانکم لکنامؤمنین " چی که چیرته تاسو مه وئ نوبه موژ له جمهوریت نه مبراء ؤمجاهدین به ؤ ؟ نوبس پررویونوبه رااووځی ځه چیغـی نـعرے به اووهی بیابه یو ځو حکومتی کسان ورله راشی چی بس ستاسو آوازاسلام آبا د یا امـر یـکے ته اورسی دوبس ده دوئ عبادت خانه هم داځایونه دی چی دیته یه آوازاورسیژی بس بیاخو شا له شی ځادرونه پراوګوراواچوی چی ځنګه تلی ؤده کورواومدرسونه هم هغه شانتے راشی ؟

دپـارلیـمنټ اواسمبلیانوپه شانتے کفری اوعبث ځایونواومحفلونو کی به ناسته ولاړه کوی نبی ﷺفـر مـایـلی دی " چی یو قوم هم دا سی نشته چی په یومجلس کی کینی په هغه مجلس کی ده اللّٰه ذکـر او یـا داونشی ، نوداداسی مثال لری لکه چی دوئ ده یومردار خره نه پاسیدواوهم دامجلس به ده دوئ ده پاره ده قیـامت پـه ورځ ده افسـوس اوحسـرت ذریـعـه وی " پـه موجوده پارلیمنټ اواسمبلیا نوکی ده اللّٰهﷻ یا د چیرته دئے بلکه ده اللّٰه ﷻ ده دوستـانوده زپلواواستیصال ده پاره منصوبے اوتدبیرونه جوړه وی ، او پـد ے کـی ده غیـراللّٰـه دقانون (جمهوریت) ده تقویت اوده قرآنی محمدی ﷺقانون دمستر دو الـی خبـری کو ل کیژی ، پرقرآنی اواسلامی قانون آئین اودستوربه شپژشپژمیاشتی بحثونه کوی چی داقـانـون او س مـوژنـافـذکړوپه خپل ملك کی اوکنه ده اسلامی نظریاتی کونسل په واسطه سره شپژزره اسـلامـی سفا رشات (یعنی شپژزره اسلامی احکامات) پیش شوترنن تاریخه یه نده منظوریئ پته شته اونده نا منظو رئ ـ

بهـرکیف مـوژله پکاره ده چی په هیڅ صورت کی هم ده دے کفری نظام حصه اونه ګرځواو که ځـوك مخکی ناخبره ؤنواوس دی لدے کفری نظامه ده برائت اعلان اوکړی . (حضرت مفتی صاحب) فـرمـایـی چـی والـلّٰـه بـا الـلّٰـه ثـم تااللّٰه چی کله هم طالبانواومجاهدینوپدے جمهوری نظام کی حصه وا خستـلـه نـودابـه ده دوئ ده ذلـت اوخسـران لـویـه عـلامه وی اوچی ده دے نظام په مقابله کی ځو مره په مضبوطئ سره ولاړوی نودابه ده دوئ ده کامرانئ اوسرفرازئ نخه وی نن مغرب ځومره زور لګو لئ دئے چـی افغان طالبان دی ده افغانستان ده حکومت حصه اوګرځی اومذاکرات ته دی تسلیم شی صلح دی او کـړی داز کـه چـی کـله طالبان ده جمهوریت حصه اوګرځی دوبس مغرب اویورپ فوراً په هغه ورځ خپل

مقصد او هدف کی کامیابه شوده طالبانوده شهیدانووینی اوداستشهادیانوقربانئ ټولی ده خاوروسره خاوری شو ے ، ده الجزائروالاحکومت ته اورسیدل پد ے جمهوری طریقه سره تاسویه حالت لژاوګورئ چی نن یه کوم انجام دئے فوج ورته راپاسیدواسلامی نظام یه ورختم کړواوخپل وضعی نظام یه پرے مسلط کړ و خواوس یه هم کامیابی پدے کی ده چی دویم ځل دی بیرته لدے مرتدحکومت نه بغاوت اوکړی ده نفا ذشریعت ده پاره دی خپله جهادی لاره اختیاره کړی قسم دئے چی اللّٰه ﷻ په ټوپك اوتوره کی ده فتحی رازایخیئدئ مغرب والاخو هم دیته ناست دی چی لژتاسوورنرم شئ لژبه هغوئ در نر م شی نوبس څه کارقطاربه سره برابرشی اواللّٰه ﷻ صریح فرمایلی دی چی :﴿ ودُّوا لوتُدْهِنُ فيُدهنون ﴾ (القلم : ۹)

نوداکوم جدیدډیموکریټ اسلام چی دوئ نن صباجوړه وی ده دے پیشنګوئی اللّٰه ﷻ مخکی کړے ده چی تاسوده اسلام په ضوا بطوکښی لژورسره نرم شئ نودوئ ستاسواسلام هم بیادرسره قبلوی ، او پخوانوکفاروهم نبی ﷺ ته داخبره اوکړه چی تاسوکله زموژبتانوته عبادت کوئ اوکله به بیا موژ ستاسوده خدائے عبادت کؤ آخریه ورته اوویل چی زئ زموژده بتانواوخدایانوعبادت تا سومه کوئ خو دایو کاراوکړئ چی زموژده خدایانو هتك مه کوئ بدی ردی پسی مه وایئ زموژپرخدایانوتنقیدمه کو ئ خو نبی کریم ﷺ ده دوئ داخبره ورسره اونه منله نوده اسلام تعلیمات دادی چی کفرته به کفروایے پر کفربه ردکوے اودوئ په کفرکی دننه اسلام راولی ده دے کفری وضعی اواختراعی آئین هم قائله دی دا آئین هم ورسره منی اواسلام هم منی حالانکه اسلام او جمهوریت دوه متضادادیان دی دوه دینونه پریوه ځا ئے نشی سره جمع کیدئے چی ته ده اسلامی قانون هم وفاداره یے اوده جمهور ی آئین هم وفاداره یے -

(شیخ خالدشهیدؒ) وایی چی پردے نظام ردکول داپردوئ ډیره بده لګی اوداپیغمبری مشن دئے دازموژ فریضه ده چی ده دے نظام کفربه منظرعام ته رااوباسوکه نبی کریم ﷺ له پخوانوکفاروسره ده مداهنت معامله کړے وئ ده هغو ئ ده بتانوده وفاداری حلف یه ورسره اخستئے وئ دهغوئ پر خدا یا نویه تنقیدپرے یخئ وی نوبیاصحی ده موژبه هم چپ پاتے شوخه به نه وایواوکه پیغمبراسلام ﷺ دا خبره ورسره نه وی منلے نوموژخوده پیغمبرﷺ امتیان یودهغه اتباع راباندی واجبه ده ده اوسنی علماؤ اتباع خونده راباندی لازمه اوبیاپه معصیت کی نولهٰذا چی کفرباالطاغوت کوئ بیابه موایمانونه قوی کیژی چی داباطل نظام دئے کفری اوجاهلی نظام دئے نوبیابه تاسوکامیابه یئ ان شاء اللّٰه العزیزده دے نظام کفرخوپرخپل ځائے دئے دے مفاسدواونقائصوته یه اوګورئ چی څومره ده ګندنه ډك نظام دئے

نـوپر دے خبره دوئ باقاعده تبصرے کوی چی طالبان به ځنګه په څه طریقه سره داجمهوری نظام قبول کړی زکه چے جمهوریت قبول کړونو اختلاف به لازماًپکی راځی اوده اختلاف په باره کی اللّٰه ﷻ فرمایی :

﴿ و لاتنازعوا فتفشلوا و تذهبَ ریحُکم ﴾ (الانفال : ٤٦)

ده مسـلمانانو قوت اووحدت په اختلاف سره ختم کیژی اوده اختلاف جړاوبنیادجمهوریت دئے قـومـی ډ لـی بـازیانی پکی شته مذ هبی پکی شته اوبیا چاده ځان ده پاره حنفی خدائے جوړکړئ وی چا دیـوبندی چی اوګورو فلانئ دیوبندی دئ اوسیاست کوی فلانئ ده ګیری والادئ اوسیاست کوی نو چی زه پـدے سیـاسـت کی وردننه شوم نو څه اوشو چابه شیعه خدائے جوړکړئ وی چاسلفی خدائے چاو ها بی چا بریلوی و غیره وغیره نودابے شماره خدایان په نیولی دی اواللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ ء أربابٌ متفرقون خیرامِ اللّٰه الواحدالقهار ﴾ (یوسف : ۳۹)

نـودوئ خـو هـم پـه تـحلیل اوتحریم کی ده خپلولیډرانو مشرانو اورهبرا نو خبرمنی اوداده هغوئ خدائی اور بوبیت منل شو (کمامرفی تفسیر آیت هٰذاأتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابأً)

هـغـه پـدے طـریقه سره چی جمهوریت کفردئے لیډران یه ورته اسلامی تاویل کوی نودوئ هم ورتـه اسلا می جمهوریت وایی ، ده قا نون سازئ حق ده اللّٰه نه ماسوابل هیچالره هم ندئے حاصل مشرا نـوداحق پـا ر لیـمنټ ته سپاری اودوئ یه ورسره منی جهادفی سبیل اللّٰه فرض عـین حکم دئے فی زماننا مشـران او قـائـد یـن یـه نـاجـائـزبولی اومجاهدین ده دین نمائده ګان اومحافظین نه ګنړی پدیکی دوئ ده خپـلـو مشرا نو تا ئیدکوی اوکیه تائیداوحمایت نه کوی نوبیاولی ده زنده بادچیغی پسی وهئ نوداوس ده خپلومشر انو عبادت نشونورڅه دی تفصیل موژکړئدئے هرځائے ندئے ده تفصیل ـ

نقصان شپاړسم بے ځایه خرچے لګول

بـعـض بیاداتاویل پکی کوی چی ده دے مثال داسی دئـے لکه چی سړئـے شیشی او هنداری ته اودریژی نوپه شیشه کی یه شکل راشی اویایه په اوبوکی شکل ښکاره شی ، ده دے خبری جواب دادئـے چی له شیشـے اواوبونه چی ته لژشانتـے سیډاوڅنګ ته شـے بیاستاشکل پکی ښکاری اوداشیشه چی ماته شی بیاستاشکل پکی ښکاری اوتصویرخوپه خپل معین نوم اومعین فورلډرسره محفوظ وی کیه

لس کاله وروسته راویستل او غو اړے نو هم یه راویستلئے شے اوده اوبو اوشیشے تصویراوشکل دغه شانتے وی دویمه خبرداده چی ده ډیجیټل تصویرده حلت فتویٰ هم چانده ورکړے اوپرحرمت باندی یه مستقل کتابونه لیکل شویدی ده ډیجیټل تصاویروپه نامه سره اوده ټول پاکستان د ه معتمدو مفتیا نو حضراتو اولویو لویو مدارسودسختونه پرے شویدی نوده تصویرحرمت په نص سره ثابت دئے کیه څو ك ده اباحت یاجوازتجویزپیش هم کړی بیا هم داقاعده ده چی کله دمحرم اومبیح تعارض سره راشی نوترجیح به حرمت لره وی ، بل له موژسردموجوده اکابرینوفتویٰ وی هم شته دنمونے په ډول سریوه دوے حوالے ورکؤ۔

دتصویراوعکس متعلق دحسین احمدمدنیؒ مؤقف

لـه هغـه نـه تپـوس شـوئدئے چی ، سوال ! حضرۃ والا کی بعض تصاویر اخبار میں آتی ہیں تو کیا اسطرح تصویریں کھینچوانا درست ہے.

جواب : میں خود اپنے علم وارادہ سے کبھی فوٹو نہیں کھینچوایا میری لاعلمی میں ایسا ہوجاتا ہے نہ میں اسکو جائز سمجھتا ہوں جولوگ ایسا کرتے ہیں وہ خود اسکے ذمہ دار ہیں. (مکتوب ج:۴/۲۱۴،فتاویٰ شیخ الاسلام ص:۲۰۳)

دتصویراوعکس متعلق دفتاویٰ حقانیه عبارت

سوال ! ایک شخص کسی مسجد کا امام ہے، چند دوستوں کے درمیان بیٹھ کر شوقیہ تصاویر بنواتا ہے اور پھر اس گروپ فوٹو کو بطور یادگار اپنے پاس رکھنے کے علاوہ دوستوں میں بھی تقسیم کرتا ہے جس سے یہ بات مترشح ہوتی ہے کہ گویا یہ عمل اسکے نزدیک جائز ہے، کیا ایسے امام کو امامت پر باقی رکھا جاسکتا ہے یا اسکو معزول کرانا چاہئے؟

جواب : بلاضرورت کسی ذی روح کی تصویر بنانا عندالشرع غیر مشروع ہے چاہے کیمرہ سے بنائی جائے یا قلم، تاہم ضروریات اس سے مستثنیٰ ہیں، بلاضرورت اسکا ارتکاب امور فسقیہ میں سے ہے، خاصکر جب کوئی امام اعلانیہ طور پر ان امور فسقیہ کا ارتکاب کررہا ہو، ان معاصی پر اصرار کے باوجود اگر اسکے معزول کرنے میں فتنہ وفساد کا اندیشہ ہو تو پھر بوجہ مجبوری اسکو باقی رکھا جاسکتا ہے، لیکن بہتر یہ ہوگا کہ کسی نیک امام کی اقتداء کی جائے، رسول اللہ نے محض قبلہ کیطرف منہ کرکے تھوکنے کی وجہ سے ایک شخص کو امامت کرانے سے روک دیا تھا۔ تاہم یہ شخص اگر توبہ کرلے اور اس کام کو گناہ سمجھتا ہو اور اس پر اصرار نہ کرتا ہو تو پھر اسکی اقتداء میں کوئی حرج نہیں۔ (فتاویٰ حقانیہ ج:۳/۱۴۲)

نقصان درویشتم تعاون علی الاثم والعُدوان

چی کوم کس ته دی اوټ ورکړونواوس چی دغه هرڅومره مظالم اوهرڅومره حرام کاریانی کو ی نو پد ے کی ستامکمله حصه ده ورسره اوده دے خبری اقراردوئ پخلوکتابونوکی پخپله کوی " مثلاً ووٹ کی شرعی حیثیت" په نامه سره چی دوئ کوم کتابونه لیکلی دی ، حکمران چی هرڅه کوی دوئ به ور سر

ه وی هیڅ قسم ردنشی پرے کولۍ حالانکه اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ وتعاونوا علیٰ البر والتقویٰ ولاتعاونوا علیٰ الاثم والعدوان ﴾ (المائده : ۲)

اوپه جمهوریت کی کده یو چاقائد، یامشراورهبرهرڅومره ظلم کولویایه ده دین خلاف ده جها داو مجا هد ینوپه خلاف بیانونه کول نوتنقیدخوپریژده چی باندی اویه کړی بلکه فاسدتأویلات به ورته پیداکوی چی لدے نه دهغه مراددانه دی بلکه دایه مراددی یا پدے خبره کی دهغه دامصلحت او دا سیا ست او حکمت دئے که هرڅومره ظالم اوجابرشخص وی هم دوئ به ورسره روان وی اوحما یت بے کوی حالا نکه اللّٰه ﷻ فرمایی چی :

﴿ ولاتر کنوا الیٰ الذین ظلموا فتمسکم النار ﴾ (هود : ۱۱۳)

دے ظالمانوته ورنزدے کیژئ لیاهم مه زکه چی ده دوئ په صحبت سربه تاسو هم بیااورمسه کړی ، " المرأمع من احب " ای فی دنیاو الآخرة ، چی په دنیاکی دی ده چاسره محبت ناسته ولاړه اوملګری وی نوپه آخرت کی بدی حشرهم له هغوئ سره کیژی !

(حضرت مفتی صاحب) فرمایی چی دوئ ده دے ظالمانوده مجالسونه نه منع کیژی نوفدائی پرے ور شی په دنیاکی اورپرے بل کړی هاده آخرت اوریه لیاپاتے دئے ، اوبیایه په اخبارونوکی ورکړی و ی چی داخویه بے ګناه عوام اووژل ، نوعوام داسی محفلو نوته ولی حاضریژی چی په هغو محا فلو او مجا لسو کی دقرآن اودمؤمنانوپه خلاف خبری کیژی اودوئ ورته لاسونه پرقه وی حالا نکه اللّٰه ﷻ لدا سی مجالسونه مسلمانان منع کړیدی اوفرمایی چی :

﴿ ولاتقعدوا معهم حتیٰ یخوضوا فی حدیث غیره ﴾ (النساء : ۱۴۰)

ددے اوتپونودافائده ده چی ده ځانه به خبرهم نه یئ اوعمل نامه به دی ده ګناهونونه ډکیژی زکه چی تاخو هغه ته اوتپ ورکړئ دئ هغه دی دخپل ځان نائب اووکیل جوړکړئ دئے ګواهی دی ور کړے ده نو ده دے خودغه مطلب دئے چی ته اوس څه کوی کده اللّٰه ﷻ ده قانون په مقابله کی خپل و ضعی قانون جوړه وے کده شرابوپرمټ ورکوے یعنی شراب حلاله وے ده سود په شانتے قطعی حرام څیزته قا نو نی جوازورکوے نوستاپدے ټولو څیزونوسره زه راضی یم اورضاباالکفرکفرده حالانکه دشریعت په مقابله کی بده اللّٰه ﷻ اودهغه درسول ﷺ نه علاوه بل دهیچاهم نه منے ۔

هادعبداللّٰه ابن حذا فهؓ واقعه خو به مویاده وی چی نبی ﷺ امیرجوړکړوپریو جماعت ده صحا به ؤنوده اور بل کړوبیایه صحا به ؤته حکم اوکړوچی اوس دے اورته وراولویژئ یعنی ځانونه وروا چوئ نوبعضواوویل چی ده امیر حکم دئے راځئ چی ځانونه وروارتؤاونورواوویل چی نه موژخودین اسلام

هم پدے وجه قبول کړوچی ده جهنم ده اورنه بچ شوبس داخبره نبی ﷺ ته رااورسیده هغه ﷺ اوفرمایل چی که مودے اورته ځانونه وراچو لی وئ نو ترقیامته به دے عذاب کی مبتلاء وئ بیایه اوفرمایل چی " لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق " طاعة نکر ه ده اوداقاعده ده چی کله هم نکره تحت النفی راشی نو فا ئده ده عموم ورکوی نو مطلب داشو چی دخالق په نافرمانی کی ده مخلوق ده اطاعة او فرمانبرداری هیڅ ګنجائش هم نشته نه په یوکارکی اونه په یو فعل کی اوپه جمهوریت کی په مفتك الذی کی ده یوه اوټ په ذریعه سره انسان په څومره ګناهونوکی برخمن ګرځی ؟

نقصان څلیرویشتم محدودوالئ دمدت حکومت په پنځه کاله کی

(۱) په جمهوریت کی چی دکومی پارټئ هم حکومت راشی نودهغوئ حکومت به تریوه محدوده او مقرره وخته پوری وی اوهغه مدت پنځه کاله دئے هرپنځه کاله وروسته ده ملك (ریاست) فکری او نظریا تی نقشه بدلیژی ، چی ده دے اثرده ملك پرهری شعبے باندی کیژی ، پدے درهمی بر همی سرچی مو ژده کمونقصاناتوسره مخامخ کیژوهغه پرچاباندی پټ اوپوشیده نه دی ده دے مثال تا سودیوبوټی یایوه ګل نه واخلئ چی که تاسوده یوے میاشتی یاکال یاورځی بوټئ اویاونه (درخته) صر ف دیولس منټه ده پاره رااوباسئ ده زمکی نه نوترسلوکلوبه هم بیاده هغه بوټی نه ونه اودرخته جوړه نشی دغه شانتے که څوك دغنمودانه هره ورځ دلته هلته کوی رااوباسی یه اولګوی یه نوټول کال کی به دادانه غنم اونه کړی نبه کمال ته اورسیژی۔

دویم مثال تاسوده خزی ده دردزه (یعنی دلنګون) نه واخلئ چی پدے سره کله خزی ته مرګ هم راشی اوکه مرګ وه رانشی نوبیا یه هم صحت بربادیژی ټول کال ده خزی په دماغ کی داخبره ګرځی چی آیا دے ځل به بچ شم اوکنه ؟ اوآیادامصبیت به په خیرسره سرته اورسی زبه جوړه شم اوکنه ، هم د غه شانتے معامله دعامو انتخابتوده هرپنځه کاله پس ملك په دردزه کی مبتلاء کیژی اوکله بیاپکی کیس خراب شی اوملك دوه ټکړے شی لکه چی ده ۷۱ء په انتخاباتوکی چی اوشول ، په مشرقی پا کستان او بنګله دیش سره بدل شوداجمهوریت موژته ډیره لویه تحفه راکړه۔

(۲) دویم داچی داخبره دیادساتلوده چی موژمسلمانان یواوده مسلمانانوچی چیرته هم حکو مت وی هغے ته اسلامی حکومت وایی اګرچی شرعی احکامات پکی نافذنه وی خوبیا هم دمسلما نا نوپه حکو مت سره یادیژی ، پدے حوالے سره زموژتعلق اور شته ده تیرواسلامی خلفاؤاو مسلما نانو با د شاهانوسره ملاویژی ، چی هغه موژپه تاریخی لحاظ سره قطعاً نشو هیرولئ ، اوس راشئ چی او ګور

وچی دهغو باد شاهانو مدت حکومت څومره ؤاوڅومره ځلی به انتخابات کیدل نوپدے باره کی :

اول حضرت عمرفاروقؓ لس کاله خلافت اوکړواوپدے لس کاله کی یه چیرته هم انتخابات ندی کړی که سل کاله جوندئے وئے نو هم به خلیفه ؤ ۔

دویم حضرت عثمان ذالنورین بن عفانؓ هم دوولس کاله خلافت اوکړوهغه ولی انتخابات نه ؤ منعقد کړئے ، اوپه آخرکی یه خپل ځان قربان کړوخولیکن ده دے شرعی خلافت نه اودحضورﷺ ده و صیت نه دستبردار ه نه شو ۔

دریم حضرت علی المرتضیٰ پنځه کاله خلافت اوکړوکه چیرته ترپنځوسوکلونوپوری جوند ئے وئ نوبه هم خلیفه ؤده اختلا فاتواوجنګونوباوجودحضرت عثمانؓ ده انتخاباتووالالاره اختیارنه کړه او شرعی خلافت یه پرے نه خودلو ۔

څلورم حضرت معاویهؓ شل کاله خلافت کړئدئے لدے نه باوجودهغه مسلمانانوپرانتخابا تو کولوباندی ندئے مجبوره کړئ اونیه دخلافت ده بیعت کولوپه وخت کی داخبره په منلے وه چی تا سو به صرف پنځه کاله خلافت کوئ بیابه نګران حکومت وی اوانتخابات به کیژی ۔

پنځم هارون الرشیدؒ هم تقریباً څلویښت کاله حکومت کړئدئے آیا هغه پدے دومره طویله مده کی انتخابات کړی ؤ آیاده حکو مت په حوالے سره موژترهغه ښه حکومت کولئے شو ؟ دحدیث شر یف مضمون دئے چی:

" کله ده دوؤ خلیفګانوسره بیعت شروع شی نو چی کوم یوپه آخرکی راغلئے وی هغه قتل کړئ "

اودیوبل حدیث مضمون دئے چی ؛

" کله ستاسودحکومت انتظام ده یوه کس ترلاس چلیژی اویوبل کس راشی تفرقه اوا نتشا رجو ړ کړی دخلافت امیدوارځان اوګنړی نودادویم کس قتل کړئ "

نقصان پنځه ویشتم دانتخاباتوپه دوران کی په مقابل کس پسی لعن طعن او کنځلی کول

حدیث شریف کی راځی چی :

" **سباب السلم فسوق وقتاله کفر** " یومسلمان ته کنځلی کول فسق دئے اوهغه قتلول یعنی د هغه مرګ حلال ګنړل دابیاکفردئے ۔ (مشکوٰة ص: ۴۱۱، مسلم)

په یوبل حدیث کی راځی چی دیومسلمان ورورغیبت کول داترزنانه هم لویه ګناه ده ۔ (مشکوٰ

ة ص : ۴۱۵)

داحدیثونه چی کله موژمدنظرکیگدواولدے نه علاوه نوروشرعی نصوصوته اوګورو نو تا سو تبه بیاپته اولګی چی جمهوریت دلعن طعن اوکنځلوپه میدان کی سودډیرکوی اوکه تاوان لژنظرورته او کړئ ـ

(۱) چی دوے یاتردوے زیاتی پارټیانی یاامیدواران (کاندیدان) دانتخاباتوورځوکی دجمهور یت میدان کارزارته سره رااووځی بیادوئ ته ده دنیاټولی خوبیانی پخپل ذات کی په نظروه راځی اوده د نیا ټولی خا میانی په مقابل کس یاپارټئ کی وینی داسی کنځله اوبهتان نشته چی پدے ورځوکی دی د ه دو ئ پر ستیج باندی نشی بیان ، ده خاندانی کمتری اوتذلیل نه واله ترذاتی نقص اوعیب پوری داټولی خبر ی په عامو مجموعوکی په جلسواوجلوسونوکی ده عوامو مخی ته بیانیژی ، حتیٰ چی ده میندواو خویندوکنځلو ته لیاسره اورسی ، شکل اوشباهت ، تګ وراتګ ، ویناکتل الغرض ته تخلیقی ساخته لیاده مدمقابل کس تذلیل اوشی ، چی شکل تیه اوګورئ ده بیزو(شادو) په شانتے رقص کوی ، بد کر داره د ئے ، غداردئے ، مکاراوعیاردئے ، ده ملك دشمن دئے ، ده اللّٰه دشمن دئے جنت پرے حرام دئے دوزخی دئے ، کاش چی انسان وئے داخوانسان لیاهم نه دئے ، چی کله په فلانی ځل تاسوکامیابه کړو نو بیاده یوپل جوړکړواودومره ناقص اوبیکاره یه سازکړوچی په دویمه ورځ بیامات شواوراپریوتو ـ

اوستا سوبجلئ یه غلاکړه بیایه فلانی ځائے ته منتقله کړه ، ځه به اوس دئے عام میدان ته راو لم اوبربنډه وم بے ، زه به اوس دارشوت خوراوده عامو مسلمانانوده پیسوو هونکئے ترآخری انجامه ر سوم ، کتا سو ما ته اوټونه راکړل اوځه موکامیابه کړم نوبیابه زه ده پیلتئ اوګندګئ داډ هیران سمندرته اوغورځوم ، او نوم نشان به ورله ختم کړم وغیره وغیره ـ

محترم قارئینو !اوس تاسوخپله اندازه اولګوئ چی داجمهوری نظام کوم طرفته روان دئے ده نورو حرا متوبیانوبه تاسوته ترمابنه پته وی موژمحض اشاره قدرے ورته اوکړه ، آیاپدے طرزسره صا لحه معا شره په وجودکی راتلئے شی ؟ داخوپخپله بدترین فسا ددئے چی کوم خلګ کټرجمهوریان دی په زړونواوجذباتوکی یه غیرت نه وی هغوئ خوده جملوموازنه اوکړی اوخوشحاله شی ، اووایی چی دا خو هرڅه ده جمهوریت حصه ده لدے نه بغیرخوجمهوریت نه چلیژی دابه خامخاپکی وی ، لیکن غیر ت مند خلګ داسی قسم لایعنی اوبے معنیٰ خبری نه برداشه وی ،اوپدے سرده مقابل کس ده سر رګو نه اوپړ سیژی اوپه جذبه کی راشی تو پك ته لاس واچوی فائرنګ شروع کړی چی داڅه ویل شویدی ما

پسی بس څه پکی زخمی شی څه پکی مړه شی اوس تاسو فیصله اوکړئ چی جمهوریت امن دئے او که فسا د ؟ اوداهم راته اووایئ چی جمهوریت زنده باددئے اوکه مرده باددئے شاعروایی ۔

خشت اول چوں نہد معمار کج :: تاثر یا میرود دیوار کج

نقصان شپڑویشتم بے ځایه القابات او تعریفات کول دخپلی پارټئ یاخپل امیدوار

حدیث شریف کی راځی چی :

" عن ابی هریرةؓ قال أمرنارسول اللّٰه ﷺان نحثوفی افواه المداحین ا لتراب " (ترمذی باب کراهیة المدح و المد احین ، مشکوٰة)

ده حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دئے چی رسول اللّٰه ﷺاوفرمایل چی ده بے ځایه تعریف کؤ نکوپه خلو کی خاوری وا چوئ۔

اوپه یوبل حدیث کی راځی چی کله هم دفاسق اوفاجرکس تعریف کیڑی نواللّٰه په غصه او غضب کی را ځی اوپرعرش عظیم باندی زلزله شانتے راشی ، (مشکوٰة ص : ۴۱۴)

(۱) اوپه جمهوریت کی ده مالو چواوپمبے نه غرجوړه ول ، ده پیتلونه سره زرجوړه ول ، پیدل کس نه شاه سوارجوړه ول ، ده پك نه سنړے ورجوړه ول ، تاریکی رنړاګنړل ، ده جونمپړئے مالك پر سپو ژمئ با ندی کینول ، وګوسامعینوته ده شیخ چلّی ده خیال چاو لی ورکول ، آفتاب اوما هتاب نه ډیوه او چراغ جوړه ول ، داخیزونه خودهرکارکن ده ګس لاس ده ساتیری ځیزونه دی ، په عصری تعلیم کی چی د چامیټرك فیل و ی هغه ده افلاطون اوابوعلی سینانه هم په لوی مقام کی شمارل ، چی دایساغوجی عبا رت نه ورله ور ځی هغه ده سبع شدادماهر ، دحکمت اومنطق امام ، اوداحادیثواوفقهی شیخ اوده تو لو علوموعلامه ګنړل داخ ومعمولی ځیزدئے ۔

ده لژشانتے معمولی تجارت مالك ده بین الاقوامی تاجرپه حیثیت سره پیښه ول ، اومعمولی ډاکټراو کمپوټرته ده اسپیشلسټ اوفارین ده ډګری مالك ګرځول ، ده قوم خونخوارده قوم ده خادم په شکل کی ښکاره کول ، سودخورقماراوجواګربده پارساپه نامه سره یاده وی ، فاسق ، فاجر، ګیرخریلئے شرابی ، کبا بی ، بلکه غیرمسلم هندو، قادیانی ، پارسی ، دهری ، کمونسټ داټول حرامیان ده یوښه پر هیزګارمتقی ، شریف ، دیانتدار، اوتهجدګزارپه شکل اوصورت کی دنیاته پیژندل ۔

کومه خزه چی اوټونوته اودریژی هغه دحوروملګرے ګنړل هغه ښځه بیاخزه نه وی بلکه ده

ستیجوده خطیب په نامه سره یادیژی ، اوداسی خزه بیاده صنف نازك پرځائے بیاده آهن اوسپنی او فو لا دپه شانتے شانداروالفاظوسره یادوی ، الغرض ده ټولو صفات محموده ؤ مجموعه یه اوګرځوی ، او دا صدابه لګوی چی " ہماری شان تمہاری شان فلاں فلاں اوفلاں، جب تک سورج چاندر ہے گا فلاں تیرا نام رہے گا۔ جیتے گا بھئی جیتے گا ، چاند ہمارا جیتے گا۔ ہمارا محبوب تمہارا محبوب، پیارا محبوب پیارا محبوب۔ میرا ہیرو تیرا ہیرو ،قوم کا ہیرو۔ تیری تقدیر میری تقدیر،قوم کی تقدیر قوم کی تقدیر " اوس به داسی امیدواراوکاندیدده قوم څه خدمت اوکړی دابه قوم ته فائده راوړی که تاوان اونقصان -

داخوده عوامو حالت دئے خواص یه هم دغه شانتے دی هاکوم القابات اوکوم نومونه چی دوئ آخلی حیران به شے ورته ټول جو ندبے ده جهاداومجاهدینوپه خلاف راتیرکړئے وی دوئ به فرزندشیخ الهند اومدنی اومجاهدملت ورته وایی ، امام سیاست ، مفکر اسلام ، داعی امن ، شاه ولی اللّٰه زمان ، جا مع المعقول والمنقول ، قائدملت ، امام شریعت ، نمونه اسلاف ، ده دنیابزدله به وی دوئ به ورته وایی " نڈرقیادت " ټول جوندبے په ډمتوب اوحرامیتوب کی راتیرکړئ وی دوئ به ورته وایی " بےداغ ماضی،نوجوا ن قیادت" ځماشیخ یوه ورځ پردے موضوع باندی ښه رداوکړلواوبیایه اوویلو چی داشئ اوس دادوه درے کا له کیژی چی راشروع شو ئیدئے مخکی به صرف دومره ؤ چی " عن ابی هریرةؓ ، عن ابن مسعودؓ ،عن ابن عباسؓ قال : قال رسول اللّٰه ﷺ ، عن ابی حنیفةؒ "

صرف ؓ او ؒ بس نورهیڅ هم ورسره نشته حالانکه اصل کی خودتعریفاتو مستحقین ؤدغه خلګ۔

نقصان اووه ویشتم اسراف اوبذر

حدیث شریف کی راځی چی دقیامت په ورځ به یوکس هم ترهغه وخته خپل قدم ده زمکی نه اوچت نکړی چی ترڅویه ده پنځو سوالونوجواب نه وی ورکړئ من جمله ده هغوئ نه یودادئے چی مال اوجا ئیداددی څنګه اوګټلواوڅنګه دی اولګولو۔ (مشکوٰة ص: ۴۴۳)

(۱) جمهوریت خو ده مالدارانوده کرکټ ځائیدئے ، چی کله یه هم دکرکټ لوبی ته شوق او شی بس انتخاباتوته اودری ژی اوبیا خپله پیسه داسی اوبهوی لکه څنګه چی ده سمندریادریاب پرغاړه چی اوبه بهیژی ، ده لکونوروپئ اشتهارات هره ورځ ده اخبا رو نو ز ینت وی ، هره ورځ درے څلو ر جلسے منعقد ی کوی اوده لکونوپیسے په فضااوهواکی الوزوی ، ده سیکولر تنظیمو والا خو ده باجو ، طمبلو نو اوډ ولونو ، سازوسروز اوده ډمتوب انتظام هم کوی ، خلګوته ده ښکاره کولوپربناء دوه دوه

میاشتی تینتېو نه ولاړ وی ، که یوشریف انسان ده ناراض ګئ اوناخوښئ اظهارورباندی اوکړی نو هغه پسی شپیلکی وهی آوازونه ورپسی کوی اوقسم قسم نوموسریه مسمیٰ کوی ـ مدمقابل تنظیم ته ده خارورکولوپه وجه سره اودهغوئ ده تذلیل پربناء په کرایه باندی ګاډی نیسی اوده ګاډوجلوسونه وی در ب درُب وی ها د ه چیغواوسورویه یوطوفان جوړکرئ وی یوشریف کس چی پرے تیریژی نو حیرانه پا تے شی اوپه زبان حال سره به اووایی چی --

مرزاغریب چپ ہےاس کی کتاب ردی ::: بدّھواکڑ رہے ہیں صاحب نے یہ کہا ہے

(۲) حکومت وخت اوالیکشن کمیشن مجبوره شی اوده دے بے ځایه اسراف ده کنټروله ولوکو شش کوی خولیکن ده مطلق آزادجذباتیان اوده جمهوریت کرکټریان ده ګټلوپه شوق کی وی چیرته په قابوکی راځی ، تراوویالس لکه پوری خرچ کول ده دے خودوئ ته اجازه وی ، لیکن هغوئ یه پـه کرو ړو نوخرچ کوی ګاډی ، موټرسائیکلی ، تینتونه ، ده ډیکوریشن سامان ، جلسه ګاه ، هوټل پارك ، اویاده شا د ی هال ده بوکنګ ده نیولونه پس په کروړونوروپئ پرووټرانوباندی لګوی په پیسویه اخلی بس ایما نو نه دی خرڅیژی ـ

که یه چیرته پدے مرحله سره زړه نشی یخ بیابل ځل کامیاب امیدوارواخلی ده لکونوپه حسا ب سره او ده انتخاباتوپه دوران کی څه آزادامیدواران هم وی هغه هم ده پیسوده پاره ولاړوی بیاده ښے ډ یروپیسوپه عوض کی ده یو چاپه حق کی خپله پیټئ واخلی اودستبرداره شی ترے نه ، اوبعض حضرات خوبیاپکی بیخی مخی ته لاړشی ده فضائی نظام طرف ته لاس واچوی یعنی ده اسپیشل ټرینو نو او هلی کا پټرو مطالبه کوی ـ

دغه رنګه ده دباؤدهمکی ده پیسوپه زورسره په دوکه اوفریب لالچ اواسراف اوتبذیرباندی ده د ے کار بنیا دولاړدئے ، نواوس تاسو خپله اووایئ چی داحضرات چی مخته لاړشی خپل هدف اومنزل ته اورسی نو په قومی رسرچ کی به کوم کرداراداکړی ـ

که چیرته محتاطه اوکمه اندازه اولګولئ شی نو هم ده یوه الیکشن په ذریعه سره ده ملك سر کاری او غیرسرکاری پیسه اوخرچه کم ازکم پنځواربوته رسی ، اوس تاسوخپله انصاف اوکړئ چی هر پنځه کاله پس بلکه هردوه نیم کاله پس دومره خرچه په یوملك کی لګی نوداسی ملك به بیاخاوری تر قی اوکړی اوداسی ملك به بیاولی نه وی مقروضه ، داپنځه اربه روپئ که په دیانت سره ده ملك پررفاهی مذهبی او ترقیاتی کارونوباندی اولګی نوداسی ملك به بیالس کاله ده ترقئ کفیل وی ، مګردیته څوك

ګوری ـ

نقصان اتویشتم ده دروغو وعدے

حدیث شریف کی راځی چی دمنافق درے علامے دی :

" اذاحدَّث کذب اذاوعدخلف اذااؤتمن خان " چی کله خبری کوی نودروغ به پکی وایی چی کله وعده کوی نوخلاف ورزی بیه کوی ، اوچی کله هم یوڅیزامانت ورکولئے شی نوخیانت به پکی کوی ـ

(مشکوٰـة ص : ١٧) ډیرشئ احادیث اوډیرقرآنی آیتونه پردے خبره ډیرتاکیدکوی چی وعده پوره کوئ اوبدعهدی مه کوئ وعده خلافی مه کوئ ـ

(١) لیکن ده جمهوریت میدان دادئے چی وعده خلافی به کوی اوقول زبان به نه پالی ، مګر جمهوریان خپلی کرسئ اوعهد ے ته ده رسیدلوده پاره دومره دروغجنی وعدے کوی چی په هیڅ حال کی یه هم بیانشی پوره کولئ مثلًا ده اوټونوپه وخت کی به وعده اوکړی چی ده دے غره پرسربه اوبه را خیژوم اوبیابه هرکورته پائپ ترے نه راکوزه وم دابه زمااولنئ کاروی ، محترموچی کومه ورځ هم زه کا میابه شم نواول کاربه می داوی چی بجلی به درته راولم هرکورته ، ده سوئی ګیس لیمپ به ستاسو کورو نوکی موجودکړم ، زه اګرچی په ٢٠٢٥ء کی منتخب شوئے یم خوچی کله هم کامیابه شم نودهرشئ قیمت به درته ده ١٩٠٠ء په شانتے راکوزه وم ـ

زماورونړوکمو چیرته زه کامیابه کړم نوبلوچستان اوکراچی به درته لندن اوپیرس جوړکړم ، نادا نویوځل خوماکامیابه کړئ ! زه خوستاسوده علاقے یم اوړه دال اوچینی (بره) به دغریبانوده پاره مفته تقسیمه وم ، ماته پته ده چی دغریبانوبچی ته خوری لماسرده هغوئ ده بچانوده تعلیم احساس شته د ئے ، جناب عالی ! اوس راروان وم په لاره کی می لویه کنده اوکډئ اولیدوکه دے ته ده یوغریب کس بچئے ورچپه شو(یعنی وراولویدو) نوبه مړکیژی نه زه که کامیابه شوم نوترحلف اخستلونبه مخکی داکنده جوړوم اوډکه وم بے ـ

دوستانوتاسوخوزماده زړه نه خبرنه یئ زه که کامیاب شوم نو هرمزدورتبه درے درے زره روپئ دمیاشتی تنخواورکوم ، صنعتی انقلاب به راولم اوده دوؤ تولوسروزروتنخوابه هره میاشت کی هر مز دورته ملاویژی ، زه به په اسمبلئ کی دابل پیشوم ، نورپرے ژدئے دااوسنئ درو غجن خوموښه یا ددئے چی دوئ ده نوروملکونه قرضه راوړی اوزه به ملك ته دومره ترقی ورکړم چی پاکستان به نو رو ملکونوته بیاقرضه ورکوی ډیزل به ارځان شی دابه ارزان شی هابه ارزان شی مزدورانوته به کورونه ور

کړم ، وغیره وغیره ـ

(۲) ځماده اسلام غیرتمندومسلمانانوورونړو ! ځه که چیرته کامیاب شوم نومکمل اسلام به نافذه وم ، نبه غل اووینئ نبه رشوت خوراووینئ ، داده مسلمانانوملك ده شراب خورواولټیرانوملك ندئے ، عدالتونبه صحیح کړم یوه ورځ به مقدمه پیش شی دویمه ورځ به فیصله کیژی ، ده قرآن او سنت مطابق نظام به جاری کوم ده اسلام زمزمے به وی بس صرف انتظارده دے خبری دئ چی محض زه لدے حلقے نه کامیاب اسمبلئ ته اورسیژم ، بیابه اسلام راولم اوتاسوبه بیابنه ده امن اوسکون عزت او عظمت جوندتیروئ ، ده غله لاس به پرے کولئے کیژی زانی به سنگساریژی ، قاتل نبه قصاص اخستلئے کیژی ده اسلام چرچه به وی ده امریکے مخ به توروی ـ

(۳) زمامحنتی ملګرو ! ده غریبانواومزدورانوده محنت اوخولوپه عوض کی سرمایه داران اوماړه خلګ دوه سوه روپئے خپل جیب ته اچوی اودوه روپئے غیریب ته ورکوی ده مالداروپسی قور مے اووړ ے ماتی روټئ خورئ اوده غریبانوبچی سوکه اواوچه روټئ نشی پیداکوئ ، که زه کامیاب شو م نودا ظلمونه اوتوری شپی به ټولی ختم کړم ، زه بده سرمایه دارانونه کارخانے وا خلم اوغریبانوبچوله بیه ور کړم ، داشیطان صفته خلګ اودرنده ګان خوپخپله په نهه نهه ګزه کارونواوګاډوکی ګرځی او غر یبان ده سترده پټولوسایه نشی پیداکوئ ، زه که کامیاب شوم نوده دے درنده ګانو څرمن اوچمړه به را او باسم ـ

بس تاسوصرف ماته اوټ راکړئ نورله هغوئ سره زه جنګیژم ، عجیب قسم ظلم شروع دئے موژهم انسانان یواوهغوئ هم انسانان دی نوبیاټولی زمکی ولی ده هغوئ دی ، ټولی کارخانے لویی لو یی تجارتی منډیانی ولی ده دوئ دی ، داسورمارسامراج اوده دوئ ایجنټان به دلته داسی په آرامه نور جو ند نکړی تیر، زبه ده ټولونه احتساب اخلم ، بیابده غریبانواومحنت کارانودوروی ده امریکے مخ به تو روی ، نوپه ابتداء کی به داسی ده جوش اوجذبے بیانونه کوی خولیکن چی کله کامیابه شی بیابه ده مو سم د ه مرخئ په رنګه په پنځم پنځم کال تشریف راوړی ، یابه پرهغه کوڅه په ښکاره مخ نشی تیرے د ئے بلکه په پټ مخ به تیریژی یوه وعده به هم پوره نکړی ، نونوئ نسل هم پدے حرامتوبیانوکی عاد ی کړ ی آیاپدے طرزسره بلندنظری ده عظمت اووقارترقی راتلئے شی ـ

نقصان نهه ویشتم منافرت اوعداوت

(۱) ده جمهوریت اکثره اصول ده تدبیراوفطرت خلا ف دی پدے وجه بدانتظامی، شور

شغف، چغی سورے اوفساددادہ جمهوریت لازمی حصه ګنړل کیږی ، بس آزادی ده جلوس ویستل هړ تال کول داده دوئ جمهوری حق دئے اګرکه ښځی په اسلام آبادکی ده تیرځل په شان بربنډے رااووځی ، نو چی کوم یولعن طعن بدردپه چاپسی وایی نو هغه مقابل کس جوابی کارورسره کوی پدے سره ده ملك امن اوا مان تباه شی اونفرتونه رامینځ ته شی ، زکه دبغض حسد، عناددشمنی ، منازعت مخا صمت اوده منا فرت بازارونه ګرم شی ۔

ده دوؤامیدوارانوتائیداوحمایت په وجه سره دوه قومونه اودوے ډ لی سره په ضد او دشمنئ کی اونخلی ، نوپدے سره دیوه ملك یوه خاراویوے علاقے مسلمانان سره لا س اوګریوان شی ، بیاده یوه بل ده سائی نه هم نفرت کوی ، اوده دے په وجه سره بیاپه خاندانونوکی هم نفرتونه پیداشی ، کلونه تیرشی خوبیا هم دو ئ خبری نه سره کوی اووایی چی دوئ خوما ته اوټ ندئے راکړ ئ صله رحمی به ختم کړی چی څه منافع راشی ورله نو هغ چاته بے لیژی چی اوټ یه ورکړئوی او خپل اقاربوتبے نه ورکوی ، اودانفرتونه کله ټوپك ته سره اورسی فائرنګونه اوشی چی بلامصائب را مخی ته شی ۔

(۲) دے آزادی نظریے خولوراوځوئ ده خپل پلارنه نافرمانه اوګرځول ، زکه چی پلار هرڅه ورته وا یی نودوئ جواب ورکوی چی باباداجمهوریت دئے پدے کی آزادی ده هغه پخوانئ خبری اوس نه چلیژ ی ، ده دے آزادئے اثرترمساجدوامامانواومقتدیانو پوری اورسیدوده دے آزادئے پربناء یو مقتدی ده اما م په خلاف قدم اوچت کړی ګستاخی یه اوکړی ، امام صاحب ده دے آزادئے په رنړاکی ده وخت ده با د شاه اوحکمران په خلاف تقریراوکړی چی پدے سره عام نفرت خورشی ۔

بیاده دے آزادئے په نامه سره په اخبارونوکی صحافیان حضرات ده اسلام په خلاف مضمو نو نه اوکالمونه لیکل شروع کړی اوعلی الا علان پراسلام باندی حملے کوی ، په جواب اودلیل کی هم داو ایی چی داخوجمهوریت د ئے اوموژته ده اظهاررایی ده آزادئے حق حاصل دئے ، اوبعض دفعه خوپه بعض جرا ئدور سا ئلواو پمفلټونوکی علی الا علان کفرکیژی ، ده صحابه کرامؓ عزتونه محفوظ ندی ، ده احادیثومبارکه ؤو جو دپه خطره کی وی ، ده مقدسو هستیانواواشخاصوبے احترامی کیژی ، کموپکی شك وی نوبیاده ملعو ن رشدی ده ملعونی آ سیے وغیره ؤبکواسات اوبیاده اظهارده آزادئے اوپرجمهوری آزادئے باندی هم څه طائرانه نظرواچوئ ۔

اوپه موجوده وخت کی خوده عمومی نفرت ده خوره ولولوئ بنیادااخبارات دی سحروختی ده اللہ ﷻ ده کلام تلاوت نشته بس اخبارراواخلی اوده ورځ ابتداء اوشروع یده نفرتونونه اوشی قسم قسم

حالات اووینی له ابتداء نیه زړه غمجن شی ترماخامه نده روتیئ په خوندپوئ شی نده ملګرواونده اهل وعیالوپه خوندپوئ شی۔

حضرت تهانویؒ نیمه صدئے مخکی ویلی ؤ چی :

" دټولوفسادونوجړاوبنیادداخبارونه دی ، بیایه اوویل چی ځماپه جمات کی زکه امن اوامان د ئے چی د لته جمهوریت نشته " (ازملفوظات)

داخو هم هغه ظالمانه اصول دی چی اوجنګیژه اوحکومت اوکړه ، ده معاشرے ده ټولو بدو کارو نوذمه داری ده ملك پربادشاه اومشرباندی عائدکیژی ، ده ټولوعواموده رهنمایئ تپوس به قیامت کی د ه هم دے حکمرانانونه کیژی ، په یوحدیث کی راځی چی ده وخت بادشاه اوحکمران ده خپلورعایا ؤ نګران اوچوپان شپانه دئے ، لده نبه ده رعیت په باره کی تپوس کیژی ، یوه پلاحضرت ابی بن کعبؓ قبلی طرف ته مخ کړواودرے ځله یه داجمله اوویله چی :

" هلك أهل العقدورب الكعبة " ده کعبے په ذات می دی قسم وی چی حکمرانان هلاك شو ؟

بیایه اوویلے چی ماته پردوئ څه افسوس نشته بلکه افسوس پرهغوخلګوکوم چی دے حکمرا نا نو ګمراه کړیدی ، ده دے ټول بحث خلاصه یوه شاعرپخپل تصورکی داسی پیش کړے ده چی :

آزادیٔ جمہور کا آیاہے زمانہ :: ہرنقش کہن کو نظرآئے مٹادو

نقصان دیرشم اکثریت یااقلیت

ده قرآن اواحادیثوفیصله خوداده چی اکثریت ده بدوخلګووی نیکان اوصالحان همیشه لژوی دعر بو عقلاؤاوشعراؤخودنیاته هم دا خبره پخپلومضامینوکی ورخودلے ده چی ښه اولژخلګ کامیابه وی دعر بومشهوردانشورشاعرسمؤال بن عادل خپلی بی بی ته پداسی شانتے مخاطب دئے چی :

تعيَّرنابأناقليل عديدنا ::: فقلتُ لهاأن الكرام قليل

ځمابی بی به ماته ده دے خبری پیغورراکولو چی ستاسوتعدادکم اولژدئے ، ماورته اوویل چی ده خواو شریفو خلګوتعدادخو همیشه لژوی ؟ ده بازپه جاله کی کم ازکم یویادوه بچی وی ، مګرده وړوړ ومارغا نوقتقتیولس لس بچی وی ، په راروان بحث کی موژسامعینوته ورخایو چی په موجوده جمهو ر یت کی واقعی اکثریت دئے اویادا هم یوجمهوری فراډاودوکه ده ۔

(۱) ترټولونه وړاندی تاسوداندازه اولګوئ چی په پاکستان کی دوؤلس کروړه عوام دی چی ماشومان تر ے نه اوباسے نوبالغ افراد به له ښځوسره تقریباً اته کروړه راځی ده بدبختئ نه خواوس ښځی پو لنګ استېشنوته راځی نوپدے ملك کی تقریباًاواندازتاً اته کرو ړه ووټران وجودلر ی مګرپه الیکشن کمیشن کی چی کوم اوټ کیژی هغه تقریباًدرے کروړه ته قریب وی نولدے نه معلومیژی چی درے کروړه ده سره اوټ نه اچوی ، نواوس چی پردے بنیادکوم حکومت جوړشی هغه ته څنګه ده اکثریت حکومت ویل کیژی چی ټولی پارټیانی سره متفق شی په شریکه حکومت جوړکړی بیابه هم په اقلیت کی شماروی ۔

(۲) یامثلاًپه یوه حلقه کی څلورامیدواران (کاندیدان) دی اویواتیازره اوټران دی اوس پدے کی ریاض خان شل زره اوټونه وا خستواوپیازخان هم سل زره واخستوقربان خان هم سل زره واخستواو غلام جان یویشت اوټونه واخستونوبس غلام جان اوګټله نوردرے واړه اوبیلله یعنی شپیتوزروبالغو افرادواوبیلله اویویشت زروافرادواوګټله اوده اکثریت مالکان شو ، دادئے ده جمهوریت اکثریت ، دانوردر ے چی اوګو ری چی غلام جان خواوګټله اوموژدرے واړواوبیلله نوبس دهغه په خلاف راپاسی نو چی کله شپیته زره پریویشت زروباندی حمله اوکړی نوبیابے نه جمهوریت پاتے شی اونه بے کرسئ پاتے شی ، بیابه داجم غفیرپخپلو خپوسره دایویشت زره زرے زرے کړی یو چاډیرښه ویلی دی په لژتصرف سره چی :

قدرتِ خالق پہ قربان اورنثار :: چت کیا ایک ڈھوہ کو اور مارا ہے
وقت کے دانشوروں نے کرلیا یہ فیصلہ :: مولوی غلام جان بس آج ہمارا ہے

(۳) ده هم دے اقلیت اواکثریت والانظریی ده قوم اوملك ده هری پارټئ کارکنان پرجعلی کا روا یا نو با ندی مجبوره کړیدی ، زکه چی داکثریت ده حاصله ولوخوډیرضرورت وی ، بیابرابره خبرده که هغه کا ر کن ده مذهبی تنظیم سره تعلق لری اوکده غیرمذهبی تنظیم سره ، هریوده دے کوشش کوی چی جعلی اوټ به څنګه اسعمالوم ، ده هم دے کارده حصول ده پاره ده امانت دارئ اوحقا نیت ټول اصو ل پا ماله کړی هرقسمه حربه استعمالوی ، بعض دفعه ده اوټووالاپیټئ اوبکس غلاکړی ، بجلی بنده کړ ی د ه موم بتئ رنړاته اوټونه شماری ده رشوتونودروازے کولاؤاوپرانستے شی ، ده لویولویوافسرانو ، الیکشن کمشرانواوپولیس افسرا نو ده دولت ده ګټلوورځی وی ۔

(۴) لدے ټولومرحلونه چی په څه لانجواوتکالفوسره پاس شی خپل ځان هدف ته اورسوی

حکومت یه راشی خولیکن ده فوج صاحب انونه وی خوښه بس هم هغه وخت فوراً ده سیکورتۍ ځوانان میدان ته راشی اوده دے خلګو حکومت ختم کړی په بے دردئے سریه اووهی اوپخپله پرکرسئ کینی ، کده چاشك وی پدے خبره کی نو هغه دی بیاده الجزائر حالات اوګوری په هم دے وجه سردی ده مذهب سره تعلق لرونکی حضرات داټولی خطری ملحوظ خاطراونیسی اوبیادی خپل قدم ده منزل طرف ته ور وړاندی کړی ـ

نقصان یودیرشم دقدردانوناقدری

حدیث شریف کی راځی چی هرسړئے پخپله مرتبه کی ایژدئے ، (مشکوٰۃ)

خوپه جمهوریت کی ده آزادئ اوبے ځایه تعریفاتونه پس هم ده کارده سړی ده یوشهسواراوعام کدوپه مینځ کی څه فرق نه کوی ـ

(۱) مثلاًترټولونه مخکی تاسوده اوټ مثال راواخلئے ووټ رایه ته وایی اوده رایی ده پاره د صاحب رایی هم ضرورت وی اوس چی کوم خلګ انتخاباتوته اودریژی په هغوئ کی څومره خلګ تعیلم یافته دی اوخپل نوم لیکلئے شی خیرداخومعمولی شانتے کمزوری ده ، مګرده سوچ ، فکرو تدبر، دیانت اوامانت په لحاظ سره ده ملك اوملة په حواله سره هرسړئے ده دے قابل دئے چی په تش کیل خلافت کی مداخلت اوکړی اوخپله رایه پیش کړی ؟ ډیرخلګ ده انتخاباتوپه ورځوکی یوبل ته وایی چی ځمااوټ شته زه اوټ چاته ورکړم ده دے خبری دامعنیٰ ده چی ځه صاحب رایه یم اوس ته ماته رایه راکړه چی زه خپله رایه چیرته استعمال کړم نو چی دئے خپله صاحب رایه شوبیاده اوټ په اچولوکی ده نورونه ولی رایه غواړی ؟ نو حقیقت دادئے چی هغه غریب صاحب رایه نه وی اوپه خوله سره وایی چی زه صاحب رایه یم ـ

(۲) اودالیابیابله پکی واوره چی پدے ملك اودے نظام کی صدرمملکت اووزیراعظم چی کوم وزن حیثیت وی هم هغه وزن اوحیثیت په اوټ کی ده یوبهنګی ، چوری ، اوقطعوبطعو هم وی ، ده یو بهنګی ده اوت ٍاوصدرپاکستان ، وزیراعظم ، چیف آف آرمی سټاپ پاکستان ده رایواووټ یوقیمت او یووزن یه وی ، دامنظرعلامه اقبال ډیرښه ذکرکړئدئے چی :

جمہوریت ایک ایسا طرزحکومت ہے کہ جس میں :: بندوں کوگنا کرتے ہیں تولانہیں کرتے

(۳) اوبل داچی یوطرف ته مفتی اعظم پاکستان ، یودانشور، مدبر، فلاسفر، اسپیشلسټ ډاکټر ، پروفیسر، ده یواعلیٰ درجے ادیب ، مضمون نګار، تجزیه نګاراودیواعلیٰ سوچ خاونداخلګ ولا ړ

وی ده دوئ رایه اوبل طرف ته یو چوړا چمار، قطع بطع ، ناتجربه کار، اجډ، جاهل ، ډم ، هیجړا، زانی شرابی ده دے په شانتے کسان ولاړوی اوټونوته نوده دے دواړوفرقورایه یوشانتے وزن او قیمت لری ، اودا خوبد یهی خبرده چی په هردورکی ناتجربه کاره ده مهذبو خلګوپه مقابله کی ډیروی ، نوده جمهوریت په برکت سره هم داچرسیان ، افیمیان ، فوډریان ، غله ډاکوګان ، شرابیان زانیان اوهیرونچیان ، میدان اوګټی پراقتدارباندی راشی ، (بیایه په خلاف دهرنے جلسے اوجلوسونه رااوباسی چی هاداوزیراعظم دا سی دئے اوهاسی دئے هلکه چی مثبت سیاست کوئ داجمهوری نظام ورسره منئ نوپه جمهوریت کی خو صلاحیت اواستعدادته نه ګوری تعدادته ګوری اوتعدادکی یه ګټلے ده جمهوریت ده اصو لو مطابق را غلیئدئے نونورڅه غواړئ) اوشریفان خلګ پټه خوله چپ ناست وی پرکورونوباندی ۔

(۴) تردے نه لوئ مصیبت داوی چی داسلامی حکومت په تشکیل کی ده مسلمانانوسره غیر مسلمه افرادپه تشکیل اوانتخاب کی برابرشریك دی هندو، عسائی ، یهودی ، قادیانی ، دهریه ، منکرین حدیث ، اودشمنان صحابه دے خلګوته هم ده رایی ورکولوبرابرحق حاصل دئ ، ده ملك د شمن چی کله یوامیدوارپسندکړی اوټونه ورله ورکړی نوپدے سرچی ده ملك ثومره نقصان کیژی هغه ده چانه پټ ندئے داموجوده وزیر اعظم چی دوئ وایی ده امریکے ایجنټ دئے دادئے اوهادئے نو دا ده چاپه قوت اودچا په اوټونوسره راغلیئدئے ، کاش که چی موژده چین نه عبرت اخستئ وئ چی ده هغوئ په پا رلیمان کی یوممبرهم مسلمان نشته دئے ، کاش چی ده امریکے نه موڅه عبرت اخستئ وئ چی په سینټ اواقتداراعلیٰ کی یه یو مسلمان نشته دئے وغیره وغیره ۔

بس داده بیغرتئ بے حمیتئ اوکمزورئ ټول اخلاق حسنه موژقبول کړیدی، هیڅ پته هم نه لګی چی څوك څنګه دئے اوڅه کوی ؟ یو چاډیرصحیح ویلی دی چی :

کس نے داند کہ بھیا کون ہے ::: پاؤں ہے یا سیر ہے یا پون ہے

یوه ظریف الطبع شاعرپه یوزمانه کی ده جمهوریت خدوخال داسی پشی کړئدئے چی (دیوه لفظ په تصرف سره)

چلتے چلتے ایک صاحب یہ نصیحت کر گئے ::: گوشت گر ملتا نہیں تو دال کھایا کیجئے

جمہوریت نے آپ کو خچرب ناڈالا تو آپ ::: وقت کے اس اصطبل میں ہنہنایا کیجئے

نقصان دوه دیرشم ضعف مملکت

تـجـربـه ډ یـرلـوئ ځیزدئـے موژپخپل ملك خدادادپاکستان کی په تجربے سره داخبره اومو مله چـی دجمهوریت په و جه سره په یوه ملك کی هم استحکام نشی راتلئ چی کوم دبادشاهت په وجه سره کیـژی ، که موژپه زرهاؤمرتبه ده بادشاهت نه مخالفت او کړو نو بیابه هم خامخاداخبره منو چی په با د شا هت کی ده جمهوریت په نسبت استحکام اوسکون شته دئـے په نقصان اول کی هم موژدے طرف ته لژ اشار ه اوکړله خولیکن دلته نورمزیدوایو چی :

(۱) پـه جمهوریت کی چی کوم مقرره مدت دئـے اصل کمزوری هم داده اوهم داشئ ده ملك و یخ او با سی ، مثلاًبرسراقتدارکس که چیرته ده یوشخصی حکومت بادشاه اومالك وی نودهغه په زړه د مـاغ کی به خامخاداخبره ګرځی چی زماده مرګ نه پس به ځماولی عهد حکمران جوړیژی اوپردے ملك بـه حکو مت کوی نوپدے وجه سربه هغه چی کوم شئ هم ده ملك په تاوان اونقصان وی هغه به ده بنیا دنه اوباسی ـ

دملك دشمن که چیرته په ملك کی دننه وی اوبا هروی نوبادشاه به هرقسم ممکن کوشش کوی خودادشمن به له مخی نه وړی اودازکه چی دده آئنده اولاده دپاره دردسرنشی جوړ، ده کوراو لستو نړی ما ریـو حیثیـت لـری اوده جما ت اوده با هرمارځانله حیثیت لری ، بعینه دغه شانتـے ده بادشاهی او جمهور ی حـکـومـت مـعـامـلـه ده که چیرته بادشاهت وی نو باد شاه حکومت ده ځان میراث ګنړی نوزکه ده هر قسـم د شـمن اوغلط نظریا تواوفتنواوفساداتودفا ع کوی ، لیکن که چیرته ده جمهور یت یو چیمپیئن او چیـرمیـن وی لـه هغه سره صرف دخپل ځان غم وی هغه ته ده ملك ده اصلاح څه ضرورت دئـے ؟اوده آ ئنده ملکی خطراتوسره ده هغه څه کاروی ـ

(۲) پـه جمهوریت کی ده عدم استحکام یوه وجه داده چی پدے کی فیصله مرحله واره کیژی ، په اسمبلئ کی به بحث کیژی بیابه ده سینټ نه اجازه اخلی ، ده صدردستخط به پرے کوی ، اوچی تو ل دفتـری امورختم کړی بیابه ده فیصلے مرحله راځی ، تردومره وخته به دشمن خپل کارسرته رسولئ و ی اوپه خپله منصوبه کی به کامیابه شوئوی ، اوچی بادشاه وی نودهغه بیاوه داسی مرحلے ته صرف ده ستـرګواشاره پکا رده ، ده چاانتظاراواجازت ته څه ضرورت نه وی ، زموژمشرقی پاکستان خوده هم دے اجازت نامودہ وجهی نه کټ شو ـ

(۳) ده دنیـاپـرمـوجـوده حـکـومـتـونوباندی نظرواچوئ نوستاسوپه نظربه ترټولونه مضبوط

حکومت هغه راشی چی په کوم ملك کی مضبوط بادشاهت وی ، لکه سعودی عرب وغیره شو،په پا کستان کی ده جمهوریت ځومره شوراوشغف دئے هرقطعو بطعومسلمان اوغیرمسلمان مولوی او غیر مولوی ټول ده جمهوریت باجه غژوی ، اوګویاکه جمهوریت ده نجات وړبلکه خالق مالك اورازق یه ګنړ ی ، مګرکه چیرته ده دننه او کتلئ شی نوده فوجی شعبونه ماسوانورپه ټولوشعبوکی په دنیاکی ترټو لونه کمزورئ حکومت ده پاکستان غه دئے ، بلکه په یولحاظ سره اندازه لګی چی دادسره یوحکومت دئے نه۔

ده جهادمقدس په ذریعه سره چی کله روس ټوټے ټوټے شونوده ملك ده رالاندی کولوده پاره تر ټولونه مخکینئ اعلان ده جمهوریت اوآزادئ غه ؤ چی یوه ورځ ده جمهوریت ده آزادئے اعلان او شو اودویم ځل ده ملك ماتیدل شروع شواوتراوسه پوری ماتیژی ، دابحث صرف ده ملك ده استحکام په رنړ اکی دئے ده اسلامی اوغیراسلامی حکومت سریه څه تعلق نشته دئے بلکه صرف ده جمهوریت او با دشاهت ده اصولوده نشاندهی په ډول سره دئے ، ابلته ده بادشاهت اصول ده اسلامی حکومت اوخلافت سر ډیر قربت اونزدیکت لری جمهوریت اواسلام دوه متضادشیزونه دی۔

(۴) په جمهوریت کی خوده رائی ده اظهارده آزادئ حق شته دئے زکه هروړاوغټ ده ملك په هرحساس اوغیرحساس په وړه او غټه معامله کی علی الاعلان دخل اندازی کوی ، لدے نه معلومیژ ی چی ده روحانی مضراثراتونه علاوه نورمادی اثرات هم پرے وزی ، یولیډربه اعلان اوکړی چی پر د فا عی اموروبه موژدومره روپئ خرچ کوو اوبل به وایی چی نه موژته ده دفاع څه ضرورت دئے زموژخپله خیټه خالی ده پردے باندی لګول پکا ردی ، درے یم به وایی چی پردفاع باندی دومره خرچه ولی لګوئ پدے پیسو سره ده لوبو میدانونه اوده ثقافتی طائفوحالت برابرول پکاردی ، دغه شانتے په ذهنی ډول سره ده جمهوری پارټیانوپه شانتے هرڅوك ځانله خپل سوچ لری نوپدے افتراق اوانتشارسربه ملك څنګه مضبوط شی ۔

(۵) په شخصی حکومت اوبادشاهت کی که چیرته برسراقتداربادشاه ظالم یابے دینه وی نو په مروروده وخت سره دهغه په اولاده کی یوصالحه انسان راتلئ شی نوټول نظام به برابرکړی لکه چی ده خلفاؤپه تاریخ سره داخبره واضحه ده اکبربادشاه ټول نظام برباد کړئ ؤاویونوئ نظام یه ایجادکړئ ؤلیکن دده په اولاد کی بعضے بادشاهانوبیاده نظام اصلاح اوکړله ، بیاده عالمګیرپه شانتے عالم دین په هغوئ کی را غلواوحالات یه څنګه برابرکړوبهرحال په بادشاهت کی ده اصلاح امیدشته ؟ لیکن جمهوریت یو

داسی نظام دئے چی هرنوئ راتلونکئ ترمخکینی نه غټ حرامی اوبدتروی ، چی ده دے تجربه زموژپه مخکی ده چی پدے سره ملك اوملت دواړوته ده تباهئ هروخت خطره ده ، مردانه جنس ده نسوانی جنس سره ده جمهوریت بازی اوهرله اوس ده درے یم جنس انتظاردئے ۔

(٦) پاکستانی قوم اودهغوئ لیډران که هرڅومره ده جمهوریت تعریفونه کوی ، کیه چیرته دومره تعریفونه ده اللّٰه کولئ نوبه ټول جنتیان ؤ ! اوداخلگ چی په سرکاری او غیرسرکاری ډول سره څومره حفاظت اوحمایت ده دے جمهوریت غه کوی کیه دومره حفاظت ده اسلام قرآن اواصحاب رسول ﷺ غه کولئ نوپرپاکستان به ده اللّٰه ده رحمتو نو بارانونه اوریدل هرطرف ته به خوشالی سکون اوا طمنان ؤ. لهذانه موژحاکمان شونه په صحی معنوکی مسلمانان شو، دین هم لاړواودنیاهم لاړه ، حضرت لاهورئ ډیرښه ویلی دی چی : انگریزله موژنه زموژدین اوتخت اوتاج واخستلواوموژیه پراسلام باندی معترض پریخودلو ۔

نقصان دری دیرشم جمهوریت اومنافقت

(١) ده جمهوریت په اصولوکی یواصل داهم دئے چی حرف آخرپکی نشته دئے ده هم دے اصول پر بناء یه تاسووینئ چی هرورځ په نوی نوی اندازنوونووخبرواونوونووعدوسره داامیدواران را ځی موژلره ، ترپرون به یوه سړی ته غداربدترین کافرویل کیژی اونن به بیاترهغه لوئ وفاداره اوصحی مؤمن نه وی ، ترپرون به یوه پارټئ داسی وی چی ده دنیاټول قبائح به پکی وجودلری خونن به هم هغه تنظیم ده ټو لو محاسن مجموعه وی ، پرون یوسړئے لوټاوه ، ده کباړمال ؤ، ده اصطبل آس ؤاونن وزیر اعظم مستقل مزاج اواصول پسنده دئے ، پرون به دیوے پارټئ په خلاف تحریك چلیدوپه درجنو خلگ بده شهیدپه نا مه سره یادیدلواونن به بیا پخپله په هغه تنظیم کی شمولیت کوی ، چی سوال کؤ نکئے په سوال کو لو سره پریشانه شی نوجواب ورکؤنکئے ورته وایی چی جی داخوجمهوریت دئے پدیکی حرف آخرنشته دئے یعنی فیصله کن خبره پکی نشته بس لکه غواء چی خوله کی آلووا خلی څپ څپ به کوی خو خبره نه درخلاصه وی چی یاداسی ده اویانده ۔

(٢) ده هم دے اصولوپه وجه سره ده جمهوریت اوسیاست خارجی پالیسیانی اومذهبی رجحانات جوړیژی او ماتیژی ، مثلاًاوس په حزب اختلاف کی یوتنظیم ده حزب اقتدارپردے پالیسی تنقید کوی چی دوئ مسئله کشمیرخرابه کړه ، داخلگ په اسلام مسخرے وهی سودجائزکوی مذهبی امور پاماله وی ، لیکن څه وخت پس به هم داحزب اختلاف چی کله اقتداربانندی راشی بیا به هغه کارونه دو

ئ پخپله کوی چی پ رون یه ده دے په وجه پرچااعتراضات کول ، اونوئ حزب اختلاف به په هم دے اموروکی هم دا نوئ حزب اقتدارموردالزام ګنړی ، چی څه ته پرون خپله نه ؤتیار، بیاده سوال اوا ستفسا رپه جواب داو ایی چی داخوجمهوریت دئے پدیکی حرف آخرنشته دئے ۔

(۳) ده هم دے اصولوپه وجه سره ده ډیرودنګوبدنونووالاخرڅیژی اوښے ډیری پیسی واخلی پس بلی پارټئ شمولیت اوکړی ، ده خلګوده ملامتیااوپیغورونو هم هغه جواب کوی چی داخو جمهو ر یت دئے پدیکی حرف آخرنشته دئے ده بے اصولی اونفاق یه څنګه خائسته اصول تیارکړیدی ۔

نقصان څلوردیرشم جمهوریت او حزب اختلاف

په دنیاکی ده هرعقلمندسوچ فکراونظریه ده چی اتحاداتفاق اویووالئ داده خوشالئ او ترقئ نخه او علا مه ده اواختلاف خوباعث نقصان وی لیکن په جمهوریت کی ده دے لعنت ده پاره علیحده خلګ ساتی اواسمبلئ تیه راولی ؟

(۱) پدے اُصولوسره ډیرمفاسدافراتفری ، بدامنی ناکامی اونقصانات راپیداکیژی ، یو مصیبت خوداوی چی ده دے مخالف ګروپ نه بغیریوه فیصله هم قابل اعتبارنشی ګنړل کیدئے ، هلته بیا هغه مسئله ډیره نازکه اوحساسه شی چی په یوه ورځ کی ده حل تقاضالری اودلته په یوه ورځ کی اجلاس نه راغواړی ، ده دے نه پس بیابحث اومباحثه کیژی ، نودومره وخت پردے څیزو نواولګی چی ټول کا ر سره درپدره شی اوخراب شی ، اوکله ملك ته ډیره لویه جهټکه ورکولئے شی یو چاښه و یلی دی چی :

میں صبراویوب کہاں سے لاؤں اے ساقی ::: خم آئے گا ،صراحی آئے گا اورپھرجام آئیگا

(۲) ده حزب اختلاف لکه څنګه چی نوم دئے هم دغه شانتے داخلګ په هره خبرکی اختلا ف په طبعی ډول سره خوښه وی ، زکه چی په قلاره قلاره په دے اختلاف سره ده حزب اقتدار بنیا د کیخودلئے کیژی ، زکه داخلګ په هرجائزاوناجائزه خبربانده اودریژی اومخالفت شروع کوی ، لعن طعن کنځلی بدرددا خو هره ورځ ده دوئ معمول وی ، قسم قسم القابات پریوبل قسم قسم جملے چسپا نده کو ل داخوده دوئ کاردئے ، حتیٰ چی ګریوانونه اوشلوی په کرسیانوسره اووهی کرسیانی ماتی کړ ی په ما ئك او میګ رافورسره ولی ۔

(۳) لکه څنګه چی حزب اختلاف په هره خبره کی ده حزب اقتدارمخالفت ضروری ګنړی

هم دغه شانتے حزب اقتدار هم ده حزب اختلاف ده هری خبری ده مستردکول ده ځان فریضه بولی ، حضرت مولانامفتی محمودؒ یودفعه ویلی ؤ چی که چیرته څه په اسمبلئ هال کی کلمه طیبه اووایم نو جناب بهټوصاحب به ده دے نه انکاراوکړی ، پدے وجه داخبره محاله ده چی په اسمبلئ هال کی دی ده اسلام څه پیشرفت اوشی ، په هغه دوه نیم سوه هال کی بده لسوکسانو څه حیثیت وی ، محض دافائده یه شته چی په اسمبلئ کی دننه کومه فتنه رااوچته شی نوداعلماء کرام پرهغے باندی ده احتجاج صدا ګانی بلنده ولئ شی ، تردے نه زیات خیال کول داپه معاملاتوکی نافهمی ده یاصرف خوش فهمی ده !

طرز جمہوری نہ تاج وکج کلاہی جاہئے :: ارے جسکے بندے ہیں اسی کی بادشاہی چاہیئے

نقصان پنځه دیرشم جمهوریت اوشریعت

ده کومونقائصوذکرچی سابقاًاوشو هغه هم بالواسطه یابلاواسطه ده شریعت مقدسه په رڼاکی ؤمګر اوس په مختصراندازکی ده واضحوشرعی دلائلوپه رڼاکی ده خبری وضاحت کؤ !

(۱) ده جمهوریت بنیادپراقلیت اواکثریت باندی ولاړدئے ، اوقرآن اوسنت ده شریعت اودین اسلام بنیا د پرحق اوحقانیت باندی ایخئ دئے اګرچی منونکی یه په ټوله دنیاکی پنځه کسان وی هم ـ

(۲) ده انبیاء کراموقصے اوواقعے په قرآن کریم کی شته حضرت نوحؑ نه نیم سوه کاله خپل قوم ده حق طرف ته رامدعوکوی پد ے کی تقریباً په ټول قوم کی اتیاکسانوحق اومنلو، بقایه ټوله دنیا پرکفرولاړه و ه نوکه جمهوری اصول قابل عمل شی نوبیاخونوحؑ له پکارؤ چی جمهوری عوام یه ده حق طرف ته مه وئ رابللی بلکه له خپلوملګروسره ده اکثریت طرف ته تللی وئ ـ

(۳) ده حضرت شعیبؑ ، حضرت هودؑ، حضرت صالحؑ ، حضرت موسیٰؑ ، اوده حضرت عیسیٰؑ ټولو سره هم دامعا مله شوے ده ، هغو ئ ټول خلګ پریخودوصرف له یو څوکسا نواو متبعینو سره ولی پر حق قائم مقامه اودریدل ، هادومره تکالیف اومصیبتونه یه ولی برداشه ول ؟ اوده اکثریت رخ یه ده اقلیت طرف ته ولی ګرځولو ـ

(۴) ده مکے ټول قریش اودهغوئ رُخ یو طرف ته ؤاوحضوراکرم ﷺ ځانله پرصفاغونډئے با ندی او ختوده ټولوانسانانواکثریت یده پنځولسوکسانوپه اقلیت حق اواهل حق وه طرف ته ولی را او بلل ؟ که چ یرته ده جمهوریت اصول ناقابل تردیداوناقابل تنسیخ شی نوبیابه دلته دااصول څنګه خپلو ئ ـ

(۵) غـزوه بـدرکـی یو طرف ته زرکسان دی اوبل طرف ته درے سوه دیارلس دی ، دااقلیت پرا کثـریت با ندی په میدان کارزارکی حمله کوی ده توروا ونیزوپه ځوکوسره هغوئ له منځه وړی ، ده هغو ئ لـوی لـو ی سـردارا ن قتـلـوی ، آیـاده اقلیت دافیصله ده اکثریت په مقابله کی صحی وه ، که چیرته ده جمهوریت اصول صحی شی نوبیاخودے واقعے ته ده جمهوریت خلاف اووایئ ـ

(٦) ده انـصـارواومهـاجـریـنـوده خلافت په تشکیل کی مباحثه اوشوه ، ده استحقاق پربنیایه خـلافـت ده مهـاجرینو حواله کړوکه چیرته ده جمهوریت اصول اومنلئ شی نوبیاخواکثریت ده انصار وؤ نوبیاخودے فیصلے ته هم غلط اووایئ زکه چی جمهوری حق خوده انصاروجوړیدو ـ

(۷) تـقـریباًشپیتوزروصحابه کرامؓ ده شام پرسرزمین ده مصرفارس اوصعیدپرسرزمین باند ی لـوئ لوئ جنگونه کړیدی صحا به ٦٠ زره ؤاومقابل کی په لکونوتعدادؤ چی مجموعی تعدادیده کر وړونـوپـه حساب سره جوړیژی که چیرته جمهوریت یو آسما نی نظام وی نوبیاده دے اقلیت ده دے اکثر یـت مـقا بله کول ده دین اسلام نظریے ته رابلل اوپردے باندی هغوئ قتلول داڅنگه جائزدی وقس علیٰ هٰذا ـ

(۸) په لندن کی ځوکاله مخکی دے جمهوریانویوبل اسمبلئ کی پیش کړوچی په هغه کی یـه دا مـطالبه کړے وه چی که دوه سړی نارینه پخپل مینځ کی واده سره کول اوغواړی نو هم قانونی جوا زدی ورکـولـئ شـی بیـاپه اکثریت سره اسمبلئ ته دابل پیش شواوس دوه سړی واده سره کوئ شی اوسره کوی یه هم ـ

(۹) اوس پـدے لـګوکلونوکی په اخبارونوکی داخبرشائع شوئ ؤ چی ده لندن په اسمبلئ کی یه دابل پیش کړوچی که چیرته ځو م ده خپلی خوانبی سره ده هغـے ده لورپه موجودګی کی واده کول او غـواړی نـوده مـوراولـوردواړوسـره واده اونـکـاح کولئ شی اوپه یوه وخت کی دواړه په یوه کورکی سره او سیدلئ شی اکثریت دابل پیش کړلواوداکاراوس عملی روان دئـے ـ

(۱۰) پـه دنیـاکـی چـی کوم ملکونه په امریکی بلاك کی شامله دی اوهلته کی جمهوریت د ئـے ، نو هر کافراومشرك ، نجس ، یهودی ، عسیائی ، بده مت ، هندو ، پارسی اومنکرخداداتول جمهو ر یـت ښه ګن ړی ، په پاکستان کی چی کومی پارټیانی ده اسلام نوم نه خوښه وی ، هغوئ سحارماښام ده جـمهـوریت با جه ژغه وی ، که په جمهوریت کی ذره برابراسلام وئ نوبده اسلام دے د شمنانوکله هم ده

جمهوریت نوم نه ؤاخستئ ، نومعلو مه شوه چی په جمهوریت کی ده اسلام نوم لیانشته ، علماؤلره پکارده چی دا خبره ده زړه په غوږوواوری چی په جمهوریت کی اسلام غوشتل داده وخت ضیاع ده

درصحن کاچی قلیه جوید ::: اضاع العمرَ فی طلب المحالِ

یعنی ده کیرپه پیاله کی ده غوښی بوتئ غوښتل دامحض فضول ده وخت ضائع کول دی ، بعض خلک ده اسلامی جمهوریت نوم په خوله اخلی نوداداسی دی لکه چی څوك اووایی اسلامی شراب یاسلامی فساد۔

(۱۱) څوکلونه کیږی چی ده پاکستان ده مضبوطی جمهوری اسمبلئ ده مضبوط وزیر اعظم مضبوط حزب اختلاف ؤ ، په حزب اختلاف کی ده علماء کرامویومضبوط ګروپ ؤمااووریدلی دی چی علماء کرامو ده وزیراعظم نه ده نفاذاسلام مطالبه اوکړله نو هغه چالاکه وزیراعظم ده حزب اختلاف یو عظیم مشراوډیرلوئ عالم ته اوویل چی تاسوټول علماء ده اسلام په باره کی په اسمبلئ کی پورابحث او کړئ اوچی ټول ممبران یه واوری ، نوپنځلس ورځی علماء کرامو ده ده دین اسلام ده هراړخ خوبیانی بیان کړ لے چی ښه ستړی شونوبیاوزیراعظم ورته اوویل چی واقعی اسلام یو آفاقی نظام دئے ، داډیربهتره نظام دئے ، لیکن تاسوته پته ده چی دااسمبلی خویوه جمهوری اسمبلی ده ، پدے کی هر بل ده اوتنګ یعنی ووټ په ذریعه سره پاس کیږی تاسوده ټولوممبرا نونه ده اسلام په باره کی رایه طلب کړئ ، نوچی کله اوټونه شروع شونو هغوعلماؤووټ اسلام ته ورکړو، اونورټول اوټونه بل طرف ته لاړل ده علماؤ ټول محنت یه ضائع کړو۔

حضرت شیخ صاحب وایی چی داواقعه مااوریدلے ده که چیرته حقیقت لری خوډیره ښه ده او کیه نه لری نو هم پوئ شئ چی حقیقت هم داسی دئ ، نوزکه اوس ده اسلام ده نفاذ هغه لاری اولټوئ چی په کو مولاروسره واقعی ده اسلام نفاذراتلئے شی ، ده جمهوریت په لاره باندی نه تراوسه اسلام را غلئدئے اونه راتلئے ش ی جمهوری حکومت که چیرته یهوداونصاریٰ وغیره ، غیرمسلم اقوام دانظام خوښه وی نوله هغوئ سرخوده تشکیل حکومت ده پاره لدے نه ماسوابله لاره نشته ؟ هغوئ که مجبوره دی خو صحی ده مګرله مسلمانانوسرخوده دین اسلام نه ختمیدونکی اُصول شته دی له مسلمانانوسرخوده قرآن اوسنت په شانتے ده تشکیل حکومت عظیم الشان منشورموجوددئے ، هم دا ده حکومتِ اسلامیه دستوردئے اګرچی دنیا جمهوری ت پسی روانه ده خوده مسلمانانووه دے فاسدطاغوتی اوشرکی نظام ته څه حاجت دئے۔

تم وکمل بالخیر والحمدللّٰہ عزوجل

الحمدللّٰہ الذی بنعمتہٖ تتم الصالحات والصلاۃ والسلام علٰی رسولہٖ الذی تھتدی بہٖ المخلوقات نسئلہ بہ فی الفردوس عظیم الدرجات!

اللّٰھم ربنارب المساکین تقبلہ خالصاًلوجھك الکریم وانفعنی بہٖ یوم لاینفع مال ولابنون واغفرلی ولِوالدی ولأساتذتی ولکل من استفدت منہ فی مسالك العلم والھدی انك علٰی کل شیئ قدیروبالأجابۃ جدیر؟

یارب صل وسلم دائماًابداً ::: علٰی حبیبك خیرالخلق کلھم

ربنا تقبل منااانك انت السَّمیع العلیم وتُب علینأانك انت التواب الرحیم وماتوفیقی الاباللّٰہ علیہ توکلتُ وھورب العرش العظیم،

وفرغتُ من ترقیم ھٰذاالکتاب فی یوم الجمعۃ،۱۳شَعبان ۱۴۴۲ھ بمطابق ۲۶مارچ ۲۰۲۱ء کتبہ العبدالضعیف فاضل حبیب الرحمٰن جلالی

This document was created with the Win2PDF “Print to PDF” printer available at

https://www.win2pdf.com

This version of Win2PDF 10 is for evaluation and non-commercial use only.
Visit https://www.win2pdf.com/trial/ for a 30 day trial license.

This page will not be added after purchasing Win2PDF.

https://www.win2pdf.com/purchase/